فتاوی رحمانیة

مکمل پښتو

په اسانه اوروانه کندهاری پښتو

دویم ټوک

المکتبة النعمانیة



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
	تمام فنون	

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

د فتاوی رحمانیه ددوهم ټوک د مضامینو فهرست

صفحه

بسم الله الرحمن الرحیم

باب مایکره فی الصلوة ومالایکره فیها

باب السترة

باب الوتر والقنوت

باب السنن والنوافل

فصل في التراويح

باب ادراک الفریضة

باب القضآء الفوائت

باب سجود السهو

باب سجود التلاوة

باب صلوة المسافر

باب صلوة المريض

متفرقات الصلوة

باب صلوة الجمعه

باب صلوة العيدين

فصل في تكبيرات التشريق

باب صلوة الجنازه

فصل في تغسيل الميت وتكفينه

فصل في الصلوة على الميت

فصل في ما يتعلق بالقبر والدفن

فصل في التعزية

فصل في زيارة القبور

فصل في ايصال ثواب

فصل في احكام الشهيد

متفرقات الجنازه

كتاب الزكوة

باب وجوب الزكوة

باب العشر

باب صدقة الفطر

باب الصدقات النفلیه

باب مصارف الزکوة

کتاب الصوم

باب رؤيت هلال

باب فرضية الصوم

باب مايکره في الصوم وفي مالايکره

باب مايفسد الصوم ومالايفسد

باب القضآء والکفاره

باب الاعذار المبیحة للافطار

باب في الفدية

باب الاعتكاف

متفرقات الصوم

کتاب الحج

باب مناسك الحج

باب الحج عن الغیر

باب العمرة

کتاب النکاح

باب شرائط النکاح

باب من یجوز بها النکاح و من لا یجوز

باب المهـــــــــــر

باب الخیـــــار

باب الاولیآء والاکفآء

باب الرضـــــاع

باب حـــرمة المصاهرت

باب العـــــــدة

باب مايکره في الصلوة ومالايکره فيها

پر لمانځه چي پايڅې کښته سي بيا راپورته کول څنګه دي ؟

سوال ۱ : که چيري ديو شخص پايڅې پر لمانځه باندي کښته سي او بيا يې دی راپورته کړي لمونځ يې فاسد دی که يا ؟ .

جواب : يو وار راپورته کول پرواه نه لري او په لمانځه کښې بار بار پايڅې يا پايجامه راپورته کول يعني داعادت جوړول ښه کار نه دی لمونځ خو درست او صحيح دی البته دداسي کار څخه پرهېز او اجتناب پکار دی .

(الْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ) يُكْرَهُ لِلْمُصَلِّي ....وَأَنْ يَكُفَّ ثَوْبَهُ بِأَنْ يَرْفَعَ ثَوْبَهُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ أَوْ مِنْ خَلْفِهِ إذَا أَرَادَ السُّجُودَ.

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۰۵ الباب السابع فيما يفسد الصلوة ومايکره فيها ، الفصل الثاني فيما يکره في الصلوة وما لايکره طبع رشيديه / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۰ باب مايفسد الصلوة ومايکره فيها طبع سعيد کرچي / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۵۸ طبع رشيديه / دلمانځه دمسائلو مجموعه اردو ج ۱ ص ۳۳۷)

د دوو سورتونو تر منځ يو کوچني سورت پرېښوول

سوال ۲ : امام په اول رکعت کي قل هو الله احد سورة ووايه او بيا يې ،قل اعوذ برب الفلق سورة پرېښوو ی سورة الناس يې ووايه ايا داسي لمونځ مکروه دی او که يا؟

جواب : په فرض لمانځه کښي په قصد سره داسي کول چي د دوو سورتو نو تر مينځ يو کوچني سورت پرېږدي لمونځ يې صحيح دی سره د مکروه والي البته را ګرځول نه غواړي او که د يو چا څخه سهوا داسي وسوه نو مکروه والی هم نه لري بلا کراهته يې لمونځ صحيح دی او په نفلو کي که فاصله راولي او که يې رانه ولي مطلقًا کراهيت نسته.

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : قوله (ويكره الفصل بسورة قصيرة) أما بسورة طويلة بحيث يلزم منه إطالة الركعة الثانية إطالة كثيرة فلا يكره شرح المنية كما إذا كانت سورتان قصيرتان وهذا لو في ركعتين أما في ركعة فيكره الجمع بين سورتين بينهما

سور أو سورة وفی الفتاوی الهندية : وَإِنْ كان بَيْنَهُمَا سُورَةٌ وَاحِدَةٌ قال بَعْضُهُمْ يُكْرَهُ وقال بَعْضُهُمْ إنْ كانت السُّورَةُ طَوِيلَةً لَا يُكْرَهُ هَكَذَا في الْمُحِيطِ كما إذَا كان بَيْنَهُمَا سُورَتَانِ قَصِيرَتَانِ كَذَا في الْخُلَاصَةِ

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۰۴ مکتبه حبیبیه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۷۸ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۹۷ مکتبه رشیدیه / حاشية طحطاوي علي المراقي ص ۳۵۲ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۲ ص ۱۹۸ پښتو)

په لنډواونريوجاموکښې دلمونځ کولوحکم.

سوال ۳ :نن صباددا سې جاموا ستعمال عام سوی دی چې په واضحه او ښکاره توګه سره يې بدن معلوميږي نوپه دا سې جاموکښې لمونځ کول شرعاً څه حکم لري؟

جواب:دازادې ښځې ټوله بدن عورت دی او دنارينه وو دنامه څخه بيا تر زنګنونو پوري عورت دی په لمانځه کښې ددغو ځايونو پټول فرض دي نولهذا که چیري دکومې ښځې دبدن هره يوه برخه چې له دغه جامو څخه ښکاره سي يادنارينه له عورت څخه کومه برخه پټه نوي نوپه دې صورت کښې لمونځ نه کيږي او بيرته راګرځول يې واجب دی

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله فی الدرالمختار : وَلِلْحُرَّةِ وَلَوْ خُنْثَى جَمِيعُ بَدَنِهَا حَتَّى شَعْرُهَا النَّازِلُ فِي الْأَصَحِّ خَلَا الْوَجْهِ وَالْكَفَّيْنِ فَظَهْرُ الْكَفِّ عَوْرَةٌ عَلَى الْمَذْهَبِ وَالْقَدَمَيْنِ عَلَى الْمُعْتَمَدِ،

(وفي الهندية) بَدَنُ الْحُرَّةِ عَوْرَةٌ إلَّا وَجْهَهَا وَكَفَّيْهَا وَقَدَمَيْهَا. كَذَا فِي الْمُتُونِ وَشَعْرُ الْمَرْأَةِ مَا عَلَى رَأْسِهَا عَوْرَةٌ وَأَمَّا الْمُسْتَرْسِلُ فَفِيهِ رِوَايَتَانِ الْأَصَحُّ أَنَّهُ عَوْرَةٌ. كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ وَهُوَ الصَّحِيحُ وَبِهِ أَخَذَ الْفَقِيهُ أَبُو اللَّيْثِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى..... وَالثَّوْبُ الرَّقِيقُ الَّذِي يَصِفُ مَا تَحْتَهُ لَا تَجُوزُ الصَّلَاةُ فِيهِ. كَذَا فِي التَّبْيِينِ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۱ ص ۴۰۵ باب شروط الصلوة سعيد چاپ/ فتاوی عالمګیریه ج ۱ ص ۵۸ الباب الثاني في شروط الصلوة مکتبه رشیدیه/تبيين الحقائق ج ۱ ص ۹۶ باب شروط الصلوة بيروت چاپ/فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۱۵ باب مکروهات الصلوة/فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۱۰۸ باب ميفسدالصلوةومايكره فيها)

په نفلوکښې دسورت تکرار ول

سوال ۴ : دبعضې کسانو ښځه موږ اوریدلې دې چې دتهجد دلمانځه په اول رکعت کښې (۱۲) دوولس واره سورة الاخلاص (قل هو الله احد) بایدوویل سې اوپه دوهم رکعت کښې (۱۱) واره اوپه دریم رکعت کښې (۱۰) واره داغه شان ترپایه یو یو وارپرکمیږي اوس دپوښتنې خبره داده چې تکرار دسورت په فرضې لمانځه کښې جائز دی که یا ؟

جواب :په فرض لمانځه کښې دسورت تکرار مکروه تنزیهي دی البته په نفلوکښې دسورت تکرار کوم مشکل شرعا نلري

وفی الفتاوی الهندیة :وَيُكْرَهُ تَكْرَارُ السُّورَةِ فِي رَكْعَةٍ وَاحِدَةٍ فِي الْفَرَائِضِ وَلَا بَأْسَ بِذَلِكَ فِي التَّطَوُّعِ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۰۷ الباب التاسع في مایفسدالصلوة ومایکره فیها رشیدیه/ ردالمحتار ج ۱ ص ۵۴۶ باب الامامة سعید چاپ/ المبسوط للسرخسي ج ۲ ص ۴۸ الفصل الثاني في الفرائض والواجبات والسنن مکتبه ادارة القرآن/ حلبي الکبیر ص ۳۵۵ باب الکراهیة سهیل اکېډمي / دلمانځه مسائل ج ۱ ص ۲۹۱ / ایضاًج ۲ص ۲۷۳)

دلمونځ کوونکي مخ ته چې راډيو او تلويزون چلانده وي .

سوال ۴ : که چیرې دیو لمونځ کوونکي مخ ته راډیو اوتلویزون چلانده وي لمونځ یې څنګه دی ؟

جواب : اول خوتلویزون ایښوول په کور کښې ناروا ه عمل دی . پاته سول مسئله دلمانځه نو کوم وخت چې ته لمونځ کوې او تلویزون هغه وخت بند وي نو په داسي وطاق کښې لمونځ صحت لري بیله کراهته ځخه . او که تلویزون یا راډیو چلانده وه بیاهلته لمونځ مکروه دی . او کوم ځای چې دلهو اولعب او فسق او شیطاني اعمالو دپاره خاص وي هلته هم لمونځ شرعاً مکروه دی .

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار :وَكَذَا تُكْرَهُ فِي أَمَاكِنَ كَفَوْقِ كَعْبَةٍ وَفِي طَرِيقٍ وَمَزْبَلَةٍ وَمَجْزَرَةٍ وَمَقْبَرَةٍ وَمُغْتَسَلٍ وَحَمَّامٍ وَبَطْنِ وَادٍ وَمَعَاطِنِ إبِلٍ وَغَنَمٍ (الدرالمختار) و بحضرة ما یخل بالخشوع کلهو ولعب(مراقی)

(ردالمحتار ج ۱ ص ۳۷۹ کتاب الصلوة سعید چاپ /مراقي الفلاح شرح نورالایضاح ص ۱۲۱ باب مایفسدالصلوةومایکره فیها مکتبه شامله/حاشیة الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۶۰ باب مایفسدالصلوةومایکره فیها مکتبه رشیدیه/المبسوط للسرخسي ج ۱ ۲۰۶ کتاب الصلوة مکتبه شامله/ بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۱۵ فصل شرائط ارکان الصلوة مکتبه شامله /تبیین الحقائق ج ۱ ص ۱۶۴ باب مایفسدالصلوة ومایکره فیها مکتبه شامله /ستاسومسائل اودهغوی حل ج ۳ ص ۳۳۶ باب شرائط الصلوة)

دلمانځه په حالت کښې خولي دسره شوه کيدل .

سوال۵ : که چیري دلمونځ کولو پر وخت دلمونځ کوونکي دسره څخه خولی شوه سي یا یي چادر دسره څخه لیري سي یا دي ته ورته بل مشکل راپیښ سي نو دی به څه کوي ؟

جواب : کله چي دولاړي په حالت کښي یا درکوع په حالت کښي خولی شوه سي او بیا یي څوک راپورته کړي نو داعمل کثیر دی لمونځ په فاسد دی . البته دسجدې په حالت کښي که شوه سي نو په یوه لاس سره خولی راپورته کول لمونځ نه خرابوي ځکه چي داعمل قلیل دی او افضل هم دغه ده چي خولی راپورته کړی سي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق : وَاتَّفَقُوا عَلَى أَنَّ الْكَثِيرَ مُفْسِدٌ وَالْقَلِيلَ لَا لِإِمْكَانِ الِاحْتِرَازِ عَنْ الْكَثِيرِ دُونَ الْقَلِيلِ فَإِنَّ فِي الْحَيِّ حَرَكَاتٌ مِنْ الطَّبْعِ وَلَيْسَتْ مِنْ الصَّلَاةِ فَلَوْ اُعْتُبِرَ الْعَمَلُ مُفْسِدًا مُطْلَقًا لَزِمَ الْحَرَجُ فِي إقَامَةِ صِحَّتِهَا وَهُوَ مَدْفُوعٌ بِالنَّصِّ ثُمَّ اخْتَلَفُوا فِيمَا يُعَيِّنُ الْكَثْرَةَ وَالْقِلَّةَ عَلَى أَقْوَالٍ أَحَدِهَا مَا اخْتَارَهُ الْعَامَّةُ كَمَا فِي الْخُلَاصَةِ وَالْخَانِيَّةِ أَنَّ كُلَّ عَمَلٍ لَا يَشُكُّ النَّاظِرُ أَنَّهُ لَيْسَ فِي الصَّلَاةِ فَهُوَ كَثِيرٌ وَكُلَّ عَمَلٍ يَشْتَبِهُ عَلَى النَّاظِرِ أَنَّ عَامِلَهُ فِي الصَّلَاةِ فَهُوَ قَلِيلٌ قَالَ فِي الْبَدَائِعِ وَهَذَا أَصَحُّ وَتَابَعَهُ الشَّارِحُ والْوَلْوَالِجِيُّ وَقَالَ فِي الْمُحِيطِ إنَّهُ الْأَحْسَنُ وَقَالَ الصَّدْرُ الشَّهِيدُ إنَّهُ الصَّوَابُ .

وَمِنْهَا الْعَمَلُ الْكَثِيرُ الَّذِي لَيْسَ مِنْ أَعْمَالِ الصَّلَاةِ فِي الصَّلَاةِ مِنْ غَيْرِ ضَرُورَةٍ فَأَمَّا الْقَلِيلُ فَغَيْرُ مُفْسِدٍ، وَاخْتُلِفَ فِي الْحَدِّ الْفَاصِلِ بَيْنَ الْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ قَالَ بَعْضُهُمْ: الْكَثِيرُ مَا يُحْتَاجُ فِيهِ إلَى اسْتِعْمَالِ الْيَدَيْنِ وَالْقَلِيلُ مَا لَا يُحْتَاجُ فِيهِ إلَى ذَلِكَ حَتَّى قَالُوا: إذَا زَرَّ قَمِيصَهُ فِي الصَّلَاةِ فَسَدَتْ صَلَاتُهُ، وَإِذَا حَلَّ إزَارَهُ لَا تَفْسُدُ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: كُلُّ عَمَلٍ لَوْ نَظَرَ النَّاظِرُ إلَيْهِ مِنْ بَعِيدٍ لَا يَشُكُّ أَنَّهُ فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ فَهُوَ كَثِيرٌ، وَكُلُّ عَمَلٍ لَوْ نَظَرَ إلَيْهِ نَاظِرٌ رُبَّمَا يُشْبِهُ عَلَيْهِ أَنَّهُ فِي الصَّلَاةِ فَهُوَ قَلِيلٌ وَهُوَ الْأَصَحُّ

(البحرالرائق ج ۲ ص ۱۲ فصل الْأَكْلُ وَالشُّرْبُ فِي الصَّلَاة مكتبه شامله / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۲۴۱ مكتبه شامله / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۵

ښځي ته دنارينه پر هيئت باندي لمونځ كول مكروه او خلاف سنت دى .

سوال ۶ : كه چيري يوه ښځه دالتحياتي پر وخت دنارينه په شان باندي كښيني لمونځ ته بيي تاوان رسيږي كه يا ؟

جواب : شريعت مطهره ښځي ته دلمانځه هغه طريقه مقرره كړيده چي هغه طريقه دښځي لپاره ډير سترمنده او استره ده كه چيري اوس دا راولاړه سي دشريعت هغه طريقه ترك كوي نو په دې سره دښځي لمانځه ته دغه نقصان رسيږي چي دغه لمونځ بيي دكراهته سره اداء سو.

لما فى المبسوط للسرخسى رحمه الله تعالى : فَأَمَّا الْمَرْأَةُ فَتَحْتَفِزُ وَتَنْضَمُّ وَتُلْصِقُ بَطْنَهَا بِفَخِذَيْهَا وَعَضُدَيْهَا بِجَنْبَيْهَا هَكَذَا عَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ - فِي بَيَانِ السُّنَّةِ فِي سُجُودِ النِّسَاءِ وَلِأَنَّ مَبْنَى حَالِهَا عَلَى السِّتْرِ فَمَا يَكُونُ أَسْتَرَ لَهَا فَهُوَ أَوْلَى لِقَوْلِهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ مَسْتُورَةٌ» .

(المبسوط للسرخسي ج ۱ ص ۲۳ باب كيفية الدخول في الصلوة مكتبه شامله / بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج ۱ ص ۱۹۹ مكتبه شامله / المحيط البرهاني في الفقه النعماني فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه ج ۱ ص ۲۹۲ الفصل الرابع في كيفيتها مكتبه شامله / الهداية ج ۱ ص ۵۲ مكتبه شامله)

لڅ سر لمونځ كول جائز دى كه يا ؟

سوال ۷: لڅ سر ګرځیدل رواه دی که یا ؟ او په لڅ سر سره لمونځ کول جائز دی که یا ؟

جواب : لڅ سر ګرځیدل نن سبا یو فیشن جوړ سوی دی او دادنیکانو خلګو طرزاو طریقه نه ده بلکي دایو قبیح او بدعادت دی . **علامه ابن جوزي** رحمه الله تعالی فرمايي : چي دعقل دخاوند څخه داخبره پټه نه ده چي سر لڅول یو بدعادت دی اومروت ختمول دي او دادب او شریفانه تهذیب څخه خلاف کار دی .

شیخ عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه فرمايي چي دخلګو په مخ کښي سر لڅول مکروه کار دی . په **مالابد منه کتاب** کښي یي لیکلي دي : چي سړو ته دښځو سره اوښځو ته دسړو سره مشابهت حرام دی . نو کله چي دلمانځه څخه دباندي دغه حکم دی نو په لڅ سره سره لمونځ کول په طریقه اولی مکروه دی په **درمختار** کښي راغلي دي : که چیري یو څوک محض دسستي او غفلت دوجي څخه سر تور سر لمونځ کوي او خولی یا لنګوټې ته پاملرنه نه کوي نو لمونځ یې مکروه دی . او که دعاجزی او تذلل دوجي څخه وي بیا نه دی مکروه .

(تلبیس ابلیس ص ۳۷۳ مالابدمنه ص ۱۳۱ درمختار ج ۱ ص ۴۷۴ مکروهات الصلوة / حلبي کبیر ص ۳۴۸ مکروهات الصلوة / الخانیة علي هامش الهندیة ج ۱ ص ۱۳۵ کتاب الصلوة فصل في مکروهات الصلوة / فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۵۷ اغنیة الطالبین ج ۱ص ۱۳ / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۴۷ باب المسایل المتفرقة)

پرداسي مصلي باندي لمونځ کول چي دمدینې اومکې عکسونه په کښي رسم وي

سوال ۸: پرداسي مصلی باندي لمونځ کول چي په هغه کښي دمدینې منورې یا مکې مکرمې عکسونه رسم سوي ، یا وودل سوي وي رواه دی که یا ؟

جواب : پرداسي مصلو باندي لمونځ کول درست او صحت لري ، لیکن دلمانځه په حالت کښي نقش اونګار ته مخامخ کیدل ښه نه دي یعني که چیري ددغي مصلې نقش او نګار دلمونځ کوونکي توجه اړول وبیا ښه نه دی په داسي صورت کښي چي استر ورکول سي ښه دی .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار: اولغير ذی روح لايكره لانّها لاتعبد ...... فيخل بخشوعه من النظر الى موضع

سجوده ونحوه یکون منتهی بصره الی موضع سجوده ....ولاباس بنقشه خلا محرابه فانه یکره لانه یلهی المصلی

(ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج ۱ص ۴۸۷ / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ص ۸۵ مکتبه رشیدیه)

په جیب یاموبایل کښي یي عکسونه اوتصویرونه وه لمونځ یي ورسره وکړی .

سوال ۹ : دیو کس سره په جیب کښي یا په تلیفون کي عکسونه دي اوده ددغه عکسونو سره لمونځ اداء کړی ایا دغه کړی لمونځ یي صحیح دی که یا ؟

جواب : نبي کریم صلی الله علیه وسلم دعکسونو اخیستل په هرحال کښي منع کړي دي په کوم ځای او محل کښي چي دساه لرونکو شیانو تصویرونه او عکسونه زړیږي هلته لمونځ کول مکروه دی ، لیکن که چیري تصویرونه کوچني وي او په جیب یا پټاکیدانه یاتلیفون یا کتاب وغیره کښي یي بند کړي اوپټ کړي وي نو بیا لمانځه ته کوم تاوان نه رسوي دادلمانځه حکم دی البته دعکسونواوتصویرونو ګناه ځانته ده .

وفی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار : لَا يُكْرَهُ (لَوْ كَانَتْ تَحْتَ قَدَمَيْهِ) أَوْ مَحَلَّ جُلُوسِهِ لِأَنَّهَا مُهَانَةٌ (أَوْ فِي يَدِهِ) عِبَارَةُ الشُّمُنِّيِّ بَدَنِهِ لِأَنَّهَا مَسْتُورَةٌ بِثِيَابِهِ (أَوْ عَلَى خَاتَمِهِ) بِنَقْشٍ غَيْرِ مُسْتَبِينٍ. قَالَ فِي الْبَحْرِ وَمُفَادُهُ كَرَاهَةُ الْمُسْتَبِينِ لَا الْمُسْتَتِرِ بِكِيسٍ أَوْ صُرَّةٍ أَوْ ثَوْبٍ آخَرَ، وَأَقَرَّهُ الْمُصَنِّفُ (أَوْ كَانَتْ صَغِيرَةً) لَا تَتَبَيَّنُ تَفَاصِيلُ أَعْضَائِهَا لِلنَّاظِرِ قَائِمًا وَهِيَ عَلَى الْأَرْضِ، ذَكَرَهُ الْحَلَبِيُّ (أَوْ مَقْطُوعَةَ الرَّأْسِ أَوْ الْوَجْهِ)

وفی الفتاوی الهندیة : وَلَوْ كَانَتْ صَغِيرَةً بِحَيْثُ لَا تَبْدُو لِلنَّاظِرِ إلَّا بِتَأَمُّلٍ لَا يُكْرَهُ وَإِنْ قَطَعَ الرَّأْسَ فَلَا بَأْسَ بِهِ،

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۰۷ الفصل الثاني فیما یکره في الصلوة / الذرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۷ مکروهات الصلوة / فتاوی حقانیة ج ۲ ص ۲۱۹)

کله چي نوي جامې خوک رانیسي نو پریولل یې ضروري دي ؟

سوال ۱۰: پوښتنه داده کله چي یو څوک نوي جامې په بازار کښې رانیسي نو ایا دهغه جامو پرېمینځل ضروري دي که یا ؟

جواب: نوي جامي چي څوک په بازار کښې رانیسي نو دهغو پریمینځل ضروري نه دي بلکي هغه پاکي دي حتي تردې چي فقهاوو په استعمالي (لیلامي) جامو کښې چي د (پرتوګونو او پتلونونو څخه ماسوا وي) لا لمونځ رواه او جایز بللي دی خو بیا هم بهتره خبره داده چي استعمالي (لیلامي) جامې پریوللسي ډیر به ښه وي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : ثِيَابُ الْفَسَقَةِ وَأَهْلِ الذِّمَّةِ طَاهِرَةٌ.

ولما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : تحت قوله (قَوْلُهُ: ثِيَابُ الْفَسَقَةِ إلَخْ) قَالَ فِي الْفَتْحِ: وَقَالَ بَعْضُ الْمَشَايِخِ: تُكْرَهُ الصَّلَاةُ فِي ثِيَابِ الْفَسَقَةِ؛ لِأَنَّهُمْ لَا يَتَّقُونَ الْخُمُورَ. قَالَ الْمُصَنِّفُ " يَعْنِي صَاحِبَ الْهِدَايَةِ ": الْأَصَحُّ أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ؛ لِأَنَّهُ لَمْ يُكْرَهْ مِنْ ثِيَابِ أَهْلِ الذِّمَّةِ إلَّا السَّرَاوِيلُ مَعَ اسْتِحْلَالِهِمْ الْخَمْرَ، فَهَذَا أَوْلَى.

اه وفى الدرالمختار ايضا ولو شك فى نجاسة ماء او ثوب الخ لم يعتبر . اليقين لايزول بالشک .

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۱ ص ۳۵۰ فصل في الاستنجاء قبيل كتاب الصلوة / الطحطاوي حاشية ردالمحتار ج ۱ ص ۱۶۸ فصل في الاستنجاء قبيل كتاب الصلوة / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۱۲۵ باب مكروهات الصلوة / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۵۱۵ باب مكروهات الصلوة/ فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۲ ص ۱۲۴ الاشباه والنظائر ص ۷۵ / شامي ج ۱ ص ۱۴۰)

په داسي کالو کښې لمونځ کول چي لستوڼي یې پړي وي ؟

سوال ۱۱: داسي قمیص او کالي اغوستل او لمونځ په کښې کول چي لستوڼي یې نیمی وي تر څنګلو یا تر څنګلو لا لوړ پرې وي آیا په داسي کالو کښې لمونځ صحیح دی که یا؟

جواب: د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه د نیم لستوڼو قمیص اغوستل ثابت نه دي داسي نیم لستوڼو والا قمیص اغوستل خلاف سنت دی، او لمونځ په کښې کول هم خلاف سنت دی البته لمونځ یې جائز او درست دی.

لما فی الفتاوی الهندیة : وَلَوْ صَلَّى رَافِعًا كُمَّيْهِ إلَى الْمِرْفَقَيْنِ كُرِهَ. كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۰۶ فصل فیما یکره الصلوة ومالا یکره / فتاوی قاضیخان علي هامش الهندیة ج ۱ ص ۱۳۵ / اعلاء السنن ج ۴ ص ۱۶۱۲ / فتاوی محمودیه ج ۶ ص ۶۵۴ باب ما یفسد الصلوة وما یکره فیها/ سراجیه ص ۱۱)

په لمانځه کښې شاو اوخواته کتل .

سوال ۱۲: که چیري یو کس په لمانځه کښې شا او خواته ګوري ایا دغه شا اوخواته کتل لمانځه ته تاوان رسوي که یا ؟

جواب: په لمانځه کښې یوه اوبل طرف ته کتل په داسي شکل سره چي غاړه او مغزی هم ورسره کوږ سي نو دامکروه عمل دی. او په داسي شکل سره بیا کتل چي سر او مغزی ورسره کوږ نه سي داهم بېله ضرورته مکروه تنزیهي او خلاف مستحب عمل دی البته داسي کتل چي ځیګر ورسره وګرځیږي نوبیا لمونځ فاسدوي .

قال العلامة الحصفکی رحمه الله تعالی فی الدرالمختار : (وَالِالْتِفَاتُ بِوَجْهِهِ) كُلِّهِ (أَوْ بَعْضِهِ) لِلنَّهْيِ وَبِبَصَرِهِ يُكْرَهُ تَنْزِيهًا، وَبِصَدْرِهِ تَفْسُدُ كَمَا مَرَّ (وَقِيلَ) قَائِلُهُ قَاضِي خَانَ (تَفْسُدُ بِتَحْوِيلِهِ وَالْمُعْتَمَدُ لَا)

لما قال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار علی الدرالمختار : (قَوْلُهُ لِلنَّهْيِ) هُوَ مَا رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ عَنْ أَنَسٍ عَنْ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «إيَّاكَ وَالِالْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ فَإِنَّ الِالْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ هَلَكَةٌ، فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَفِي التَّطَوُّعِ لَا فِي الْفَرِيضَةِ» وَرَوَى الْبُخَارِيُّ أَنَّهُ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ «هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الْعَبْدِ» وَقَيَّدَهُ فِي الْغَايَةِ بِأَنْ: يَكُونَ لِغَيْرِ عُذْرٍ، وَيَنْبَغِي أَنْ تَكُونَ تَحْرِيمِيَّةً كَمَا هُوَ ظَاهِرُ الْأَحَادِيثِ بَحْرٌ (قَوْلُهُ وَبِبَصَرِهِ يُكْرَهُ تَنْزِيهًا) أَيْ مِنْ غَيْرِ تَحْوِيلِ الْوَجْهِ أَصْلًا. وَفِي الزَّيْلَعِيِّ وَشَرْحِ الْمُلْتَقَى لِلْبَاقَانِيِّ أَنَّهُ مُبَاحٌ «لِأَنَّهُ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يُلَاحِظُ أَصْحَابَهُ فِي صَلَاتِهِ بِمُوقِ عَيْنَيْهِ» اهـ وَلَا يُنَافِي مَا هُنَا بِحَمْلِهِ عَلَى عَدَمِ الْحَاجَةِ أَوْ أَرَادَ بِالْمُبَاحِ مَا لَيْسَ بِمَحْظُورٍ شَرْعًا، وَخِلَافُ الْأَوْلَى غَيْرُ مَحْظُورٍ تَأَمَّلْ (قَوْلُهُ وَبِصَدْرِهِ تَفْسُدُ) أَيْ

إِذَا كَانَ بِغَيْرِ عُذْرٍ كَمَا مَرَّ بَيَانُهُ فِي مُفْسِدَاتِ الصَّلَاةِ (قَوْلُهُ وَقِيلَ إلَخْ) قَالَهُ فِي الْخُلَاصَةِ أَيْضًا. وَالْأَشْبَهُ مَا فِي عَامَّةِ الْكُتُبِ مِنْ أَنَّهُ مَكْرُوهٌ لَا مُفْسِدٌ وَقَيَّدَ عَدَمَ الْفَسَادِ بِهِ فِي الْمُنْيَةِ وَالذَّخِيرَةِ بِمَا إذَا اسْتَقْبَلَ مِنْ سَاعَتِهِ، قَالَ فِي الْبَحْرِ: وَكَأَنَّهُ جَمَعَ بَيْنَ مَا فِي الْفَتَاوَى وَمَا فِي عَامَّةِ الْكُتُبِ بِحَمْلِ الْأَوَّلِ عَلَى مَا إذَا لَمْ يَسْتَقْبِلْ مِنْ سَاعَتِهِ، وَالثَّانِي عَلَى مَا إذَا اسْتَقْبَلَ مِنْ سَاعَتِهِ، وَكَأَنَّهُ نَاظِرٌ إلَى أَنَّ الْأَوَّلَ عَمَلٌ كَثِيرٌ، وَالثَّانِي قَلِيلٌ، وَهُوَ بَعِيدٌ فَإِنَّ الِاسْتِدَامَةَ عَلَى هَذَا الْقَلِيلِ لَا تَجْعَلُهُ كَثِيرًا، وَإِنَّمَا كَثِيرُهُ تَحْوِيلُ صَدْرِهِ. اهـ.

أَقُولُ: يَظْهَرُ لِي أَنَّهُ إذَا أَطَالَ الْتِفَاتَهُ بِجَمِيعِ وَجْهِهِ يَمْنَةً أَوْ يَسْرَةً وَرَأَى رَاءٍ مِنْ بَعِيدٍ لَا يَشُكُّ أَنَّهُ لَيْسَ فِي الصَّلَاةِ تَأَمَّلْ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۰۷ كتاب الصلوة باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها .سعيد چاپ / البحرالرائق كتاب الصلوة باب مايفسد الصلوة ومايكره فيهاج ۲ ص ۳۷ رشيديه / حاشية الطحطاوي علي الدرالمختار كتاب الصلوة باب مايفسد الصلوة ج ۱ ص ۲۷۱ دارالمعرفة بيروت / فتاوى محموديه ج ۲۲ ص ۱۴۰ كتاب الصلوة باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها)

که چیري دیو کس مخ ته دلمانځه په حالت کښې هنداره وي .

سوال ۱۳: که چیري یو کس لمونځ کوي او مخ ته یي هنداره وي او دی دلمانځه په حالت کښې خپل عکس په هنداره کښې ویني ایا پر دغه طریقه باندي لمونځ کول مکروه دی که یا ؟

جواب : په داسي صورت کښې لمونځ مکروه دی خو په بنیبنه کښې بنکاره کیدونکي صورتونه دتصویر حکم نه لري ځکه چي دا عکس دی تصویرنه دی البته دکراهت وجه یې بله ده هغه دا چي هغه عکس دلمونځ کوونکي په خشوع کښې خلل راولي او دلمونځ کوونکي دزړه دمشغولتیا باعث ګرځي نو ځکه لمونځ مکروه کوي .

بقى فى المكروهات اشيآء آخر .... منها الصلاة بحضرة ما يشغل البال ويخل بالخشوع كزينة ولهو ولعب ،،

(خیرالفتاوی ج ۲ ص ۴۳۱ / احسن الفتاوی ج ۳ ص ۴۱۲ ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۶۵۴ سعید / مراقي الفلاح شرح نورالایضاح ص ۳۶۰ قدیمي / فتاوی محمودیه ج ۶ ص ۶۷۸ باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها)

یو کس په وطاق کښې لمونځ کوي خو شاته یې د ذي روح شیانو تصویرونه ځړیږي

سوال ۱۴ : یو کس په یو وطاق کښې لمونځ کوي په داسي حال کښې چي شاته یې د ذي روح شیانو تصویرونه دي نو دغه تصویرونه د ده ولمانځه ته تاوان او نقصان رسوي که یا ؟

جواب : په داسي وطاق کښې لمونځ کول چي هلته د ذی روح شیانو تصویرونه موجود وي لمونځ مکروه دی البته د کراهت یې بیا مختلفي درجي دي ترټولو مکروه صورت هغه صورت دی چي تصویر د لمونځ کوونکي مخ ته وي . او د وهمه درجه بیا چي تر هغه کم مکروه دی دادی چي تر لمونځ کوونکي لوړ وي او دریمه درجه چي بیا تر هغه لا کم مکروه دی دادی پر راسته طرف وي او څلورمه درجه چي بیا تر هغه لا کم مکروه دی دادی چي پر چپه طرف یې وي او ترټولو کم مکروه بیا هغه دی چي شاته یې وي .

وفی الدرالمختار : وَأَنْ يَكُونَ فَوْقَ رَأْسِهِ أَوْ بَيْنَ يَدَيْهِ أَوْ (بِحِذَائِهِ) يَمْنَةً أَوْ يَسْرَةً أَوْ مَحَلَّ سُجُودِهِ (تِمْثَالٌ) وَلَوْ فِي وِسَادَةٍ مَنْصُوبَةٍ لَا مَفْرُوشَةٍ . وفي الفتاوی الهندیة : وَيُكْرَهُ أَنْ يُصَلِّيَ وَبَيْنَ يَدَيْهِ أَوْ فَوْقَ رَأْسِهِ أَوْ عَلَى يَمِينِهِ أَوْ عَلَى يَسَارِهِ أَوْ فِي ثَوْبِهِ تَصَاوِيرُ

وأن یکون فوق رأسه أو خلفه أو بین یدیه أو بحذائه صورة إلا أن تکون صغیرة أو مقطوعة الرأس أولغیر ذي روح . وفی مراقی الفلاح وأشدها کراهة أمامه ثم فوقه ثم یمینه ثم یساره ثم خلفه "وأن یکون فوق رأسه أو خلفه أو بین یدیه أو بحذائه صورة إلا أن تکون صغیرة" بحیث لا تبدو للقائم إلا بتأمل کالتي علی الدینار لأنها لا تعبد عادة .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۷ باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها بیروت چاپ / مراقي الفلاح شرح نورالایضاح مع حاشیة الطحطاوي ص ۳۶۲ کتاب الصلوة باب المکروهات / نورالایضاح ص ۸۹ الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۰۷ بیروت چاپ الفل الثاني فیما یکره في الصلاة)

په لندو کالو کښې لمونځ کول .

سوال ۱۵ : په لندو کالوا و جامو کښې لمونځ کول شرعا درست دی که یا ؟

جواب : که چیري په هغه جامه کښې د لمانځه د صحت شرطونه موجود وي چي پاکوالی او دعورت پټول دي نو په لندو کالو کښې لمونځ کول شرعا درست او روا دی . البته که چیري دغه لوند والي د لمونځ کوونکي په خشوع او خضوع کښې خلل راوستی نو بیا د کراهته څخه خالي هم نه دی .

لما فی الهداية :يجب على المصلي أن يقدم الطهارة من الأحداث والأنجاس على ما قدمناه " قال الله تعالى: {وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ} ([المدثر:۴) وقال الله تعالى: {وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُباً فَاطَّهَّرُوا} [المائدة: ۶) " ويستر عورته " لقوله تعالى: {خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ} (لأعراف: ۳۱) أي ما يواري عورتكم عند كل صلاة وقال عليه الصلاة والسلام " لا صلاة لحائض إلا بخمار " أي لبالغة ....

وفی مراقی الفلاح شرح نورالايضاح : وما يشغل البال ويخل بالخشوع......... و" تكره بحضرة كل "ما يشغل البال" كزينة "و" بحضرة ما "يخل بالخشوع" كلهو ولعب ولذا نهى النبي صلى الله عليه وسلم عن الإتيان للصلاة سعيا بالهرولة .

(الهداية ج ۱ ص ۶۷ باب شروط الصلوة مكتبه حقانيه / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ج ۱ ص ۱۳۱ فصل في المكروهات)

په دوکان یا وطاق کښې چي عکسونه وي هلته لمونځ کول .

سوال ۱۶ : په کوم وطاق یا دوکان کښې چي عکسونه وي هلته لمونځ کول شرعا څنګه دی ؟

جواب : په کوم وطاق یا مکان کښې چي دیو ذی روح (ژوندي شي) تصویرونه لګیدلي یا زړیدلي وي هلته لمونځ کول مکروه تحریمي دی . او دټولو څخه زیات کراهت په هغه تصویر کښې دی چي د لمونځ کوونکي مخ ته د قبلې طرف ته وي بیا هغه چي د لمونځ کوونکي پر سر باندي وي ، بیا هغه تصویر چي راسته طرف ته یې

وي و بيا هغه چي چپه طرفته يې وي او ترټولو کم کراهت په هغه صورت کښې دی چي دلمونځ کوونکي وروسته پر کوم ديوال باندي وي .

وفى مراقى الفلاح شرح نورالايضاح : ولبس ثوب فيه تصاوير وأن يكون فوق رأسه أو خلفه أو بين يديه أو بحذائه صورة "ولبس ثوب فيه تصاوير" ذي روح لأنه يشبه عبادتها وأشدها كراهة أمامه ثم فوقه ثم يمينه ثم يساره ثم خلفه "وأن يكون فوق رأسه أو خلفه أو بين يديه أو بحذائه صورة .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ١ ص ٤٦٨ بيروت چاپ / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ج ١ ص ١٣٢ فصل في المكروهات بيروت چاپ / فتاوى عثماني ج ١ ص ٤٤٤ باب الصلوة)

په هديره کښې لمونځ کول څنګه دی ؟

سوال ١٧ : په هديره کښې لمونځ کول د شريعت د نګا څخه څنګه دی ؟

جواب : کله چي مخامخ يا راسته طرف ته يا چپه طرف ته قبرونه وي نو لمونځ مکروه دی او کله چي ليري وي نو بيا هيڅ حرج نسته . دليري والي اندازه يې فقهاء کرامو په ګزونو او مسافت سره نه ده متعينه او معلومه کړې البته د نظائرو څخه داسي معلوميږي چي کم ترکمه به قبر دومره ليري وي چي د سجدې پر ځای باندي د نظر کولو په وخت کښې قبرونه په نظر رانه سي .

قال الطحطاوى رحمه الله تعالى : (تحت قوله تكره الصلاة فى المقبرة) قال حسن بن عمار بن على الشرنبلالى : وتكره الصلاة في المقبرة إلا أن يكون فيها موضع أعد للصلاة لا نجاسة فيه ولا قذر فيه اه قال الحلبي لأن الكراهة معللة بالتشبه وهو منتف حينئذ وفي القهستاني عن جنائز المضمرات لا تكره الصلاة إلى جهة القبر إلا إذا كان بين يديه بحيث لو صلى صلاة الخاشعين وقع بصره عليه اه

(الطحطاوى حاشية مراقي الفلاح ص ١٩٦ فصل في مكروهات الصلاة / فتاوى فريدية ج ٢ ص ٤٨٨)

امام چي دسجدې ځخه راپورته سي نو بيا خپل قميص سموي .

سوال ۱۸ : ځيني کسان دامامت کولو پر وخت چي کله دسجدې ځخه راپورته سي نو قميص سره سم کړي يعني دشا لمن سره سمه کړي او لاندي يې راايله کړي پوښتنه داده چي ايا دغسي عمل کول دامام لمونځ فاسدوي که يا ؟

جواب : په لمانځه کښې دقميص دسمولو ضرورت ددوو سببونو ځخه راپيښېږي . يو دا چي کله قميص دپرتوګ اېښ ځخه لوړ ودرېږي نو په دې سره دځيني مقتديانو فکر وراوړي او په خشوع کښې يې فرق راځي . دوهم سبب يې دادی چي دځيني خلګو په ورنو (يعني کوناټو) کښې لمن بنده سي . نو ديوه داسي ضرورت دکبله دقميص په راکشولو او سمولو کښې هيڅ باک نسته . البته ددې لپاره ديوه لاس استعمالول کافي دي . دوهم لاس استعمالول مکروه دی او دضرورت ځخه پرته ديوه لاس استعمال هم مکروه دی .

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۹۹ / احسن الفتاوی ج ۳ ص ۴۳۷ / دامامت مسائل ج ۲ ص ۱۷۵)

دلمانځه په دوران کښې په جامو او ږيره باندي ګوتي وهل .

سوال ۱۹ : په خپلو جامو سره يا ږيري سره يا بدن سره سات تېرول او لوبي کول په لمانځه کي دننه يا د لمانځه ځخه د باندي د اسلامي فقهي له نګاه ځخه څه حکم لري ؟

جواب: په لمانځه کي دننه په جامو يا په بدن سره يا په ږيري سره ځان اخته کول او سات تېرول مکروه عمل دی او کراهيت يې تحريمي دی چي نتيجه يې د لمانځه فاسد والی دی او د لمانځه ځخه خارج په بدن ږيره ، جامه سره سات تېرول خلاف اولی او ترک د افضل دی دغه عادت بايد پرېښول سي ، ښه کار دا دی چي انسان هر لمحه پر ځای د عبث د خپل رب په عبادت سره مصروفه او بوخت وي.

قال العلامة الحصفكی رحمه الله تعالی فی الدرالمختار :(وَ) كُرِهَ (كَفُّهُ) أَيْ رَفْعُهُ وَلَوْ لِتُرَابٍ كَمُشَمِّرٍ كُمٍّ أَوْ ذَيْلٍ (وَعَبَثُهُ بِهِ) أَيْ بِثَوْبِهِ (وَبِجَسَدِهِ) لِلنَّهْيِ إلَّا لِحَاجَةٍ .

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالی فی ردالمحتار : (قَوْلُهُ كَمُشَمِّرٍ كُمٍّ أَوْ ذَيْلٍ) أَيْ كَمَا لَوْ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ وَهُوَ مُشَمِّرٌ كُمَّهُ أَوْ ذَيْلَهُ، وَأَشَارَ بِذَلِكَ إلَى أَنَّ الْكَرَاهَةَ لَا تَخْتَصُّ بِالْكَفِّ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ كَمَا أَفَادَهُ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ، لَكِنْ قَالَ فِي الْقُنْيَةِ:

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۷۳ طبع رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۰۴ خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۵۷ / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۵۰۴ / البحرالرائق ج ۴ ص ۳۴ / ۳۵)

دښځي ويښته چي اودلي نه وي همدغسي ايله يا زړيدلي وي نو دلمانځه څه حکم دی ؟

سوال ۲۰: نن سبا اکثره ښځي خپل ويښته نه اودوي بلکي همدغسي خلاص يې پريږدي او ياپې سره راټول کړي پر سر يې سره يو ځای او جمع کړي پوښتنه داده چي دداسي ويښتو سره چي اودلي نه وي بلکي پر سر يې سره راټول کړي وي لمونځ څنګه دی ؟

جواب: دنبي کريم صلی الله عليه وسلم بيبيانو به دخپلو سرو نو ويښته اودل خلاص او ايله کړي يې نه پريښوول حتی تردي چي يوې صحابيې حضرت ام سلمة رضی الله عنها دنبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چي يارسول الله زما دسر کوڅې سختې اودل سوي دي نو دجنابت دغسل پر مهال دويښتانو خلاصېدل ضروري دي که يا ؟ نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چي ستا دپاره درې واره اوبه پر سر باندي اوبه اچول کافي دي چي دوېښتانو بېخو ته ورسيږي بيا پر نور بدن باندي اوبه واچوه نو ته به پاکه سي.

دپوښتني جواب دادی چي دښځو دپاره دوېښتانو په يو ځای باندي دجمع کولو او تړلو په صورت کښې لمونځ مکروه دی. او دلمانځه دحالته څخه پرته دضرورت په وخت کښې دوېښتانو په يوه ځای جمع کول مباح دي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار : (قوله وعقص شعره إلخ) أي ضفره وفتله، والمراد به أن يجعله على هامته ويشده بصمغ، أو أن يلف ذوائبه

حول رأسه كما يفعله النساء في بعض الأوقات، أو يجمع الشعر كله من قبل القفا ويشده بخيط أو خرقة كي لا يصيب الأرض إذا سجد؛ وجميع ذلك مكروه.

عن أم سلمة، قالت: قلت يا رسول الله إني امرأة أشد ضفر رأسي فأنقضه لغسل الجنابة؟ قال: «لا. إنما يكفيك أن تحثي على رأسك ثلاث حثيات ثم تفيضين عليك الماء فتطهرين.

عن أبي هريرة، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «صنفان من أهل النار لم أرهما، قوم معهم سياط كأذناب البقر يضربون بها الناس، ونساء كاسيات عاريات مميلات، مائلات رءوسهن كأسنمة البخت المائلة، لا يدخلن الجنة ولا يجدن ريحها، وإن ريحها ليوجد من مسيرة كذا وكذا»

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۲ فروع مشي المصلي مستقبل القبلة هل تفسد صلاته مكتبه شامله / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۰۶ الفصل الثاني فيما يكره في الصلوة / الصحيح لمسلم ج ۴ ص ۲۱۹۲ ، ج ۱ ص ۲۵۹ باب حكم ضفائر المغتسلة مكتبه شامله / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۳ باب مايفسد الصلوة وما يكره / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۵۱۸ باب مكروهات الصلوة)

دکار په کالو کښې لمونځ کول .

سوال ۲۱: زه ديو لوحه نويس په صفت دغه سوال لرم چي زموږ ټوله سرو کار د رنګو سره دی او دغه رنګ چي کله په کالو پسي ومښلي بيا نه بيليږي ايا په دغه رنګ لړولو جامو کښي لمونځ اداء کول صحت لري که يا؟ او که هر لمانځه لره جامې بدلول ضروري دي؟ او حال دا چي هم موږ ته يقيني معلومات نسته چي دغه رنګ به پاک وي که يا؟ خلاصه دا چي دکار په جامو کښې لمونځ کول څنګه دی ؟

جواب: په قرآن کريم کښې دالله جل جلاله ارشاد دی .(يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ) (۳۱) سورة الاعراف پاره نمبر (۸) ژباړه : ای اولاده دآدم عليه السلام واغونديځ جامې خپلي د هر لمانځه په وخت کښې ..... نو ځکه فقهاء کرامو او علماء کرامو د رنګمالی ، مستري خانې ،

بنایې، اشپزی، یا د ختو په کالو کي لمونځ مکروه بللې دی، او کراهیت یې تنزیهي دی.

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار :(وَصَلَاتُهُ فِي ثِيَابِ بِذْلَةٍ) يَلْبَسُهَا فِي بَيْتِهِ (وَمِهْنَةٍ) أَيْ خِدْمَةٍ، إنْ لَهُ غَيْرُهَا وَإِلَّا لَا وقال العلامة ابن عابدين : وَالظَّاهِرُ أَنَّ الْكَرَاهَةَ تَنْزِيهِيَّةٌ. اهـ.

(حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ۳۵۹ / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۰۷ / فتاوی اللكنوي ص ۳۰۰ / ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۱ ص ۴۷۴ المكتبة الحبيبية / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۹۷۲ / تعليم الاحكام ص ۹۴ / ارشاد الاحكام ص ۵۸)

تر نیمي شپې وروسته دماخوستن لمونځ اداء کول .

سوال ۲۲ : ترنیمي شپې وروسته دماخوستن لمونځ اداء کول څنګه دی، مکروه دی که یا ؟

جواب : دماخوستن لمونځ ترنیمي شپې پوري په ځنډوولو کښې دعلماء کرامو اختلاف دی . دځینو علماوو په نزد ترنیمایي شپې پوري دماخوستن لمونځ ځنډول مکروه تحریمي دی او کوم لمونځ چي دکراهت تحریمي سره اداء سي دهغه بیرته راګرځول واجب وي . او دځینو علماوو په نزد بیا مکروه تنزیهي دی . او اصل علت ددغه مکروه والي دجماعت لږوالی دی . (یعني که څوک دغه لمونځ دشپې ونیمایي ته وځنډوي نو دمسجد په جماعت کښې بیا لږوالی راځي) دکراهت تنزیهي مقصدا دادی چي داکار خلاف اولی او خلاف افضله دی . اوهم دغه رایه راجحه او مفتی به ده . نو خلاصه دا چي ترنیمي شپې وروسته دماخوستن لمونځ کیدلای سي او بیا راګرځول یې واجب نه دي فقط دغه کار خلاف اولی دی . البته دغه کراهت هغه وخت دی چي ببله عذره وي او که چیري دیو عذر په خاطر وي نو بیا کراهت نه لري . او نیت یې پر هغه طریقه باندي کیږي کوم چي ترنیمي شپې مخکښې کیږي

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار :فَإِنْ أَخَّرَهَا إلَى مَا زَادَ عَلَى النِّصْفِ) كُرِهَ لِتَقْلِيلِ الْجَمَاعَةِ

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :(قَوْلُهُ: تَحْرِيمًا) كَذَا فِي الْبَحْرِ عَنْ الْقُنْيَةِ، لَكِنْ فِي الْحِلْيَةِ أَنَّ كَلَامَ الطَّحَاوِيِّ يُشِيرُ إلَى أَنَّ الْكَرَاهَةَ فِي تَأْخِيرِ الْعِشَاءِ تَنْزِيهِيًّا وَهُوَ الْأَظْهَرُ. اهـ.)

(ردالمحتار ج ۱ ص ۳۶۸ كتاب الصلوة اوقات الصلوة / الفتاوى التاتارخانية ج ۱ ص ۴۰۶ كتاب الصلوة المواقيت / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۳۸۷ كتاب الصلوة باب المواقيت)

دغصب پر مځکه یا مکان باندي لمونځ کول مکروه دی .

سوال ۲۳: يو كس راولاړ سو پر دولتي غير نقشه سوې مځکه باندي دحکومت داجازې څخه بغير يو مسجد جوړ کړی او س حکومت راولاړ سو هغه مځکه يې نمرې کړه هغه مسجد په رهايشي نمرو کښې راغی ويو کس ته دنمرې په حيث ورسيدی هغه کس ددغي نمرې اويزونه واخيستل په بانک کښې يې پيسې تحويل کړې او دحکومت په قانون او اجازه نور دغه ځای دده شخصي وګرځيدی او ددغه محلې خلګو ته يې څلور نمرې ځای دمسجد دپاره بل ځای ورکړې . پوښتنه داده چي په دغه ځای کښې چي او س شخصي سرای سو دمالک داجازې څخه بغير په زور او زبردستي سره لمونځ کول رواه دی که يا ؟

جواب : ديوچا په ملکيت کښې دهغه داجازې څخه بغير د په زور او زبردستی سره تصرف کول غصب بلل کيږي او دغصب اوپه زور سره قبضې سوي مځکه کښې لمونځ صحيح دی مګرسره ددې چي يو څوک خبر هم وي او مجبوري هم نه وي نو بيا هلته لمونځ کول دکراهته څخه خالي هم نه دی(يعني بيا لمونځ هلته مکروه دی) نو ځکه دمالک څخه دي اجازه واخيستل سي .

وفى الفقه الاسلامي وادلته : الصلاة في الأرض المغصوبة حرام بالإجماع؛ لأن اللبث فيها يحرم في غير الصلاة، فلأن يحرم في الصلاة أولى وهل تصح الصلاة في المكان المغصوب؟قال الجمهور غير الحنابلة: الصلاة صحيحة؛ لأن النهي لا يعود إلى الصلاة، فلم يمنع صحتها، كما لو صلى وهو يرى غريقاً يمكنه إنقاذه، فلم ينقذه، أو حريقاً يقدر على إطفائه فلم يطفئه، أو مطلَ غريمه الذي يمكن إيفاؤه وصلى. ويسقط بها الفرض مع

الإثم، ويحصل بها الثواب، فيكون مثاباً على فعله، عاصياً بمقامه، وإثمه إذن للمكث في مكان مغصوب.

وفى الفتاوى الهندية : الصَّلَاةُ فِي أَرْضٍ مَغْصُوبَةٍ جَائِزَةٌ وَلَكِنْ يُعَاقَبُ بِظُلْمِهِ فَمَا كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ تَعَالَى يُثَابُ وَمَا كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْعِبَادِ يُعَاقَبُ. كَذَا فِي مُخْتَارِ الْفَتَاوَى .

وقال العلامة الكاساني فى بدائع الصنائع : وَعَلَى هَذَا، الْمُصَلِّي فِي أَرْضٍ مَغْصُوبَةٍ أَوْ صَلَّى وَعَلَيْهِ ثَوْبٌ مَغْصُوبٌ لَا تَجُوزُ عِنْدَهُ.

(الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۹۸۴ مكتبه حبيبيه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۰۹ مكتبه رشيديه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۳۰۶ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۵۸ / فتاوى رحيميه ج ۵ ص ۱۲۵ باب مفسدات الصلوة اردو)

په دوهم رکعت کښې تر اول رکعت ډيرايا تونه ويل .

سوال ۲۴ : په ځيني مسجدانو کښي امام په اول رکعت کښي دوه يا درې غټې او اوږده اياتونه ووايي او په دوهم رکعت کښي بيا لس اياتونه والا سورة ووائي لکه (والضحى يا والطارق)سورت داسي کول څنګه دي کراهيت لري که يا ؟ د دوهم رکعت څو مره اياتونه چي تر اول رکعت زيات سي نو بيا کرا هت مينځ ته راځي ؟

جواب : په داسي صورت کښي بايد حروف شمار سي په دوهم رکعت کښې چي څو مره حروف زيات دي که دغه زيات حروف د اول رکعت د اياتو نود حروفو د نصف او نيمى سره برابريا دهغه څخه زيات سوه نو لمونځ مکروه دى مثلا په اول رکعت کښې ده سل حروفه تلاوت کړل او په دوهم کښې يې يو سل او پنځه پنځوس حروفه تلاوت کړل او که زيات نه وه نو بيا کراهيت نسته.البته کوم سورتونه چي په احاديثو کښې دنبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه اوږده او لنډ ثابت دي هغه د دغه حکم يعني کراهيت څخه مستثنى دي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَالْحَاصِلُ أَنَّ سُنِّيَّةَ إطَالَةِ الْأُولَى عَلَى الثَّانِيَةِ وَكَرَاهِيَةَ الْعَكْسِ إنَّمَا تُعْتَبَرُ مِنْ حَيْثُ عَدَدُ الْآيَاتِ إنْ تَقَارَبَتْ الْآيَاتُ طُولًا وَقِصَرًا فَإِنْ تَفَاوَتَتْ تُعْتَبَرُ مِنْ حَيْثُ الْكَلِمَاتُ، فَإِذَا قَرَأَ فِي

الْأُولَى مِنْ الْفَجْرِ عِشْرِينَ آيَةً طَوِيلَةً وَفِي الثَّانِيَةِ مِنْهَا عِشْرِينَ أَيَّةً قَصِيرَةً تَبْلُغُ كَلِمَاتُهَا قَدْرَ نِصْفِ كَلِمَاتِ الْأُولَى فَقَدْ حَصَّلَ السُّنَّةَ، وَلَوْ عَكَسَ يُكْرَهُ،

(قَوْلُهُ وَاسْتَثْنَى فِي الْبَحْرِ مَا وَرَدَتْ بِهِ السُّنَّةُ) أَيْ كَقِرَاءَتِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – فِي الْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ فِي الْأُولَى بِالْأَعْلَى وَفِي الثَّانِيَةِ بِالْغَاشِيَةِ فَإِنَّهُ ثَبَتَ فِي الصَّحِيحَيْنِ مَعَ أَنَّ الْأُولَى تِسْعَ عَشْرَةَ آيَةً وَالثَّانِيَةَ سِتَّةٌ وَعِشْرُونَ.

وَالَّذِي تَحَصَّلَ مِنْ مَجْمُوعِ كَلَامِهِ وَكَلَامِ الْقُنْيَةِ أَنَّ إطْلَاقَ كَرَاهَةِ إطَالَةِ الثَّانِيَةِ بِثَلَاثِ آيَاتٍ مُقَيَّدٌ بِالسُّوَرِ الْقَصِيرَةِ الْمُتَقَارِبَةِ الْآيَاتِ لِظُهُورِ الْإِطَالَةِ حِينَئِذٍ فِيهَا أَمَّا السُّوَرُ الطَّوِيلَةُ أَوْ الْقَصِيرَةُ الْمُتَفَاوِتَةُ فَلَا يُعْتَبَرُ الْعَدَدُ فِيهِمَا بَلْ يُعْتَبَرُ ظُهُورُ الْإِطَالَةِ مِنْ حَيْثُ الْكَلِمَاتُ وَإِنْ اتَّحَدَتْ آيَاتُ السُّورَتَيْنِ عَدَدًا هَذَا مَا فَهِمْته، وَاَللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۰۱ فصل في القرآءة / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۷۸ مکتبه رشیدیه / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۴۹۷ فصل في القرآءة / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۹۶ / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۸۵ / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۲ ص ۱۹۸ فصل في القرآءة)

دحکومت څخه پر غصب سوې مځکه باندې لمونځ کول څنګه دی ؟

سوال ۲۵: که چیرې یو څوک پرد ولتې مځکه باندې مسجد دحکومت داجازې څخه بغیر جوړ کړې ایا په دغه مسجد کښې لمونځ کول کراهت لرې که یا ؟

جواب : دشریعت دنګاه څخه دضرورت پر مقاماتو باندې مسجد جوړول واجب دی او دافریضه پر مسلمان حکومت او مسلمانانو عوامو ټولو باندې پر ځای کول ضروري ده . او ددې په عظیم او لوی ثواب کښې کوم شک هم نسته . لیکن دهر کار او عمل دپاره یو څه شرطونه هم سته که چیرې هغه شرطونه پر ځای نه سي نو هغه عمل کله کله ضائع سي او پر ځای دثواب یې ګناه هم زیاته سي . څوک چې یو ځای مسجد جوړوي دهغه دپاره اول شرط دادی چې چې هغه ځای دمسجد دجوړوونکو ملکیت وي او یا دمالک دطرفه څخه ورته دوقف کولو اجازه ورته حاصله وي او داخبره ښکاره ده چې بیله اجازې دحکومت څخه هغه ځای مسجد جوړېدای نه سي

نو لهذا د دغه مسجد د شرعي مسجد جوړیدلو د پاره او س هم شرط دغه دی چي د حکومت څخه اجازه و اخیستل سي . بې له اجازې د حکومت څخه د ې ته شرعي مسجد نه ویل کیږي . البته لمونځ په کښې کول شرعا درست دی .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار: قَوْلُهُ: وَشَرْطُهُ شَرْطُ سَائِرِ التَّبَرُّعَاتِ) أَفَادَ أَنَّ الْوَاقِفَ لَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ مَالِكُهُ وَقْتَ الْوَقْفِ مِلْكًا بَاتًّا وَلَوْ بِسَبَبٍ فَاسِدٍ، وَأَنْ لَا يَكُونَ . وفى الجوهرة النيرة : قَالَ فِي الْيَنَابِيعِ إذَا غَصَبَ أَرْضًا فَبَنَاهَا مَسْجِدًا أَوْ حَمَّامًا فَلَا بَأْسَ بِدُخُولِ الْمَسْجِدِ لِلصَّلَاةِ وَدُخُولِ الْحَمَّامِ لِلِاغْتِسَالِ،

(الدر المختار مع ردالمحتار ج ۴ ص ۳۴۰ مَطلَبٌ قَديَثبُتُ الوَقفُ بِالضَّرُورَةِ/ قانون العدال والنصاف في احکام الاوقاف ص ۲۰، ۸ / جامع الفتاوی ج ۹ ص ۴۳/ الجوهرة النيرة ج ۲ص ۲۵ کتاب الغصب / الفتاوی قاضیخان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۶۶ فصل في المسجد / فتاوی عالمګیري ج۵ ص ۳۲۰ کتاب الکراهية / فتاوی حقانیه ج ۴ ص ۲۴۶ کتاب الوقف)

لڅ سر ګرځېدل او لڅ سر لمونځ کول جائز دی که یا ؟

سوال ۲۶ : لڅ سر ګرځیدل رواه دی که یا ؟ او په لڅ سر سره لمونځ کول جائز دی که یا ؟

جواب : لڅ سر ګرځیدل نن سبا یو فیشن جوړ سوی دی او د ادنیکانو خلکو طرز او طریقه نه ده بلکي دا یو قبیح او بدعادت دی . **علامه ابن جوزي** رحمة الله علیه فرمایي : چي د عقل د خاوند څخه دا خبره پټه نه ده چي سر لڅول یو بدعادت دی او مروت ختمول دي او د ادب او شریفانه تهذیب څخه خلاف کار دی .

شیخ عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه فرمایي چي د خلکو په مخ کښې سر لڅول مکروه کار دی . په **مالابد منه کتاب** کښې یې لیکلي دي : چي سړو ته د ښځو سره او ښځو ته د سړو سره مشابهت حرام دی . نو کله چي د لمانځه څخه د باندي دغه حکم دی نو په لڅ سره سره لمونځ کول په طریقه اولی مکروه دی په **درمختار** کښې راغلي دي : که چیري یو څوک محض د سستی او غفلت د وجي څخه سر تور سر لمونځ کوي

او خولی یا لنګوټې ته پاملرنه نه کوي نو لمونځ یې مکروه دی . او که دعاجزی او تذلل دوجي څخه وي بیا نه دی مکروه .

(تلبیس ابلیس ص ۳۷۳ مالابدمنه ص ۱۳۱ الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۷۴ مکروهات الصلوة / حلبي کبیر ص ۳۴۸ مکروهات الصلوة / الخانیة علي هامش الهندیة ج ۱ ص ۱۳۵ کتاب الصلوة فصل في مکروهات الصلوة / فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۵۷ اغنیة الطالبین ج ۱ص ۱۳ / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۲۴۷ باب المسائل المتفرقة)

دلمانځه تر خلاصیدو وروسته دشکر سجده کول .

سوال ۲۷: ځیني کسان چې لمونځ خلاص کړي یوه سجده په آخره کښې کوي پس له فراغته د لمانځه آیا دغه یوازې سجده دشکر په شریعت کې جواز لري که یا ؟

جواب: دغې سجدې ته سجده شکر وائې د ځیني کتابو متون وایې چې دغه سجده د امام صاحب په نزد مکروه ده او د صاحبینو (یارانو) په نزد مستحب ده یعني ښه کار دی علامه طحطاوي رحمه الله تعالی او مولانا اعزاز علي صاحب رحمه الله تعالی محشي (حاشیه لیکونکی) دنورالایضاح لیکلي دي چې فتوٰی د صاحبینو پر قول ده یعني دغه سجده مستحب ده لیکن دغه سجده تر لمانځه وروسته اداء کول مکروه ده ځکه چې جاهل او ناخبره سړی دغه سجده ویني هغه ګمان د واجب پر کوي او هر مباح کار چې مفضي (رسیدونکی) ووجوب ته سي هغه مکروه دی.

وسجدة الشکر مستحبة ، به یفتی لکنها تکره بعد الصلوة ، لان الجهلة یعتقدونها سنة او واجبة ،وکل مباح یؤدی الیه فمکروه .... وروی ان النبي صلی الله علیه وسلم کان اذا اتاه امر به او بشر به خر ساجدا، رواه السنة الاالنسائي.یسر

(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۵۷۷ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۴۷۵ / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۳۶ مکتبه رشیدیه / حاشیة الطحطاوی ص ۴۹۹ / الموسوعة الفقهیة ج ۲۴ ص ۲۴۵)

په ګوتو باندي ټکان کول په لمانځه کښې یا دلمانځه څخه دباندي .

سوال ۲۸ : په ګوتو سره ټکان کول په لمانځه کښې یا دلمانځه څخه دباندي شرعا څه حکم لري ؟

جواب : دلمانځه په حالت کښې په ګوتو سره ټکان کول مکروه تحريمي عمل دی چي اجتناب ورڅخه کول لازم دی . او دلمانځه څخه دباندي هم په ګوتو سره ټکان کول مکروه دي دا ځکه چي په ګوتو سره ټکان کوا دحضرت لوط عليه السلام دقوم دعادتونو څخه وه البته علماوو او فقهاوو مکروه تحريمي نه دي ورته ويلي بلکي مکروه تنزيهي عمل دی .

لما قال ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق : وَيَنْبَغِي أَنْ تَكُونَ كَرَاهَةُ الْفَرْقَعَةِ تَحْرِيمِيَّةً لِلنَّهْيِ الْوَارِدِ فِي ذَلِكَ وَلِأَنَّهَا مِنْ أَفْرَادِ الْعَبَثِ بِخِلَافِ الْفَرْقَعَةِ خَارِجَ الصَّلَاةِ لِغَيْرِ حَاجَةٍ وَلَوْ لِإِرَاحَةِ الْمَفَاصِلِ فَإِنَّهَا تَنْزِيهِيَّةٌ عَلَى الْقَوْلِ بِالْكَرَاهَةِ كَمَا فِي الْمُجْتَبَى أَنَّهُ كَرِهَهَا كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ لِأَنَّهَا مِنْ الشَّيْطَانِ بِالْحَدِيثِ اهـ.

لَكِنْ لَمَّا لَمْ يَكُنْ فِيهَا خَارِجَهَا نَهْيٌ لَمْ تَكُنْ تَحْرِيمِيَّةً كَمَا أَسْلَفْنَاهُ قَرِيبًا وَأَلْحَقَ فِي الْمُجْتَبَى الْمُنْتَظِرَ لِلصَّلَاةِ وَالْمَاشِيَ إلَيْهَا بِمَنْ فِي الصَّلَاةِ فِي كَرَاهَتِهَا وَرَوَى فِي ذَلِكَ حَدِيثًا أَنَّهُ «نَهَى أَنْ يُفَرْقِعَ الرَّجُلُ أَصَابِعَهُ وَهُوَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ وَفِي رِوَايَةٍ وَهُوَ يَمْشِي إلَيْهَا» وَأَشَارَ الْمُصَنِّفُ إلَى كَرَاهَةِ تَشْبِيكِ الْأَصَابِعِ وَهُوَ أَنْ يُدْخِلَ إحْدَى أَصَابِعِ يَدَيْهِ بَيْنَ أَصَابِعِ الْأُخْرَى فِي الصَّلَاةِ كَمَا صَرَّحَ بِهِ فِي الْمُحِيطِ وَغَيْرِهِ لِمَا رَوَى أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد وَغَيْرُهُمَا مَرْفُوعًا «إذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ ثُمَّ خَرَجَ عَامِدًا إلَى الْمَسْجِدِ فَلَا يُشَبِّكْ بَيْنَ يَدَيْهِ فَإِنَّهُ فِي الصَّلَاةِ» وَنُقِلَ فِي الدِّرَايَةِ إجْمَاعُ الْعُلَمَاءِ عَلَى كَرَاهَتِهِ فِيهَا ثُمَّ يَظْهَرُ أَيْضًا أَنَّهَا تَحْرِيمِيَّةٌ لِلنَّهْيِ الْمَذْكُورِ وَظَاهِرُهُ الْكَرَاهَةُ أَيْضًا حَالَةَ السَّعْيِ إلَى الصَّلَاةِ فَإِذَا كَانَ مُنْتَظِرًا لَهَا بِالْأَوْلَى وَذَكَرَ الْعَلَّامَةُ الْحَلَبِيُّ أَنَّهُ لَمْ يَقِفْ عَلَى حُكْمِهِ خَارِجَ الصَّلَاةِ لِمَشَايِخِنَا وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ فِي غَيْرِ هَذَيْنِ الْمَوْضِعَيْنِ لَا لِلْعَبَثِ لَيْسَ بِمَكْرُوهٍ وَلَوْ لِإِرَاحَةِ الْأَصَابِعِ وَإِنْ كَانَ عَلَى سَبِيلِ الْعَبَثِ يُكْرَهُ تَنْزِيهًا. اهـ.

(البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج ٢ ص ٢٠ كتاب الصلاة باب مايفسد الصلاة وما يكره فيها سعيد چاپ / الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٠٦ الباب السابع فيما يفسد الصلوة ومايكره فيها / ردالمحتار علي الدر المختار ج ١ ص ٦٤٢ كتاب الصلاة باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها سعيد چاپ / مراقي الفلاح شرح نور الايضاح ص ٣٤٦ مكتبه رشيديه)

پوازي په زير پيرينۍ کښې لمونځ کول مکروه دی .

سوال ۲۹ : پوازي په زير پيريني کښې لمونځ کول څنګه دی چي لستوڼي نه لري او دلمونځ کوونکي لاسونه تر څنګلو يا ترهغه لا لوړ ښکاره وي .

جواب : پوازي په زير پيريني کښې لمونځ اداء کول مکروه دی . همداشان په داسي قميص کښې لمونځ چي لستوڼي يې نيمی پري وي يا خو يې لستوڼي پرې نه وي خو لمونځ کوونکي رانغښتي وي .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وكره كفه (أَيْ رَفْعُهُ) وَلَوْ لِتُرَابٍ) كَمُشَمِّرِ كُمٍّ أَوْ ذَيْلٍ) أَيْ كَمَا لَوْ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ وَهُوَ مُشَمِّرٌ كُمَّهُ أَوْ ذَيْلَهُ، وَأَشَارَ بِذَلِكَ إلَى أَنَّ الْكَرَاهَةَ لَا تَخْتَصُّ بِالْكَفِّ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ كَمَا أَفَادَهُ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ، لَكِنْ قَالَ فِي الْقُنْيَةِ: وَاخْتُلِفَ فِيمَنْ صَلَّى وَقَدْ شَمَّرَ كُمَّيْهِ لِعَمَلٍ كَانَ يَعْمَلُهُ قَبْلَ الصَّلَاةِ أَوْ هَيْئَتُهُ ذَلِكَ اهـ وَمِثْلُهُ مَا لَوْ شَمَّرَ لِلْوُضُوءِ ثُمَّ عَجَّلَ لِإِدْرَاكِ الرَّكْعَةِ مَعَ الْإِمَامِ. وَإِذَا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَذَلِكَ وَقُلْنَا بِالْكَرَاهَةِ فَهَلْ الْأَفْضَلُ إرْخَاءُ كُمَّيْهِ فِيهَا بِعَمَلٍ قَلِيلٍ أَوْ تَرْكِهِمَا؟ لَمْ أَرَهُ: وَالْأَظْهَرُ الْأَوَّلُ بِدَلِيلِ قَوْلِهِ الْآتِي وَلَوْ سَقَطَتْ قَلَنْسُوَتُهُ فَإِعَادَتُهَا أَفْضَلُ تَأَمَّلْ. **هَذَا، وَقَيَّدَ** الْكَرَاهَةَ فِي الْخُلَاصَةِ وَالْمُنْيَةِ بِأَنْ يَكُونَ رَافِعًا كُمَّيْهِ إلَى الْمِرْفَقَيْنِ. وَظَاهِرُهُ أَنَّهُ لَا يُكْرَهُ إلَى مَا دُونَهُمَا. قَالَ فِي الْبَحْرِ: وَالظَّاهِرُ الْإِطْلَاقُ لِصِدْقِ كَفِّ الثَّوْبِ عَلَى الْكُلِّ اهـ وَنَحْوُهُ فِي الْحِلْيَةِ، وَكَذَا قَالَ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ الْكَبِيرِ: إنَّ التَّقْيِيدَ بِالْمِرْفَقَيْنِ اتِّفَاقِيٌّ. قَالَ: وَهَذَا لَوْ شَمَّرَهُمَا خَارِجَ الصَّلَاةِ ثُمَّ شَرَعَ فِيهَا كَذَلِكَ، أَمَّا لَوْ شَمَّرَ وَهُوَ فِيهَا تَفْسُدُ لِأَنَّهُ عَمَلٌ كَثِيرٌ

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۶۴۰ مطلب مکروهات الصلوة طبع سعيد چاپ / حلبي کبير ص ۳۵۷ مکروهات الصلوة سهيل اکيډمي لاهور چاپ / نورالايضاح ص ۸۷ / فتاوی دارالعلوم ديوبندج ۴ ص ۸۱/ فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۵۲۵ / دلمانځه دمسائلو انسايکلوپيډيا ص ۱۵۰ بيت العمار کراچي اردو)

د دوو سورتونو تر مېنځ يو کوچني سورت پرېښوول

سوال ۳۰ : امام په اول رکعت کي قل هو الله احد سورة ووايه او بيا يې ،قل اعوذ برب الفلق سورة پرېښووی سورة الناس يې ووايه ايا داسي لمونځ مکروه دی او که

یا؟

جواب: په فرض لمانځه کښې په قصد سره داسې کول چې د دوو سورتو نو ترمینځ یو کوچنی سورت پرېږدي لمونځ یې صحیح دی سره د مکروه والي را ګرځول نه غواړي او که د یو چا څخه سهوا داسې وسوه نو مکروه والی هم نه لري بلا کراهته یې لمونځ صحیح دی او په نفلو کې که فاصله راولي او که یې رانه ولي مطلقًا کراهیت نسته.

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : قوله (ويكره الفصل بسورة قصيرة) أما بسورة طويلة بحيث يلزم منه إطالة الركعة الثانية إطالة كثيرة فلا يكره شرح المنية كما إذا كانت سورتان قصيرتان وهذا لو في ركعتين أما في ركعة فيكره الجمع بين سورتين بينهما سور فتح وفي التاترخانية إذا جمع بين سورتين في ركعة رأيت في موضع أنه لا بأس به وذكر شيخ الإسلام لا ينبغي له أن يفعل على ما هو ظاهر الرواية ا هـ

وفى الهندية : وَإِنْ كان بَيْنَهُمَا سُورَةٌ وَاحِدَةٌ قال بَعْضُهُمْ يُكْرَهُ وقال بَعْضُهُمْ إنْ كانت السُّورَةُ طَوِيلَةً لَا يُكْرَهُ هَكَذَا في الْمُحِيطِ كما إذَا كان بَيْنَهُمَا سُورَتَانِ قَصِيرَتَانِ كَذَا في الْخُلَاصَةِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۰۴ مکتبه حبیبیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۷۸ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۹۷ مکتبه رشیدیه / حاشیة الطحطاوي علي المراقي ص ۳۵۲ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۲ ص ۱۹۸ پښتو)

که په لمانځه کې دلمونځ کوونکي بجلکې په پایڅو پټې وي ؟

سوال ۳۱: په لمانځه کې که د لمونځ کوونکي بجلکې په پایڅو سره پټې وي آیا پر لمانځه کوم تاثیر د مکروه والي لوېږي که یا ،د شرعي مبارکې پر دغه برابر څه حکم دی؟

جواب: د نارینه کسانو لپاره د بجلکو پټول په لمانځه او غیر لمانځه دواړو حالتونو کښې ناروا کار دی په حدیث شریف کښې د بجلکو د پټوونکي لپاره د جهنم د عذاب سزا راغلې ده، او په لمانځه کښې یې پټول نور لا بد عمل دی لمونځ خو د دغه کس صحیح دی لیکن چونکه دغه کار د متکبرینو خلکو عادت دی په دغه خاطر یې

لمونځ مکروه دی نبي کریم صلی الله علیه وسلم په حدیث شریف کښي پایڅې کښته کول ، ډېره خریل ، او سروز او رېدل په هغه بدو اعمالو کښي راوستي او شمارلي دي د کومو په خاطر چي پر قوم د لوط علیه السلام عذاب نازل سو .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أَسْفَلَ مِنَ الكَعْبَيْنِ مِنَ الإِزَارِ فَفِي النَّارِ.

وفی مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح : وَقَدْ نَصَّ الشَّافِعِيُّ عَلَى أَنَّ التَّحْرِيمَ مَخْصُوصٌ بِالْخُيَلَاءِ لِدَلَالَةِ ظَوَاهِرِ الْأَحَادِيثِ عَلَيْهَا، فَإِنْ كَانَ لِلْخُيَلَاءِ فَهُوَ مَمْنُوعٌ مَنْعَ تَحْرِيمٍ، وَإِلَّا فَمَنْعُ تَنْزِيهٍ .

(صحيح البخاري ، كتاب اللباس ، باب ما اسفل من الكعبين ففي النار ج ۲ ص ۸۶۱ قديمي كتاب خانه / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۸ ص ۱۳۸ كتاب اللباس ، الفصل الاول / مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۳۷۱ كتاب اللباس / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۵۱۲ باب مكروهات الصلوة / فتاوى محموديه ج ۶ ص ۶۵۴ باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها)

په لمانځه کي ساعت او ګهړۍ ته کتل

سوال ۳۳: په لمانځه کښي د ننه قصدًا او ارادة خپل د لاس ساعت ته کتل چي څو بجې دي لمانځه ته تاوان رسوي که یا ؟ او بې ارادې او قصده که نظر پر ولګېږي څه حکم لري؟

جواب: د لمانځه په حالت کښي خپل د لاس په ساعت کښي وخت ته کتل او معلومول لمونځ نه فاسده وي، البته بلا ضرورته داسي فعل په لمانځه کښي عبث کار دی چي لمونځ مکروه کوي، او بې له ارادې او قصده څخه که سترګي پر ساعت برابري سي او وقت هم معلوم سي مکروه هم نه دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : ولا يفسدها نظره إلى مكتوب وفهمه) ولو مستفهما وإن كره ...... وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قوله وإن كره) أي لاشتغاله بما ليس من أعمال الصلاة، وأما لو وقع عليه نظره بلا قصد وفهمه فلا يكره ط

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۶۸ ، ۴۶۹ باب مایفسد الصلوة وما یکره فیها مکتبه رشیدیه / البحر الرائق ج ۲ ص ۲۴ / حاشیة الطحطاوي ص ۳۴۱ / فتاوی محمودیه ج ۶ ص ۶۰۶ باب مایفسد الصلوة وما یکره فیها)

دلمانځه په دوران کي عینکي او چشمکي لګول

سوال ۳۵: د لمانځه په دوران کښي عینکي لګول او اېښودل جائز دي که یا؟

جواب: د عینکوا و چشمو استعمال او عادت یو نوی جدید عمل دی چي وروسته تر متقدمینو حضراتو وجود ته راغلی دی امید نسته چي د چا په کلام کښي دي ښکاره حکم راغلی وي مګر د فقهي شریفي د قواعدو څخه معلومېږي چي دغه عمل في نفسه جائز دی لیکن فعل عبث دی او عبث فعل په لمانځه کښې مکروه دی د دغه عارض له سببه دغه فعل هم مکروه دی.

(امداد الفتاوی ج ۱ ص ۳۴۷ باب ما یفسد الصلوة وما یکره فیها مکتبه دارالعلوم کراچي)

پر لمانځه چي پایڅې کښته سي بیا راپورته کول څنګه دي؟

سوال ۳۶ : که چیري دیو شخص پایڅې پر لمانځه باندي کښته سي او بیا یې دی راپورته کړي لمونځ یې فاسد دی که یا؟.

جواب :یو وار راپورته کول پروا نه لري او په لمانځه کښې پایڅې یا پایجامه راپورته کول یعني داعادت جوړول ښه کار نه دی لمونځ خو درست او صحیح دی البته دداسي کار څخه پرهېزاو اجتناب پکار دی.

(الْفَصْلُ الثَّانِي فِيمَا يُكْرَهُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا لَا يُكْرَهُ) يُكْرَهُ لِلْمُصَلِّي ....وَأَنْ يَكُفَّ ثَوْبَهُ بِأَنْ يَرْفَعَ ثَوْبَهُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ أَوْ مِنْ خَلْفِهِ إذَا أَرَادَ السُّجُودَ.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۰۵ الباب السابع فیما یفسد الصلوة ومایکره فیها ، الفصل الثاني فیما یکره في الصلوة وما لایکره طبع رشیدیه / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۰ باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها طبع سعید کرچي / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۵۸ طبع رشیدیه / دلمانځه دمسائلو مجموعه اردو ج ۱ ص ۳۳۷)

پر غټ پیکي باندي سجده کول شرعاً څه حکم لري ؟

سوال ۳۷ : ځیني کسان داسي سته چي دسر وېښته یې ډېر غټ وي او دسجدې په حالت کښې یې دغه وېښته یا پیکی تر تندي لاندي راځي . سوال دادی چي پر غټ پیکي یا اوربل باندي سجده کول رواه او صحیح ده که یا ؟

جواب : دسر پر ویښتو یعني پیکي یا اوربل باندي سجده کول صحیح ده ځکه چي کله دسجده کوونکي تندي قرار ونیوی نو بیا سجده درسته ده . او فقهاء کرامو رحمهم الله تعالی دسجدې دصحت شرط دابیان کړی دی چي تندی به پر هغه شی باندي پر کوم شي باندي چي لمونځ کوونکی سجده کوي قرار نیسي . اودا ښکاره خبره ده چي پر پیکي باندي تندی قرار نیسي . اوبل دا چي علما وو لیکلي دي چي ددغه پیکي اړول دشا طرف ته دا هم دکراهته څخه خالي نه دي نو ښکاره خبره ده چي سجده پر پیکي باندي کیږي .

وفی مراقي الفلاح شرح نورالایضاح : كونه على ما" أي شيء "يجد" الساجد "حجمه" بحيث لو بالغ لا تتسفل رأسه أبلغ مما كان حال الوضع فلا يصح السجود على القطن والثلج والتبن والأرز والذرة وبزر الكتان "و" الحنطة والشعير "تستقر عليه جبهته" فيصح السجود لأن حباتها يستقر بعضها على بعض لخشونة ورخاوة والجبهة اسم لما يصيب الأرض مما فوق الحاجبين إلى قصاص الشعر حالة السجود .

ولما فی الطحطاوي شرح مراقي الفلاح : "والجبهة" أي ما أمكن منها قوله: "على ما يجد حجمه" أي بينه كما في الفتح ولو كان بمعنى الأرض كسرير وعجلة على الأرض قوله: "فلا يصح السجود على القطن الخ" أي إلا إذا وجد اليبس وكذا كل محشو كفرش ووسادة قوله: "والأرز والذرة" لأن هذه الأشياء لملامة ظاهرها وصلابة أجسامها لا يستقر بعضها على بعض فلا يمكن إنتهاء التسفل فيها واستقرار الجبهة عليها إلا إذا كانت في وعاء.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُ دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَإِذَا فِيهِ رَجُلٌ يُصَلِّي عَاقِصًا شَعْرَهُ، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: «إِذَا صَلَّيْتُ فَلَا تَعْقِصْ شَعْرَكَ، فَإِنَّ شَعْرَكَ يَسْجُدُ مَعَكَ وَلَكَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ أَجْرٌ» ، فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَتْرَبَ، فَقَالَ: «تَتْرِيبُهُ خَيْرٌ لَكَ»

(حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح علي نورالايضاح ج ۱ ص ۲۲۷ باب شروط الصلوة وارکانهابيروت چاپ / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ج ۱ ص ۸۶ بيروت چاپ / نورالايضاح ص ۶۳ باب شروط الصلوة مکتبه رشيديه / مصنف ابن ابي شيبة ج ۲ ص ۱۹۴ بيروت چاپ / پ : نورالايضاح ج ۲ ص ۲۶۹ مکتبة القرآءة والتجويد)

لڅ سر لمونځ کول جائز دی که یا ؟

سوال ۳۸ : لڅ سر ګرځيدل رواه دی که یا ؟ او په لڅ سر سره لمونځ کول جائز دی که یا ؟

جواب : لڅ سر ګرځيدل نن سبا یو فيشن جوړ سوی دی او دا د نيکانو خلګو طرز او طريقه نه ده بلکي دا یو قبيح او بدعادت دی . **علامه ابن جوزي** رحمة الله عليه فرمايي : چي د عقل د خاوند څخه دا خبره پټه نه ده چي سر لڅول یو بدعادت دی او مروت ختمول دي او د ادب او شريفانه تهذيب څخه خلاف کار دی .

شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه فرمايي چي د خلګو په مخ کښي سر لڅول مکروه کار دی . په **مالابد منه کتاب** کښي يي ليکلي دي : چي سړو ته د ښځو سره او ښځو ته د سړو سره مشابهت حرام دی . نو کله چي د لمانځه څخه د باندي د غه حکم دی نو په لڅ سره سره لمونځ کول په طريقه اولی مکروه دی په **درمختار** کښي راغلي دي : که چيري يو څوک محض د سستي او غفلت د وجي څخه سر تور سر لمونځ کوي او خولی يا لنګوټې ته پاملرنه نه کوي نو لمونځ يې مکروه دی . او که د عاجزی او تذلل د وجي څخه وي بيا نه دی مکروه .

(تلبيس ابليس ص ۳۷۳ مالابدمنه ص ۱۳۱ درمختار ج ۱ ص ۴۷۴ مکروهات الصلوة / حلبي کبير ص ۳۴۸ مکروهات الصلوة / الخانية علي هامش الهندية ج ۱ ص ۱۳۵ کتاب الصلوة فصل في مکروهات الصلوة / فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۵۷ اغنية الطالبين ج ۱ص ۱۳ / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۲۴۷ باب المسايل المتفرقة)

په لمانځه کښې چي پايڅې کښته وي او بجلکي په پټي وي لمونځ څنګه دی ؟

سوال ۳۹ : که چيري د يو کس بجلکي په لمانځه کښې په پايڅو يا لنګ سره پټي وي لمونځ يې شرعا څه حکم لري ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي د نارینه د پاره په لمانځه کښې بجلکي په پایڅو یا لنګ وغیره سره پټول مکروه عمل دی. داسي کس د ثواب او د الله جل جلاله د رحمت څخه محروم دی . د لمانځه څخه علاوه هم د نارینه د پاره دا ضروري دي چي خپلي پایڅي د بجلکو څخه لوړي او پورته وساتي ځکه چي بجلکي په پایڅو سره پټول لویه ګناه ده په حدیث شریف کښې د داسي کس د پاره ډېره سخته سزا او وعید اورول سوی دی .

عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «ما أسفل من الكعبين من الإزار ففي النار.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وَيُكْرَهُ لِلرِّجَالِ السَّرَاوِيلُ الَّتِي تَقَعُ عَلَى ظَهْرِ الْقَدَمَيْنِ عَتَّابِيَّةٌ،

(صحيح البخاري ج ۷ ص ۱۴۱ باب ما أسفل من الكعبين فهو في النار كتاب اللباس مكتبه شامله / ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة فصل في اللبس ج ۵ ص ۲۴۷ مكتبه رشيديه / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۸ ص ۱۳۸ كتاب اللباس الفصل الاول / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۵۱۲ باب مكروهات الصلوة / فتاوى محموديه ج ۶ ص ۶۵۴ باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها / دلمانځه مسائل ج ۱ ص ۴۷۸)

د کار په کالو کښې یا د ښېښ په کالو کښې لمونځ کول .

سوال ۴۰ : د ښېښ په کالو کښې لمونځ کول مکروه دی که یا؟

جواب: په قرآن کریم کښې د الله جل جلاله ارشاد دی .(يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ) (۳۱) سورة الاعراف پاره نمبر (۸) ژباړه : ای اولاده د آدم علیه السلام واغوندئ جامې خپلي د هر لمانځه په وخت کښې ..... نو ځکه فقهاء کرامو او علماء کرامو د رنګمالۍ ، مستري خانې ، بنایې ، اشپزۍ ، یا د ختو او ښېښ وغیره په کالو کي لمونځ مکروه بللی دی او کراهیت یې تنزیهي دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (وَصَلَاتُهُ فِي ثِيَابِ بِذْلَةٍ) يَلْبَسُهَا فِي بَيْتِهِ (وَمِهْنَةٍ) أَيْ خِدْمَةٍ،يكره إنْ كان لَهُ غَيْرَهَا وَإِلَّا لَا وقال العلامة ابن عابدين : وَالظَّاهِرُ أَنَّ الْكَرَاهَةَ تَنْزِيهِيَّةٌ. اهـ.

(حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ۳۵۹ / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۰۷ / فتاوى اللكنوي ص ۳۰۰ / ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۱ ص ۴۷۴ المكتبة الحبيبية / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۹۷۲ / تعليم الاحكام ص ۹۴ / ارشاد الاحكام ص ۵۸)

پرلمن یا شمله باندي سجده کول جواز لري که یا ؟

سوال ۴۱ : که چیري یو شخص په لمانځه کي پر لمن ، لستوڼي یا دلنګوټې پر شمله باندي سجده کوي نو لمانځه ته خو به یې تاوان نه رسیږي ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي که چا دلمانځه په دوران کي لستوڼی ، لمن ، یا شمله وغوړوله او سجده یې پر وکړه که یې ددې په خاطر وغوړوله چي تندی یې په خاورو نه سي نو بیا دا عمل مکروه دی او که یې په دې خاطر وغوړوله چي لنګوټه یا نوري جامې یې په خاورو نه سي نو بیا دا عمل نه دی مکروه . والله اعلم .

لماقال العلامة ابن نجيم رحمه الله في البحر : إذَا بَسَطَ كُمَّهُ وَسَجَدَ عَلَيْهِ إنْ بَسَطَ لِيَقِيَ التُّرَابَ عَنْ وَجْهِهِ كُرِهَ ذَلِكَ؛ لِأَنَّ هَذَا النَّوْعَ تَكَبُّرٌ

وَإِنْ بَسَطَ لِيَقِيَ التُّرَابَ عَنْ عِمَامَتِهِ أَوْ ثِيَابِهِ لَا يُكْرَهُ لِعَدَمِهِ وَنَصَّ قَاضِي خَانْ عَلَى أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ وَلَمْ يَذْكُرْ كَرَاهَةً، وَفِي الزَّادِ: وَلَوْ سَجَدَ عَلَى كُمِّهِ إنْ كَانَ ثَمَّةَ تُرَابٌ أَوْ حَصَاةٌ لَا يُكْرَهُ؛ لِأَنَّهُ يَدْفَعُ الْأَذَى عَنْ نَفْسِهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ جَازَ وَيُكْرَهُ،

(البحر الرائق ج ۱ ص ۳۳۷ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۰۸ مكتبه رشيديه / خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۵۹ مكتبه رشيديه)

دغلا په جامو کي لمونځ کول مکروه تحريمي دی

سوال ۴۲ : دغلا په جامو کي لمونځ کول شرعا څنګه دی مکروه دی که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي قصدا او اراداة دغصب او غلا په کالو کي لمونځ کول مکروه تحريمي دی .

لما قال العلامة أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي – توفي ١٢٣١ هـ فی حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح : تكره الصلاة في الثوب المغصوب وإن لم يجد غيره لعدم جواز الإنتفاع بملك الغير قبل الأذن أو أداء الضمان ...... وايضا قال الطحطاوي : (قوله مع الكراهة) ای التحريمية .

(حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ج ١ ص ٣٥٨ فصل في المكروهات / البحر الرائق ج ١ ص ٤٦٧ باب شروط الصلوة مكتبه رشيديه كويټه / دلمانځه مسائل ج ٢ ص ١٤٥ مكتبه بيت العمار كراچي)

دښځو دپاره په سپينو لاسونو يا نوكانو سره لمونځ كول نه دی مكروه

سوال ۴۳ : ايا دا خبره حقيقت لري چي كله د ښځو لاسونه سپين يا يا يې نوكان سپين وي لمونځ يې مكروه دی ؟

جواب: فقهاء كرامو ليكلي دي چي لاسونه سره كول د ښځو لپاره مستحب كار دی خو د دې ځخه دا نه لازميږي كه چيري ديوې ښځي لاسونه يآ نوكان سره نه وه نو يې لمونځ مكروه دی .

لما فی الفتاوی الهندية: وَأَمَّا خَضْبُ الْيَدَيْنِ وَالرِّجْلَيْنِ، فَيُسْتَحَبُّ فِي حَقِّ النِّسَاءِ وَيَحْرُمُ فِي حَقِّ الرِّجَالِ إِلَّا لِلتَّدَاوِي.

(الفتاوی الهندية ج ۵ ص ٣٥٩ الباب العشرون في الزينة واتخاذ الخادم للخدمة مكتبه رشيديه / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ٢ ص ٢٨٢٨ كتاب اللباس باب الترجل مكتبه شامله بيروت چاپ / فتاوی اللكنوي ص ۴٩٢ فتح الباري ج ۶ ص ۶١٨ / فتاوی محموديه ج ١٩ ۴۵۶ باب خصال الفطرة / ردالمحتار علي صدر الدرالمختار ج ۵ ص ٢٩٩ مكتبه رشيديه / فتاوی قاضي خان علي هامش الهندية ج ٢ ص ۴١٢ مكتبه رشيديه)

دزور او غصب په ذريعه نيولي مځكه كي لمونځ كول مكروه دی .

سوال ۴۴ : دزور او غصب په مځكه كي لمونځ كول صحت لري كه يا ؟

جواب : فقهآء كرامو ليكلي دي چي په غصب كړی سوي مځكه كي لمونځ مكروه دی

لما فی الفتاوی الهندية : الصلاة في أرض مغصوبة جائزة ولكن يعاقب بظلمه فما كان بينه وبين الله تعالى يثاب وما كان بينه وبين العباد يعاقب. كذا في مختار الفتاوى الصلاة جائزة في جميع ذلك لاستجماع شرائطها وأركانها وتعاد على وجه غير مكروه وهو الحكم في كل صلاة أديت مع الكراهة. كذا في الهداية فإن كانت تلك الكراهة كراهة تحريم تجب الإعادة أو تنزيه تستحب فإن الكراهة التحريمية في رتبة الواجب كذا في فتح القدير.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۰۹ الفصل الثاني فيما يكره في الصلاة وما لا يكره مكتبه رشيديه / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۹۸۴ ، ۹۸۵ / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۵۸ / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۳۰۶ / فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۲۵ باب مفسدات الصلوة ارد و)

كرك په جيب كي لمونځ كول صحت لري كه يا ؟

سوال ۴۵ : كه چيري ديو كس كرك په جيب كوي وي يا يې په ګنډه وهلی وي لمونځ ورسره رواه دی كه يا ؟

جواب : كرك د هغه مرغانو څخه دی د كوم ذات او غوښې چي شرعا پاكي بلل سوي دي په دغه حيثيت او جهت سره خو لمونځ ورسره درست دی . ليكن بل طرف ته چي وګورې چي دغه كرك كله په جيب كي وي يا يې په ګنډه كي وهلی وي حركتونه كوي او دلمونځ كوونكي خشوع او خضوع د مېنځه څخه وړي نو بيا لمونځ ورسره مكره دی . والله اعلم

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : بقي في المكروهات أشياء أخر ذكرها في المنية ونور الإيضاح وغيرهما: منها الصلاة بحضرة ما يشغل البال ويخل بالخشوع كزينة ولهو ولعب، ولذلك كرهت بحضرة طعام تميل إليه نفسه

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۸۳ ، ۴۸۴ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۱ ص ۲۶۷ مكتبه شامله / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۶۰ مكتبه رشيديه / نورالايضاح ص ۸۸ مكتبه رشيديه)

د سروزرو ګوتمۍ چي ئې په ګوته وي لمونځ ئې مكروه دی؟

سوال ۴۶ : د نارينه كه د سروزرو ګوتمۍ په ګوته وي لمونځ ئې مكروه دی ، ور سره كه يا ؟

جواب: د سروزو ګوتمۍ په ګوته کول نارینه لره حرام دي نو د سرو زرو ګوتمۍ هر وخت نارینه لره استعمالول حرام دي نو په لمانځه کي هم حرام دي او لمونځ په کراهیت سره اداء کیږي یعني لمونځ خو کیږي خو مکروه به وي

وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَالْمُعَصْفَرِ وَعَنْ تَخَتُّمِ الذَّهَبِ وَعَنْ تَخْتُّمِ الذَّهَبِ) : أَيْ عَنْ لُبْسِهِ لِلرِّجَالِ (وفى الموسوعة) لاَ خِلاَفَ بَيْنَ الْفُقَهَاءِ فِي تَحْرِيمِ حُلِيِّ الذَّهَبِ عَلَى الرِّجَال، فَيَحْرُمُ عَلَى الرَّجُل اسْتِعْمَال الذَّهَبِ لان الصلاة فى الحرير مكروه للرجال

(الموسوعةالفقهية ج ۲۲ ص ۱۱۷ اسْتِعْمَال الرَّجُل الذَّهَبَ أَوِ الْفِضَّةَ بيروت چاپ مکتبه شامله/مشكاةالمصابيح ج ۱ ص ۳۷۸ باب الخاتم قديمي چاپ/ردالمحتار ج ۱ ص ۲۵۳؛۲۵۴ باب مايفسدالصلاة ومايكره فيها مكتبه حبيبيه/البحرالرائق ج ۸ ص ۳۵۰ باب في اللبس مكتبه رشيديه/بزازيه علي هامش الهندية ج ۶ ص ۳۶۸ مكتبه رشيديه/فتاوى محموديه ج ۱۹ ص ۳۴۰ /فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۲۱۱)

.د دوو سورتو ترمابینځ یو سورت پرېښوول څنګه دی؟

سوال ۴۷: یو کس په اول رکعت کښي والضحي سورت ووایه او بیائې الم نشرح سورت پرېښووی، والتین والزیتون سورت ئې ووایه نو لمونځ مکروه سو که یا؟

جواب: په کوچني سورتو کښي فقهاوو دغه طریقه مکروه بللې ده یعني یو سورت په مابینځ کښي پرېښوول دریم سورت په دوهم رکعت کښي ویل په فرایضو لمونځونو کښي دا طریقه مکروه ده لیکن والضحی الم نشرح والتین کوچیني سورتونه نه دي بلکي او ساط مفصل دي لهذا دغه صورت نه دی مکروه

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَيُكْرَهُ الْفَصْلُ بِسُورَةٍ قَصِيرَةٍ........ أَمَّا بِسُورَةٍ طَوِيلَةٍ بِحَيْثُ يَلْزَمُ مِنْهُ إطَالَةُ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ إطَالَةً كَثِيرَةً فَلَا يُكْرَهُ شَرْحُ الْمُنْيَةِ:

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۰۴ فصل في القراءة مكتبه حبيبيه/حاشيةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۵۲ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۷۸ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوى محموديه ج ۷ ص ۱۰۳ باب الجماعة/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۷۰)

په لمانځه کښې سورتونه که د ترتیب خلاف او سر چپه سي؟

سوال ۴۸: یو کس په لمانځه کښې اول وار قل هو الله احد سورت تلاوت کړي او بیائې تبت یدا سورت تلاوت کړی ایا لمونځ ئې مکروه یا فاسد سو که یا؟

جواب: په فرض لمانځه کښې قصداً داسي کول مکروه دي چي په چپه ترتیب سره سورتونه وو وایي او که سهواً داسي وسي نو هیڅ حرج نه لري شرعاً لمونځ درست دی۔

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار: وَيُكْرَهُ الْفَصْلُ بِسُورَةٍ قَصِيرَةٍ وَأَنْ يَقْرَأَ مَنْكُوسًا إلَّا إذَا خَتَمَ القرأن منكوسا بِأَنْ يَقْرَأَ الثَّانِيَةَ سُورَةً أَعْلَى مِمَّا قَرَأَ فِي الْأُولَى لِأَنَّ تَرْتِيبَ السُّوَرِ فِي الْقِرَاءَةِ مِنْ وَاجِبَاتِ التِّلَاوَةِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۰۴ فصل في القراءة مكتبه حبيبيه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۷۸ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/اشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۵۲ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوى عبادالرحمن ج ۲ ص ۹۶ /فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۷۰)

په لمانځه کښې سترګي پټول څنګه دي؟

سوال ۴۹: په لمانځه کښې سترګي پټول او قراءة کول څنګه دی، لمونځ مکروه کیږی که یا؟

جواب: سترګي پټول په لمانځه کښې ښه نه دي بلکه مکروه تنزیهي او خلاف اولی کار دی، او که چیري یو چا په غرض د خشوع خضوع او عاجزی پټي کړې نو بیله کراهته صحیح دی، بلکه بعض علماء فرمایي چي د خشوع او عاجزی حاصلولو لپاره سترګي پټول اولی او ښه کار دی، په شامی کښی دی

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : وكره (وَتَغْمِيضُ عَيْنَيْهِ) لِلنَّهْيِ إلَّا لِكَمَالِ الْخُشُوعِ بِأَنْ خَافَ فَوْتَ الْخُشُوعِ بِسَبَبِ رُؤْيَةِ مَا يُفَرِّقُ الْخَاطِرَ فَلَا يُكْرَهُ، بَلْ قَالَ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ إنَّهُ الْأَوْلَى....... ثُمَّ الظَّاهِرُ أَنَّ الْكَرَاهَةَ تَنْزِيهِيَّةٌ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۷۷ باب مايفسدالصلاة ومايكره فيها مكتبه حبيبيه/فتاوى ملاعلي قاري ج ۱ ص ۳۰۴ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۰۷ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۵۱۷ /فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۶۹)

د عاجزۍ په خاطر لڅ سر لمونځ کول رواه دي؟

سوال ۵۰: که یو کس په دغه نیت لڅ سر لمونځ وکړي چې عاجزانه د خدای (ج) په دربار کښې حاضر سم او نیت ئې عاجزي او خشوع وي نه په خاطر د سستۍ او د مشابهت د نورو خلکو سره ایا مکروه دی لمونځ ئې که یا؟

جواب: د فقهي شریفي په کتابو کښې لیکلي دي چې په نیت د عاجزۍ لڅ سر لمونځ رواه او غیر مکروه دی یعني کراهت نسته په کښې

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار

وَصَلَاتُهُ حَاسِرًا) أَيْ كَاشِفًا (رَأْسَهُ لِلتَّكَاسُلِ) وَلَا بَأْسَ بِهِ لِلتَّذَلُّلِ:

(الدرالمختار ج ۱ ص ۴۷۴ باب مایفسدالصلاة ومایکره فیها مکتبه حبیبیه/فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۱۰۶ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۲۷ /فتاوی ملاعلي قاري ج ۱ ص ۳۱۱ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۵۶)

لڅي څنګلي لمونځ کول مکروه دی؟

سوال ۵۱: که د لمونځ کوونکي څنګلي د لمانځه په دوران کښې لڅي وي لمونځ ئې درست دی که یا؟

جواب: لمونځ ئې کیږي مګر دغه فعل خلاف د سنت طریقې دی او مکروه دی لمونځ ئې دا هغه وخت چې کالي لري او که ئې د څنګلو د پټولو جامه او ټوکر نه درلودی بیا کراهت نه لري

الفتاوی الهندية :وَلَوْ صَلَّى رَافِعًا كُمَّيْهِ إلَى الْمِرْفَقَيْنِ كُرِهَ. كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۰۶ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/ردالمحتار ج ۱ ص ۴۷۳ باب مایفسدالصلاة ومایکره فیها مکتبه حبیبیه/فتاوی محمودیه ج ۶ ص ۶۵۲ باب مایکره في الصلاة/فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۲۵ /فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۶۱)

په لمانځه کي د تندي خاوره پاکول څنګه ده؟

سوال ۵۲: د لمانځه په دوران کښې د لمونځ کوونکي پر تندي چې خاوري و مبنلي د دې خاورو صفا کول رواه دي که یا؟

جواب: په لمانځه کښې دې نه صفا کوي وروسته دې صفا کړي په لمانځه کښې ئې

صفا کول مکروه دي د لمانځه وروسته که ئې صفا کړي نو څه حرج نسته

الفتاوى الهندية :وَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَمْسَحَ جَبْهَتَهُ مِنْ التُّرَابِ وَالْحَشِيشِ بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنْ الصَّلَاةِ وَقَبْلَهُ إذَا كَانَ يَضُرُّهُ ذَلِكَ وَيَشْغَلُهُ عَنْ الصَّلَاةِ وَإِذَا كَانَ لَا يَضُرُّهُ ذَلِكَ يُكْرَهُ فِي وَسَطِ الصَّلَاةِ

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۰۵ کتاب الصلاة مکتبه رشيديه/فتاوى ملاعلي قاري ج ۱ ص ۳۰۶ کتاب الصلاة مکتبه رشيديه/غنية المستملي ص ۳۴۵ سهيل اکيډمي/خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۵۷ کتاب الصلاة مکتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۶۲)

پر لڅ سر لونګوټه تړل اوبيا لمونځ کول څنګه دی؟

سوال ۵۳: يو کس پر لمانځه ولاړ دی لنګوټه ئې پرسر ده خولۍ ئې نه ده پرسر د سرمابينځ ئې لڅ دی لمونځ ئې مکروه دی که يا؟شرعًا

جواب: پر دغه طريقه باندي لمونځ کول مکروه دي البته لمونځ ئې کيږي شرعًا سره د کراهته

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :يُكْرَهُ اشْتِمَالُ الصَّمَّاءِ وَالِاعْتِجَارُ....... لِنَهْيِ النَّبِيِّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – عَنْهُ، وَهُوَ شَدُّ الرَّأْسِ، أَوْ تَكْوِيرُ عِمَامَتِهِ عَلَى رَأْسِهِ وَتَرْكُ وَسَطِهِ مَكْشُوفً

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۷۲ باب مايفسد الصلاة ومايکره فيها مکتبه حبيبيه/فتاوى عالمګيريه ج ۱ ص ۱۰۶ کتاب الصلاة مکتبه رشيديه/البحر الرائق ج ۲ ص ۴۲ کتاب الصلاة مکتبه رشيديه/حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۵۰ کتاب الصلاة مکتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۶۸)

چي په لمانځه کښي د توکلو ضرورت سي څه به کوي ؟

سوال ۵۴: که يو چاته په لمانځه کښي ډ که خوله ناړي راسي نو کوم طرفته به ئې توکړي او که ئې نه کړي تو؟

جواب: اول خو دي کوشش وکړي چي تيري ئې کړي او که ئې تېرواى نه سولې نو په کالو کښي دي واخلي او هغه کالي دي سره ومو ښي لمونځ ئې نه خرابيږي

ويكره أن يرمي بزاقه إلا أن يضطر فيأخذه في ثوبه أو يلقيه تحت رجله اليسرى إذا صلى

خارج المسجد لما في البخاري أنه عليه الصلاة والسلام قال: "إذا قام أحدكم إلى الصلاة فلا يبصق أمامه فإنما يناجي الله تعالى ما دام في مصلاه ولا عن يمينه فإن عن يمينه ملكين وليبصق عن يساره أو تحت قدمه

(مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ص ۳۵۲ فصل في المكروهات مكتبه رشيديه/ردالمحتار ج ۱ ص۴۰۴ باب مايفسدالصلاة ومايكره فيها مكتبه حبيبيه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۷۸ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوى عبادالرحمن ج ۲ ص ۹۶ /فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۷۰)

باب السترہ

دسترې حکم څه دی اوستره څنګه درول کیږي ؟

سوال ۱ : ستره څه حکم لري او څرنګه درول کیږي ؟

جواب : په داسي ځای کي چي څوک لمونځ کوي چي صحراء وي او دخلګو د تېرېدو امکان وي نو په هغه ځای کي دسترې درول مستحب کار دی نو په داسي ځای کي به دغه شخص يو لرګی يا لښته يا يو بل داسي شی ودروي چي ديو لاس په اندازه (نيم متر) وي بيا که نو يو شخص ددغي سترې مخته تېرسي تاوان يو ه ته هم نه کوي .

لماقال العلامة علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: ۵۸۷هـ) رحمه الله :وَالْمُسْتَحَبُّ لِمَنْ يُصَلِّي فِي الصَّحْرَاءِ أَنْ يَنْصِبَ بَيْنَ يَدَيْهِ عُودًا أَوْ يَضَعَ شَيْئًا أَدْنَاهُ طُولُ ذِرَاعٍ كَيْ لَا يَحْتَاجَ إلَى الدَّرْءِ؛ لِقَوْلِ النَّبِيِّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – «إذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فِي الصَّحْرَاءِ فَلْيَتَّخِذْ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةً» .

(بدائع الصنائع ج ۲ ص ۸۴ دارالكتب العلمية بيروت / ردالمحتار ج ۱ ص ۶۳۶ سعيدچاپ / البحرالرائق ج ۲ ص ۳۰ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي علي المراقي ص ۳۶۵ مكتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ۶ ص ۶۹۳اردو)

باب الوتر و القنوت

که دچا دعاء قنوت نه وو په ياد اللهم ربنا به څو واره وايي ؟

سوال ۱: که د يو چا دعاء قنوت نه وي زده يا يې نه وي ياد ، د دعاء قنوت پر ځای به اللهم ربنا يو وار وايي او که درې واره؟

جواب: د وترو په اخري رکعت کي وروسته تر الله اکبرخو باید دعاء قنوت وویل سي، او که د چا دعاء قنوت نه وٸ زده یا یې نه وٸ په یاد، نو زموږ د فقهي کتابونه وایي ده ته اختیار دی په درو شیانو کي (۱) اللهم اغفرلي درې واره (۲) یا اللهم ربنا یو وار (۳) یا دغه الفاظ درې واره یا رب، یا رب، یارب.

لماقال ابن نجیم المصری رحمه الله: وَمَنْ لَا يُحْسِنُ الْقُنُوتَ بِالْعَرَبِيَّةِ أَوْ لَا يَحْفَظُهُ فَفِيهِ ثَلَاثَةُ أَقْوَالٍ مُخْتَارَةٍ قِيلَ يَقُولُ يَا رَبُّ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ يَرْكَعُ وَقِيلَ يَقُولُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَقِيلَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ وَالظَّاهِرُ أَنَّ الِاخْتِلَافَ فِي الْأَفْضَلِيَّةِ لَا فِي الْجَوَازِ وَأَنَّ الْأَخِيرَ أَفْضَلُ لِشُمُولِهِ وَأَنَّ التَّقْيِيدَ بِمَنْ لَا يُحْسِنُ الْعَرَبِيَّةَ لَيْسَ بِشَرْطٍ بَلْ يَجُوزُ لِمَنْ يَعْرِفُ الدُّعَاءَ الْمَعْرُوفَ أَنْ يَقْتَصِرَ عَلَى وَاحِدٍ مِمَّا ذُكِرَ لِمَا عَلِمْت أَنَّ ظَاهِرَ الرِّوَايَةِ عَدَمُ تَوْقِيتِهِ

(البحرالرائق ج ۲ ص ۷۴ / ۷۵ مکتبه رشیدیه/ بدائع الصنائع ج ۱ ص ۶۱۴ / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۴۷ پښتو/ ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۴۹۳ / فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۱۶۶ اردو)

په روژه کي وتر په جماعت سره ښه دي که دتهجدو سره په انفرادي توگه ؟

سوال ۲ : پوښتنه داده چي په روژه کي وتر په جماعت سره ښه دي که دتهجدو سره په انفرادي توگه ؟

جواب : حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تعالی په امداد الفتاوی کي لیکلي دي چي وتر دروژې په میاشتي کي په جماعت سره اداء کول بهتره دي ځکه چي د جماعة رعایت او خیال ساتل دوقت تر رعایت او خیال ساتلو مقدم دی، او همداشان د (اعراض عن الجماعة) د جماعته څخه دمخ گرځولو د صورته څخه هم پرهېز کول ضروري دی.

لما فی الفتاوی الهندية : ويوتر بجماعة في رمضان فقط عليه إجماع المسلمين، كذا في التبيين الوتر في رمضان بالجماعة أفضل من أدائها في منزله وهو الصحيح، هكذا في السراج الوهاج .

وقال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى فى البحر الرائق شرح كنز الدقائق : (قَوْلُهُ وَيُوتِرُ بِجَمَاعَةٍ فِي رَمَضَانَ فَقَطْ) أَيْ عَلَى وَجْهِ الِاسْتِحْبَابِ وَعَلَيْهِ إجْمَاعُ الْمُسْلِمِينَ كَمَا فِي الْهِدَايَةِ وَاخْتَلَفُوا فِي الْأَفْضَلِ فَفِي الْخَانِيَّةِ الصَّحِيحُ أَنَّ أَدَاءَ الْوِتْرِ بِجَمَاعَةٍ فِي رَمَضَانَ أَفْضَلُ لِأَنَّ عُمَرَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – كَانَ يَؤُمُّهُمْ فِي الْوِتْرِ وَفِي النِّهَايَةِ اخْتَارَ عُلَمَاؤُنَا أَنْ يُوتِرَ فِي مَنْزِلِهِ لَا بِجَمَاعَةٍ لِأَنَّ الصَّحَابَةَ لَمْ يَجْتَمِعُوا عَلَى الْوِتْرِ بِجَمَاعَةٍ فِي رَمَضَانَ كَمَا اجْتَمَعُوا عَلَى التَّرَاوِيحِ لِأَنَّ عُمَرَ كَانَ يَؤُمُّهُمْ فِيهِ فِي رَمَضَانَ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ كَانَ لَا يَؤُمُّهُمْ اهـ وَرَجَّحَ الْأَوَّلَ فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ بِأَنَّهُ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – كَانَ أَوْتَرَ بِهِمْ ثُمَّ بَيَّنَ الْعُذْرَ فِي تَأَخُّرِهِ عَنْ مِثْلِ مَا صَنَعَ فِيمَا مَضَى فَالْوِتْرُ كَالتَّرَاوِيحِ فَكَمَا أَنَّ الْجَمَاعَةَ فِيهَا سُنَّةٌ فَكَذَلِكَ فِي الْوِتْرِ

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۱۶ فصل في التراويح مكتبه رشيديه / البحر الرائق ج ۲ ص ۱۲۲ باب الوتر والنوافل مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۸۶ مكتبه رشيديه / امداد الفتاوى ج ۱ ص ۳۵۷ باب صلوة الوتر اردو چاپ)

دوترو په نيت کښې واجب ويل څنګه دي؟

سوال ۳: که يو څوک د وترو په نيت کښې د (واجب الليل) لفظ ووايي يعني وتر کوم درې رکعته د شپې واجب دا ويل څنګه دي صحيح دي که يا؟

جواب: د وترو په نيت کښې داسې ويل پکار دي چې (نيت کومه زه د درو رکعتو وترو دلمانځه په دغه وخت کښې تر آخره پورې ....) او پاتې سوه دا خبره چې واجب ورسره ووايي او که يې ونه وايي دا څنګه دی؟ نو جواب هم دادی چې شرعاً کوم حرج نشته په دغه ويلو کښې او داسې ويل لازم او ضروري هم نه دي.

لما قال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار: (وَكَفَى مُطْلَقُ نِيَّةِ الصَّلَاةِ) وَإِنْ لَمْ يَقُلْ لِلَّهِ (لِنَفْلٍ وَسُنَّةٍ) رَاتِبَةٍ (وَتَرَاوِيحَ) عَلَى الْمُعْتَمَدِ، إذْ تَعْيِينُهَا بِوُقُوعِهَا وَقْتَ الشُّرُوعِ، وَالتَّعْيِينُ أَحْوَطُ (وَلَا بُدَّ مِنْ التَّعْيِينِ عِنْدَ النِّيَّةِ) فَلَوْ جَهِلَ الْفَرْضِيَّةَ لَمْ يَجُزْ؛ وَلَوْ عَلِمَ وَلَمْ يُمَيِّزْ الْفَرْضَ مِنْ غَيْرِهِ،

ولماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار:(قوله انه وتر) أَشَارَ إلَى أَنَّهُ لَا يَنْوِي فِيهِ أَنَّهُ وَاجِبٌ لِلِاخْتِلَافِ فِيهِ زَيْلَعِيٌّ: أَيْ لَا يَلْزَمُهُ تَعْيِينُ الْوُجُوبِ، وَلَيْسَ الْمُرَادُ مَنْعُهُ

مِنْ أَنْ يَنْوِيَ وُجُوبَهُ لِأَنَّهُ إنْ كَانَ حَنَفِيًّا يَنْبَغِي أَنْ يَنْوِيَهُ لِيُطَابِقَ اعْتِقَادَهُ وَإِنْ كَانَ غَيْرَهُ لَا تَضُرُّهُ تِلْكَ، ذَكَرَهُ فِي الْبَحْرِ فِي بَابِ الْوِتْرِ

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ١ ص ٣٠٧ ـــ ٣٠٨ مكتبه رشيديه / فتاوی دارلعلوم ديوبند ج ۴ ص ۱۱۴ باب الوتر بښتو)

ددعاء قنوت لپاره رفع اليدين سنت دي که يا؟

سوال ۴: ددعاء قنوت تر مخه په وترو کښي لاسونه پورته کول د تکبير سره سنت دي که يا؟ ځني وايي دا سنت نه دي جواب راکړئ.

جواب: په شرح منيه کښي راغلي دي ددغه لاسو دپورته کولو او د الله اکبر د ويلو د سنت ثابتوالی چي دغه لاسونه د ددعاء قنوت تر مخه پورته کول او تکبيرويل سنت کار دی. علامه حلبي رحمه الله تعالی احاديث او اثار په دغه باره کښي جمع کړي او نقل کړي دي.

لمافي غنية المستملي : ثم اذاارادالقنوت كبرورفع يديه عندنا.....قال أحمداذاقنت قبل الركوع كبر قال ابن قدامةفي المغني وقدروي ابن عمرانه كان اذافرغ من القرائةكبروفي الذخيرةرفع يديه حذأأذنيه وهومروي عن ابن مسعودوابن عمر وابن عباس وأبي عبيدة

وفي الهندية : إذَا فَرَغَ مِنْ الْقِرَاءَةِ فِي الرَّكْعَةِ الثَّالِثَةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حِذَاءَ أُذُنَيْهِ، وَيَقْنُتُ قَبْلَ الرُّكُوعِ فِي جَمِيعِ السَّنَةِ، وَمِقْدَارُ الْقِيَامِ فِي الْقُنُوتِ قَدْرُ {إذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ} (الانشقاق:) هَكَذَا فِي الْمُحِيطِ .

(الفتاوی الهندية ج ١ ص ١١١ الباب الثامن في صلاةالوترمكتبه رشيديه/غنيةالمستملي ص ٣٩٧ صلاةالوتر سهيل اکيډمي/الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ١ ص ٣٤٦ باب الوتروالنوافل مكتبه حبيبيه/الهداية ج ١ ص ١٢٨ كتاب الصلاة مكتبه رحمانيه/فتاوی محموديه ج ٧ ص ١٦٣ باب الوتروالقنوت اردو/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ١١٨ بښتو)

په وترو کښې دقنوت تکبيرو واجب نه دی سنت دی .

سوال ۵: په وترو کښې تر دعاء قنوت مخکښي تکبيرويل سنت دی که واجب ؟ .

جواب : په وترو کښې تر دعا قنوت مخکښې تکبیر ویل سنت دی واجب نه دی لکه څنګه چې علامه ابن عابدین رحمه الله تعالی په ردالمحتار کښې لیکلي دي ، او علامه ابن نجیم مصري رحمه الله تعالی په البحرالرائق کښې په دغه خبره سره تصریح کړېده .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار: (قَوْلُهُ وَكَذَا تَكْبِيرُ قُنُوتِهِ) أَيْ الْوِتْرِ.قَالَ فِي الْبَحْرِ فِي بَابِ سُجُودِ السَّهْوِ: وَمِمَّا أُلْحِقَ بِهِ: أَيْ بِالْقُنُوتِ تَكْبِيرُهُ؛ وَجَزَمَ الزَّيْلَعِيُّ بِوُجُوبِ السُّجُودِ بِتَرْكِهِ: وَذَكَرَ فِي الظَّهِيرِيَّةِ أَنَّهُ لَوْ تَرَكَهُ لَا رِوَايَةَ فِيهِ، وَقِيلَ يَجِبُ السُّجُودُ اعْتِبَارًا بِتَكْبِيرَاتِ الْعِيدِ، وَقِيلَ لَا. اهـ. وَيَنْبَغِي تَرْجِيحُ عَدَمِ الْوُجُوبِ لِأَنَّهُ الْأَصْلُ، وَلَا دَلِيلَ عَلَيْهِ، بِخِلَافِ تَكْبِيرَاتِ الْعِيدِ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۳۴۶ واجبات الصلوة مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۱۶۹ مکتبه رشیدیه / الموسوعة الفقهية ج ۱۳ ص ۲۰۷ / احسن الفتاوی ج ۳ ص ۴۸۸ باب الوتر والنوافل اردو)

باب السنن والنوافل

په کومو وختو کې نفلونه سته چې ډېر ثوابونه لري ؟

سوال ۱ : نفل لمونځ څه وخت باید وسي او په کومو وختو کي نفلونه ډېر ثواب او اجر لري ؟

جواب : دلمرختو ،لمرپرسردرېدو ، اولمرلوېدو پروخت نفل لمونځ نسي کېدای همدارنګه دسهار دلمانځه څخه مخکي او وروسته بیاترلمرراختلوپوري ، دمازدیګر دلمانځه څخه وروسته او دماښام دلمانځه څخه مخکي هم نفل نه کیږي نورپه هر وخت کي دنفلو کول ثواب او اجر لري خوځیني نفلونه په بعضو وختونو کي په کتابو کي راغلي دي چې کول یې ډېر ثواب او اجر لري .

څه وخت چي لمر راوخیژي دیوې یاد وونېزو په اندازه یعني تقریبا پنځلس دقیقې دلمرختلو څخه وروسته څلور رکعته نفل کیږي چي دې ته داشراق لمونځ وایي ، او

څه وخت چي لمرښه راپورته سي او ګرمي تېزه سي يعني څاښت سي د دوو څخه بيا تر دولس رکعته لمونځ کيږي د طاقت په اندازه ، او د ماز ديګر د لمانځه څخه مخکي څلور رکعته نفل کيږي ، او د ماښام د سنتو څخه وروسته شپږ رکعته نفل چي اوابين ورته وايي اداء کيږي ، او د ماخوستن د لمانځه څخه مخکي څلور رکعته نفل ،او د ماخوستن د سنتو او وترو په مينځ کي دوه رکعته نفل دا هغه نوافل دي چي په کولو کي يې ډېر ثواب حاصليږي .

لما فى الهندية : وَنُدِبَ الْأَرْبَعُ قبل الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ وَبَعْدَهَا وَالسِّتُّ بَعْدَ الْمَغْرِبِ كَذَا في الْكَنْزِ وَخَيَّرَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى بين الْأَرْبَعِ وَالرَّكْعَتَيْنِ قبل الْعَصْرِ وَبَعْدَ الْعِشَاءِ وَالْأَفْضَلُ الْأَرْبَعُ في كِلَيْهِمَا هَكَذَا في الْكَافِي وَمِنْ الْمَنْدُوبَاتِ صَلَاةُ الضُّحَى وَأَقَلُّهَا رَكْعَتَانِ وَأَكْثَرُهَا ثِنْتَا عَشْرَةَ رَكْعَةً وَوَقْتُهَا من ارْتِفَاعِ الشَّمْسِ إلَى زَوَالِهَا وَمِنْهَا تَحِيَّةُ الْمَسْجِدِ وَهِيَ رَكْعَتَانِ وَمِنْهَا رَكْعَتَانِ عَقِيبَ الْوُضُوءِ

ولما فى المجمع الانهر : وندب أي حبب الأربع قبل العصر أو ركعتان لاختلاف الآثار والأخبار لكن أفضلية الأربع أظهر والست بعد المغرب تسمى صلاة الأوابين قال عليه الصلاة والسلام من صلى بعد المغرب ست ركعات لم يتكلم بينهن بشيء عدلن له بعبادة ثنتي عشرة سنة هذا يدل على أن ركعتي المغرب محسوبة من الست لكن في الأشباه خلافه تتبع والأربع قبل العشاء وبعدها أي بعد صلاة العشاء وهو أفضل وقيل أربعا عنده وركعتين عندهما كما في النهاية

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۹۸ مكتبه حبيبيه / البحرالرائق ج ۲ ص ۶۵ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهنديه ج ۱ ص ۱۱۲ مكتبه رشيديه/ الهداية ج ۱ ص ۱۲۹ مكتبه حنفيه / حاشيه الطحطاوي علي المراقي ص ۳۸۷ مكتبه رشيديه)

داوابين لمونځ که يوڅوک دوه رکعته وکړي شرعا اوابين ورته ويل کيږي که يا ؟

سوال ۲ : فقهاء کرامو ليکلي دي چي د ماښام د لمانځه څخه وروسته که څوک شپږ رکعته نفل لمونځ وکړي ډېر ثواب لري چي دې لمانځه ته د اوابين لمونځ وايي اوس

پوښتنه داده چي که یو څوک دوه رکعته نفل وکړي نو داوابین ثواب ترلاسه کولای سي که یا ؟

جواب : په دې کي شک نسته چي نفل لمونځ کول چي هرڅوومره ثواب لري خوځني لمونځونه په خپل تعداد سره په بعضو وختونو کي سته چي په احادیثو شریفه وو کي يې د ډېر ثواب ونه راغلي دي چي باید په خپل تعداد سره اداسي نو داوابین لمونځ په احادیثو کي شپږ رکعته راغلی دی چي د ماښام تر سنتو وروسته اداکیږي نو پکار هم ده چي دا لمونځ شپږ رکعته ادا سي . او که یو څوک دوه رکعته نفل کوي نفل ورته ویلای سو خو د غه اصطلاحي اوابین چي په احادیثو کي يې ذکر راغلی دی دا نه سو ورته ویلای .

لماقال العلامة الحصکفي رحمه الله فی الدرالمختار : (وَسِتٌّ بَعْدَ الْمَغْرِبِ) لِيُكْتَبَ مِنْ الْأَوَّابِينَ

ولماقال ابن نجیم رحمه الله فی البحر : وَأَمَّا السِّتَّةُ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فَلِمَا رَوَى ابن عُمَرَ رضي اللَّهُ عنهما أَنَّهُ قال من صلى بَعْدَ الْمَغْرِبِ سِتَّ رَكَعَاتٍ كُتِبَ من الْأَوَّابِينَ وَتَلَا قَوْله تَعَالَى { فإنه كان لِلْأَوَّابِينَ غَفُورًا } الإسراء ۲۵

لمافی المراقي : (و) ندب (ست) رکعات (بعد المغرب) لقوله صلى الله علیه و سلم " من صلى بعد المغرب ست رکعات کتب من الأوابين) وتلا قوله تعالى أنه كان للأوابين غفورا " والأواب هو الذي إذا أذنب ذنبا بادر إلى التوبة

(الدرالمختارمع ردالمحتارج ۱ ص ۴۹۸ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۸۹ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۰۶ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۷۰ پښتو / فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۱۸۰ اردو)

ایا دپنځه وخته لمانځه سره دنفلو کول روادي که یا ؟

سوال ۳ : ایا دپنځو فرضي لمونځونو سره دنفلو کول جائزدي که یا ؟

جواب : دسهار دلمانځه مخکي او وروسته يعني دسپېدو څخه تر لمرختو پوري همدارنګه دمازديګر دلمانځه څخه وروسته او همدارنګه دمابنام تر لمانځه مخکي دنفلو کول منع دي .

دري بيا داسي وختونه دي چي په هغو کي يو لمونځ هم صحت نه لري دلمرختلو وخت دلمر پرسر دربېدلو وخت او دلمر دوبېدلو وخت يو ددغي ورځي دمازديګر لمونځ دلمر دوبېدلو په وخت کي جواز لري سره دمکروه والي ددې لپاره چي قضا نسي .

ددې څخه بغير په نورو وختو کي نفلو نه جواز لري.

لماقال الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار: (وَكُرِهَ) تَحْرِيمًا ، وَكُلُّ مَا لَا يَجُوزُ مَكْرُوهٌ (صَلَاةٌ) مُطْلَقًا (وَلَوْ) قَضَاءً أَوْ وَاجِبَةً أَوْ نَفْلًا أَوْ (عَلَى جِنَازَةٍ وَسَجْدَةَ تِلَاوَةٍ وَسَهْوٍ) لَا شُكْرٍ قُنْيَةٌ (مَعَ شُرُوقٍ) إلَّا الْعَوَّامَ فَلَا يُمْنَعُونَ مِنْ فِعْلِهَا ؛ لِأَنَّهُمْ يَتْرُكُونَهَا ، وَالْأَدَاءُ الْجَائِزُ عِنْدَ الْبَعْضِ أَوْلَى مِنْ التَّرْكِ كَمَا فِي الْقُنْيَةِ وَغَيْرِهَا (وَاسْتِوَاءٍ) إلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى قَوْلِ الثَّانِي الْمُصَحَّحِ الْمُعْتَمَدِ ، كَذَا فِي الْأَشْبَاهِ .

وَنَقَلَ الْحَلَبِيُّ عَنْ الْحَاوِي أَنَّ عَلَيْهِ الْفَتْوَى (وَغُرُوبٍ ، إلَّا عَصْرَ يَوْمِهِ) فَلَا يُكْرَهُ فِعْلُهُ لِأَدَائِهِ كَمَا وَجَبَ بِخِلَافِ الْفَجْرِ ، وَالْأَحَادِيثُ تَعَارَضَتْ فَتَسَاقَطَتْ كَمَا بَسَطَهُ صَدْرُ الشَّرِيعَةِ .

وقال ابن نجيم رحمه الله فى البحر : قَوْلُهُ (وَعَنْ التَّنَفُّلِ بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَالْعَصْرِ لَا عن قَضَاءِ فَائِتَةٍ وَسَجْدَةِ تِلَاوَةٍ وَصَلَاةِ جِنَازَةٍ) أَيْ مُنِعَ عن التنفل في هَذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ قَصْدًا لَا عن غَيْرِهِ لِرِوَايَةِ الصَّحِيحَيْنِ لَا صَلَاةَ بَعْدَ صَلَاةِ الْعَصْرِ حتى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَلَا صَلَاةَ بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ حتى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وهو بِعُمُومِهِ مُتَنَاوِلٌ لِلْفَرَائِضِ فَأَخْرَجُوهَا منه بِالْمَعْنَى

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۲۷۲ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۱ ص ۴۳۷ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهنديه ج ۱ ص ۵۲ مكتبه رشيديه / خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۶۷ مكتبه رشيديه / الهداية ج ۱ ص ۸۰ ــ ۸۱ مكتبة الحنفيه)

دنفلوپر ځای دقضايي لمونځونو اداء کول بهتره کار دی .

سوال ۴ : که چيري ديو چا پر ذمه باندي نامعلومه لمونځونه پاته وي نو ايا دداسي سړي دپاره نفل کول بهتره دي او که قضايي لمونځونه ؟

جواب : که څه هم دشريعت مقدسه درويه څخه نفلونه اداء کول په خپل ذات کي دبرکت موجب او دثواب باعث دی ليکن دداسي سړي دپاره دنوافلو پرځای دقضايي لمونځونواداء کول بهتره دي . که چيري تعداد او حساب ورته معلوم نه وي ليکن په لنډه او اجمالي توګه دومره ورته معلوم وي چي زما څخه د دومره زمانې لمونځونه قضا سوي دي نو دهر وخت دلمانځه سره دي اول وار قضايي لمونځ اداء کړي .

وفى الفتاوى الهندية : وفي الحجة : الاشتغال بالفوائت اولى واهم من النوافل الا السنن المعروفة الخ .... وقال العلامة عالم بن العلاء الانصاري رحمه الله تعالى : الاشتغال بقضاء الفوائت اولى واهم من النوافل الا السنن المعروفة .

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۲۵ الباب الحادى عشر في قضاء الفوائت ، مسائل شتي /الفتاوى التاتارخانية ج ۱ ص ۷۷۰ كتاب الصلوة باب قضاء الفوائت / المبسوط ج ۱ ص ۱۵۵ باب قضاء الفوائت / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۴ باب القضاء پښتو)

داستخارې دلمانځه مسنونه طريقه.

سوال ۵ : داستخارې دلمانځه سنت طريقه کومه يوه ده او په کوم وخت کښي يې اداکول بهتر دي او ترڅوشپوپوري بايد وسي؟

جواب: داستخارې دلمانځه سنت طريقه داده چي کله يو څوک دکوم کار دکولو اراده وکړي چي په هغه کارکښي دتاوان او فائدې دواړو احتمال وي نوپه داسي حالت کښي دي دماخوستن دلمانځه څخه وروسته دوه رکعته نفل وکړي په اول رکعت کښي دي تر الحمد الله وروسته سورة کافرون ووايي او په دوهم رکعت کښي دي سورت اخلاص ووايي دلمانځه څخه وروسته دي په پوره توجه سره دا دُعا وکړي (اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ العَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلَّامُ الغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي

فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي – أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ – فَيَسِّرْهُ لِي، ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي – أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ – فَاصْرِفْهُ عَنِّي، وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِي الخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ، قَالَ: وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ)

چي کله (هذا الامر) ته ورسيږي نو دهم هغه کار خواته دي توجه وکړي اوپه زړه کښي دې راولي دداسي عمل دکولو څخه وروسته چي کومي خواته دزړه ميلان وي هغه کار دي وکړي که چيري ديو وار څخه اطمينان حاصل نسي نوتر اوه (۷) واره پوري دي دا عمل جاري وساتي څکه چي دځو ځله په کولو سره تردد او شک نه پاته کيږي (کماورد في الحديث) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا الِاسْتِخَارَةَ فِي الأُمُورِ كُلِّهَا كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ القُرْآنِ، يَقُولُ: " إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الفَرِيضَةِ، ثُمَّ لِيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ العَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلاَ أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلَّامُ الغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي – أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ – فَيَسِّرْهُ لِي، ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعِيشَتِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي – أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ – فَاصْرِفْهُ عَنِّي، وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِي الخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ، قَالَ: وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ "

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله : وَفِي الْحِلْيَةِ: وَيُسْتَحَبُّ افْتِتَاحُ هَذَا الدُّعَاءِ وَخَتْمُهُ بِالْحَمْدَلَةِ وَالصَّلَاةِ. وَفِي الْأَذْكَارِ أَنَّهُ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى الْكَافِرُونَ، وَفِي الثَّانِيَةِ الْإِخْلَاصَ. اهـ. وَعَنْ بَعْضِ السَّلَفِ أَنَّهُ يَزِيدُ فِي الْأُولَى وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُإلَى يُعْلِنُونَ وَفِي الثَّانِيَةِ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلا مُؤْمِنَةٍ الْآيَةَ. وَيَنْبَغِي أَنْ يُكَرِّرَهَا سَبْعًا، لِمَا رَوَى ابْنُ السُّنِّيِّ يَا أَنَسُ إذَا هَمَمْت بِأَمْرٍ فَاسْتَخِرْ رَبَّك فِيهِ سَبْعَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ اُنْظُرْ إلَى الَّذِي سَبَقَ إلَى قَلْبِك فَإِنَّ الْخَيْرَ فِيهِ وَلَوْ تَعَذَّرَتْ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ اسْتَخَارَ بِالدُّعَاءِ اهـ مُلَخَّصًا. وَفِي شَرْحِ الشِّرْعَةِ: الْمَسْمُوعُ مِنْ الْمَشَايِخِ أَنَّهُ يَنْبَغِي أَنْ يَنَامَ عَلَى طَهَارَةٍ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ بَعْدَ قِرَاءَةِ

الدُّعَاءِ الْمَذْكُورِ، فَإِنْ رَأَى مَنَامَهُ بَيَاضًا أَوْ خُضْرَةً فَذَلِكَ الْأَمْرُ خَيْرٌ، وَإِنْ رَأَى فِيهِ سَوَادًا أَوْ حُمْرَةً فَهُوَ شَرٌّ يَنْبَغِي أَنْ يُجْتَنَبَ اهـ.

(جامع الترمذي ج ۱ ص ۱۰۹ باب ماجآء في الاستخارة سعيد چاپ/ صحيح البخاري ج ۲ ص ۵۷ باب ماجآء في التطوع مثني مثني مكتبه شامله بيروت/سنن ابي داود ج ۲ ص ۸۹ باب في الاستخاره مكتبه شامله بيروت/سنن النسائي ج ۶ ص ۸۰ باب كيفية الاستخاره مكتبه شامله بيروت/ سنن ابن ماجة ج ۱ ص ۴۴۰ باب ماجآء في صلوة الاستخاره مكتبه شامله بيروت/ ردالمحتار ج ۲ ص ۲۶ مطلب في ركعتي الاستخاره سعيد چاپ/موسوعة الفقهية ج ۳ ص ۲۴۶ بحث الف مكتبه رحمانيه /فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۵۶۶ باب السنن والنوافل/فتاوى عبادالرحمن ج ۲ ص ۱۸۲ باب السنن والنوافل)

دتهجد لمونځ يې كوى چې پر سهار سو .

سوال۶: څه وايي علماء کرام په دغه مسئله کي یو کس پر نفلو د تهجد د شپې ولاړ دی هغه وو چې باندي سهار سو، نو دغه نفل صحيح سوه که یا او پوره کېدل یې لازم دي که یا؟

جواب: د صبح صادق یعني د سپید و تر راختلو وروسته د سهار د سنتو څخه ماسوا نور نفل یا واجب لغیره اداء کول مکروه دي، لیکن که پر یو سړي باندي د شپې د نفلو څخه سهار سو تمامول د دغه نفلو او پوره کول یې افضل کار دی او نفل یې صحیح دي.

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ: قَصْدًا) أُحْتُرِزَ بِهِ عَمَّا لَوْ صَلَّى تَطَوُّعًا فِي آخِرِ اللَّيْلِ فَلَمَّا صَلَّى رَكْعَةً طَلَعَ الْفَجْرُ فَإِنَّ الْأَفْضَلَ إتْمَامُهَا؛ لِأَنَّ وُقُوعَهُ فِي التَّطَوُّعِ بَعْدَ الْفَجْرِ لَا عَنْ قَصْدٍ وَلَا يَنُوبَانِ عَنْ سُنَّةِ الْفَجْرِ عَلَى الْأَصَحِّ .

(رد المحتار علي الدالمختار ج ۱ ص ۲۷۶/ احسن الفتاوى ج ۳ ص ۴۹۲ اردو)

دماخوستن تر فرضو وروسته څو ركعته سنت موكد دي ؟

سوال۷: د ماخوستن تر فرضو وروسته دوه رکعته لمونځ سنت مؤکد دی که څلور؟ او د ماخوستن تر فرضو مخکښي چې کوم نفل کېږي هغه هم مؤکد دي که غیر مؤکد او حکمت یې څه دی؟

جواب: دوه رکعته لمونځ د ماخوستن دفرضو وروسته سنت مؤکد دی کول یې

ضروري دي او ځلور رکعته مخکي تر فرضو دا مستحب دي نفل دي، حکمت د نفلو او سنتو تر لمانځه مخکي د شیطان طمع او امید پرې کول او دی مایوسه کول دي او وروسته تر فرضو لپاره د جبیرې اوپوره کولو دهغه نقصان دي چي په فرضو کي راغلی وي.

وفی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار : (وَسُنَّ) مُؤَكَّدًا (أَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ وَ) أَرْبَعٌ قَبْلَ (الْجُمُعَةِ وَ) أَرْبَعٌ (بَعْدَهَا بِتَسْلِيمَةٍ) فَلَوْ بِتَسْلِيمَتَيْنِ (وَرَكْعَتَانِ قَبْلَ الصُّبْحِ وَبَعْدَ الظُّهْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ) شُرِعَتْ الْبَعْدِيَّةُ لِجَبْرِ النُّقْصَانِ، وَالْقَبْلِيَّةُ لِقَطْعِ طَمَعِ الشَّيْطَانِ.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ١ ص ٤٩٧ــ ٤٩٨ / البحرالرائق ج ٢ ص ٨٣ مکتبه رشيديه/ فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ١٥١)

دماپښین دسنتو او فرضو ترمینځ نفل کیږي که یا ؟

سوال٨: یو سړي د ماپښین سنت په کور کي وکړه مسجد ته ولاړی جماعت ته ډېر وخت پاته دی آیا د سنتو او د فرضو په دغه مابین کي نفلي لمونځ کولای سي که یا؟

جواب: د لمانځه دمخه دسنتو او د فرضو په مابين کي نفل کول رواه دي البته د سنتو او د فرضو په مابين کي بېله عذره داسي کار باید ونسي چي د لمانځه د تکبير تحريمې سره ټکر وي لکه خبري خوراک چيښاک يا بل عمل ځکه چي په دې سره د کړو سنتو ثواب ضائع کيږي بعض فقهاء وايې چي هغه سنت بلکل د مينځه ځي ليکن دا صحيح نه ده همدغه حکم د وروسته سنتو دی.

وفی الدرالمختار : (وَلَوْ تَكَلَّمَ بَيْنَ السُّنَّةِ وَالْفَرْضِ لَا يُسْقِطُهَا وَلَكِنْ يَنْقُصُ ثَوَابُهَا) وَقِيلَ تَسْقُطُ .

وقال ابن عابدين الشامی رحمه الله فی ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَلَوْ تَكَلَّمَ إلَخْ) وَكَذَا لَوْ فَصَلَ بِقِرَاءَةِ الْأَوْرَادِ لِأَنَّ السُّنَّةَ الْفَصْلُ بِقَدْرِ " اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ إلَخْ " حَتَّى لَوْ زَادَ تَقَعُ سُنَّةً لَا فِي مَحَلِّهَا الْمَسْنُونِ كَمَا مَرَّ قُبَيْلَ فَصْلِ الْجَهْرِ بِالْقِرَاءَةِ. (قَوْلُهُ وَقِيلَ تَسْقُطُ) أَيْ فَيُعِيدُهَا لَوْ قَبْلِيَّةً، وَلَوْ كَانَتْ بَعْدِيَّةً فَالظَّاهِرُ أَنَّهَا تَكُونُ تَطَوُّعًا، وَأَنَّهُ لَا يُؤْمَرُ بِهَا عَلَى هَذَا الْقَوْلِ تَأَمَّلْ.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ١ ص ٥٠٣ / حاشية الطحطاوی علي مراقي الفلاح ص ٣٩۴ / فتح القدير ج ١ ص ٣٨٦ / فتاوی حقانيه ج ٢ ص ٥٦١ پښتو)

دسهار د فرضو او سنتو تر مینځ پر راسته اړخ پرېوتل.

سوال ۹: د سهار د فرض لمانځه او سنتو تر مابین د یو څه وخت لپاره پر راسته اړخ پرېوتل د دغه عمل د سنت وجه او دلیل سته که یا؟ یعني داسي کول سنت دی که یا؟

جواب: حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي صاحب رحمة الله علیه په امداد الفتاویٰ کښي لیکلي دي چي دغه عمل یعني د سهار د فرضو او د سنتو تر مابین پرېوتل د یو څه وخت لپاره سنت په دې معنی نه دي چي په شریعت کښي مقصود دي خامخا لکه سنت مؤکد یا سنن هُدیٰ بلکه دغه عمل د رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه پر طریقه د عادت نقل سوی دی نه پر طریقه د عبادت البته په سنن زوائدو کښي یې شمارلی سو نه په سنن مؤکده کښي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ، فَلْيَضْطَجِعْ عَلَى يَمِينِهِ»رواه ابوداود

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ رَكْعَتَيِ الفَجْرِ فَلْيَضْطَجِعْ عَلَى يَمِينِهِ» ، وَفِي البَابِ عَنْ عَائِشَةَ: «حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ» رواه الترمذی.

(ترمذی شریف ج ۲ ص ۲۸۱ بیروت چاپ / ابوداود شریف ج ۲ ص ۲۱ بیروت چاپ / مرقاة المفاتیح ج ۳ ص ۲۵۲ / مشکاة المصابیح ج ۱ ص ۱۰۷ مکتبه علوم دینیه)

سنت کول په سفر کښې ضروري دي که یا؟

سوال ۱۰: ایا سنت په سفر کي کول ضروري دي او که معاف دي شرعًا څه حکم دی؟

جواب: د احنافو فقهاؤ او علماؤ په دې مسئله کي مختلف قولونه راغلي دي: **اول قول** د صاحب د بحرالرائق دی دوی وایي چي نه کول یې ښه کار دی له وجي د قبلولو د رخصت. **دوهم:** قول دا دی چي کول یې ښه کار دی. **دریم قول:** د علامة هندوانی دی دوی وایي او همدغه شان د تجنیس مصنف وایي که چیري حالت د سفر یعني د رفتار او فرار ؤ په هغه صورت کي دي نه کوي ماسوی د سهار د سنتو څخه او که حالت د سکون او د قرار او د امن ؤ نو په هغه صورت کي دي کوي، خلاصه دا ده چي سنت مؤکد په سفر کي غیر مؤکد جوړېږي.

قال العلامة علاء الدين الحصكفى رحمه الله في الدرالمختار : (وَيَأْتِي) الْمُسَافِرُ (بِالسُّنَنِ) إنْ كَانَ (فِي حَالَ أَمْنٍ وَقَرَارٍ وَإِلَّا) بِأَنْ كَانَ فِي خَوْفٍ وَفِرَارٍ (لَا). يَأْتِي بِهَا هُوَ الْمُخْتَارُ لِأَنَّهُ تَرْكٌ لِعُذْرٍ تَجْنِيسٌ، قِيلَ إلَّا سُنَّةَ الْفَجْرِ. وقال ابن عابدين تحت:(قَوْلُهُ هُوَ الْمُخْتَارُ) وَقِيلَ الْأَفْضَلُ التَّرْكُ تَرْخِيصًا، وَقِيلَ الْفِعْلُ تَقَرُّبًا. وَقَالَ الْهِنْدُوَانِيُّ: الْفِعْلُ حَالَ النُّزُولِ وَالتَّرْكُ حَالَ السَّيْرِ، وَقِيلَ يُصَلِّي سُنَّةَ الْفَجْرِ خَاصَّةً، وَقِيلَ سُنَّةَ الْمَغْرِبِ أَيْضًا بَحْرٌ قَالَ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ وَالْأَعْدَلُ مَا قَالَهُ الْهِنْدُوَانِيُّ. اهـ.

(ردالمحتار علي الدرالمحتار ج ۱ ص ۵۸۵ باب صلاة المسافر مكتبه حبيبيه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۳۹ / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۳۷۲ / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۶۲ مكتبه رشيديه / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۱۶ / معارف السنن ج ۴ ص ۴۸۴)

دمازدیګر تر لمانځه مخکښې څلورو رکعته نفل کول سنت دي

سوال ۱۱: د مازدیګر تر لمانځه مخکې د څلور رکعتو نفلو ثواب په یو صحیح حدیث کښې ثبوت لري که یا؟ که ثبوت لري هغه حدیث راته ذکر کړئ نو زمونږ شوق او رغبت به نور هم زیات سي .

جواب: د مازدیګر تر لمانځه مخکښې څلور رکعته لمونځ سنت غیر مؤکد یعني نفل دي او ثواب یې ثابت دی، په حدیث شریف کښې راغي : چي د الله بې شمېره رحمتونه دي پر هغه چا وي چي د مازدیګر تر لمانځه مخکښې څلور رکعته نفل وکړي

وفى الدرالمختار :وَيُسْتَحَبُّ أَرْبَعٌ قَبْلَ الْعَصْرِ، وَقَبْلَ الْعِشَاءِ وَبَعْدَهَا بِتَسْلِيمَةٍ) وَإِنْ شَاءَ رَكْعَتَيْنِ، وَكَذَا بَعْدَ الظُّهْرِ لِحَدِيثِ التِّرْمِذِيِّ «مَنْ حَافَظَ عَلَى أَرْبَعٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ»

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۴۹۸ / البحرالرآئق ج ۲ ص ۸۷ / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۱۳ / خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۶۱ / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۵۵۵)

په نفلي لمونځونو کښې تر ټولو افضل کوم لمونځ دی ؟

سوال ۱۲: په نفلي لمونځو کښي تر ټولو افضل او ډېر ثواب والا لمونځ کوم لمونځ دی آیا د اشراق، د څاښت، د اوابین، که د صلاة تسبیح لمونځ؟

جواب: په نفلي لمونځونو کښې تر ټولو افضل ترين او د ثواب په اعتبار زيات لمونځ د تهجد لمونځ دی چې د شپې د سهار په خوا کښې پسله خوبه اداء کيږي، په قرآن کريم کښې د مخلصينو او متقيانو مسلمانانو په صفاتو کښې يو صفت دغه بيان کړل سوی دی چې دوی د تهجد لمونځ اداء کوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَرضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَفْضَلُ الصِّيَامِ بَعْدَ شَهْرِ رَمَضَانَ شَهْرُ اللَّهِ المُحَرَّمُ، وَأَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الفَرِيضَةِ صَلَاةُ اللَّيْلِ» رواه الترمذی

(مشکوة المصابيح ج ۱ ص ۱۱۰/ مرقات المفاتيح ج ۳ ص ۲۸۱ مکتبه حبيبيه / فتاوی محموديه ج ۲ ص ۲۳۳ باب السنن والنوافل / صحيح البخاري ج ۱ ص ۱۱۰ قديمي کتابخانه / الترمذی کتاب الصلوة باب ماجآء في فضل صلوة الليل ج ۱ ص ۲۱۰)

سنت غير مؤکد لمونځ او دهغه وختونه کوم کوم يودي ؟

سوال ۱۳ : سنت غير مؤکد لمونځونه او دهغو وختونه کوم کوم دي ؟

جواب : څلور رکعته نفل لمونځ د ماز ديګر تر لمانځه مخکښې کول مستحب يعني غير مؤکد دي. او څلور رکعته نفل لمونځ د ماخوستن تر لمانځه مخکښې کول مستحب يعني غير مؤکد دي. همداشان شپږ رکعته نفل لمونځ کول د ماښام دلمانځه څخه وروسته مستحب دي چې **صلوة الاوابين** ورته وايي. او همداشان د **تحية الوضوء** لمونځ نفل دي. طريقه يې داده چې هر کله دي او دس وکړی نو دوه رکعته نفل به وکړې مګر په مکروه وخت کښې به نه وي. **تحية المسجد** : کله چې مسجد ته داخل سوې نو دداخليدو سره به سم دوه رکعته نفل د تحية المسجد په نيت سره وکړې چې ډېر ثواب لري. البته دغه لمونځ د ماښام او سهار تر لمانځه مخکښې نه کيږي. **داشراق لمونځ** : کله چې لمر ښه راپورته سي او رالوړ سي او انسان ورته کتلای نه سي نو دوه رکعته نفل يا څلور رکعته نفل کول ديوه نفلي حج او عمرې ثواب برابر لري. د **څاښت لمونځ** : چې لمر ښه راپورته سو او ګرمي تېزه سي او وخت د څاښت سي نو دوه رکعته نفل يا څلور رکعته نفل يا اته رکعته نفل يا دوولس رکعته لمونځ څو مره چې ستا همت او طاقت وي په پابندی سره وسي ثواب يې ډير دی او

دمالداره کیدو دپاره هم یو مجرب عمل دی. **دتهجد لمونځ** : دغه لمونځ هم دالله جل جلا له په نزد ډېر مقبول لمونځ دی او ترټولو نفلونو یې ثواب زیات دی دتهجد لمونځ کم ترکمه څلور رکعته دی او زیات تر زیات دوولس رکعته دی او که مشکلات وه نو دوه رکعته هم کفایت وي . همداشان د **صلاة التسبیح** لمونځ دی چې طریقه یې داکثرو عوامو زده ده که دچا نه وه زده نو زموږ یوه تصنیف ته دي رجوع وکړي چې د(**اسلامي تحفې**)په نامه سره یا دیږي .

وفی الهداية : السنة ركعتان قبل الفجر وأربع قبل الظهر وبعدها ركعتان وأربع قبل العصر وإن شاء ركعتين وركعتان بعد المغرب وأربع قبل العشاء وأربع بعدها وإن شاء ركعتين.الخ...

وهكذا فى العناية وفتح القدير واالفقه الاسلامي وادلته .

(الهدایه ج ۱ ص ۱۳۰ باب النوافل مکتبه حنفیه / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۰۸۷ مراقي الفلاح شرح نورالایضاح ص ۳۱۷ / الموسوعة الفقهیة ج ۴۱ ص ۱۰۹ / العنایة وفتح القدیر ج ۱ ص ۳۸۶ / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۶۳ باب النوافل والسنن)

دتهجد لمونځ خامخا دشپې بیده کیدل غواړي که یا ؟

سوال ۱۴ : ایادتهجد دلمانځه داداء کولو دپاره خامخا بیده کیدل ضروري دي که بېله بیده کېدو څخه هم دتهجد دلمانځه ثواب حاصلیږي ؟

جواب :دمعلوموا او معینو احادیثو څخه داسي معلومیږي چې دماخوستن دلمانځه وروسته دسنتو او وترو په مینځ کښې دخوب څخه مخکي که یو چا دتهجد نفل لمونځ اداکړل نو دتهجد ثواب حاصلیږي خامخا بیدېدل ضروري نه دي . خو بیا هم افضله طریقه داده چې دخوب څخه وروسته دشپې په آخري حصه کښې اداءسي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : وَمَا كَانَ بَعْدَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ فَهُوَ مِنْ اللَّيْلِ» وَهَذَا يُفِيدُ أَنَّ هَذِهِ السُّنَّةَ تَحْصُلُ بِالتَّنَفُّلِ بَعْدَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ قَبْلَ النَّوْمِ. اهـ.

قُلْت: قَدْ صَرَّحَ بِذَلِكَ فِي الْحِلْيَةِ، ثُمَّ قَالَ فِيهَا بَعْدَ كَلَامٍ: ثُمَّ غَيْرُ خَافٍ أَنَّ صَلَاةَ اللَّيْلِ الْمَحْثُوثَ عَلَيْهَا هِيَ التَّهَجُّدُ. وَقَدْ ذَكَرَ الْقَاضِي حُسَيْنٌ مِنْ الشَّافِعِيَّةِ أَنَّهُ فِي الِاصْطِلَاحِ

التَّطَوُّعُ بَعْدَ النَّوْمِ، وَأَيَّدَ بِمَا فِي مُعْجَمِ الطَّبَرَانِيِّ مِنْ حَدِيثِ الْحَجَّاجِ بْنِ عَمْرٍو – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ .....الخ

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۵۰۶ مكتبه رشيديه باب الوتر والنوافل / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۴ ص ۲۴۳ باب التهجد / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۵۶۴ باب السنن والنوافل)

دوه رکعته يې کول بيا يې څلور کړل .

سوال ۱۵ : يو کس د دوه رکعتو نفلو نيت وکړی او بيا يې په ناسته کښې سلام و نه ګرځوی ولاړ سو څلور رکعته يې اداء کړل نو داسي لمونځ شرعا صحت لري که يا ؟

جواب : داسي لمونځ شرعا درست او صحيح دی ځکه چي دغه کس آخري ناسته کړېده او دهغه څخه وروسته يې د دوه رکعتو نفلو نيت کړی دی او نفل هر دوه رکعته ځان ته ځان ته دي کوم خاص مشکل شرعا نسته .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله فی ردالمحتار : نعمْ اعْتَبَرُوا كَوْنَ كُلِّ شَفْعٍ صَلَاةً عَلَى حِدَةٍ فِي حَقِّ الْقِرَاءَةِ احْتِيَاطًا، وَكَذَا فِي عَدَمِ لُزُومِ الشَّفْعِ الثَّانِي قَبْلَ الْقِيَامِ إلَيْهِ لِتَرَدُّدِهِ بَيْنَ اللُّزُومِ وَعَدَمِهِ فَلَا يَلْزَمُ بِالشَّكِّ وَلِذَا يَقْطَعُ عَلَى رَأْسِ الشَّفْعِ إذَا أُقِيمَتْ الصَّلَاةُ أَوْ خَرَجَ الْخَطِيبُ

وقال ابن نجيم المصری رحمه الله : قَوْلُهُ وَقَضَى رَكْعَتَيْنِ لَوْ نَوَى أَرْبَعًا وَأَفْسَدَهُ بَعْدَ الْقُعُودِ الْأَوَّلِ أَوْ قَبْلَهُ) يَعْنِي فَيَلْزَمُهُ الشَّفْعُ الثَّانِي إنْ أَفْسَدَهُ بَعْدَ الْقُعُودِ الْأَوَّلِ وَالشُّرُوعِ فِي الثَّانِي وَالشَّفْعِ الْأَوَّلِ فَقَطْ إنْ أَفْسَدَهُ قَبْلَ الْقُعُودِ بِنَاءً عَلَى أَنَّهُ لَا يَلْزَمُهُ بِتَحْرِيمَةِ النَّفْلِ أَكْثَرُ مِنْ الرَّكْعَتَيْنِ وَإِنْ نَوَى أَكْثَرَ مِنْهُمَا وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ عَنْ أَصْحَابِنَا إلَّا بِعَارِضِ الِاقْتِدَاءِ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۷ سعيد چاب مطلب قولهم كل شفع من النفل صلوة ليس مفردا / البحرالرائق باب الوتر والنوافل ج ۲ ص ۱۰۴ رشيديه / تبيين الحقائق ج ۱ ص ۴۳۴ دارالكتب العلمية بيروت / فتاوی محموديه ج ۷ ص ۲۱۹ باب السنن والنوافل)

دصلاة التسبيح لمونځ دتعليم په غرض په جماعت سره کول .

سوال ۱۶ : دروژې مبارکي په آخري جمعه کښې ځيني کسان دصلوة التسبيح لمونځ په جماعت سره اداء کوي د دې شرعاً څه حکم دی ؟ او د ځيني کلو امامان بيا دادليل وايي چي ناپوه کسان د صلوة التسبيح لمونځ کولای نه سي نو ځکه دا لمونځ موږ په

جماعت ورته کوو چي دوی ته آساني پیدا سي . نو ایا صلاة التسبیح لمونځ په جماعت سره کول رواه دی که یا ؟

جواب : دصلاة التسبیح لمونځ په جماعت سره کول نه منقول دی او نه هم رواه دی هغه نو که روژه وي او که غیر روژه وي . معنی دا چي که په غوښتنه او تداعِي سره وي .(یعني خلګ ورته را وبلل سي چي راسي دصلاة التسبیح لمونځ په جماعت سره کوو) نو بیا مکروه تحریمي دی مثلا څلور کسه یا تر هغه زیات سره ودریږي . او ددرو کسانو په جماعت سره په اداء کولو کښې دعلماوو اختلاف دی ځیني وایي مکروه دی ځیني بیا وایي چي نه دی مکروه . او ددوو کسانو په جماعت کښې کراهت نسته .

په فتاوی رحیمیه کښې داسي لیکلي دي : (دنفلو جماعت که دتهجد وي او که دغیر تهجد وي ماسوا دتراویح او کسوف واو استسقاء دلمانځه څخه که مقتدیان څلور کسه وي نو مکروه تحریمي دی هغه نو بیا عام دی که دغه مقتدیان خپله راغلي وي یا یو چا راغوښتي وي او په درو کښې اختلاف دی او په دوو کښې کراهت نسته) . خلاصه دا چي پر کومه طریقه چي نن سبا دنفلو لمونځونه په جماعت سره اداء کیږي مثلا دبرات په شپه یا داووویشتم په شپه یا په روژه وغیره کښې چي باقاعده خلګ ددې عمل اهتمام کوي په غوښتنه او اجتماع سره ورته حاضریږي دا دشریعت دنګاه څخه حرام او مکروه تحریمي عمل دی باید پرهیز ځیني وسي .

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَلَا يُصَلِّي الْوِتْرَ وَ) لَا (التَّطَوُّعَ بِجَمَاعَةٍ خَارِجَ رَمَضَانَ) أَيْ يُكْرَهُ ذَلِكَ عَلَى سَبِيلِ التَّدَاعِي، بِأَنْ يَقْتَدِيَ أَرْبَعَةٌ بِوَاحِدٍ كَمَا فِي الدُّرَرِ، وَلَا خِلَافَ فِي صِحَّةِ الِاقْتِدَاءِ إذْ لَا مَانِعَ ....

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۲۴ باب الوتر والنوافل طبع رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۲۴۴ باب صلوة التسبیح / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۵۲ باب السنن والنوافل / مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۱۰۹ دشب قدر او برات مسائلي اردو / فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۲۱۸

باب السنن والنوافل / فتاوی رشیدیه ج ۱ ص ۴۷ اردو /مجموعه فتاوی سعدیه ص ۷۲/ ۷۳ /مکتوبات امام رباني ج ۱ مکتوب ۱۳۱ ص ۱۴۴)

صلوة التسبیح لمونځ په ورځ کښې څو واره کیږي ؟

سوال ۱۷ : مونږ دیو ملا څخه واورېدل چي صلاة التسبیح لمونځ په ورځ کښې تر یو وار زیات کول مکروه دي ایا دغه خبره حقیقت لري که یا ؟

جواب : صلاة التسبیح لمونځ کول د درو وختونو څخه علاوه په هر وخت کښې کولای سي هغه نو بیا برابره ده که ورځ وي که شپه وي که یو وار وي که دوه واره وي که درې واره وي که هر څو واره وي .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار:تحت قوله (قَوْلُهُ وَأَرْبَعُ صَلَاةِ التَّسْبِيحِ إلَخْ) يَفْعَلُهَا فِي كُلِّ وَقْتٍ لَا كَرَاهَةَ فِيهِ، أَوْ فِي كُلِّ يَوْمٍ أَوْ لَيْلَةٍ مَرَّةً، وَإِلَّا فَفِي كُلِّ أُسْبُوعٍ أَوْ جُمُعَةٍ أَوْ شَهْرٍ أَوْ الْعُمُرِ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۲۷ باب الوتر والنوافل بیروت چاپ)

دصلاة التسبیح په لمانځه کښې دتسبیحاتو زیاتېدل یا کمېدل .

سوال ۱۸ : که چیري یو کس دصلاة التسبیح دلمانځه داداء کولو پر وخت باندي خطا وزي څه تسبیحاتي ځیني زیاتي یا کمي سي ایا په دې سره دصلاة التسبیح لمونځ مکروه کیږي ؟

جواب : که چیري دیو کس څخه دصلاة التسبیح په لمانځه کښې دتسبیحاتو کمی یا زیاتی په یوه ځای کښې وسي نو دي بیا هغه کمی په بل ځای کښې پوره کړي مثلا په ولاړه کښې تسبیحاتي ځیني کمې سوې نو دې په رکوع کښې هغه کمی راوګرځوي خو په سهوه او خطا سره که دچا څخه ددغه تسبیحاتو کمی یا زیاتی وسو لمونځ ته کوم تاوان نه رسوي او قصدا دي داسي نه کوي .

وَقِيلَ لِابْنِ الْمُبَارَكِ رحمه الله: لَوْ سَهَا فَسَجَدَ هَلْ يُسَبِّحُ عَشْرًا عَشْرًا قَالَ: لَا إنَّمَا هِيَ ثَلَثُمِائَةِ تَسْبِيحَةٍ.............وقَالَ الْمُلَّا عَلِيٌّ القاري رحمه الله فِي شَرْحِ الْمِشْكَاةِ: مَفْهُومُهُ أَنَّهُ إنْ سَهَا وَنَقَصَ عَدَدًا مِنْ مَحَلٍّ مُعَيَّنٍ، يَأْتِي بِهِ فِي مَحَلٍّ آخرَ تَكْمِلَةً لِلْعَدَدِ الْمَطْلُوبِ اه.

قُلْت: وَاسْتُفِيدَ أَنَّهُ لَيْسَ لَهُ الرُّجُوعُ إلَى الْمَحَلِّ الَّذِي سَهَا فِيهِ وَهُوَ ظَاهِرٌ، وَيَنْبَغِي كَمَا قَالَ بَعْضُ الشَّافِعِيَّةِ أَنْ يَأْتِيَ بِمَا تَرَكَ فِيمَا يَلِيهِ إنْ كَانَ غَيْرَ قَصِيرٍ فَتَسْبِيحُ الِاعْتِدَالِ يَأْتِي بِهِ فِي السُّجُودِ، أَمَّا تَسْبِيحُ الرُّكُوعِ فَيَأْتِي بِهِ فِي السُّجُودِ أَيْضًا لَا فِي الِاعْتِدَالِ لِأَنَّهُ قَصِيرٌ.

قُلْت: وَكَذَا تَسْبِيحُ السَّجْدَةِ الْأُولَى يَأْتِي بِهِ فِي الثَّانِيَةِ لَا فِي الْجِلْسَةِ لِأَنَّ تَطْوِيلَهَا غَيْرُ مَشْرُوعٍ عِنْدَنَا عَلَى مَا مَرَّ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۲۷ باب الوتر والنوافل بیروت چاپ)

دصلاة التسبیح لمونځ سنت دی که واجب ؟

سوال ۱۹ : دصلاة التسبیح لمونځ واجب دی، که سنت ؟

جواب : دصلاة التسبیح لمونځ یو مستحب عمل دی، پر کولو یې ثواب راغلی دی، او پر نه کولو باندې یې څه ګناه او ملامتی نسته .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله : وَأَرْبَعُ صَلَاةِ التَّسْبِيحِ بِثَلَاثِمِائَةِ تَسْبِيحَةٍ، وَفَضْلُهَا عَظِيمٌ.

وقال ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَأَرْبَعُ صَلَاةِ التَّسْبِيحِ إلَخْ) يَفْعَلُهَا فِي كُلِّ وَقْتٍ لَا كَرَاهَةَ فِيهِ، أَوْ فِي كُلِّ يَوْمٍ أَوْ لَيْلَةٍ مَرَّةً، وَإِلَّا فَفِي كُلِّ أُسْبُوعٍ أَوْ جُمُعَةٍ أَوْ شَهْرٍ أَوْ الْعُمُرِ، وَحَدِيثُهَا حَسَنٌ لِكَثْرَةِ طُرُقِهِ. وَوَهَمَ مَنْ زَعَمَ وَضْعَهُ، وَفِيهَا ثَوَابٌ لَا يَتَنَاهَى .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۲۷ باب الوتر والنوافل بیروت چاپ)

دوترو او سنتو په مېنځ کښې نفل کول .

سوال ۲۰ : دماخوستن دسنتو نو څخه وروسته او دوترو څخه مخکښې دوه رکعته نفل کول دنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي که یا ؟

جواب : دماخوستن د دوو رکعتو سنت موکدو څخه وروسته او دوترو څخه مخکښې دوه رکعته یا څلور رکعته نفل کول مستحب دي څنګه چې دحضرت عائشې رضي الله عنها څخه په حدیث شریف کښې نقل او ثابت دي .

وَعَنْهَا قَالَتْ: مَا صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ قَطُّ فَدَخَلَ عَلَيَّ إِلَّا صلى أَربع رَكْعَات أَو سِتّ رَكْعَات. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد .

(فتاوی دارالعلوم دیو بند ج ۴ ص ۱۷۳/ ۲۳۵ باب السنن الغير المؤكدة مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۱۰۴ الفصل الثاني باب السنن / ابوداود شريف)

ایا نفل په شروع کولو سره پر سړي باندي لازمیږي که یا ؟

سوال ۲۱ : که چیري یو کس نفل شروع کړي او بیا یې بېرته دیو عذر په خاطر یا بېله عذره پریږدي نو دغه نفل پر دغه کس باندي لازمیږي که یا ؟

جواب : مسئله داده چي نفل په شروع کولو سره لازمیږي نو که چا نفل یو وار شروع کړه او بیا یې وروسته په یوه وجه سره پرېښوول نو پر ده باندي وروسته اعاده (راګرځول) ددغه لمانځه واجبه ده . خو په دې شرط چي دغه شروع کول یې صحیح وي .

لما قال العلامة الحصفكي رحمة الله عليه فى الدرالمختار : (وَلَزِمَ نَفْلٌ شَرَعَ فِيهِ) بِتَكْبِيرَةِ الْإِحْرَامِ أَوْ بِقِيَامِ الثَّالِثَةِ شُرُوعًا صَحِيحًا(قَصْدًا)

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۰۹ باب الوتر والنوافل / الهداية ج ۱ ص ۱۳۱ / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۱۳ فتاوی حقانیه ج ۳ ۴۵۳ / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۷۷)

دجمعې مخکي سنت چي پاته سي کله به یې کوي ؟

سوال ۲۲ : د جمعې د لمانځه څخه د مخه څلور رکعته سنت چي د انسان څخه پاته سي نو تر فرضو وروسته به اول وار هغه اولني څلور رکعته کوي او که به دغه وروسته سنت اول وار کوي بیا به هغه قضاء سوي کوي؟

جواب: کله چي د جمعې د لمانځه اولني څلور رکعته سنت تر خطبې مخکي اداء نه سول، نو تر فرضو وروسته به لس رکعته سنت کوي څلور به د فرضو وروسته سنت سي، څلور به مخکني سنت سي او دوه به هغه جلا دوه رکعته سنت غیر مؤکده سي، ځکه چي د جمعې د لمانځه څخه وروسته په شپږ رکعته سنتو کښي اول څلور سنت مؤکده دي او هغه اخیري دوه غیره مؤکده دي اول باید اته رکعته مؤکده اداء سي بیا دوه غیر مؤکده.

قال ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى فى البحرالرائق : (قوله وكذا الجمعة) أي حكم الأربع قبل الجمعة كالأربع قبل الظهر كما لا يخفى .

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قوله وكذا الجمعة) أي حكم الأربع قبل الجمعة كالأربع قبل الظهر كما لا يخفى بحر، وظاهره أنه لم يره في البحر منقولا صريحا، وقد ذكره في القهستاني، لكن لم يعزه إلى أحد. وذكر السراج الحانوتي أن هذا مقتضى ما في المتون وغيرها، لكن قال في روضة العلماء إنها تسقط لما روي أنه – عليه الصلاة والسلام – قال " إذا خرج الإمام فلا صلاة إلا المكتوبة " اه رملي.

أقول: وفي هذا الاستدلال نظر لأنه إنما يدل على أنها لا تصلى بعد خروجه لا على أنها تسقط بالكلية ولا تقضى بعد الفراغ من المكتوبة، وإلا لزم أن لا تقضى سنة الظهر أيضا، فإنه ورد في حديث مسلم وغيره «إذا أقيمت الصلاة فلا صلاة إلا المكتوبة» نعم قد يستدل للفرق بينهما بشيء آخر، وهو أن القياس في السنن عدم القضاء كما مر، وقد استدل قاضي خان لقضاء سنة الظهر بما عن عائشة – رضي الله تعالى عنها – «أن النبي – صلى الله عليه وسلم – كان إذا فاتته الأربع قبل الظهر قضاهن بعده» فيكون قضاؤها ثبت بالحديث على خلاف القياس كما في سنة الفجر، كما صرح به في الفتح، فالمقول بقضاء سنة الجمعة يحتاج إلى دليل خاص، وعليه فتنصيص المتون على سنة الظهر دليل على أن سنة الجمعة ليست كذلك فتأمل.

(ردالمحتار علي الدر المختار ج ۲ ص ۵۸ باب داراک الفریضة مکتبه شامله /فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۹۰ باب ادراک الفریضة / البحر الرائق ج ۲ ص ۱۳۳ / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۱۴۹ مکتبه رشیدیه)

ایا د صلاة التسبیح لمونځ بدعت دی ؟

سوال ۲۳ : ځیني کسان چي یا یې د عربو څخه اوریدلي دي یا د نورو معلوماتو څخه دا وائي چي صلاة تسبیح لمونځ بدعت دی په دلیل کي دا وائي چي هغه حدیثونه چي د صلاة تسبیح د لمانځه پر برابر راغلي دي ټول ه ضعیف دي، د فقه حنفي په رڼا کي د صلاة تسبیح لمونځ څه حیثیت لري د نفلو او که یا ؟

جواب: د صلاة التسبیح د لمانځه په باره کي چي کوم روایات راغلي دي تر یو حده پوري د سند په اعتبار سره کمزوري دي علامه ابن الجوزي رحمه الله تعالی د دغه

لمانځه د صحت څخه انکار کړی دی لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله تعالی په خپل کتاب (الاعمال المکفرة)کي لیکلي دي چي د صلاة تسبیح د لمانځه روایتونه د صحت درجې (حسن لغیره) ته رسیدلي دي لهذا دغه لمونځ ثابت دی دغه لمانځه ته بدعت یا خلاف سنت یا د دې لمانځه د فضیلت څخه انکار کول درست نه دی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لِلْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ: " يَا عَبَّاسُ يَا عَمَّاهُ أَلَا أُعْطِيكَ؟ أَلَا أَمْنَحُكَ؟ ألا أحبوك؟ أَلَا أَفْعَلُ بِكَ عَشْرَ خِصَالٍ إِذَا أَنْتَ فَعَلْتَ ذَلِكَ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ ذَنْبَكَ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ قَدِيمَهُ وَحَدِيثَهُ خَطَأَهُ وَعَمْدَهُ صَغِيرَهُ وَكَبِيرَهُ سِرَّهُ وَعَلَانِيَتَهُ: أَنْ تُصَلِّيَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ تَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً. فَإِذَا فَرَغْتَ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِي أَوَّلِ رَكْعَةٍ وَأَنْتَ قَائِمٌ قُلْتَ سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ خَمْسَ عَشْرَةَ مَرَّةً ثُمَّ تَرْكَعُ فَتَقُولُهَا وَأَنْتَ رَاكِعٌ عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ الرُّكُوعِ فَتَقُولُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَهْوِي سَاجِدًا فَتَقُولُهَا وَأَنْتَ سَاجِدٌ عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ السُّجُودِ فَتَقُولُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَسْجُدُ فَتَقُولُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ فَتَقُولُهَا عَشْرًا فَذَلِكَ خَمْسٌ وَسَبْعُونَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ تَفْعَلُ ذَلِكَ فِي أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ إِنِ اسْتَطَعْتَ أَن تصليها فِي كل يَوْم فَافْعَلْ فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّةً فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي كُلِّ شَهْرٍ مَرَّةً فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي كُلِّ سَنَةٍ مَرَّةً فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي عُمْرِكَ مَرَّةً ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَات الْكَبِير

(مشكاة المصابيح ج ۱ ص ۱۱۷ باب صلاة التسبيح مکتبه امیر حمزه / مرقاة المفاتیح ج ۳ ص ۹۹۳ باب صلاة التسبیح / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۱۲ مکتبه رشیدیه / ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۵۰۸ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۲۴۴ پښتو مکتبه رشیدیه)

دتهجد دلمانځه بدل بل کوم عبادت سته ؟

سوال ۲۴: که یو کس کمزوری وي دومره همت نه لري چي پر نیمه شپه یا په اخیر کښې د شپې راکښیني د تهجد لپاره آیا یوه بله داسي وظیفه نسته چي د تهجد و ثواب ولري جواب مطلوب دی؟

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چي کوم کس د شپې دتهجد لمونځ نه سي کولای ځیني پاتیږي هغه دي دلمر دزوال څخه مخکي دوولس رکعته لمونځ اداء کړي الله جل جلاله به دتهجد دلمانځه ثواب ورکړي .

وفی سنن ابي دادود : عن ابن وهب: ابن عبد القاري – قال: سمعت عمر بن الخطاب يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من نام عن حزبه – أو عن شيء منه – فقرأه ما بين صلاة الفجر وصلاة الظهر كتب له كأنما قرأه من الليل»

(سنن ابي داود شريف كتاب الصلوة باب من نام عن حزبه ج ۲ ص ۳۴ مكتبه شامله / سنن ابن ماجة كتاب الصلوة باب من نام عن حزبه ص ۹۵ قديمي چاپ / صحيح مسلم ج ۱ ص ۲۵۶ قديمي چاپ / فتاوى محموديه ج ۷ ص ۲۳۵ باب السنن والنوافل / فتاوى رحيميه ج۵ ص ۲۶۹)

دسهار لمونځ او د اشراق لمونځ په جلا جلا مسجدانو کي کول.

سوال۲۵: د سهار لمونځ مي په یوه مسجد کي په جماعت سره وکړی بیا د یوه کار لپاره د مسجد څخه ووتلم د اشراق لمونځ مي په بل مسجد کي اداء کړی یا مي په کور کښي اداء کړی، آیا دغه نفل په اشراق کښي شمار ل کیږي که یا؟

جواب: که چیري یو څوک د یوه ضرورت په خاطر د مسجد څخه ووزي لکه درس ته تلل یا بل څه کار ته، نو بل ځای هم د اشراق لمونځ کېدلای سي چي اداء يې کړي لکه پر کور یا په بل مسجد کښي، البته خو په حدیث شریف کښي داسي ذکر دي کوم کس چي د سهار لمونځ په جماعت سره اداء کړي بیا پر خپل ځای ناست وي تر هغه وخته چي د اشراق وخت داخل سي او بیا ولاړ سي دوه رکعته یا څلور رکعته د اشراق نفل اداء کړي، نو هغه ته به الله پاک جل جلاله د یوه حج او د یوې عمرې ثوابونه ورکړي.

عن سهل بن معاذ بن أنس الجهني، عن أبيه، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم، قال «من قعد في مصلاه حين ينصرف من صلاة الصبح، حتى يسبح ركعتي الضحى، لا يقول إلا خيرا، غفر له خطاياه، وإن كانت أكثر من زبد البحر»

عن أنس، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «من صلى الغداة في جماعة ثم قعد يذكر الله حتى تطلع الشمس، ثم صلى ركعتين كانت له كأجر حجة وعمرة» ، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «تامة تامة تامة» هذا حديث حسن غريب

(سنن ابي داود شريف باب صلاة الضحي ج ۲ ص ۴۱ بيروت چاپ / سنن الترمذی باب ذكر بما يستحب من الجلوس ج ۱ ص ۴۳۱ بيروت چاپ / فتاوی محموديه ج ۲۲ ص ۱۹۵ باب السنن والنوافل / حاشية الطحطاوي ص ۱۸۹ مكتهب رشيديه)

ايادصلوة تسبيح لمونځ يو خاص وخت لري که يا ؟

سوال ۲۶: ايا د صلوة التسبيح د لمانځه د اداء کولو لپاره يوه ورځ يا يو خاص وخت مقرر دی د شريعت له طرفه که يا ؟

جواب: د صلوة التسبيح د لمانځه لپاره وخت يا کوم خاص وخت يعني ورځ يا شپه په شريعت کي نه دي مقرر داوقات مکروهه څخه علاوه نورپه ټولو اوقاتو کي اداء کېدلای سي که توفيق وي روزانه بايد وسي البته تر زوال وروسته که وسي زيات افضل دي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : يفعلها فى كل وقت لا كراهية .

(ردالمحتار علي الدرالمختار باب الوتر والنوافل مطلب في صلاة التسبيح ج ۱ ص ۵۰۸ مكتبه رشيديه / مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۳ ص ۳۷۸ مكتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۱۳/ فتاوی رحيميه ج۵ ص ۲۱۵ باب النوافل والسنن اردو)

دماخوستن تر وترو وروسته نفل رواه دي ؟

سوال ۲۷: ايا د ماخوستن تر وترو وروسته نفل کول صحيح دی که يا بعضي خلګ وائي چي د ماخوستن تر وترو وروسته نفل کول بدعت دي دا خبره تر کومه حده صحيح ده ؟

جواب: تر وترو وروسته د دوه رکعته نفلو په باره کي قولي او فعلي دواړه قسمه روايتونه ثابت دي او همداشان تر وترو وروسته نفل کول روا او جائز دي البته ځيني علماء دغه دوه رکعته نفل په ولاړي سره کول افضل او بهتره بولي لکه چي حضرت مولانا مفتي کفايت الله صاحب رحمه الله تعالی ددې خبري قائل دی او ځيني علماء يې بيا په ناستي سره افضله بولي لکه حضرت مولانا شا انورشاه کشميري رحمه الله تعالی چي ددې خبري قائل دی او پاته سول د بدعت خبره زموږ علماء دا صحيح نه

بولي والله اعلم بالصواب.

لما في سنن الترمذي : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الوِتْرِ رَكْعَتَيْنِ . ولما ذكر فی سنن ابن ماجة : عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْوِتْرِ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، وَهُوَ جَالِسٌ .

(سنن الترمذي ج ۲ ص ۳۳۵ باب ما جاء لا وتران في ليلة مكتبه شامله / سنن ابن ماجة ج ۱ ص ۳۷۷ باب ما جاء في الركعتين بعد الوتر جالسا / كفايت المفتي ج ۳ ص ۳۱۵ كتاب الصلوة مكتبه دارالاشاعت اردو / فيض الباري ج ۲ ص ۵۷۵ / معارف السنن ج ۴ ص ۲۶۳ / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۵۵۹ باب السنن والنوافل)

تر هغه لمونځونو وروسته ډېر كښېناستل چې سنت يې وروسته وي ؟

سوال ۲۸: د ماپښين ماښام ماخوستن تر فرضو لمونځونو فورًا وروسته تر سنتو مخکې که یو کس خپل اوراد اذکار تسبیحات اوږده ووائې او بیا وروسته سنت وکړي څه حرج او مشکل شرعًا لري که یا ؟

جواب: هغه فرض لمونځونه چې تر هغو وروسته سنتونه اداء کېږي اولٰی او افضله طریقه دا ده چې اوږده دعاء او اذکار تر فرضو وروسته ونه سي بلکه لنډه دعاء وسي چې مقدار يې (اللهم انت السلام ومنك السلام) دی یا دغه دعاء ته نژدې بله دعاء وسي اذکار او اوراد او تسبیحات باید تر سنتو وروسته اداء سي دغه يې سنت طريقه ده او زياته فاصله را وستل مکروه کار دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فی الدرالمختار : ويكره تأخير السنة إلا بقدر اللهم أنت السلام إلخ. قال الحلواني: لا بأس بالفصل بالأوراد واختاره الكمال. قال الحلبي: إن أريد بالكراهة التنزيهية ارتفع الخلاف قلت: وفي حفظي حمله على القليلة؛ وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : (قوله إلا بقدر اللهم إلخ) لما رواه مسلم والترمذي عن عائشة قالت «كان رسول الله – صلى الله عليه وسلم – لا يقعد إلا بمقدار ما يقول: اللهم أنت السلام ومنك السلام تباركت يا ذا الجلال والإكرام» وأما ما ورد من الأحاديث في الأذكار عقيب الصلاة فلا دلالة فيه على الإتيان بها قبل السنة، بل يحمل

على الإتيان بها بعدها؛ لأن السنة من لواحق الفريضة وتوابعها ومكملاتها فلم تكن أجنبية عنها، فما يفعل بعدها يطلق عليه أنه عقيب الفريضة.

(قوله ارتفع الخلاف) لأنه إذا كانت الزيادة مكروهة تنزيها كانت خلاف الأولى الذي هو معنى لا بأس (قوله وفي حفظي إلخ) توفيق آخر بين القولين، المذكورين، وذلك بأن المراد في قول الحلواني لا بأس بالفصل بالأوراد: أي القليلة التي بمقدار " اللهم أنت السلام إلخ " لما علمت من أنه ليس المراد خصوص ذلك، بل هو أو ما قاربه في المقدار بلا زيادة كثيرة فتأمل. وعليه فالكراهة على الزيادة تنزيهية لما علمت من عدم دليل التحريمية فافهم .... (قوله ولو تكلم إلخ) وكذا لو فصل بقراءة الأوراد لأن السنة الفصل بقدر " اللهم أنت السلام إلخ " حتى لو زاد تقع سنة لا في محلها المسنون كما مر قبيل فصل الجهر بالقراءة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۳۹۱ فروع قرأ بالفارسية أو التوراة أو الإنجيل مكتبه رشيديه /ج ۲ ص ۱۹ مكتبه شامله / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۳۹۳ ، ۳۹۴ / فتاوى محموديه ج۵ ص ۶۶۴ باب الذكر والدعاء بعد الصلوات / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۱۵ ، ۳۱۶ ، ۳۱۷ قديمي چاپ)

سنت مؤكد لمونځونه د فرض لمانځه څخه مخكي او وروسته كوم كوم دي ؟

سوال ۲۹ : سنت مؤكد لمونځونه دفرض لمانځه څخه مخكي يا وروسته ديو مسلمان پر ذمه باندي كوم كوم دي ؟.

جواب : دسهار دلمانځه څخه مخكي دوه ركعته لمونځ سنت مؤكد دى. دماپښين څخه مخكي څلور ركعته لمونځ سنت مؤكد دى . او همداشان دماپښين دفرضو څخه وروسته دوه ركعته لمونځ سنت مؤكد دي . دوه ركعته لمونځ دمابنام دلمانځه څخه وروسته سنت مؤكد دى . دوه ركعته لمونځ دماخوستن دلمانځه څخه وروسته سنت دى. دجمعې دلمانځه څخه مخكي څلور ركعته سنت مؤكد دي ، او همداشان دجمعې دلمانځه څخه وروسته څلور ركعته سنت مؤكد دي . اوهغه دوه نور بيا چي موږيې كوو سنت غيرمؤكد دي .چي مجموعه يې شپږ ركعته كيږي .

وفی الدرالمختار : (وَسُنَّ) مُؤَكَّدًا (أَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ وَ) أَرْبَعٌ قَبْلَ (الْجُمُعَةِ وَ) أَرْبَعٌ (بَعْدَهَا بِتَسْلِيمَةٍ) (وَرَكْعَتَانِ قَبْلَ الصُّبْحِ وَبَعْدَ الظُّهْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ) شُرِعَتْ الْبَعْدِيَّةُ لِجَبْرِ النُّقْصَانِ، وَالْقَبْلِيَّةُ لِقَطْعِ طَمَعِ الشَّيْطَانِ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۹۸ باب الوتر والنوافل مكتبه رشيديه /المحيط البرهاني في الفقه النعماني ج ۱ ص ۴۴۴ الفصل الحادي والعشرون في التطوع قبل الفرض وبعده مكتبه شامله / البحرالرائق شرح كنزالدقائق ج ۲ ص ۵۲ الصلاة المسنونة كل يوم مكتبه شامله / الجوهرة النيرة علي مختصر القدوري ج ۱ ص ۷۱ باب النوافل مكتبه شامله)

دماپښين څلور رکعته سنت که پاته سوه وروسته بیااوله دوه وکړي که څلور وکړي ؟

سوال۳۰ : که چیري دیو کس څخه د ماپښین څلور رکعته پاته سي جماعت وکړي نو د فرضو د اداء کولو څخه وروسته اول دوه رکعته وکړي که څلور رکعته وکړي ؟ .

جواب : په جواز کښې دواړه صورتونه سره برابر دي . (یعني اول واردوه کول هم رواه دي ، او اول وار څلور رکعته کول هم رواه دي) البته په افضلیت کښې اختلاف دی . د علامه شامي ابن عابدین رحمه الله تعالی تحقیق ته په کتو سره اول باید لومړي دوه رکعته اداء سي ځکه چي د څلور رکعتو سنتو د فوت کېدو په وجه دوه رکعته خو دي کم تر کمه پر خپل ځای باندي پاته سي . او که نه وي نو په بل صورت کښې به دواړه سنتونه پر خپل ځای باندي نه پاته کېږي .

خلاصه دا چي افضله دا ده چي اول دوه رکعته اداء سي بیا څلور رکعته اداء سي .

قال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالی فی الدرالمختار : (ثُمَّ يَأْتِي بِهَا) عَلَى أَنَّهَا سُنَّةٌ (فِي وَقْتِهِ) أَيْ الظُّهْرِ (قَبْلَ شَفْعِهِ) عِنْدَ مُحَمَّدٍ، وَبِهِ يُفْتَى جَوْهَرَةٌ.

أَقُولُ: وَعَلَيْهِ الْمُتُونُ، لَكِنْ رَجَّحَ فِي الْفَتْحِ تَقْدِيمَ الرَّكْعَتَيْنِ. قَالَ فِي الْإِمْدَادِ: وَفِي فَتَاوَى الْعَتَّابِيِّ أَنَّهُ الْمُخْتَارُ، وَفِي مَبْسُوطِ شَيْخِ الْإِسْلَامِ أَنَّهُ الْأَصَحُّ لِحَدِيثِ عَائِشَةَ «أَنَّهُ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – كَانَ إذَا فَاتَتْهُ الْأَرْبَعُ قَبْلَ الظُّهْرِ يُصَلِّيهِنَّ بَعْدَ الرَّكْعَتَيْنِ» وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ، وَكَذَا فِي جَامِعِ قَاضِي خَانْ

(الدرالمختار وردالمحتار ج ۱ ص ۵۳۱ باب ادراک الفريضة / البحر الرائق ج ۲ ص ۱۳۲ / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۵۸۹ باب اداراک الفريضة / فتاوی درالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۱۵۰)

دصلوة تسبيح دلمانځه طريقه

سوال ۳۱ : دصلاة تسبيح په لمانځه کښي اعوذبالله او بسم الله تر (سبحان الله والحمدلله ولااله الا الله والله اکبر) مخکي بايد وويل سي او که وروسته ؟

جواب : په ترمذي شريف کي دصلاة تسبيح دلمانځه دوې طريقې نقل سوي دي . يوه طريقه داده چي ترتکبير وروسته سبحانک اللهم ووائي بيا پنځلس واره تسبيحاتي بيا اعوذبالله او بسم الله بيا الحمد لله او سورة ځه ترپايه پوري .

بله طريقه دا ده چي تر سبحانک اللهم وروسته دغه تسبيحاتي و نه وائي بلکه اعوذبالله او بسم الله به وايي او الحمد لله او سورة به وائي بيا به پنځلس واره هغه تسبيحاتي وائي او بيا به تردوهمي سجدې وروسته کښيني لس واره به دغه تسبيحاتي وائي بنه طريقه دا ده چي کله پريوه طريقه عمل وسي کله پر بله طريقه . علامه شامي رحمه الله تعالى په ردالمحتار کښي دغه خبره ليکې او نقل کړې ده .

لما قال العلامة المؤلف ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ١٢٥٢هـ) فی رد المحتار علی الدر المختار

وهي أربع بتسليمة أو تسليمتين، يقول فيها ثلثمائة مرة «سبحان الله، والحمد لله ولا إله إلا الله، والله أكبر» وفي رواية زيادة «ولا حول ولا قوة إلا بالله» يقول ذلك في كل ركعة خمسة وسبعين مرة؛ فبعد الثناء خمسة عشر، ثم بعد القراءة وفي ركوعه، والرفع منه، وكل من السجدتين، وفي الجلسة بينهما عشرا عشرا بعد تسبيح الركوع والسجود، وهذه الكيفية هي التي رواها الترمذي في جامعه عن عبد الله بن المبارك أحد أصحاب أبي حنيفة الذي شاركه في العلم والزهد والورع، وعليها اقتصر في القنية وقال إنها المختار من الروايتين. والرواية الثانية: أن يقتصر في القيام على خمسة عشر مرة بعد القراءة، والعشرة الباقية يأتي بها بعد الرفع من السجدة الثانية، واقتصر عليها في الحاوي القدسي والحلية والبحر، وحديثها أشهر، لكن قال في شرح المنية: إن الصفة التي ذكرها ابن المبارك هي التي

ذكرها في مختصر البحر، وهي الموافقة لمذهبنا لعدم الاحتياج فيها إلى جلسة الاستراحة إذ هي مكروهة عندنا. اهـ.

قلت: ولعله اختارها في القنية لهذا، لكن علمت أن ثبوت حديثها يثبتها وإن كان فيها ذلك، فالذي ينبغي فعل هذه مرة وهذه مرة.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۵۰۸ باب الوتر والنوافل مكتبه رشيديه / الحلبي الكبير ص ۴۱ جامع الترمذی ج ۱ ص ۲۲۱ /فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۲۴۵ / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۰۵ باب السنن والنوافل)

دتهجد لمونځ څو رکعته دی ؟

سوال ۳۲: دتهجد لمونځ دشریعت دنګاه څخه څو رکعته دی ؟ .

جواب :دنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه دتهجد لمونځ په مختلفو وختونو کښې مختلف رکعتونه ثابت دي چې کم ترکمه دوه رکعته او زیات تر زیات دوولس رکعتونه روایت سوي دي . ځکه چې په اکثرو وختونو کښې ده مبارک صلی الله علیه وسلم اته رکعتونه اداء کړي دي . ددې دپاره ځینو محققینو دتهجد دلمانځه اکثره تعداد اته رکعته نقل کړي دي . او سره ددې چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه تر دوولسو رکعتو پوري هم دتهجد لمونځ ثابت دی .

لماذكره الامام محمد ابن اسماعيل البخارى رحمه الله تعالى : أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ: أَنَّهُ بَاتَ عِنْدَ مَيْمُونَةَ وَهِيَ خَالَتُهُ فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ وِسَادَةٍ «وَاضْطَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلُهُ فِي طُولِهَا، فَنَامَ حَتَّى انْتَصَفَ اللَّيْلُ - أَوْ قَرِيبًا مِنْهُ - فَاسْتَيْقَظَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ، ثُمَّ قَرَأَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ آلِ عِمْرَانَ، ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقَةٍ، فَتَوَضَّأَ، فَأَحْسَنَ الوُضُوءَ، ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي» ، فَصَنَعْتُ مِثْلَهُ، فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ، «فَوَضَعَ يَدَهُ اليُمْنَى عَلَى رَأْسِي وَأَخَذَ بِأُذُنِي يَفْتِلُهَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَوْتَرَ، ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى جَاءَهُ المُؤَذِّنُ، فَقَامَ، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجَ، فَصَلَّى الصُّبْحَ.

عَنْ كُرَيْبٍ، مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، أَخْبَرَهُ: أَنَّهُ، بَاتَ لَيْلَةً عِنْدَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهِيَ خَالَتُهُ، الى ان قال فَصَنَعْتُ مِثْلَ الَّذِي صَنَعَ، ثُمَّ ذَهَبْتُ فَقَعَدْتُ إِلَى جَنْبِهِ فَوَضَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رَأْسِي، فَأَخَذَ بِأُذُنِي الْيُمْنَى يَفْتِلُهَا، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَوْتَرَ، ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى جَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ، فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ "

(الجامع البخاري ج ۱ ص ۱۳۵ ابواب الوتر باب ماجآءفي الوتر /السنن الكبرى ج ۳ ص ۷ باب عدد ركعات قيام النبي صلي الله عليه وسلم وصفتها / امدادالفتاوی ج ۱ ص ۳۰۹ نماز وتر / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۵۶۳ باب السنن والنوافل / فتاوی محموديه ج ۷ ص ۲۳۳ باب السنن والنوافل / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۱۲ / ردالمحتار ج ۱ ص ۵۰۶ / فتاوی دارالعلوم ديوبندج ۴ ص ۱۷۰)

دنفلي لمونځونو پر ځای باندي دقضايي لمونځونو ادا کول بهتره دي .

سوال ۳۳ : که چيري ديو چا پر ذمه باندي نامعلوم لمونځونه پاته وي نو دداسي سړي دپاره نفل لمونځ کول بهتره دي او که قضايي لمونځونه کول ؟ په داسي حال کښې چي دقضايي لمونځونو وخت او تعداد ورته معلوم هم نه دی .

جواب : دشريعت مطهره دنګاه څخه که څه هم نفلونه ادا کول په خپل ذات کښې دبرکت موجب او دثواب باعث دي ليکن دداسي سړي دپاره کوم چي په سوال کښې ذکر دی دنوافلو پر ځای باندي دقضايي لمونځونو ادا کول ښه او بهتره کار دی . که چيري ورته تعداد او وختونه معلوم نه وي ليکن په اجمالي او لنډه توګه به دومره ورته معلومه وي چي زما څخه ددومره زمانې لمونځونه قضا سوي دي . نو دي د هر لمانځه سره اول ديوه قضايي لمانځه قضا راوړي .

وفی الفتاوی الهندية : وَفِي الْحُجَّةِ الِاشْتِغَالُ بِالْفَوَائِتِ أَوْلَى وَأَهَمُّ مِنْ النَّوَافِلِ إلَّا السُّنَنَ الْمَعْرُوفَةَ .

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۲۵ الباب الحادی عشر في قضآءء الفوائت مسائل شتي / الفتاوی التاتارخانية ج ۱ ص ۷۷۰ کتاب الصلوة قضاء الفوائت / المبسوط ج ۱ ص ۱۵۵ باب قضاء الفوائت / فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۲۰۶ باب السنن والنوافل /فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۴۴ باب القضاء)

دصلاة تسبیح دلمانځه کولو طریقه .

سوال ۳۴ : دصلاة تسبیح دلمانځه دکولو طریقه څنګه ده ؟ .

جواب : فقهاء کرامو داحادیثو په رڼا کښې دصلاة التسبیح دلمانځه طریقه په لاندې ډول سره بیا ن کړېده : د څلورو رکعتونو نیت دې وکړي د تکبیر تحریمه یعنی (الله اکبر)او د ثناء یعنی (سبحانک اللهم) ویلو وروسته دې دغه کلماتي پنځلس (۱۵) واره ووایی: سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ. بیا دې د(اعوذ بالله او بسم الله او الحمد الله) شریفی او د سورت تر ویلو وروسته دې لاسونه همداسې پرنامه تړلي ونیسي لس(۱۰) واره دې بیا دغه تسبیحات سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ ووایي، او بیا دې رکوع ته ولاړ سي د سبحان ربی العظیم ویلو وروسته دې لس(۱۰) واره بیا دغه تسبیحات سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ په رکوع کښې ووایي، کله چې راپورته سي د سمع الله لمن حمده او د ربنالک الحمد وروسته دې بیا دغه تسبیحات سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ (۱۰) لس واره په ولاړه کښې ووایي، او بیا دې سجدې ته ولاړ سي تر سبحان ربی الاعلی وروسته دې بیا لس(۱۰) واره دغه تسبیحات سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ ووایي، او بیا دې کښېني تر الله اکبر وروسته دې په جلسه کښې بیا لس (۱۰)واره دغه تسبیحات سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ ووایي او بیا دې دوهمې سجدې ته راپورته سي تر سبحان ربی الاعلی وروسته دې لس(۱۰) واره دغه تسبیحات سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ ووایي، بیا دې دوهم رکعت ته ولاړ سي د بسم الله تر مخه دې پنځلس (۱۵) واره دغه تسبیحات ووایي، څنګه ترتیب چې ددغه تسبیحاتو د ویلو ؤ په اول رکعت کښې وو همدغه ترتیب یې په دوهم رکعت کښې دی او په دوهم رکعت کښې چې کله تر دوهمې سجدې وروسته د التحیاتې لپاره کښېنستی نو دغه تسبیحات دې هیڅ نه وایي سمدستي دې التحیاته ووایي،

پر دغه طریقه دي څلور رکعته پوره کړي دا خبره دي واضح وي چي په هر رکعت کښي پنځه او یا (۷۵) واره تسبیحات ویل کیږي او د څلورو رکعتو د درې سوه (۳۰۰) واره کیږي په دغه څلورو رکعتو کښي چي یي هر سورت خوښ وي هغه دي ووایي پروانه لري لیکن سورت عصر، سورت کوثر، سورت کافرون او سورت اخلاص ویل افضل دي.

عن أبي رافع، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم للعباس: «يا عم ألا أصلك، ألا أحبوك، ألا أنفعك» ، قال: بلى يا رسول الله، قال: " يا عم، صل أربع ركعات تقرأ في كل ركعة بفاتحة الكتاب وسورة، فإذا انقضت القراءة، فقل: الله أكبر، والحمد لله، وسبحان الله، ولا إله إلا الله، خمس عشرة مرة قبل أن تركع، ثم اركع فقلها عشرا، ثم ارفع رأسك فقلها عشرا، ثم اسجد فقلها عشرا، ثم ارفع رأسك فقلها عشرا، ثم اسجد فقلها عشرا، ثم ارفع رأسك فقلها عشرا قبل أن تقوم، فتلك خمس وسبعون في كل ركعة وهي ثلاثمائة في أربع ركعات، ولو كانت ذنوبك مثل رمل عالج غفرها الله لك "، قال: يا رسول الله، ومن يستطيع أن يقولها في يوم، قال: " إن لم تستطع أن تقولها في يوم فقلها في جمعة، فإن لم تستطع أن تقولها في جمعة فقلها في شهر، فلم يزل يقول له، حتى قال: فقلها في سنة ":

«هذا حديث غريب من حديث أبي رافع»

(سنن الترمذی، ابواب صلاة الوتر، باب ماجاء في صلاة التسبیح ج ۱ ص ۱۰۹ مکتبه شامله بیروت چاپ / ردالمحتار مطلب في صلاة التسبیح ج ۲ ص ۲۷ مکتبه شامله بیروت چاپ / الحلبي الکبیر فصل تتمات من النوافل ص ۴۳۲ سهیل اکیډمي لاهور / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۵۰ باب السنن والنوافل)

دسنتو اوفرضو په مینځ کي خبري کول څه حکم لري ؟

سوال ۳۵: دسنتو او فرضو په مینځ کي خبري کول څه حکم لري ؟

جواب: زموږ د احنافو په کتابونو کي راغلي دي چي د فرضو او سنتو تر مینځ خبري کول د سنتو ثواب کموي نو لهذا د کومو فرضو وروسته چي سنت وي د (اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت یاذالجلال والاکرام) دویلو څخه وروسته فورا باید

سنت اداسي ځکه علماء کرامو په دغه ځای کي اوږدې دعاوي هم خلاف اولی بللي دي.

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَلَوْ تَكَلَّمَ بَيْنَ السُّنَّةِ وَالْفَرْضِ لَا يُسْقِطُهَا وَلَكِنْ يَنْقُصُ ثَوَابُهَا)

وقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَلَوْ تَكَلَّمَ إلَخْ) وَكَذَا لَوْ فَصَلَ بِقِرَاءَةِ الْأَوْرَادِ لِأَنَّ السُّنَّةَ الْفَصْلُ بِقَدْرِ " اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ إلَخْ " حَتَّى لَوْ زَادَ تَقَعُ سُنَّةً لَا فِي مَحَلِّهَا الْمَسْنُونِ كَمَا مَرَّ قُبَيْلَ فَصْلِ الْجَهْرِ بِالْقِرَاءَةِ.

(قَوْلُهُ وَقِيلَ تَسْقُطُ) أَيْ فَيُعِيدُهَا لَوْ قَبْلِيَّةً، وَلَوْ كَانَتْ بَعْدِيَّةً فَالظَّاهِرُ أَنَّهَا تَكُونُ تَطَوُّعًا، وَأَنَّهُ لَا يُؤْمَرُ بِهَا عَلَى هَذَا الْقَوْلِ تَأَمَّلْ.

(الدرالمختارمع ردالمحتار ج ۲ ص ۱۹ باب الوتر والنوافل مکتبه شامله / الفتاوی التاتارخانیة ج ۱ ص ۵۵۷ / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۷۷ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۳۹۳ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۵ ص ۶۶۴ اردو)

د فرضو وروسته سنت ترڅه وخته ځنډه ولای سي؟

سوال۳۶: د فرضو وروسته په سنتو کښېني تاخیراو ځنډ په کومه اندازه مستحب دی او دکوم مقدار څخه زیات ځنډول مکروه دي؟ جواب راکړئ.

جواب: په درمختار کښېني راغلي دي چی سنت به تر (الهم انت السلام ومنک السلام الخ) اندازه ذکر څخه به ئې نه ځنډوي لیکن مطلب ددې دادی چې داتقریبي اندازه او امردی که تر اللهم انت السلام الخ څخه زیات څه دعاو غیره وویل سي هم هیڅ حرج نسته او صحیح داده چی داورادو په خاطر که څه فصل راسی څه حرج نه لري

وَيُكْرَهُ تَأْخِيرُ السُّنَّةِ إلَّا بِقَدْرِ اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ إلَخْ. قَالَ الْحَلْوَانِيُّ: لَا بَأْسَ بِالْفَصْلِ بِالْأَوْرَادِ وَاخْتَارَهُ الْكَمَالُ

(ردالمحتارج ۱ ص ۳۹۰ باب مایفسدالصلاةومایکره فیها مکتبه حبیبیه/صحیح المسلم ج ۱ ص ۲۱۸ قدیمي چاپ/فتاوی محمودیه ج ۵ ص ۶۶۳ /فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۱۷۴ /فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۵۷)

سنت په کور کښې کول افضل دي که په مسجد کښې؟

سوال ۳۷: سنت لمونځ په کور کښې کول افضل دي او که په مسجد کښې ئې کول افضل دي؟ جواب راکړئ.

جواب: په سنت او نفلي لمونځونو کښې سنت طریقه داده چې په کور کښې ادا سي که دلمانځه څخه مخکښې سنت وي او که د لمانځه ځخه وروسته سنت وي لیکن که د فرضو وروسته وکور ته دتللو په لاره کښې یاپه کور کښې دڅه حرج او دنیاوي خبرو دمشغولیت خطره وي نو بیادي په مسجد کښې وکړي ځکه چې همداسي ثابت دي چې هرځای خشوع او خضوع زیاته وي هلته دي ئې وکړي.

لما قال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار على الدرالمختار: وَالْأَفْضَلُ فِي النَّفْلِ غَيْرِ التَّرَاوِيحِ الْمَنْزِلُ إلَّا لِخَوْفِ شَغْلٍ عَنْهَا وَالْأَصَحُّ أَفْضَلِيَّةُ مَا كَانَ أَخْشَعَ وَأَخْلَصَ

(ردالمحتارج ۱ ص ۵۰۴ باب الوتر والنوافل مکتبه حبیبیه/فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۱۱۳ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/ستاسو مسائل اودهغوی حل ج ۳ ص ۶۰۰ /فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۵۴)

دسهار سنت ترڅه وخته کولای سي؟

سوال ۳۸: دسهار سنت ترڅه وخته کول پکار دي؟ چې یو رکعت د فرضو پاته وي او که ترهغه کم؟

جواب: هر وخت چې د سهار جماعت ودرېدی او ته راغلې مسجد ته که دي دیوه رکعت د نیولو امید وو نو دسهار سنت وکړه جلا بیاپه جماعت کښې شریک سه او که دي دیوه رکعت د نیولو امید نه وو نو بیائې پرېږده وروسته تر لمرختو ئې بیا وکړه په غیرمکروه وقت کښې

لما قال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار على الدرالمختار: وَإِذَا خَافَ فَوْتَ رَكْعَتَيْ الْفَجْرِ لِاشْتِغَالِهِ بِسُنَّتِهَا تَرَكَهَا لِكَوْنِ الْجَمَاعَةِ أَكْمَلَ وَإِلَّا بِأَنْ رَجَا إدْرَاكَ رَكْعَةٍ لَا يَتْرُكُهَا بَلْ يُصَلِّيهَا عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ إنْ وَجَدَ مَكَانًا

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۲۹ باب ادراک الفریضة مکتبه حبیبیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۱۲۹ باب ادراک الفریضة مکتبه رشیدیه/الهدایة ج ۱ ص ۱۳۵ باب ادراک الفریضة مکتبه رحمانیه/فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۸۷ /فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۵۴)

دوتر و وروسته دوه رکعته نفل په ناسته بایدوسي که په ولاړه ؟

سوال ۳۹: د وترو وروسته دوه رکعته نفل په ناسته کول افضل دي که په ولاړه کول او په ناسته کولو کښی ئې هم دومره ثواب سته لکه په ولاړه کښي که نسته او که نیم ثواب دی؟ جواب راکړئ.

جواب: په ناسته نفل کولو کښی نیم ثواب دی او دغه حکم عموما او مطلقًا دی او نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددغه حکم څخه مستثنی او جلادی هغه ته الله پاک په ناسته کولو سره هم پوره ثواب ورکوي لهذا تر وترو وروسته دوه رکعته نفل په ناسته کول هم ئې ثواب نیم دی په مذکوره قاعدې سره البته بعضی علماء فرمايي چي دوترو وروسته دوه رکعته نفل په ناسته کول مستحب دي لکه چی دغه خبره قاضی ثناء الله پاني پتي (رح) هم اختیاره کړې ده ځکه چي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه داسي ثابت دي حضرت مولانا مفتي رشید احمد گنگوهي دغه نفل چي خلک ئې په ناسته کوي وايي چي نیم ثواب په کښې دی او راجح هم دغه خبره معلومیږي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار: قَوْلُهُ أَجْرُ غَيْرِ النَّبِيِّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –) أَمَّا النَّبِيُّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – فَمِنْ خَصَائِصِهِ أَنَّ نَافِلَتَهُ قَاعِدًا مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْقِيَامِ كَنَافِلَتِهِ قَائِمًا؛ فَفِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ «عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قُلْت: حُدِّثْت يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَّك قُلْت...... بَحْرٌ مُلَخَّصًا: أَيْ لِأَنَّهُ تَشْرِيعٌ لِبَيَانِ الْجَوَازِ؛ وَهُوَ وَاجِبٌ عَلَيْهِ. (قَوْلُهُ عَلَى النِّصْفِ إلَّا بِعُذْرٍ) أَمَّا مَعَ الْعُذْرِ فَلَا يَنْقُصُ ثَوَابُهُ عَنْ ثَوَابِهِ قَائِمًا....... وَيُؤَيِّدُهُ حَدِيثُ الْبُخَارِيِّ «مَنْ صَلَّى قَائِمًا فَهُوَ أَفْضَلُ، وَمَنْ صَلَّى قَاعِدًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ، وَمَنْ صَلَّى نَائِمًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَاعِدِ» فَإِنَّ الْعُمُومَ " مَنْ " يَدْخُلُ فِيهِ الْعَاجِزُ، وَلِأَنَّ الصَّلَاةَ نَائِمًا لَا تَصِحُّ عِنْدَنَا بِلَا عُذْرٍ

ردالمحتار ج ۱ ص ۵۱۵ باب الوتر والنوافل مکتبه حبیبیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۱۱۰ باب الوتروالنوافل مکتبه رشیدیه/فبیین الحقائق ج ۱ ص ۴۳۷ باب الوتروالنوافل دارالکتب العلمية بیروت/فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۲۳ باب السنن والنوافل/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۶۲)

په شب قدر او شب برات او نورو بزرګوشپو کښي نفل په جماعت کول

سوال ۴۰: د شب قدر په شپه یا د پنځلسي په شپه یا د شب معراج په شپه په مسجدانو کښي جمع کېدل نوافل په جماعت سره کول او نور وظایف ویل شرعًا څنګه دي؟ روا یښت لري که یا؟

جواب: دغه شپې عند الله د برکت شپې دي په دغه شپو کښي چي څومره عبادت وکول سي زیات باعث د اجر دی. لیکن نفلونه په جماعت سره نه دي کول په کار ځکه چي نفل په جماعت سره پر طریقه د بلني او تداعي بدعت او مکروه کار دی بلکه انفرادي او یوازي دي هر یو د خپل طرف څخه د قرآن مجید تلاوت نفلونه وغیره وکړي د خاص اجتماع او یو ځای کېدو ضرورت نسته

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :قوله (وَالْجَمَاعَةُ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ لِلرِّجَالِ) قَالَ الزَّاهِدِي: أَرَادُوا بِالتَّأْكِيدِ الْوُجُوبَ إلَّا فِي جُمُعَةٍ وَعِيدٍ فَشَرْطٌ. وَفِي التَّرَاوِيحِ سُنَّةُ كِفَايَةٍ، وَفِي وِتْرِ رَمَضَانَ مُسْتَحَبَّةٌ عَلَى قَوْلٍ. وَفِي وِتْرِ غَيْرِهِ وَتَطَوُّعٍ عَلَى سَبِيلِ التَّدَاعِي مَكْرُوهَةٌ...... قَوْلُهُ عَلَى سَبِيلِ التَّدَاعِي) بِأَنْ يَقْتَدِيَ أَرْبَعَةٌ فَأَكْثَرُ بِوَاحِدٍ...... قَوْلُهُ وَيُكْرَهُ) أَيْ تَحْرِيمًا لِقَوْلِ الْكَافِي لَا يَجُوزُ وَالْمَجْمَعُ لَا يُبَاحُ وَشَرْحُ الْجَامِعِ الصَّغِيرِ إنَّهُ بِدْعَةٌ كَمَا فِي رِسَالَةِ السِّنْدِيِّ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۲۴ باب الامامة مکتبه حبیبیه/غنیةالمستملي ص ۴۱۱ فصل في تتمات من النوافل سهیل اکېډمي/فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۶۳/فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۴۲ باب السنن والنوافل/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۶۷)

د سهار سنت که پاته سي بیابه ئې کله کوي؟

سوال ۴۱: که دیو چا څخه د سهار دوه رکعته سنت په فرضو کښي د شمولیت د وجي پاته سي نو هغه به کله کوي ایا د سهار د سنتو قضاء سته او که یا؟

جواب: په درمختار کښي راغلي دي چي د سهار د سنتو قضا نسته مګر چي د فرضو سره يو ځای قضا سي په داسي صورت کښي به ئې ترزوال مخکي قضا راوړي او که يوازي سنت پاته سي نو د دې قضاء نسته البته امام محمد صاحب فرمايي چي ترلمر ختو وروسته او ترزوال مخکي دي قضاء راوړي

لما فى الدرالمختار مع ردالمحتار : (قوله ولا يقضيها إلا بطريق التبعية إلخ) أي لا يقضي سنة الفجر إلا إذا فاتت مع الفجر فيقضيها تبعا لقضائه لو قبل الزوال؛ وما إذا فاتت وحدها فلا تقضى قبل طلوع الشمس بالإجماع، لكراهة النفل بعد الصبح. وأما بعد طلوع الشمس فكذلك عندهما. وقال محمد: أحب إلي أن يقضيها إلى الزوال كما في الدرر.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۳۰ باب ادراک الفریضة مکتبه حبیبیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۱۳۱ باب ادراک الفریضة مکتبه رشدیدیه/الهدایة ج ۱ ص ۱۳۶ باب ادراک الفریضة مکتبه رحمانیه/فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۱۹۵ باب السنن والنوافل/فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۸۸/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۵۱)

که چا د څلورو رکعتو سنتونيت مات کړی بيا به څور کعته کوي؟

سوال ۴۲: يو چا د ماپښين د لمانځه د څلورو رکعتو سنت موکدة نيت وتړی او دوه رکعته ئې کړي چي جماعت ودرېدی ده سلام وګرځوی او س پوښتنه دا ده چي پر دغه کس دپاته دوو رکعتو قضاء سته او که به پوره څلور رکعته کوي ؟

جواب: پر دغه کس څلور رکعته سنت کول لازم دي شرعًا هغه مخکني دوه رکعته ئې په نفلو کښي دريږي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَسُنَّ) مُؤَكَّدًا (أَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ وَ) أَرْبَعٌ قَبْلَ (الْجُمُعَةِ وَ) أَرْبَعٌ (بَعْدَهَا بِتَسْلِيمَةٍ) فَلَوْ بِتَسْلِيمَتَيْنِ لَمْ تَنُبْ عَنْ السُّنَّةِ، وَلِذَا لَوْ نَذَرَهَا لَا يَخْرُجُ عَنْهُ بِتَسْلِيمَتَيْنِ،ولوافسدهاقضي أربعا

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۹۷ باب الوتر والنوافل مکتبه حبیبیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۱۲۵ باب ادراک الفریضة مکتبه رشیدیه/حاشیةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۴۵۱ باب ادراک الفریضة مکتبه رشیدیه/فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۱۹۸ باب السنن والنوافل/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۴۹)

د سنتو او فرضو تر مېنځ خبرې کول څنګه دي؟

سوال ۴۳: که یو کس د سنتو او فرضو ترمابینځ خبري وکړي نو هغه کړي سنت به بیرته راګرځوي شرعًا که یا؟ جواب راکړئ

جواب: د سنتو او فرضو تر مابینځ باید د دنیا خبري ونه سي ځکه چي په دې سره د کړو سنتو ثواب کمیږي لیکن د سنتو د راګرځولو ضرورت نسته البته په دغه مسئله کښې اختلاف سته د فقهاؤو

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَلَوْ تَكَلَّمَ بَيْنَ السُّنَّةِ وَالْفَرْضِ لَا يُسْقِطُهَا وَلَكِنْ يَنْقُصُ ثَوَابُهُ وَقِيلَ تَسْقُطُ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۱ ص ۵۰۳ باب الوتروالنوافل مكتبه حبيبيه/حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۱۱ باب ادراک الفريضة مكتبه رشيديه/خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۶۲ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/ غنية المستملي ص ۳۳۱ سهيل اكيډمي/خيرالفتاوى ج ۲ ص ۴۷۳ /فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۱۴۹)

قنوت نازله د جمعې په لمانځه کښې ويل رواه دي که يا؟

سوال ۴۴: قنوت نازله یعني د الله د دین د ښمنانو ته په لمانځه کښې ښرا کول او د مسلمانانو د نصرت او فتحې دعاء کول دغه قنوت نازله د جمعې په لمانځه کښې ویل رواه دي که یا؟

جواب: دغه مسئله د احنافو په نزد اختلافي ده د ځینو روایاتو پربناء چي قنوت نازله په ټولو جهري لمونځونو کښې ویل جائز دي لهذا د جمعې په لمانځه کښې ویل هم صحیح دي لیکن احوط او د اکابرو معمول داوو چي صرف د سهار په لمانځه کښې به ئې وایه

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَلَا يَقْنُتُ لِغَيْرِهِ) إلَّا النَّازِلَةَ فَيَقْنُتُ الْإِمَامُ فِي الْجَهْرِيَّةِ، وَقِيلَ فِي الْكُلِّ.... وَهُوَ صَرِيحٌ فِي أَنَّ قُنُوتَ النَّازِلَةِ عِنْدَنَا مُخْتَصٌّ بِصَلَاةِ الْفَجْرِ دُونَ غَيْرِهَا مِنْ الصَّلَوَاتِ الْجَهْرِيَّةِ أَوْ السِّرِّيَّةِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۹۲ باب الوتروالنوافل مكتبه حبيبيه/حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۷۷ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۱۱ كتاب الصلاة مكتبه

رشیدیه/اعلاءالسنن ج ۶ ص ۱۱۵ بیروت چاپ/فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۳۹۰/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۴۴)

د صلاة تسبح په قومه کښي دي لاسونه ایله پریږدي

سوال۴۵: د صلاة تسبیح په قومه کښي یعني تر سمع الله لمن حمده وروسته چي کله لمونځ کوونکی هغه تسبیحاتي وایي لاسونه ایله پریږدي او که ئې وتړي پرنامه باندي؟ جواب راکړئ.

جواب: پردغه برابر د علماؤو او فقهاؤو عمل پردغه طریقه راغلی دی چي لاسونه به ئې خلاص وي او ایله به وي د لمونځ کوونکي

(وفي الدر) فَالْحَاصِلُ أَنَّ كُلَّ قِيَامٍ فِيهِ ذِكْرٌ مَسْنُونٌ فَفِيهِ الْوَضْعُ وَكُلَّ قِيَامٍ لَيْسَ كَذَلِكَ فَفِيهِ الْإِرْسَالُ (وقال العلامةالشيخ احمدالطحاوي) ويسن وضع الرجل يده اليمنى" كما فرع من التكبير للإحرام بلا إرسال ويضع في كل قيام من الصلاة ولو حكما فدخل القاعد ولا بد في ذلك القيام أن يكون فيه ذكر مسنون وما لا فلا كما في السراج وغيره وقال محمد لا يضع حتى يشرع في القراءة فهو عندهما سنة قيام فيه ذكر مشروع وعنده سنة للقراءة فيرسل عنده حالة الثناء والقنوت وفي صلاة الجنازة وعندهما يعتمد في الكل وأجمعوا أنه يرسل في القومية من الركوع والسجود وبين تكبيرات العيدين لعدم الذكر والقراءة في هذه المواضع .

(حاشيةالطحطاوی علي مراقي الفلاح ص ۲۵۸ فصل في بيان سننها مکتبه رشيديه/دررالحکام شرح غررالاحکام ج ۱ ص ۶۷ باب صفةالصلاة بيروت چاپ مکتبه شامله/مشکاةالمصابيح ج ۱ ص ۱۱۷ قديمي چاپ/فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۵۶۵ باب السنن والنوافل/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۲۴۶)

ترصبح صادق اولمرختو تر مابینځ نفل کول

سوال۴۶: دصبح صادق څخه نیولې بیا ترلمرختلو پوري په دغه مابینځ کښي نفل کول روا ایښت لري که یا؟

جواب: دصبح صادق څخه نیولې بیا تر لمرختلو پوري په دغه مابینځ کي هرقسم نفل کول مکروه او منع دي تلاوت ذکراذکار او تسبیحات باید وویل سي دلمر

ترراختلو ورسته چي لمر ښه یوه نېزه راپورته سي او تېزوالی ونیسي چي تقریباً یو پاؤ وخت نیسي د نفلو نو اجازه سته مخکي نسته البته د صبح صادق او لمر ختو ترمابین قضایي لمنځونه راګرځول روا دي:

ومِنْهَا مَا بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ....... وَمِنْهَا مَا بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۵۲؛ ۵۳ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/الهدایة ج ۱ ص ۸۲ فصل في الاقات التي تکره فیها الصلاة مکتبه رحمانیه/حاشیةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۱۸۸ مکتبه رشیدیه/تبیین الحقائق ج ۱ ص ۱۹ دارالکتب العلمیة بیروت/غنیةالمستملي ص ۲۳۷ سهیل اکیډمي/فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۶۱۳)

فصل في التراويح

تراویح د سرسایې او زکوة په بدله کښې ورکول.

سوال ۱ : په بعضي علاقو کښې ترتیب د امامت داسي راروان دی، چي امام تراویح ورکوي او مقتدیان په اجرت او تنخواه کښې سرسایه یا زکوة ورکوي پر دغه طریقه باندي امامت کول د شریعت د نګاه څخه څه حکم لري؟

جواب : عشر او سرسایه د امامت په اجرت کښې مقررول او ورکول جائز نه ده. د امامت تنخواه جلا مقررول پکار ده. هر کله چي تنخواه ورته مقرره سوه بیا نو که چیري دغه امام مسکین وي نو وده ته زکوة او سرسایه ورکول هم روا ده. خو د دې زکوة او سرسایې د امامت سره هیڅ تعلق نسته او نه هم دا د تنخوا جز بلل کیږي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (هُوَ فَقِيرٌ، وَهُوَ مَنْ لَهُ أَدْنَى شَيْءٍ) أَيْ دُونَ نِصَابٍ أَوْ قَدْرُ نِصَابٍ غَيْرِ نَامٍ مُسْتَغْرِقٍ فِي الْحَاجَةِ (وَمِسْكِينٌ مَنْ لَا شَيْءَ لَهُ) عَلَى الْمَذْهَبِ، – لِقَوْلِهِ تَعَالَى {أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ} البلد: ۱۷).

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۳۹ طبع سعید چاپ کراچي / فتاوی عثماني ج ۲ ص ۱۴۰ باب الزکوة)

تيزي او چابکي تراويح ورکول.

سوال ۲: داسي تيزي تراويح کول چي ځوک يې په رکع او سجده پسې نه سي رسېدلای شرعا څنګه دي؟

جواب: دا مسئله په حقيقت کښې ډېر د تعجب او ډېر د افسوس وړ ده چي د لمونځ غوندي اهم عبادت سره داسي بې پروايې او لاوبالي تر سره کيږي. لمونځ څه معنی يعني د الله جل جلاله سره ملاقات کول نو ملاقات داسي په ترپ و تروپ سره يو ځوک د خپل حقيقي ربه سره کوي؟ دا تيزي او چابکي تراويح چي نه يې رکوع او نه يې هم سجده نيول کيږي دا په حقيقت کښې په لمانځه او عبادت الهي باندي ټوقي او پسخند وهل دي په داسي امام پسې لمونځ مکروه تحريمي عمل دی، ځکه چي تعديل دارکانو واجب دی، او ترک د واجب حرام دی، او کوم لمونځ چي دارکانو د تعديل څخه بغير اداء سي د هغه بيرته راګرځول واجب دي. د محلې خلګ مکلفه دي چي داسي امام بر طرفه کړي پر ځای يې بل داسي امام مقرر کړي چي د لمانځه د واجباتو او مستحباتو بلکي خلاصه دا چي د هر څه خيال يې ساتي. والله اعلم.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار: (وَلَهَا وَاجِبَاتٌ) لَا تَفْسُدُ بِتَرْكِهَا وَتُعَادُ وُجُوبًا فِي الْعَمْدِ وَالسَّهْوِ إنْ لَمْ يَسْجُدْ لَهُ، وَإِنْ لَمْ يُعِدْهَا يَكُونُ فَاسِقًا

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۵۶ / ۴۶۴ مطلب في واجبات الصلوة / کبيري ص ۲۹۴ باب صفة الصلوة / البحر الرائق ج ۱ ص ۲۹۹ باب صفة الصلوة / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۲۴۱ باب واجبات الصلوة)

مسافر وم تراويح مي ونه کړې ګناهګاره يم که يا؟

سوال ۳: که چيري يو کس مسافر وي او د سفر د مشقت او بې قرارۍ د وجي څخه تراويح و نه کړي نو شرعا ګناهګاره دی که يا؟

جواب: د سفر په حالت کښې فقهاوو د سنتونو په هکله داسي فرمايلي دي: که چيري د سنتو د اداء کولو د پاره موقع او طاقت ووا و حالت د قرار اوو نو دي اداء کړل سي او که چيري موقع او د قرار حالت نه وو ستوماني او ستړيا او زغستا وه نو د اداء

کولو ضرورت یې نسته لهذا دغه شخص شرعا ګناهګاره نه دی. البته که چا دسستۍ او دکاهلۍ دوجې څخه تراویح پرېښوولې نو شرعا قابل دملامتۍ دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار:

(وَيَأْتِي) الْمُسَافِرُ (بِالسُّنَنِ) إنْ كَانَ (فِي حَالَ أَمْنٍ وَقَرَارٍ وَإِلَّا) بِأَنْ كَانَ فِي خَوْفٍ وَفِرَارٍ (لَا) يَأْتِي بِهَا هُوَ الْمُخْتَارُ لِأَنَّهُ تَرْكٌ لِعُذْرٍ تَجْنِيسٌ.

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۱۲۱ باب صلوة المسافر / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۹۲ فصل الکلام في صلوة المسافر / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۳۹ الباب الخامس عشر في صلوة المسافر / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۸۷ باب صلوة المسافر)

دماخوستن جماعت تېر سوی دی تراویح شروع وې زه راغلم

سوال ۴: یو کس داسې وخت مسجد ته راغی چې د ماخوستن جماعت تېر سوی ؤ تراویح شروع دي دی هم په تراویح کې شریک سو تروایح ختمې سوې د ماخوستن لمونځ یې تر تراویح وروسته وکړی آیا تراویح یې صحیح دي؟

جواب: کوم کس چې داسې وخت راغې چې تراویح شروع وې نو لازمه ده چې اول وارد ماخوستن لمونځ وکړي بیا دوه رکعته سنت مؤکد وکړي بیا په تراویحو کې شریک سي د دغه نفر د ماخوستن لمونځ صحیح دی لیکن تراویح یې نه دي صحیح ځکه چې تراویح د ماخوستن د لمانځه تابع دي د دې مثال داسې دی لکه دلمانځه وروسته سنت چې تر لمانځه مخکې وسي مګر د تراویح قضاء سته هم نه.

لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى فى الدرالمختار: (ووقتها بعد صلاة العشاء) إلى الفجر (قبل الوتر وبعده) في الأصح، فلو فاته بعضها وقام الإمام إلى الوتر أوتر معه ثم صلى ما فاته.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۲۰ باب الوتر والنوافل مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۱۱۵ رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۶۴۴ / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۶۴ باب التراویح)

تراویح سنت دنبي کریم صلي الله علیه وسلم دي او که د خلفاء راشدینو؟

سوال ۵: تراویح دنبي کریم صلی الله علیه وسلم سنت دي او که د حضرت عمر رضي الله تعالی عنه ایجاد سوې طریقه ده؟

جواب: د تراویح لمونځ د نبي صلی الله علیه وسلم سنت هم دی او د خلفاء راشدینو سنت هم دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار (التَّرَاوِيحُ سُنَّةٌ) مُؤَكَّدَةٌ لِمُوَاظَبَةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ(قال الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار) التراويح سنة مؤكدة، ولم يتخرجه عمر من تلقاء نفسه، ولم يكن فيه مبتدعا؛ ولم يأمر به إلا عن أصل لديه وعهد من رسول الله – صلى الله عليه وسلم............... قَوْلُهُ لِمُوَاظَبَةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ) أَيْ أَكْثَرِهِمْ لِأَنَّ الْمُوَاظَبَةَ عَلَيْهَا وَقَعَتْ فِي أَثْنَاءِ خِلَافَةِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَوَافَقَهُ عَلَى ذَلِكَ عَامَّةُ الصَّحَابَةِ وَمَنْ بَعْدَهُمْ إلَى يَوْمِنَا هَذَا بِلَا نَكِيرٍ، وَكَيْفَ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۲۰ باب الوتروالنوافل مكتبه حبيبيه/محيط البرهاني ج ۲ ص ۵ كتاب الصلاة مكتبه غفاريه/فتاوى ملاعلي قاري ج ۱ ص ۳۴۶ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوى فريديه ج ۲ ص ۵۶۵ باب التراويح/فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۵۷۰ باب التراويح/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۲۱۵)

د تراویح رکعتونه شل دي که اته دي؟

سوال ۶: د تراویح د لمانځه شمېر او عدد د رکعتو څو دی، ځني کسان وايي چي د تراویح لمونځ اته رکعته دی، ایا دا خبره درسته ده که یا؟

جواب: د تراویح د لمانځه د رکعتو شمېر او تعداد شل رکعته دی او څلور سره مذهبه پر دغه شلو رکعتو باندي په پابندی سره عمل کوي او دغه شل رکعته معمول د خیرالقرون څخه راروان دی، داته رکعتو خبره نه ده صحیح

أَحَادِيثُ الْعِشْرِينَ رَكْعَةً: رَوَى ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ فِي "مُصَنَّفِهِ". وَالطَّبَرَانِيُّ فِي "معجمه"، وعنه البيقي مِنْ حَدِيثِ إبْرَاهِيمَ بْنِ عُثْمَانَ أَبِي شَيْبَةَ عَنْ الْحَكَمِ عَنْ مِقْسَمٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي فِي رَمَضَانَ عِشْرِينَ رَكْعَةً، سِوَى الْوِتْرِ، انْتَهَى(نصب الراية)

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَهِيَ عِشْرُونَ رَكْعَةً) هُوَ قَوْلُ الْجُمْهُورِ وَعَلَيْهِ عَمَلُ النَّاسِ شَرْقًا وَغَرْبًا

(ردالمحتار ج ۲ ص ۴۵ باب الوتر والنوافل سعید چاپ/نصب الراية لاحاديث الهداية ج ۲ ص ۱۵۳ فصل في قيام شهر رمضان مکتبه حقانیه پښور/المحیط البرهاني ج ۲ ص ۵ کتاب الصلاة مکتبه غفاریه/فتاوی ملاعلي قاري ج ۱ ص ۳۴۵ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۲۵۵ باب التراويح/فتاوی فریدیه ج ۲ ص ۵۸۲ باب التراويح/فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۷۱ باب التراويح/فتاوی دارالعلوم زکریا ج ۲ ص ۴۳۶ باب التراويح/ستاسومسائل اودهغوی حل ج ۴ ص ۱۶۵ /فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۱۸۴)

په تراويح کښي مکمل قران کريم ويل افضل دي؟

سوال ۷: په تراويح کښي پوره قران کريم ختم کول افضل دی او که د الم تر کيف څخه نيولې تر پايه پوري دغه سورت ويل افضل دي؟ جواب راکړئ

جواب: په درمختار کښي راغلي دي چي يو وار ختم د قرآن کريم په تراويح کښي سنت دی او د خلګو دسستۍ په وجې دي دانه پريږدي او د بزرګانو او ددين د علماؤو او فقهاؤو عمل هم پردغه راروان دی چي دوی به په تراويح کښي د قرآن کريم ختم کاوی

(وَالْخَتْمُ) مَرَّةً سُنَّةٌ وَمَرَّتَيْنِ فَضِيلَةٌ وَثَلَاثًا أَفْضَلُ. (وَلَا يُتْرَكُ) الْخَتْمُ (لِكَسَلِ الْقَوْمِ ....(قَوْلُهُ وَالْخَتْمُ مَرَّةً سُنَّةٌ) أَيْ قِرَاءَةُ الْخَتْمِ فِي صَلَاةِ التَّرَاوِيحِ سُنَّةٌ وَصَحَّحَهُ فِي الْخَانِيَّةِ وَغَيْرِهَا، وَعَزَاهُ فِي الْهِدَايَةِ إلَى أَكْثَرِ الْمَشَايِخِ. وَفِي الْكَافِي إلَى الْجُمْهُورِ، وَفِي الْبُرْهَانِ: وَهُوَ الْمَرْوِيُّ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ وَالْمَنْقُولُ فِي الْآثَارِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۲۲ باب الوتروالنوافل مکتبه حبيبيه/فتاوی عالمګيريه ج ۱ ص ۱۱۷ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/فتاوی ملاعلي قاري ج ۱ ص ۳۴۷ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/محیط البرهاني ج ۲ ص ۹ کتاب الصلاة مکتبه غفاریه/فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۷۷ باب التراويح/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۲۲۱)

په نابآلغه حافظ پسي تراويح کول صحيح دي؟

سوال ۸: که په تراويح کښي امام نابالغه وي ايا د بالغينو او نابالغينو اقتداء پسي صحيح ده که يا؟

جواب: په نابالغه امام پسي په تراويح کولو کښي د علماؤو او فقهاؤو اختلاف دی، ليکن اصح دا دی چي د نابلغه هلک امامت وبالغه مقتديانو ته نه دی صحيح بلکي منع دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَلَا يَصِحُّ اقْتِدَاءُ رَجُلٍ بِامْرَأَةٍوَخُنْثَى (وَصَبِيٍّ مُطْلَقًا) وَلَوْ فِي جِنَازَةٍوَنَفْلٍ عَلَى الْأَصَحِّ

ولما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا ....

(الدرالمختارمع ردالمحتار ج ۱ ص ۴۲۷ باب الامامة مكتبه حبيبيه/غنيةالمستملي ص ۳۹۰ فصل في النوافل والتراويح سهيل اکېډمي/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۸۵ باب الامامة مكتبه رشيديه/البحرالرائق ج ۱ ص ۶۲۸ باب الامامة مكتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۱۹۱ /فتاوى محموديه ج ۷ ص ۲۷۶ باب التراويح/فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۴۶۵ باب التراويح)

باب ادراک الفريضة

څومره اندازه رکوع چي د امام سره ونيسم نو مي رکعت نيولي دی ؟

سوال ۱ : که چيري امام رکوع ته ولاړ سي زه وروسته پسې راسم او د امام سره په رکوع کي شريک سم خو دومره اندازه قرار مي نه دی نيولی چي يوه تسبيح په کښې وويل سي بلکي تر تسبيح کم وخت مي د امام سره ونيوی، ايا په داسي لړ شرکت سره هم زه د دغه رکعت نيوونکی شمېرل کېږم که يا ؟

جواب : داسي مقتدی هم د دغه رکعت نيونکی او موندونکی شمېرل کيږي که څه هم دغه د نيولو وخت يې ديوې تسبيح تر اندازې کم وي دا ځکه چي فقهاء کرامو په دغه مسئله کي د تسبيح مقدار نه دی متعين کړی. د دغي مسئلې ثبوت په طحطاوي چي شرح د مراقی الفلاح او فتاوی عالمگيري کي په صراحت سره ذکر ده هلته يې کتلای سی. د نورو فتاوو د تاييد سره سره.

لما قال العلامة أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي – توفي ١٢٣١ھ فی حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح : والحاصل أنه إذا وصل إلى حد الركوع قبل أن يخرج الإمام من حد الركوع فقد أدرك معه الركعة وإلا فلا .

ولماذکر فی الفتاوی الهندية : ذَكَرَ الْجَلَّابِيُّ فِي صَلَاتِهِ أَدْرَكَ الْإِمَامَ فِي الرُّكُوعِ فَكَبَّرَ قَائِمًا ثُمَّ شَرَعَ فِي الِانْحِطَاطِ وَشَرَعَ الْإِمَامُ فِي الرَّفْعِ الْأَصَحُّ أَنْ يُعْتَدَّ بِهَا إذَا وُجِدَتْ الْمُشَارَكَةُ قَبْلَ أَنْ يَسْتَقِيمَ قَائِمًا وَإِنْ قَلَّ، هَكَذَا فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ .

(حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ج ۱ ص ۴۵۵ باب ادارا ک الفريضة مکتبه شامله بيرت چاپ / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۲۰ الباب العاشر في ادارا ک الفريضة /البحر الرائق ج ۴ ص ۱۳۶ مکتبه رشيديه باب ادرا ک الفريضة / فتاوی محمودية ج ۲۲ ص ۱۰۴ باب المسبوق واللاحق والمدرک / کتاب الفتاوی ج ۲ ص ۲۹۲ اردو)

تکبیر تحریمه یې وویل فوراً رکوع ته ولاړی ددغه رکعت حکم څه دی؟

سوال: ۲ یو شخص په داسي حالت کښي په امام پسي اقتدا وکړل چي امام په رکوع کښي وو دغه کس نیت وتړی اولاسونه یې غوږوته پورته کړل فوراً رکوع ته کښته سو نه یې لاسونه پرنامه ونیول اونه هم ودرېدی اوس پوښتنه داده چي ددغه کس لمونځ صحیح سو که یا؟

جواب: که چیري یې تکبیر تحریمه (اول الله اکبر)په ولاړي کښي وو ایه بیا رکوع ته کښته سو نو دده شرکت په لمانځه کښي معتبر دی که څه هم یې لاسونه پرنامه نه دي نیولي ځکه چي قیام(ولاړه)پرلاسو نیولو باندي نه ده موقوفه او که یې تکبیر تحریمه د کښته کېدو په حالت کښي وویل نو دده شرکت په لمانځه کښي معتبرنه دی ځکه چي قیام(ولاړه) په لمانځه کښي شرط ده

و فی الفتاوی الهندية :أَدْرَكَ الْإِمَامَ فِي الرُّكُوعِ فَكَبَّرَ قَائِمًا ثُمَّ شَرَعَ فِي الِانْحِطَاطِ وَشَرَعَ الْإِمَامُ فِي الرَّفْعِ الْأَصَحُّ أَنْ يُعْتَدَّ بِهَا إذَا وُجِدَتْ الْمُشَارَكَةُ قَبْلَ أَنْ يَسْتَقِيمَ قَائِمًا وَإِنْ قَلَّ، هَكَذَا فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ.

(الفتاوی الهندية :ج ۱ ص ۶۹ باب ادراک الفریضة رشیدیه/البنایة شرح الهدایة ج ۲ ص ۵۷۹ باب ادراک الفریضة بېروت /حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۴۵۵ باب ادراک الفریضة رشیدیه/التاتارخانية ج ۲ ص ۵۳ باب ادراک الفریضة مکتبه فاروقیه/حاشية الشلبي علي هامش التبيين الحقائق ج ۱ ص ۴۵۷ باب ادراک الفریضة دارالکتب العلمية بېروت /فتاوی محمودیه ج ۲۲ ص ۱۰۵ باب ادراک الفریضة)

که څوک دماپښین پر سنتو ولاړوي اوجماعت ودرېږي .

سوال ۳ : که یو څوک د ماپښین د لمانځه پر سنتو ولاړ وي او بیا جماعت و درېږي آیا دا سنت پورا کړي او که په جماعت سره شریک سي؟

جواب: دغه سنت کو ونکی دي خپل سنت پورا کړي لیکن په تخفیف سره یعني کوچني سورتونه دي وو ایي او رکوع وسجده دي هم ډېره نه اوږدوي وروسته دي دامام سره په جماعت کي شریک سي .

وفی الدرالمختار : (وَكَذَا سُنَّةُ الظُّهْرِ و) سُنَّةُ (الْجُمُعَةِ إذَا أُقِيمَتْ أَوْ خَطَبَ الْإِمَامُ) يُتِمُّهَا أَرْبَعًا (عَلَى) الْقَوْلِ (الرَّاجِحِ) لِأَنَّهَا صَلَاةٌ وَاحِدَةٌ، وَلَيْسَ الْقَطْعُ لِلْإِكْمَالِ بَلْ لِلْإِبْطَالِ خِلَافًا لِمَا رَجَّحَهُ الْكَمَالُ

(الدرالمختار علي ردالمحتار ج ۲ ص ۵۳ سعید / البحرالرائق ج ۲ ص ۱۲۵ / کفایت المفتي ج ۳ ص ۳۲۱ / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۱۹۳ باب السنن والنوافل)

دماپښین سنت چي پاته سي نو بیا تر فرضو وروسته دوه رکعته مخکي دي که څلور ؟

سوال ۴ : که دیو کس څخه دماپښین څلور رکعته سنت پاته سي او بیا دی غواړي چي تر فرضو وروسته یې اداء کړي نو اول به دوه رکعته لمونځ سنت کوي که به څلور رکعته کوي؟

جواب : په جواز کښې دواړه صورتونه سره برابر دي البته په افضلیت کښې اختلاف دی . دعلامه ابن عابدین رحمة الله علیه تحقیق ته په کتوسره باید لومړي دوه رکعته اداء سي ځکه چي دڅلورو رکعتو سنتو دفوت کیدو په وجه دوه رکعته خو دي کم ترکمه باید په خپل ځای کښې اداء سي او که دا سي نه وي نو په بل صورت کښې به دواړه سنتونه پر خپل ځای باندي پاته نه سي هر یوه به دخپل ځایه څخه واوړي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (ثُمَّ يَأْتِي بِهَا) عَلَى أَنَّهَا سُنَّةٌ (فِي وَقْتِهِ) أَيْ الظُّهْرِ (قَبْلَ شَفْعِهِ) عِنْدَ مُحَمَّدٍ،وَبِهِ يُفْتَى جَوْهَرَةٌ.

وقال ابن عابدين تحت هذه العبارة : قَوْلُهُ وَبِهِ يُفْتَى) أَقُولُ: وَعَلَيْهِ الْمُتُونُ، لَكِنْ رَجَّحَ فِي الْفَتْحِ تَقْدِيمَ الرَّكْعَتَيْنِ. قَالَ فِي الْإِمْدَادِ: وَفِي فَتَاوَى الْعَتَّابِيِّ أَنَّهُ الْمُخْتَارُ، وَفِي مَبْسُوطِ شَيْخِ الْإِسْلَامِ أَنَّهُ الْأَصَحُّ لِحَدِيثِ عَائِشَةَ «أَنَّهُ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - كَانَ إذَا فَاتَتْهُ الْأَرْبَعُ قَبْلَ الظُّهْرِ يُصَلِّيهِنَّ بَعْدَ الرَّكْعَتَيْنِ» وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ، وَكَذَا فِي جَامِعِ قَاضِي خَانْ اهـ وَالْحَدِيثُ قَالَ التِّرْمِذِيُّ حَسَنٌ غَرِيبٌ فَتْحٌ

وقال ابن نجيم المصرى رحمه الله تعالى : (قَوْلُهُ وَقَضَى الَّتِي قَبْلَ الظُّهْرِ فِي وَقْتِهِ قَبْلَ شَفْعِهِ) بَيَانٌ لِشَيْئَيْنِ أَحَدُهُمَا الْقَضَاءُ وَالثَّانِي مَحَلُّهُ أَمَّا الْأَوَّلُ فَفِيهِ اخْتِلَافٌ وَالصَّحِيحُ أَنَّهَا تُقْضَى كَمَا ذَكَرَهُ قَاضِي خَانْ فِي شَرْحِهِ مُسْتَدِلًّا بِمَا عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «كَانَ إذَا فَاتَتْهُ الْأَرْبَعُ قَبْلَ الظُّهْرِ قَضَاهُنَّ بَعْدَهُ» وَظَاهِرُ كَلَامِ الْمُصَنِّفِ أَنَّهَا سُنَّةٌ لَا نَفْلٌ مُطْلَقٌ وَذَكَرَ قَاضِي خَانْ أَنَّهُ إذَا قَضَاهَا فَهِيَ لَا تَكُونُ سُنَّةً عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَعِنْدَهُمَا سُنَّةٌ وَتَبِعَهُ الشَّارِحُ وَتَعَقَّبَهُ فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ بِأَنَّهُ مِنْ تَصَرُّفِ الْمُصَنِّفِينَ فَإِنَّ الْمَذْكُورَ مِنْ وَضْعِ الْمَسْأَلَةِ الِاتِّفَاقُ عَلَى قَضَاءِ الْأَرْبَعِ وَإِنَّمَا الِاخْتِلَافُ فِي تَقْدِيمِهَا أَوْ تَأْخِيرِهَا وَالِاتِّفَاقُ عَلَى أَنَّهَا تُقْضَى اتِّفَاقٌ عَلَى وُقُوعِهَا سُنَّةً إلَى آخِرِ مَا ذَكَرَهُ وَأَمَّا الثَّانِي فَاخْتُلِفَ فِيهِ النَّقْلُ عَنْ الشَّيْخَيْنِ فَذَكَرَ فِي الْجَامِعِ الصَّغِيرِ لِلْحُسَامِيِّ أَنَّ أَبَا يُوسُفَ يُقَدِّمُ الرَّكْعَتَيْنِ وَمُحَمَّدٌ يُؤَخِّرُهُمَا وَفِي الْمَنْظُومَةِ وَشُرُوحِهَا عَلَى الْعَكْسِ وَفِي غَايَةِ الْبَيَانِ وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ عَنْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْ الْإِمَامَيْنِ رِوَايَتَانِ وَرَجَّحَ فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ تَقْدِيمَ الرَّكْعَتَيْنِ لِأَنَّ الْأَرْبَعَ فَاتَتْ عَنْ الْمَوْضِعِ الْمَسْنُونِ فَلَا يَفُوتُ الرَّكْعَتَيْنِ عَنْ مَوْضِعِهِمَا قَصْدًا بِلَا ضَرُورَةٍ اهـ.

(الدرالمختار وردالمحتار ج ۲ ص ۵۸ باب ادارک الفریضة / البحرالرائق ج ۲ ص ۷۵ باب ادارک الفریضة / فتاوی حقانیہ ج ۲ ص ۵۸۹ باب ادارک الفریضة)

سهار امام پر التحیاته باندي ناست دی سنت وسي که یا ؟

سوال ۵ : دسهار پر لمانځه باندي امام پر التحیاته باندي ناست وو چي زه راغلم سنت مي نه دي کړي نو اوس سنت وکړم بیا په جماعت کښې شریک سم او که سنت پرېږدم په جماعت کښې شریک سم څنګه باید وکړم ؟

جواب : دسهار دسنتو په باره کښې په احادیثو کښې ډېر زیات تاکید راغلی دی . لهذا تر څو چي کېدلای سي دسنتو داداکولو کوشش دي وسي او بیا دي په جماعت کښې شرکت وکړل سي او تر څو پوري چي ددوهم رکعت درکوع دنیولو او پیداکولو امکان وي نو سنت باید پاته نه سي . که څه هم ځیني فقهاوو داخبره هم کړېده چي تر څو پوري دالتحیاتو دنیولو امکان وي نو سنت دي وکړي بیا دي په جماعت کښې شریک سي . لهذا کله چي دغه کس راغی امام پر التحیاته باندي ناست وو نو ښکاره خبره ده چي په دغه لنډ او کوتاه وخت کښې دوه رکعته سنت دی نه سي کولای نو دي سنت پرېږدي په جماعت کښې دي شریک سي .

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار : (وَإِذَا خَافَ فَوْتَ) رَكْعَتَيْ (الْفَجْرِ لِاشْتِغَالِهِ بِسُنَّتِهَا تَرَكَهَا) لِكَوْنِ الْجَمَاعَةِ أَكْمَلَ (وَإِلَّا) بِأَنْ رَجَا إدْرَاكَ رَكْعَةٍ فِي ظَاهِرِ الْمَذْهَبِ. وَقِيلَ التَّشَهُّدُ وَاعْتَمَدَهُ الْمُصَنِّفُ وَالشُّرُنْبُلالي تَبَعًا لِلْبَحْرِ، لَكِنْ ضَعَّفَهُ فِي النَّهْرِ (لَا) يَتْرُكُهَا بَلْ يُصَلِّيهَا عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ إنْ وَجَدَ مَكَانًا وَإِلَّا تَرَكَهَا .

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۵۶ باب ادراک الفریضة مطلب هل الاساءة دون الکراهة / الهدایة علي صدر فتح القدیر ج ۱ ص ۴ ۴۱ باب ادراک الفریضة / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۸۷ باب ادراک الفریضة / فتاوی فریدیه ج ۲ ص ۴۷۰ باب المدرک والمسبوق واللاحق)

دماپښین دڅلوررکعتو دسنتوڅخه یې دوه کړي ووه هلته جماعت ودرېدی څه به کوي؟

سوال٦: دماپښین دلمانځه څخه مي دمخه دڅلورو رکعتو نیت وتړی، دوه مي وکړه هلته جماعت ودرېدی، سلام مي وګرځوی، په جماعت کښي شریک سوم وروسته ترفرضو به څلور رکعت سنت کوم که دوه ؟

جواب: په دغه مذکوره صورت کي به بيا د سره څخه څلور رکعته سنت کوي دوه رکعته کافي نه دي او هغه مخکني سنت يې نفل وګرځېدل ځکه چي د پر دوهم رکعت باندي سلام وګرځوی.

لما فى مراقى الفلاح شرح نورالايضاح : وإن كان" قد شرع "في سنة الجمعة فخرج الخطيب أو" شرع "في سنة الظهر فأقيمت" الجماعة "سلم" بعد الجلوس "على رأس ركعتين" كما روي عن أبي يوسف والإمام "وهو الأوجه" لجمعه بين المصلحتين "ثم قضى السنة" أربعا لتمكنه منه "بعد" أداء "الفرض" مع ما بعده فلا يفوت فرض الاستماع والأداء على وجه أكمل ولا إبطال وإليه مال شمس الأئمة السرخسي والبقالي وصحح جماعة من المشايخ أنه يتمها أربعا لأنها كصلاة واحدة

(الدرالمختارعلي هامش ردالمحتارج ١ ص ٥٢٧ باب ادراک الفريضة مکتبه حبيبيه/ حاشيةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ٤٥١ باب ادراک الفريضة مکتبه رشيديه/البحرالرائق ج ٢ ص ١٢٥ باب ادراک الفريضة مکتبه رشيديه/فتاوی محموديه ج ٧ ص ١٩٨ باب السنن والنوافل/فتاوی رحيميه ج ٥ ص ٢١٣)

پر فرض لمانځه باندي ولاړوم جماعت ودرېدی بايد څه وکړم ؟

سوال ٧ : که چيري يو کس پر فرض لمانځه باندي يوازي ولاړوي او بيا د دغه لمانځه دپاره اقامت شروع سي جماعت ودريږي نو بيا به څه کوي لمونځ پوره کړي په جماعت کښې شريک سي او که لمونځ پر هم دغه ځای باندي پريږدي سلام وګرځوي په جماعت کښې ورسره شريک سي ؟

جواب : فقهاء کرامو په دغه مسئله کښې شو صورتونه بيان کړي مونږ به هريو صورت جلا جلا سره دخپل حکمه سره درته ذکر کړو.

که چيري دغه کس دڅلور رکعتيزه لمانځه په اول رکعت کښې وو تر اوسه يې د اول رکعت سجده لانه وه کړې هلته امام جماعت شروع کړی نو په داسي صورت کښې به دغه کس دغه رکعت پرېږدي د امام سره به په جماعت کښې شريک کيږي . او که چيري دغه کس دڅلور رکعتيزه لمانځه څخه اول رکعت کړی وو په دوهم رکعت کښې ولاړ وو چي هلته جماعت ودرېدی نو دي دغه دوهم رکعت پوره کړي وروسته

ترناسته دي سلام وګرځوي بيا دي په امام پسې اقتداء وکړي . هغه دوه رکعته چي ديوازي کړي وه هغه يې نفل سوله دامام سره دي فرض اداء کړي .
او که چيري دغه کس دڅلور رکعتيزه لمانځه څخه دوه رکعته پوره کړي وه په دريم رکعت کښې وو خو تر اوسه يې لا ددريم رکعت سجده نه وکړې امام په جماعت سره شروع وکړه نو دي دغه دريم رکعت فی الحال پريږدي اقتداء دي امام پسې وکړي هغه دوه کړي رکعتونه يې نفل سوله . او که چيري دغه کس دماپښين يا ماخوستن دلمونځونو څخه درې رکعته پوره کړي وه هلته امام جماعت شروع کړی نو دي دغه سرې دغه فرض پوره کړي بيا دي وروسته تر پوره کېدو دفرضو په امام پسې اقتداء وکړي که يې خوښه وه او که يې نه وه خوښه نه دې کوي ځکه چي وروسته تر پوره کېدو دفرضو پر ده باندي دامام اقتداء کول واجب نه ده . **يادونه :** دمازديګر فرض په دغه ذکر سوو احکامو کښې هم داسي دي لکه دماپښين او ماخوستن فرض البته د مازديګر په لمانځه کښې به دغه کس چي خپل فرض يې پوره کړي دي په امام پسې اقتداء نه کوي ځکه چي دمازديګر دلمانځه څخه وروسته نفل نسته .
او که چيري يو کس دسهار دلمانځه يا دماښام دلمانځه په اول رکعت کښې ولاړ وو يا په دوهم رکعت کښې ولاړ وو خو د دوهم رکعت سجده يې لا تر اوسه نه وه کړې هلته امام جماعت شروع کړی . دغه کس ته پکار دي چي پر هم دغه ځای دي دغه لمونځ فی الحاله پريږدي او په امام پسې دي اقتداء دفرضو وکړي . او که چيري دغه کس د دوهم رکعت سجده کړې وه نو دي خپل لمونځ يوازي پوره کړي وروسته دتر آخري ناستي دي سلام وګرځوي فرض يې اداء سوله وروسته تر سلام ګرځولو دي په امام پسې اقتداء نه کوي ځکه چي دسهار تر لمانځه وروسته نفل نسته تر څو چي لمر نه وي راختلی او دماښام دلمانځه څخه وروسته دي ځکه اقتداء نه پسې کوي چي نفل درې رکعته په شريعت کښې ثبوت نه لري .
لما قال العلامة الفرغيناني المرغيناني رحمه الله تعالى فى الهداية : ومن صلى ركعة من الظهر ثم أقيمت يصلي أخرى " صيانة للمؤدي عن البطلان " ثم يدخل مع القوم " إحرازا

لفضيلة الجماعة " وإن لم يقيد الأولى بالسجدة يقطع ويشرع مع الإمام هو الصحيح " لأنه بمحل الرفض وهذا القطع للإكمال .

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (وَيَقْتَدِي بِالْإِمَامِ) وَهَذَا (إنْ لَمْ يُقَيِّدْ الرَّكْعَةَ الْأُولَى بِسَجْدَةٍ أَوْ قَيَّدَهَا) بِهَا (فِي غَيْرِ رُبَاعِيَّةٍ أَوْ فِيهَا و) لَكِنْ (ضَمَّ إلَيْهَا) رَكْعَةً (أُخْرَى) وُجُوبًا ثُمَّ يَأْتَمُّ إحْرَازًا لِلنَّفْلِ وَالْجَمَاعَةِ (وَإِنْ صَلَّى ثَلَاثًا مِنْهَا) أَيْ الرُّبَاعِيَّةِ (أَتَمَّ) مُنْفَرِدًا (ثُمَّ اقْتَدَى) بِالْإِمَامِ (مُتَنَفِّلًا، وَيُدْرِكُ) بِذَلِكَ (فَضِيلَةَ الْجَمَاعَةِ) حَاوِي (إلَّا فِي الْعَصْرِ) فَلَا يَقْتَدِي لِكَرَاهَةِ النَّفْلِ بَعْدَهُ .

(الهداية شرح بداية المبتدي ج ۱ ص ۱۳۵ باب ادراک الفريضة مكتبه حنفيه / البحر الرائق ج ۱ ص ۱۲۳ باب ادراک الفريضة مكتبه رشيديه / ردالمحتار ج ۲ ص ۵۲ باب ادراک الفريضة مكتبه شامله بيروت چاپ / ارشاد الاحكام ص ۱۲۴ مكتبه رحمانيه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۱۹ باب ادراک الفريضة)

باب القضآء الفوائت

يوازي دسهار دسنتو قضاء اوراګرځيدل سته که يا ؟

سوال ۱ : ديو کس څخه دسهار لمونځ قضا سو يا يې جماعت د امام سره ونيوی خو سنت ځيني پاته سوه اوس دی غواړي چي قضاء يي راوګرځوي نو آيا فقط به فرض راګرځوي او که به فرض او سنت دواړه راګرځوي ؟ .

جواب : داسي کس چي دسهار لمونځ ځيني قضاء سي او اوس دی غواړي چي ترزوال مخکي يي قضا يي راوګرځوي نو هغه دوه رکعته سنت دي هم تابع د فرضو جوړ کړي راودي ګرځوي او ترزوال وروسته يي بيا راګرځول نه دي صحيح : دې ته دفقهاوو په اصطلاح کښي (**تبعاً للفرض**) وايي .

او يوازي دسنتو قضاء راوړل شرعا صحيح نه ده ځکه چي اصل په سنتو کښي دادی چي قضاء يي نسته ځکه چي قضاء راوړل د واجبو او فرضو سره خاص ده .

لما قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله تعالى (قوله ولم تقض الا تبعا) اى لم تقض سنة الفجر الا اذا فاتت مع الفرض فتقضى تبعا للفرض ...... لان الاصل فى السنة ان لاتقضى لاختصاص القضآء بالواجب .

(البحرالرآئق ج ۲ص ۷۴ باب ادراک الفريضة / الهداية ج ۱ص ۱۳۲ باب ادراک الفريضة / فتاوى حقانية ج ۳ص ۴۶ / الدرالمختار ج ۲ ص ۵۷ باب ادراک الفريضة / البناية ج ۳ ص ۱۲۷ باب ادراک الفريضة / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۵۸۸ باب ادراک الفريضة / حاشية الطحطاوي علي المراقي)

په سفر کښي قضاءسوي لمونځونه راګرځول؟

سوال ۲: ديو کس څخه د سفر پرمحال يو څولمونځونه قضاء سوي دي اوس غواړي چي داقامت په حالت کښ]د هغو قضاء راوړي دراګرځولو طريقه ئې شرعًا څنګه ده؟

جواب: د سفر د وخت قضاء سوي لمونځونه به دغه کس په قصر سره راګرځوي يعني دوه رکعته به کوي نه پوره لمونځ بيانو برابره ده دغه راګرځول ئې د سفرپه حالت کښي وي او که د اقامت په حالت کښي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَالْقَضَاءُ يَحْكِي) أَيْ يُشَابِهُ (الْأَدَاءَ سَفَرًا وَحَضَرًا) لِأَنَّهُ بَعْدَمَا تَقَرَّرَ لَا يَتَغَيَّرُ....... قَوْلُهُ سَفَرًا وَحَضَرًا) أَيْ فَلَوْ فَاتَتْهُ صَلَاةُ السَّفَرِ وَقَضَاهَا فِي الْحَضَرِ يَقْضِيهَا مَقْصُورَةً كَمَا لَوْ أَدَّاهَا

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۸۸ باب صلاةالمسافر مکتبه حبيبيه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۲۱ كتاب الصلاة مکتبه رشيديه/البحرالرائق ج ۲ ص ۱۴۱ باب صلاةالمسافر مكتبه رشيديه/فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۶ باب قضاءالفوائت/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۲۵۸)

دډيرو نامعلومو قضايي لمونځونو قضآء راوړل .

سوال ۳: که چيري ديو چا څخه ډير زيات لمونځونه قضا سوي وي او اوس غواړي چي قضاء يي راوړي نو طريقه دراګرځوولو يي څنګه ده ؟

جواب : فقهاء کرامو دداسي کس داساني دپاره داسي طريقه مقرره کړيده چي داسي شخص دي دهر لمانځه دراګرځولو په وخت کښي داسي نيت وکړي مثلاً يو کس

غواړي چي دماپښين قضايي لمونځ راوګرځوي نو داسي نيت دي کوي : چي زما نيت دی داول ماپښين چي پرما يي قضاء سته چي کله يي دا لمونځ اداء کړی اوس غواړي چي بل قضاء سوی لمونځ دماپښين راوګرځوي دهغه سره دي هم داسي نيت وکړي چي زما نيت دی داول ماپښين چي پرما يي قضاء سته نو ټوله قضايي لمونځونه دي پر دغه طريقه راوګرځوي يعني دهر لمانځه سره دي هغه اول يا آخر لمونځ وايي : ترهغه پوري دې اداء کوي چي غالبه ګمان يي سي چي اوس نو زما لمونځونه پوره سوه يا يي يقين سو چي اوس نو پوره سول .

وفی مراقی الفلاح شرح نورالایضاح : فإن أراد تسهيل الأمر عليه نوى أول ظهر عليه" أدرك وقته ولم يصله فإذا نواه كذلك فيما يصليه يصير أولا فيصح بمثل ذلك وهكذا "أو" إن شاء نوى "آخره" فيقول أصلي آخر ظهر أدركته ولم أصله بعد فإذا فعل كذلك فيما يليه يصير آخرا بالنظر لما قبله فيحصل التعيين

(مراقي الفلاح شرح نورالايضاح مع حاشية الطحطاوي ص ۴۴۶/ ۴۴۷ البحرالرائق ج ۲ ص ۸۰ / ارشاد الاحکام ص ۱۰۰ / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۴۶)

قضايي لمونځونه چي تر شپږو زيات سي نو بيا ترتيب نه غواړي .

سوال ۴ : که چيري ديو کس څخه تر شپږو زيات لمونځونه قضا سي نو بيا په راګرځولو کښې ترتيب غواړي که يا ؟

جواب :په ډېروالي دقضايي لمونځونو سره ترتيب ساقطيږي يعني کله چي ديو شخص څخه قضايي لمونځونه بېله وترو تر شپږو زيات قضاء سي نو بيا دوختي اوقضايي او دقضايي او قضايي تر مينځ ترتيب ساقط دی هر لمونځ چي يي هر وخت وکړی بېله مکروه اوقاتو څخه لمونځ يې درست او صحيح دی . خو داخبره هم ديادوولو وړده چي ترتيب په مينځ دقضايې او دوختي لمونځونو په يوه ددروشيانو څخه ساقطيږي . **اول** : قضايي دده هيروي . **دوهم** : يا وخت تنګ وي .**دريم** : يا قضايي لمونځونه شپږوي ماسوا دوترو څخه .

ددې تشريح داسي ده چي که ديو چا څخه دماخوستن فرض سره دوترو يا بېله وترو قضا سول په دا سهار کښې دده څخه قضايي هيروه دسهار لمونځ ده وکړی دغه

دسهار لمونځ یې صحت لري هر وخت چي دده قضايي لمونځ په ياد سو نو قضايي دې وکړي. **یا داسي** پيښه سوله چي په سهار کښې دغه سړی دخوبه څخه ناوخته راکښېنستی او حال دا چي دده څخه دماخوستن لمونځ هم قضا سوی وو او وخت دومره اندازه تنګ وو چي دواړه لمونځونه اداء کول نه په کښې ځای کيدل نو دده څخه ترتيب ساقط دی دی دې په دغه لنډ وخت کښې دسهار لمونځ اداء کړي بيا چي لمر ښه راپورته سو دماخوستن قضايي لمونځ دې راوګرځوي. **یا دوترو څخه** علاوه شپږ لمونځونه دده څخه قضا سوله په دغه وخت کښې هم ددغه سړي څخه ترتيب ساقط دی که وختي لمونځونه دمخه کوي او که قضايي دمخه کوي اختيار لري. او په خپله په قضايي لمونځونو کښې هم ترتيب ساقط دی. هر قضايي چي دمخه کوي او هريو چي وروسته کوي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :التَّرْتِيبُ بَيْنَ الْفَائِتَةِ وَالْوَقْتِيَّةِ وَبَيْنَ الْفَوَائِتِ مُسْتَحَقٌّ، كَذَا فِي الْكَافِي .... وَكَذَا بَيْنَ الْفُرُوضِ وَالْوِتْرِ، هَكَذَا فِي شَرْحِ الْوِقَايَةِ......... ثُمَّ التَّرْتِيبُ يَسْقُطُ بِالنِّسْيَانِ وَبِمَا هُوَ فِي مَعْنَى النِّسْيَانِ، كَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ .... وَيَسْقُطُ التَّرْتِيبُ عِنْدَ ضِيقِ الْوَقْتِ، كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ .... وَيَسْقُطُ التَّرْتِيبُ عِنْدَ كَثْرَةِ الْفَوَائِتِ وَهُوَ الصَّحِيحُ، هَكَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ وَحَدُّ الْكَثْرَةِ أَنْ تَصِيرَ الْفَوَائِتُ سِتًّا بِخُرُوجِ وَقْتِ الصَّلَاةِ السَّادِسَةِ.......... فِي الْأَصْلِ رَجُلٌ صَلَّى الْعَصْرَ وَهُوَ ذَاكِرٌ أَنَّهُ لَمْ يُصَلِّ الظُّهْرَ فَهُوَ فَاسِدٌ إلَّا أَنْ يَكُونَ فِي آخِرِ الْوَقْتِ لَكِنْ إذَا فَسَدَتْ الْفَرِيضَةُ لَا يَبْطُلُ أَصْلُ الصَّلَاةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ – رَحِمَهُمَا اللَّهُ – وَعِنْدَ مُحَمَّدٍ – رَحِمَهُ اللَّهُ – يَبْطُلُ وَالْمَسْأَلَةُ مَعْرُوفَةٌ ثُمَّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ – فَرْضِيَّةُ الْعَصْرِ تَفْسُدُ فَسَادًا مَوْقُوفًا حَتَّى لَوْ صَلَّى سِتَّ صَلَوَاتٍ أَوْ أَكْثَرَ وَلَمْ يُعِدْ الظُّهْرَ عَادَ الْعَصْرَ جَائِزًا لَا يَجِبُ إعَادَتُهُ .

(تنویرالابصار مع الدرالمختار کتاب الصلاة ، باب قضآء الفوائت ج ۲ ص ۶۵ تا ۷۲ مکتبه سعید / الفتاوی الهندیة کتاب الصلوة ، الباب الحادی عضر في قضآر الفوائت ج ۱ ص ۱۲۱ تا ۱۲۴ رشیدیه / البحرالرائق باب قضاء الفوائت ج ۲ ص ۱۴۰ تا ۱۵۱ رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۳۷۷ باب قضاء الفوائت)

دسهار دلمانځه قضايي څه وخت راوړل کیږي ؟

سوال ۵: که دیو چا څخه دسهار لمونځ قضا سي نو یوازي دڅابنت په وخت کښې راګرځېدل غواړي او که بل وخت یي هم قضا راوړل کیږي؟

جواب : دقضایي لمانځه پربرابر دشریعت قاعده داده چي کله د یو چا څخه لمونځ قضا سي نو فورا یي بیرته راګرځول ضروري دي او پرته له کوم شرعي عذره څخه په هغه کښې تاخیر او ځنډ جائز نه دی البته په مکروه وختونو کښې يې راګرځول نه دي صحیح نو دغه شخص دي دغه دسهار لمونځ په څابنت کښې راوګرځوي خوالبته بل وخت يې هم راګرځول صحیح دي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَجَمِيعُ أَوْقَاتِ الْعُمْرِ وَقْتٌ لِلْقَضَاءِ إلَّا الثَّلَاثَةَ الْمَنْهِيَّةَ كَمَا مَرَّ.......وقال ابن عابدين تحت (قَوْلُهُ وَقْتٌ لِلْقَضَاءِ) أَيْ لِصِحَّتِهِ فِيهَا وَإِنْ كَانَ الْقَضَاءُ عَلَى الْفَوْرِ إلَّا لِعُذْرٍ :

وقال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى: وَذَكَرَ الْوَلْوَالِجِيُّ مِنْ الصَّوْمِ أَنَّ قَضَاءَ الصَّوْمِ عَلَى التَّرَاخِي وَقَضَاءَ الصَّلَاةِ عَلَى الْفَوْرِ إلَّا لِعُذْرٍ.

(ردالمحتار علي صدر الدالمختارج ۲ ص ۶۶ باب قضاء الفوائت / البحرالرائق ج ۲ ص ۷۹ باب قضاء الفوائت / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۹ باب قضاء الفوائت)

قضايې لمونځ یو خاص او ټاکلي وخت لري که یا ؟

سوال۶: که چیري دیو کس څخه ډیر لمونځونه قضا سوي وي او دی اوس غواړي چي قضا يې راوګرځوي مثلا دسهار لمونځ دی یو کس يې راګرځول غواړي نو ایا دقضايې لمونځونو دراګرځولو دپاره شرعا کوم خاص او ټاکلي وخت مقرر دی که یا ؟

جواب : دقضايي لمونځونو دراګرځولو دپاره شرعا کوم خاص او ټاکلی وخت نه دی مقرر هرکله چي يې وخت او فرصت پيدا کړی راودي ګرځوي البته دمکروه وختونو خيال ساتل ضروري دي داسي نه چي په مکروه وختونو کښې يې اداء کړي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحرالرائق شرح كنز الدقائق . : ثُمَّ لَيْسَ لِلْقَضَاءِ وَقْتٌ مُعَيَّنٌ بَلْ جَمِيعُ أَوْقَاتِ الْعُمْرِ وَقْتٌ لَهُ إلَّا ثَلَاثَةً وَقْتُ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَوَقْتُ الزَّوَالِ وَوَقْتُ الْغُرُوبِ فَإِنَّهُ لَا تَجُوزُ الصَّلَاةُ فِي هَذِهِ الْأَوْقَاتِ لِمَا مَرَّ فِي مَحَلِّهِ

(البحرالرائق شرح كنز الدقائق ج ٢ ص ٨٠ باب الفوائت مكتبه رشيديه / فتاوى حقانيه ج ٣ ص ٥٢ باب الفوائت / بهشتي زيور ص ١٣٤ باب الفوائت)

ديوکس څخه دوه يا درې لمونځونه قضا سوي دي خو بيا هم وقتي لمونځ کوي قضايې نه راګرځوي .

سوال ۷ : که چيري ديو چا څخه دوه يا درې لمونځونه قضا سي او دی بيا هغه قضايې لمونځونه نه راګرځوي وختي ورسره کوي نو ايا داسي لمونځونه صحت لري که يا ؟

جواب : صاحب ترتيب کس هغه چاته دفقهي شريفي په اصطلاح کښې ويل کيږي چي دده پر ذمه باندي شپږ قضايي لمونځونه وي بلکي تر هغه کم وي .نو که چيري ديوچا څخه شپږ لمونځونه قضا سوي وي دی صاحب ترتيب نه دی نو بيا يې وختي لمونځ کيږي او درست دی . او که ديو چا څخه تر شپږ کم لمونځونه قضا سوي وه نو دغه کس صاحب ترتيب دی نو تر څو چي يې هغه قضا يې لمونځونه نه وي راګرځولي وختي لمونځ يې نه کيږي البته په موقوف فساد سره به کيږي خو په دې مسئله باندي عوام خاص نه پوهيږي دليل يې يو څه مغلق دی . والله اعلم بالصواب

لما فى الهداية شرح بداية المبتدي :ولو فاتته صلوات رتبها في القضاء كما وجبت في الأصل " لأن النبي عليه الصلاة والسلام شغل عن أربع صلوات يوم الخندق فقضاهن مرتبا ثم قال " صلوا كما رأيتموني أصلي " " إلا أن تزيد الفوائت على ست صلوات " لأن

الفوائت قد كثرت " فيسقط الترتيب فيما بين الفوائت " نفسها كما سقط بينها وبين الوقتية وحد الكثرة أن تصير الفوائت ستا لخروج وقت الصلاة السادسة .....

(الهداية ج ۱ ص ۱۳۷ باب قضاء الفوائت مكتبه حنفيه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۲۷۳ باب قضاء الفوائت رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۲۱ رشيديه / ارشاد الاحكام ص ۱۰۰ / البحر الرائق ج ۲ ص ۸۰)

وختي لمونځ يې كوی قضايي وربه ياد سو .

سوال ۸ : ديو كس پر ذمه باندي قضايي لمونځونه پاته دي او س دی د سهار لمونځ اداء كوي نو اول به قضايي لمونځ كوي او كه وختي ؟

جواب : كه چيري زاړه قضايې لمونځونه شپږ يا د دې څخه زيات وي نو په دې سره ترتيب ساقط سو . نو دغه سړی د سهار ادايي لمونځ تر قضايي مخكښې كولای سي . او كه چيري تر شپږ كم وه نو دی صاحب ترتيب دی اول وار به قضايي كوي بيا به ادايي كوي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (أَوْ نُسِيَتْ الْفَائِتَةُ) لِأَنَّهُ عُذْرٌ (أَوْ فَاتَتْ سِتٌّ اعْتِقَادِيَّةٌ) لِدُخُولِهَا فِي حَدِّ التَّكْرَارِ الْمُقْتَضِي لِلْحَرَجِ (بِخُرُوجِ وَقْتِ السَّادِسَةِ) عَلَى الْأَصَحِّ . وقال ابن عابدين : (قَوْلُهُ أَوْ فَاتَتْ سِتٌّ) يَعْنِي لَا يَلْزَمُ التَّرْتِيبُ بَيْنَ الْفَائِتَةِ وَالْوَقْتِيَّةِ وَلَا بَيْنَ الْفَوَائِتِ إذَا كَانَتْ الْفَوَائِتُ سِتًّا.....

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۵۳۶ / ۵۳۸ طبع رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديو بند ج ۴ ص ۲۶۰ باب قضاء الفوائت)

قضاء سوي لمونځونه په جماعت سره كول سنت دي؟

سوال ۹ : ايا قضاء كړل سوي لمونځونه په جماعت سره كول هم درست او صحت لري كه يا؟

جواب : قضاء كړل سوي لمونځونه په جماعت سره كول سنت دي فقط والله اعلم.

وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ سَارَ لَيْلَةً حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْكَرَى عَرَّسَ وَقَالَ لِبِلَالٍ: " اكْلَأْ لَنَا اللَّيْلَ. فَصَلَّى بِلَالٌ مَا قُدِّرَ لَهُ وَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ فَلَمَّا تَقَارَبَ الْفَجْرُ اسْتَنَدَ بِلَال إِلَى

رَاحِلَته موجه الْفَجْرِ فَغَلَبَتْ بِلَالًا عَيْنَاهُ وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلَى رَاحِلَتِهِ فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا بِلَالٌ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِهِ حَتَّى ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَهُمُ اسْتِيقَاظًا فَفَزِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «أَيْ بِلَالُ» فَقَالَ بِلَالٌ أَخَذَ بِنَفْسِي الَّذِي أَخَذَ بِنَفْسِكَ قَالَ: «اقْتَادُوا» فَاقْتَادُوا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئًا ثُمَّ تَوَضَّأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ الصَّلَاةَ فَصَلَّى بِهِمُ الصُّبْحَ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ قَالَ: " مَنْ نَسِيَ الصَّلَاةَ فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذكرهَا فَإِن الله قَالَ (أَقِم الصَّلَاة لذكري

(مشكاة المصابيح ج ١ ص ٦٧ باب تاخير الاذان قديمي چاپ/الهداية ج ١ ص ١٣٩ باب قضاء الفوائت مكتبه رحمانيه/فتاوى قاضي خان علي هامش الهندية ج ١ ص ١٢٣ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوى حقانيه ج ٣ ص ٥٠ /امدادالاحكام ج ١ ص ٦٦٨)

كه دوخت پر لمانځه ولاړوي قضايي ورپه ياد سي .

سوال١٠: موږ اوربدلي دي او ويلي مو هم دي چي يو كس پر ادايې او د وخت پر لمانځه ولاړ وي او بيا يې قضايې لمونځ ورپه ياد سي چي د ده څخه مخكي قضاء سوى وي نو هغه د وخت لمونځ يې فاسد دى؟ دا څنګه مسئله ده؟ .

جواب: دغه صورت او حكم د هغه چا په باره كښي دى چي صاحب ترتيب وي او د فقهاوو په اصطلاح كښي صاحب ترتيب هغه كس ته وايې چي شپږ لمونځونه نه وي څني قضاء سوي مطلق حكم داسي نه دى .

تنبيه: ترتيب چي يو وار ساقط سو اصح او معتمد قول دادى چي بيا نه راګرځي .

وفي الهداية :ومن صلى العصر وهو ذاكر أنه لم يصل الظهر فهي فاسدة إلا إذا كان في آخر الوقت " وهي مسئلة الترتيب " وإذا فسدت الفرضية لا يبطل أصل الصلاة عند أبي حنيفة وأبي يوسف رحمهما الله وعند محمد رحمه الله يبطل " لأن التحريمة عقدت للفرض فإذا بطلت الفرضية بطلت التحريمة أصلا ولهما أنها عقدت لأصل الصلاة بوصف الفرضية فلم يكن من ضرورة بطلان الوصف بطلان الأصل .

(الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٢٤ الباب الحادى عشر في قضاء الفوائت / الهداية ج ١ ص ١٣٩ باب قضاء الفوائت مكتبه حنفيه / حاشية الطحطاوي ص ٣٢٨ / تعليم الاحكام ص ٧٣ / ردالمحتار بيروتي ج ١ ص ٦٨٤ / خلاصة الفتاوى ج ١ ص ١٦٣ / القول الراجح ج ١ ص ١١٩)

دلمانځه څخه مخکي یا وروسته دنفلو پر ځای قضایي لمونځ ادا کول بهتر دی .

سوال ۱۱ : که چیري دیو چا پر ذمه باندي نامعلوم قضایي لمونځونه پاته وي نو ایا دداسي سړي دپاره نفل لمونځ کول بهتره دی او که قضایي لمونځونه ؟ . او حال دا چي نه دقضایي لمونځونو وخت ورته معلوم دی او نه یې هم تعداد ورته معلوم دی ؟

جواب : که څه هم دنفلي لمونځونه اداء کول په خپل ذات کښې دبرکت موجب او دثواب باعث دي .لیکن دداسي سړي دپاره دنوافلو پر ځای باندي دقضایي لمونځونو اداء کول بهتره دي . که چیري وخت او تعداد نه وي ورته معلوم لیکن په اجمالي توګه سره دومره خو به ورته معلوم وي چي زما څخه زما ګمان دادی چي د دومره وختونو لمونځونه قضاسوي دي . نو دهر وخت دلمانځه سره دي اول وار قضایي لمونځ راوګرځوي بیا دي وختي اداء کړي .

لما فی الفتاوی الهند یة : وَفِي الْحُجَّةِ الِاشْتِغَالُ بِالْفَوَائِتِ أَوْلَى وَأَهَمُّ مِنْ النَّوَافِلِ إلَّا السُّنَنَ الْمَعْرُوفَةَ وَصَلَاةَ الضُّحَى وَصَلَاةَ التَّسْبِيحِ وَالصَّلَوَاتِ الَّتِي رُوِيَتْ فِي الْأَخْبَارِ فِيهَا سُوَرٌ مَعْدُودَةٌ وَأَذْكَارٌ مَعْهُودَةٌ فَتِلْكَ بِنِيَّةِ النَّفْلِ وَغَيْرُهَا بِنِيَّةِ الْقَضَاءِ، كَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ .

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۲۵ اَلْبَابُ الْحَادِيَ عَشَرَ فِي قَضَاءِ الْفَوَائِتِ /الفتاوی التاتارخانیة ج ۱ ص ۷۷۰ کتاب الصلوة قضآء الفوائت / کتاب المبسوط ج ۱ ص ۱۵۵ باب قضاء الفوائت / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۴ باب القضآء / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۶۰۸ باب قضاء الفوائت)

دوترو دلمانځه قضایي سته که یا ؟

سوال ۱۲ : که چیري دیو چا څخه وتر لمونځ قضاء سي نو بیا راګرځول غواړي که یا او که دعامو سنتونو په شان دي چي راګرځول او قضاء بیا نه غواړي ؟ .

جواب : دامام ابو حنیفه رحمه الله تعالی علیه په نزد وتر لمونځ واجب دی نو شرعا قضاء غواړي او راګرځول یې واجب دي او که یې څوک قضاء رانه وړي نو شرعا ګناهګاره دی .

لما قال محمد بن عبدالله التمرتاشی رحمه الله تعالی : (وَقَضَاءُ الْفَرْضِ وَالْوَاجِبِ وَالسُّنَّةِ فَرْضٌ وَوَاجِبٌ وَسُنَّةٌ) لَفٌّ وَنَشْرٌ مُرَتَّبٌ.

وفی الفتاوی الهندیة : والقضاء فرض في الفرض وواجب في الواجب سنة في السنة .
(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۶۶ باب قضاء الفوائت / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۲۱ الفصل الحادی عشر في صلوة قضاء الفوائت / البحر الرائق ج ۲ ص ۸۰ باب قضاء الفوائت / فتاوی حقانیة ج ۳ ص ۴۸ باب قضاء الفوائت/ فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۳۶۶ مکتبه فاروقیه کراچي)

باب سجود السهو

که چیري دامام شاته مقتدی سهوه سؤ سجده سهو لازمیږي که یا ؟

سوال ۱ : که چیري یو مقتدی په امام پسې په اوله ناسته کي تر التحیاتي وروسته سهوه سو درود شریف یې وو ایه نو ایا دمقتدي پر ذمه باندي سجده سهوه او دلمانځه راګرځول سته که یا یو کس وایي چي دمقتدي پر ذمه باندي ددغه لمانځه راګرځول ضروري دي او دلیل یې دارشاد الاحکام دمسئلې څخه ویلی دی چي په ارشاد الاحکام کي راغلي دي که چیري مقتدی دامام شاته سهوه سو نو دهغه لمانځه راګرځول ضروري دي ددغي مسئلې په هکله که چیري مدلل جواب راکړل سي ډېره مهرباني به مو وي .

جواب : دامام ابوحنیفه رحمه الله دفقهي ټوله کتابونه که متون دي که شروح دي که فتاواوي دي پر دې خبره باندي متفق دي . که مقتدی په لمانځه کي په امام پسې سهوه سو نه پر مقتدي باندي او نه هم پر امام باندي سجده سهوه لازمه ده . دارشاد الاحکام کتاب چي کوم عبارت دی دهغه څخه ددغي مسئلې پر اثبات باندي دلیل پېش کول درست نه دی ځکه چي دارشاد الاحکام عبارت (الحاج مولوي عبدالعلي صاحب رحمه الله تعالی) چي په حضرات مولوی صاحب سره شهرت لري کوم چي د هدایي پر بیاض باندي حاشیه هم لیکلې ده شیخ صاحب دارشادالاحکام دغه عبارت مقید کړی دی په واجب اصلي سره یعني چي کله مقتدی په امام پسې ولاړ وي او بیا دواجبات اصلیه وو څخه یو واجب ځیني پاته سي نو ددغه شخص پر ذمه باندي ددغه کړي لمانځه راګرځول واجب دي او دالتحیاتي څخه وروسته درود شریف ویل په دي کي. ترک دواجبا ت اصلیه وو نه راځي نو لهذا ددغه لمانځه راګرځول هم واجب نه دي . دلوړ ذکر سوي تفصیل څخه دا خبره هم معلومه سوه چي

دالنهر الفائق دمصنف خبره کومه چي ارشاد الاحکام والا نقل کړې ده هغه هم مقيده په واجب اصلي پوري ده نه دا چي واجب غير اصلي ځوک مراد ځيني واخلي . هذا ماعندنا فی ضوء الکتب الحنفية والله اعلم بالصواب وعنده علم الکتاب .

واجبات اصلي علامه ابن نجيم المصري رحمه الله تعالی صاحب دالبحر الرائق کتاب دوولس دانې ذکر کړي چي په لاندي ډول دي که چيري ديو کس ځخه ددغه واجباتو ځخه يو دانه پاته سي نو بايد سجده سهوه وسي او که چيري سجده سهوه ونه سوه نو دلمانځه راګرځول ضروري دي ، او دا خبره ښکاره ده چي مقتدی دامام شاته دسجده سهوي ځخه منع دی نو ځکه دلمانځه وروسته دي ددغه کړي لمانځه اعاده وکړي په کوم کي چي دده ځخه واجب اصلي پاته سوی وو .

اول : سورة الفاتحة ، **دوهم** : ضم دسورت ، **دريم** : رعايت دترتيب دارکانو ترمېنځ ، **ځلورم** : تعيين دقرآة په اولو دوو رکعتونو کي ، **پنځم** : تعديل دارکانو خو په دي کي اختلاف سته ، **شپږم** : اوله ناسته ، **اووم** : التحياته ويل ، **اتم** : لفظ د سلام ويل ، **نهم** : دعاقنوت شريف ، **لسم** : داختر تکبيرونه ، **يوولسم** : جهردقرآة ، **دوولسم** : اخفاء دقرآة . اوددې ځخه علاوه نورټوله واجبا غير اصليه دي .

لما فی الهداية : فإن سها المؤتم لم يلزم الإمام ولا المؤتم السجود " لأنه لو سجد وحده كان مخالفا لإمامه ولو تابعه الإمام ينقلب الأصل تبعا .

ولماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالی فی البحرالرآئق شرح کنزالدقائق : لرَّابِعُ سَبَبُهُ تَرْكُ وَاجِبٍ مِنْ وَاجِبَاتِ الصَّلَاةِ الْأَصْلِيَّةِ سَهْوًا وَهُوَ الْمُرَادُ بِقَوْلِهِ بِتَرْكِ وَاجِبٍ لَا كُلِّ وَاجِبٍ بِدَلِيلِ مَا سَنَذْكُرُهُ مِنْ أَنَّهُ لَوْ تَرَكَ تَرْتِيبَ السُّوَرِ لَا يَلْزَمُهُ شَيْءٌ مَعَ كَوْنِهِ وَاجِبًا وَهُوَ أَجْمَعُ مَا قِيلَ فِيهِ وَصَحَّحَهُ فِي الْهِدَايَةِ وَأَكْثَرُ الْكُتُبِ........ وَقَدْ عَدَّهَا الْمُصَنِّفُ فِي بَابِ صِفَةِ الصَّلَاةِ اثْنَيْ عَشَرَ وَاجِبًا الْأَوَّلُ قِرَاءَةُ الْفَاتِحَةِ.... الخ

وکتب العلامة الشيخ عبدالعلي الديوبندي رحمه الله تعالی علی هامش الهداية ج۱ ص ۱۳۹ (ومن هاهنا علم ان المقتدي لو جاوز من التشهد فی القعدة الاولی الی الصلوة فی الصلوة لايلزم عليه السهو يعني لايجب عليه اعادة الصلوة کما اشاراليه صاحب

ردالمحتار) .... وکتب ایضا اذا ترک المقتدي واجبا من الواجبات الاصلية يجب عليه اعادة الصلوة .... وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فی ردالمحتار فی حق المقتدي التارک للواجب الاصلی .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۵۴۹ باب سجدة السهو مکتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۱۷۵ /۱۶۵ باب سجدة السهو مکتبه رشيديه/ حاشية الطحطاوي علي الدرالمختار ج ۱ ص ۳۱۳ / الهداية ج ۱ ص ۱۴۱ باب سجدة السهو مکتبه حقانيه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۲۸ باب سجدة السهو / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۱۰۶ باب سجدة السهو / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۴۲۰ باب سجدة السهو / تبيين الحقائق ج ۱ ص ۴۸۷ باب سجدة السهو / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۱۷۳ باب سجدة السهو / الموسوعة الفقهية ج ۲۴ ص ۲۴۴ باب سجدة السهو / مجمع الانهر ج ۱ ص ۲۲۲ باب سجدة السهو / فتاوی تاتارخانية ج ۲ ص ۴۰۴ باب سجدة السهو / فتح القدير ج ۱ ص ۴۴۲ باب سجدة السهو / فتاوی محموديه ج ۲۲ ص ۲۲۴ باب سجدة السهو)

که دیو چا څخه په ناسته کي الحمدلله وویل سوه .

سوال ۲ : که چیري دیو چا څخه په ناسته کي د التحیاتي پر ځای باندي الحمد لله وویل سي نو څه به کوي ؟

جواب : هرکله چي التحیاته ویل په لمانځه کي واجب ده نو په ذکر سوي صورت کي ترک د واجبو راغی لهذا د دغه کس پر ذمه باندي سجده سهوه کول لازمي ده .

وفی الفتاوی الهندية : وَإِذَا قَرَأَ الْفَاتِحَةَ مَكَانَ التَّشَهُّدِ فَعَلَيْهِ السَّهْوُ وَكَذَلِكَ إذَا قَرَأَ الْفَاتِحَةَ ثُمَّ التَّشَهُّدَ كَانَ عَلَيْهِ السَّهْوُ، كَذَا رُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ - رَحِمَهُ اللَّهُ - فِي الْوَاقِعَاتِ النَّاطِفِيَّةِ وَذُكِرَ هُنَاكَ إذَا بَدَأَ فِي مَوْضِعِ التَّشَهُّدِ بِالْقِرَاءَةِ ثُمَّ تَشَهَّدَ فَعَلَيْهِ السَّهْوُ .

(فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۳۲۷ باب سجدة السهو /)

په څلور رکعتیز لمانځه کي بېله اخري ناستي پنځم رکعت ته ولاړېدل ؟

سوال ۳ : زه په څلور رکعته لمانځه کي بېله دې چي اخري ناسته وکړم پنځم رکعت ته ولاړ سوم او س زما لمونځ فاسد سو که یا ؟

جواب : که چیري یو څوک په اخره ناسته کي سهوه سو یعني اخره ناسته یې پرېښوول او پنځم رکعت ته ولاړ سو نو تر څو چي یې د پنځم رکعت سجده نه وي کړې بیرته دي

کنبېني اخره ناسته دي پوره کړي سجده سهوه دي وکړي لمونځ يې صحيح دی خو که يې چيري د پنځم رکعت سجده وکړه نو يو رکعت دي بل هم ورسره يو ځای کړي فرض يې باطل سوه دا لمونځ يې نفل سو فرض دي دسره را وګرځوي .

لماقال ابوبكر المرغيناني رحمه الله في الهداية : وإن سها عن القعدة الأخيرة حتى قام إلى الخامسة رجع إلى القعدة مالم يسجد لأن فيه إصلاح صلاته وأمكنه ذلك لأن ما دون الركعة بمحل الرفض قال وألغى الخامسة لأنه رجع إلى شيء محله قبلها فترتفض وسجد للسهو لأنه أخر واجبا وإن قيد الخامسة بسجدة بطل فرضه عندنا

(الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٢٩ مكتبه رشيديه / الهداية ج ١ ص ١٤٢ مكتبه حنفيه /البحرالرائق ج ٢ ص ١٨١ مكتبه رشيديه / كبيري ص ٤٦٢ باب سجود السهو/ فتاوى حقانيه ج ٣ ص ٦٧ پښتو)

دسجده سهو لپاره پريوې خوا سلام ګرځول کفايت کوي که پر دواړو خواوو سلام ګرځول ضروري دی

سوال۴ : په سجده سهو کي يوې خواته سلام ګرځول کېږي که دواړو خواووته ايا په دې کي امام او يواځي لمونځ کوونکی سره برابر دي که يا ؟

ځواب : دامام ، مقتدي او يواځي لمونځ کوونکي لپاره په سجده سهو کي د ټولو فقهاوو په نزد يوازي راستې خواته سلام ګرځول بهتر دی . ليکن ځينو محققينو دواړو خواوته سلام ګرځول راجح بللي دي نو دواړي طريقې جائزي دي البته يوې خواته سلام ګرځول بهتر دی .

لماقال علي بن ابي بكر المرغيناني رحمه الله : وياتي بتسليمتين هوالصحيح .

قال علاوالدين الحصكفي رحمه الله : (يجب بعد سلام واحد عن يمينه فقط) لأنه المعهود وبه يحصل التحليل وهو الأصح بحر عن المجتبى .

قال ابن عابدين شامي رحمه الله : (قَوْلُهُ وَاحِدٍ) هَذَا قَوْلُ الْجُمْهُورِ ، مِنْهُمْ شَيْخُ الْإِسْلَامِ وَفَخْرُ الْإِسْلَامِ .

وَقَالَ فِي الْكَافِي : إنَّهُ الصَّوَابُ ، وَعَلَيْهِ الْجُمْهُورُ ، وَإِلَيْهِ أَشَارَ فِي الْأَصْلِ ا هـ إلَّا أَنَّ مُخْتَارَ فَخْرِ الْإِسْلَامِ كَوْنُهُ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ مِنْ غَيْرِ انْحِرَافٍ ، وَقِيلَ يَأْتِي بِالتَّسْلِيمَتَيْنِ ، وَهُوَ اخْتِيَارُ

شَمْسِ الْأَئِمَّةِ وَصَدْرِ الْإِسْلَامِ أَخِي فَخْرِ الْإِسْلَامِ وَصَحَّحَهُ فِي الْهِدَايَةِ وَالظَّهِيرِيَّةِ وَالْمُفِيدِ وَالْيَنَابِيعِ ، كَذَا فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ .

قال العلامة حسن بن عمارالشرنبلالي رحمه الله : (ويكتفي بتسليمة واحدة) قاله شيخ الإسلام وعامة المشايخ وهو الأضمن للاحتياط والأحسن ويكون (عن يمينه) لأنه المعهود وبه يحصل التحليل فلا حاجة إلى غيره خصوصا وقد قال شيخ الإسلام خواهرزاده ؟ ؟ لا يأتي بسجود السهو بعد التسليمتين لأن ذلك بمنزلة الكلام (في الأصح) وقيل تلقاء وجهه فرقا بين سلام القطع وسلام السهو قاله فخر الإسلام في الهداية ويأتي بتسليمتين هو الصحيح

(الهداية ج ۱ ص ۱۴۰ / الدرمختارمع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۴۵ /الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۲۵ / مراقي علي صدرطحطاوي ص ۴۶۲ /فتاوی حقانية ج ۳ ص ۵۸ پښتو)

په وترو کښي ددعاء قنوت دپاته کېدو په صورت کښي دلمانځه دراګرځولو حکم.

سوال ۵ : که چیري په وترو کښي د چا څخه دعاءقنوت ویل هېر سي نو د سلام د ګرځولو څخه وروسته دورپیادېدو په صورت کښي به څه طریقه اختیاره کوي؟

جواب : که چیري دوترو په لمانځه کښي دیو چا څخه دعاءقنوت ویل هېر سي او ترسلام ګرځولو څخه وروسته ورپیاد سي نو فوراً به سجده سهوه کوي لمونځ یې مکمل کیږي په دې شرط چي د سلام ګرځولو وروسته یې داسي کارنه وي کړی چي دلمانځه سره منافي وي او که یې سجده سهوه هم هېره سول او یایې د سلام ګرځولو وروسته داسي فعل وکړی چي هغه فعل دلمانځه سره منافي وو نو په دې صورت کښي بیا دلمانځه راګرځول ضروري دي .

لما فی الفتاو ی الهندية : ومنها القنوت فاذا ترکه يجب عليه السهو وترکه يتحقق برفع راسه من الرکوع .

ولما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار : أَيْ لِأَنَّهُ يَشْمَلُ وُجُوبَهَا فِي الْوَقْتِ وَبَعْدَهُ: أَيْ بِنَاءً عَلَى أَنَّ الْإِعَادَةَ لَا تَخْتَصُّ بِالْوَقْتِ. وَظَاهِرُ مَا قَدَّمْنَاهُ عَنْ

شَرْحِ التَّحْرِيرِ تَرْجِيحُهُ، وَقَدْ عَلِمْت أَيْضًا تَرْجِيحَ الْقَوْلِ بِالْوُجُوبِ، فَيَكُونُ الْمُرَجَّحُ وُجُوبَ الْإِعَادَةِ فِي الْوَقْتِ وَبَعْدَهُ،

(ردالمحتار ج ۲ ص ۶۴ باب قضاء الفوائت سعید چاپ/فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۱۲۸ باب سجو دالسهو قدیمي چاپ/خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۱۸۰ سجودالسهو مکتبه رشیدیه/قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۱۲۱ باب سجودالسهو مکتبه رشیدیه/فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۶۶ باب سجودالسهو/دلمانځه مسائل ج ۴ ص ۳۲۲ بحث واو /فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۱۳۳ کتاب الصلوة)

مسبوق دامام سره په آخیره ناسته کښي درود شریف ووایه سجده سهوه سته که یا

سوال۶ : دیو کس څخه یو رکعت تېرسوی وو درېِ رکعته یې دامام سره ونیول نودغه مسبوق په اخیره ناسته کښي دالتحیاتي څخه وروسته درود شریف هم ووایه اوس پوښتنه داده چي پر دغه کس سجده سهوه سته که یا ؟

جواب: که چیري مسبوق (هغه کس چي څه رکعتونه ځیني تېرسوی وي) دامام سره یې په اخیره قعده (ناسته) کښي دالتحیاتي وروسته درود شریف ووایه نو سجده سهوه پر دغه مسبوق نسته او که چیری یو مقتدی دامام په اقتداء کښي داسي فعل وکړي چي په هغه سره سجده سهوه لازمیږي نو پر دغه مقتدي باندي سجده سهوه نسته ځکه چي د مقتدي لپاره دامام داتباع په مخالفت کښي د سجده سهوي اجازه شرعاً نسته

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :

(وَمُقْتَدٍ بِسَهْوِ إمَامِهِ إنْ سَجَدَ إمَامُهُ) لِوُجُوبِ الْمُتَابَعَةِ (لَا بِسَهْوِهِ) أَصْلًا قال العلامة ابن عابدين قَوْلُهُ لَا بِسَهْوِهِ أَصْلًا) قِيلَ لَا فَائِدَةَ لِقَوْلِهِ أَصْلًا، وَلَيْس بِشَيْءٍ، بَلْ هُوَ تَأْكِيدٌ لِنَفْيِ الْوُجُوبِ لِأَنَّ مَعْنَاهُ لَا قَبْلَ السَّلَامِ لِلُزُومِ مُخَالَفَةِ الْإِمَامِ وَلَا بَعْدَهُ لِخُرُوجِهِ مِنْ الصَّلَاةِ بِسَلَامِ الْإِمَامِ لِأَنَّهُ سَلَامُ عَمْدٍ مِمَّنْ لَا سَهْوَ عَلَيْهِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۸۲ باب سجود السهو سعيد چاپ/بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۷۵ فصل بيان من يجب سجودالسهو ومن لايجب بيروت/البحرالرائق ج ۲ ص ۱۰۸ باب سجود السهو بيروت/خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۱۷۳ باب سجودالسهو رشيديه/ستاسومسائل اودهغوی حل ج ۴ ص ۶۹ باب سجودالسهو/دلمانځه مسائل ج ۴ ص ۷۸)

داولي ناستي په کولو اونه کولو کښې لمونځ کوونکي ته شک پيداسو .

سوال۷: يو کس ته په لمانځه کي اشتباه پيدا سوله چي ما به اوله ناسته کړې وي که به مي نه وي کړې داسي کس به څه کوي لمونځ راوګرځوي که بله څه طريقه سته شرعًا؟

جواب: تر فکر او سوچ وروسته که د ده غالبه ګمان داسو چي اوله ناسته مي نه ده کړې، نو دي سجده سهوه په اخر کي د لمانځه وکړي لمونځ يې صحيح دی او که يې دا غالبه ګمان سو چي کړې مي ده بيا سجده سهوې ته هم ضرورت نسته .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وجب عليه سجود السهو في) جميع (صور الشك) سواء عمل بالتحري أو بنى على الأقل فتح لتأخير الركن، لكن في السراج أنه يسجد للسهو في أخذ الأقل مطلقا، وفي غلبة الظن إن تفكر قدر ركن.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۹۴ باب سجود السهو مكتبه شامله /الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۳۱ الباب الثاني عشر في سجود السهو / الهداية ج ۱ ص ۱۴۳ مكتبه حنفيه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۳۳)

يو کس سجده سهوه تر التحياتي ويلو مخکي اداء کړه .

سوال۸: پر يو کس باندي په لمانځه کي سجده سهوه لازمه سوه سجده سهوه خو تر التحياتي وروسته کيږي ليکن ده د التحياتي تر ويلو مخکي وکړه آيا د دغه کس لمونځ صحيح دی که به يې د سره بيرته راګرځوي ؟

جواب: که دغه سړي دغه سجده سهوه قصدًا او ارادةً تر التحياتي ويلو مخکي وکړه، نو لمونځ به بيا د سره راګرځوي، او که په سهوه او خطا سره يې سجده سهوه تر التحياتي مخکي وکړه نو هغه ځانته صورتونه لري مثلا (۱) که د التحياتي په اندازه يې ناسته نه وه کړې نو سجده سهوه په غير محل کي راغله معتبره او صحيح نه ده تر

التحیاتي وروسته به یې بیا کوي او که یې ونه کړه لمونځ به د سره راګرځوي (۲) لیکن که د تشهد په اندازه کښېنستی بیا یې سجده وکړه البته نه یې التحیاته وویل او نه یې د سجدې لپاره سلام وګرځوی بس دغسې سیدا ولاړی سجدې ته لمونځ یې صحیح دی بله سجده نه غواړي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :ولو سجد قبل السلام جاز وكره تنزيها . وقال ابن عابدين : تحت قوله جاز : هو ظاهر الرواية . وفى المحيط وروى عن اصحابنا انه لايجزيه ويعيده بحر .

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۵۴۶ / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۱۲۳ / خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۱۷۳ / البحز الرائق ج ۲ ص ۱۶۳ / فتاوى رحيميه ج ۵ ص ۲۱۷)

په ناسته کښي دالتحیاتي پرځای په هیره سره سورت ویل

سوال ۹ : که چیري یو څوک په ناسته کښي په هیره سره دالتحیاتي پر ځای یو سورت ووایي نو څه به کوي ؟

جواب : داسي شخص چي دالتحیاتي پر ځای باندي په ناسته کښې په هیره سره سورت ووایي نوپرده باندي سجده سهوه کول لازم ده .

ولو قرا الفاتحة او آية من القرآن فى القعدة او فى الركوع او فى السجود او قرآ التشهد فى الركوع او فى السجود كان عليه السهو .

(فتاوى قاضيخان ج ۱ ص ۵۸ فتاوى هاديه ص ۴۴ كتاب الطهارة)

دیوکس څخه چي دعا قنوت هیرسي په رکوع کښي یي په یاد سي

سوال ۱۰ : که دیو شخص څخه دعا قنوت په ولاړي کښي هیرسو او په رکوع کښي یي په یاد سو نو داسي کس به لمونځ څنګه پوره کوي ؟

جواب : داسي کس چي دعا قنوت یي په ولاړي کښي هیر سو او بیا یي په رکوع کښي په یاد سو نو دی دي نه په رکوع کښي دعا قنوت وایي او نه دي هم ددعا قنوت دپاره بیرته ولاړي ته راګرځي بلکي خپله رکوع دي پوره کړي سجدې ته دي ولاړسي او په آخره کښي دي سجده سهوه وکړي لمونځ یي تام دی .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :ولو نسيه القنوت ثمّ تذكر هـ فی الركوع لايقنت فيه لفوات محله ولايعود الى القيام فی الاصح....... ويسجد للسهو قنت اولا ...

[ردالمحتار ج ۱ ص ۴۵۰ / ارشاد الاحکام ص ۹۷ ردالمحتار هامش الدرالمختار ج ۱ ص ۵۴۵ / فتاوی فریدیه ج ۲ ص ۵۳۹]

په لمانځه کښې تش رکعتونه ډک کول .

سوال ۱۱ : که چیرې یو څوک په څلور رکعتیزه لمانځه کښې آخري دوه تش رکعتونه هم ډک کړي نو ایا په دغه عمل سره پر دغه کس باندې سجده سهوه لازمیږي که یا ؟

جواب : تش رکعتونه ډک ویل په دې سره سجده سهوه نه لازمیږي البته مکروه تنزیهي عمل دی باید په آینده کښې تکرار نه سي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فی الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَهَلْ يُكْرَهُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ؟ الْمُخْتَارُ لَا . وقال العلامة ابن عابدين : (قَوْلُهُ الْمُخْتَارُ لَا) أَيْ لَا يُكْرَهُ تَحْرِيمًا بَلْ تَنْزِيهًا لِأَنَّهُ خِلَافُ السُّنَّةِ. قَالَ فِي الْمُنْيَةِ وَشَرْحِهَا: فَإِنْ ضَمَّ السُّورَةَ إلَى الْفَاتِحَةِ سَاهِيًا يَجِبُ عَلَيْهِ سَجْدَتَا السَّهْوِ فِي قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ لِتَأْخِيرِ الرُّكُوعِ عَنْ مَحَلِّهِ وَفِي أَظْهَرِ الرِّوَايَاتِ لَا يَجِبُ لِأَنَّ الْقِرَاءَةَ فِيهِمَا مَشْرُوعَةٌ مِنْ غَيْرِ تَقْدِيرٍ، وَالِاقْتِصَارُ عَلَى الْفَاتِحَةِ مَسْنُونٌ لَا وَاجِبٌ. اهـ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۳۳۸ باب صفة الصلوة قبيل مطلب كل شفع من النفل . رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۲۹۶ باب سجود السهو / فتاوی رحيميه ۵ ص ۲۱۰ باب احكام سجدة السهو /)

سجده سهوه یې هیره سوې وه بیا یې په بل وخت کښې په یاد سوه .

سوال ۱۲ : پر یوه شخص سجده سهوه لازمه سوه خو په لمانځه کښې یې اداء کول هیره سوه په بل وخت کښې ورپه یاد سوه ایا بیا به هغه کړی لمونځ راګرځوي که یا ؟

جواب : که چیرې پر یوه شخص باندې سجده سهوه لازمه سوه او بیا یې ترسلام ګرځولو وروسته په یاد سوه مګر خو دی تر اوسه پورې د مسجد څخه نه دی وتلی او نه یې هم د چا سره خبرې کړې دې نو داسې سړی دې اوس دې پر هغه ځای سجده

سهوه وکړي او درود شريف او دعا دي وکړی لمونځ يي پوره سو . ليکن که چيري دی دمسجده څخه ووتی او يا يي ديو چا سره خبري وکړي بيا يي هغه هيره سجده سهوه په ياد سوه نو دهغه لمانځه اعاده اوراګرځول واجب دي اوکه يي راونه ګرځوي نو لمونځ يي دکراهت تحريمي سره اداء سو .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :لها واجبات لاتفسد بتركها وتعاد وجوباً فى العمد والسهو ان لم يسجد له وان لم يعده يكون فاسقا آثماً الخ ...

وفى حاشية الطحطاوي على مراقى الفلاح :ولو نسي السهو أو سجدة صلبية أو تلاوية يلزمه ذلك ما دام في المسجد أي ولم يوجد منه مناف فإن وجد منه مناف أو خرج من المسجد قبل قضاء ما نسيه فسدت صلاته إن كان عليه سجدة صلبية اهـ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ١ ص ٤٥٦ واجبات الصلوة / مراقي الفلاح علي هامش الطحطاوی ج ١ ص ٤٧٢ باب سجود السهو شامله / المبسوط للسرخسي ج ١ ص ٢٢٧ باب سجود السهو مکتبه شامله / فتاوی حقانيه ج ٢ ص ٥٣٧ / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ٤ ص ٣٠٤ باب سجدة السهو)

په اوله ناسته کښې دتشهد څخه وروسته درود ويل او دهغه حکم .

سوال ١٣: که چيري يو کس په څلور رکعتيزه لمانځه کښې په اوله ناسته کښې دالتحياتي څخه وروسته اللهم صل يعني درود شريف ووايې نو سجده سهوه باندي لازميږي که يا ؟

جواب : داسي کس چي په اوله ناسته کښې دالتحياتي څخه وروسته اللهم صل يعني درود شريف ووايي سجده سهوه باندي لازمه ده .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَتَأْخِيرِ قِيَامٍ إلَى الثَّالِثَةِ بِزِيَادَةٍ عَلَى التَّشَهُّدِ بِقَدْرِ رُكْنٍ) وَقِيلَ بِحَرْفٍ. وَفِي الزَّيْلَعِيِّ: الْأَصَحُّ وُجُوبُهُ بِاللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّد .....

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ١ ص ٥٤٨ باب سجود السهو طبع رشيديه / البحرالرائق ، قاضيخان ص ١٢١ / فتاوی ١ ص ١٢٧ / فتاوی دارالعلوم ديو بند ج ٤ ص ٣٢٨ / ارشاد الاحکام ص ٧٣)

په څلور رکعتیزه یا درې رکعتیزه لمانځه کښې چې اوله ناسته پاته سي .

سوال ۱۴ : که چیري دیو کس څخه په درې رکعتیزه یا څلور رکعتیزه لمانځه کښې اوله ناسته پاته سي نو سجده سهوه کول لازمیږي که یا ؟

جواب : اوله ناسته په درې رکعتیزه یا څلور رکعتیزه لمانځه کښې واجب ده نو لهذا که د چا څخه دغه اوله ناسته پاته سي دهغه پر ذمه باندي سجده سهوه کول لازم ده د سجده سهوي په کولو سره يې لمونځ صحیح کیږي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَالْقُعُودُ الْأَوَّلُ) وَلَوْ فِي نَفْلٍ فِي الْأَصَحِّ . وقال العلامة ابن عابدين : لِأَنَّهُ وَإِنْ كَانَ كُلُّ شَفْعٍ مِنْهُ صَلَاةً عَلَى حِدَةٍ حَتَّى افْتَرَضَتْ الْقِرَاءَةُ فِي جَمِيعِهِ، لَكِنَّ الْقَعْدَةَ إنَّمَا فُرِضَتْ لِلْخُرُوجِ مِنْ الصَّلَاةِ، فَإِذَا قَامَ إلَى الثَّالِثَةِ تَبَيَّنَ أَنَّ مَا قَبْلَهَا لَمْ يَكُنْ أَوَانَ الْخُرُوجِ مِنْ الصَّلَاةِ فَلَمْ تَبْقَ الْقَعْدَةُ فَر يضَةً.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۶۵ واجبات الصلوة / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۱۷۷ باب عشر الصلوة السهو / البحرالرائق ج ۲ ص ۹۵ باب سجود السهو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۶۳ باب سجود السهو / ارشاد الاحکام ص ۷۵)

په وترو کښې يې اللهم انا (دعا قنوت) ویل هیر سوه .

سوال ۱۵ : که چیري دیو کس څخه په وترو کښې دعا قنوت (اللهم انا) ویل هیر سي نو شرعا څه مسؤلیت دغه کس ته راجع کیږي ؟

جواب : په وترو کښې دعا قنوت ویل واجب دي که دیو چا څخه دعا قنوت ویل هیر سي نو پر هغه کس باندي سجده سهوه کول واجب ده .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار: وَلَوْ نَسِيَهُ أَيْ الْقُنُوتَ (ثُمَّ تَذَكَّرَهُ فِي الرُّكُوعِ لَا يَقْنُتُ) فِيهِ لِفَوَاتِ مَحَلِّهِ (وَلَا يَعُودُ إلَى الْقِيَامِ) فِي الْأَصَحِّ لِأَنَّ فِيهِ رَفْضَ الْفَرْضِ لِلْوَاجِبِ (فَإِنْ عَادَ إلَيْهِ وَقَنَتَ وَلَمْ يُعِدْ الرُّكُوعَ لَمْ تَفْسُدْ صَلَاتُهُ) لِكَوْنِ رُكُوعِهِ بَعْدَ قِرَاءَةٍ تَامَّةٍ (وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ) قَنَتَ أَوَّلًا لِزَوَالِهِ عَنْ مَحَلِّهِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳ باب الوتر والنوافل بیروت چاپ / فتاوی عثماني ج ۱ ص ۵۰۴ باب الصلوة)

دسهار په لمانځه کښې خطاوتي دريم رکعت يې هم ورسره يو ځای کړی .

سوال ۱۶ : يو کس دسهار لمونځ کوی چي خطاوتی ددوهم رکعت دناستي ځخه وروسته و دريم رکعت ته ولاړ سو هغه يې هم ورسره وکړی ايا اوس څلورم رکعت هم ورسره ګډ کړي که د دريم ځخه وروسته کښيني ځکه که څلورم ورګډ کړي نو دوه به نفل سي او دسهار تر لمانځه وروسته خو بيا نفل نسته نو بايد داسي کس څه وکړي ؟

جواب : داسي کس دي ددريم رکعت وروسته څلورم رکعت هم ورګډ کړي په آخره کښې دي سجده سهوه وکړي لمونځ يې صحيح دی . خو داحکم هغه وخت دی چي دی پر دوهم رکعت باندي کښېنستلی وي او که دی پر دوهم رکعت نه کښېنستی سيدا ولاړ سو نو بيا يې فرض باطل سوله دغه نفل دي څلور رکعته پوره کړي وروسته دي فرض په بل نيت سره اداء کړي .

او داخبره چي دصبح صادق ځخه تر لمر ختلو پوري نفل نسته دلته نفل تر لمر ختو مخکښې راغله ددې جواب دادی چي دلته دوه کراهته سره په تضاد او مقاومت کښې راغله يو داچي که چيري دغه کس دا څلورم رکعت ورسره يو ځای نه کړي نونفل لمونځ به يې يو رکعت سي او دې ته (بُتَيرًا) ويل کيږي يعني يو رکعت نفل ، او يو رکعت نفل کول مکروه دي . اوبل مکروه والی دسهار دوخت په خاطر دی (يعني دا بل رکعت ورګډول دسهار دوخت په خاطر مکروه دی) نو دادوه کراهتونه په ټکر کښې راغله نتيجه يې مباح والی سو يعني دريم رکعت ورسره ګډول مباح سو . علماء په دغه تحقيق باندي ښه پوهيږي . دغه مسئله صاحب د (مراقي الفلاح شرح نور الايضاح) په باب سجود السهو کښې ښه په تفصيل سره راخيستي ده .

ولا كراهة في الضم فيهما" أي صلاة الفجر والمغرب لأنه تعارض كراهة التنفل بالبتيراء وكراهة الضم للوقت فتقاوما وصار كالمباح "على الصحيح" لعدم القصد حال الشروع كمن صلى ركعة تجهد فطلع الفجر يتم بلا كراهة "ولا يسجد للسهو" لتر ك القعود في هذا الضم "في الأصح" لأن النقصان بالفساد لا ينجبر بالسجود ولو اقتدى به أحد حال الضم ثم قطع لزمه ست ركعات في التي كانت رباعية لأنه المؤدي بهذه التحريمة وسقوطه عن

الإمام للظن ولم يوجد في حقه بخلاف ما إذا عاد الإمام إلى القعود بعد اقتدائه حيث يلزمه أربع ركعات لأنه لما عاد جعل كأن لم يقم "وإن قعد" الجلوس "الأخير" قدر التشهد "ثم قام" ولو عمدا وقرأ وركع "عاد" للجلوس لأن ما دون الركعة بمحل الرفض "وسلم" فلو سلم قائما صح وترك السنة لأن السنة التسليم جالسا "من غير إعادة التشهد" لعدم بطلانه بالقيام وقال الناطفي يعيده وإذ مضى على نافلته الزائدة فالصحيح أن القوم لا يتبعونه لأن لا اتباع في البدعة وينتظرونه قعودا فإن عاد قبل تقييده الزائدة بسجدة اتبعوه في السلام "فإن سجد" سلموا للحال و "لم يبطل فرضه" لوجود الجلوس الأخير "وضم" استحبابا وقيل وجوبا "إليها" أي إلى الزائدة ركعة "أخرى" في المختار "لتصير الزائدتان" له؟؟ نافلة" ولا تنوب عن سنة الفرض في الصحيح لأن المواظبة عليها بتحريمه مبتدأة؟؟ ولو اقتدى به أحد يصلي ستا عند محمد لأنه المؤدي بهذه التحريمة وعندهما ركعتين لأنه استحكم خروجه عن الفرض ولا قضاء عليه لو أفسد عند محمد كإمامه وقضى ركعتين عندهما وعليه الفتوى لأن السقوط بعارض يخص الإمام "وسجد للسهو" لتأخير السلام .

(مراقي الفلاح شرح نورالايضاح مع حاشية الطحطاوي ص ۴۶۹ مكتبه رشيديه)

سجده سهوه پر لمونځ كوونكي باندي په كوم شي سره لازميږي ؟

سوال ۱۷ : سجده سهوه پر لمونځ كوونكي باندي په كوم يو عمل سره لازميږي ؟

جواب : دامام ابوحنيفه رحمه الله تعالى دمذهب فقهاوو او علماوو دسجده سهوي دواجبېدلو او لازميدلو اصول دري شيان ليكلي دي : چي دفرضو په ځنډ او تاخير سره ، يا دواجبو په ځنډ او تاخير سره ، يا دواجبو په پرېښودلو سره سجده سهوه لازميږي . دغه يې اصول دي ددغه اصولو فروعات او جزئيات ډير زيات دي چي دفقهي كتابونو ذكر كړي دي .

وفى الفتاوى الهندية : وَلَا يَجِبُ السُّجُودُ إلَّا بِتَرْكِ وَاجِبٍ أَوْ تَأْخِيرِهِ أَوْ تَأْخِيرِ رُكْنٍ أَوْ تَقْدِيمِهِ أَوْ تَكْرَارِهِ أَوْ تَغْيِيرِ وَاجِبٍ بِأَنْ يَجْهَرَ فِيمَا يُخَافَتُ وَفِي الْحَقِيقَةِ وُجُوبُهُ بِشَيْءٍ وَاحِدٍ وَهُوَ تَرْكُ الْوَاجِبِ، كَذَا فِي الْكَافِي. .... وكذا فى الهداية وغيرها .

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۲۶ الباب الثاني عشر في سجود السهو / الهداية ج ۱ ص ۱۴۰ باب سجود السهو امير حمزه کتاب خانه / البحر الرائق ج ۲ ص ۱۶۲ کتاب الصلاة باب سجود السهو مکتبه حبيبيه / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۴ ص ۵۱ باب سجود السهو)

مسبوق مقتدي دامام سره سلام وګرځوی لمونځ څنګه سو ؟

سوال ۱۸: ديو شخص څخه يو رکعت تېر سوی ؤ په امام پسي يې اقتداء وکړه خو څه وخت چي امام سلام وکرځوی ده هم سهوا سلام ورسره وګرځوی وروسته يې خپل لمونځ پوره کړی اوس پوښتنه دا ده چي دغه لمونځ صحيح سو که يا ؟

جواب: دنو موړي شخص لمونځ پر دغه طريقه صحيح دی دراګرځولو ضرورت يې نسته که يې چيري دامام سره سلام ګرځولی ؤ نو سجده سهوه هم نه غواړي البته که يې دامام څخه وروسته سلام وګرځوی نو بيا سجده سهوه لازميږي .

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَلَوْ سَلَّمَ سَاهِيًا) قَيَّدَ بِهِ لِأَنَّهُ لَوْ سَلَّمَ مَعَ الْإِمَامِ عَلَى ظَنٍّ أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ مَعَهُ فَهُوَ سَلَامٌ عَمْدٌ فَتَفْسُدُ كَمَا فِي الْبَحْرِ عَنْ الظَّهِيرِيَّةِ (قَوْلُهُ لَزِمَهُ السَّهْوُ) لِأَنَّهُ مُنْفَرِدٌ فِي هَذِهِ الْحَالَةِ ح .(قَوْلُهُ وَإِلَّا لَا) أَيْ وَإِنْ سَلَّمَ مَعَهُ أَوْ قَبْلَهُ لَا يَلْزَمُهُ لِأَنَّهُ مُقْتَدٍ فِي هَاتَيْنِ الْحَالَتَيْنِ .وَفِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ عَنْ الْمُحِيطِ إنْ سَلَّمَ فِي الْأُولَى مُقَارِنًا لِسَلَامِهِ فَلَا سَهْوَ عَلَيْهِ لِأَنَّهُ مُقْتَدٍ بِهِ ، وَبَعْدَهُ يَلْزَمُ لِأَنَّهُ مُنْفَرِدٌ ا ه .ثُمَّ قَالَ : فَعَلَى هَذَا يُرَادُ بِالْمَعِيَّةِ حَقِيقَتُهَا وَهُوَ نَادِرُ الْوُقُوعِ .قُلْت : يُشِيرُ إلَى أَنَّ الْغَالِبَ لُزُومُ السُّجُودِ لِأَنَّ الْأَغْلَبَ عَدَمُ الْمَعِيَّةِ ، وَهَذَا مِمَّا يَغْفُلُ عَنْهُ كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ فَلْيُتَنَبَّهْ لَهُ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۴۳ مکتبه رشيديه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۴۲۲ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۹۱ مکتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۱۷۶ مکتبه رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۳ ص ۳۴۴ پښتو / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۵۰۳ پښتو)

په دريم رکعت کي يو آيت په زوره ويل دامام څخه ؟

سوال ۱۹: د ماخوستن په فرض لمانځه کي امام په دريم رکعت کي يو آيت د الحمد لله شريفي جهرا او په زوره سره ووايه ايا سجده سهوه لازميږي که يا؟

جواب: د فرضو په آخري دوو رکعتو کي اخفاء او کرار والی کول واجب دی په داسي صورت کښي که يو چا په شمول د حذف کړی سوو حروفو د يرش حرفه يا تر هغه

زیات تلاوت کړل نو سجده سهوه لازمه ده لیکن دېرش حروفه د الرحیم پر دغه مشدده (را) باندې پورا کیږي نه مخکي نو صرف د یوه ایت په جهرا ویلو سره سجده سهوه نه لازمیږي کماذکره الشیخ المفتي رشید احمد رحمه الله تعالی

لماقال ابن عابدين شامي رحمه الله في ردالمحتار : قوله (والجهر فيما يخافت فيه للإمام الخ) في العبارة قلب وصوابها والجهر فيما يخافت لكل مصل وعكسه للإمام وهذا ما صححه في البدائع والدرر ومال إليه في الفتح وشرح المنية والبحر والنهر والحلية على خلاف ما في الهداية والزيلعي وغيرهما من أن وجوب الجهر والمخافتة من خصائص الإمام دون المنفرد والحاصل أن الجهر في الجهرية لا يجب على المنفرد اتفاقا وإنما الخلاف وجوب الإخفاء عليه في السرية وظاهر الرواية عدم الوجوب كما صرح بذلك في التاترخانية عن المحيط وكذا في الذخيرة وشروح الهداية كالنهاية والكفاية والعناية ومعراج الدراية وصرحوا بأن وجوب السهو عليه إذا جهر فيما يخافت رواية النوادر ا هـ فعلى ظاهر الرواية لا سهو على المنفرد إذا جهر فيما يخافت فيه وإنما هو على الإمام فقط

لما فى الهندية : وَمِنْهَا الْجَهْرُ وَالْإِخْفَاءُ حتى لو جَهَرَ فِيمَا يُخَافَتُ أو خَافَتَ فِيمَا يُجْهَرُ وَجَبَ عليه سُجُودُ السَّهْوِ وَاخْتَلَفُوا في مِقْدَارِ ما يَجِبُ بِهِ السَّهْوُ مِنْهُمَا قِيلَ يُعْتَبَرُ في الْفَصْلَيْنِ بِقَدْرِ ما تَجُوزُ بِهِ الصَّلَاةُ وهو الْأَصَحُّ

وفى التبين الحقائق : وَمِنْهَا الْجَهْرُ وَالْإِخْفَاءُ حتى لو جَهَرَ فِيمَا يُخَافِتُ أو خَافَتَ فِيمَا يَجْهَرُ وَجَبَ عليه سُجُودُ السَّهْوِ وَاخْتَلَفُوا في مِقْدَارِ ما يَجِبُ بِهِ السَّهْوُ مِنْهُمَا فَقِيلَ إنْ جَهَرَ فِيمَا يُخَافِتُ فَعَلَيْهِ السَّهْوُ قَلَّ أو كَثُرَ وَإِنْ خَافَتَ فِيمَا يَجْهَرُ يَنْظُرُ فَإِنْ خَافَتَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ أو أَكْثَرِهَا فَعَلَيْهِ السَّهْوُ وَإِنْ خَافَتَ في أَقَلِّهَا فَلَا سَهْوَ عليه وَإِنْ كان من سُورَةٍ أُخْرَى فَيُعْتَبَرُ قَدْرُ ما تَجُوزُ بِهِ الصَّلَاةُ على اخْتِلَافِهِمْ فيه

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۵۴۸ مکتبه حبیبیه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۴۰۶ مکتبه رشیدیه/ الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۱۲۸ مکتبه رشیدیه تبین الحقائق ج ۱ ص ۴۷۶ مکتبه اشرفیه / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۱۰۹ مکتبه حبیبیه/ احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۸ باب سجود السهو الفرقان مکتبة اردو)

که لمونځ کوونکي په هېره سره په اول یا دریم رکعت کي کښېناستي ؟

سوال ۲۰: که چیري یو لمونځ کوونکی پر اول رکعت په هېره سره کښېني یا پر دریم رکعت په هېره سره کښېني نو په څومره مقدار ناستي سره سجده سهوه پر واجبېږي یو کس وائې چي مطلقا په ناستي سره سجده سهوه واجبېږي که څه هم دغه لمونځ کوونکي ځنډ نه وي کړی او د منیة المصلي کتاب حواله ورکوي چي په هغه کتاب کي داسي راغلي دي

جواب: حواله چي دغه کس و منیة المصلي ته ورکړې ده صحیح ده هلته دغه خبره ذکر ده مطلقا یې په ناستي سره سجده سهوه واجبه کړې ده مګر صحیح او راجح قول دا دی چي د درې واره د سبحان ربی الاعلیٰ د ویلو په اندازه او مقدار چي دی کښېني ځنډ وکړي بیا سجده سهوه واجبه ده په معمولي ناستي سره او بیا په دستي ولاړېدو سره سجده سوه نه واجبېږي ځکه چي وجوب د سجده سهوي خو د ولاړي د ځنډ د وجي دی او دغه ځنډ هغه معتبر دی چي په قدر د لنډ رکن وي.

لما قال العلامة المؤلف أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي - توفي ١٢٣١ هـ في حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح: وجب عليه سجود السهو" إذا شغله التفكر عن أداء واجب بقدر ركن .... وهو مقدر بثلاث تسبيحات ثم أن محل وجوب سجود السهو إذا لم يشتغل حالة الشك بقراءة ولا تسبيح .

(حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ج ١ ص ٤٧٤ كتاب الصلاة باب سجود السهو مكتبه شامله / البحر الرائق باب سجود السهو ج ٢ ص ٧٣ مكتبه رشيديه ردالمحتار باب سجود السهو ج ٢ ص ٩٤ مكتبه شامله / فتاوى محموديه ج٧ ص ٤١٢ باب سجود السهو / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج٤ ص ٣٠٤)

که چیري التحیاته یا درود شریف تکرار سي ؟

سوال ۲۱: که چیري د یو چا څخه په اخري ناسته کي د لمانځه التحیاته یا درود شریف دوه واره وویل سوه په قصد یا په خطا سره سجده سهوه پر دغه کس واجب ده که یا؟

جواب: پر دغه کس سجده سهوه نه ده واجب ځکه چې دا محل او موقع د دعاء او د ثناء ده هيڅ پروا نه لري هر څومري چې ناسته اوږده سي.

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق ولو كرر التشهد في القعدة الاخيرة فلا سهو عليه.

(البحر الرائق باب سجود السهوج ٢ ص ١٧٢ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوى علي مراقي الفلاح كتاب الصلوة باب سجود السهوص ٤٦١ قديمي كتاب خانه / الحلبي الكبير فصل في سجود السهو ص ٤٦٠ سهيل كتابخانه / فتاوى محموديه ج ٧ ص ٤٣٥ باب سجود السهو)

په لمانځه کې د سورت فاتحې دوه اياتونه پاته سول.

سوال ٢٢: په لمانځه کې د يو چا څخه که امام وي او که منفرد يو يا دوه اياتونه د الحمد لله شريفې پاته سي ايا سجده سهوه واجب ده که يا؟

جواب: په شرح کې د تنوير راغلي دي چې که د سورت فاتحې اکثر آياتونه پاته سي سجده سهوه واجب ده او تر دې په کمو سره سجده سهوه نه واجبېږي ليکن فتوی پر هغه قول ده چې مجتبٰی کتاب ذکر کړيدي که چيري د يو چا څخه سهوًا يو آيت هم په الحمد لله کې پاته سي پر هغه سجده سهوه واجب ده که امام وي که منفرد بلکه که يو حرف هم پاته سي سجده سهوه واجب ده ځکه د ټولي الحمد لله ويل په لمانځه کې واجب ده او چې يو حرف هم کم سي بيا کامله او پوره الحمد لله نه ده.

لما قال العلامة المؤلف الحصكفى رحمه الله تعالى فى الدرالمختار: (وهي) على ما ذكره أربعة عشر (قراءة فاتحة الكتاب) فيسجد للسهو بترك أكثرها لا أقلها، لكن في المجتبى يسجد بترك آية منها وهو أولى و لما قال العلامة المؤلف ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ١٢٥٢هـ) فى رد المحتار على الدر المختار: (قوله وعليه) أي وبناء على ما في المجتبى فكل آية واجبة، وفيه نظر لأن الظاهر أن ما في المجتبى مبني على قول الإمام بأنها بتمامها واجبة وذكر الآية تمثيل لا تقييد إذ بترك شيء منها آية أو أقل ولو حرفا لا يكون آتيا بكلها الذي هو الواجب، كما أن الواجب ضم ثلاث آيات، فلو قرأ دونها كان تاركا للواجب أفاده الرحمتي.

(ردالمحتار علي الدر المختار ج ۱ ص ۴۵۸ باب سجود السهو /البحر الرائق ج ۲ ص ۱۶۶ باب سجود السهو مکتبه رشیدیه / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۲۴۸ فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۸ باب سجود السهو)

بېله سلامه ګرځولو سجده سهوه څنګه ده ؟

سوال ۲۳: پر یو کس په لمانځه کي سجده سهوه واجب سول لیکن د سلام ونه ګرځوی یوه طرف ته بېله سلامه ګرځولو یې سجده سهوه اداء کړه ایا دغه سجده سهوه صحیح ده که یا ؟

جواب: د دغه سړي لمونځ صحیح دی لیکن په قصد سره سلام پرېښودل او بېله سلامه سجده سهوه اداء کول مکروه کار دی یعني مکروه تنزیهي عمل دی باید پرهېز ځیني وسي.

لما قال العلامة المؤلف ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ۱۲۵۲ھ) فی رد المحتار على الدر المختار: ولو سجده قبل السلام و جاز كره تنزيهًا.

(ردالمحتار علي الدر المختار ج ۲ ص ۲۸ باب سجود السهو مکتبه شامله / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۱۷۳ / فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۲۱۷ احکام سجود السهو / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۴۱ باب سجود السهو اردو)

سجده سهوه نه وه لازمه ده وکړله .

سوال ۲۴: یو کس پر لمانځه ولاړ دی داسي عمل یې تر سره کړی چي په هغه سره سجده سهوه نه لازمېږي لیکن ده فکر وکړی چي سجده سهوه را باندي لازمه سوله او اداء یې کړه بیا وروسته ورته معلومه سوه چي سجده سهوه نه وه آیا د دغه کس لمونځ صحیح سو که یا ؟

جواب: په خلاصة الفتاوی او په رد المحتار کښي د دغه مسئلې پر برابر داسي لیکلي دي که یو چا په دغه نیت سجده سهوه اداء کړه چي د ده په فکر پر ده سجده سهوه لازمه ده وروسته ورته معلومه سوه چي سجده سهوه نه وه پر لازمه که دغه کس امامؤ نو د ده او په ده پسي ولاړ د مدرکینو مقتدیانو لمونځونه صحیح دي او د

مسبوق په لمانځه کښې اختلاف دی چې صحیح دی که فاسد مشهوره روایت دا دی چې د مسبوق لمونځ فاسد دی، او یو روایت دا دی چې صحیح دی او فتوی هم پر دغه قول ده. احتیاط د مسبوق لپاره دا دی چې لمونځ را وګرځوي او د نه راګرځولو ګنجائش یې هم سته او همدغه حکم د منفرد دی.

لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : ولو ظن الإمام السهو فسجد له فتابعه فبان أن لا سهو فالأشبه الفساد لاقتدائه في موضع الانفراد.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قوله فالأشبه الفساد) وفي الفيض: وقيل لا تفسد وبه يفتي. وفي البحر عن الظهيرية قال الفقيه أبو الليث: في زماننا لا تفسد لأن الجهل في القراء غالب. اهـ. والله أعلم.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۹۹ باب الامامة مکتبه شامله / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۱۶۳ / امدادالاحکام ج ۱ ص ۵۶۲ / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۴۵۴ باب سجود السهو ج ۲۲ ص ۲۲۶ یای سجود السهو / الحلبي الکبیر فصل في سجود السهو ص ۴۶۵ سهیل اکیډمي)

په ولاړه کښې دسورت فاتحې پر ځای باندې درود شریف (اللهم صل) ځیني وویل سو.

سوال ۲۵ : یو کس پر لمانځه باندې ولاړ دی د سورت فاتحې پر ځای باندې درود شریف (اللهم صل) ځیني وویل سوه لمونځ یې صحیح دی که یا ؟ .

جواب : په دغه ذکر سوې صورت کښې یې لمونځ صحیح دی په آخره کښې دې سجده سهوه وکړې . وجه یې داده چې سجده سهوه هغه وخت پر لمونځ کوونکي باندې لازمیږي چې په لمانځه کښې واجب پاته سي ، یا په فرضو کښې ځنډ راسي ، او یا په واجبو کښې ځنډ راسي . لهذا دغه کس خوبه یا سورة فاتحه پر مخ باندې نه وي ویلې ، او یا به یې ویلې وي خو د ځنډ سره او سورة فاتحه په لمانځه کښې ویل واجب ده نو په دواړو صورتو کښې (چې ځنډ دی که ترک دی) سجده سهوه لازمیږي .

وفی الفتاوی الهندية : وَلَا يَجِبُ السُّجُودُ إلَّا بِتَرْكِ وَاجِبٍ أَوْ تَأْخِيرِهِ أَوْ تَأْخِيرِ رُكْنٍ أَوْ تَقْدِيمِهِ أَوْ تَكْرَارِهِ أَوْ تَغْيِيرِ وَاجِبٍ بِأَنْ يَجْهَرَ فِيمَا يُخَافَتُ وَفِي الْحَقِيقَةِ وُجُوبُهُ بِشَيْءٍ وَاحِدٍ وَهُوَ تَرْكُ الْوَاجِبِ، كَذَا فِي الْكَافِي. .... وكذا فی الهداية وغيرها .

(الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٢٦ الباب الثاني عشر في سجود السهو / الهداية ج ١ ص ١٤٠ باب سجود السهو امير حمزه كتاب خانه / البحر الرائق ج ٢ ص ١٦٢ كتاب الصلاة باب سجود السهو مكتبه حبيبيه / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ٤ ص ٥١ باب سجود السهو / فتاوى دار العلوم ديوبند ج ٤ ص ٢٩٦ باب سجود السهو)

مسبوق په پاته لمانځه کي خطاوتي سجده سهوه غواړي که يا ؟

سوال ۲۶ : يو شخص مسبوق دی چي کله امام سلام وګرځوی، دی ولاړ سو په خپل پاته لمانځه کي سهوه سوايا دده پر ذمه باندي سجده سهوه لازميږي که يا ؟

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دي مسبوق چي کله په خپل پاته لمانځه کي سهوه سي نو سجده سهوه به کوي دا ځکه چي دا وخت دی دامام تابع نه دی بلکي منفرد دی .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فی ردالمحتار : (وَالْمَسْبُوقُ مَنْ سَبَقَهُ الْإِمَامُ بِهَا أَوْ بِبَعْضِهَا وَهُوَ مُنْفَرِدٌ) (فِيمَا يَقْضِيهِ) أَيْ بَعْدَ مُتَابَعَتِهِ لِإِمَامِهِ،..... وَيَلْزَمُهُ السُّجُودُ إذَا سَهَا فِيمَا يَقْضِيهِ كَمَا يَأْتِي.

(ردالمحتار مع الدر المختار ج ١ ص ٥٩٦ فروع اقتداء متنفل بمتنفل ومن يرى الوتر واجبا بمن يراه سنة مكتبه شامله / حلبي الكبير ص ٤٠٣ مكتبه نعمانيه / فتاوى عبادالرحمن ج ٢ ص ٩٢ كتاب الصلوة)

که يوڅوک دفرضو څلور رکعته ټول ډک وکړي سجده سهوه لازميږي که يا ؟

سوال ۲۷ : که يوڅوک په څلور رکعتيزه فرض لمانځه کي دوه اخيري رکعتونه هم ډک وکړي سجده سهوه لازميږي که يا ؟

جواب : که چيري يو شخص دفرضو په دوو اخري رکعتونوکي دالحمدلله څخه وروسته بل سورة هم وو ايي يعني آخري دوه رکعتونه هم ډک وکړي په دغه حال کي ددغه شخص لمونځ صحيح دی او سجده سهوه نه باندي لازميږي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق : : وَلَوْ ضَمَّ السُّورَةَ إلَى الْفَاتِحَةِ في الأخريين لَا سَهْوَ عليه في الْأَصَحِّ ولما في الهندية : وَلَوْ قَرَأَ في الْأُخْرَيَيْنِ الْفَاتِحَةَ وَالسُّورَةَ لَا يَلْزَمُهُ السَّهْوُ وهو الْأَصَحُّ .

(البحرالرائق ج ۱ ص ۱۶۷ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۲۶ مکتبه رشیدیه / تبین الحقائق ج ۱ ص ۴۷۴ مکتبه دارالکتب العلمیه / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۴۱۲ اردو)

که دچا څخه ددعا قنوت پر ځای داذان دعا وویل سي سجده سهوه لازموي که یا ؟

سوال ۲۸ : که چیري د یوچا څخه په وترو کي ددعا قنوت دویلو پر ځای داذان دعا وویل سي سجده سهوه لازموي که یا ؟

جواب : په داسي صورت کي فقهاء کرامو لیکلي دي چي سجده سهوه نه لازمیږي ځکه چي دقنوت دپاره کومه مخصوصه دعا شرعا لازمه نه ده چي دهغې دترک څخه سجده سهوه لازمه سي یا لمونځ فاسد سي داذان دعا هم یو قسم دعا ده چي دقنوت دپاره کفایت کوي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ۱۲۵۲هـ) فی رد المحتار على الدر المختار : وَذَكَرَ فِي الْبَحْرِ عَنْ الْكَرْخِيِّ أَنَّ الْقُنُوتَ لَيْسَ فِيهِ دُعَاءٌ مُؤَقَّتٌ لِأَنَّهُ رُوِيَ عَنْ الصَّحَابَةِ أَدْعِيَةٌ مُخْتَلِفَةٌ وَلِأَنَّ الْمُؤَقَّتَ مِنْ الدُّعَاءِ يَذْهَبُ بِرِقَّةِ الْقَلْبِ.

(ردالمحتار علي الدر المختار ج ۲ ص ۶ باب الوتر والنوافل سعید چاپ / البحرالرائق باب الوتر والنوافل ج ۲ ص ۷۳ مکتبه رشیدیه / التاتارخانیة کتاب الصلاة ، الوتر ج ۱ ص ۶۷۳ ادارة القرآن کراچي / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۱۶۷ باب الوتر والنوافل)

درکعتو په تعداد کي که څوک شکمن سي .

سوال ۲۹ : که چیري یو څوک څلور رکعته لمونځ کوي بیا شکمن سي چي ما څلور رکعته وکړه که درې په داسي حال کي باید دی څه وکړه .

جواب : که چیري دغه شکمن توب دغه شخص ته داول وار لپاره پیښ سوی وو نو لمونځ دي دسره راوګرځوي او که چیري دغه فکرونه ډېر ډېر ورته پیدا کېدل نو بیا

دي په غالب ګمان سره عمل وکړي يعني دده په غالب ګمان چي څو مره رکعتونه وه هغه صحيح دي والله اعلم.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (كَمْ صَلَّى اسْتَأْنَفَ) بِعَمَلٍ مُنَافٍ وَبِالسَّلَامِ قَاعِدًا أَوْلَى لِأَنَّهُ الْمَحَلُّ (وَإِنْ كَثُرَ) شَكُّهُ (عَمِلَ بِغَالِبِ ظَنِّهِ إنْ كَانَ) لَهُ ظَنٌّ لِلْحَرَجِ (وَإِلَّا أَخَذَ بِالْأَقَلِّ) لِتَيَقُّنِهِ (وَقَعَدَ فِي كُلِّ مَوْضِعٍ تَوَهَّمَهُ مَوْضِعَ قُعُودِهِ) وَلَوْ وَاجِبًا لِئَلَّا يَصِيرَ تَارِكًا فَرْضَ الْقُعُودِ أَوْ وَاجِبَهُ (وَ) اعْلَمْ أَنَّهُ (إذَا شَغَلَهُ ذَلِكَ) الشَّكُّ فَتَفَكَّرَ (قَدْرَ

(الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۵۵۷ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۱۰۷ سعید کتب خانه / فتاوی قاضي خان علي هامش الهندیة ج ۱ ص ۱۲۰ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۳۱۲ پښتو / دلمانځه مسائل ج ۲ ص ۲۹۶ اردو)

په سهوه سره که څوک اول چپه طرف ته سلام وګرځوي بيا يې راسته طرف ته وګرځوي ؟

سوال۳۰ : که چيري يو څوک سهوا او په خطا سره اول چپه طرف ته سلام وګرځوي لمونځ يې شرعا درست دی که يا ؟

جواب : که يو څوک اول چپه طرف ته سلام وګرځوي که يې خبري نه وې کړي نو بيرته دي راسته طرف ته سلام وګرځوي لمونځ يې صحيح دی سجده سهوه هم نه غواړي والله اعلم.

ل لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق :وَلَوْ بَدَأَ بِالْيَسَارِ عَامِدًا أَوْ نَاسِيًا فَإِنَّهُ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ وَلَا يُعِيدُهُ عَلَى يَسَارِهِ وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ، وَلَوْ سَلَّمَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَإِنَّهُ يُسَلِّمُ عَنْ يَسَارِهِ، وَلَوْ سَلَّمَ عَنْ يَمِينِهِ وَنَسِيَ عَنْ يَسَارِهِ حَتَّى قَامَ فَإِنَّهُ يَرْجِعُ وَيَقْعُدُ وَيُسَلِّمُ مَا لَمْ يَتَكَلَّمْ أَوْ يَخْرُجْ مِنْ الْمَسْجِدِ، وَفِي الْمُجْتَبَى وَلَمْ يَذْكُرْ قَدْرَ مَا يُحَوِّلُ بِهِ وَجْهَهُ

(البحرالرائق ج ۱ ص ۳۳۲ مکتبه سعید کراچي / ردالمحتارج ۱ ص ۵۲۴ مکتبه سعید کراچي / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۷۷ مکتبه رشیدیه / دلمانځه مسائل ج ۱ ص ۳۹۷ اردو)

دسنتو یو رکعت تش کول په سهوه سره سجده سهوه لازموي .

سوال ۳۱ : که چیري دیو کس څخه په سنتو کي یو رکعت تش پاته سي یعني سورة الفاتحه و وایي او سورت څني هیرسي نو دا لمونځ صحت لري که یا ؟ او که صحت لري سجده سهوه غواړي که یا ؟

جواب : دسنتو اونفلو په ټولو رکعتونو کي دسورة فاتحه (الحمد لله) څخه وروسته بل سورة یا لږتر لږه دري لنډ ایاتونه ویل واجب دي نو لهذا که چیري یو څوک دسنتو یانفلو په یو رکعت کي یوازي سورة فاتحه و وایي سجده سهوه باندي لازمه ده والله اعلم .

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (وضم) أقصر (سورة) كالكوثر أو ما قام مقامها، هو ثلاث آيات قصار....... (في الأوليين من الفرض) وهل يكره في الأخريين؟ المختار لا (و) في (جميع) ركعات (النفل) لأن كل شفع منه صلاة (و) كل (الوتر) احتياطا وتعيين القراءة (في الأوليين) من الفرض على المذهب

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۵۸ ــ ۴۵۹ سعید چاپ / تبین الحقائق ج ۱ ص ۴۳۲ سعید چاپ / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۲۶ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۱ ص ۳۱۳ مکتبه شامله / دلمانځه مسائل ج ۴ ص ۱۹۵ اردو)

سورت فاتحه په لمانځه کښي په تکرارویل

سوال ۳۲ : که دیو کس څخه په هېره په لمانځه کښي په اولو دوو رکعتو کښي سورت فاتحه دوه واره وویل سوه سجده سهوه لازمه ده که یا ؟

جواب: سورت فاتحه په هېره سره دوهم وار ویل یعني په تکرار سره ویل سجده سهوه واجبوي ځکه چي د سورت په ضم کولو او یوځاي کولو کښي ځنډ راغی او که ئې چیري ترسورت وروسته وویل نو دوهم وار سجده سهوه نه ده لازمه دا سجده سهوه هغه وخت لازمه ده چي په اولو دوو رکعتو کښي پرله پسې تکرار سي لیکن که په اخري دوو رکعتو کښي په تکرار سره وویل سي بیا سجده سهوه نه ده لازمه

وفی الفتاوی الهندیة : وَلَوْ كَرَّرَهَاأي الفاتحةفِي الْأُولَيَيْنِ يَجِبُ عَلَيْهِ سُجُودُ السَّهْوِ بِخِلَافِ مَا لَوْ أَعَادَهَا بَعْدَ السُّورَةِ أَوْ كَرَّرَهَا فِي الْأُخْرَيَيْنِ، كَذَا فِي التَّبْيِينِ.

(الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٢٦ الباب الثاني عشر في سجود السهو مكتبه رشيديه/تبيين الحقائق ج ١ ص ٤٧٣ دار الكتب العلمية بيروت/مجمع الانهر ج ١ ص ٢٢٠ باب سجود السهو/ردالمحتار ج ١ ص ٤٦٠ باب صفة الصلاة سعيد چاپ/فتاوى محموديه ج ٧ ص ٤٠٨ باب سجود السهو)

پر دواړه طرفه ئې سلام وګرځوی بیا ئې سجده سهوه وکړه؟

سوال ۳۳: پر یو شخص سجده سهو واجب سوه خود بده مرغه ئې په اخر کښې د لمانځه هېره سوه اوس به دغه کس څه کوي پر دغه حال به سجده سهوه کوي او که به لمونځ د سره څخه را ګرځوي؟

جواب: تر دواړه سلامه وروسته چې ئې سجده سهوه په یاد سوه په هم هغه دم دې سجده سهوه وکړي بیا دې التحیات او درود او دعا وو ایې لمونځ دې ختم کړي پر دغه طریقه ئې لمونځ صحیح دی، دراګرځولو ضرورت ئې نسته

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :سَلَامُ مَنْ عَلَيْهِ سُجُودُ سَهْوٍ يُخْرِجُهُ مِنْ الصَّلَاةِ خُرُوجًا (مَوْقُوفًا) إنْ سَجَدَ عَادَ إلَيْهَا وَإِلَّا لَاوَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ وَلَوْ مَعَ سَلَامِهِ) نَاوِيًا (لِلْقَطْعِ مَا لَمْ يَتَحَوَّلْ عَنْ الْقِبْلَةِ أَوْ يَتَكَلَّمْ

(ردالمحتار ج ١ ص ٥٥٤ باب سجود السهو مكتبه حبيبيه/خلاصة الفتاوى ج ١ ص ١٧٣ باب سجود اليهو مكتبه رشيديه/كفايت المفتي ج ٣ ص ٤١٦ باب سجود السهو/فتاوى رحيميه ج ٥ ص ١٨٥/فتاوى دار العلوم زكريا ج ٢ ص ٤٥٩ باب سجود السهو/ستاسو مسائل اودهغوی حل ج ٤ ص ٧٥ باب سجود السهو)

که یو کس دراسته طرف پر ځای چپه طرف ته سلام وګرځوی؟

سوال ۳۴: یو کس پر ځای د دې چې راسته طرف ته سلام وګرځوي سهواً ئې پر چپه طرف سلام وګرځوی، نو اوس ئې بېرته راسته طرف ته وګرځوي او بیا ئې چپه طرف ته وګرځوی؟

جواب: دغه کس دې فقط اوس پر راسته طرف سلام وګرځوي چپه طرف ته نو ر د سلام ګرځولو ضرورت نسته او نه د سجده سهوه ضرورت سته

وَلَوْ سَلَّمَ أَوَّلًا عَنْ يَسَارِهِ نَاسِيًا أَوْ ذَاكِرًا يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ وَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُعِيدَهُ عَنْ يَسَارِهِ وَلَيْسَ عَلَيْهِ سَهْوٌ

(الجوهرةالنيرة ج ۱ ص ۵۵ باب صفةالصلاة مکتبه رشيديه/خيرالفتاوی ج ۲ ص ۶۲۳/فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۸۵)

امام تر سورت فاتحې وروسته سوچ او فکر وهي سجده سهوه لازمه ده؟

سوال۳۵: ځني وختونه امام تر سورت فاتحې ورسته تر سورت مخکښې يو څه وخت خاموشه وي فکر وهي ايا په دغه ځنډ سره په لمانځه کښې کوم خلل راځي که يا؟ سجده سهوه لازميږي که يا؟

جواب: کله چې سورت فاتحه ختمه سوله او امين هم وويل سو او تر سورت مخکښې بسم الله الرحمن الرحيم هم وويل سوه او تر دغه شيانو وروسته بياهم امام ديوه رکن دا اداء کولو په اندازه خاموشه پاته وي يعني دومره وخت خاموشه وي چې په اندازه ددرې واره سبحان ربي الاعلي وي نو سجده سهوه پرلازم ده او که ئې سجده سهوه نه وکړه نو دي دلمانځه اعاده وکړي او که تر رکن کم وخت خاموشه سو هيڅ شی نه لازميږي

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار :اعْلَمْ أَنَّهُ (إذَا شَغَلَهُ ذَلِكَ) الشَّكُّ فَتَفَكَّرَ (قَدْرَأَدَاءِ رُكْنٍ وَلَمْ يَشْتَغِلْ حَالَةَ الشَّكِّ بِقِرَاءَةٍ وَلَا تَسْبِيحٍ وَجَبَ عَلَيْهِ سُجُودُ السَّهْوِ

(ردالمحتارج ۱ ص ۵۵۷ باب سجودالسهو مکتبه حبيبيه/البحرالرائق ج ۲ ص ۱۹۶ باب سجودالسهو مکتبه رشيديه/فتاوی عالمگيريه ج ۱ ص ۱۳۱ باب سجودالسهو مکتبه رشيديه/فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۸۹/فتاوی مفتي محمود ج ۲ ص ۴۵۷/فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۷۲ باب سجودالسهو/کفايت المفتي ج ۵ ص ۳۹ باب سجودالسهو)

تر سجده سهوي وروسته التحياته ويل ضروري ده؟

سوال۳۶: تر سجده سهوي وروسته التحياته ويل ضروري ده که يا؟ او فقط درود او اللهمّ ربنا کفايت کوي که يا؟ که يو څوک التحياته ونه وايي لمونځ ئې درست دی که يا؟

جواب: تر سجده سهوي وروسته التحیاته ویل ضروري ده که چیري یو څوک التحیاته ونه وایي لمونځ خوئې صحیح کیږي مګر د واجبو تارک او پرېښوونکی به سي او دلمانځه راګرځول پرده لازم دي د سره څخه

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :و) يَجِبُ أَيْضًا (تَشَهُّدٌ وَسَلَامٌ) لِأَنَّ سُجُودَ السَّهْوِ يَرْفَعُ التَّشَهُّدَ..... أَيْ قِرَاءَتَهُ. حَتَّى لَوْ سَلَّمَ بِمُجَرَّدِ رَفْعِهِ مِنْ سَجْدَتَيْ السَّهْوِ صَحَّتْ صَلَاتُهُ وَيَكُونُ تَارِكًا لِلْوَاجِبِ، وَكَذَا يَرْفَعُ السَّلَامَ إمْدَادٌ

(ردالمحتارج ۱ ص ۶۹۲ باب سجودالسهو مكتبه حبيبيه/فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۹۴/فتاوی عالمګیریه ج ۱ ص ۱۲۵ باب سجودالسهو مكتبه رشيديه/فتاوی ملاعلي قاري ج ۱ ص ۳۶۹ باب سجودالسهو مكتبه رشيديه/محيط البرهاني ج ۲ ص ۵۴ باب سجودالسهو مكتبه غفاريه/الهداية ج ۱ ص ۱۳۹ باب سجودالسهو مكتبه رحمانيه)

په تاخیر د واجب سره سجده سهوه لازمیږي؟

سوال ۳۷: په تاخیر او ځنډ د واجب کښي سجده سهوه واجب ده که یا؟ شرعي حکم پردغه برابر څه دی؟

جواب: سجده سهوه په ترک د واجب سره لازمیږي لیکن چونکه په تاخیر د واجب کښي هم ترک د واجب لازمیږي نو ځکه فقهاء فرمایي چي په تاخیر د واجب سره هم سجده سهوه لازمیږي

وفى الفتاوى الهندية :وَلَا يَجِبُ السُّجُودُ إلَّا بِتَرْكِ وَاجِبٍ أَوْ تَأْخِيرِهِ أَوْ تَأْخِيرِ رُكْنٍ.... وَفِي الْحَقِيقَةِ وُجُوبُهُ بِشَيْءٍ وَاحِدٍ وَهُوَ تَرْكُ الْوَاجِبِ، كَذَا فِي الْكَافِي

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۲۶ الباب الثاني عشرفي سجودالسهو مكتبه رشيديه/البحرالرائق ج ۲ ص ۱۶۲ باب سجودالسهو مكتبه رشيديه/كفاية علي هامش الهداية ج ۱ ص ۱۴۰ باب سجودالسهو مكتبه رحمانيه/ستاسومسائل اودهغوی حل ج ۴ ص ۵۱/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۲۹۴)

قصدا یا سهوا سجده پرېښوول او د هغې حکم

سوال ۳۸: که یو کس قصدا او ارادةً سجده سهوه پرېښوول یا په هېره ځني پاته سوه ایا لمونځ به بیا راګرځوي که یا؟ د قصدا او هیري فرق په دغه باب کښي سته که یا؟

جواب: هغه لمونځ چې په هغه کښې سجده سهوه لازمه سي او بیا لمونځ کوونکی دغه سجده سهوه عمدا او قصدًا پریږدي یا په هېره ځني پاته سي د دغه لمانځه راګرځول لازم دي یعني واجب دي او پرېښوول د سجده سهوي عمدا او نسیاناً سره برابر دي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَلَهَا وَاجِبَاتٌ) لَا تَفْسُدُ بِتَرْكِهَا وَتُعَادُ وُجُوبًا فِي الْعَمْدِ وَالسَّهْوِ إنْ لَمْ يَسْجُدْ لَهُ، وَإِنْ لَمْ يُعِدْهَا يَكُونُ فَاسِقًاآثِمًا..... قَوْلُهُ إنْ لَمْ يَسْجُدْ لَهُ) أَيْ لِلسَّهْوِ

(ردالمحتارج ۱ ص ۳۳۶ باب سجودالسهو مكتبه حبيبيه/منحةالخالق علي البحرالرائق ج ۲ ص ۷۸ باب سجودالسهو مكتبه رشيديه/ستاسومسائل اودهغوی حل ج ۴ ص ۵۴/فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۲۳۱ باب سجودالسهو/فتاوی فريديه ج ۲ ص ۶۳۵/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۰۴)

په لمانځه کښې تعديل دار کانو پرېښوول او د هغې حکم

سوال ۳۹: که یو چا قومه یعني تر رکوع وروسته ولاړه او همداشان جلسه یعني تر سجدې وروسته ناسته د تلوارې په وجه د واجب موافق ادا نه کړه ایا سجده سهو پر ده واجب ده که یا؟

جواب: سجده سهو په هغه فعل سره واجبېږي په لمانځه کښې چې کوم فعل سهواً وسي او کوم کسان چې عمداً او عادةً قومه او جلسه پوره نه کوي په دغه کښې سجده سهوه نسته بلکې دد غسې لمانځو اعاده او راګرځول واجب دي او واجب عمداً پرېښوول دا سبب دلمانځه دراګرځولو دی۔

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَلَهَا وَاجِبَاتٌ) لَا تَفْسُدُ بِتَرْكِهَا وَتُعَادُ وُجُوبًا فِي الْعَمْدِ وَالسَّهْوِ إنْ لَمْ يَسْجُدْ لَهُ، وَإِنْ لَمْ يُعِدْهَا يَكُونُ فَاسِقًاآثِمًا...... قَوْلُهُ إنْ لَمْ يَسْجُدْ لَهُ) أَيْ لِلسَّهْوِ، وَهَذَا قَيْدٌ لِقَوْلِهِ وَالسَّهْوُ، إذْ لَا سُجُودَ فِي الْعَمْدِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۳۳ باب سجودالسهو مکتبه حبیبیه/البحرالرائق ج ۱ ص ۵۲۲ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۷۱ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۴۲۴/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۳۰۵)

که د مسبوق څخه په پاته لمانځه کښي سهوه وسي سجد سهوه غواړي؟

سوال۴۰: مسبوق د امام تر سلام وروسته ولاړسو خپل پاته لمونځ ئې کوی، په پاته لمانځه کښي سهوه ځني وسوه ایا سجده سهوه پر لازمه ده که یا؟

جواب: په داسي صورت کښي چي مسبوق خپل پاته لمونځ راګرځوي او سهوه ځني وسي نو سجده سهوه پر لازم ده

لمافي حاشية الطحطاوي على المراقي : ولو سها المسبوق فيما يقضيه سجد له " أي سهوه "أيضا"

ولما في الدرالمختار : وَالْمَسْبُوقُ مَنْ سَبَقَهُ الْإِمَامُ بِهَا أَوْ بِبَعْضِهَا وَهُوَ مُنْفَرِدٌ) حَتَّى يُثْنِيَ وَيَتَعَوَّذَ وَيَقْرَأَ...... فِيمَا يَقْضِيهِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۵۱ باب سجودالسهو مکتبه حبیبیه/حاشیةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۴۶۴ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/البحرالرائق ج ۱ ص ۶۶۶ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/فتاوی محمودیه ج ۶ ص ۵۶۶/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۳۱۳)

باب سجود التلاوة

په قرءان کریم کي څو دسجدې ایاتونه سته ؟

سوال ۱ : ما قرءان کریم مکمل ختم کړی دی او س پو ښتنه داده چي پر ما باندي څو سجدې واجبي سویدي ؟

جواب : په قرءان کریم کي ټول څوارلس ایاتونه د سجدې سته چي د هر ایات په یو وار ویلو سره یوه سجده لازمیږي نو یو څوک چي مکمل قرءان کریم ختم کړي هغه کس باید څوارلس سجدې وکړي .

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر : قَوْلُهُ (تَجِبُ بِأَرْبَعَ عَشْرَةَ آيَةً) أَيْ تَجِبُ سَجْدَةُ التِّلَاوَةِ بِسَبَبِ تِلَاوَةِ آيَةٍ من أَرْبَعَ عَشَرَةَ آيَةً في أَرْبَعَ عَشْرَةَ

سُورَةً وَهِيَ الْأَعْرَافُ في آخِرِهَا وَالرَّعْدُ وَالنَّحْلُ وَبَنِي اسرائيل وَمَرْيَمُ وَالْأُولَى من الْحَجِّ وَالْفُرْقَانُ وَالنَّمْلُ وألم تَنْزِيلُ وص وحم السَّجْدَةُ وَالنَّجْمُ وَالِانْشِقَاقُ وَالْعَلَقُ هَكَذَا كُتِبَ في مُصْحَفِ عُثْمَانَ وهو الْمُعْتَمَدُ فَهِيَ أَرْبَعٌ في النِّصْفِ الْأَوَّلِ وَعَشْرٌ في النِّصْفِ الْآخِرِ

ولما في الهداية : قال سجود التلاوة في القرآن أربع عشرة سجدة في آخر الأعراف وفي الرعد والنحل وبني إسرائيل ومريم والأولى في الحج والفرقان والنمل وآلم تنزيل وص وحم السجدة والنجم وإذا السماء انشقت واقرأ كذا كتب في مصحف عثمان رضي الله عنه وهو المعتمد .

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۶۵ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۱۰ مکتبه رشیدیه / الهدایة ج ۱ ص ۱۴۶ مکتبه حنفیه / تبین الحقائق ج ۱ ص ۴۹۷ مکتبه اشرفیه / فتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۳۲ مکتبه رشیدیه)

دسجده تلاوت دادا کولو طریقه څنګه ده

سوال ۲: که چیري یو څوک دلمانځه څخه دباندي دسجدې ایات تلاوت کړي او فوراً دد رېدو نه بغیر سجده وکړي نو ایا دا سي سجده به جائز وي او که به خامخا دریږي بیا به سجده کوي؟

جواب: له لمانځه څخه دباندي دتلاوت دسجدې مستحبه طریقه داده چي په ولاړي به نیت تړي او دلاسونو دپورته کولو بغیر ترالله اکبر ویلو وروسته به سجدې ته ځي په سجده کښي به تسبیحات وایي او بیا به الله اکبر و وایي او له سلام څخه بغیر به دسجدې څخه راپورته سي او که یې څوک په ناسته سره وکړي هم روا ده خو بهتره یې اول صورت دی، خو او دس کول ورته شرط دی، بې اودسه کول یې جائز نه دی .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق : وَمِمَّا يُسْتَحَبُّ لِأَدَائِهَا أَنْ يَقُومَ فَيَسْجُدَ؛ لِأَنَّ الْخُرُورَ سُقُوطٌ مِنْ الْقِيَامِ وَالْقُرْآنُ وَرَدَ بِهِ وَهُوَ مَرْوِيٌّ عَنْ عَائِشَةَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا –، وَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ لَمْ يَضُرَّهُ،

(البحرالرائق ج ۲ ص ۱۲۶ باب سجودالتلاوة سعيد چاپ/فتح القدير ج ۱ ص ۴۷۷ باب سجودالتلاوة رشيديه /امدادالفتاوی ج ۱ ص ۳۷۳ باب سجودالتلاوة/فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۸۱ باب سجودالتلاوة/فتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۳۵ باب سجودالتلاوة رشيديه /خيرالفتاوی ج ۲ ص ۶۶۰)

سجده تلاوت بايد په ناسته وسي که په ولاړه ؟

سوال ۳: پر يو چا چي سجده تلاوت واجب سي په ناسته سره يې بايد وکړي او که په ولاړه سره؟

جواب: افضله او مستحبه طريقه دا ده چي ولاړسي د ولاړي څخه دي راسي وسجدې ته او که ولاړ نه سو د ناستي څخه دی ولاړی سجدې ته دا هم جواز او صحت لري دواړه صورتونه صحيح دي بې له کراهته.

وفي الفتاوى الهندية:وَالْمُسْتَحَبُّ أَنَّهُ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَسْجُدَ للتلاوة يقوم ثم يسجد . وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنْ السُّجُودِ يَقُومُ ثُمَّ يَقْعُدُ، كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ ثُمَّ إِذَا أَرَادَ السُّجُودَ يَنْوِيهَا بِقَلْبِهِ وَيَقُولُ بِلِسَانِهِ: أَسْجُدُ لِلَّهِ تَعَالَى سَجْدَةَ التِّلَاوَةِ اللَّهُ أَكْبَرُ، كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۳۵ الباب الثالث عشر في سجدم التلاوة / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۳۲ / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۴۱ / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۸۱)

دلمانځه تر خلاصيدو وروسته دشکر سجده کول .

سوال ۴: ځيني کسان چي لمونځ خلاص کړي يوه سجده په آخره کښې کوي پس له فراغته د لمانځه آيا دغه يوازې سجده دشکر په شريعت کي جواز لري که يا؟

جواب: دغي سجدې ته سجده شکر وائې د ځيني کتابو متون وايې چي دغه سجده د امام صاحب په نزد مکروه ده او د صاحبينو (يارانو) په نزد مستحب ده يعني ښه کار دی علامه طحطاوي رح او مولانا اعزاز علي صاحب رحمة الله عليه محشي(حاشيه ليکونکی) دنورالايضاح ليکلي دي چي فتوی د صاحبينو پر قول ده يعني دغه سجده مستحب ده ليکن دغه سجده تر لمانځه وروسته اداء کول مکروه ده ځکه چي جاهل او ناخبره سړی دغه سجده ووينې هغه ګمان د واجب پر کوي او هر مباح کار چي مفضي (رسيدونکی) ووجوب ته سي هغه مکروه دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وسجدة الشكر مستحبة ، به يفتى لكنها تكره بعد الصلوة ، لان الجهلة يعتقدونها سنة او واجبة ،وكل مباح يؤدى اليه فمكروه .... وروى ان النبي صلى الله عليه وسلم كان اذا اتاه امر به او بشر به خر ساجدا، رواه الستة الاالنسائي.يسر

(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۵۷۷ مكتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ۷ ص ۴۷۵ / الفتاوى العالمگيرية ج ۱ ص ۱۳۶ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوى ص ۴۹۹ / الموسوعة الفقهية ج ۲۴ ص ۲۴۵)

سجده تلاوت چي بې حسابه او ډيري پر انسان باندي لازمي سي ؟

سوال ۵ : که چيري د يو کس پر ذمه باندي يې ډيري او بې حسابه د تلاوت سجدې لازمي سي نو څنګه به يې اداء کوي ؟ ايا يوه سجده کفايت کوي او که هره سجده جلا جلا اداء کول ضروري ده ؟

جواب : د سجدې د ډېر شمير اياتونو د لوستلو په وخت کښې د هري سجدې سبب مختلف دی . د دې لپاره په دغه صورت کښې په سجدو کښې تداخل نه دی رواه چي د ټولو د پاره دي يوه سجده کافي سي بلکي پر هر ايت باندي ځان ته ځانته سجده کول لازمي ده البته د سجدې يو آيت که په يوه مجلس کښې بار بار تلاوت سي نو يوه سجده کول ورته کافي ده . او پاته سوه دا پوښتنه چي تعداد يې نه دی معلوم نو دې تر هغه وخته سجدې د تلاوت کوي چي د ده غالبه ګمان دا سي فيصله وکړي چي اوس نو پوره سولې نوري نه دي پاته .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :قَوْلُهُ وَلَوْ كَرَّرَهَا فِي مَجْلِسَيْنِ تَكَرَّرَتْ) الْأَصْلُ أَنَّهُ لَا يَتَكَرَّرُ الْوُجُوبُ إلَّا بِأَحَدِ أُمُورٍ ثَلَاثَةٍ: اخْتِلَافُ التِّلَاوَةِ أَوْ السَّمَاعِ أَوْ الْمَجْلِسِ.

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۱۱۴ باب سجود التلاوة / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۸۱ باب سجود التلاوة / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۷۹ باب سجدة التلاوة)

سجده تلاوت بېله قصده اورېدل .

سوال ۶ : که چیري یو کس سجده تلاوت بېله قصده او ارادې واوري نو ایا دده پر ذمه باندي سجده تلاوت لازمېږي که یا ؟

جواب : د سجده تلاوت دوجوب دپاره شریعت د سجدې کولو سبب د آیت اورېدل او ویل مقرر کړي دي . لهذا کله چي هم د سجدې آیت واورېدل سي یا تلاوت کړل سي نو سجده تلاوت لازمېږي که یې دغه کس قصد او اراده کړې وي او که نه وي .البته که چیري د دغه کس سره په هغه وخت کښې فرصت او وخت نه وو یا یې اودس نه درلودی نو کولای سي چي وروسته یې اداء کړي خو سجده یې په هر حالت کښې چي وي پر ذمه لازمه سوله .

لماقال العلامة الکاساني رحمه الله تعالی في بدائع الصنائع :وَأَمَّا سَبَبُ وُجُوبِ السَّجْدَةِ فَسَبَبُ وُجُوبِهَا أَحَدُ شَيْئَيْنِ: التِّلَاوَةُ، أَوْ السَّمَاعُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا عَلَى حَالِهِ مُوجِبٌ فَيَجِبُ عَلَى التَّالِي الْأَصَمِّ وَالسَّامِعِ الَّذِي لَمْ يَتْلُ.

(بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۸۰ باب سجود التلاوة فصل في سبب الوجوب / الهدایة ج ۱ ص ۱۲۲ باب سجود التلاوة / ردالمحتار ج ۲ ص ۱۰۸ باب سجوة التلاوة / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۷۸ باب سجدة التلاوة)

دټیپ یا راډیو څخه تلاوت اورېدل اوپر آیت دسجدې باندي سجده تلاوت لازمېدل .

سوال ۷ : که چیري یو څوک دټیپ یا راډیو څخه تلاوت اوري نو اورېدل یې ثواب لري که یا او د سجدې دآیت څخه یې سجده تلاوت واجبېږي که یا ؟ .

جواب : متاخرینو فقهاوو دټیپ او راډیو څخه د قرآن کریم داورېدلو اجازه ورکړې ده او د سجدې دآیت داورېدو څخه یې سجده تلاوت نه واجبېږي . البته که چیري په ژوندۍ بڼه او براه راست دا اواز اورېدل کېدی نو ځیني فقهاء بیا فرمایي چي سجده باندي لازمېږي. او پاته سوه دا خبره چي ثواب لري که یا نو الله جل جلاله دزړو او نیتو مالک دی چي څوک یې په څه نیت اوري مثلاً ځیني کسان له بده مرغه کله کله داسي وایي چي دا تلاوت په موټر کښې د سفر په دوران کښې اورم ځکه چي

لاره په لنډوم یا وخت په تیروم او دې ته ورته نور داسې غیر صحیح اغراض نو په دې باندې بیا ثواب چیرې دی ؟ .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :(لَا) تَجِبُ (بِسَمَاعِهِ مِنْ الصَّدَى وَالطَّيْرِ) وَمِنْ كُلِّ تَالٍ حَرْفًا وَلَا بِالتَّهَجِّي أَشْبَاهٌ .

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۱۰۸ باب سجود التلاوة / بدائع الصنائع ج ۱ ص باب سجود التلاوة ۱۸۶ / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۱۸۴ الفصل السابع عشر في وجوب سجدة التلاوة / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۷۹ باب سجود التلاوة)

سجده تلاوت په رکوع کښې کول .

سوال ۸ : یو کس یو آیت دسجدې تلاوت کړی او بیا یې په رکوع کښې دننه دسجده تلاوت نیت وکړی ایا پر دغه طریقه باندې د سجده تلاوت دکولو ځخه غاړې خلاصیږي که یا ؟

جواب : په لمانځه کښې دسجده تلاوت داداء کولو یوه طریقه داهم ده چې دسجدې دآیت دویلو او لوستلو سره فوراً دغه کس دلمانځه رکوع وکړي ، یا دې دوه یا درې کوچني ایاتونه ووایي بیا دې سمدستي دلمانځه رکوع وکړي او په دغه رکوع کښې دې دسجده تلاوت نیت وکړي نو سجده دتلاوت اداء کیږي . او که یې په رکوع کښې نیت نه وکړی نو دلمانځه په سجده کښې سجده تلاوت خود بخوده اداء کیږي که یې دسجدې نیت کړی وي او که یې نه وي کړی . لیکن که چیرې امام په رکوع کښې دسجده تلاوت کړی وو او مقتدیانو نه وو کړی نو دمقتدیانو سجده تلاوت نه سوه اداء فقط دامام داداء سوه . نو لهذا په داسې صورت کښې پکارده چې امام په رکوع کښې دسجده تلاوت نیت نه وکړي بلکې دلمانځه په سجده کښې دټولو سجده تلاوت اداءکیږي .

په دغه مسئله باندې ډیر کم خلګ خبر دي نو بهتره دامام دپاره داده چې دآیت دسجدې دپاره مستقل سجده وکړي دلمانځه په رکوع او سجده کښې دې نه اداء کوي چې خامخا خلګ په تشویش کښې و لویږي . او که یې اداء کوي نو دې دمخه خلګ په دغه مسئله باندې پوه کړي بیا دې په رکوع او سجده کښې اداء کړي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَ) تُؤَدَّى (بِرُكُوعِ صَلَاةٍ) إذَا كَانَ الرُّكُوعُ (عَلَى الْفَوْرِ مِنْ قِرَاءَةِ آيَةٍ) أَوْ آيَتَيْنِ وَكَذَا الثَّلَاثُ عَلَى الظَّاهِرِ كَمَا فِي الْبَحْرِ (إنْ نَوَاهُ) أَيْ كَوْنَ الرُّكُوعِ (لِسُجُودِ) التِّلَاوَةِ عَلَى الرَّاجِحِ (وَ) تُؤَدَّى (بِسُجُودِهَا كَذَلِكَ) أَيْ عَلَى الْفَوْرِ (وَإِنْ لَمْ يَنْوِ) بِالْإِجْمَاعِ، وَلَوْ نَوَاهَا فِي رُكُوعِهِ وَلَمْ يَنْوِهَا الْمُؤْتَمُّ لَمْ تُجْزِهِ

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قَوْلُهُ لَمْ تَجْزِهِ) أَيْ لَمْ تَجْزِ نِيَّةُ الْإِمَامِ الْمُؤْتَمَّ وَلَا تَنْدَرِجُ فِي سُجُودِهِ وَإِنْ نَوَاهَا الْمُؤْتَمُّ فِيهِ لِأَنَّهُ لَمَّا نَوَاهَا الْإِمَامُ فِي رُكُوعِهِ تَعَيَّنَ لَهَا أَفَادَهُ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۱ ص ۷۲۳ / ۷۲۳ باب سجود التلاوة / فتاوى رحيميه ج ۵ ص ۲۰۱ اردو مكتبه دارالاشاعت)

دجنابت په حالت کښې سجده تلاوت اورېدل .

سوال ۹ : که چیرې یو کس جنب وي او بیا د جنابت په حالت کښې د سجدې آیت واورې ایا سجده باندې لازمیږي که یا ؟

جواب : هر هغه کس چې دلمانځه دوجوب اهلیت په کښې وي یا داداء په اعتبار سره یا دقضا په اعتبار سره پر هغ کس باندې سجده تلاوت لازم ده . لهذا دغه جنب کس که چیرې د سجدې تلاوت د جنابت په حالت کښې واورېدی نو سجده تلاوت باندې واجب ده ځکه چې په ده کښې که څه هم فی الحال داداء اهلیت نسته خو قضا یې پر ذمه واجب ده . البته پر کافر او ماشوم او حائضې او نفاس والا ښځې باندې نه ده واجب که یې و وایې او که یې واورې .

وفى الفتاوى الهندية : وَالْأَصْلُ فِي وُجُوبِ السَّجْدَةِ أَنَّ كُلَّ مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ وُجُوبِ الصَّلَاةِ إمَّا أَدَاءً أَوْ قَضَاءً كَانَ أَهْلًا لِوُجُوبِ سَجْدَةِ التِّلَاوَةِ وَمَنْ لَا فَلَا، كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ حَتَّى لَوْ كَانَ التَّالِي كَافِرًا أَوْ مَجْنُونًا أَوْ صَبِيًّا أَوْ حَائِضًا أَوْ نُفَسَاءَ أَوْ عَقِيبَ الطُّهْرِ دُونَ الْعَشَرَةِ وَالْأَرْبَعِينَ لَمْ يَلْزَمْهُمْ وَكَذَا السَّامِعُ، كَذَا فِي الزَّاهِدِيِّ

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۳۲ الْبَابُ الثَّالِثَ عَشَرَ فِي سُجُودِ التِّلَاوَةِ / الدر المختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۱۰۷ مکتبه شامله / الهداية ج ۱ ص ۱۴۶ باب سجدة التلاوة / احسن المسائل ص ۲۰ مسائل الصلوة)

دسجده تلاوت دهر آیت دپاره جلا جلا سجده کول لازمي ده

سوال ۱۰ : ما اورېدلي دي چي که چا دسجده تلاوت څوارلس ۱۴ ایاتونه په یوه مجلس او یو ځای کښې تلاوت کړل نو فقط یوه سجده کول کافي ده ایا دغه خبره حقیقت لري که یا ؟

جواب : که چیري په یوه مجلس کښې مختلف دسجدې ایاتونه تلاوت سي نو دهري سجدې سبب مختلف دی او په دوی کښې تداخل هم نه دی رواه لهذا دهر آیت پر تلاوت باندي یوه مستقله سجده کول لازمي ده مطلب دا چي که چا په یوه مجلس کښې مثلا دقرآن کریم دسجدو څوارلس ایآتونه تلاوت کړل نو څوارلس سجدې دده پر ذمه باندي کول واجب دي . البته که چا دسجدې یو آیت بار بار په یوه مجلس کښې تلاوت کړی نو دده پر ذمه دټولو تلاوتونو څخه یوه سجده کول لازمي ده .

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت قوله (وَلَوْ كَرَّرَهَا فِي مَجْلِسَيْنِ تَكَرَّرَتْ) (قَوْلُهُ وَلَوْ كَرَّرَهَا فِي مَجْلِسَيْنِ تَكَرَّرَتْ) الْأَصْلُ أَنَّهُ لَا يَتَكَرَّرُ الْوُجُوبُ إلَّا بِأَحَدِ أُمُورٍ ثَلَاثَةٍ: اخْتِلَافُ التِّلَاوَةِ أَوْ السَّمَاعِ أَوْ الْمَجْلِسِ.

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۱۴ باب سجود التلاوة / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۸۱ باب سجود التلاوة / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۷۹)

که چیري یو آیت دسجدې په یوه مجلس کښې څو ځله تکرار سي نو یوه سجده غواړي

سوال ۱۱ : که چیري یو شخص یو آیت دسجدې په یوه مجلس کښې څو ځله تکرار کړي نو یوه سجده غواړي که ډیري سجدې غواړي ؟

جواب : که چا دسجدې یو آیت بار بار په یوه مجلس کښې تلاوت کړی نو دده پر ذمه دټولو تلاوتونو څخه یوه سجده کول لازمي ده .البته که چیري په یوه مجلس کښې مختلف دسجدې ایاتونه تلاوت سي نو دهري سجدې سبب مختلف دی او په دوی کښې تداخل هم نه دی رواه لهذا دهر آیت پر تلاوت باندي یوه مستقله سجده کول

لازمي ده مطلب دا چي که چا په یوه مجلس کښې مثلا د قرآن کریم د سجدو څوارلس ایاتونه تلاوت کړل نو څوارلس سجدې دده پر ذمه باندي کول واجب دي.

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت قوله (وَلَوْ كَرَّرَهَا فِي مَجْلِسَيْنِ تَكَرَّرَتْ) (قَوْلُهُ وَلَوْ كَرَّرَهَا فِي مَجْلِسَيْنِ تَكَرَّرَتْ) الْأَصْلُ أَنَّهُ لَا يَتَكَرَّرُ الْوُجُوبُ إلَّا بِأَحَدِ أُمُورٍ ثَلَاثَةٍ: اخْتِلَافُ التِّلَاوَةِ أَوْ السَّمَاعِ أَوْ الْمَجْلِسِ.

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۱۴ باب سجود التلاوة / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۸۱ باب سجود التلاوة / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۷۹)

دسجده تلاوت طريقه څنګه ده ؟

سوال ۱۲: اکثر وختونه په مسجدانو کښې وینو چي خلک سجده تلاوت په مختلف ډولو سره اداء کوي څوک لاس پورته کوي، او څوک التحیاته وائي، د سجده تلاوت د اداء کولو شرعي او صحیح طریقه راته ذکر کړئ مهرباني به مو وي؟

جواب: د سجده تلاوت د اداء کولو شرعي او صحیح طریقه دا ده چي الله اکبر و وایه په ولاړه سجدې ته ولاړ سه درې واره سبحان ربي الاعلیٰ و وایه بیا الله اکبر و وایه راپورته سه دغه مقدار سجده تلاوت ده نه د لاسو پورته کېدل په کښې سته نه سلام ګرځول نه التحیاته ویل، که چیري د ناستي څخه سجدې ته ولاړ سي هم جواز لري البته د ولاړي څخه سجدې ته تلل افضل کار دی.

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : (قَوْلُهُ وَكَيْفِيَّتُهُ أَنْ يَسْجُدَ بِشَرَائِطِ الصَّلَاةِ بَيْنَ تَكْبِيرَتَيْنِ بِلَا رَفْعِ يَدٍ وَتَشَهُّدٍ وَتَسْلِيمٍ) أَيْ وَكَيْفِيَّةُ السُّجُودِ وَقَدَّمْنَا أَنَّهُ يُسْتَثْنَى مِنْ شَرَائِطِ الصَّلَاةِ التَّحْرِيمَةُ وَالْمُرَادُ بِالتَّكْبِيرَتَيْنِ تَكْبِيرَةُ الْوَضْعِ وَتَكْبِيرَةُ الرَّفْعِ وَكُلٌّ مِنْهُمَا سُنَّةٌ كَمَا صَحَّحَهُ فِي الْبَدَائِعِ لِحَدِيثِ أَبِي دَاوُد فِي السُّنَنِ مِنْ فِعْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – كَذَلِكَ، وَإِنَّمَا لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ عِنْدَ التَّكْبِيرَةِ؛ لِأَنَّ هَذَا التَّكْبِيرَ مَفْعُولٌ لِأَجْلِ الِانْحِطَاطِ لَا لِلتَّحْرِيمَةِ كَمَا فِي سُجُودِ الصَّلَاةِ، وَكَذَا التَّكْبِيرُ لِلرَّفْعِ كَمَا فِي سُجُودِ الصَّلَاةِ، وَهُوَ الْمَرْوِيُّ مِنْ فِعْلِهِ – عَلَيْهِ السَّلَامُ – وَابْنُ مَسْعُودٍ مِنْ بَعْدِهِ، وَإِنَّمَا لَا يَتَشَهَّدُ، وَلَا يُسَلِّمُ؛ لِأَنَّهُ لِلتَّحْلِيلِ

(البحرالرائق ج ۲ ص ۲۲۳ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۱۹۰ مکتبه رشیدیه / حاشیة الطحطاوي ۴۹۸ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۳۴۳ پښتو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۸۱ پښتو)

دسجده تلاوت ځنډول ګناه ده که یا ؟

سوال ۱۳: یو کس په لمانځه کي ایت د سجدې تلاوت کړی لیکن سجده یې وځنډول قصدا او دغه سجده ځنډول و اخر ته د لمانځه وړل یا د لمانځه څخه وروسته کول مکروه والی لري که صحت؟

جواب: د سجدې د ایت تلاوت کول دوه صورته لري شرعا یو دا دی چي په لمانځه کي داخل د ایت تلاوت وکړی سي، او سجده وځنډول سي دغه صورت کراهیت لري باید سجده ونه ځنډول سي، دوهم صورت دا دی چي د لمانځه څخه دباندي په تلاوت کي د سجدې ایت راسي او دی یې هم تلاوت کړی یو قول ضعیف د فقهاؤ دا دی چي ځنډول یې کراهیت نه لري امام طحاوي فرمایې چي ځنډول د سجدې د ایت تر تلاوت وروسته مطلقا مکروه دی که په لمانځه کي داخل وي که خارج وي احتیاط هم پر دغه قول دی.

لماقال العلامة ابن نجیم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : وَفِي التَّجْنِيسِ وَهَلْ يُكْرَهُ تَأْخِيرُهَا عَنْ وَقْتِ الْقِرَاءَةِ ذُكِرَ فِي بَعْضِ الْمَوَاضِعِ أَنَّهُ إذَا قَرَأَهَا فِي الصَّلَاةِ فَتَأْخِيرُهَا مَكْرُوهٌ، وَإِنْ قَرَأَهَا خَارِجَ الصَّلَاةِ لَا يُكْرَهُ تَأْخِيرُهَا وَذَكَرَ الطَّحَاوِيُّ أَنَّ تَأْخِيرَهَا مَكْرُوهٌ مُطْلَقًا، وَهُوَ الْأَصَحُّ اه. وَهِيَ كَرَاهَةٌ تَنْزِيهِيَّةٌ فِي غَيْرِ الصَّلَاتِيَّةِ؛ لِأَنَّهَا لَوْ كَانَتْ تَحْرِيمِيَّةً لَكَانَ وُجُوبُهَا عَلَى الْفَوْرِ وَلَيْسَ كَذَلِكَ.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۷۰ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۱۱ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۴۴۸ مکتبه رشیدیه / حاشیة الطحطاوي علي المراقي ص ۴۸۷ مکتبه رشیدیه / فتاوی اللکهنوي ص ۴۴۴ / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۴۶۸ اردو)

د ټیپ راډیو او تلویزون پر تلاوت سجده نه لازمیږي.

سوال ۱۴: دتلویزون، راډیو، ټیپ ریکارډ څخه که چیري د سجدې ایت واوریدل سي نو ایا پر اوریدونکي باندي سجده دتلاوت واجبیږي که یا ؟.

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دي : چي په راديو ، ټي وي ، ټيپ ريکارډ کښې چي کله تلاوت کيږي نو د سجدې د آيت په اورېد و سره سجده نه واجبيږي .که څه هم د ځيني علماوو دا خبره هم کړې ده چي د ژوندی خپروني (براراست تلاوت) څخه چي کله واورېدل سي نو سجده واجبيږي .والله اعلم .

لما قال العلامة علاء الدين الحصكفي رحمه الله تعالى فی الدرالمختار (لَا) تَجِبُ (بِسَمَاعِهِ مِنْ الصَّدَى وَالطَّيْرِ) وَمِنْ كُلِّ تَالٍ حَرْفًا وَلَا بِالتَّهَجِّي أَشْبَاهٌ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۶۹ باب سجدة التلاوة /بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۸۶ باب سجدة التلاوة/ فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۳۳۹ / فتاوی حقانیه ج ۲ ص ۷۹ باب سجدة التلاوة / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۱۸۴ الفصل السابع عشر في وجوب سجدة التلاوة / فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۲۶۵ باب سجدة التلاوة / جواهرالاحکام ص ۱۴۶ باب سجدة التلاوة/ خیر الفتاوی ج ۲ ص ۶۵۵ باب سجدة التلاوة/ كفايت المفتي ج ۵ ص ۳۵ باب سجدة التلاوة)

دقران کريم په کومو ځايو نو کښي سجده تلاوت سته ؟

سوال ۱۵ : هغه کوم سورتونه دي چي په هغو کي سجده تلاوت سته ؟

جواب : په قرءان کريم کي ټول څوارلس اياتونه د سجدې سته چي د هر آيت په يو وار ويلو سره يوه سجده لازميږي دغه اياتونه په دغه سورتونو کي سته (الاعراف ، الرعد ، النحل ، بني اسرائيل ، مريم ، اوله سجده د سورة الحج ، الفرقان ، النمل ، الم تنزيل ، ص ، حم السجدة ، النجم ، الانشقاق ، العلق) .

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر : قَوْلُهُ (تَجِبُ بِأَرْبَعَ عَشْرَةَ آيَةً) أَيْ تَجِبُ سَجْدَةُ التِّلَاوَةِ بِسَبَبِ تِلَاوَةِ آيَةٍ من أَرْبَعَ عَشَرَةَ آيَةً في أَرْبَعَ عَشْرَةَ سُورَةً وَهِيَ الْأَعْرَافُ في آخِرِهَا وَالرَّعْدُ وَالنَّحْلُ وَبَنِي اسرائيل وَمَرْيَمُ وَالْأُولَى من الْحَجِّ وَالْفُرْقَانُ وَالنَّمْلُ وألم تَنْزِيلُ وص وحم السَّجْدَةُ وَالنَّجْمُ وَالِانْشِقَاقُ وَالْعَلَقُ هَكَذَا كُتِبَ في مُصْحَفِ عُثْمَانَ وهو الْمُعْتَمَدُ فَهِيَ أَرْبَعٌ في النِّصْفِ الْأَوَّلِ وَعَشْرٌ في النِّصْفِ الْآخِرِ

ولما في الهداية : قال سجود التلاوة في القرآن أربع عشرة سجدة في آخر الأعراف وفي الرعد والنحل وبني إسرائيل ومريم والأولى في الحج والفرقان والنمل وآلم تنزيل وص وحم السجدة والنجم وإذا السماء انشقت واقرأ كذا كتب في مصحف عثمان رضي الله عنه وهو المعتمد

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۶۵ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۱۰ مكتبه رشيديه / الهداية ج ۱ ص ۱۴۶ مكتبه حنفيه / تبين الحقائق ج ۱ ص ۴۹۷ مكتبه اشرفيه / فتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۳۲ مكتبه رشيديه)

د سجدې يوايت په دوو ركعتو كښي تلاوت سي څوسجدې غواړي؟

سوال ۱۶: امام د لمانځه په اول او دوهم دواړو ركعتو كښي يوايت د سجدې په تكرار سره تلاوت كړي، ايا هغه د اول ركعت سجده تلاوت كافي ده كه بله هم غواړي؟

جواب: د اول ركعت كړې سجدة تلاوت د دواړو ركعتو د تلاوت لپاره كفايت كوي د دوهمي سجده تلاوت ضرورت نسته

لماقال العلامة الكاساني رحمه الله في بدائع الصنائع : (وَأَمَّا) إذَا كَرَّرَ التِّلَاوَةَ فِي رَكْعَتَيْنِ فَالْقِيَاسُ أَنْ يَكْفِيَهُ سَجْدَةٌ وَاحِدَةٌ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ الْأَخِيرُ، وَفِي الِاسْتِحْسَانِ يَلْزَمُهُ لِكُلِّ تِلَاوَةٍ سَجْدَةٌ وَهُوَ قَوْلُ أَبِي يُوسُفَ الْأَوَّلُ وَهُوَ قَوْلُ مُحَمَّدٍ وَهَذِهِ مِنْ الْمَسَائِلِ الثَّلَاثِ الَّتِي رَجَعَ فِيهَا أَبُو يُوسُفَ عَنْ الِاسْتِحْسَانِ إلَى الْقِيَاسِ إحْدَاهَا هَذِهِ الْمَسْأَلَةُ،

(بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۸۲ فصل في سبب وجوب السجدة مكتبه رشيديه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۳۵ باب سجودالتلاوة مكتبه رشيديه/فتاوى التاتارخانية ج ۲ ص ۴۷۵ باب سجودالتلاوة /خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۱۸۷ باب سجودالتلاوة مكتبه رشيديه/فتاوى رحيميه ج ۵ ص ۲۰۰)

امام ايت د سجدې تلاوت كړي، سجده ئې ونه كړه مقتدی څه وكړي؟

سوال ۱۷: كه چيري امام په لمانځه كښي ايت د سجدې تلاوت كړي او بيا ئې سجده ونه كړه نو مقتدی څه وكړي يوازي خپله سجده وكړي او كه ئې ونه كړي ؟

جواب: كه چيري امام د خپل تلاوت كړي ايت لپاره په لمانځه كښي سجده ونه كړي نو مقتدی به هم سجده نه كوي ځكه چي پر مقتدي اتباع د امام لازمه ده

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :لِأَنَّ الْإِمَامَ لَوْ لَمْ يَسْجُدْ لَا يَسْجُدُ الْمَأْمُومُ وَإِنْ سَمِعَهَا لِأَنَّهُ إنْ سَجَدَهَا فِي الصَّلَاةِ وَحْدَهُ خَالَفَ إمَامَهُ

(ردالمحتارج ۱ ص ۱۲۲ باب سجودالتلاوة مكتبه حبيبيه/فتاوى رحيميه ج ۵ ص ۲۰۵)

که په لمانځه کښې سجدهٔ د تلاوت هېره سي څه به کوي؟

سوال ۱۸: يو کس ايت د سجدې تلاوت کړی ليکن سجده ئې په اول رکعت کښې هېره سوه په دوهم رکعت کښې وريه ياد سوه او س ئې څنګه اداءکړي شرعًا؟

جواب: که چيري دده څخه سجده د تلاوت په اول رکعت کښې هېره سي په دوهم يا دريم کښې چې وريه ياد سي فوراً دي سجده وکړي او بيا دي دلمانځه په اخير کښې سجده سهوه وکړي ځکه چې ځنډ او تاخير دواجبو راغلی۔

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَهِيَ عَلَى التَّرَاخِي..... إنْ لَمْ تَكُنْ صَلَوِيَّةً) فَعَلَى الْفَوْرِ لِصَيْرُورَتِهَا جُزْءًا مِنْهَاوَيَأْثَمُ بِتَأْخِيرِهَا وَيَقْضِيهَا مَا دَامَ فِي حُرْمَةِ الصَّلَاةِ وَلَوْ بَعْدَ السَّلَامِ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۱ ص ۵۷۰ باب سجودالتلاوة مكتبه حبيبيه/فتاوى عالمګيريه ج ۱ ص ۱۳۳ باب سجودالتلاوة مكتبه رشيديه/فتاوى عبادالرحمن ج ۲ ص ۲۵۳ باب سجودالتلاوة/فتاوى محموديه ج ۷ ص ۴۴۷ باب سجودالتلاوة/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۳۷)

د سجدې ايت په تکرار سره ويل يوه سجده غواړي؟

سوال ۱۹: د روژې مبارکي په مياشت کښې حافظان صاحبان د قرآن کريم دختم تراويح ورکوي او يو ايت د سجدې څو واره ويل کيږي يوئې اوري په يوه ئې وايې ايا يوه سجده تلاوت لازمه ده که ډيري؟ جواب راکړئ

جواب: که چيري دغه حافظان په يوه مجلس کښې ناست وي او ايت د سجدې هم يو وي نو فقط يوه سجده تلاوت لازمه ده ځکه چې ايت هم يو ی يي او مجلس هم يو دی او که چيري مجلس بدل سي يا ايت د سجدې تريوه زيات وي بيا په اندازه د اختلاف د مجلس او د تعداد د اياتو سجده تلاوت لازمه ده

وفی الفتاوی الهندية :وَمِنْ حُكْمِ هَذِهِ السَّجْدَةِ التَّدَاخُلُ حَتَّى يَكْتَفِيَ فِي حَقِّ التَّالِي بِسَجْدَةٍ وَاحِدَةٍ وَإِنْ اجْتَمَعَ فِي حَقِّهِ التِّلَاوَةُ وَالسَّمَاعُ وَشَرْطُ التَّدَاخُلِ اتِّحَادُ الْآيَةِ وَاتِّحَادُ الْمَجْلِسِ حَتَّى لَوْ اخْتَلَفَ الْمَجْلِسُ وَاتَّحَدَتْ الْآيَةُ أَوْ اتَّحَدَ الْمَجْلِسُ وَاخْتَلَفَتْ الْآيَةُ لَا تَتَدَاخَلُ، كَذَا فِي الْمُحِيطِ.

وَلَوْ تَبَدَّلَ مَجْلِسُ السَّامِعِ دُونَ التَّالِي يَتَكَرَّرُ الْوُجُوبُ عَلَيْهِ وَلَوْ تَبَدَّلَ مَجْلِسُ التَّالِي دُونَ السَّامِعِ يَتَكَرَّرُ الْوُجُوبُ عَلَيْهِ لَا عَلَى السَّامِعِ عَلَى قَوْلِ أَكْثَرِ الْمَشَايِخِ وَبِهِ نَأْخُذُ، كَذَا فِي الْعَتَّابِيَّةِ

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۳۴ الباب ثاني عشر في سجودالتلاوة مكتبه رشيديه/ردالمحتار ج ۱ ص ۷۲۶ باب سجودالتلاوة مكتبه حبيبيه/البحرالرائق ج ۲ ص ۱۲۵ باب سجودالتلاوة مكتبه رشيديه/الهداية ج ۱ ص ۱۴۷ باب سجودالتلاوة مكتبه رحمانيه/فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۲۶۶ /فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۹۹)

تر سجده تلاوت وروسته ئې په هغه رکعت کښې بېرته ايت د سجدې ووايه

سوال۲۰: يوه حافظ په تراويح کښې په اول رکعت کښې ايت د سجده تلاوت ووايه او بيائې سجده وکړه ولاړ سو بېرته ئې په همدغه رکعت کښې هغه ايت د سجدې بيا تلاوت کړی ايا اوس دوهمه سجده د تلاوت بيا غواړي که يا؟ که هغه يو سجده د دواړو اياتو لپاره کفايت کوي؟

جواب: هغه يوه سجده د تلاوت د دواړو لپاره کافي ده د دوهمې سجدې ضرورت نسته

وفی الفتاوی الهندية :وَلَوْ تَلَاهَا فِي رَكْعَةٍ فَسَجَدَهَا ثُمَّ أَعَادَهَا فِي تِلْكَ الرَّكْعَةِ لَا تَجِبُ ثَانِيًا، كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۳۵ باب سجودالتلاوة مكتبه رشيديه/محيط البرهاني ج ۲ ص ۱۱۱ باب سجودالتلاوة مكتبه غفاريه/المبسوط للسرخسي ج ۲ ص ۲۱ باب سجودالتلاوة مكتبه رشيديه/كتاب المبسوط للشيباني ج ۱ ص ۲۵۶ باب سجودالتلاوة مكتبه رشيديه/فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۹۸)

که ایت د سجدې هم ووایي اوتر جمه ئې هم ووایي نو څوسجدې غواړي؟

سوال ۲۱: د روژې مبارکي په میاشت کښې موږ الفاظ د قرآن کریم هم تلاوت کوو او ترجمه ئې هم وایو نو ایا یوه سجده لازمه ده که دوې سجدې لازمیږي؟

جواب: د قرآن کریم د تلاوت او ترجمې د دواړو لپاره فقط یوه سجده لازمه او ضروري ده داسي نه ده چي تلاوت ځان ته سجده غواړي او ترجمه ځان ته بلکه فقط یوه سجده غواړي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :يَجِبُ) بِسَبَبِ (تِلَاوَةِ آيَةٍ) أَيْ أَكْثَرِهَا مَعَ حَرْفِ السَّجْدَةِ....... قَوْلُهُ بِسَبَبِ تِلَاوَةٍ) احْتَرَزَ عَمَّا لَوْ كَتَبَهَا أَوْ تَهَجَّاهَا فَلَا سُجُودَ عَلَيْهِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۶۵ باب سجودالتلاوة مكتبه حبيبيه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۲۵)

سجده تلاوت واجب ده که فرض ؟

سوال ۲۲: په قرآن شریف کښې چي کومي سجدې د تلاوت دي ددغو کول واجب دي او که فرض دي؟

جواب: سجدې د تلاوت واجب دي فقط

وفى الفتاوى الهندية :وَالسَّجْدَةُ وَاجِبَةٌ فِي هَذِهِ الْمَوَاضِعِ عَلَى التَّالِي وَالسَّامِعِ سَوَاءٌ قَصَدَ سَمَاعَ الْقُرْآنِ أَوْ لَمْ يَقْصِدْ، كَذَا فِي الْهِدَايَةِ

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۳۲ باب سجودالتلاوة مكتبه رشيديه/فتاوى ملاعلي قاري ج ۱ ص ۲۸۳ باب سجودالتلاوة مكتبه رشيديه/محيط البرهاني ج ۲ ص ۱۰۲ باب سجودالتلاوة مكتبه غفاريه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۴۰)

باب صلوة المسافر

کورمي په هلمند کي دی او په کندهار کي محصل یم لمونځ پوره وکړم که قصر ؟

سوال ۱ : زموږ کور په هلمند کي دی خوزه په کندهار کي په درس ویلو بوخت یم پوښتنه اوس داده چي زه په کندهار کي لمونځ پوره وکړم که سفریانه ؟

جواب : لمونځ هغه وخت سفریانه کیږي چي یو څوک په سفر ولاړ سي خو هلته د پنځلس ورځو د تېرولو نیت ونه لري نو یو څوک چي په کندهار کي محصل وي معلومه خبره ده چي دی به تر پنځلس ورځي ډېر وخت
تېروي ځکه په پنځلس ورځي خو تعلیم نه کیږي نو په دغه حال کي د داسي شخص د پاره کندهار وطن د اقامت جوړیږي او هلمند خو یې وطن اصلي دی نو د غه شخص به د واړو ځایو کي لمونځ پوره کوي .

لماقال العلامه ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله : وَكَذَا لَا يَبْطُلُ بِوَطَنِ الْإِقَامَةِ وَأَمَّا وَطَنُ الْإِقَامَةِ فَهُوَ الْوَطَنُ الذي يَقْصِدُ الْمُسَافِرُ الْإِقَامَةَ فيه وهو صَالِحٌ لها نِصْفَ شَهْرٍ وهو يَنْتَقِضُ بِوَاحِدٍ من ثَلَاثَةٍ بِالْأَصْلِيِّ لِأَنَّهُ فَوْقَهُ وَبِمِثْلِهِ وَبِالسَّفَرِ لِأَنَّهُ ضِدُّهُ

وفي التبين الحقائق : اعْلَمْ أَنَّ الْأَوْطَانَ ثَلَاثَةٌ وَطَنٌ أَصْلِيٌّ وهو مَوْلِدُ الْإِنْسَانِ أو الْبَلْدَةِ التي تَأَهَّلَ فيها وَوَطَنُ إقَامَةٍ وهو الْمَوْضِعُ الذي يَنْوِي الْمُسَافِرُ أَنْ يُقِيمَ فيه خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا فَصَاعِدًا وَوَطَنُ سُكْنَى وهو الْمَكَانُ الذي يَنْوِي أَنْ يُقِيمَ فيه أَقَلَّ من خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا ولم يذكر الْمُحَقِّقُونَ من أَصْحَابِنَا هذا الْوَطَنَ قالوا لِأَنَّهُ لَا فَائِدَةَ فيه لِأَنَّهُ يَبْقَى فيه مُسَافِرًا على حَالِهِ فَصَارَ وُجُودُهُ كَعَدَمِهِ

(البحرالرائق ج ۲ص ۲۳۹ مكتبه رشيديه / تبين الحقائق ج ۱ ص ۵۱۷ مكتبه اشرفيه / مجمع الانهر ج ۱ ص ۲۴۳ مكتبة الحرمين الشريفين / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ج ۱ ص ۱۸۷ مكتبه شامله / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۱۰۴ پښتو)

دګرمسېراولښکرګاه ترمینځ چي کومه لاره او مسافت دی په دې سره څوک مسافر کیږي که یا؟

سوال ۲ : دګرمسېراولښکرګاه ترمینځ باید سفریانه لمونځ وسي او که پوره ؟

جواب : موږ او تاسي که چیري د سفر اندازه وپېژنو بیا به دا راته اسانه وي چي کوم ځای ته په تللو سفریانه لمونځ کیږي او کوم ځای په تللو پوره لمونځ کیږي . د حنفي فقهي په کتابونو کي راغلي دي چي کوم سفرچي د درو ورځو په اندازه وي داسي چي تګ عادي او د پښو وي او د سهار څخه ترزواله پوري وي لکه څرنګه چي

دپخوانيو خلګو همدا سي عادت وو په هغه کي لمونځ سفريانه کيږي دموجوده عصر علماء کرامو د ديوبند دمفتيانو په حواله سره دغه مسافت او اندازه دغه اندازه (۴۸) ميله يا (۷۸) کيلومتره ټاکلي ده.

قال الامام برهان الدين ابن مازه رحمه الله في المحيط : أدنى مدة السفر مسيرة ثلاثة أيام ولياليها السير الذي يكون في ثلاثة أيام ولياليها مع الاستراحات التي تكون في خلال ذلك، وهذا لأن المسافر لا يمكنه أن يمشي أبداً بل يمشي في بعض الأوقات، وفي بعض الأوقات يستريح ويأكل ويشرب، وعن أبي حنيفة رحمه الله أنه اعتبر ثلاث مراحل، فعلى قياس هذه الرواية من بخارى إلى أرمينة مدة سفر، وكذلك إلى فربر وبه أخذ بعض مشايخ بخارى رحمهم الله.

وفى الهندية : أَقَلُّ مَسَافَةٍ تَتَغَيَّرُ فيها الْأَحْكَامُ مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ كَذَا في التَّبْيِينِ هو الصَّحِيحُ كَذَا في جَوَاهِرِ الْأَخْلَاطِيِّ الْأَحْكَامُ التي تَتَغَيَّرُ بِالسَّفَرِ هِيَ قَصْرُ الصَّلَاةِ وَابَاحَةُ الْفِطْرِ

وقال الامام علاوالدين الحصكفي رحمه الله في الدرمختار : (مسيرة ثلاثة أيام ولياليها) من أقصر أيام السنة ولا يشترط سفر كل يوم إلى الليل بل إلى الزوال ولا اعتبار بالفراسخ على المذهب (بالسير الوسط مع الاستراحات المعتادة) حتى لو أسرع فوصل في يومين قصر

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۷۹ مكتبه حبيبيه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۳۸ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۲۶ مكتبه رشيديه / خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۱۹۷ مكتبه رشيديه / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۸۷ پښتو / خيرالفتاوى ج ۲ ص ۶۶۳ اردو / فتاوى عبادالرحمن ج ۲ ص ۳۲۴ اردو)

دښځي دپاره دمېړه کور وطن اصلي دی که يا ؟

سوال ۳ : که چيري يوه ښځه دپلار د کوره څخه واده کړل سي د خاوند و کور ته راسی نو د دې ښځي دلمانځه حکم څه دی يعني سفريانه لمونځ به کوي او که داقامت دحالت لمونځ ؟

جواب : که څه هم د مور او پلار کور د ښځې د پاره اصلي وطن وو خو چې کله د ې د مور او پلار کور پرې ښوو ی، او د خاوند کور ته د مستقل اوسېدو د پاره راغله نو اوس د مور او پلار وطن د دې ښځې د پاره وطن اصلي پاته نه سو بلکي د خاوند کور د دې د پاره وطن اصلي وګرځېدی، له دې وجې څخه دا ښځه که چیري د خاوند د کوره څخه د مور او پلار کور ته راسي او نیت یې د اقامت نه وي کړی نو لمونځ به سفرېانه اداء کوي .

لماقال العلامة ابن عابدين رحمه الله في ردالمحتار : قوله (الوطن الأصلي) ويسمى بالأهلي ووطن الفطرة والقرار قوله (أو تأهله) أي تزوجه قال في شرح المنية ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به فقيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما وهو الأوجه ولو كان له أهل ببلدتين فأيتهما دخلها صار مقيما فإن ماتت زوجته في إحداهما وبقي له فيها دور وعقار قيل لا يبقى وطنا له إذ المعتبر الأهل دون الدار كما لو تأهل ببلد واستقرت سكنا له وليس له فيها دار وقيل تبقى

قوله (أو توطنه) أي عزم على القرار فيه وعدم الارتحال وإن لم يتأهل فلو كان له أبوان ببلد غير مولده وهو بالغولم يتأهل به فليس ذلك وطنا له إلا إذا عزم على القرار فيه وترك الوطن الذي كان له قبله

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۸۶ مطلب في وطن الاصلي ووطن الاقامة مكتبه رشيديه / خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۲۰۴ الفص الثاني والعشرون في صلاة المسافر / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۹۰ باب صلاة المسافر / كبيري ص ۵۴۴ باب صلاة المسافر الفص الرابع في الوطن الاصلي)

دمقيم امام په اقتداء كښي به مسافر مقتدى پوره لمونځ كوي .

سوال ۴ : که چیري یو مسافر مقتدی په مقیم (کورني) امام پسي اقتداء وکړي نو د هغه مسافر سړي د لمانځه حکم به څه وي ؟

جواب : کله چي یو مسافر کس په مقیم (کورني) امام پسي اقتداء وکړي نو د امام د متابعت له وجي به پوره لمونځ کوي قصر (کموالی) به نه کوي.

(كما قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله)وإن اقتدى المسافر بالمقيم في الوقت أتم أربعا " لأنه يتغبر فرضه إلى أربع للتبعية كما يتغير بنية الإقامة لاتصال المغير بالسبب وهو الوقت "(الهداية)

(وقال العلامة علاؤالدين الحصكفي رحمه الله) وَأَمَّا اقْتِدَاءُ الْمُسَافِرِ بِالْمُقِيمِ فَيَصِحُّ فِي الْوَقْتِ وَيُتِمُّ الخ...

(الهداية ج ۱ ص ۱۴۹ باب صلوة المسافر مكتبه رحمانيه /الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۱۳۰ باب صلوة المسافر سعيد چاپ/ البحرالرائق ج ۲ ص ۱۳۴ باب صلوة المسافر سعيد چاپ/ فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۹۴ باب صلوة المسافر)

دسفر لمونځ په قصدا سره پوره كول .

سوال۵ : كه چيري يو كس د سفر لمونځ پوره اداء كړي يعني ددوه ركعته پرځای باندي څلور ركته وكړي نو څه پرواه لري ؟

جواب : په سفر كښې مسافرانه لمونځ كول د شريعت له مخي عزيمت دی او بيا دځان له خوا څخه قصدا او عمدا په لمانځه كښې زياتوالی كول دګناه موجب او سبب دی . نو جواب هم دادی چي كوم كس په قصدا سره په سفر كښې پوره لمونځ وكړي نو ګناهګاره به وي او پر ده لازمه ده چي ددې عمل څخه توبه وكړي .

قال العلامة برهان الدين المرغيناني رحمه الله تعالى : وإن صلى أربعا وقعد في الثانية قدر التشهد أجزأته الأوليان عن الفرض والأخريان له نافلة " اعتبارا بالفجر ويصير مسيئا لتأخير السلام. قال العلامة علاءالدين الحصفكى**:** (فَلَوْ أَتَمَّ مُسَافِرٌ إنْ قَعَدَ فِي) الْقَعْدَةِ (الْأُولَى تَمَّ فَرْضُهُ وَ) لَكِنَّهُ (أَسَاءَ) لَوْ عَامِدًا لِتَأْخِيرِ السَّلَامِ وَتَرْكِ وَاجِبِ الْقَصْرِ وَوَاجِبِ تَكْبِيرَةِ افْتِتَاحِ النَّفْلِ وَخَلْطِ النَّفْلِ بِالْفَرْضِ، وَهَذَا لَا يَحِلُّ كَمَا حَرَّرَهُ الْقُهُسْتَانِيُّ بَعْدَ أَنْ فَسَّرَ أَسَاءَ بِأَثِمَ وَاسْتَحَقَّ النَّارَ .

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۱۲۸ كتاب المسافر / الهداية شرح بداية المبتدى ج ۱ ص ۱۴۶ كتاب المسافر / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۳۹ الباب الخامس عشر صلوة المسافر / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۹۹ باب صلوة المسافر)

مقتدی دامام دحاله خبرنه دی چي امام مقیم دی که مسافر خو اقتداءيې پسې وکړه .

سوال۶ : دکوم امام دسفریا داقامت په هکله چي کله مقتدی علم ونه لري چي ایا دغه امام مقیم دی که مسافر دی او بیاپه دغه ناخبری کښې اقتداء پسې وکړي ایا ددغه مقتدي لمونځ صحیح دی که یا ؟

جواب : دامام دسفریا اقامت له حالته ځخه دناخبری له وجهي ډیر واري مقتدی دشکوکو او شبهاتو ښکار کیږي نو ددې دپاره دامام دسفریا اقامت دحالته ځخه خبرتیا دمقتدي دپاره ضروري خبره ده نو ځکه مقتدی باید دامام دسفریا اقامت حال معلوم کړي تر ځو چي اقتداءيې ورپسې صحیح سي . او که چیري مقتدي په امام پسې دناخبری په حالت کښې اقتداء وکړه اقتداءيې نه صحیح کیږي .

لما قال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار على الدرالمختار تحت قوله (أَنَّ الْعِلْمَ بِحَالِ الْإِمَامِ شَرْطٌ لَكِنْ) وَحَاصِلُهُ: تَسْلِيمُ اشْتِرَاطِ الْعِلْمِ بِحَالِ الْإِمَامِ:

وقال ابن نجیم المصری : وَهَذَا مَحْمَلُ مَا فِي الْفَتَاوَى إذَا اقْتَدَى بِالْإِمَامِ لَا يَدْرِي أَمُسَافِرٌ هُوَ أَمْ مُقِيمٌ لَا يَصِحُّ؛ لِأَنَّ الْعِلْمَ بِحَالِ الْإِمَامِ شَرْطُ الْأَدَاءِ بِجَمَاعَةٍ اهـ.

(الدرالمختار مع ردالمحتارج ۲ ص ۵۳۱ صلوة المسافر / البحرالرائق ج ۲ ص ۳۵ باب المسافر / ومثله في الکبیری ص ۵۹۱ باب صلوة المسافر / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۹۵ باب صلوة المسافر)

مسافر امام ددوه رکعته پر ځای څلور رکعته وکړه .

سوال۷ : که چیري مسافر امام ددوه رکعته پرځای باندي څلور رکعته پوره وکړي نو دامام او مقتدیانو لمونځ څنګه دی ؟

جواب : دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد د مسافر دپاره په څلور رکعتیزه لمانځه کښې دوه رکعته لمونځ کول داسي دی لکه دسهار دوه رکعته . یعني لکه څنګه چي دسهار په دوو رکعتونو کښې زیاتی جائز نه دی . همداسي دمسافر دپاره دماپښین او مازدیګر او ماخوستن لمونځونه څلور رکعته کول جائز نه دي که چیري مقتدیان په داسي امام پسې اقتداء وکړي نو ښکاره خبره ده چي لمونځ یې ونه سو بلکي دمقتدیانو لمونځ فاسدیږي ځکه هغوی په داسي امام پسې دوه رکعته

لمونځ وکړی، چې هغه ته نفل وه . دامام او دمسافرو مقتديانو حکم دادی، چې که امام خطا وتی، څلور رکعته يې وکړل او په دوهم رکعت کښې يې قعده وکړل او په پاته لمونځ کښې يې سجده سهوه هم وکړه نو لمونځ يې صحيح دی. او که مسافر امام څلور رکعته لمونځ قصدا وکړی. او پر دوهم رکعت يې ناسته هم وکړل نو فرض يې اداء سوه ليکن دغه شخص ګناهګاره دی، او پر ده باندي توبه لازمه ده او دلمانځه اعاده هم لازمه ده .

لماقال العلامةالحصفكي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (صَلَّى الْفَرْضَ الرُّبَاعِيَّ رَكْعَتَيْنِ) وُجُوبًا................ لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : : (قَوْلُهُ وُجُوبًا) فَيُكْرَهُ الْإِتْمَامُ عِنْدَنَا حَتَّى رُوِيَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهُ قَالَ: مَنْ أَتَمَّ الصَّلَاةَ فَقَدْ أَسَاءَ وَخَالَفَ السُّنَّةَ شَرْحُ الْمُنْيَةِ .

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۱۲۳ باب صلاة المسافر / فتح القدير ج ۱ ص ۳۵۹ / ستاسي مسائل او دهغو حل ج ۴ ص ۱۰۳ باب صلاة المسافر)

مسافر په مقيم پسې اقتداء وکړه وروسته معلومه سوه چي دمقيم لمونځ فاسددی .

سوال۸: يو کس مسافر دی اقتداء يې په مقيم امام پسې وکړه هغه څلور رکعته پوره کړه سلام يې وګرځوی مسافر هم سلام وګرځوی وروسته معلومه سوه چې د امام لمونځ فاسد ؤ د يو عارض د وجي اوس دغه مسافر بيا دوه رکعته راوګرځوي که څلور رکعته ؟

جواب: دغه مسافر چي په مقيم امام پسې يې څلور رکعته لمونځ کړی ؤ اوس به قضاء او راګرځول د دوو رکعتو کوي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار :: (قَوْلُهُ فَيَصِحُّ فِي الْوَقْتِ وَيُتِمُّ) أَيْ سَوَاءٌ بَقِيَ الْوَقْتُ أَوْ خَرَجَ قَبْلَ إتْمَامِهَا لِتَغَيُّرِ فَرْضِهِ بِالتَّبَعِيَّةِ لِاتِّصَالِ الْمُغَيِّرِ بِالسَّبَبِ وَهُوَ الْوَقْتُ، وَلَوْ أَفْسَدَهُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لِزَوَالِ الْمُغَيِّرِ، بِخِلَافِ مَا لَوْ اقْتَدَى بِهِ مُتَنَفِّلًا حَيْثُ يُصَلِّي أَرْبَعًا إذَا أَفْسَدَهُ لِأَنَّهُ الْتَزَمَ صَلَاةَ الْإِمَامِ وَتَصِيرُ الْقَعْدَةُ الْأُولَى وَاجِبَةً فِي حَقِّ الْمُقْتَدِي الْمُسَافِرِ أَيْضًا، حَتَّى لَوْ تَرَكَهَا الْإِمَامُ وَلَوْ عَامِدًا وَتَابَعَهُ

الْمُسَافِرُ لَا تَفْسُدُ صَلَاتُهُ عَلَى مَا عَلَيْهِ الْفَتْوَى، وَقِيلَ تَفْسُدُ كَذَا فِي السِّرَاجِ وَلَا وَجْهَ لَهُ يَظْهَرُ نَهْرٌ.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۸۴ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۳۶ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۰۱ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۲۷۸ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۴۲ مکتبه رشیدیه)

که مسافر په هېره سره او سهوه سره څلور رکعته لمونځ اداء کړي .

سوال ۹: که چیري یو مسافر شخص په سهوه او هیره سره د دوه رکعته پر ځای باندي څلور رکعته لمونځ وکړي نو لمونځ يې درست دی که يا ؟ .

جواب: که چیري دغه شخص دلمانځه په مېنځ کښې قعده او ناسته وکړي نو لمونځ يې صحيح کیږي او غاړې يې خلاصیږي په آخره کې دي سجده سهوه وکړي البته دسلام دتاخير دوجهي څخه به ګناهګاره وي . لیکن که چیري اوله ناسته او قعده ونه کړي او بې له ناستي او قعدې څخه دريم رکعت ته پورته سي او څلور رکعته پوره کړي نو لمونځ يې باطلیږي . بيا به يې دسره څخه راګرځوي . لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (فَلَوْ أَتَمَّ مُسَافِرٌ إنْ قَعَدَ فِي الْقَعْدَةِ (الْأُولَى تَمَّ فَرْضُهُ وَ) لَكِنَّهُ (أَسَاءَ) لَوْ عَامِدًا لِتَأْخِيرِ السَّلَامِ وَتَرْكِ وَاجِبِ الْقَصْرِ وَوَاجِبِ تَكْبِيرَةِ افْتِتَاحِ النَّفْلِ وَخَلْطِ النَّفْلِ بِالْفَرْضِ، وَهَذَا لَا يَحِلُّ كَمَا حَرَّرَهُ الْقُهُسْتَانِيُّ بَعْدَ أَنْ فَسَّرَ أَسَاءَ بِأَثِمَ وَاسْتَحَقَّ النَّارَ (وَمَا زَادَ نَفْلٌ.

(الدرالمختار علي صدرردالمحتار ج ۲ ص ۱۲۸ باب صلاة المسافر / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۳۹ الباب الخامس عشر في صلاة المسافر / البحرالرائق ج ۲ ص ۱۳۰ باب المسافر / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۸۸ باب صلاة المسافر)

په څومره اندازه سفرباندي لمونځ سفريانه کیږي ؟

سوال ۱۰ : يو کس چي څومره اندازه سفر وکړي نو دی شرعا مسافر کرځي؟

جواب : دحنفي فقهي په کتابونو کي راغلي دي چي کوم سفرچي د درو ورځو په اندازه وي داسي چي تګ عادي او دپښو وي او دسهار څخه ترزواله پوري وي لکه څرنګه چي دپخوانیو خلګو همداسي عادت وو په هغه کي لمونځ سفريانه کیږي

دموجوده عصر علماء کرامو ددیوبند دمفتیانو حضراتو په حواله سره دغه مسافت او اندازه (۴۸) میله یاتقریبا (۷۸) کیلو متره ټاکلې ده.

قال الامام برهان الدين ابن مازه رحمه الله في المحيط : أدنى مدة السفر مسيرة ثلاثة أيام ولياليها السير الذي يكون في ثلاثة أيام ولياليها مع الاستراحات التي تكون في خلال ذلك، وهذا لأن المسافر لا يمكنه أن يمشي أبداً بل يمشي في بعض الأوقات، وفي بعض الأوقات يستريح ويأكل ويشرب، وعن أبي حنيفة رحمه الله أنه اعتبر ثلاث مراحل، فعلى قياس هذه الرواية من بخارى إلى أرمينة مدة سفر، وكذلك إلى فربر وبه أخذ بعض مشايخ بخارى رحمهم الله.

وفى الهندية : أَقَلُّ مَسَافَةٍ تَتَغَيَّرُ فيها الْأَحْكَامُ مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ كَذَا في التَّبْيِينِ هو الصَّحِيحُ كَذَا في جَوَاهِرِ الْأَخْلَاطِيِّ الْأَحْكَامُ التي تَتَغَيَّرُ بِالسَّفَرِ هِيَ قَصْرُ الصَّلَاةِ وَاِبَاحَةُ الْفِطْرِ

وقال الامام علاوالدين الحصكفي رحمه الله في الدرمختار : (مسيرة ثلاثة أيام ولياليها) من أقصر أيام السنة ولا يشترط سفر كل يوم إلى الليل بل إلى الزوال ولا اعتبار بالفراسخ على المذهب (بالسير الوسط مع الاستراحات المعتادة) حتى لو أسرع فوصل في يومين قصر

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۷۹ مکتبه حبیبیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۳۸ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۲۶ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۱۹۷ مکتبه رشیدیه / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۸۷ پښتو / خیرالفتاوی ج ۲ ص ۶۶۳ اردو / فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۳۲۴ اردو)

داقامت دمودې دنیت خخه پرته قصرواجب دی

سوال ۱۱ : که چیري یو څوک دخپل وطن څخه بل ځای ته دسفر په نیت ولاړ سي او اندازه یې دسفر هم پرې کړې وي خو دغه کس نیت دپنځلسو ورځو نه دی کړی وایي چي نن ځم او سبا ځم په دغه دوران کي شپې تر پنځلسو ورځو ډیري سوې اوس به دی قصر کوي او که اتمام کوي ؟

جواب : داسي کس چي تر څه وخته دپنځلسو ورځو نیت نه وي کړی دی به دقصر

لمونځ کوي که څه هم دده تر پنځلسو ورځو زياتي تيري سوي وي البته چي کله يې دپنځلسو ورځو نيت وکړی نو به پوره لمونځ کوي .

لما قال العلامة علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ٥٩٣ هـ) فى الهداية في شرح بداية المبتدي : ولو دخل مصرا على عزم أن يخرج غدا أو بعد غد ولم ينو مدة الإقامة حتى بقي على ذلك سنين قصر " لأن ابن عمر رضي الله عنه أقام بأذربيجان ستة أشهر وكان يقصر وعن جماعة من الصحابة رضي الله عنهم مثل ذلك ....ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة أو قرية خمسة عشر يوما أو أكثر وإن نوى أقل من ذلك قصر .

(الهداية في شرح بداية المبتدي ج ١ ص ٨٠ باب صلاة المسافر/ بدائع الصنائع ج ١ ص ٩٣ فصل في بيان يصير به المقيم مسافر / الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٣٩ الباب الخامس عشر في صلوة المسافر / فتاوی حقانیه ج ٣ ص ٩٢ باب صلاة المسافر)

موټروانان به دسفر لمونځ کم کوي که پوره؟

سوال ١٢: هغه کسان چي ټول عمر ئې په سفر کښي وي لکه موټروانان يا هغو ته ورته کسان ايا دوی لمونځ دسفر به کم کوي که پوره همداشان کوچيان او کېږدی والا خلګ؟

جواب: هغه موټروانان او پيرداران چي هره ورځ سفر کوي دسفر د مسافت په اندازه دغه موټروانان او دوی ته ورته کسب کاره به لمونځ دسفر کوي او کوچيان او مالدار به هغه وخت پوره لمونځ کوي چي نيت دا قامت وکړي او ترڅه وخته چي ئې نيت دا قامت نه وي کړی نو دي دسفر لمونځ کوي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار: بِخِلَافِ أَهْلِ الْأَخْبِيَةِ...... نَوَوْهَا فِي الْمَفَازَةِ فَإِذًا تَصِحُّ فِي الْأَصَحِّ وَبِهِ يُفْتَى

(الدرالمختار ج ١ ص ٥٨٣ باب صلاةالمسافر مكتبه حبيبيه /ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۴ ص ٨١ /فتاوی حقانیه ج ٣ ص ٩٣ باب صلاةالمسافر /فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ٣٦۴ /البحرالرائق ج ٢ ص ٢٢٦ باب صلاةالمسافر مكتبه رشيديه/فتاوی فریدیه ج ٣ ص ٦٨)

دوطن اقامت څخه چي اصلي وطن ته ځي پرلاري لمونځ څنګه وکړي؟

سوال ۱۳: یو کس په هلمند کي کسب کوي اقامت ئې دلته دی او اصلي وطن او کورئې په کندهار کي دی چي کله د هلمند څخه ځي کندهار ته پر لاري به څنګه لمونځ کوي همدا شان چي له کندهار څخه راځي ایا د سفر لمونځ به کوي که پوره لمونځ به کوي؟

جواب: دغه کس که کندهار ته ځي یا د کندهار څخه بیرته راځي په دواړو صورتونو کښي به پر لاري د د سفر لمونځ کوي په نورالایضاح کښي راغلي دي چي مسافر تر څه وخته ښار ته نه وي داخل سوی یا هغه منطقې ته چي دی هلته د پنځلسو ورځو د اوسېدو نیت لري نه وي داخل سوی تر هغه وخته به دی د مسافری لمونځ کوي.

(وفي نورالایضاح) ولا يزال يقصر حتى يدخل مصره أو ينوي إقامته نصف شهر ببلد أو قرية

(وفي الهندية) وَلَا يَزَالُ عَلَى حُكْمِ السَّفَرِ حَتَّى يَنْوِيَ الْإِقَامَةَ فِي بَلْدَةٍ أَوْ قَرْيَةٍ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا أَوْ أَكْثَرَ، كَذَا فِي الْهِدَايَةِ

(فتاوی عالمګیریه ج ۱ ص ۱۳۹ الباب الخامس عشر في صلاة المسافر مکتبه رشیدیه/نورالایضاح ص ۱۰۸ باب صلاة المسافر مکتبه حبیبیه/الهدایة ج ۱ ص ۱۴۸ باب صلاة المسافر مکتبه رحمانیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۲۶ باب صلاة المسافر مکتبه رشیدیه/فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۶۹)

یو کس په سفر کښي د ماپښین څلور سره رکعتونه پوره اداء کړه څه به کوي؟

سوال ۱۴: یو کس په سفر کښي د ماپښین د دوه رکعته پر ځاي څلور رکعته پوره وکړي ایا لمونځ ئې صحیح دی که یا؟

جواب: که یو کس په سفر کښي د دوه رکعته پر ځاي څلور رکعته قصداً وکړي دی ګنهګاره دی او د لمانځه راګرځول ضروري دي که څه هم د سجده سهوه کړي وي ځکه چي په قصدي شکل سجده سهوه کفایت نه کوي او که ئې په هېره څلور

رکعته وکړه نوپه سجده سهوه سره دوه رکعته فرض دوه رکعته نفل ګرځي په دې شرط چي د ماپينځ ناسته ئې کړي وي او که ئې نه وي کړې نو فرض ئې باطل سوه لمونځ ئې نفل سو او سجده سهوه دي وکړي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :فَلَوْ أَتَمَّ مُسَافِرٌ إنْ قَعَدَ فِي) الْقَعْدَةِ (الْأُولَى تَمَّ فَرْضُهُ وَ) لَكِنَّهُ (أَسَاءَ) لَوْ عَامِدًا لِتَأْخِيرِ السَّلَامِ وَتَرْكِ وَاجِبِ الْقَصْرِ وَوَاجِبِ تَكْبِيرَةِ افْتِتَاحِ النَّفْلِ وَخَلْطِ النَّفْلِ بِالْفَرْضِ، وَهَذَا لَا يَحِلُّ كَمَا حَرَّرَهُ الْقُهُسْتَانِيُّ بَعْدَ أَنْ فَسَّرَ أَسَاءَ بِأَثِمَ وَاسْتَحَقَّ النَّارَ (وَمَا زَادَ نَفْلٌ) كَمُصَلِّي الْفَجْرِ أَرْبَعًا (وَإِنْ لَمْ يَقْعُدْ بَطَلَ فَرْضُهُ) وَصَارَ الْكُلُّ نَفْلًا لِتَرْكِ الْقَعْدَةِ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ١ ص ٥٨٣ باب صلاةالمسافر مكتبه حبيبيه/مالابدمنه ص ٥٣/تبيين الحقائق ج ١ ص ٥١١ باب صلاةالمسافر دارالكتب العلميةبيروت/فتاوى محموديه ج ٧ ص ٥٠٧ باب صلاةالمسافر/فتاوى رحيميه ج ٥ ص ١٧٠/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ٤ ص ٣٦٠)

وطن اصلي متعدد اوڅوځايونه جوړېدلاي سي که يا؟

سوال١٥: ديو کس اصلي وطن کندهار دی اوس راغلی دی په هلمند کي د مستقل اوسېدو لپاره په کډه واړول او دائې وطن وګرځېدی نو ايا کندهار چي اصلي وطن دی هغه باطل سو که يا او ايا وطن اصلي متعدد جوړېداي سي چي هم کندهار اصلي وطن سي او هم هلمند ؟

جواب: کندهار خوستا وطن اصلي دی دذاته څخه که دي اوس کندهار بالکل پرمخ پرېښووی او هيڅ تعلق هلته نه لرې دداهل او اولاد په اعتبار سره او هلمند دي د همېشه لپاره د هستوګني په غرض خپل وطن وګرځوی نو اوس کندهار چي ستا وطن اصلي وو باطل سو او کله چي ته کندهار ته د مېلميستيا لپاره يا د بل ضرورت لپاره ترپنځلس ورځي کم ولاړسې نو لمونځ به د مسافری کوې او که کندهار دي هم په وطن اصلي قائم پرې ښووی چي دامي وطن اصلي دی او هلمند دي د همېشه هستوګني په غرض سره وطن کړی نو دواړه ولايته وطن اصلي دي او وطن اصلي متعدد کېدلای سي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق :قَوْلُهُ وَيَبْطُلُ الْوَطَنُ الْأَصْلِيُّ بِمِثْلِهِ لَا السَّفَرِ وَوَطَنُ الْإِقَامَةِ بِمِثْلِهِ وَالسَّفَرِ وَالْأَصْلِيِّ) ؛ لِأَنَّ الشَّيْءَ يَبْطُلُ بِمَا هُوَ مِثْلُهُ لَا بِمَا هُوَ دُونَهُ فَلَا يَصْلُحُ مُبْطِلًا....... وَالْوَطَنُ الْأَصْلِيُّ هُوَ وَطَنُ الْإِنْسَانِ فِي بَلْدَتِهِ أَوْ بَلْدَةٍ أُخْرَى اتَّخَذَهَا دَارًا وَتَوَطَّنَ بِهَا مَعَ أَهْلِهِ وَوَلَدِهِ، وَلَيْسَ مِنْ قَصْدِهِ الِارْتِحَالُ عَنْهَا بَلْ التَّعَيُّشُ بِهَا وَهَذَا الْوَطَنُ يَبْطُلُ بِمِثْلِهِ لَا غَيْرُ

(البحرالرائق ج ۲ ص ۱۳۶ باب صلاةالمسافر مکتبه رشیدیه/غنیةالمستملي ص ۵۰۵/فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۷۷/فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۸۹ باب صلاةالمسافر/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۳۵۹)

پلار دزوی کره اوزوی د پلار کره مسافروي که مقیم ؟

سوال۱۶: یو کس د پلار د هستو ګني د ځای څخه لیري اوسیږي اوس که زوی د پلار کره یا پلار دزوی کور ته راسي نو سفریانه لمونځ به کوي او که پوره؟

جواب: چې وطن اصلي د هریوه جلا جلا وي یعني هریو دخپل اهله او ښځي سره په جلاجلا وطنو کښې اوسیږي نو په دوی کښې چې هریو دهغه بل وطن ته په تلو سره مقیم نه ګرځي بلکه لمونځ به سفریانه کوي او که دداړو وطن اصلي یو وو هریو چې د وطن اصلي څخه د سفر په اندازه ووتی هغه به قصر کوي او که د سفر د مسافت په اندازه نه وو وتلی نو پوره لمونځ به کوي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :الْوَطَنُ الْأَصْلِيُّ) هُوَ مَوْطِنُ وِلَادَتِهِ أَوْ تَأَهُّلِهِ أَوْ تُوَطُّنِهُ يَبْطُلُ بِمِثْلِهِ) إذَا لَمْ يَبْقَ لَهُ بِالْأَوَّلِ أَهْلٌ....... وَلَوْ كَانَ لَهُ أَهْلٌ بِبَلْدَتَيْنِ فَأَيَّتُهُمَا دَخَلَهَا صَارَ مُقِيمًا

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۸۶ باب صلاةالمسافر مکتبه حبیبیه/فقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۳۶۴ باب صلاةالمسافر مکتبه رشیدیه/فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۹۶ باب صلاةالمسافر/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۳۷۶)

بېله ارادې د قیام یو ځای ډېر وخت پاته کېدل؟

سوال ۱۷: یو کس په تجارت سره یو ځای ځي خو اراده د پنځلس ۱۵ شپو نه لري خو بیا هم دده څخه تر پنځلس ۱۵ ډیري شپې وسي هلته د یوې مجبورۍ دوجي دغه کس به لمونځ پوره کوي او که د سفر یعني نیم لمونځ؟

جواب: دغه کس که چیري داوله څخه هلته تینګه اراده د پنځلسو ورځونه درلوده خو بیاهم پنځلس ورځي یاتر هغه زیاتي ځني وسي په داسي حالت کښي به دی قصر لمونځ یعني مسافرانه لمونځ کوي پوره به نه کوي

وفي الهداية :ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة أو قرية خمسة عشر يوما أو أكثر........ ولو دخل مصرا على عزم أن يخرج غدا أو بعد غد ولم ينو مدة الإقامة حتى بقي على ذلك سنين قصر

(الهدايه ج ۱ ص ۱۴۹ باب صلاة المسافر مكتبه رحمانيه/البحر الرائق ج ۲ ص ۲۳۱ باب صلاة المسافر مكتبه رشيديه/فتاوى تاتارخانيه ج ۲ ص ۴۹۵؛۴۹۶ باب صلاة المسافر/حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۴۲۶ باب صلاة المسافر مكتبه رشيديه/فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۵۳)

د سفر شرعي اندازه او مسافت څومره دی؟

سوال ۱۸: په څومره مزل کولو سره نن سبا په دغه جدید حساب سره انسان مسافر کیږي یعني څو میله او څو کیلو متره د سفر اندازه ده شرعًا؟

جواب: زموږ په مذهب کښي د سفر اندازه او مسافت چي دهغه په پرې کولو سره انسان مسافر کیږي ۴۸ میله دی، او په جدید حساب سره ۷۸ اته اویا کیلو متره د سفر اندازه او مسافت دی.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :

أَيْ التَّقْدِيرُ بِثَلَاثِ مَرَاحِلَ قَرِيبٌ مِنْ التَّقْدِيرِ بِثَلَاثَةِ أَيَّامٍ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۷۹ باب صلاة المسافر مكتبه حبيبيه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۳۸ باب صلاة المسافر مكتبه رشيديه/فتاوى محموديه ج ۷ ص ۴۷۷ باب صلاة المسافر/فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۸۷ باب صلاة المسافر/فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۵۵)

په سفر کښې سنتونه باید وسي که یا؟

سوال ۱۹: په سفر کښې د سنتو څه حکم دی باید وسي او که یا؟ او که د نه کولو رخصت ئې سته؟

جواب: په سنتو کښې قصر نسته چې څلور رکعته دي دوه رکعته وسي دومره سهولت شرعًا سته چې سفر شروع وي او سم اطمینان نه وي او د انډیوالانو خیال ساتل هم ضروري دي که پرېښوول سي حرج نه لري او کله چې پر منزل او کوټه او وطاق وي حالت د قرار او سکون وي بیا یې پرېښوول نه دي پکار.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :

(وَيَأْتِي) الْمُسَافِرُ (بِالسُّنَنِ) إنْ كَانَ (فِي حَالَ أَمْنٍ وَقَرَارٍ وَإِلَّا) بِأَنْ كَانَ فِي خَوْفٍ وَفِرَارٍ (لَا) يَأْتِي بِهَا هُوَ الْمُخْتَارُ لِأَنَّهُ تَرْكٌ لِعُذْرٍ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۲ ص ۱۳۱ باب صلاةالمسافر سعيد چاپ/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۲۹ باب صلاةالمسافر مكتبه رشيديه/فتاوی عالمگيريه ج ۱ ص ۱۳۹ الباب الخامس عشر في صلاةالمسافر مكتبه رشيديه/فتاوی محموديه ج ۷ ص ۵۱۴ باب صلاةالمسافر/غنيةالمستملي ص ۵۰۶/خيرالفتاوی ج ۲ ص ۶۷۰/فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۲۷۵/فتاوی فريديه ج ۳ ص ۸۴/فتاوی رحيميه ج ۵ ص ۱۶۶)

امام او مقتدي يو مسافر او بل مقيم وي لمونځ به څنګه كوي؟

سوال۲۰: که چیري امام مقیم وي او مقتدی مسافر وي او مسافر راولاړ سي د مقیم امام شاته په ده پسې دوه رکعته لمونځ وکړي باقي پرېږدي لمونځ ئې صحیح سو که یا؟

جواب: هر کله چې مسافر سړی په مقیم امام پسې اقتداء وکړه نو لمونځ به پوره څلور رکعته کوي او که ئې نیم وکړی نیم ئې پرېښوو ی لمونځ ئې نه دی صحیح د سره څخه به یې راګرځوي.

وَإِنْ اقْتَدَى مُسَافِرٌ بِمُقِيمٍ أَتَمَّ أَرْبَعًا وَإِنْ أَفْسَدَهُ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بِخِلَافِ مَا لَوْ اقْتَدَى بِهِ بِنِيَّةِ النَّفْلِ ثُمَّ أَفْسَدَ حَيْثُ يَلْزَمُ الْأَرْبَعُ، كَذَا فِي التَّبْيِينِ.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۴۲ الباب الخامس عشر في صلاة المسافر مكتبه رشيديه/فتاوى ملاعلي قاري ج ۱ ص ۴۰۰ باب صلاة المسافر مكتبه رشيديه/تبيين الحقائق ج ۱ ص ۵۱۵ باب صلاة المسافر دار الكتب العلمية بيروت/فتاوى رحيميه ج ۵ ص ۱۶۶)

امام چي مسافروي او مقتديان مقيم وي څنګه لمونځ به کوي؟

سوال ۲۱: که امام مسافروي او مقتديان مقيم وي امام خپل دوه رکعته لمونځ پوره کړي سلام ئې وګرځوي چي مقتديان ولاړسوه پاته دوه رکعته لمونځ کوي دا به څنګه کوي قراءت به وايي که يا؟ جواب راکړئ

جواب: دغه خلګ چي کله ولاړسي خپل پاته رکعتونه به داسي کوي چي نه به سورت فاتحه وايي او نه به سورت وايي.

وفي الفتاوى الهندية : وَإِنْ صَلَّى الْمُسَافِرُ بِالْمُقِيمِينَ رَكْعَتَيْنِ سَلَّمَ وَأَتَمَّ الْمُقِيمُونَ صَلَاتَهُمْ، كَذَا فِي الْهِدَايَةِ وَصَارُوا مُنْفَرِدِينَ كَالْمَسْبُوقِ إلَّا أَنَّهُمْ لَا يَقْرَءُونَ فِي الْأَصَحِّ، هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ،

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۴۲ الباب الخامس عشر في صلاة المسافر مكتبه رشيديه/فتاوى ملاعلي قاري ج ۱ ص ۴۰۱ باب صلاة المسافر مكتبه رشيديه/الدر المختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۵۸۴ باب صلاة المسافر مكتبه حبيبيه/فتاوى رحيميه ج ۵ ص ۱۶۶/فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۶۶)

باب صلوة المريض

دسالنډۍ په خاطر په ناسته لمونځ جواز لري او که يا؟

سوال ۱: يو څوک دسالنډۍ مريضي لري که چيري لمونځ په ولاړي کوي د سالنډۍ څخه په عذابيږي او س پوښتنه داده چي ددغه مرض په وجه لمونځ په ناسته جواز لري او که يا؟

جواب: که چيري يو څوک دسالنډۍ تکليف ولري او دد ې سالنډۍ دوجهي لمونځ په ولاړه نسي کولای يعني په ولاړه کي دومره په تکليف کيږي چي دهغه تکليف سره لمونځ کول ډېر مشکل وي نو داسي شخص ته جواز لري چي لمونځ په ناسته وکړي والله اعلم.

لماقال علي بن ابي بكر المرغيناني رحمه الله تعالى : إذا عجز المريض عن القيام صلى قاعدا يركع ويسجد لقوله عليه الصلاة والسلام لعمران بن حصين رضي الله عنه صل قائما فإن لم تستطع فقاعدا فإن لم تستطع فعلى الجنب تومئ إيماء ولأن الطاعة بحسب الطاق ولما في الهندية : إذَا عَجَزَ الْمَرِيضُ عن الْقِيَامِ صلى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ هَكَذَا في الْهِدَايَةِ وَأَصَحُّ الْأَقَاوِيلِ في تَفْسِيرِ الْعَجْزِ أَنْ يَلْحَقَهُ بِالْقِيَامِ ضَرَرٌ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى كَذَا في مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۵۶۰ مكتبه حبيبية / الهداية ج ۱ ص ۱۴۴ مكتبه حنفية / الفتاوى العالمگيري ج ۱ ص ۱۳۶ مكتبه رشيدية / فتاوى محموديه ج ۷ ص ۵۶۳ اردو / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۴۷ پښتو)

که چیري یوڅوک مریض وي هغه ته جواز سته چي په ناسته لمونځ وکړي اوکه یا ؟

سوال ۲ : که چیري یوڅوک داسي مریض وي چي ولاړه یې په قدرت کي نه وي نو داسي شخص ته په شریعت کي دا اجازه سته چي په ناسته لمونځ وکړي او که یا ؟

جواب : څومره اندازه چي دچا وس او طاقت وي دهغه وس او طاقت په اندازه به لمونځ اداء کوي که دولاړي طاقت ورسره وو په ولاړه به یې اداء کوي او که دناستي طاقت ورسره په ناسته به یې اداء کوي نو چیري رښتیا هم یوڅوک داسي مریض وي چي په ولاړي دلمونځ کولو طاقت و نه لري داسي کس ته شریعت په ناسته دلمونځ کولو اجازه ورکړې ده شرعا کوم حرج نه لري .

لماقال علي بن ابي بكر المرغيناني رحمه الله تعالى : إذا عجز المريض عن القيام صلى قاعدا يركع ويسجد لقوله عليه الصلاة والسلام لعمران بن حصين رضي الله عنه صل قائما فإن لم تستطع فقاعدا فإن لم تستطع فعلى الجنب تومئ إيماء ولأن الطاعة بحسب الطاق ولما في الهندية : إذَا عَجَزَ الْمَرِيضُ عن الْقِيَامِ صلى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ هَكَذَا في الْهِدَايَةِ وَأَصَحُّ الْأَقَاوِيلِ في تَفْسِيرِ الْعَجْزِ أَنْ يَلْحَقَهُ بِالْقِيَامِ ضَرَرٌ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى كَذَا في مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص۵۶۰ مکتبه حبیبیة / الهدایة ج ۱ ص ۱۴۴ مکتبه حنفیة / الفتاوی العالمگیري ج ۱ ص ۱۳۶ مکتبه رشیدیة / فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۵۶۳اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۴ ص ۳۴۷پښتو)

که دیوچا پر تندي باندي یا پزه باندي دانه وي نوسجده به څنګه ګوي ؟

سوال ۳ : که چیري دیو شخص پرپزه یاتندي باندي دانه وي یا خوږ وي او سجده باندي کول مشکل وي نو هغه به سجده څنګه کوي ؟

جواب : داسي شخص چي پر تندي یا پزه یې دانه وي او سجده باندي کول مشکل وي نو هغه ته داروا او جائز ده چي پریوه باندي یا پرتندي یا پر پزه باندي اکتفاء وکړي نو سجده یې درسته او صحیح ده .

وفي الهداية :فان اقتصر على احدهما جاز عند ابى حنيفة رحمه الله تعالى وقالا لايجوز الاقتصار على الانف الا من عذر وهو رواية عنه .

(الهدایة ج ۱ ص ۱۰۰ باب صفة الصلوة / حاشیة الطحطاوي علي مراقي الفلاح جص ۲۳۱ مکتبه رشیدیه/ الموسوعة الفقهیة ج ۲۴ ص۲۰۷)

دمعذور سړي دلمانځه طریقه

سوال ۴ : یو کس داسي معذور دی چي همیشه یې څڅک بولي جاري وي او یا یه دپوزي وینه جاري وي دداسي کس دلمونځ کوولو طریقه څرنګه ده ؟

جواب: دداسي معذور کس چي تر څو پوري داعذر موجود وي دغه شخص به وهر لمانځه ته اودس کوي یعني دسهار په اوداسه به دماپښین لمونځ نه کوي دماپښین دلمانځه لپاره به بل اودس کوي خو په دغه اوداسه په دغه وخت کښي چي دده خوښه وي هر لمونځ کولای سي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَصَاحِبُ عُذْرٍ مَنْ بِهِ سَلَسٌ) بَوْلٍ لَا يُمْكِنُهُ إمْسَاكُهُ (أَوْ اسْتِطْلَاقُ بَطْنٍ أَوْ انْفِلَاتُ رِيحٍ أَوْ اسْتِحَاضَةٌ) أَوْ بِعَيْنِهِ رَمَدٌ أَوْ عَمَشٌ أَوْ غَرَبٌ، وَكَذَا كُلُّ مَا يَخْرُجُ بِوَجَعٍ وَلَوْ مِنْ أُذُنٍ وَثَدْيٍ وَسُرَّةٍ (إنْ اسْتَوْعَبَ عُذْرُهُ تَمَامَ وَقْتِ صَلَاةٍ مَفْرُوضَةٍ)

(درالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۳۰۵ سعید چاپ / حاشیة الطحطاوي ص ۱۴۸ قدیمي کتابخانه / الفقه الا سلامي وادلته ج ۱ ص ۴۴۲ رشیدیه چاپ / فتاوای محمودیه ج ۵ ص ۲۱۵ / فتاوای حقانیه ج ۳ ص ۷۵)

دعذر په خاطر په ناپاکو جامو کښې کړې لمونځونه راګرځول نه غواړي .

سوال ۵ : که چیري یو کس دعذر په خاطر یوه یا دوې میاشتې په ناپاکو جامو کښې لمونځ اداء کړي وروسته تر زوال ددغه عذر بیا هغه کړي لمونځونه راګرځول غواړي که یا ؟

جواب : دامام ابو حنیفه رحمه الله تعالی دمذهب فقهاوو دا مسئله په وضاحت سره لیکلې ده که چیري دیو کس جامې ناپاکه او نجسې سولې او بیا دده سره داسې شی نه وو چې هغه ناپاکي په لیري او زائله کړي یا یې په لږ کړي نو په داسې صورت کښې دي دغه کس په دغه ناپاکه جامو کښې لمونځ اداء کړي لمونځ یې درست او صحیح دی وروسته بیا راګرځول نه غواړي که څه هم دمیاشتو میاشتو وي .

وفی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار : (وَإِذَا لَمْ يَجِدْ) الْمُكَلَّفُ الْمُسَافِرُ (مَا يُزِيلُ بِهِ نَجَاسَتَهُ) أَوْ يُقَلِّلُهَا لِبُعْدِهِ مِيلًا أَوْ لِعَطَشٍ (صَلَّى مَعَهَا) أَوْ عَارِيًّا (وَلَا إعَادَةَ عَلَيْهِ) . وفی الهداية شرح بداية المبتدي : ومن لم يجد ما يزيل به النجاسة صلى معها ولم يعد .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۳۰۴ مطلب في ستر العورة مکتبه رشیدیه / هدایة ج ۱ ص ۸۹ فصل في شروط الصلوة مکتبه حنفیه / البنایة شرح الهدایة ج ۲ ص ۱۳۴ مکتبه حبیبیه / حاشیة الطحطاوي ص ۲۳۸ مکتبه رشیدیه)

دعذر په خاطر لمونځ په ناسته کول رواه دی .

سوال ۶ : زما مور مریضه ده ملا یې درد کوي په ولاړي سره لمونځ ورته مشکل دی هغه داسې که چیري لمونځ په ولاړي سره وکړي نو ملا یې ډیره سخته خوږیږي اوس دا لمونځ په ناسته سره کوي ایا ددې لمونځ شرعا په ناسته سره کول درست دی که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو دامسئله په ډیرو کتابونو کښې په صراحت سره ذکر کړیده چې هر هغه کس که نروي که ښځه وي چې هر کله لمونځ په ولاړي سره کول ورته مشکل

او متعذر سو یعني په ولاړه سره یې نه سو کولای دډیر سخت درد دوجي څخه یا خو یې په ولاړه سره لمونځ کولای سو خو دمریضۍ او ناجوړۍ دزیاتېدو یقیني خطره ورسره وه نو په داسې صورت کښې دغه کس ته په ناسته سره لمونځ کول شرعا رواه دی.

وفی تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق : (تَعَذَّرَ عَلَيْهِ الْقِيَامُ أَوْ خَافَ زِيَادَةَ الْمَرَضِ صَلَّى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ) ، وَكَذَا إذَا خَافَ إبْطَاءَ الْبُرْءِ بِالْقِيَامِ أَوْ دَوَرَانِ الرَّأْسِ أَوْ كَانَ يَجِدُ لِلْقِيَامِ أَلَمًا شَدِيدًا يُصَلِّي قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ «لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – لِعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ صَلِّ قَائِمًا فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبِك» وَلِأَنَّ فِي الْقِيَامِ فِي هَذِهِ الْحَالَةِ حَرَجًا بَيِّنًا وَهُوَ مَدْفُوعٌ بِالنَّصِّ.

وفي الدرالمختار مع ردالمحتار : (مَنْ تَعَذَّرَ عَلَيْهِ الْقِيَامُ) أَيْ كُلُّهُ (لِمَرَضٍ) حَقِيقِيٍّ وَحَدُّهُ أَنْ يَلْحَقَهُ بِالْقِيَامِ ضَرَرٌ بِهِ يُفْتَى (قَبْلَهَا أَوْ فِيهَا) أَيْ الْفَرِيضَةِ (أَوْ) حُكْمِيٍّ بِأَنْ (خَافَ زِيَادَتَهُ أَوْ بُطْءَ بُرْئِهِ بِقِيَامِهِ أَوْ دَوَرَانَ رَأْسِهِ أَوْ وَجَدَ لِقِيَامِهِ أَلَمًا شَدِيدًا) أَوْ كَانَ لَوْ صَلَّى قَائِمًا سَلِسَ بَوْلُهُ أَوْ تَعَذَّرَ عَلَيْهِ الصَّوْمُ كَمَا مَرَّ (صَلَّى قَاعِدًا)

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۹۵ باب صلاة المريض مكتبه شامله / تبيين الحقائق ج ۱ ص ۴۸۷ باب صلاة المريض مكتبه اشرفيه / الفتاوى الهنديه ج ۱ ص ۱۳۶ / فتاوى ملا علي قارى رحمه الله تعالي ج ۱ ص ۳۸۹ باب صلاة المريض)

غاښ یې کښلي دی وینه یې نه بندېږي دلمانځه وخت راغي .

سوال ۷ : که چیري یو کس غاښ کښلی وي او وینه یې مسلسل روانه وي بندیږي نه او بل طرف ته دلمانځه وخت راغی اوس به دا سړی څه کوي ؟ .

جواب : که چیري یو وار دیوه لمانځه کامل وخت په دې حالت کښې تیر سي چي هغه وینه او عذر مسلسله روان وي او دومره وخت بنده نه سي چي دی اودس وکړي او دوخت لمونځ اداء کړي نو بیا دغه شخص معذوره ګڼل کیږي .اود معذور سړي حکم دادی چي دی به دهر وخت لمانځه ته اودس کوي. او په دغه یوه اودس باندي فرضي او نفلي قضایي ټوله لمونځونه اداء کولای سي . او دا سړی تر هغه وخته

پوري معذور بلل کيږي تر څه وخته چي د يو کامل لمانځه وخت د دغه عذره څخه خالي نه سي . يعني د معذوره د پاره دا ضروري نه ده چي دغه عذر به مسلسل جاري وي . البته دا ضروري ده چي د يوه لمانځه په کامل وخت کښې يو وار يا دوه وراه هغه عذر راسي .او کله چي دا سي يو وخت راسي چي په پوره وخت کښې دغه عذر بالکل رانه سي نو بيا دغه شخص د معذوريت څخه وزي .

لما قال العلامة إبراهيم بن محمد بن إبراهيم الحَلَبي الحنفي (المتوفى: ٩٥٦هـ) فى مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر:

الْمُسْتَحَاضَة وَمن بِهِ سلسل بَوْل أَو استطلاق بطن أَو انفلات ريح أَو رُعَاف دَائِم أَو جرح لَا يرقأ يتوضؤن لوقت كل صَلَاة، وَيصلونَ بِهِ فِي الْوَقْت مَا شاؤا من فرض وَنفل وَيبْطل بِخُرُوجِهِ فَقَط وَقَالَ زفر بِدُخُولِهِ فَقَط وَقَالَ أَبُو يُوسُف بِأَيِّهِمَا كَانَ . ... والمعذور من لَا يمْضِي عَلَيْهِ وَقت صَلَاة إِلَّا وَالَّذِي ابتلى بِهِ يُوجد فِيه .

(مجمع الأنهر في شرح ملتقي الأبحر ج ١ ص ٨٤ باب الحيض / الدر المختار مع ردالمحتار ج ١ ص ٣٠٥ مطلب في احكام المعذور سعيد چاپ / الفتاوى الهنديه ج ١ ص ٤٠ مميتصل بذلک احكام المعذور مكتبه رشيديه / الهداية ج ١ ص ٦٦ باب الحيض مكتبه اميرحمزه / مراقي الفلاح ص ١٤٩ باب الحيض والنفاس / فتاوى محموديه ج ٥ ص ٢١٣ باب الحيض والنفاس)

که يو چاپه ناسته هم لمونځ نه سو کولا ي څه به کوي؟

سوال۸: که يو کس دومره اندازه کمزورۍ سي چي نه سي کښېنا ستلاي نو لمونځ به څه رنګه کوي او سنت او نفل هم وکړي که فقط فرض وکړي؟ جواب راکړئ

جواب: هغه نا جوړۍ مريض او معذوره چي په ناستي په اشاره سره هم لمونځ نه سي کولا هغه دي په پروتو په اشاره سره لمونځ وکړي او د سنتو کول هم ضروري دي که ئې کولاي سوه او که ئې نه سوه کولاي څه ګناه نسته

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَإِنْ تَعَذَّرَ الْقُعُودُ) وَلَوْ حُكْمًا (أَوْمَأَ مُسْتَلْقِيًا) عَلَى ظَهْرِهِ (وَرِجْلَاهُ نَحْوَ الْقِبْلَةِ...... أَوْ عَلَى جَنْبِهِ الْأَيْمَنِ) أَوْ الْأَيْسَرِ وَوَجْهُهُ إلَيْهَا

(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۵۶۱ باب صلاة المريض مكتبه حبيبيه/الهداية ج ۱ ص ۱۴۴ باب صلاة المريض مكتبه رحمانيه/الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۳۶ مكتبه رشيديه/فتاوى ملاعلي قاري ج ۱ ص ۳۹۰ باب صلاة المريض مكتبه رشيديه/فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۵۱)

متفرقات الصلوة

درکعت دنيولو دپاره ځغستا کول چي راځخه تير نه سي.

سوال ۱: ځيني کسان داسي هم سته چي کله دوی مسجد ته راسي جماعت ولاړ وي نو صف ته راځغلي پو ښتنه دا ده چي دغه ځغستا ولمانځه ته ښه کار دی که بد کار دی که ښه کار دی نو بايد هريو ورته راو ځغلي او که بد کار دی نو بايد پر هيز ځيني وسي.

جواب: دبخاري او مسلم شريف حديث دی حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چي ما د نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه واوريدل ده وفرمايل: کله چي جماعت ودريږي نو بيا تاسي دغه جماعت ته په داسي انداز او رفتار کښي مه راځئ چي ځغلی بلکي په داسي طرز او رفتار کښې راسئ چي پر تاسي باندي سکون او وقار پروت وي (يو څوک دا ګمان ونه کړي چي دی ځغلي) څومره اندازه رکعتونه چي مو ونيول هغه اداء کړي او څومره چي در څخه تير سول دهغوی قضا راوګرځوئ. ددې حديث شريف څخه معلومه سوه چي راځغستل وجماعت ته ښه کار نه دی ځکه چي په حديث شريف کښې منع ځيني راغلې ده. البته دحديث شريف علماو ليکلي دي چي دځغستا څخه مراد دلته سخته او ډيره ځغستا ده. که چيري معمولي چابک تګ وي هغه پرواه نه لري.

أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله تعالى عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ، وَأْتُوهَا تَمْشُونَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ، فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا، وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا.

(صحيح البخاري ج ۱ ص ۱۲۴ باب المشي الي الجمعة قديمي كتابخانه / صحيح مسلم شريف ج ۱ص ۴۲۰ بيروت چاپ / فتح الباری لابن الحجر العسقلاني ج ۲ ص ۴۹۶ مکتبه رشيديه / فتح الملهم ج ۴ ص ۱۹۷ مکتبه داراحياء التراث العربية / رياض الصالحين ص ۲۲۹)

په لمانځه کښي دشک دپیداکېدو حکم.

سوال ۲ : یو کس پرلمانځه ولاړوو شک او شبهه ورپیدا سوه چي زه اودس نلرم داودس کولو لپاره دمسجد څخه ووتی اوس پوښتنه داده چي دده لمونځ فاسد دی که یا؟

جواب : کله چي یو کس ته دلمانځه په حالت کښي شک او شبهه ورپیدا سي چي زه او دس لرم که یا او داودس کولو لپاره دمسجد څخه ووتی نو لمونځ یې فاسد سو او که چیري دمسجد څخه دوتلو څخه مخکښي یې ورپیاد سو چي زه اودس لرم او بیا په لمانځه کښي داخل سو نو لمونځ یې نه دی فاسد

(وفي الفتاوى الهندية) منْ ظَنَّ أَنَّهُ أَحْدَثَ فَخَرَجَ مِنْ الْمَسْجِدِ ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ لَمْ يُحْدِثْ اسْتَقْبَلَ الصَّلَاةَ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ خَرَجَ مِنْ الْمَسْجِدِ يُصَلِّي مَا بَقِيَ.

(وقال العلامة مرغيناني رحمه الله) ومن ظن أنه أحدث فخرج من المسجد ثم علم أنه لم يحدث استقبل الصلاة وإن لم يكن خرج من المسجد يصلي ما بقي...... وإن كان استخلف فسدت لأنه عمل كثير من غير عذر

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۹۷ فصل في الاستخلاف مکتبه رشيديه/ الهداية ج ۱ ص ۶۰ باب الحدث في الصلوة مکتبه شامله بیروت/بدائع الصنائع ج ۱ ص ۲۲۳ كتاب الصلوة سعيد چاپ/ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۳ باب الاستخلاف سعيد چاپ/امدادالفتاح شرح نورالايضاح ص ۳۶۵ باب مايفسدالصلوة / دلمانځه مسائل ج ۴ ص ۳۴۵ بحث واو)

په لمانځه کښي چي ډېري وسوسې چاته راځي او فکر بلي خواته ولاړ سي .

سوال ۳ : که چیري یو کس داسي وي چي دوسوسې په مریضۍ باندي اخته وي په اوداسه او لمانځه کښي وسوسې همېشه ورته راځي دداسي کس په شریعت کي څه علاج دی په دې سره خو به لمونځ نه فاسدېږي ؟

جواب : عزیزانو دغه وسوسې په حقیقت کښې د شیطان ګذارونه دي پر انسان باندې او د دې ګذارونو علاج د هغه دعاګانو په کثرت سره ویل دي کوم چې په حدیث شریف کښې نقل سوي دي حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه په خپل کتاب اعمال قرآني کښې دغه دعاوي دداسي وسوسو د علاج دپاره نقل کړي دي .البته په دې سره لمونځ نه فاسدیږي

حضرت عثمان ابن ابی العاص رضي الله عنه ته هم په لمانځه کښې دغه مشکل وریپیښ وو نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې کله ته دغه وسوسې احساس کړې نو تعوذ او پنا په الله جل جلاله پوري وغواړه او درې واره پر خپل چپه طرف تُوکل وکړه . او ملا علی قاري رحمه الله تعالی دا هم لیکلي دي که چیري دغه کس په لمانځه کښې وو نو هم دي درې واره جلا جلا چپه طرف ته تو کړي دا یې هم یو بل قسم علاج دی .

عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ:(رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ) عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ: سَأَلْتُ نَافِعًا، مَوْلَى ابْنِ عُمَرَ: عَنْ هَلْ تَدْرِي كَيْفَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَسْتَعِيذُ؟ قَالَ: كَانَ يَقُولُ: (اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ)

عَن عُثْمَان بن أبي الْعَاصِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بيني وَبَين صَلَاتي وقراءتي يُلَبِّسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزِبٌ فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْهُ وَاتْفُلْ عَلَى يسارك ثَلَاثًا قَالَ فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللَّهُ عَنِّي» . رَوَاهُ مَسْلِمٌ

(مشكاة المصابيح ج ١ ص ١١٩ باب الوسوسة / مرقاة المفاتيح ج ١ ص ٢٣٨ / مصنف عبدالرزاق الصنعاني ج ٢ ص ٨٤ باب الاستعاذة في الصلوة / صحيح مسلم ج ٤ ص ١٧٢٨ باب التعوذ من شيطان الوسوسة مكتبه شامله بېروت / الطهور للقاسم ابن سلام ج ١ ص ١٤٠ باب فضل الوضوء في غير حدث مكتبه شامله / مصنف ابن ابي شيبة ج ٥ ص ٥١ باب في الرجل يفزع من الشيء مكتبه شامله بېروت /اعمال قرآني دحكيم الامت ص ٦٦)

که دېزي وينه هميشه وي نودلمونځ کولو حکم.

سوال ۴: د يو کس پزه داسي وينه کوي چي هيڅ کله دريږي نه نو شرعاً داسي کس معذور دی که يا او دغه کس د وينو سره لمونځ وکړي که يا؟

جواب: کله چي يوه مريض ته دلمانځه په ټول وخت کښي دومره وخت پيدا نه سي چي د مرض پرته دي پرده تېر سي نو داسي کس ته شرعاً معذور ويل کيږي او دداسي معذور کس حکم دادی چي وهر وخت ته به اودس کوي خو کله چي وخت ووتی نودده اودس هم مات سو او دبل وخت دلمانځه دپاره به بل اودس کوي نو لهذا دکوم کس چي پزه ويني کوي او پرده ديوه لمانځه مکمل وخت تېر سي او دده دپزي وينه ونه دريږي نو دغه کس هم شرعاً معذور ده دی او دغه کس به دهر وخت ولمانځه ته اودس کوي کله چي وخت ووتی نودده اودس هم ماتيږي البته دکالو دخرابېدو په وجه دي په پزه کښي پنبه کښېږدي چي په وينه يې پټو يا کالي خراب نسي.

وفي ملتقى الابحر: الْمُسْتَحَاضَة وَمن بِهِ سلسل بَوْل أَو استطلاق بطن أَو انفلات ريح أَو رُعَاف دَائِم أَو جرح لَا يرقأ يتوضؤن لوقت كل صَلَاة، وَيصلونَ بِهِ فِي الْوَقْت مَا شاؤا من فرض وَنفل وَيبْطل بِخُرُوجِهِ فَقَط.... والمعذور من لَا يمْضِي عَلَيْهِ وَقت صَلَاة إِلَّا وَالَّذِي ابتلي بِهِ يُوجد فِيهِ.

(ملتقي الابحر متن مجمع الانهر ج ۱ ص ۸۴ دارالکتب العلمية بيروت/ الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۳۰۵ مطلب في احکام المعذور سعيد چاپ / فتاوی عالمگيرية ج ۱ ص ۴۰ ممايتصل بذالک أحکام المعذور رشيديه / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ص ۱۴۹ باب الحيض والنفاس قديمي چاپ / فتاوی محموديه ج ۵ ص ۲۱۳ باب الحيض والنفاس / فتاوی حقانيه ج ۲ ص ۳۲۸ باب الحيض)

ايا دسهار دلمانځه وروسته خوب رواه دی که يا؟

سوال۵: ايا د سهار د لمانځه وروسته خوب روا دی که يا؟ په دغه باره کښي خلګ مختلفي خبري کوي حقيقت حال څه دی؟

جواب: د سهار د لمانځه وروسته او د مازديګر او ماښام په مابين کي خوب کول او بيدېدل دغه دواړه مکروه دي.

الاستفسار : النوم بعد صلوة الصبح هل فيه بأس ؟

الاستبشار : نعم فى السراجية : النوم فى اول النهار ومابين المغرب والعشآء يكره .
(نفع المفتي والسائل ج ۱ ص ۴۸۲)

دعذر په خاطر دلمونځ کوونکي په مخ کښې تيريدل رواه دي که يآ ؟

سوال۶: يو کس په مسجد کښې دننه لمونځ کوي او د مسجد په صحن کښې جماعت و درېدی کله چي دی د مسجد څخه په اراده د جماعت کولو راوزي نو بله لاره نسته، بيله دغه چي دی دي د يو کس مخ ته راتېر نه سي چي پر جماعت ولاړ دی، ايا په داسي کولو دی ګناهګاره سو که يا؟ او په جماعت کښې شريک کېدل ضرورت دی که يا؟

جواب: علامه شامي رحمة الله عليه په ردالمحتار کښې ليکلي چي د ضرورت په وخت کښې تېرېدل درست دي او دلته د جماعت نيول او په هغه کښې شريک کېدل هم ضرورت دی لهذا شرعا کومه ګناه او حرج نسته.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :الرَّابِعَةُ: أَنْ لَا يَتَعَرَّضَ الْمُصَلِّي وَلَا يَكُونُ لِلْمَارِّ مَنْدُوحَةٌ فَلَا يَأْثَمُ وَاحِدٌ مِنْهُمَا كَذَا نَقَلَهُ الشَّيْخُ تَقِيُّ الدِّينِ بْنُ دَقِيقِ الْعِيدِ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى –. اهـ.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۳۵ فروع : مشي المصلي مستقبل القبلة هل تفسد ؟ بيروت چاپ / امداد الفتاوی ج ۱ ص ۶۴۲/ الموسوعة الفقهية ج ۲۴ ص ۱۸۵ کويټ چاپ)

په لمانځه او اوداسه کښې چي ډيري وسوسې چاته راځي .

سوال۷ : که چيري يو کس داسي وي چي د وسوسې په مريضی باندي اخته وي په اوداسه او لمانځه کښې وسوسې هميشه ورته راځي د داسي کس په شريعت کښې څه علاج دی ؟

جواب : عزيزانو دغه وسوسې په حقيقت کښې د شيطان ګذارونه دي پر انسان باندي او د دې ګذارونو علاج د هغه دعاګانو په کثرت سره ويل دي کوم چي په حديث شريف کښې نقل سوي دي حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه په

خپل کتاب اعمال قرآنی کښې دغه دعاوې دداسې وسوسو دعلاج دپاره نقل کړې دي .

عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ:(رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ)عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ: سَأَلْتُ نَافِعًا، مَوْلَى ابْنِ عُمَرَ: عَنْ هَلْ تَدْرِي كَيْفَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَسْتَعِيذُ؟ قَالَ: كَانَ يَقُولُ: (اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ) حضرت عثمان ابن ابی العاص رضي الله عنه ته هم په لمانځه کښې دغه مشکل ورپیښ وو نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چي کله ته دغه وسوسې احساس کړې نو تعوذ او پنا په الله جل جلاله پوري وغواړه او درې واره پر خپل چپه طرف تُوکل وکړه . او ملا علی قاري رحمه الله تعالی دا هم لیکلي دي که چیري دغه کس په لمانځه کښې وو نو هم دي درې واره جلا جلا چپه طرف ته تو کړي دايې هم يو بل قسم علاج دی .

عَن عُثْمَان بن أبي الْعَاصِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بيني وَبَين صَلَاتي وقراءتي يُلَبِّسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزِبٌ فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْهُ وَاتْفُلْ عَلَى يسارك ثَلَاثًا قَالَ فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللَّهُ عَنِّي» . رَوَاهُ مَسْلِمٌ

(مشکاة المصابیح ج ۱ ص ۱۱۹ باب الوسوسة / مرقاة المفاتیح ج ۱ ص ۲۳۸ / مصنف عبدالرزاق الصنعاني ج ۲ص ۸۴باب الاستعاذة في الصلوة / اعمال قرآني دحکیم الامت ص ۶۶)

دیو کار او مصروفیت دوجي لمونځ پرېښوول غټه گناه ده .

سوال ۸ : که چیري یو کس دیو کار د مصروفیت دوجي قصدا لمونځونه قضاء کړي نو بیا یي راگرځول درست دي که یا ؟

جواب : لمونځ داسلام دپنځو بناوو څخه یوه غټه اوستره بناه ده دادمسلمان شان نه دی چي قصدا او ارادةً لمونځ قضاء کړي او لمونځ قضاء کول کبیره گناه ده. ځیني وختونه ښځي دداسي افعالو مرتکباتي جوړیږي لکه څنګه چي دسواله څخه هم داسي معلومیږي دالله جل جلاله څخه بخښنه او استغفار غوښتل پکار دي او هغه

قضاء کړي لمونځونه راګرځول ددوی پر ذمه فرض دي او کله چي يې راوګرځول غاړي يې خلاصي دي البته دهغه وختي تر اداء کولو يې ثوابونه کم سول که څه هم دتاخير او ځنډ دوجي څخه ګناهکاري دي .

وفى الجوهرة النيرة : وَمِنْ الْكَبَائِرِ السِّحْرُ وَكِتْمَانُ الشَّهَادَةِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَالْإِفْطَارُ فِي رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ وَقَطْعُ الرَّحِمِ وَتَرْكُ الصَّلَاةِ مُتَعَمِّدًا وَمَنْعُ الزَّكَاةِ وَنِسْيَانُ الْقُرْآنِ وَسَبُّ الصَّحَابَةِ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ .

وفى الهداية : ومن فاتته صلاة قضاها إذا ذكرها وقدمها على فرض الوقت " والأصل فيه أن الترتيب بين الفوائت وفرض الوقت عندنا مستحق. ولو فاتته صلوات رتبها في القضاء كما وجبت في الأصل " لأن النبي عليه الصلاة والسلام شغل عن أربع صلوات يوم الخندق فقضاهن مرتبا ثم قال " صلوا كما رأيتموني أصلي

(الجوهرة النيرة ج ۲ ص ۲۳۱ / الهداية باب قضاء الفوائت ج ۱ ص ۱۳۷ / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۲۷۶)

څوک چي دفرض لمانځه پروخت بيده سي .

سوال ۹ : ايا فرشتې و داسي کس ته ښراوي کوي چي د فرض لمانځه پر وخت بيده سي دا خبره تر کومه ځايه حقيقت لري؟ جواب راکړئ احسان به مو وي .

جواب: دا خبره حقيقت لري که يو څوک په قصد سره په غفلت او لا پرواهي سره د فرض لمانځه پر وخت بيده سي، نو فرشتې دغه ښراوي ورته کوي

(لا اراح الله لك بالا لا اراح الله لك جنبًا لا اراح الله لك نفسا) الله دي ستا زړه بغل او نفس بدن ته راحت نه ورکوي.

البته که پر يو چا باندي خوب غلبه وکړي په بې اختيارۍ او مريضۍ و ستومانۍ سره خو بيا ملامت نه دی، ملامتي په غفلت سستۍ او کاهلۍ کي ده

(فتاوى عصر للشيخ الدكتور وهبة الزهيلي ص ۵۸ دارالخير بيروت لبنان)

د خپلي ښځي او کورني سره په کور کښې فرضي لمونځ په جماعت کول؟

سوال ۱۰ : د خپلي کورني او کوروالاسره فرضي لمونځ کول چي زه مخ ته سم او دوی نيت راپسي وتړي رواه دی که يا؟

جواب : شرعًا د خپلي کورني او کوروالاسره يو ځاي فرضي لمونځ کول رواه دي خو خپله ښځه او د کورني غړي به شاته دروي . د مسئلي حاصل او خلاصه داده: چي سړی بايد د جماعت په لمانځه کښې شريک سي که کله اتفاقا داسي وسي چي په مسجد کي د چا څخه جماعت پاته او تير سوی وي نو په کور کښې دي ښځي او کوچنيان راجمع کړي جماعت دي وکړي . علامه شامي رحمة الله عليه يوه واقعه داسي نقل کړيده : چي يو وار نبي کريم صلی الله عليه وسلم د يو قوم دروغي او جوړي د پاره تشريف يووړی کله چي مسجد ته راغی نو جماعت تير سوی وو په دغه وخت کښې نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل کورني راجمع کړله او جماعت يې وکړی . نو د دې څخه معلومه سوه چي په کور کښې جماعت هغه وخت کولای سي چي په مسجد کښې جماعت تير سوی وي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار

وقال المرءة اذا صلت مع زوجها في البيت ان كان قدمها بحذاء قدم الزوج الخ:

......جازت صلاتهما الخ ....ولو اقتدت به متأخرةعنه بقدمها صحت صلاتهما .

وَلَنَا أَنَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – كَانَ خَرَجَ لِيُصْلِحَ بَيْنَ قَوْمٍ فَعَادَ إلَى الْمَسْجِدِ وَقَدْ صَلَّى أَهْلُ الْمَسْجِدِ فَرَجَعَ إلَى مَنْزِلِهِ فَجَمَعَ أَهْلَهُ وَصَلَّى» وَلَوْ جَازَ ذَلِكَ لَمَا اخْتَارَ الصَّلَاةَ فِي بَيْتِهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ فِي الْمَسْجِدِ

(ردالمحتار جلد ۱ ص ۴۲۳ / ۴۰۹ باب مفسدات الصلوة و باب الامامة مكتبه رشيديه / فتاوي ديو بند جلد ۳ ص۳٦/ ۴۴ / جواهر الاحكام ص ۱۰۰ باب الجماعة)

ويو کس ته په لمانځه کښې ددنيا دمعاملاتو چورتونه او فکرونه راځي

سوال ۱۱: که چيري ويو کس ته په لمانځه کښې په غير اختياري ډول سره ددنيا فکرونه او چورتونه راځي نو ايا په دغه فکرونو او چورتونو سره ددغه کس لمونځ فاسديږي که يا ؟

جواب: دغه غير اختياري فکرونه او خيالونه و تصورات لمونځ نه فاسدوي او نه يې هم باطلوي ددې ښه علاج دادی چي دلمانځه څخه مخکښې دشيطان څخه په الله جل جلاله پوري پناه وغواړې او خپأ لمونځ شروع کړې او که چيري په لمانځه کښې دننه دغه چورتونه او فکرونه درته راتلله نو درې واره جلا جلا او متفرق پر چپه طرف باندي تو کړه ان شاء الله دا مشکل به دي حل سي لکه څنګه چي په حديث شريف کښې راغلي دي.

عَن عُثْمَان بن أبي الْعَاصِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بيني وَبين صَلَاتي وقراءتي يُلَبِّسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزِبٌ فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْهُ وَاتْفُلْ عَلَى يسارك ثَلَاثًا قَالَ فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللَّهُ عَنِّي» . رَوَاهُ مَسْلِمٌ / عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا وَسْوَسَتْ بِهِ صُدُورُهَا مَا لم تعْمل بِهِ أَو تَتَكَلَّم»

(فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۵ / (مشکاة المصابيح ج ۱ ص ۱۱۹ باب الوسوسة / مرقاة المفاتيح ج ۱ ص ۲۳۸ / مصنف عبدالرزاق الصنعاني ج ۲ص ۸۴باب الاستعاذة في الصلوة / اعمال قرآني دحکيم الامت ص ۶۶)

دمور او پلار دازاري لمونځ شرعا څنګه دی ؟

سوال ۱۲: کوم کس چي خپل مورا و پلار ته ښکنځل کوي او وهي او تکوي يې دداسي کس عبادت قبليږي که يا ؟

جواب: دمورا و پلار نا فرماني لويه او کبيره ګناه ده. له دې بدفعل څخه توبه ايستل او خپل مور او پلار د شريعت په حدودو کښې راضي کول ډيره ضروري خبره ده. او ترڅو پوري چي دغه کس له خپلي نو مورې بدفعل څخه توبه ونه باسي نو له مور او پلار څخه به عاق (نافرمانه) وي. او دوالدينو دنافرمانه کس هيڅ عبادت

هم د الله جل جلاله په دربار کښې د قبولیت وړ نه دی .او نه هم دغه کس جنت ته تللی سي . په احادیثو مبارکه وو کښې د داسي کس د پاره سختي سزاګاني راغلي دي .

وروى الْبَيْهَقِيّ من حَدِيث عَائِشَة رَضِي الله عَنْهَا أَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم قَالَ أَتَانِي جِبْرَائِيل عَلَيْهِ السَّلَام فَقَالَ هَذِه لَيْلَة النّصْف من شعْبَان وَللَّه فِيهَا عُتَقَاء من النَّار بِعَدَد شُعُور غنم كلب وَلَا ينظر الله فِيهَا إِلَى مُشْرك وَلَا إِلَى مُشَاحِن وَلَا إِلَى قَاطع رحم وَلَا إِلَى مُسبل وَلَا إِلَى عَاق لوَالِديهِ وَلَا إِلَى مدمن خمر

فَذكر الحَدِيث بِطُولِهِ وَيَأْتِي بِتَمَامِهِ فِي التهاجر إِن شَاءَ الله تَعَالَى

وَرُوِيَ عَن جَابر بن عبد الله رَضِي الله عَنْهُمَا قَالَ خرج علينا رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم وَنحن مجتمعون فَقَالَ يَا معشر الْمُسلمين اتَّقوا الله وصلوا أَرْحَامكُم فَإِنَّهُ لَيْسَ من ثَوَاب أسْرع من صلَة الرَّحِم وَإِيَّاكُم وَالْبَغي فَإِنَّهُ لَيْسَ من عُقُوبَة أسْرع من عُقُوبَة الْبَغي وَإِيَّاكُم وعقوق الْوَالِدين فَإِن ريح الْجنَّة تُوجد من مسيرَة ألف عَام وَالله لَا يجدهَا عَاق وَلَا قَاطع رحم وَلَا شيخ زَان وَلَا جَار إزَاره خُيَلَاء إِنَّمَا الْكِبْرِيَاء لله رب الْعَالمين وَالْكذب كُله إِثْم إِلَّا مَا نَفَعت بِهِ مُؤمنا وَدفعت بِهِ عَن دين وَإِن فِي الْجنَّة لسوقا مَا يُبَاع فِيهَا وَلَا يشترى لَيْسَ فِيهَا إِلَّا الصُّور فَمن أحب صُورَة من رجل أَو امْرَأَة دخل فِيهَا .رَوَاهُ الطَّبَرَانِيّ فِي الْأَوْسَط

(الترغیب والترهیب ج ۳ ص ۳۲۸ / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۲۶۶ احکام المرتد / فتاوی حقانیه ج ۱ ص ۱۹۲ کتاب العقائد والایمانیات)

ځیني موټروانان دسفر په دوران کښې موټر ولمانځه ته نه دروي .

سوال ۱۳ : ځیني موټروانان د سفر په دوران کښې موټر ولمانځه ته نه دروي نو په داسي صورت کښې سپاره مسافرین لمونځ قضا کړي او که په بس کښې پر سیټ باندي په ناسته سره لمونځ اداء کړي .

جواب : که چیري دغه کس پر ولاړه باندي قدرت درلودی نو دي لمونځ په ولاړه سره اداء کړي او که یې د ولاړي قدرت نه درلودی مثلا سریې پر له کرځیدی ، یا د موټر د جمپونو د وجي څخه یې ځان نه سو ټینګولای نو په داسي صورت کښې په ناسته

سره هم روا ده دی. او دا خبره په یاد ساتل ضروري ده چې قبلې ته مخ کول په هر حال کښې ضروري دی که موټر مخ پر قبله روان وي او که بل طرف ته روان وي.
سپاریانو ته پکار دي چې په داسې صورت کښې داوله څخه دموټروان یا بس کمپنۍ سره خبره وکړي چې موټر به لمانځه ته دروي.

او که یې چیرې موټر ونه دروی او تا اودس هم نه درلودی نو لمونځ به قضا کوې بیا به یې وروسته قضایي راګرځوې. بیا هم بهتره داده چې پر هره طریقه ممکن وي لمونځ دې وکړي کله چې کورته راغی بیا دې راوګرځوي.
وفی المبسوط للشیبانی رحمه الله تعالی : فَإِن صلوا فِيهَا قعُودا وهم لَا يَسْتَطِيعُونَ الْقيام ويستطيعون الْخُرُوج من السَّفِينَة قَالَ يجزيهم .... وَهَذَا قَول أبي حنيفَة وَقَالَ أَبُو يُوسُف وَمُحَمّد لَا يجزيهم إِذا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ الْقيام أَن يصلوا قعُودا. وفی المبسوط للسرخسی : وَإِنْ صَلَّى فِيهَا قَاعِدًا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى الْقِيَامِ أَوْ عَلَى الْخُرُوجِ أَجْزَأَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ – رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُ – اسْتِحْسَانًا وَلَا يُجْزِئُهُ عِنْدَهُمَا وَهُوَ الْقِيَاسُ .
(الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۵۴ بیروت چاپ مکتبه شامله / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۶۳ کتاب الصلاة الباب الثالث في شروط الصلوة طبه رشیدیه/ المبسوط للشیباني ج ۱ ص ۳۰۵ باب المسافر في السفینة مکتبه شامله / جدید فقهي مسائل ص ۳۷ راشد کتب خانه / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۴ ص ۹۹ باب صلوة المسافر/ المبسوط للسرخسي ج ۲ ص ۲ باب الصلاة في السفینة)

په لمانځه کښې چې ډیرې وسوسې چاته راځي او فکر بلې خواته ولاړ سي .

سوال ۱۴ : که چیرې یو کس داسې وي چې دوسوسې په مریضی باندې اخته وي په اوداسه او لمانځه کښې وسوسې همیشه ورته راځي دداسې کس په شریعت کښې څه علاج دی په دې سره خو به لمونځ نه فاسدیږي ؟

جواب : عزیزانو دغه وسوسې په حقیقت کښې دشیطان ګذارونه دي پر انسان باندې او ددې ګذارونو علاج دهغه دعاګانو په کثرت سره ویل دي کوم چې په حدیث شریف کښې نقل سوي دي حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه په

خپل کتاب اعمال قرآنی کښې دغه دعاوي دداسي وسوسو دعلاج دپاره نقل کړي دي .البته په دې سره لمونځ نه فاسدېږي

عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ:(رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ)عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ: سَأَلْتُ نَافِعًا، مَوْلَى ابْنِ عُمَرَ: عَنْ هَلْ تَدْرِي كَيْفَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَسْتَعِيذُ؟ قَالَ: كَانَ يَقُولُ: (اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ) حضرت عثمان ابن ابی العاص رضي الله عنه ته هم په لمانځه کښې دغه مشکل وړپيښ وو نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې کله ته دغه وسوسې احساس کړې نو تعوذ او پنا په الله جل جلاله پوري وغواړه او درې واره پر خپل چپه طرف تُوکل وکړه . او ملا علی قاري رحمه الله تعالی دا هم ليکلي دي که چيري دغه کس په لمانځه کښې وو نو هم دي درې واره جلا جلا چپه طرف ته تو کړي دا يې هم يو بل قسم علاج دی .

عَن عُثْمَان بن أبي الْعَاصِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بيني وَبَين صَلَاتي وقراءتي يُلَبِّسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزِبٌ فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْهُ وَاتْفُلْ عَلَى يسارك ثَلَاثًا قَالَ فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللَّهُ عَنِّي» . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

(مشكاة المصابيح ج ۱ ص ۱۹ ۱ باب الوسوسة / مرقاة المفاتيح ج ۱ ص ۲۳۸ / مصنف عبدالرزاق الصنعاني ج ۲ص ۸۴باب الاستعاذة في الصلوة / اعمال قرآني دحكيم الامت ص ۶۶)

يوچاچي خپل ټول لمونځونه فاسد يا مكروه اداء كړي وي .

سوال ۱۵ : که چيري يو کس په خپل ژوند او زندګي کښې ټول لمونځونه مکروه تحريمي يا فاسد اداء کړي وي ايا دغه لمونځونه يې شرعا درست دي که يا ؟ او که درست او صحيح نه وي نو راګرځول غواړي که يا ؟

جواب : هر هغه لمونځ چي دفساده سره اداسي دهغه لمونځ راګرځول فرض دي هغه که ديوې ورځي وي يا ديوه کال وي يا دډيرو کلونو وي . او هر هغه لمونځ چي

دکراهت تحریمي سره اداسي لکه تعدیل دارکانو پرېښوول دهغه راګرځول واجب دي.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : الْفَسَادُ وَالْبُطْلَانُ فِي الْعِبَادَاتِ سَوَاءٌ لِأَنَّ الْمُرَادَ بِهِمَا خُرُوجُ الْعِبَادَةِ عَنْ كَوْنِهَا عِبَادَةً بِسَبَبِ فَوَاتِ بَعْضِ الْفَرَائِضِ.....

وقال ابوجعفر رحمه الله تعالى: والقيام ، والقرآءة فى الركعتين ، والركوع ، والسجود ، والقعود مقدار التشهد الذى يتلوه السلام فمن ترك شيئا من هذه الست اعاد الصلوة .

(ردالمحتار شرح الدرالمختار ج ۱ ص ۶۱۳ باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها مكتبه شامله / فتاوى في الفقه الحنفي ج ۲ ص ۷ مكتبه الكريميه / خزانة الفقه ص ۶۵ /مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ص ۳۲۰ مكتبه رشيديه)

په بنیبنه کښې دبندي کس سره چې نه اوبه وي او نه خاوره لمونځ څنګه اداء کړي ؟

سوال ۱۶ : که چیري یو کس یو ځای په بنیبنه کښې داسي بندي وي چي نه هلته اوبه وي او نه خاوره نو بیا داسي کس لمونځ څنګه اداء کړي ځکه چي دپاکۍ د حاصلولو په شریعت کښې هم دغه دوې طریقي دي اوبه او خاوره او دغه کس پر هغوی باندي پر یوه باندي هم قدرت نه لري .

جواب : داسي کس ته دفقهاوو په اصطلاح کښې (فاقد الطهورين) ویل کیږي یعني هغه کس چي دپاکۍ د دواړو ذریعو څخه یوه هم نه وي ورسره او نه ورباندي قدرت لري . ددې کس دلمانځه حکم دحنفي فقهي په معتمد کتاب **(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰ / او ۱۸۵ مكتبه رشيديه)** داسي لیکلی دی : چي دغه کس به دلمانځه کوونکو سره مشابهت اختیاروي او بې له اوداسه او تیمم څخه به لمونځ اداء کوي که چیري ځای وونو رکوع او سجده به کوي او که ځای نه وونو به په اشاره سره دغه ارکان اداء کوي . البته قرآءت به نه وایي ځکه چي دا په حقیقت کښې لمونځ نه دی بلکي صورت دلمانځه دی . کله چي بیا ده قدرت پر پیدا کړی نو دتیرو سوو لمونځونو قضا به راګرځوي .

:لما قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى : وَأَمَّا فَاقِدُ الطَّهُورَيْنِ، فَفِي الْفَيْضِ وَغَيْرِهِ أَنَّهُ يَتَشَبَّهُ عِنْدَهُمَا، وَإِلَيْهِ صَحَّ رُجُوعُ الْإِمَامِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى.وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله

تعالی فی ردالمحتار : (قَوْلُهُ: وَأَمَّا فَاقِدُ الطَّهُورَيْنِ) هَذَا رَدٌّ مِنْ الشَّارِحِ لِلدَّعْوَى الْوُسْطَى ط.
(قَوْلُهُ: يَتَشَبَّهُ) أَيْ بِالْمُصَلِّينَ وُجُوبًا، فَيَرْكَعُ وَيَسْجُدُ إنْ وَجَدَ مَكَانًا يَابِسًا، وَإِلَّا يُومِئُ قَائِمًا ثُمَّ يُعِيدُ كَمَا سَيَأْتِي فِي التَّيَمُّمِ: وَنَقَلَ ط أَنَّهُ لَا يَقْرَأُ فِيهَا،

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰ / ۱۸۵ کتاب الطهارة / البحر الرائق ج ۱ ص ۱۶۸ باب التیمم لخوف فوت صلاة الجمعة)

یوانسان باید په څلیرویشت ساعته کښې څومره عبادت وکړي ؟.

سوال ۱۷ : دیوانسان پر ذمه باندي په څلیرویشت ساعته کښې څومره عبادت کول لازمي دی ؟

جواب : هغه فرائض چې دانسان پرذمه باندي یې اداکول ضروري دي هغه معلوم او محدود دي یعني پنځه وخته لمونځ وغیره .پاته سول نوافل کوم خاص عدد او انتهاء نه لري څومره چې کولای سي هغومره دي وکړي .

عن طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللهِ، يَقُولُ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرُ الرَّأْسِ، نَسْمَعُ دَوِيَّ صَوْتِهِ، وَلَا نَفْقَهُ مَا يَقُولُ حَتَّى دَنَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ، وَاللَّيْلَةِ» فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ؟ قَالَ: «لَا، إِلَّا أَنْ تَطَّوَّعَ، وَصِيَامُ شَهْرِ رَمَضَانَ» ، فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ؟ فَقَالَ: «لَا، إِلَّا أَنْ تَطَّوَّعَ» ، وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الزَّكَاةَ، فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: «لَا، إِلَّا أَنْ تَطَّوَّعَ» ، قَالَ: فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ، وَهُوَ يَقُولُ: وَاللهِ، لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا، وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ . متفق علیه .

(صحیح مسلم شریف ج ۱ ص ۴۰ باب بیان الصلوات اللتي هي احد الارکان / صحیح البخاری ج ۱ ص ۱۸ باب الزکاة من الاسلام / ریاض الصالحین ص ۴۰۶ باب في تاکید وجوب الزکاة / روضة الصالحین شرح ریاض الصالحین ج ۴ ص ۲۰۹ اردو)

پر لمانځه باندې شیطاني وسوسې ډېرې راځي .

سوال ۱۸: زه چې کله پر لمانځه باندې ودرېږم او شروع په وکړم نو شیطاني وسوسې ډېرې راته راځي، او کله کله خو ډېرې خرابې وسوسې ذهن ته راځي چې اظهار یې نه سم کولای آیا په شریعت مطهره کې د داسې وسوسو علاج شته؟

جواب: علماؤ او فقهاؤ لیکلي دي چې د الله ذکر د هرې وسوسې دواء ده، البته د شیطان د شړلو او د ده دوسوسو د دفع کولو علاج فکر او سوچ کول په هغه ایاتونو کې وهل چې په لمانځه کې تلاوت کېږي همدا شان حضور او عاجزي د زړه دغه وسوسې ختموي .

عَن عُثْمَان بن أبي الْعَاصِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بيني وَبَين صَلَاتي وقراءتي يُلَبِّسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزِبٌ فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْهُ وَاتْفُلْ عَلَى يسارك ثَلَاثًا قَالَ فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللَّهُ عَنِّي» . رَوَاهُ مَسْلِمٌ

(مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۱۹ امیرحمزه کتب خانه / مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۲۳۹ مکتبه حبيبيه / فتاوى العصر ص ۶۰ بیروت / فتاوى دارالعلوم دیوبند پښتو)

په مسجد کې اودس بهتره دی که په کور کې ؟

سوال ۱۹: د یو عالم څخه مو ږ واورېدل چې د کوره څخه په اوداسه راتلل مسجد ته دا بهتره او ښه کار دی تر دغه چې انسان بې اودسه مسجد ته راسي او بیا په مسجد کې اودس وکړي ایا خبره هم دغسې ده؟

جواب: د دغه شخص خبره پر ځای ده د کوره څخه اودس کول او مسجد ته په اوداسه راتلل دا ډېر د ثواب عمل دی او د دې عمل په باره کې احادیث هم موجود دي .

وعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَفِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعْفًا وَذَلِكَ أَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً إِلَّا رُفِعَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ فَإِذَا صَلَّى لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ الله

ارْحَمْهُ وَلَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلَاةَ» . وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: «إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهُ» . وَزَادَ فِي دُعَاءِ الْمَلَائِكَةِ: " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللَّهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ. مَا لَمْ يُؤْذِ فِيهِ مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيهِ (متفق عليه)

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ مُتَطَهِّرًا إِلَى صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْحَاجِّ الْمُحْرِمِ، وَمَنْ خَرَجَ إِلَى تَسْبِيحِ الضُّحَى لَا يَنْصِبُهُ إِلَّا إِيَّاهُ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْمُعْتَمِرِ،وَصَلَاةٌ عَلَى أَثَرِصَلَاةٍ لَا لَغْوَ بَيْنَهُمَا كِتَابٌ فِي عِلِّيِّينَ (ابي داؤد)

(صحيح البخاري ج ١ ص ٨٩ قديمي / صحيح المسلم ج ١ ص ٤٦٢ مكتبه شامله / سنن ابي داؤد ج ١ ص ٨٢ قديمي / احسن الفتاوى ج ٢ ص ١١ اردو / مسائل رفعت قاسمي ج ١ ص ٣٩ پښتو)

په طياره کي لمونځ صحت لري که يا ؟

سوال٢٠: ځيني وختو نه داسي راځي چي سفر د طيارې يعني الوتکي وي او سفر هم اوږد وي ځيني علماء په طياره کښي د لمانځه د اداء کولو اجازه نه ورکوي دوی وايي د لمانځه لپاره شرط ځمکه ده او طياره په هوا کښي ده، د داسي مشکل حل ته علماء کرام څه فرمائي؟

جواب: اکثر علماء کرام د دغه مشکل پر برابر داسي فرمائي چي په طياره کښي د ننه د سفر پر وخت بايد فرضي لمونځونه پر خپل وخت اداء سي بايد قضاء نسي، البته احتياط دا دی چي پر ځمکه باندي بېرته د هغه کړو لمونځونو قضاء راوړه سي، چي د هغه علماؤ پر رايه هم عمل وسي چي په طياره کښي د لمانځه داداء کولو څخه منع کوي.

لما في الفقه على مذاهب الاربعة : ومن أراد أن يصلي في سفينة فرضاً أو نفلاً ، فعليه أن يستقبل القبلة متى قدر على ذلك، وليس له أن يصلي إلى غير جهتها، حتى لو دارت السفينة وهو يصلي، وجب عليه أن يدور إلى جهة القبلة حيث دارت، فإن عجز عن استقبالها صلى إلى جهة قدرته، ويسقط عنه السجود أيضاً إذا عجز عنه، ومحل كل ذلك إذا خاف خروج الوقت قبل أن تصل السفينة أو القاطرة إلى المكان الذي يصلي فيه صلاة كاملة، ولا تجب عليه الإعادة، ومثل السفينة القطر البخارية البرية. والطائرات الجوية.

ونحوها.

(الفقه علي مذاهب الاربعة ج ۱ ص ۱۸۷ مکتبه شامله / حاشية الطحطاوي علي المراقي ص ۴۰۷ /فتاوی محمودیه ج ۷ ص ۵۳۳ اردو / فتاوی رحیمیه ج ۴ ص ۸۴ پښتو / مسائل رفعت قاسمي ج ۳ ص ۸۹ اردو / فتاوی هادیه ج ۱ ص ۲۲)

د یو رواه او جائز حاجت دپوره کولو دپاره کوم لمونځ یا عبادت سته که یا؟

سوال ۲۱ : که چیري یو کس څه حاجتونه او ضرورتونه لري نو ایا په شریعت کښې ددغه حاجتونو او ضرورتونو دپاره کوم خاص اوراد واذکار یا لمونځ سته که یا ؟

جواب : حدیث شریف کښې راځي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي کله یو شخص ته یو ضرورت او حاجت وړپیښ سي نو اول دي اودس وکړي او ښه اودس دي وکړي پر سنت طریقه برابر بیا دي دوه رکعته نفل وکړي دهغه څخه وروسته دي دوه رکعته لمونځ وکړي او دالله جل جلاله تعریف او ثنا دي بیان کړي او پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندي دي درود شریف ووایي او بیا دي دغه لاندي دعا وکړي .

دعا په لاندي ډول ده .

عن عبد الله بن أبي أوفى، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " من كانت له إلى الله حاجة، أو إلى أحد من بني آدم فليتوضأ وليحسن الوضوء، ثم ليصل ركعتين، ثم ليثن على الله، وليصل على النبي صلى الله عليه وسلم، ثم ليقل: لا إله إلا الله الحليم الكريم، سبحان الله رب العرش العظيم، الحمد لله رب العالمين، أسألك موجبات رحمتك، وعزائم مغفرتك، والغنيمة من كل بر، والسلامة من كل إثم، لا تدع لي ذنبا إلا غفرته، ولا هما إلا فرجته، ولا حاجة هي لك رضا إلا قضيتها يا أرحم الراحمين .

په بل حدیث شریف کښې بیا راغلي دي چي څلور رکعته نفل دي وکړي پر دغه طریقه باندي چي په اول رکعت کښې دي سورة فاتحه یو وار ووایي او آیة الکرسي شریفه دي درې واره ووایي اوپه پاته ددرو رکعتو کښې دي په هر رکعت کښې سورة فاتحه یو وار ووایي او سورة اخلاص (قل هو الله شریفه) او معوذتین (قل اعوذ برب الناس ، قل اعوذ برب الفلق) دي هم ددغه درو رکعتو څخه په هر رکعت

کښې یو یو وار وایي . ددین بزرګانو او مشایخو فرمایلي دي چې موږ دغه عمل او عبادت تجربه کړی دی او الله جل جلاله مو حاجتونه راپوره کړي دي . او دغه لمانځه ته د صلاة الحاجة لمونځ ویل کیږي .

وَأَمَّا فِي التَّجْنِيسِ وَغَيْرِهِ، فَذَكَر أَنَّهَا أَرْبَعُ رَكَعَاتٍ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَأَنَّ فِي الْحَدِيثِ الْمَرْفُوعِ يَقْرَأُ فِي الْأُولَى الْفَاتِحَةَ مَرَّةً وَآيَةَ الْكُرْسِيِّ ثَلَاثًا، وَفِي كُلٍّ مِنْ الثَّلَاثَةِ الْبَاقِيَةِ يَقْرَأُ الْفَاتِحَةَ وَالْإِخْلَاصَ وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ مَرَّةً مَرَّةً كُنَّ لَهُ مِثْلَهُنَّ مِنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ. قَالَ مَشَايِخُنَا: صَلَّيْنَا هَذِهِ الصَّلَاةَ فَقُضِيَتْ حَوَائِجُنَا مَذْكُورٌ فِي الْمُلْتَقَطِ وَالتَّجْنِيسِ وَكَثِيرٍ مِنْ الْفَتَاوَى، كَذَا فِي خِزَانَةِ الْفَتَاوَى. وَأَمَّا فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ فَذَكَرَ أَنَّهَا رَكْعَتَانِ، وَالْأَحَادِيثُ فِيهَا مَذْكُورَةٌ فِي التَّرْغِيبِ وَالتَّرْهِيبِ كَمَا فِي الْبَحْرِ.

(رد المحتار علي الدر المختار ج ۲ ص ۲۸ باب الوتر والنوافل مكتبه شامله / اسلامي تحفه ص ۶۷ تاليف الحاج مولوی عبدالحنان صاب مكتبه حبيبيه / سنن الترمذی باب ماجاءفي صلاة الحاجة ج ۲ ۳۴۴ مكتبه شامله / سنن ابن ماجة باب ماجاءفي صلاة الحاجة مكتبه شامله)

د مجبورۍ دوجي په ناپاکه جامو کښې لمونځ کول څنګه دی؟

سوال ۲۲: یو مریض که د مجبورۍ دوجي په ناپاکه جامو کښې لمونځ اداء کړي نو پسله مریضۍ څخه چي کله دی جوړسي دهغو لمونځو راګرځول لازم دي که یا؟

جواب: دداسي مجبورۍ په حالت کښې چي پاک کالي نه وي یا پاک نه سي پاته کېدلاي بلکه مسلسل ناپاکه کیږي نو لمونځ دده په دغه ناپاکه کالو کښې صحیح دی او که ئې پاک کالي بدلولاي سوه یا پاکېدلاي سوه او دنه کړه بدل د سستۍ دوجي نو قضاء پر لازمیږي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :إنْ اسْتَوْعَبَ عُذْرُهُ تَمَامَ وَقْتِ صَلَاةٍ مَفْرُوضَةٍ....... وَحُكْمُهُ الْوُضُوءُ) لَا غَسْلُ ثَوْبِهِ وَنَحْوِهِ....... وَإِنْ سَالَ عَلَى ثَوْبِهِ) فَوْقَ الدِّرْهَمِ (جَازَ لَهُ أَنْ لَا يَغْسِلَهُ إنْ كَانَ لَوْ غَسَلَهُ تَنَجَّسَ قَبْلَ الْفَرَاغِ مِنْهَا) أَيْ: الصَّلَاةِ (وَإِلَّا) يَتَنَجَّسْ قَبلَ فَرَاغِهِ (فَلَا) يَجُوزُ تَرْكُ غَسْلِهِ، هُوَ الْمُخْتَارُ لِلْفَتْوَى

(الدرالمختار علي هاش ردالمحتار ج ١ ص ٢٢٤ مطلب في احكام المعذور مكتبه حبيبيه/خلاصة الفتاوی ج ١ص ١٩٧ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/دلمانځه مسائل ج ۴ ص ۵۳/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۴ ص ۳۴۵)

دركعت دنيولو دپاره ځغستا كول چي راځخه تير نه سي .

سوال ۲۳ : ځيني كسان داسي هم سته چي كله دوی مسجد ته راسي جماعت ولاړ وي نو صف ته رازغلي پوښتنه دا ده چي دغه ځغستا ولمانځه ته ښه كار دی كه بد كار دی كه ښه كار دی نو بايد هريو بايد ورته راوزغلي او كه بد كار دی نو بايد پر هېز ځيني وسي .

جواب : دبخاري او مسلم شريف حديث دی حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چي ما د نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل ده وفرمايل :كله چي جماعت ودرېږي نو بيا تاسي دغه جماعت ته په داسي اندازاو رفتار كښې مه راځئ چي زغلی بلكي په داسي طرزاو رفتار كښې راسئ چي پر تاسي باندي سكون او وقار پروت وي (يو څوك دا ګمان ونه كړي چي دی زغلي) څومره اندازه ركعتونه چي مو ونيول هغه اداء كړي او څومره چي درڅخه تير سول دهغوی قضا راوګرځوئ . ددې حديث شريف څخه معلومه سوه چي رازغستل وجماعت ته ښه كار نه دی ځكه چي په حديث شريف كښې منع ځيني راغلې ده . البته دحديث شريف شارحينو علماوو ليكلي دي چي دځغستا څخه مراد دلته سخته او ډېره ځغستا ده . كه چيري معمولي چابک تګ وي هغه پرواه نه لري .

أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ، وَأْتُوهَا تَمْشُونَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ، فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا، وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا .

(صحيح البخاري ج ١ ص ١٢٤ باب المشي الي الجمعة قديمي كتابخانه / صحيح مسلم شريف ج ١ص ٤٢٠ بيروت چاپ / فتح الباری لابن الحجر العسقلاني ج ٢ ص ٤٩٦ مكتبه رشيديه / فتح الملهم ج ٤ ص ١٩٧ مكتبه داراحياء التراث العربية / رياض الصالحين ص ٢٢٩)

دتارک الصلوة او تارک الصوم شرعا څه حکم دی ؟

سوال ۲۴ : کوم کس چي تارک الصلوة او تارک الصوم وي يعني على الاعلان بې دچا دپرواه څخه نه لمونځ کوي او نه هم روژه نيسي دداسي کس سزا شرعا څه ده ؟.

جواب : لمونځ په دين اسلام کښې فرض عين عمل دی پر هر مکلف شخص (مسلمان عاقل بالغ) باندي دلمانځه اداء کول ضروري دي . کوم شخص چي دلمانځه دفرضيت عقيده خو لري مګر بېله شرعي عذره څخه يې پرېږدي او دسستۍ دوجي څخه يې ترک کوي او ددې سره سره بيريږي هم نو داسي کس شرعا فاسق دی خو کافر نه دی . داسي کس بايد دنورو ديندار ه خلګو دطرفه څخه پوه کړل سي او دلمانځه اهميت ورته بيان کړل سي اود کولو يې تاکيد ورته وکړل سي . که يې چيري خبره ومنل نو ډير به ښه وي او که يې خبره نه منل نو دداسي کس سره دي تعلقات ترک وهل سي ترداسي وخته پوري چي دخلګو ددغه روېې څخه په تنګ سي دلمانځه دپرېښوولو څخه توبه وباسي او آينده په پابندۍ سره لمونځونه اداء کول شروع کړي .

ليکن که چيري يو داسي کس وي چي لمونځ دسره څخه يو فرض عمل نه بولي دفرضيت څخه يې منکره وي العياذ بالله او استخفافا يې نه کوي او آينده يې دقضا کولو اراده هم نه لري او نه يې هم ددغه ترک کولو څخه بيريږي نو داسي کس شرعا کافر دی . دداسي کس سره دخپلي ښځي نکاح ختميږي او ښځي ته يې هم پکار دي چي دداسي خاوند څخه جلا او عليحده سي . ترڅه وخته چي يې دايمان او نکاح نوی والی نه وي کړی ترهغه وخته پوري دخپلي ښځي صحبت ورسره حرام دی ، او دداسي کس دجنازې لمونځ هم ناجايز دی .

دامام ابو حنيفه رحمه الله تعالى په مذهب کښې دتارک الصلوة کس حکم دا دی چي په قيد او محبس کښې دي واچول سي ترهغه وخته پوري چي ددغه ناوړه عادت څخه توبه ونه باسي .او په بل روايت کښې دي چي دومره دې د وخت دحاکم له طرفه ووهل سي چي بدن يې زخمي سي . او دامام شافعي رحمة الله تعالى عليه مذهب دادی چي داسي کس دي يا حداً او يا کفراً قتل کړل سي . البته ددغه ذکر سوو

سزاوو ورکول دهغه چا دپاره رواه دي څوک چي دوخت حاکم وي او قدرت قاهره ورسره وي نه دا چي هر چاته يې اجازه ستړه. همدغه حکم دروژې دخوړونکي دی.

لما قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : وهى فرض عين على كل مكلف ...... (وَيَكْفُرُ جَاحِدُهَا) لِثُبُوتِهَا بِدَلِيلٍ قَطْعِيٍّ (وَتَارِكُهَا عَمْدًا مَجَانَةً) أَيْ تَكَاسُلًا فَاسِقٌ (يُحْبَسُ حَتَّى يُصَلِّيَ) لِأَنَّهُ يُحْبَسُ لِحَقِّ الْعَبْدِ فَحَقُّ الْحَقِّ أَحَقُّ، وَقِيلَ يُضْرَبُ حَتَّى يَسِيلَ مِنْهُ الدَّمُ.............. وَالصَّوْمُ كَالصَّلَاةِ عَلَى الصَّحِيحِ كَمَا فِي صَوْمِ الْقُهُسْتَانِيِّ مَعْزِيًّا لِلزَّاهِدِيِّ ......أَنَّ مَا يَكُونُ كُفْرًا اتِّفَاقًا يُبْطِلُ الْعَمَلَ وَالنِّكَاحَ، وَمَا فِيهِ خِلَافٌ يُؤْمَرُ بِالِاسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ وَتَجْدِيدِ النِّكَاحِ .

ولما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَأَوْلَادُهُ أَوْلَادُ زِنًا) كَذَا فِي فُصُولِ الْعِمَادِيِّ، لَكِنْ ذَكَرَ فِي (نُورِ الْعَيْنِ) وَيُجَدِّدُ بَيْنَهُمَا النِّكَاحَ إنْ رَضِيَتْ زَوْجَتُهُ بِالْعَوْدِ إلَيْهِ وَإِلَّا فَلَا تُجْبَرُ،... وفى الفتاوى الهندية : وَيُصَلَّى عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ مَاتَ بَعْدَ الْوِلَادَةِ صَغِيرًا كَانَ أَوْ كَبِيرًا ذَكَرًا كَانَ أَوْ أُنْثَى حُرًّا كَانَ أَوْ عَبْدًا إلَّا الْبُغَاةَ وَقُطَّاعَ الطَّرِيقِ وَمَنْ بِمِثْلِ حَالِهِمْ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۱ ص ۳۵۲ / كتاب الصلاة مكتبه شامله بيروت چاپ / ج ۴ ص ۲۳۰ باب المرتد / ردالمحتار ج ۴ ص ۲۴۷ مطلب توبة الياس مقبولة مكتبه شامله بيروت چاپ / الفتاوى الهندية كتاب الصلوة باب الجنائز الفصل الخامس في الصلوة علي الميت ج ۱ ص ۱۲۶، ۱۶۳ مكتبه رشيديه / البحر الرائق كتاب السير باب احكام المرتدين ج ۵ ص ۲۰۶ مكتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ۵ ص ۳۰۷ كتاب الصلوة مكتبه جامعه فاروقيه ج ۱۰ ص ۱۶۲ باب قضآء الصوم مكتبه جامعه فاروقيه / ردالمحتار ج ۲ ص ۲۱۱ مكتبه شامله بيروت چاپ / كفايت المفتي ج ۳ ص ۴۵۲ كتاب الصلوة مكتبه جامعه فاروقيه)

ايانبي كريم صلي الله عليه وسلم اوصحابه كرامو رضوان الله تعالي عليهم اجمعين قضاء سوی لمونځ په جماعت کړی دی که يا ؟

سوال ۲۵ : درسول الله صلی الله عليه وسلم اوصحابه کرامو رضي الله عنهم څخه چي په سفرکي لمونځ قضاء سوی وو هغه لمونځ يې په جماعت وکړی او که بېله جماعته ؟

جواب : نبي کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضي الله عنهم یوه شپه سفر کوی نو بعضي صحابه وو ورته وویل چي یا رسول الله دلته به مو شپه کړي وای نبي علیه السلام ورته وویل بېرېږم چي بیده به سئ او لمونځ به درڅخه پاته سي په دي وخت کي بلال رضي الله عنه وویل چي تاسي بېده سئ زه مو راويښوم او بلال رضي الله عنه وخپل بار ته تکیه وکړه خو دده پر سترګو هم خوب غلبه وکړه بیده سو بیا نو اول نبي علیه السلام هغه وخت راکښېنستی چي لمر راختلی وو بیا یې بلال ته وویل چي هغه ستا ویل څه سوه هغه وویل چي داسي خوب هیڅ وخت ما ته نه وو راغلی بیا نبي علیه السلام وفرمایل چي الله جل جلاله ستاسي روحان هغه وخت قبض کوي چي دده خوښه سي او هغه وخت یې بیا درکوي چي دده خوښه سي ای بلاله پورته سه خلګو ته دلمانځه اذان وکړه بیا یې اودس وکی څه وخت چي لمر ښه راپورته او سپین سو نو یې په جماعت لمونځ وکړی .

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سِرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً، فَقَالَ: بَعْضُ القَوْمِ: لَوْ عَرَّسْتَ بِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «أَخَافُ أَنْ تَنَامُوا عَنِ الصَّلاَةِ» قَالَ بِلاَلٌ: أَنَا أُوقِظُكُمْ، فَاضْطَجَعُوا، وَأَسْنَدَ بِلاَلٌ ظَهْرَهُ إِلَى رَاحِلَتِهِ، فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ فَنَامَ، فَاسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ، فَقَالَ: «يَا بِلاَلُ، أَيْنَ مَا قُلْتَ؟» قَالَ: مَا أُلْقِيَتْ عَلَيَّ نَوْمَةٌ مِثْلُهَا قَطُّ، قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ قَبَضَ أَرْوَاحَكُمْ حِينَ شَاءَ، وَرَدَّهَا عَلَيْكُمْ حِينَ شَاءَ، يَا بِلاَلُ، قُمْ فَأَذِّنْ بِالنَّاسِ بِالصَّلاَةِ» فَتَوَضَّأَ، فَلَمَّا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ وَابْيَاضَّتْ، قَامَ فَصَلَّى (رواه البخاري)

(صحیح البخاري ج ۱ ص ۱۲۲ مکتبه شامله / صحیح ابن حبان ج ۴ ص ۴۴۸ مکتبه شامله / سنن الکبری للبیهقي ج ۱ ص ۵۹۳ مکتبه شامله / شرح معاني الاثار ج ۱ ص ۴۰۱ مکتبه شامله / شرح مشکل الاثار ج ۱۰ ص ۱۴۴ مکتبه شامله)

دناسنته کس (سنت کړی سوی نه وي) لمونځ صحت لري که یا ؟

سوال ۲۶ : که چیري یو کس داسي وي چي سنتي یې نه وې سوې ناسنته وي داسي کس لمونځ صحت لري که یا ؟

جواب : دامام ابوحنیفه رحمه الله تعالی په مذهب کي ختنه (سنتي) یو سنت فعل دی نه واجب دی نه فرض دی البته هرکله چي دختنې (سنتي) حیثیت او مرتبه ددین دشعائرو (لویو نښو) څخه هم دی نو دواجب کېدلو باوجود یو خصوصیت ځان ته هم لري هم دغه وجه ده چي فقهاء کرامو دختنې دپاره دبې ستره کېدلو اجازه هم ورکړې ده پاته سوه دناسنته کس دلمانځه صحت او عدم صحت داتر ختنې او سنتې پوري هیڅ اړه نه لري لهذا که یې سنتي سوې وي او که نه وي سوې لمونځ یې پر هر حال درست دی که څه هم دی دلمانځه څخه خارج د یو سنت پرېښوونکی دی خو لمونځ یې درست او صحیح دی.

لما قال العلامة المؤلف عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (المتوفى: ٦٨٣هـ) فی الاختيار لتعليل المختار : وَالْخِتَانُ لِلرِّجَالِ سُنَّةٌ وَهُوَ مِنَ الْفِطْرَةِ،

ولما قال العلامة المؤلف أبو المعالي برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي (المتوفى ٦١٦هـ): فی المحيط البرهاني في الفقه النعماني فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه وإنه من جملة السنن حتى قالوا: إذا اجتمع أهل المصر على ترك الختان يحاربهم الإمام؛ لأن الختان سنة، فيحاربهم في تركه، كما يحاربهم في سائر السنن

(الاختيار لتعليل المختار ج ۴ ص ۱۶۷ فصل في آداب للمؤمن ينبغي أن يحافظ عليهامكتبه شامله / المحيط البرهاني ج ۵ ص ۳۷۳ الفصل العشرون في الختان والخصاء وقلم الأظافير مكتبه شامله / الدر المختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۲۲۲ باب صلاة الجنازة مكتبه شامله / قاموس الفقه ج ۳ ص ۳۳۲ زمزم پبلشرز کراچي)

ایا دښځي لمونځ دخوني څخه دباندي نه صحیح کیږي ؟

سوال ۲۷ : ځیني کسان وایي چي دښځي لمونځ دخوني څخه دباندي نه صحیح کیږي ایا دا خبره صحت او حقیقت لري که یا ؟

جواب : حقیقت داسي نه دی لکه څنګه چي دا خلکو فهمولی دی بلکي په دې باره کي یو حدیث شریف موجود دی هغه داسي چي څومره ښځه دلمانځه په حالت کي په

ستر او پرده کي وي هم دومره بهتره او افضله ده. حديث شريف کي راځي نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چي د ښځي لمونځ په خپل وطاق کي افضل دى تر دې چي د صحن او غولي په وطاق يا برنډه کي يې اداء کړي او په پاسخانه يا کوچني وطاق کي بيا افضله دى تر دې چي په غټ وطاق کي يې اداء کړي. په دې حديث شريف کي دا خبره ثابته سوه چي څومره د ښځي لمونځ په پټ او ستر مينه ځاى کي وي هم دومره افضله دى نه دا چي په خونه کي يې لمونځ نه صحيح کيږي.

عن عبد الله، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: «صلاة المرأة في بيتها أفضل من صلاتها في حجرتها، وصلاتها في مخدعها أفضل من صلاتها في بيتها» وفى عون المعبود شرح ابى داود : (صَلَاةُ الْمَرْأَةِ فِي بَيْتِهَا) أَيِ الدَّاخِلَانِيِّ لِكَمَالِ سِتْرِهَا (أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي حُجْرَتِهَا) أَيْ صَحْنِ الدا ر . قال بن الْمَلَكِ أَرَادَ بِالْحُجْرَةِ مَا تَكُونُ أَبْوَابُ الْبُيُوتِ إِلَيْهَا وَهِيَ أَدْنَى حَالًا مِنَ الْبَيْتِ (وَصَلَاتُهَا فِي مَخْدَعِهَا) بِضَمِّ الْمِيمِ وَتُفْتَحُ وَتُكْسَرُ مَعَ فَتْحِ الدَّالِ فِي الْكُلِّ وَهُوَ الْبَيْتُ الصَّغِيرُ الَّذِي يَكُونُ دَاخِلَ الْبَيْتِ الْكَبِيرِ يُحْفَظُ فِيهِ الْأَمْتِعَةُ النَّفِيسَةُ مِنَ الْخَدْعِ وَهُوَ إِخْفَاءُ الشَّيْءِ أَيْ فِي خِزَانَتِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي بَيْتِهَا لِأَنَّ مَبْنَى أَمْرِهَا عَلَى التستر

(سنن ابي داود شريف ج ۱ ص ۱۵۶ باب خروج النساء الي المسجد مكتبه شامله / الدر المنضود علي سنن ابي داود ج ۲ ص ۱۳۸ مكتبه الشيخ / عون المعبود شرح ابي داود ۲ ص ۱۹۴ مكتبه شامله)

پر فرض لمانځه باندي ولاړوو مور او پلار يې وربږغ کړه سلام وګرځوي که يا ؟

سوال ۲۸ : يو کس پر فرض لمانځه باندي ولاړ دى د آخوا يې مور يا پلار وربږغ کړي چي راسه او س دى څه وکړي سلام وګرځوي ورسي که لمونځ پوره کړي بيا ورسي ؟

جواب : د امام ابو حنيفه رحمه الله تعالى د مذهب کتابونو ليکلي دي چي کله سړى پر فرض لمانځه ولاړوي او مور يا پلار وربږغ کړي نو د ته نه د رواه چي لمونځ قطع او پري کړي مګر که د استغاثې حالت وو نو بيا ځان ته خبره ده. او که چيري د غه لمونځ کو ونکي نفل ادا کول او د مور او پلار څخه يوه وربږغ کړه او په دې خبر هم وه چي دى پر لمانځه ولاړ دى او بيا يې هم او از ورته وکړى نو خاص حرج نسته چي

جواب ورنه کړي. او که چیري په دې خبر نه وه چي دی پر لمانځه ولاړ دی بیا یې هم اواز ورته وکړی نو بیا دده پر ذمه لازمه ده چي بېرته یې جواب ورکړي.

لما قال العلامة الشيخ حسن بن عمار بن علي الشرنبلالي المصري الحنفي (المتوفى: ١٠٦٩هـ)يجب قطع الصلاة باستغاثة ملهوف بالمصلي لا بنداء أحد أبويه . وفی مراقی الفلاح شرح نورالایضاح : و "لا" يجب قطع الصلاة "بنداء أحد أبويه" من غير استغاثة لأن قطع الصلاة لا يجوز إلا لضرورة وقال الطحاوي هذا في الفرض وإن كان في نافلة إن علم أحد أبويه أنه في الصلاة وناداه لا بأس بأن لا يجيبه وإن لم يعلم يجيبه "يجوز قطعها.

(مراقي الفلاح شرح نورالایضاح ج ۱ ص ۱۳۸ فصل فيما يوجب قطع الصلاة وما يجيزه وغير ذلک مکتبه شامله / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۷۱ فصل فيما يوجب قطع الصلاة وما يجيزه وغير ذلک مکتبه رشيديه)

باب صلوة الجمعه

دښار په څومره اندازه کښې باید دجمعې لمونځ اداء سي ؟

سوال ۱ : دیوښار حدود باید شرعا څومیله وي چي دهغه څخه آخوا بیا دجمعې لمونځ جائز نه وي . ایا څه خاص اندازه لري شرعا که یا ؟ .

جواب : مفتي عزیزالرحمن رحمة الله علیه مفتي اعظم دارالعلوم دیوبند په فتاوی دارالعلوم دیوبند کښې داسي لیکلي دي : دښار دحدودو دپاره میلونه معتبر نه دي . بلکي دښار حدود هغه دي چي دښار دضروریاتو او کارونو او اړتیاوو دپاره جوړ سوي وي لکه ښخول دمړو ، زغلول او نالول دآسانو ،دعسکرو قرارګاوي او وتل د غشو دویشتلو دپاره او نور دي ته ورته منافع .

اوفناءه وهو ماتصل به لاجل مصالحه كدفن الموتى وركض الخيل . (الدرالمختار)

وفی ردالمحتار : اعْلَمْأَنَّ بَعْضَ الْمُحَقِّقِينَ أَهْلِ التَّرْجِيحِ أَطْلَقَ الْفِنَاءَ عَنْ تَقْدِيرِهِ بِمَسَافَةٍ وَكَذَا مُحَرِّرُ الْمَذْهَبِ الْإِمَامُ مُحَمَّدٌ وَبَعْضُهُمْ قَدَّرَهُ بِهَا وَجُمْلَةُ أَقْوَالِهِمْ فِي تَقْدِيرِهِ ثَمَانِيَةُ أَقْوَالٍ أَوْ تِسْعَةٌ غَلْوَةٍ مَيْلٌ مِيلَانِ ثَلَاثَةٌ فَرْسَخٌ فَرْسَخَانِ ثَلَاثَةٌ سَمَاعُ الصَّوْتِ سَمَاعُ الْأَذَانِ

وَالتَّعْرِيفُ أَحْسَنُ مِنْ التَّحْدِيدِ لِأَنَّهُ لَا يُوجَدُ ذَلِكَ فِي كُلِّ مِصْرٍ وَإِنَّمَا هُوَ بِحَسَبِ كِبَرِ الْمِصْرِ وَصِغَرِهِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۴۶ باب الجمعة / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۴۳ باب الجمعة / کفایت المفتي ج ۵ ص ۱۳۱ باب الجمعة / غنیة المستملي ص ۵۱۱ باب الجمعة / فتاوی قاضیخان ج ۱ ص ۴۸ باب الجمعة / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۳۳ باب الجمعة / جواهر الاحکام ص ۱۵۴)

ایا په افغانستان کښې دجمعې لمونځ صحت او جواز لري که یا ؟

سوال ۲: ایا په نن دور کښې په افغانستان کښې دجمعې لمونځ صحت لري که یا ؟ ځکه چې ځیني کسان دا وايي چې افغانستان دارحرب دی او په دارحرب کښې دجمعې لمونځ صحت نه لري .

جواب: افغانستان دارحرب دی که یا ؟ . دا داسي مسئله ده چې په موږ او تاسي یې فیصله کول په اوسني دور کښې دحالاتو دلحاظه ډېره مشکل کار دی . رابه سو ددغي مسئلې پوښتنه به دمفتي اعظم افغانستان الحاج علامه مولوی عبد العلي دیوبندي رحمه الله تعالي (مشهور په حضراتو مولوی صاحب) څخه وکړو چې هغه په دې باره کښې څه فرمايي : دمرحوم په خپل کتاب ارشاد المسائل بین الحق والباطل کښې داسي لیکلي دي : په یقین او قطعي توګه سره الحمد لله افغانستان دار اسلام دی دارحرب نه دی لکه څنګه چې په فتاوی عالمګیري کښې داسي راوړي دي چې یو دار داسلام په درو شرطونو سره دارالحرب ګرځي : (اول) احکام دکافرانو او بدکارانو په ښکاره توګه سره په اسلام کښې مروجه سي ، او ټول اسلامي احکام په کښې منع سي . (دوهم) هیڅ مسلمان یا غیر مسلمان په کښې مامون یعني په امن سره نه وي دپخواني امن په شان . (دریم) داسلامي هیوادو سره یې هیڅ روابط نه وي . ده لیکلي دي چې اوس په افغانستان کښې لمونځونه په جماعت سره په ډېره ازادۍ او اطمینان سره اداء کیږي همداشان اذانونه کیږي ، او هم داختر او دجمعې لمونځونه په کښې کیږي . او مجاهدین داسلام دکفارو سره په مبارزه اخته دي .

اوس به راسو د متقدمینو علماوو یوې فتوی ته په مجمع الفتاوی کښې لیکلي دي : که چیري کافران پر مسلمانانو باندي برلاسي سوه مسلمانانو ته د جمعې او اخترونو لمونځونه جائز دي او قاضي یې د مسلمانانو په خوښه قاضي بلل کیږي .
په پښتو ژبه باندي دلازیات تفصیل دپاره د مدرسه اشرفیه کندهار دارالافتاء یوه فتوی هم ترلاسه کولای سی دغه فتوی تاسي په دغه رساله کښې ترلاسه کولای سی دغه رساله دي وکتل سي نور به ښایې چي بیا چاته شک پاته نه سي . د رسالې نوم دادي (**ایا زموږ په هیواد کښې دجمعې لمونځ سته ؟ .**) په بازار کښې ترلاسه کیږي .
لما قال العلامة الحصفکي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار : (الْمِصْرُ وَهُوَ مَا لَا يَسَعُ أَكْبَرُ مَسَاجِدِهِ أَهْلَهُ الْمُكَلَّفِينَ بِهَا) وَعَلَيْهِ فَتْوَى أَكْثَرِ الْفُقَهَاءِ مُجْتَبًى لِظُهُورِ التَّوَانِي فِي الْأَحْكَامِ .
وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی فی ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَعَلَيْهِ فَتْوَى أَكْثَرِ الْفُقَهَاءِ إلَخْ) وَقَالَ أَبُو شُجَاعٍ: هَذَا أَحْسَنُ مَا قِيلَ فِيهِ. وَفِي الْوَلْوَالِجيَّةِ وَهُوَ صَحِيحٌ بَحْرٌ، وَعَلَيْهِ مَشَى فِي الْوِقَايَةِ وَمَتْنِ الْمُخْتَارِ وَشَرْحِهِ وَقَدَّمَهُ فِي مَتْنِ الدُّرَرِ عَلَى الْقَوْلِ الْآخَرِ وَظَاهِرُهُ تَرْجِيحُهُ وَأَيَّدَهُ صَدْرُ الشَّرِيعَةِ بِقَوْلِهِ لِظُهُورِ التَّوَانِي فِي أَحْكَامِ الشَّرْعِ سِيَّمَا فِي إقَامَةِ الْحُدُودِ فِي الْأَمْصَارِ
وفی الهدایة :لا تصح الجمعة إلا في مصر جامع أو في مصلى المصر ولا تجوز في القرى " لقوله عليه الصلاة والسلام " لا جمعة ولا تشريق ولا فطر ولا أضحى إلا في مصر جامع " والمصر الجامع كل موضع له أمير وقاض ينفذ الأحكام ويقيم الحدود وهذا عند أبي يوسف رحمه الله وعنه أنهم إذا اجتمعوا في أكبر مساجدهم لم يسعهم والأول اختيار الكرخي وهو الظاهر والثاني اختيار الثلجي .
(حاشیة الطحطاوي علي مراقي الفلاح ج ۱ ص ۴۱۴ / شرح الوقایة مع شرح عمدة الرعایة ص ۲۴۱ / ارشاد المسائل بین الحق والباطل ص ۴۸ / الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۲۳۲ / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ص ۱۳۷ باب الجمعة بیروت چاپ / جواهر الاحکام ص ۲۸۳ باب الجمعة /

بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۳۱ / الهدایة ج ۱ ص ۱۵۱ باب الجمعة مکتبه حنفیه / القول الراجح ج ۱ ص ۱۳۹ / فتح القدیر ج ۲ ص ۲۵ / العنایة علي هامش فتح القدیر ج ۲ ص ۲۴)

د جمعې تر دوهم اذان وروسته او دخطبو تر مینځ دعا کول .

سوال ۳: بعضي کسان د جمعې تر دوهم آذان وروسته دعا کوي او همدغه شان د خطبې په مابین کي کله چي امام کښیني دعا کوي دا دعا جواز لري که یا ؟

جواب: امام چي کله د خطبې لپاره پر منبر کښیني نو بیا نه د ذکر او نه د دعاء اجازت سته بلکه د خطبې اورېدل واجب دي، نه د آذان جواب ورکول او نه دعا کول جائز دي البته د امام پر دعا دي په زړه کي امین وویل سي هم دغه شان حکم د دوهم اذان د جواب دی .

فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار : وینبغی ان لایجیب بلسانه اتفاقا فی الاذان بین یدی الخطیب . وفی حاشیة الطحطاوي علی مراقی الفلاح : لاتجب یعنی بالقول بالاجماع للاذان بین یدی الخطیب .

(الدر المختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۵ / البحرالرائق ج ۱ ص ۴۵۲ مکتبه رشیدیه / حاشیة الطحطاوي ص ۲۰۲ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۳۳۲/ ۳۳۳ اردو / فتاوی دارالعلوم ج ۵ ص ۶۷ پښتو)

کوم عملونه دجمعې په ورځ ډیر ثواب لري ؟

سوال ۴: ایا څه داسي شیان یعني اعمال او اذکار سته چي د جمعې په ورځ یې کول ښه کار وي ؟

جواب: ځیني امور داسي موجود دي چي د هغو کول د جمعې په ورځ مستحب دي، مثلاً (۱) مسواک وهل (۲) غسل کول (۳) د وېښتو صفایې (۴) د نوکانو پرېکول (۵) سر او ږیره په روغنو سره غوړول (۶) خوشبو لګول (۷) نوي او صفا جامې اغوستل (۸) منبر ته نژدې کښینستل (۹) او مسجد خوشبویه کول (۱۱) پر وخت راتلل ولمانځه ته یعني وختي راتلل (۱۲) په ښه سکون او ارام او اطمینان سره راتلل او بېرته تلل (۱۲) د ډوډۍ او د خوب ځنډول یعني تر لمانځه وروسته کول (۱۳) د مریضانو پوښتنه او عیادت کول (۱۴) د ملګرو او دوستانو زیارت کول

(۱۵) د قبرو زیارت کول (۱۶) ډېر درود شریف ویل (۱۷) د صلوة تسبیح لمونځ کول (۱۸) که د خوشحالۍ مراسم وه نو هغه د جمعې د لمانځه وروسته په مسجد کي ترسره کول (۱۹) د سورة کهف تلاوت کول (۲۰) د جمعې د شپې د ماښام په لمانځه کي، قل یا ایها الکافرون، او سورة الاخلاص تلاوت کول.

وَمِنْهَا الِادِّهَانُ وَمَسُّ الطِّيبِ وَلُبْسِ الثِّيَابِ الْفَاخِرَةِ وَالتَّقَرُّبِ مِنْ الْخَطِيبِ وَتَبْخِيرِ الْمَسْجِدِ وَالتَّبْكِيرِ إلَيْهِ وَالْمَشْيِ بِسَكِينَةٍ وَوَقَارٍ وَأَنْ يَقُولَ عِنْدَ الدُّخُولِ اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنْ أَوْجَهِ مَنْ تَوَجَّهَ إلَيْك وَأَقْرَبِ مَنْ تَقَرَّبَ إلَيْك وَأَفْضَلِ مَنْ سَأَلَك وَرَغِبَ إلَيْك. وَتَأْخِيرُ الْغَدَاءِ وَالْقَيْلُولَةِ عَنْ الصَّلَاةِ وَأَنْ يَقْرَأَ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ الْجُمُعَةَ وَالْمُنَافِقِينَ أَحْيَانًا تَبَرُّكًا وَقِرَاءَةُ الْفَاتِحَةِ وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ وَالْإِخْلَاصِ بَعْدَهَا سَبْعًا سَبْعًا فَمَنْ فَعَلَهَا حَفِظَهُ اللَّهُ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ إلَى مِثْلِهِ وَقِرَاءَةُ سُورَةِ هُودٍ وَالْكَهْفِ وَالدُّخَانِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ وَزِيَارَةُ الْإِخْوَانِ فِي اللَّهِ تَعَالَى وَزِيَارَةُ الْقُبُورِ وَصَلَاةُ التَّسْبِيحِ وَشُهُودُ النِّكَاحِ وَالْعِتْقُ وَالْإِكْثَارُ مِنْ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَفِي لَيْلَتِهَا قِرَاءَةُ الزَّهْرَاوَيْنِ وَسُورَةِ الْكَهْفِ وَيس وَالدُّخَانُ وَيُصَلِّي فِيهَا صَلَاةَ حِفْظِ الْقُرْآنِ وَصَلَاةَ رُؤْيَةِ النَّبِيِّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَيَقْرَأُ فِي مَغْرِبِهَا الْكَافِرُونَ وَالْإِخْلَاصَ مِنْ نُورِ الشَّمْعَةِ فِي بَيَانِ ظُهْرِ الْجُمُعَةِ لِلْعَلَّامَةِ الْمَقْدِسِيِّ.

والتفصیل فی الحامدیة.

(الفتاوی تنقیح الحامدیه ج ۱ ص ۸ بیروت چاپ)

د جمعې لمونځ یوازي انفرادي نه کیږي.

سوال ۵: ایا یو کس یوازي یکي تنها د جمعې لمونځ خپله کولای سي که یا؟.

جواب: فقهاء کرامو د فقهي شریفي په کتابو کښي د جمعې د لمانځه د پاره ځو شرطونه بیان کړي دي. چي یو د هغه شرائطو څخه دا دی چي ښار به وي، بل دا دی چي سلطان او پاچا به وي، بل دا دی چي خطبه به وي، بل دا دی چي جماعت به وي، بل دا دی چي په وخت کښي به وي. د دغه شرطونو په نیستیوالي کښي د جمعې لمونځ صحت نه لري نو معلومه سول چي انفرادي او په یوازي صورت سره د جمعې لمونځ نه صحیح کیږي.

لما قال العلامة علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: ٥٨٧هـ): في بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع :وأما الشرائط التي ترجع إلى غير المصلي فخمسة في ظاهر الروايات، المصر الجامع، والسلطان، والخطبة، والجماعة، والوقت.

(بدائع الصنائع ج ١ص ٥٨٣ فصل بيان شرائط الجمعة مكتبه رشيديه / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح مع حاشية الطحطاوي ٥١١ مكتبه رشيديه)

ايا دجمعې دخطبې په دوران کي سنت کول جوازلري ؟

سوال٦ : ايا د جمعې د خطبې ويلو په وخت کي خبري کول يا سنت کول جواز لري که يا ؟

جواب: زموږ په مذهب کي د خطبې په دوران کي نفل کول حرام دي البته په هغه څلور رکعتو سنتو کي تفصيل دی که يې چيري تر خطبې مخکي شروع په کړې وه، نو د خطبې په دوران کي دي پورا کړي او يو څه دي لنډ کړي همدغه شان د خطبې په دوران کي خبري کول هم حرام دي په بعضي مساجدو کي د خطبې ويلو په دوران کي خلګ چندې او پيسې جمع کوي دا طريقه هم حرام ده په دې سره د جمعې ثواب ضائع کيږي.

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر : (قَوْلُهُ وَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ فَلَا صَلَاةَ، وَلَا كَلَامَ) لِمَا رَوَاهُ ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ فِي مُصَنَّفِهِ عَنْ عَلِيٍّ وَابْنِ عَبَّاسٍ وَابْنِ عُمَرَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ – كَانُوا يَكْرَهُونَ الصَّلَاةَ وَالْكَلَامَ بَعْدَ خُرُوجِ الْإِمَامِ وَقَوْلُ الصَّحَابِيِّ حُجَّةٌ وَلِأَنَّ الْكَلَامَ يَمْتَدُّ طَبْعًا فَيُخِلُّ بِالِاسْتِمَاعِ وَالصَّلَاةُ قَدْ تَسْتَلْزِمُهُ أَيْضًا وَبِهِ انْدَفَعَ قَوْلُهُمَا أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِالْكَلَامِ إذَا خَرَجَ قَبْلَ أَنْ يَخْطُبَ وَإِذَا نَزَلَ قَبْلَ أَنْ يُكَبِّرَ وَأَجْمَعُوا أَنَّ الْخُرُوجَ قَاطِعٌ لِلصَّلَاةِ، وَفِي الْعُيُونِ الْمُرَادُ إجَابَةُ الْمُؤَذِّنِ أَمَّا غَيْرُهُ مِنْ الْكَلَامِ فَيُكْرَهُ إجْمَاعًا

(ردالمحتار ج ١ ص ٦٠٥ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ٢ص ٢٧٠ مكتبه رشيديه / بدائع الصنائع ج ١ ص ٥٩٢ مكتبه رشيديه / كفايت المفتي ج ٣ ص ٢٨٠ اردو / فتاوی محموديه ج ٨ ص ٢٧٧ اردو / فتاوی دارالعلوم ديوبند پښتو)

دجمعې داول اذان څخه رانيول اوخرڅول منع دي که ددوهم اذان څخه ؟

سوال٧ : موږ اوريدلي دي چي د جمعې تر اذان وروسته رانيول او خرڅول ناروا دي آيا اول اذان مراد دی که دوهم؟

جواب: په قرآن کریم کې د جمعې تر اذان وروسته رانیول او خرڅول ناروا کنړل سوي دي، او دا حراموالی د جمعې تر اول اذان وروسته دی بیا دلمانځه تر ختمه پوري .

لماقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : قَوْلُهُ وَوَجَبَ سَعْيٌ) لَمْ يَقُلْ افْتُرِضَ مَعَ أَنَّهُ فَرْضٌ لِلِاخْتِلَافِ فِي وَقْتِهِ هَلْ هُوَ الْأَذَانُ الْأَوَّلُ أَوْ الثَّانِي أَوْ الْعِبْرَةُ لِدُخُولِ الْوَقْتِ؟ بَحْرٌ.وَحَاصِلُهُ أَنَّ السَّعْيَ نَفْسَهُ فَرْضٌ وَالْوَاجِبُ كَوْنُهُ فِي وَقْتِ الْأَذَانِ الْأَوَّلِ، وَبِهِ انْدَفَعَ مَا فِي النَّهْرِ مِنْ أَنَّ الِاخْتِلَافَ فِي وَقْتِهِ لَا يَمْنَعُ الْقَوْلَ بِفَرْضِيَّتِهِ كَصَلَاةِ الْعَصْرِ فَرْضٌ إجْمَاعًا مَعَ الِاخْتِلَافِ فِي وَقْتِهَا (قَوْلُهُ وَتَرْكُ الْبَيْعِ) أَرَادَ بِهِ كُلَّ عَمَلٍ يُنَافِي السَّعْيَ وَخَصَّهُ اتِّبَاعًا لِلْآيَةِ نَهْرٌ (قَوْلُهُ: وَلَوْ مَعَ السَّعْيِ) صَرَّحَ فِي السِّرَاجِ بِعَدَمِ الْكَرَاهَةِ إذَا لَمْ يَشْغَلْهُ بَحْرٌ وَيَنْبَغِي التَّعْوِيلُ عَلَى الْأَوَّلِ نَهْرٌ.

ولماقال ابن نجيم المصري الحنفي في البحر : (قَوْلُهُ وَيَجِبُ السَّعْيُ وَتَرْكُ الْبَيْعِ بِالْأَذَانِ الْأَوَّلِ) لِقَوْلِهِ تَعَالَى {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ} [الجمعة: ٩] ، وَإِنَّمَا اُعْتُبِرَ الْأَذَانُ الْأَوَّلُ لِحُصُولِ الْإِعْلَامِ بِهِ وَمَعْلُومٌ أَنَّهُ بَعْدَ الزَّوَالِ إذْ الْأَذَانُ قَبْلَهُ لَيْسَ بِأَذَانٍ وَهَذَا الْقَوْلُ هُوَ الصَّحِيحُ فِي الْمَذْهَبِ وَقِيلَ الْعِبْرَةُ لِلْأَذَانِ الثَّانِي الَّذِي يَكُونُ بَيْنَ يَدَيْ الْمِنْبَرِ؛ لِأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ فِي زَمَنِهِ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – إلَّا هُوَ، وَهُوَ ضَعِيفٌ؛ لِأَنَّهُ لَوْ اُعْتُبِرَ فِي وُجُوبِ السَّعْيِ لَمْ يَتَمَكَّنْ مِنْ السُّنَّةِ الْقَبْلِيَّةِ وَمِنْ الِاسْتِمَاعِ بَلْ رُبَّمَا يُخْشَى عَلَيْهِ فَوَاتُ الْجُمُعَةِ، وَفِي صَحِيحِ الْبُخَارِيِّ مُسْنَدًا إلَى السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ «كَانَ النِّدَاءُ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ أَوَّلُهُ إذَا جَلَسَ الْإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ» فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ وَكَثُرَ النَّاسُ زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۷ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷۳ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۴۹ مکتبه رشیدیه / فتاوی اللکهنوي ص ۳۶۵ مکتبه حبیبیه / مسائل معارف القرآن ص ۸۱ اردو / فتاوی فریدیه ج ۳ ص ۱۰۷ اردو)

دجمعې داذان څخه بيا تر لمانځه پورې خوراک اوڅښاک روادی که یا ؟

سوال۸: د جمعې د اول اذان څخه بيا تر دوهم اذان پورې او د دوهم اذان څخه بيا د لمانځه تر ختم پورې خوراک او چيښاک روا دی که یا؟ ځيني کسان د خطبې تر شروع مخکښې په مسجد کښې او به چيښي ؟

جواب: د جمعې مبارکې ورځې د دوو اذانو ترمايين خوراک او چيښاک روا دی په دې شرط سره چې د جمعې لمونځ قضاء او فوت نه سي، او که د قضاء کېدو خطره وه بيا نا روا دی او د خطبې د ويلو په دوران کښې خوراک چيښاک خبرې دا ټوله ناروا دي.

لماقال ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : وَفِي كَثِيرٍ مِنْ الْكُتُبِ لَوْ سَمِعَ النِّدَاءَ وَقْتَ الْأَكْلِ يَتْرُكُهُ إذَا خَافَ فَوْتَ الْجُمُعَةِ كَخُرُوجِ وَقْتِ الْمَكْتُوبَاتِ بِخِلَافِ الْجَمَاعَةِ فِي سَائِرِ الصَّلَوَاتِ

(الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۶۰۹ مکتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷۴ مکتبه رشيديه / امدادالاحکام ج ۱ ص ۷۶۰ اردو فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۱۲۲ پښتو)

دښار په څومره اندازه کښې بايد دجمعې لمونځ اداء سي ؟

سوال ۹ : ديوښار حدود بايد شرعا څومیله وي چې دهغه څخه آخوا بيا دجمعې لمونځ جايز نه وي . ايا څه خاص اندازه لري شرعا که یا ؟ .

جواب : مفتي عزيزالرحمن رحمة الله عليه مفتي اعظم دارالعلوم ديوبند په فتاوی دارالعلوم ديوبند کښې داسې ليکلي دي : دښار دحدودو دپاره ميلونه معتبر نه دي . بلکې دښار حدود هغه دي چې دښار دضروریاتو او کارونو او اړتیاوو دپاره جوړ سوي وي لکه ښخول دمړو ، زغلول او نالول دآسانو ،دعسکرو قرار ګاوي او وتل د غشو دويشتلو دپاره او نور دې ته ورته منافع .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :اوفناءه وهو ماتصل به لاجل مصالحه كدفن الموتى وركض الخيل .

وفی ردالمحتار : اعْلَمْأَنَّ بَعْضَ الْمُحَقِّقِينَ أَهْلِ التَّرْجِيحِ أَطْلَقَ الْفِنَاءَ عَنْ تَقْدِيرِهِ بِمَسَافَةٍ وَكَذَا مُحَرِّرُ الْمَذْهَبِ الْإِمَامُ مُحَمَّدٌ وَبَعْضُهُمْ قَدَّرَهُ بِهَا وَجُمْلَةُ أَقْوَالِهِمْ فِي تَقْدِيرِهِ ثَمَانِيَةُ أَقْوَالٍ أَوْ تِسْعَةُ غَلْوَةٍ مَيْلٌ مِيلَانِ ثَلَاثَةٌ فَرْسَخٌ فَرْسَخَانِ ثَلَاثَةٌ سَمَاعُ الصَّوْتِ سَمَاعُ الْأَذَانِ وَالتَّعْرِيفُ أَحْسَنُ مِنْ التَّحْدِيدِ لِأَنَّهُ لَا يُوجَدُ ذَلِكَ فِي كُلِّ مِصْرٍ وَإِنَّمَا هُوَ بِحَسَبِ كِبَرِ الْمِصْرِ وَصِغَرِهِ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۶ ص ۴۶ باب الجمعة / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۴۳ باب الجمعة / کفایت المفتي ج ۵ ص ۱۳۱ باب الجمعة / غنية المستملي ص ۵۱۱ باب الجمعة / فتاوی قاضیخان ج ۱ ص ۴۸ باب الجمعة / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۳۳ باب الجمعة / جواهر الاحکام ص ۱۵۴)

دجمعې په ورځ په ښار کښي دماپښين لمونځ په جماعت نه دی رواه؟

سوال ۱۰ : دیو ځو کسانو څخه د جمعې په ورځ د جمعې لمونځ او جماعت تېر سو نو په داغه مسجد کښي دغه خلک د ماپښين لمونځ په جماعت کولای سي که يا؟ جواب راکړئ.

جواب : د کومو خلکو څخه چي جمعه قضاء او پاته سي هغه خلک دي د ماپښين جماعت نه کوي يوازي يوازي دي لمونځ وکړي

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَكَذَا أَهْلُ مِصْرٍ فَاتَتْهُمْ الْجُمُعَةُ) فَإِنَّهُمْ يُصَلُّونَ الظُّهْرَ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إقَامَةٍ وَلَا جَمَاعَةٍ......... قَالَ فِي الْوَلْوَالِجِيَّةِ وَلَا يُصَلِّي يَوْمَ الْجُمُعَةِ جَمَاعَةً بِمِصْرٍ وَلَا يُؤَذِّنُ وَلَا يُقِيمُ فِي سِجْنٍ وَغَيْرِهِ لِصَلَاةِ الظُّهْرِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۵ باب صلاة الجمعة مکتبه حبيبيه/فتاوی عالمگريه ج ۱ ص ۱۴۵ باب صلاة الجمعة مکتبه رشيديه/فقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۳۳۲ باب الجمعة مکتبه رشيديه/فتاوی محموديه ج ۸ ص ۳۴ باب صلاة الجمعة/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۱۲۹)

دجمعې لمونځ فرض دی که یا ؟

سوال ۱۱: دجمعې لمونځ په شرائطو سره فرض دی که بېله کومو شرائطو ؟

جواب: مفتي اعظم هندوستان حضرت مولانا مفتي کفایت الله صاحب رحمه الله تعالی په کفایت المفتي ج۵ ص ۱۰۴ کي داسي لیکلي دي دجمعې لمونځ ځان ته ځانګړي شرطونه لري کله چي هغه شرطونه موجود سي نو دجمعې لمونځ فرض دی او که نه وي نه دی فرض.

شرائط په لاندي ډول دي: آزاد به وي، مقیم به وي په ښار کي، جوړ به وي، امن به ورته حاصل وي، مصر یا به فنا دمصر وي، پاچا به وي یا به نائب دپاچا وي، وخت به وي دماپښین، او خطبه به وي الخ.......

او پاته سوه دا خبره چي په نن زمانه کي اجراء د حدودو او تنفیذ دا حکامو نسته نو هغه بالفعل کېدل او جاري کول شرط نه دي بلکي مطلق قدرت شرط دی چي دښار او وخت حاکم به قدرت پر لري لکه څنګه چي صاحب دالبحر الرائق وايي چي صاحب دبدائع الصنائع همدغه خبري ته اصح ویلي دي او لکه څنګه چي د لاندي ذکرسوي فقهاوو دعبارتونو څخه هم دا خبره په ښکاره ثابتیږي.

والله اعلم هذاماعندنا ولعل غیرنا اقدرمن هذا

لقوله تعالى فى القرآن الكريم : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (۹) سورة الجمعة .

عن طارق بن شهاب، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: " الجمعة حق واجب على كل مسلم في جماعة إلا أربعة: عبد مملوك، أو امرأة، أو صبي، أو مريض رواه ابوداؤد

ولما قال العلامة حسن بن عمار بن علي الشرنبلالي المصري الحنفي (المتوفى: ۱۰۶۹هـ) فى نور الإيضاح ونجاة الأرواح في الفقه الحنفي : صلاة الجمعة: فرض عين على من اجتمع فيه سبعة شرائط الذكورة، والحرية،والإقامة بمصر أو فيها هو داخل في حد الإقامة بها في الأصح،والصحة،والأمن من ظالم، وسلامة العينين، وسلامة الرجلين، ويشترط لصحتها ستة أشياء، المصر أو فناؤه. والسلطان أو نائبه،ووقت الظهر فلا تصح قبله وتبطل

بخروجه، والخطبة .... والمصر: كل موضع له مفت، وأمير. وقاض ينفذ الأحكام ويقيم الحدود......

ولما قال العلامة أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي – توفي ١٢٣١ هـ فى حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح : قوله ينفذ الأحكام ويقيم الحدود" المراد به القدرة على ذلك كما صرح به في التحفة عن الإمام لتزييف صدر الشريعة له بظهور التواني في الأحكام لا سيما في إقامة الحدود في الأمصار مزيف كما في الحلبي فالمراد الشأن لا الحصول بالفعل قالالعلامة نوح دفع الظلم عن المظلومين ليس بشرط في تحقق المصرية بل الشرط في تحققها القدرة على الدفع ومما يدل على عدم اشتراط الدفع بالفعل أن جماعة من الصحابة صلوها خلف الحجاج وهو أظلم خلق الله تعالى اهـ وفي الحموي .

ولما قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (المصر وهو ما لا يسع أكبر مساجده أهله المكلفين بها) وعليه فتوى أكثر الفقهاء مجتبى لظهور التواني في الأحكام ....ولما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قوله وعليه فتوى أكثر الفقهاء إلخ) وقال أبو شجاع: هذا أحسن ما قيل فيه. وفي الولوالجية وهو صحيح بحر، وعليه مشى في الوقاية ومتن المختار وشرحه وقدمه في متن الدرر على القول الآخر وظاهره ترجيحه وأيده صدر الشريعة بقوله لظهور التواني في أحكام الشرع سيما في إقامة الحدود في الأمصار .... وفي شرح الشيخ إسماعيل عن الدهلوي ليس المراد تنفيذ جميع الأحكام بالفعل؛ إذ الجمعة أقيمت في عهد أظلم الناس وهو الحجاج وإنه ما كان ينفذ جميع الأحكام، بل المراد – والله أعلم – اقتداره على ذلك اهـ ونقل مثله في حاشية أبي السعود عن رسالة العلامة نوح أفندي......... والحد الصحيح ما اختاره صاحب الهداية أنه الذي له أمير وقاض ينفذ الأحكام ويقيم الحدود وتزييف صدر الشريعة له عند اعتذاره عن صاحب الوقاية حيث اختار الحد المتقدم بظهور التواني في

الأحكام مزيف بأن المراد القدرة على إقامتها على ما صرح به في التحفة عن أبي حنيفة أنه بلدة كبيرة فيها سكك وأسواق ولها رساتيق وفيها وال يقدر على إنصاف المظلوم من الظالم بحشمته وعلمه أو علم غيره يرجع الناس إليه فيما يقع من الحوادث وهذا هو الأصح اه وحاصله أن يقدر على إنصاف المظلوم من الظالم كما فسره به في العناية. اهـ. وذكر الدكتور وهبة الزحيلى رحمه الله تعال فى الفقه الاسلاني وادلته أو في مصلى المصر عند الحنفية: وهو كل موضع له أمير وقاض ينفذ الأحكام ويقيم الحدود، هذا في مشهور المذهب الحنفي، لكن المفتى به عند أكثر الحنفية، أن المصر كما قدمنا: هو ما لا يسع أكبر مساجدها أهلها المكلفين بالجمعة. وهذا شرط وجوب وصحة

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۷ باب الجمعة مكتبه رشيديه ۱۲ جلده / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۴۵ باب الجمعة / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۲۹۴ باب الجمعة /بدائع الصنائع ج ۱ ص ۵۸۵ باب شرائط الجمعة مكتبه رشيديه / البحر الرائق ج ۲ ص ۲۴۶ باب الجمعة مكتبه رشيديه / نور الإيضاح ونجاة الأرواح في الفقه الحنفي ص ۱۱۵ باب الجمعة / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح ص ۵۱۳ / كفايت المفتي ج ۵ ص ۱۰۴ باب ما يتعلق بشرائط الجمعة / سنن ابي داؤد كتاب الصلاة باب الجمعة للملوک والمرأة ج ۱ ص ۱۶۰ امداديه ملتان)

دجمعې ورځ موږ بايد څنګه تېره کړو ؟

سوال ۱۲: دجمعې مبارکه ورځ موږ بايد پر څه طرز او طريقه باندي تيره کړو ؟

جواب: په احاديثو مبارکه وو کي د جمعې د ورځي ډېر زيات فضائل راغلي دي چي يوه نمونه دهغو څخه داده نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چي د جمعې ورځ دټولو ورځو سرداره ده او د الله جل جلاله په نزد دلوی اختر تر ورځي هم لويه ده او د کوچني اختر تر ورځي لا هم لويه ده او په دې مبارکه ورځ کي پنځه امور موجود دي . حضرت آدم عليه السلام په دغه ورځ پيدا سوی دی ، او هم په دغه ورځ کي و مځکي ته راکښته سوی دی ، او هم په دغه ورځ کي وفات سوی دی ، او په دې کي يو ساعت داسي موجود دی چي کوم خواست او دعا الله جل جلاله ته وسي هغه يې قبلوي تر څو چي دحرامو خواست نه وي ، او هم په دې ورځي کي به قيامت قائم کيږي ، او نسته هيڅ مقربه فرشته او نه مځکه او نه هم اسمان او نه هوا وي او نه هم

غرونه او دریابونه مګر ټوله ددې ورځي څخه بیریږي .رواه احمد
لهذا د جمعې ورځ یوه مبارکه ورځ ده ددې ورځي احترام باید وسي او احترام یې هم په اعمالو سره وسي هغه داسي چي په دې ورځ باندي سړی باید په ډېره اندازه کار ونه کړي چي د جمعې په لمانځه کي خلل رانه سي د جمعې د لمانځه د پاره تیاري ونیول سي غسل وکړل سي نوکان پرې سي پاکي جامې په تن کړل سي وختي او پر وخت د جمعې لمانځه ته ولاړ سي که چیري پر فرض وو .

عَنْ أَبِي لُبَابَةَ الْبَدْرِيِّ بْنِ عَبْدِ الْمُنْذِرِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " سَيِّدُ الْأَيَّامِ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، وَأَعْظَمُهَا عِنْدَهُ، وَأَعْظَمُ عِنْدَ اللهِ مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ، وَيَوْمِ الْأَضْحَى، وَفِيهِ خَمْسُ خِلَالٍ: خَلَقَ اللهُ فِيهِ آدَمَ، وَأَهْبَطَ اللهُ فِيهِ آدَمَ إِلَى الْأَرْضِ، وَفِيهِ تَوَفَّى اللهُ آدَمَ، وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يَسْأَلُ الْعَبْدُ فِيهَا شَيْئًا، إِلَّا آتَاهُ اللهُ إِيَّاهُ مَا لَمْ يَسْأَلْ حَرَامًا، وَفِيهِ تَقُومُ السَّاعَةُ مَا مِنْ مَلَكٍ مُقَرَّبٍ، وَلَا سَمَاءٍ، وَلَا أَرْضٍ، وَلَا رِيَاحٍ، وَلَا جِبَالٍ، وَلَا بَحْرٍ، إِلَّا هُنَّ يُشْفِقْنَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ "

(مسند الإمام أحمد بن حنبل ج ۲۴ ص ۳۱۵ / الترغیب والترهیب ج ۱ ص ۲۸۱ / سنن ابن ماجة)

د جمعې لمونځ فرض عین دی که فرض کفایي ؟

سوال ۱۳: د جمعې په ورځ د جمعې لمونځ پر مسلمانانو فرض عین دی په ښار کښني او که فرض کفایي؟جواب راکړئ.

جواب: د جمعې لمونځ د جمعې په ورځ په ښار کښني د مسلمانانو پر ذمه فرض عین دی فرض کفایي نه دی.

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار :هِيَ فَرْضُ عَيْنٍ يَكْفُرُ جَاحِدُهَا لِثُبُوتِهَا بِالدَّلِيلِ الْقَطْعِيِّ كَمَا حَقَّقَهُ الْكَمَالُ وَهِيَ فَرْضٌ مُسْتَقِل

(الدر المختار علي هامس ردالمحتار ج ۲ ص ۱۳۶ باب الجمعة بیروت چاپ مکتبه شامله/فتاوی عالمګیریه ج ۱ ص ۱۴۴ باب الجمعة مکتبه رشیدیه/محیط البرهاني ج ۲ ص ۱۷۱ باب الجمعة مکتبه غفاریه/البحر الرائق ج ۲ ص ۲۴۵ باب الجمعة مکتبه رشیدیه/فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۱۰ باب الجمعة/ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۴ ص ۱۱۰ باب الجمعة/فتاودار العلوم دیوبند ج ۵ ص ۱۲۰)

د خطبې په وخت کښي چنده کول صحيح نه ده؟

سوال ۱۴: په ځني مسجدو کښي د خطبې ويلو په دوران کښي په پټو يا څادر کښي د مسجد لپاره چنده ټوليږي او د خلګو خيال او فکر هم په دغه سره د خطبې داوريدلو څخه اوړي شرعًا دا کار څنګه دی؟

جواب: د خطبې ويلو په وخت کښي خو د لمانځه او درود شريف منع لا راغلې ده نو په دې وخت کښي چنده جمع کول او پټو او ډبه په لاس کښي ګرځول او د لمونځ کوونکو فکر او خيال او توجه منتشره کول په طريقه اولی سره منع دی

العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :إذَا خَرَجَ الْإِمَامُ فَلَا صَلَاةَ وَلَا كَلَامَ فَيَكُونُ مُخَالِفًا لِحَدِيثِهِ الَّذِي يَرْوِيهِ وَيُكْرَهُ فَافْهَمْ لما قال

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۵ باب الجمة مكتبه حبيبيه/خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۲۰۶ باب الجمعة مكتبه رشيديه/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷۰ باب الجعة مكتبه رشيديه/فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۱۳۰ باب الجمعة/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۱۲۰)

د خطبې په وخت کښي نفل او سنت کول مکروه دي؟

سوال ۱۵: ځني کسان د جمعې په ورځ مسجد ته راسي امام خطبه وايي او دی پر نفلو يا د څلورو رکعتو سنتو نيت وتړي ايا د خطبې په وخت کښي نفل او سنت کول رواه دي که يا؟

جواب: خطيب د جمعې چي کله خطبه شروع کي په دغه وخت کښي هيڅ لمونځ کول نه دی پکار او نه دي خطيب چاته وايي چي ته لمونځ وکړه او په دغه د خطبې په وخت کښي خبري لمونځ نفل سنت ذکراذکار دا ټوله منع دي او ريدل د خطبې لازم دي

العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : إذَا خَرَجَ الْإِمَامُ مِنْ الْحُجْرَةِ إنْ كَانَ وَإِلَّا فَقِيَامُهُ لِلصُّعُودِ شَرْحُ الْمَجْمَعِ فَلَا صَلَاةَ وَلَا كَلَامَ إلَى تَمَامِهَا...... قَوْلُهُ فَلَا صَلَاةَ شَمِلَ السُّنَّةَ وَتَحِيَّةَ الْمَسْجِدِ بَحْرٌ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۵ باب الجمعة مکتبه حبیبیه/خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۰۶ باب الجمعة مکتبه رشیدیه/البحرالرائق ج ۱ ص ۲۷۰ باب الجمعة مکتبه رشیدیه/فتاوی عالمګیریه ج ۱ ص ۱۴۷ باب الجمعة مکتبه رشیدیه/فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۳۰ باب الجماعة/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۱۱۵)

د ښځو شرکت د جمعې په لمانځه کښې څنګه دي؟

سوال ۱۶: ایا ښځي خصوصًا عمر رسیده ښځي په ښار کښي د جمعې په لمانځه کي شرکت کولاي سي که یا؟ او د دغه جمعې د لمانځه په خاطر به وعظ او نصیحت هم واوري؟

جواب: د ښځو لپاره احتیاط او د پردې ډېر زیات ضرورت دی او د نفعې د راکشولو څخه د ضرر د فع کېدل مخکې دي په دې وجه فقهاوو ښځو ته د جمعې او اخترونو او نصیحتو په مجلس کښي چي نارینه هم وي شاملېدل مکروه لیکلي دي په درمختار کښي دي

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار : وَيُكْرَهُ حُضُورُهُنَّ الْجَمَاعَةَ وَلَوْ لِجُمُعَةٍ وَعِيدٍ وَوَعْظٍ مُطْلَقًا وَلَوْ عَجُوزًا لَيْلًا عَلَى الْمَذْهَبِ الْمُفْتَى بِهِ لِفَسَادِ الزَّمَانِ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۱ ص ۴۱۸ باب الامامة مکتبه حبیبیه/فتاوی ملاعلي قاري ج ۱ ص ۶ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/فتاوی عالمګیریه ج ۱ ص ۱۵۰ باب الامامة مکتبه رشیدیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷۶ باب الامامة مکتبه رشیدیه/ فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۳۹۳ باب العیدین/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۱۱۴)

دوه مسجدونه چي سره نژدې وي په دواړو کي جمعه صحیح ده که یا؟

سوال ۱۷: که چیري دوه مسجدان سره نژدې وي او متصل وي ایا په دواړو کښي د جمعې لمونځ اداء کول صحیح دي که یا؟ جواب راکړئ

جواب: په دغه دواړو مسجدانو کښي د جمعې لمونځ صحیح او درست دی شرعاً

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالی في البحر الرائق شرح کنز الدقائق :

(قَوْلُهُ وَتُؤَدَّى فِي مِصْرٍ فِي مَوَاضِعَ) أَيْ يَصِحُّ أَدَاءُ الْجُمُعَةِ فِي مِصْرٍ وَاحِدٍ بِمَوَاضِعَ كَثِيرَةٍ، وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ، وَهُوَ الْأَصَحُّ؛ لِأَنَّ فِي الِاجْتِمَاعِ فِي مَوْضِعٍ وَاحِدٍ فِي مَدِينَةٍ كَبِيرَةٍ حَرَجًا بَيِّنًا، وَهُوَ مَدْفُوعٌ

(البحرالرائق ج ۲ ص ۲۵۰ باب صلاۃالجمعة مکتبه رشیدیه/الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۱ ص ۵۹۵ باب الجمعة مکتبه حبیبیه/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۵۸/فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۱۹۲ باب صلاۃالجمعة/فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۱۴۵ باب صلاۃالجمعة مکتبه رشیدیه/فتح القدیر شرح هدایة ج ۲ ص ۲۵ باب صلاۃ الجمعة مکتبه رشیدیه/کفایت المفتي ج ۵ ص ۱۷۲ باب صلاۃالجمعة)

دیوه کلي ابادي چي څه باندي سل کوره وي دا ختر او دجمعې لمونځ هلته نه کیږي؟

سوال ۱۸: په کوم کلي کښي چي سل کورونه ابادوي او هغه دلوي کلي په نامه سره یادیږي په صحرا کي هلته د جمعې او داخترلمونځ کیږي که یا؟

جواب: دغه مذکوره کلی کوچنی دی په دغه کلي کښي د جمعې او اخترلمونځ نه دی صحیح شرعًا

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّتِهَاالْمِصْرُأَوْ فِنَاؤُهُ وَهُوَ مَا حَوْلَهُ اتَّصَلَ بِهِ أَوْ لَالِأَجْلِ مَصَالِحِهِ كَدَفْنِ الْمَوْتَى وَرَكْضِ الْخَيْلِ......... وَفِيمَا ذَكَرْنَا إشَارَةٌ إلَى أَنَّهُ لَا تَجُوزُ فِي الصَّغِيرَةِ الَّتِي لَيْسَ فِيهَا قَاضٍ وَمِنْبَرٌ وَخَطِيبٌ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۵۹۰ باب صلاۃالجمعة مکتبه حبیبیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۶۹ باب صلاۃالجمعة مکتبه رشیدیه/کفایت المفتي ج ۵ ص ۱۳۳ باب صلاۃالجمعة/خیرالفتاوی ج ۳ ص ۷۰/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۴۲)

دیوه ښار حدود شرعًا باید څومیله وي؟

سوال ۱۹: دیوه ښار حدود شرعًا باید څومیله وي چي د هغه څخه آخوا بیا د جمعې د لمانځه اجازه نه وي ایا څه خاص اندازه لري که یا؟

جواب: د ښار د حدودو لپاره میلونه معتبر نه دي شرعًا بلکه د ښار حدود هغه دي چې د ښار د ضروریاتو او کارونو او اړتیاوو لپاره جوړ سوي وي لکه ښخول د مړو زغلول او نالول د آسانو او د عسکرو قرارګاوي او وتل د غشود ویشتلو لپاره و غیر ذلک

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :أَوْ فِنَاؤُهُ وَهُوَ مَا) حَوْلَهُ (اتَّصَلَ بِهِ) أَوْ لَا لِأَجْلِ مَصَالِحِهِ) كَدَفْنِ الْمَوْتَى وَرَكْضِ الْخَيْلِ...... اعْلَمْ أَنَّ بَعْضَ الْمُحَقِّقِينَ أَهْلِ التَّرْجِيحِ أَطْلَقَ الْفِنَاءَ عَنْ تَقْدِيرِهِ بِمَسَافَةٍ وَكَذَا مُحَرِّرُ الْمَذْهَبِ الْإِمَامُ مُحَمَّدٌ

(ردالمحتارج ۱ ص ۵۹۱ باب صلاة الجمعة مكتبه حبيبيه/غنية المستملي ص ۵۱۱/فتاوی قاضي خان ج ۱ ص ۴۸ باب صلاة الجمعة مكتبه رشيديه/احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۳۳/كفايت المفتي ج ۵ ص ۱۳۱ باب صلاة الجمعة/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۴۳)

د خطبې پر ځای که د قران کریم یوه رکوع تلاوت وسي؟

سوال۲۰: که چیري د خطبې پر ځای د قران شریف یوه رکوع وویل سي نو جمعه جایز ده که یا؟

جواب: په درمختار کښي راغلي دي چې د خطبې لپاره یووار الحمد الله ویل یا لااله الآ الله ویل یا سبحان الله ویل کافي دي ددې څخه دا معلومه سوه چې د قران شریف په یوه رکوع ویلو سره فرض خطبه اداء کیږي لیکن پر دغه باندي کفایت کول خلاف د سنت طریقې دی. سنت طریقه دا ده چې د نبي کریم(صلي الله علیه وسلم) ثابتي خطبې وویل سي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَكَفَتْ تَحْمِيدَةٌ أَوْ تَهْلِيلَةٌ أَوْ تَسْبِيحَةٌ....... وَيُسَنُّ خُطْبَتَانِ) خَفِيفَتَانِ وَتُكْرَهُ زِيَادَتُهُمَا عَلَى قَدْرِ سُورَةٍ مِنْ طِوَالِ الْمُفَصَّلِ (بِجِلْسَةٍ بَيْنَهُمَا) بِقَدْرِ ثَلَاثِ آيَاتٍ عَلَى الْمَذْهَبِ

ردالمحتارج ۱ ص ۵۹۸ باب صلاة الجمعة مكتبه حبيبيه/فتاوی في الفقه الحنفي ج ۲ ص ۱۴۶ باب صلاة الجمعة مكتبه رشيديه/خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۰۵ باب صلاة الجمعة مكتبه رشيديه/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۴۴)

د جمعې د لمانځه وروسته احتیاطًا د ماپښین لمونځ کول څنګه دي؟

سوال ۲۱: داسي ملک چي دارالحرب وي هلته که چیري یو کس د جمعې د لمانځه وروسته احتیاطًا د ماپښین لمونځ هم وکړي نو داکار کول درست دي که یا ؟جواب ده شرعي مبارکي څخه راکړئ

جواب: کوم ملک چي دارالحرب وي او د جمعې لمونځ مسلمانان په کښې اداء کوي نو هلته بیا د جمعې د لمانځه وروسته د ماپښین لمونځ بیا کول د احتیاط لپاره داعمل شرعاً نسته په ښارو کښې ځکه چي هلته د جمعې لمونځ اداء کول درست دي

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :فَلَوْ الْوُلَاةُ كُفَّارًا يَجُوزُ لِلْمُسْلِمِينَ إقَامَةُ الْجُمُعَةِ....... وَفِي الْبَحْرِ: وَقَدْ أَفْتَيْت مِرَارًا بِعَدَمِ صَلَاةِ الْأَرْبَعِ بَعْدَهَا بِنِيَّةِ آخِرِ ظُهْرٍ خَوْفَ اعْتِقَادِ عَدَمِ فَرْضِيَّةِ الْجُمُعَةِ وَهُوَ الِاحْتِيَاطُ فِي زَمَانِنَا

ردالمحتارج ۱ ص ۵۸۹: ۵۹۵ باب صلاة الجمعة مكتبه حبيبيه/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۵۰؛ ۲۵۱: ۲۵۲ باب صلاة الجمعة مكتبه رشيديه/حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۵۰۶ مكتبه رشيديه/فتاوى محموديه ج ۸ ص ۳۵۱ باب صلاة الجمعة/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۴۷)

دجمعې داول اذان وروسته رانیول اوخرڅول ناروا دي؟

سوال ۲۲: دجمعې په ورځ دوه اذانه کیږي یو وختي اوبل د خطبې د شروع کېدلو څخه مخکښې نو دکوم اذان وروسته رانیول اوخرڅول ناروا دي؟ جواب راکړئ

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي کله چي دجمعې دلمانځه اول اذان وسو بیا رانیول اوخرڅول شرعا منع دي البته که چیري درانیولو او خرڅولو دوجي څخه په تلو اوسعي کي دجمعې خلل نه راتلی بیا رانیول او خرڅول درست دي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَوَجَبَ سَعْيٌ إلَيْهَا وَتَرْكُ الْبَيْعِ) وَلَوْ مَعَ السَّعْيِ، فِي الْمَسْجِدِ أَعْظَمُ وِزْرًا (بِالْأَذَانِ الْأَوَّلِ) فِي الْأَصَحِّ.......... وَسَيَذْكُرُ الشَّارِحُ فِي آخِرِ الْبَيْعِ الْفَاسِدِ أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِهِ لِتَعْلِيلِ النَّهْيِ بِالْإِخْلَالِ بِالسَّعْيِ فَإِذَا انْتَفَى انْتَفَى

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۷ باب صلاة الجمعة مكتبه حبيبيه/الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۴۹ باب صلاة الجمعة مكتبه رشيديه/البحر الرائق ج ۲ ص ۲۷۳ باب الجمعة مكتبه رشيديه/روح المعاني ج ۲۸ ص ۴۰۷ مكتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم زكريا ج ۲ ص ۵۴۵ باب الجمعة/فتاوى عبادالرحمن ج ۲ ص ۳۷۷ باب الجمعة/مرقات المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۳ ص ۴۴۹ مكتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۴۸)

دجمعې دلمانځه لپاره مستحب وخت کوم دی؟

سوال ۲۳: دامام ابوحنیفة رح په مذهب کښې د جمعې دلمانځه لپاره مستحب وخت وختې دی که ناوخته یعني دزواله څخه ډیر وروسته وسي او که ژر اداء سي؟ جواب راکړئ

جواب: داحنافو علماوو صحیح مذهب دا دی چې په جمعه کښې تلواره او تعجیل مستحب دی او هغه څنډا او ابراد ویخوالی چې د ماپښین په لمانځه کښې په ګرمیو کښې مستحب دی هغه په جمعه کښې نه دی مستحب او په احادیثو کښې هم د جمعې تعجیل او تلواره ثابته ده نو دزواله وروسته اذان کول پکار دي او دیوې بجې په شا او خوا کښې د جمعې لمونځ اداء کول پکار دي.په داسي کارو کښې دامام لپاره د مستحب وختونو خیال ساتل پکار دي

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار: لَكِنْ جَزَمَ فِي الْأَشْبَاهِ مِنْ فَنِّ الْأَحْكَامِ أَنَّهُ لَا يُسَنُّ لَهَا الْإِبْرَادُ....... وَقَالَ الْجُمْهُورُ: لَيْسَ بِمَشْرُوعٍ؛ لِأَنَّهَا تُقَامُ بِجَمْعٍ عَظِيمٍ، فَتَأْخِيرُهَا مُفْضٍ إلَى الْحَرَجِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۲۴۵ كتاب الصلاة مكتبه حبيبيه/صحيح البخاري ج ۱ ص ۱۲۳ كتاب الصلاة قديمي چاپ/البذل المجهود ج ۲ ص ۱۷۹ كتاب الصلاة/البحر الرائق ج ۱ ص ۴۲۹ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه/فتاوى محموديه ج ۸ ص ۳۳۸ باب صلاة الجمعة/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۵۱)

دجمعې دلمانځه په ناسته کښې دامام سره شریک سو؟

سوال ۲۴: یو کس د جمعې په ورځ د جمعې په لمانځه کښې دامام سره په قعده او ناسته کښې شریک سو نو ایا دده د جمعې لمونځ صحیح سو که یا؟ او که د ماپښین لمونځ اداء کړي؟

جواب: داسي کس چي دامام سره دجمعې دلمانځه په ناسته اوقعده کښي شريك سولمونځ ئې صحيح دی، دماپښين دلمانځه وکولوته ضرورت نسته

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَمَنْ أَدْرَكَهَا فِي تَشَهُّدٍ أَوْ سُجُودِ سَهْوٍ) عَلَى الْقَوْلِ بِهِ فِيهَا (يُتِمُّهَا جُمُعَةً وَيَنْوِي جُمُعَةً لَا ظُهْرًا
وفى الفتاوى الهندية :وَمَنْ أَدْرَكَهَا فِي التَّشَهُّدِ أَوْ فِي السُّجُودِ أَتَمَّ جُمُعَةً عِنْدَ الشَّيْخَيْنِ – رَحِمَهُمَا اللَّهُ تَعَالَى

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۴۹ باب صلاة الجمعة مكتبه رشيديه/ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۵ باب صلاة الجمعة مكتبه حبيبيه/ستاسومسائل اودهغوی حل ج ۴ ص ۱۲۸ باب صلاة الجمعة/فتاوى في الفقه الحنفي ج ۲ ص ۱۱۸ باب صلاة الجمعة مكتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۵۱)

دجمعې دلمانځه طريقه شرعا څنګه ده ؟

سوال ۲۵ : دجمعې لمونځ څو رکعته دی او څنګه اداء کيږي شرعي طريقه که يې راته بيان کړی مهرباني به مووي .

جواب : فقهآء کرامو دجمعې دلمانځه طريقه په لاندي ډول ليکلې ده : اول څلور رکعته سنت انفرادي اداء کيږي ، بيا دوه رکعته فرض دجمعې لمونځ دامام سره په جماعت اداء کيږي ، بيا وروسته تر فرضو څلور رکعته سنت مؤکد انفرادي اداء کيږي او بيا بيا بنه او بهتره داده چي دوه رکعته سنت غير مؤکد هم اداء کړل سي چي ټوله مجموعه دفرضو او سنتو دوولس رکعته لمونځ کيږي .

(فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۱۱۷ باب مسائل صلاة الجمعة مكتبه رشيديه)

باب صلوة العيدين

دافغان مهاجرينو اختر به دپاکستان سره وي او که دافغانستان سره ؟

سوال ۱ : زموږ بعضی افغانان وروڼه په پاکستان کښي او سيږي دغه مهاجر وروڼه به دافغانستان سره اختر کوي او که دپاکستان سره ؟

جواب: په کوم ملک کښې چې دی، او سیږې البته بهتره خبره داده چې د کم ملک په اعلان یه روژه نیولې وي د هغه ملک سره دې اختر کړي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :قَوْلُهُ: بِبَلْدَةٍ) أَيْ أَوْ قَرْيَةٍ قَالَ فِي السِّرَاجِ: وَلَوْ تَفَرَّدَ وَاحِدٌ بِرُؤْيَتِهِ فِي قَرْيَةٍ لَيْسَ فِيهَا وَالٍ وَلَمْ يَأْتِ مِصْرًا لِيَشْهَدَ وَهُوَ ثِقَةٌ يَصُومُونَ بِقَوْلِهِ. اهـ. قُلْت: وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ يَلْزَمُ أَهْلَ الْقُرَى الصَّوْمُ بِسَمَاعِ الْمَدَافِعِ أَوْ رُؤْيَةِ الْقَنَادِيلِ مِنْ الْمِصْرِ؛ لِأَنَّهُ عَلَامَةٌ ظَاهِرَةٌ تُفِيدُ غَلَبَةَ الظَّنِّ وَغَلَبَةُ الظَّنِّ حُجَّةٌ مُوجِبَةٌ لِلْعَمَلِ كَمَا صَرَّحُوا بِهِ وَاحْتِمَالُ كَوْنِ ذَلِكَ لِغَيْرِ رَمَضَانَ بَعِيدٌ إذْ لَا يُفْعَلُ مِثْلُ ذَلِكَ عَادَةً فِي لَيْلَةِ الشَّكِّ إلَّا لِثُبُوتِ رَمَضَانَ

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۳۸۶ باب سبب صوم رمضان مكتبه شامله / فتاوای فریدیه ج ۴ ص ۵۰ باب رؤية الهلال واختلاف المطالع)

د اختر لمونځ په عامو مساجدو کښي رواه دئ که یا؟

سوال ۲: که چیرې څه کسان راولاړسی د اختر لمونځ په خپل مسجد او جامع کښې اداکړي لمونځ په صحیح دئ که یا شرعًا؟

جواب: په عامو مساجدو کښې هم د اختر لمونځ صحت لري لمونځ په کښې درست او صحیح دئ. مګرپه عیدګاه کښې یه کول سنت دئ په عیدګا کښې بلاعذره د اخترانو لمونځونه نه کول خلاف سنت عمل دئ او که عذرؤو بیاپرواه نسته.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَالْخُرُوجُ إلَيْهَا) أَيْ الْجَبَّانَةِ لِصَلَاةِ الْعِيدِ (سُنَّةٌ وَإِنْ وَسِعَهُمْ الْمَسْجِدُ الْجَامِعُ) هُوَ الصَّحِيحُ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۱۲ باب العيدين مكتبه حبيبيه/صحيح البخاري ج ۱ ص ۱۳۱ كتاب الصلاة قديمي چاپ/الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۵۰ باب العيدين مكتبه رشيديه/فتاوى محموديه ج ۸ ص ۴۱۵ باب العيدين/فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۱۲۰ باب العيدين/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۱۰)

یوه عیدګا دښار د باندې ده بله د ښار د ننه ده په کومه کښې لمونځ افضل دی ؟

سوال ۳: زموږ په ښار کښې یوه د ننه عیدګاده او بله د ښار څخه د باندې ده په کومه عیدګاه کښې د اختر لمونځ افضل دي؟

جواب: د سنت طریقې موافق د ښار څخه د باندې دا ختر لمونځ کول بهتره دئ او په همدغه کې فضیلت زیات دئ نسبت وهغې عیدګاه ته چې په ښار کښې ده

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :ثُمَّ خُرُوجُهُ.... مَاشِيًا إلَى الْجَبَّانَةِ وَهِيَ الْمُصَلَّى الْعَامُّ....... وَالْخُرُوجُ إلَيْهَا) أَيْ الْجَبَّانَةِ لِصَلَاةِ الْعِيدِ (سُنَّةٌ أي في الصحراء

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۱۸ باب العيدين مكتبه حبيبيه/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷۸ باب دالعيدين مكتبه رشيديه/الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۵۰ باب العيدين مكتبه رشيديه/كفايت المفتي ج ۵ ص ۲۹۰ باب العيدين/فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۱۲۰ باب العيدين/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۱۹۵)

دا ختر د لمانځه په زائد وتکبیراتو کښې لاسونه وتړي که یا؟

سوال۴: دا اختر د لمانځه په زاید تکبیراتو کښې لاسونه ایله وي که تړلی باید څنګه وسی؟

جواب: دا اختر د لمانځه په زیاتو تکبیراتو کښې لاسونه نه تړل کیږي باید ایله وي په ټولو تکبیرو کښې

وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الزَّوَائِدِ وَيَسْكُتُ بَيْنَ كُلِّ تَكْبِيرَتَيْنِ مِقْدَارَ ثَلَاثِ تَسْبِيحَاتٍ، كَذَا فِي التَّبْيِينِ وَبِهِ أَفْتَى مَشَايِخُنَا، كَذَا فِي الْغِيَاثِيَّةِ وَيُرْسِلُ الْيَدَيْنِ بَيْنَ التَّكْبِيرَتَيْنِ وَلَا يَضَعُ هَكَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۵۰ باب العيدين مكتبه رشيديه/غنية المستملي ص ۵۲۵/ردالمحتار ج ۱ ص ۶۱۷ باب العيدين مكتبه حبيبيه/فتاوى ديوبند ج ۵ ص ۲۱۱)

دا ختر دلمانځ زاید تکبیرونه دری دی که شپږ؟

سوال۵: دا اختر په لمانځه کښې زاید تکبیرونه څو دي مونږ خو دری تکبیره وایو او څني خلک وائي شپږ دي دا خبره صحیح ده که یا؟

جواب: د امام ابو حنیفه صاحب رحمه الله تعالی مذهب دادی چې په هر رکعت کښې دری زاید تکبیرونه دي نور نسته او حنفي مذهب شخص به د خپل مذهب موافق پر دری تکبیرات زواید باندی اکتفاء کوي زیات دی نه وائي

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَيُصَلِّي الْإِمَامُ بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ مُثْنِيًا قَبْلَ الزَّوَائِدِ، وَهِيَ ثَلَاثُ تَكْبِيرَاتٍ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ..... فَالْعَمَلُ الْآنَ بِمَا هُوَ الْمَذْهَبُ عِنْدَنَا كَذَا فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ

(ردالمحتارج ۱ ص ۶۱۵ باب العيدين مكتبه حبيبيه/فتاوى ديوبندج ۵ ص ۱۷۵/فتاوى ملاعلي قاري ج ۲ ص ۲۶ باب العيدين مكتبه رشيديه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۵۰ باب العيدين مكتبه رشيديه/محيط البرهاني ج ۲ ص ۲۱۰ باب العيدين مكتبه غفاريه/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۸۱ باب العيدين مكتبه رشيديه)

د کوچني اختر لمونځ د باران په خاطر ونه سو دابله ورځ صحيح دي که يا؟

سوال۶: د کوچني اختر لمونځ په اوله ورځ د باران په وجه ونه سو نو په دابله ورځ يه اداءکول رواه او صحيح دي که يا ؟

جواب: که چيري ديوه عذر په خاطر لکه باران دا اختر په ورځ د اختر لمونځ پاته سي په دابله ورځ يه کول شرعًا درست دي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَتُؤَخَّرُ بِعُذْرٍ) كَمَطَرٍ (إلَى الزَّوَالِ مِنْ الْغَدِ فَقَطْ

(ردالمحتارج ۱ ص ۶۱۲ باب العيدين مكتبه حبيبيه/فتاوى ديوبندج ۵ ص ۲۱۵/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۵۲ باب العيدين مكتبه رشيده/فتاوى تاتارخانيه ج ۲ ص ۶۰۳ باب العيدين/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۸۵ باب العيدين مكتبه رشيديه)

دا اختر د لمانځه خطبه يو ه وويل او لمونځ بل کس ورکوي؟

سوال۷: زموږ په عيدگاه کښې د اختر د لمانځه خطبه يو ه کس وويل او لمونځ بل کس ورکړي ايا دغه لمونځ صحت پيدا کړي دي که يا ؟ د شرعي مبارکې څه فيصله ده؟

جواب: لمونځ دا اختر شرعًا درست او صحيح دئ لېکن افضل او بهتره داده چي لمونځ او خطبه دواړه يو کس ورکړی

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :لَا يَنْبَغِي أَنْ يُصَلِّيَ غَيْرُ الْخَطِيبِ..... فَإِنْ فَعَلَ.... جَازَ) هُوَ الْمُخْتَارُ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۰۸ باب العیدین مکتبه حبیبیه/حاشیة الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۵۰۸ مکتبه رشیدیه/ستاسومسائل اودهغوی حل ج ۴ ص ۱۵۸/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۱۷۵)

ایا ښځي د عیدګاه لمانځه ته تللای سي که یا؟

سوال۸: ښځوته د نارینه ؤو په شان د اختر د لمانځه لپاره عیدګاه ته تلل صحیح دي که یا؟ شرعًا دا کار درست دي که یا؟

جواب: په دغه زمانه کښې د ښځو شریکیدل په جماعت کښې په مسجد یا عیدګاه کښې ممنوع او مکروه دي د صحابه کرامو په زمانه کښې لاددغه کار څخه منع سوی وه اوس خولاڅه کوي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَيُكْرَهُ حُضُورُهُنَّ الْجَمَاعَةَ) وَلَوْ لِجُمُعَةٍ وَعِيدٍ وَوَعْظٍ (مُطْلَقًا) وَلَوْ عَجُوزًا لَيْلًا (عَلَى الْمَذْهَبِ) الْمُفْتَى بِهِ لِفَسَادِ الزَّمَانِ، وَاسْتَثْنَى الْكَمَالُ بَحْثًا الْعَجَائِزَ وَالْمُتَفَانِيَةَ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۴۱۸ باب الجماعة مکتبه حبیبیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷۶ باب الجمعة مکتبه رشیدیه/فقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۳۹۰ مکتبه رشیدیه/الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۵۰ مکتبه رشیدیه/فتاوی ملاعلي قاري ج ۲ ص ۶۰ مکتبه رشیدیه/فتاوی دارلعلوم دیوبند ج ۵ ص ۲۱۵/فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۳۹۳ باب العیدین/فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۴۲۶)

فصل في تکبیرات التشریق

دتشریق تکبیرونه چي پاته سي بیا یې قضایي نسته .

سوال ۱ : که چیري دیو کس څخه دتشریق تکبیرونه (دلوی اختر دپنځو ورځو تکبیرونه) قضا او پاته سي نو بیا یې راګرځول سته که یا ؟

جواب : که چیري د فرض لمانځه داداء کولو څخه وروسته دیو کس څخه دتشریق تکبیرونه قضا سي نو بیا یې بل وخت قضا نسته البته توبه دي وباسي چي الله جل جلاله دغه ګناه ورته معاف کړي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق :وَأَمَّا مَحَلُّ أَدَائِهِ فَدُبُرُ الصَّلَاةِ وَفَوْرُهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَتَخَلَّلَ مَا يَقْطَعُ حُرْمَةَ الصَّلَاةِ

حَتَّى لَوْ ضَحِكَ قَهْقَهَةً أَوْ أَحْدَثَ مُتَعَمِّدًا أَوْ تَكَلَّمَ عَامِدًا أَوْ سَاهِيًا أَوْ خَرَجَ مِنْ الْمَسْجِدِ أَوْ جَاوَزَ الصُّفُوفَ فِي الصَّحْرَاءِ لَا يُكَبِّرُ؛ لِأَنَّ التَّكْبِيرَ مِنْ خَصَائِصِ الصَّلَاةِ حَيْثُ لَا يُؤْتَى بِهِ إلَّا عَقِبَ الصَّلَاةِ فَيُرَاعَى لِإِتْيَانِهِ حُرْمَتَهَا وَهَذِهِ الْعَوَارِضُ تَقْطَعُ حُرْمَتَهَا .

(البحر الرائق ج ۲ ص ۱۶۵ / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۹۶ فصل اما محل ادائه طبع سعید / دقربانۍ مسائل ص ۵۱ / صدر ردالمحتارشرح الدرالمختار ج ۱ ص۶۲۰ مکتبه حبیبیه / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۴۰ باب صلوة العیدین / مراقي الفلاح ص ۵۴۰ رشیدیه)

د ښځو لپاره د تشریق تکبیرونه لازم دي که یا؟

سوال ۲: دلوي اختر د تشریق تکبیرونه د ښځولپاره لازم دی که یا ؟ که فقط د نرو پر ذمه سته؟

جواب: دلوي اختر د تشریق تکبیرونه د امام صاحب په مذهب کښی د ښځو لپاره نسته لازم نه دي او که یه ووائي خو ښه دئ او دیارانو په نزد پر ښځو یه هم ویل واجب دي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار:

وَيَجِبُ تَكْبِيرُ التَّشْرِيقِ...... عَقِبَ كُلِّ فَرْضٍ....... أَدَّى بِجَمَاعَةٍ..... مُسْتَحَبَّةٍ) خَرَجَ جَمَاعَةُ النِّسَاءِ وَالْغُزَاةِ لَا الْعَبِيدِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۲۰ باب العیدین مکتبه حبیبیه /البحرالرائق ج ۲ ص ۲۹۰ باب العیدین مکتبه رشیدیه /حاشیةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۵۴۰ مکتبه رشیدیه /فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۲۳ /فتاوی دیوبند ج ۵ ص ۱۸۶)

باب صلوة الجنازه

فصل في تغسيل الميت وتكفينه

ايا کوچني چي مړ سي ښځه غسل ورکولای سي که يا ؟

سوال ١ : که چيري کوچنی وفات سو ښځه غسل ورکولای سي که يا ؟

جواب : د حنفي فقهي په کتابونو کي راغلي دي چي ښځه کوچني مړه هلک ته غسل ورکولای سي همدا رنگه نر هم و کوچنۍ انجلۍ ته غسل ورکولای سي په دې شرط چي مشتهاة نه وي .

لماقال الامام علاءالدين الكاساني رحمه الله : وَلَوْ مَاتَ الصَّبِيُّ الذي لَا يُشْتَهَى لَا بَأْسَ أَنْ تُغَسِّلَهُ النِّسَاءُ وَكَذَلِكَ الصَّبِيَّةُ التي لَا تُشْتَهَى إذَا مَاتَتْ لَا بَأْسَ أَنْ يُغَسِّلَهَا الرِّجَالُ لِأَنَّ حُكْمَ الْعَوْرَةِ غَيْرُ ثَابِتٍ في حَقِّ الصَّغِيرِ وَالصَّغِيرَةِ

وفي الهندية: وَيُغَسِّلُ الرِّجَالَ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ النِّسَاءَ وَلَا يُغَسِّلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ فَإِنْ كان الْمَيِّتُ صَغِيرًا لَا يُشْتَهَى جَازَ أَنْ يُغَسِّلَهُ النِّسَاءُ وَكَذَا إذَا كانت صَغِيرَةً لَا تُشْتَهَى جَازَ لِلرِّجَالِ غُسْلُهَا

(البدائع الصنائع ٢ ص ٣٦ مكتبه رشيديه / الموسوعة الفقهية ج ١٣ ص ٦٠ مكتبه فاروقيه / الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٦٠ مكتبه رشيديه / الجوهرة النيرة ج ١ ص ٤٠٤ مكتبه شامله)

ښځه خاوند ته او خاوند ښځي ته غسل ورکولای سي که يا؟

سوال ٢ : ښځه مړه خاوند ته او خاوند خپلي مړې ښځي ته غسل ورکولای سي که يا؟ افضله او احسن طريقه يي څنګه ده ؟

جواب : ښځه خپل خاوند ته غسل ورکولای سي او ميړه و خپلي ښځي ته غسل نه سي ورکولای البته کتل يي ورته جايز دي .

لما قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : ويمنع زوجهامن غسلها اومسها لامن النظر اليها على الاصح وهي لاتمنع من ذلك وقال ابن عابدين فى ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَيُمْنَعُ زَوْجُهَا إلَخْ) أَشَارَ إلَى مَا فِي الْبَحْرِ مِنْ أَنَّ مِنْ شَرْطِ الْغَاسِلِ أَنْ يَحِلَّ لَهُ النَّظَرُ

إِلَى الْمَغْسُولِ فَلَا يُغَسِّلُ الرَّجُلُ الْمَرْأَةَ وَبِالْعَكْسِ. اهـ. وَسَيَأْتِي مَا إذَا مَاتَتْ الْمَرْأَةُ بَيْنَ رِجَالٍ أَوْ بِالْعَكْسِ وَالظَّاهِرُ أَنَّ هَذَا شَرْطٌ لِوُجُوبِ الْغُسْلِ أَوْ لِجَوَازِهِ لَا لِصِحَّتِهِ]

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار جلد ۱ ص ۶۳۳ / فتاوای دیوبند جلد۵ص ۲۲۸ / جواهرالاحکام ص ۱۶۹ / البحرالرائق کتاب الصلوة باب الجنائز ج ۲ ص ۳۰۶ رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۴۹۲ باب الجنائز)

ماشوم چي دمور دنس څخه مړ پیداسي غسل غواړي که یا ؟

سوال ۳ : هغه ماشوم چي د مور د نسه څخه مړ پيدا سي د غسل ورکولو او کفن ورکولو او ښخولو طريقه يې څنګه ده؟

جواب: هغه ماشوم چي د مور د نسه څخه مړ تولد سي او پيدا سي، وهغه ته په غسل ورکولو او نوم اېښوولو کښي اختلاف دی.

په هدايه شريفه کښي يې مختار دغه ذکر کړي دي، چي غسل ورکړل سي، او نوم پر کښېښول سي، البته د جنازې لمونځ نه غواړي په يوه سپين ټوکر کښي دي وپېچل سي او په هدېره کښي دي ښخ کړی سي.

وفی الهداية :ومن لم يستهل ادرج فی خرقة کرامة لبنی آدم ولم يصل عليه لمارويناويغسل فی غير ظاهرمن الرواية لانه نفس من وجه وهو المختار ....

(هداية ج ۱ ص ۱۶۴ باب الجنائز / فتح القدير ج ۲ ص ۹۳ / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۵۹ / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۱۹)

ايا مړې ښځې ته دوه قسمه کفن ورکول رواه دی ؟

سوال ۴ : ايا مړي ښځي ته دوه رنګه ټوکر کفن ورکول روا دی چي سپين نه وي يا خوسپين وي خو قريبان يې رنګه خوښوي؟

جواب: في الدر المختار ولا باس في الكفن ببرد وكتان وفي النساء بحرير ومن عفر لجوازه بكل ما يجوز فيه حال الحيٰوة واحبه البياض الخ.

د دغه عبارته څخه معلومېږي چي زيات بهتره او غوره کفن د ښځو لپاره هم سپين دی البته رنګه کفن هم جائز دی که ټوله کفن رنګه وي او که يو څه سپين وي او يو څه رنګه وي .

ولماقال الامام علاء الدين الكاساني الحنفي رحمه الله في بدائع الصنائع : وَالْحَاصِلُ أَنَّ مَا يَجُوزُ لِكُلِّ جِنْسٍ أَنْ يَلْبَسَهُ فِي حَيَاتِهِ يَجُوزُ أَنْ يُكَفَّنَ فِيهِ بَعْدَ مَوْتِهِ حَتَّى يُكْرَهَ أَنْ يُكَفَّنَ الرَّجُلُ فِي الْحَرِيرِ وَالْمُعَصْفَرِ وَالْمُزَعْفَرِ، وَلَا يُكْرَهُ لِلنِّسَاءِ ذَلِكَ اعْتِبَارًا بِاللِّبَاسِ فِي حَالِ الْحَيَاةِ.

(بدائع الصنائع ج ۲ ص ۳۹ مکتبه رشیدیه / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۳۹ مکتبه رشیدیه / موسوعة الفقهية ج ۱۳ ص ۲۳۷ مکتبه حقانیه / امدادالفتاوی ج ۱ ص ۵۶۳ اردو / فتاوی محمودیه ج ۲۲ ص ۲۵۹ اردو)

د غسل ورکولو په وخت کښې د مړي مخ باید کوم طرف ته وي ؟

سوال۵: د غسل ورکولو په وخت کښې د مړي مخ باید کوم طرف ته وي؟

جواب: د غسل په وخت کښې مړی پر تخته اېښودل دوه صورته لري شرعًا

اول: داسې پرې ایستل سي چې پښې یې قبلې ته سي په اوږدو ل سره لکه یو کس چې د مریضی په حالت کښې په اشاره سره لمونځ کوي.

دوهم: مخ یې د قبلې طرف ته سي لکه په قبر کښې چې اېښودل کیږي دواړه صورته روا دي البته افضل یې د غه دوهم صورت دی ځکه حدیث شریف دی چې کعبه شریفه هم د مړو قبلة ده هم د ژوندو او ادب د قبلې په دغه دوهم صورت کښې دی.

لماقال الامام علاء الدين الكاساني الحنفي رحمه الله في بدائع الصنائع : وَيُوضَعُ عَلَى التَّخْتِ؛ لِأَنَّهُ لَا يُمْكِنُ الْغُسْلُ إلَّا بِالْوَضْعِ عَلَيْهِ؛ لِأَنَّهُ لَوْ غُسِّلَ عَلَى الْأَرْضِ لَتَلَطَّخَ، ثُمَّ لَمْ يَذْكُرْ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ كَيْفِيَّةَ وَضْعِ التَّخْتِ أَنَّهُ يُوضَعُ إلَى الْقِبْلَةِ طُولًا أَوْ عَرْضًا، فَمِنْ أَصْحَابِنَا مَنْ اخْتَارَ الْوَضْعَ طُولًا كَمَا يَفْعَلُ فِي مَرَضِهِ إذَا أَرَادَ الصَّلَاةَ بِالْإِيمَاءِ، وَمِنْهُمْ مَنْ اخْتَارَ الْوَضْعَ عَرْضًا كَمَا يُوضَعُ فِي قَبْرِهِ، وَالْأَصَحُّ أَنَّهُ يُوضَعُ كَمَا تَيَسَّرَ؛ لِأَنَّ ذَلِكَ يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْمَوَاضِعِ.

(ردالمحتار ج ص ۶۳۱ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۲۵ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۳۰۰ مکتبه رشیدیه / فتح القدیر ج ۲ ص ۷۰ مکتبه رشیدیه / المبسوط للامام سرخسي ج ۲ ص ۹۱ مکتبه رشیدیه امدادالفتاوی ج ۱ ص ۵۷۱ اردو)

دنر ښځي انسان غسل او کفن څنګه وکړه سي؟

سوال۶: یو کس تقریباً د پنځوسو کلو دی وفات سو هغه نه په ښځو کښي راځي نه په نرو کښي یعني خنثي مشکل دی، هغه ته غسل او کفن شرعاً پر څه طریقه ورکړه سي؟

جواب: داسي کس ته زموږ او ستاسو په ژبه کښي نر ښځي ویل کیږي او په عربي کښي ورته خنثیٰ مشکل وایي د دغه کس د غسل او کفن حکم دا دی چي دې ته غسل باید نه ورکړه سي بلکي تیمم ئې و وهل سي ورته او کفن په پنځو ټکرانو کښي ورته ورکړه سي د ښځي مګر کفن به ئې د وریښمو نه وي او په زعفران به رنګ نه وي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :
وَيُيَمَّمُ الْخُنْثَى الْمُشْكِلُ لَوْ مُرَاهِقًا........ وَخُنْثَى مُشْكِلٌ كَامْرَأَةٍ فِيهِ) أَيْ الْكَفَنِ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۶۳۱ باب صلاة الجنازة مكتبه حبيبيه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۶۰ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/فتاوى رحيميه ج ۷ ص ۵۶/فتاوى عبادالرحمن ج ۲ ص ۳۷۳/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۲۸)

د تازه پیدا سوي مړه ماشوم کفن او ښخول

سوال۷: که یو ماشوم مړ د خپلي موره څخه پیدا سي نو کفن ورکړه سي که یا غسل او د جنازې لمونځ غواړي که یا؟

جواب: که چیري ماشوم مړ د موره پیدا سو که نر وي که ښځه نو نوم دي پر کښېښول سي او غسل دي ورکړه سي او په سپین ټوکر کښي دي وپېچلی سي فقط او ښخ دي کړه سي لمونځ نه غواړي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَإِلَّا) يَسْتَهِلُّ (غُسِّلَ وَسُمِّيَ) عِنْدَ الثَّانِي وَهُوَ الْأَصَحُّ(الدرالمختار)

وفى الهداية) ومن استهل بعد الولادة سمى وغسل وصلي عليه " لقوله صلى الله عليه وسلم " إذا استهل المولود صلي عليه وإن لم يستهل لم يصل عليه

(الهداية ج ١ ص ١٦٤ كتاب الجنائز مكتبه رحمانيه/الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ١ ص ٦٥٥ باب صلاةالجنازة مكتبه حبيبيه/البحرالرائق ج ٢ ص ٣٢٩ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/فتاوى عبادالرحمن ج ٢ ص ٤٨٦/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ٥ ص ٢٨٤)

په خپل ژوند ځان لپاره کفن اوقبر تیارول رواه دي؟

سوال ۸: د خپل ځان لپاره په ژوند کښې کفن او قبر تیارول جائز دي که یا؟ شریعت مطهره څه حکم لري ځني خلک اوس په ژوند کښې د ځان لپاره د قبر او کفن اهتمام کوي؟

جواب: په خپل ژوند کښې د ځان لپاره قبر جوړول یا کفن ایښودل د ځان لپاره کوم مشکل نلري بیله کراهیته جائز دی

وَيَحْفِرُ قَبْرًا لِنَفْسِهِ، وَقِيلَ يُكْرَهُ؛ وَالَّذِي يَنْبَغِي أَنْ لَا يُكْرَهَ تَهْيِئَةُ نَحْوِ الْكَفَنِ بِخِلَافِ الْقَبْرِ......... وَفِي التَّتَارْخَانِيَّة: لَا بَأْسَ بِهِ، وَيُؤْجَرُ عَلَيْهِ، هَكَذَا عَمِلَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَالرَّبِيعُ بْنُ خَيْثَمَ وَغَيْرُهُمَا

(ردالمحتار ج ١ ص ٦٦٧ باب صلاةالجنازة مكتبه حبيبيه/فتاوى عالمگيريه ج ١ ص ١٦٦ كتاب الصلاة مكتبه رشيديه /كفايت المفتي ج ٥ ص ٤٩٤ باب صلاة الجنازة/حاشيةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ٦١٥؛٦١٦ مكتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ٥ ص ٢٣٦)

دنراوښځي لپاره دکفن څوجامې دي شرعاً؟

سوال ۹: د نارینه او ښځینه مړي لپاره څو جامې کفن ورکول سنت دي ایا فرق ئې سته شرعاً که یا؟

جواب: د نارینه مړي لپاره درې جامې د کفن سنت دي لکه، ازار یا لنګ، قمیص او لفافه او د ښځي لپاره پنځه جامې د کفن سنت دي لکه ازار یا لنګ، قمیص، خمار یعني پوړنۍ، او سینه بند لفافه سربېره قمیص بیا خمار بیا ازار بیا سینه بند او په ځیني کتابونو کښې دي چې سینه بند پر قمیص باندي سربېره او تر لفافې لاندي وي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار: تُبْسَطُ اللِّفَافَةُ) أَوَّلًا (ثُمَّ يُبْسَطُ الْإِزَارُ عَلَيْهَا وَيُقَمَّصُ وَيُوضَعُ عَلَى الْإِزَارِ وَيُلَفُّ يَسَارُهُ ثُمَّ

يَمِينُهُ ثُمَّ اللِّفَافَةُ كَذَلِكَ) لِيَكُونَ الْأَيْمَنُ عَلَى الْأَيْسَرِ (وَهِيَ تَلْبَسُ الدِّرْعَ وَيُجْعَلُ شَعْرُهَا ضَفِيرَتَيْنِ عَلَى صَدْرِهَا فَوْقَهُ) أَيْ الدِّرْعِ (وَالْخِمَارُ فَوْقَهُ) أَيْ الشَّعْرِ (تَحْتَ اللِّفَافَةِ

السنة أن يكفن الرجل في ثلاثة أثواب إزار وقميص ولفافة " لما روي " أنه صلى الله عليه وسلم كفن في ثلاثة أثواب بيض سحولية " ولأنه أكثر ما يلبسه عادة في حياته فكذا بعد مماته........ وتكفن المرأة في خمسة أثواب درع وإزار وخمار ولفافة وخرقة تربط فوق ثدييها

(الهداية ج ۱ ص ۱۶۱ فصل في التكفين مكتبه رحمانيه/ردالمحتار ج ۱ ص ۶۳۷؛ ۶۳۸ باب صلاة الجنازة مكتبه حبيبيه/البحرالرائق ج ۲ ص ۳۰۷ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/فتاوى في الفقه الحنفي ج ۲ ص ۱۹۲ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/فتاوى محموديه ج ۸ ص ۵۰۸ باب الجنازة/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۴۰)

دغسل ورکولو لپاره مړی پرتخته څنګه پرېباسي؟

سوال ۱۰: ومړي ته دغسل ورکولو په وخت کي د پر داسي کیږي چي څوک یې سر دمړي وقبلې ته کړي اوپښې یې مغرب ته او څوک یې بیا وشمال یا جنوب ته کړي کومه طریقه په دغه طریقو کي درسته اوصحیح ده شرعاً؟

جواب: دغه دواړي طریقې درستي اوصحیح دي اودواړي دشریعت موافقي دي هره طریقه چي اسانه وي هغه دي اختیاره کړل سي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَيُوضَعُ) كَمَا مَاتَ (كَمَا تَيَسَّرَ) فِي الْأَصَحِّ (عَلَى سَرِيرٍ مُجَمَّرٍ.......... وَقِيلَ يُوضَعُ إلَى الْقِبْلَةِ طُولًا، وَقِيلَ: عَرْضًا كَمَا فِي الْقَبْرِ أَفَادَهُ فِي الْبَحْرِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۲۷ باب صلاة الجنازة مكتبه حبيبيه/فتاوى محموديه ج ۸ ص ۴۸۸ باب صلاة الجنازة/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۵۸ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۱۷۴/فتاوى دارالعلوم ج ۵ ص ۲۳۰)

دکوم مړي پر بدن چي دوژني په وجه زخمونه وي هغه ته به څنګه غسل ورکوي ؟

سوال ۱۱: دکوم مړي په بدن کښې چي دوژلو په وجه زخمونه وي هغه ته غسل ورکول صحیح دی که یا ؟

جواب: که چیري دغه سړی په ظلم سره وژل سوی وي نو دا شهید دی او ده ته غسل نه ورکول کیږي او د جنازې لمونځ یې باید وسي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار: الشَّهِيدِ..... هُوَ كُلُّ مُكَلَّفٍ مُسْلِمٍ طَاهِرٍ........ قُتِلَ ظُلْمًا...... وَلَمْ يَجِبْ بِنَفْسِ الْقَتْلِ مَالٌ........وألي قوله.....ويوصلي عليه بلاغسل ويدفن بدمه وثيابه

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۹ باب الشهيد مكتبه حبيبيه/شرح مختصرالطحاوي ج ۲ ص ۲۰۴ باب الشهيد مكتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم زكريا ج ۲ ص ۶۷۸/فتاوى عبادالرحمن ج ۲ ص ۵۲۸/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۴۱۹)

فصل في الصلوة على الميت

دبې لمانځه او تارک الصلوة شخص د جنازې لمونځ سته که یا؟

سوال ۱: د بې لمانځه شخص او تارک الصلوٰة سړي د جنازې لمونځ باید ورکړه سي، او که د زجر لپاره ورنه کړه سي؟

جواب: بې لمانځه او تارک الصلوة کس چي زیات وخت لمونځونه نه کوي د هغه د جنازې لمونځ پر عامو مسلمانانو فرض دی یعني فرض کفائي دی بې له لمانځه د جنازې یې ښخول حرام کار دی د زجر او عبرت او پند ورکولو لپاره دومره کار کفایت کوي چي د کلي او محلې او جامع مسجد امام دي لمونځ نه ورکوي نور کسان دي لمونځ ورکړي او که یې نه ورکړي ټول ه ګناهګاره دي والله اعلم.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَهِيَ فَرْضٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ مَاتَ خَلَا) أَرْبَعَةٍ (بُغَاةٍ، وَقُطَّاعِ طَرِيقٍ) فَلَا يُغَسَّلُوا، وَلَا يُصَلَّى عَلَيْهِمْ (إذَا قُتِلُوا فِي الْحَرْبِ) وَلَوْ بَعْدَهُ صَلَّى عَلَيْهِمْ لِأَنَّهُ حَدٌّ أَوْ قِصَاصٌ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۲۶۴ مكتبه رشيديه / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۴۷ مكتبه رشيديه / سنن ابي داؤد ج ۱ ص ۳۴۳ قديمي / حاشية الطحطاوي ص ۵۸۰ مكتبه رشيديه / بذل المجهود ج ۱۲ ص ۱۴ ــــ ۱۵ قديمي / فتاوى محموديه ج ۸ ص ۶۱۳ اردو / كفايت المفتي ج ۵ ص ۴۰۶ اردو / خيرالفتاوى ج ۳ ص ۲۶۴ اردو)

شراب خوره ته دجنازې لمونځ سته که یا؟

سوال ۲: یو کس شراب خوري دغه شراب خور که چیري د نشې په حالت کښې مړ سي آیا د هغه ایمان پر ځای پاته دی که ځیني ولاړی؟ آیا داسي کس ته د جنازې لمونځ ورکول روا دی؟

جواب: که چیري یو کس د شرابو په نشه کښې مړ سي په دغه مرګ سره یې ایمان نه زائلیږي ایمان فقط په کفر سره زائلیږي او دغه فعل کفر نه دی بلکه معصیت او ګناه کبیره ده، نو دغه کس مسلمان دی شرعًا د جنازې لمونځ دي ورکړه سي، البته د زجر او ذلت اورسوائي لپاره دي عالم مقتدا، د جامع مسجد امام د ده د جنازې لمونځ نه ورکوي بلکه عام مسلمانان دي د ده د جنازې لمونځ اداء کړي او ښخ دي کړي او که بې له لمانځه د جنازې ښخ کړل سو ټول ګناهګاره دي.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَهِيَ فَرْضٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ مَاتَ خَلَا) أَرْبَعَةٍ (بُغَاةٍ، وَقُطَّاعِ طَرِيقٍ) فَلَا يُغَسَّلُوا، وَلَا يُصَلَّى عَلَيْهِمْ (إذَا قُتِلُوا فِي الْحَرْبِ) وَلَوْ بَعْدَهُ صَلَّى عَلَيْهِمْ لِأَنَّهُ حَدٌّ أَوْ قِصَاصٌ

(الدرالمختار مع ردالمحتارج ۱ ص ۶۴۲ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۴۷ مکتبه رشیدیه / سنن ابي داؤدج ۱ ص ۳۴۳ قدیمي / حاشیة الطحطاوي ص ۵۸۰ مکتبه رشیدیه / بذل المجهودج ۱۲ ص ۱۴ــــ ۱۵ قدیمي / فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۶۱۳ اردو / کفایت المفتي ج ۵ ص ۴۰۶ اردو / خیرالفتاوی ج ۳ ص ۲۶۴ اردو)

دجنازې دلمانځه وروسته اجتماعي دعاء څنګه ده ؟

سوال ۳: د جنازې د لمانځه څخه وروسته خلک سره راټولیږي او بیا په اجتماعي شکل سره دعا کوي پوښتنه اوس داده چي دغه کار په مقدس شریعت کي جواز لري که یا ؟

جواب: دجنازې دلمانځه څخه وروسته لاس پورته کول او بیا دعا کول ثبوت نه لري زموږ داحنافو په کتابونو کي ددې کار څخه منع راغلې ده او بله خبره داده چي دجنازې لمونځ خپله دعا ده نو ځکه بلي دعا ته ضرورت هم نسته.

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : وَقُيِّدَ بِقَوْلِهِ بَعْدَ الثَّالِثَةِ؛

لِأَنَّهُ لَا يَدْعُو بَعْدَ التَّسْلِيمِ كَمَا فِي الْخُلَاصَةِ وَعَنْ الْفَضْلِيِّ لَا بَأْسَ بِهِ، وَمَنْ لَا يُحْسِنُ الدُّعَاءَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ كَذَا فِي الْمُجْتَبَى، وَلَمْ يُبَيِّنْ الْمَدْعُوَّ لَهُ؛ لِأَنَّهُ يَدْعُو لِنَفْسِهِ أَوَّلًا؛ لِأَنَّ دُعَاءَ الْمَغْفُورِ لَهُ أَقْرَبُ إلَى الْإِجَابَةِ ثُمَّ يَدْعُو لِلْمَيِّتِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ؛ لِأَنَّهُ الْمَقْصِدُ مِنْهَا

(البحرالرائق ج ۲ ص ۳۲۱ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۲۵ مکتبه رشیدیه / مرقاة المفاتیح ج ۴ ص ۱۴۹ مکتبه حبیبیه / بزازیة علي هامش الهندیة ج ۴ ص ۸۰ مکتبه رشیدیه / فتاوی اللکهنوي ص ۵۰۵ مکتبه حبیبیه / کفایت المفتي ج ۵ ص ۴۴۵ اردو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۷۰ پښتو)

که درې یا څلور جنازې سره یوځای سي لمونځ به یې څنګه وي ؟

سوال ۴: که درې یا څلور جنازې سره یو ځای سي، نو د ټولو لپاره یو واري لمونځ کافي دی که هري یوې ته جلا جلا لمونځ ورکړه سي؟

جواب: د امام صاحب رحمة الله علیه مذهب دا دی چي پر هرې جنازې جلا جلا لمونځ کول ښه او غوره طریقه ده او که په یوه وارې ټولو ته یو لمونځ ورکړی هم روا او درست دی، در مختار کښې لیکلي دي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وان جمع جاز) اى بان صلى على الكل صلوة واحدة . وفى الفتاوى الهندية : وَلَوْ اجْتَمَعَتْ الْجَنَائِزُ يُخَيَّرُ الْإِمَامُ إنْ شَاءَ صَلَّى عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ عَلَى حِدَةٍ وَإِنْ شَاءَ صَلَّى عَلَى الْكُلِّ دُفْعَةً بِالنِّيَّةِ عَلَى الْجَمِيعِ، كَذَا فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ. وَهُوَ فِي كَيْفِيَّةِ وَضْعِهِمْ بِالْخِيَارِ إنْ شَاءَ وَضَعَهُمْ بِالطُّولِ سَطْرًا وَاحِدًا وَيَقِفُ عِنْدَ أَفْضَلِهِمْ وَإِنْ شَاءَ وَضَعَهُمْ وَاحِدًا وَرَاءَ وَاحِدٍ إلَى جِهَةِ الْقِبْلَةِ، وَتَرْتِيبُهُمْ بِالنِّسْبَةِ إلَى الْإِمَامِ كَتَرْتِيبِهِمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَلْفَهُ حَالَةَ الْحَيَاةِ فَيُقَرَّبُ مِنْهُ الْأَفْضَلُ فَالْأَفْضَلُ فَيُصَفُّ الرِّجَالُ إلَى جِهَةِ الْإِمَامِ ثُمَّ الصِّبْيَانُ ثُمَّ الْخَنَاثَى ثُمَّ النِّسَاءُ ثُمَّ الْمُرَاهِقَاتُ وَلَوْ كَانَ الْكُلُّ رِجَالًا رَوَى الْحَسَنُ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – يُوضَعُ أَفْضَلُهُمْ وَأَسَنُّهُمْ مِمَّا يَلِي الْإِمَامَ وَلَوْ اجْتَمَعَ حُرٌّ وَعَبْدٌ فَالْمَشْهُورُ تَقْدِيمُ الْحُرِّ عَلَى كُلِّ حَالٍ، كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۶۴۸ / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۶۵ الفصل الخامس في الصلوة علي المیت / خلاصم الفتاوی ج ۱ ص ۲۲۴ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۶۱)

دجنازې په لمانځه کښي ښځې شرکت کولای سي که یا ؟

سوال۵: د جنازې په لمانځه کښي ښځې هم شرکت کولای سي که یا؟

جواب: د جنازې لمونځ فرض کفایي دی باید نارینه په دې لمانځه کښي شرکت وکړي نه ښځې لیکن که چیري د آخري صف تر شا ودرېږي، نو کتاب وایې چي لمونځ یې صحیح دی .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :(قَوْلُهُ وَيُكْرَهُ تَحْرِيمًا) صَرَّحَ بِهِ فِي الْفَتْحِ وَالْبَحْرِ (قَوْلُهُ وَلَوْ فِي التَّرَاوِيحِ) أَفَادَ أَنَّ الْكَرَاهَةَ فِي كُلِّ مَا تُشْرَعُ فِيهِ جَمَاعَةُ الرِّجَالِ فَرْضًا أَوْ نَفْلًا (قَوْلُهُ لِأَنَّهَا لَمْ تُشْرَعْ مُكَرَّرَةً إلَخْ) قَالَ فِي الْفَتْحِ وَاعْلَمْ أَنَّ جَمَاعَتَهُنَّ لَا تُكْرَهُ فِي صَلَاةِ الْجِنَازَةِ لِأَنَّهَا فَرِيضَةٌ وَتَرْكُ التَّقَدُّمِ مَكْرُوهٌ فَدَارَ الْأَمْرُ بَيْنَ فِعْلِ الْمَكْرُوهِ لِفِعْلِ الْفَرْضِ أَوْ تَرْكِ الْفَرْضِ لِتَرْكِهِ فَوَجَبَ الْأَوَّلُ، بِخِلَافِ جَمَاعَتِهِنَّ فِي غَيْرِهَا.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۱ ص ۴۱۸ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۵۷ / فتاوی دیوبند ج ۵ ص ۳۳۰ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۳ ص ۱۶۸ اردو)

دمړه سړي یو اندام پیدا سو ایا دجنازې لمونځ ورکړه سي ؟

سوال۶: که یو سړی پرېکړی او ټوک ټوک مړ سي صرف یې یو اندام یې پیدا سي، نو هغه ته دي د جنازې لمونځ ورکړل سي که یا؟

جواب: که چیري د دغه کس د بدن تر نیمي حصې کمه حصه پاته وه نو نه د هغه لپاره غسل سته او نه جنازه سته .

وفى الفتاوى الهندية : وْ لوُجِدَ أَكْثَرُ الْبَدَنِ أَوْ نِصْفُهُ مَعَ الرَّأْسِ يُغَسَّلُ وَيُكَفَّنُ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ، كَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ، وَإِذَا صُلِّيَ عَلَى الْأَكْثَرِ لَمْ يُصَلَّ عَلَى الْبَاقِي إذَا وُجِدَ، كَذَا فِي الْإِيضَاحِ.وَإِنْ وُجِدَ نِصْفُهُ مِنْ غَيْرِ الرَّأْسِ أَوْ وُجِدَ نِصْفُهُ مَشْقُوقًا طُولًا فَإِنَّهُ لَا يُغَسَّلُ وَلَا يُصَلَّى عَلَيْهِ وَيُلَفُّ فِي خِرْقَةٍ وَيُدْفَنُ فِيهَا، كَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ص ۱۵۹ الفصل الثاني في الغسل / بدائع الصنائع ج ۲ص ۲۹ / فتاوی حقانیه ج ۳ص ۱۶۱ / ردالمحتار علي هامش الدرالمختار ج ۱ص ۶۳۴)

دنبي كريم صلي الله عليه وسلم جنازه چاوكړه؟

سوال۷: د نبي كريم د جنازې لمونځ آداءسو كه يا او كه اداءسوى وي نو چا وركړى؟

جواب: حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه په نشر الطيب كتاب كښې ليكلي دي چي په ابن ماجة شريف كي د ابن عباس څخه نقل دي كله چي د رسول الله جنازه تياره سوه په حجره شريفه كي كښېښودل سوه اول وار نارينه وو بلكه مشرانو صحابه كرامو رضي الله عنهم په ټولۍ ټولۍ سره لمونځ وركړى ، بيا ښځو په ټولۍ ټولۍ سره بيا ماشومانو او امامت يي چانه دى كړى.

علامه سهيلي رحمة الله عليه په روض الانف كي ليكلي دي چي دا د رسول الله خصوصيت وو بلكه د عبد الله ابن مسعود رضى الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله د دغه امر وصيت كړى وو چي اوله به ملائكي راځي بيا به د اهل بيتو نارينه وي

وفى سيرة ابن هشام : فَلَمَّا فُرِغَ مِنْ جَهَازِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ، وُضِعَ فِي سَرِيرِهِ فِي بَيْتِهِ، وَقَدْ كَانَ الْمُسْلِمُونَ اخْتَلَفُوا فِي دَفْنِهِ. فَقَالَ قَائِلٌ: نَدْفِنُهُ فِي مَسْجِدِهِ وَقَالَ قَائِلٌ: بَلْ نَدْفِنُهُ مَعَ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: إنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَا قُبِضَ نَبِيٌّ إلَّا دُفِنَ حَيْثُ يُقْبَضُ، فَرُفِعَ فِرَاشُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي تُوُفِّيَ عَلَيْهِ، فَحُفِرَ لَهُ تَحْتَهُ، ثُمَّ دَخَلَ النَّاسُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلُّونَ عَلَيْهِ أَرْسَالًا ، دَخَلَ الرِّجَالُ، حَتَّى إذَا فَرَغُوا أُدْخِلَ النِّسَاءُ، حَتَّى إذَا فَرَغَ النِّسَاءُ أُدْخِلَ الصِّبْيَانُ. وَلَمْ يَؤُمَّ النَّاسَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَدٌ.

(الرحيق المختوم ص ۶۸۱ / سيرة ابن هشام ص ۸۱۹ مكتبه سعيديه پيشاور / سيرة ابن هشام ج ۲ ص ۶۶۳ بيروت چاپ)

دجنازې لمونځ په چپلو كښې اداء كول.

سوال۸: ځيني كسان موږ وينو چي د جنازې لمونځ په چپلو كي كوي يعني څپلۍ يې په پښه وي پوښتنه دا ده چي د جنازې لمونځ په چپلو كي روا يښت او جواز لري كه يا؟

جواب: د جنازې لمونځ په چمپلو کې اداء کول روا دي په دغه شرط سره چې چمپل او ځپلۍ به د لاندې او سربېره څخه پاکې وي او لاندې مځکه به هم پاکه وي، او که یې چیرې ځپلۍ وکښلې سربېره باندې و دریږي، نو بیا د هغه حصې پاکوالی شرط دی کومه حصه چې د ده د پښو سره متصله لګېدلې وي لاندې حصه د ځپلۍ او د مځکې پاکوالی شرط نه دی.

وفي الفتاوى الهندية : وَلَوْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ وَقَامَ عَلَيْهِمَا جَازَ سَوَاءٌ كَانَ مَا يَلِي الْأَرْضَ مِنْهُ نَجِسًا أَوْ طَاهِرًا إذَا كَانَ مَا يَلِي الْقَدَمَ طَاهِرًا وَالْآجُرُّ إذَا كَانَ أَحَدُ وَجْهَيْهِمَا نَجِسًا فَقَامَ عَلَى الْوَجْهِ الطَّاهِرِ وَصَلَّى جَازَ مَفْرُوشَةً كَانَتْ أَوْ مَوْضُوعَةً. هَكَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۶۲ / البحرالرائق ج ۲ ص ۳۱۵ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۸۱ / فتاوی رحیمیه ج ۲ ص ۶ / فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۵۸۱)

مسبوق به دجنازې لمونځ څنګه اداء کوي ؟

سوال ۹: یو کس د امام سره په داسې حال کښې د جنازې په لمانځه کښې شریک سو چې یو یا دوه تکبیره ځیني تیر سوي دي او س امام سلام وګرځوی دغه مسبوق سړی به خپل پاته تکبیرونه چې د امام سره یې نه وه نیولي څنګه اداء کوي ؟

جواب : داسې شخص چې د امام سره په داسې حال کښې شریک سو چې امام دریم تکبیر وو ایه او دده څخه دوه تکبیرونه تیر سوي دي نو دي دریم تکبیر وو ایي د امام سره دي شریک سي او ددغه دریم تکبیر وروسته دي د مړي دعاء وو ایي که یې په یاد وه که نه وه نو دي اللهم ربنا وو ایي . تر څلورم تکبیر وروسته چې کله امام لمونځ پوره کړي او سلام یې وګرځوی نو دی دي سلام نه ګرځوي بلکې یو تکبیر دي یوازې په انفرادي حالت کښې وو ایي سبحانک اللهم دي وو ایي او بیا دي دوهم تکبیر وو ایي درود شریف دي وو ایي لمونځ دي ختم کړي . او که چیرې د جنازې دژر پورته کولو بیره وه نو دي فقط په دوو تکبیرونو سره خپل لمونځ ختم کړي سبحان او درود دي نه وو ایي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتا

(وَالْمَسْبُوقُ) بِبَعْضِ التَّكْبِيرَاتِ لَا يُكَبِّرُ فِي الْحَالِ بَلْ (يَنْتَظِرُ) تَكْبِيرَ (الْإِمَامِ لِيُكَبِّرَ مَعَهُ)

لِلِافْتِتَاحِ لِمَا مَرَّ أَنَّ كُلَّ تَكْبِيرَةٍ كَرَكْعَةٍ، وَالْمَسْبُوقُ لَا يَبْدَأُ بِمَا فَاتَهُ........ ثُمَّ يُكَبِّرَانِ مَا فَاتَهُمَا بَعْدَ الْفَرَاغِ نَسَقًا بِلَا دُعَاءٍ إنْ خَشِيَا رَفْعَ الْمَيِّتِ عَلَى الْأَعْنَاقِ.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۲۱۶ / ۲۱۷ / وكذافي الفتاوى العالمگيرية كتاب الصلوة الباب الحادى والعشرون في صلوة الجنازة / الفصل الخامس في الصلاة علي الميت ج ۱ ص ۱۶۴ / ۱۶۵ / رشيديه / البحرالرائق كتاب الصلوة باب الجنائز ج ۲ ص ۳۲۴ / ۳۲۵ / رشيديه/ فتاوى محموديه ج ۸ ص ۵۹۴ باب الجنائز)

دجنازې لمونځ پرحاضرينو خلگو باندې فرض عين دی که فرض کفايي ؟

سوال ۱۰ : دجنازې لمونځ خو فرض کفايي دی اوس که چيرې يو څوک ورته حاضر سي نو پرهغه باندې فرض عين گرځي داخبره صحيح ده که يا ؟ .ځکه چې يو عالم صاحب فرمايلي دي چې فرض عين گرځي حقيقت حال څنگه دی دفقهاوو په نزد ؟ .

جواب : حضرت مولانا مفتي محمود حسن رحمة الله عليه مفتي دارالعلوم ديوبند ددغه سوال په جواب کښې ليکلي دي : چې دفقهې شريفې دکتابونود عبارتونو څخه بالکل صاف او ښکاره دا خبره ظاهره ده چې دجنازې لمونځ پر موجوده او حاضرينو خلگو باندې فرض کفايي دی . البته په هغه صورت کښې فرض عين گرځي چې فقط يو کس ورته پاته سي نور څوک نه وي نو پر دغه يوه کس باندې فرض عين گرځي . په معتبروکتابونو ، او متونو ، او شروحو ، او فتاواوو کښې يو ځای هم دفرض عين کېدو خبره نه دراغلې نو کوم چا چې دا دفرض عين خبره کړې وي دهغه څخه دي دليل هم وپوښتل سي .

وفى الطحطاوى شرح مراقى الفلاح : الصلاة عليه ككفنه ودفنه وتجهيزه "فرض كفاية" مع عدم الانفراد بالخطاب بها ولو امرأة . وفى الطحطاوى : فلو انفرد واحد بأن لم يحضره إلا هو تعين عليه تكفينه ودفنه كما في الضياء والشمني والبرهان .

وفى الدرالمختار : (وَالصَّلَاةُ عَلَيْهِ) صِفَتُهَا (فَرْضُ كِفَايَةٍ) بِالْإِجْمَاعِ فَيَكْفُرُ مُنْكِرُهَا لِأَنَّهُ أَنْكَرَ الْإِجْمَاعَ قُنْيَةٌ (كَدَفْنِهِ) وَغُسْلِهِ وَتَجْهِيزِهِ فَإِنَّهَا فَرْضُ كِفَايَةٍ.

وفى بدائع الصنائع : وَالْإِجْمَاعُ مُنْعَقِدٌ عَلَى فَرْضِيَّتِهَا أَيْضًا إلَّا أَنَّهَا فَرْضُ كِفَايَةٍ إذَا قَامَ بِهِ الْبَعْضُ يَسْقُطُ عَنْ الْبَاقِينَ؛ لِأَنَّ مَا هُوَ الْفَرْضُ، وَهُوَ قَضَاءُ حَقِّ الْمَيِّتِ يَحْصُلُ بِالْبَعْضِ، وَلَا

يُمْكِنُ إيجَابُهَا عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْ آحَادِ النَّاسِ فَصَارَ بِمَنْزِلَةِ الْجِهَادِ، لَكِنْ لَا يَسَعُ الِاجْتِمَاعُ عَلَى تَرْكِهَا كَالْجِهَادِ.

وفی المبسوط للسرخسی : وَالصَّلَاةُ عَلَى الْجِنَازَةِ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ تَسْقُطُ بِأَدَاءِ الْوَاحِدِ إذَا كَانَ هُوَ الْوَلِيُّ وَلَيْسَ لِلْقَوْمِ أَنْ يُعِيدُوا بَعْدَ ذَلِكَ.وَلَوْ أَنَّ جِنَازَةً تَشَاجَرَ فِيهَا قَوْمٌ أَيُّهُمْ يُصَلِّي عَلَيْهَا فَوَثَبَ رَجُلٌ غَرِيبٌ فَصَلَّى عَلَيْهَا وَصَلَّى مَعَهُ بَعْضُ الْقَوْمِ فَصَلَاتُهُمْ تَامَّةٌ، وَإِنْ أَحَبَّ الْأَوْلِيَاءُ أَعَادُوا الصَّلَاةَ؛ لِأَنَّ حَقَّ الصَّلَاةِ عَلَى الْجِنَازَةِ لِلْأَوْلِيَاءِ فَلَا يَكُونُ لِغَيْرِهِمْ أَنْ يُبْطِلَ حَقَّهُمْ وَهُمْ بِمَنْزِلَةِ مَا لَوْ صَلَّى غَيْرُ أَهْلِ الْمَسْجِدِ الْمَكْتُوبَةَ بِالْجَمَاعَةِ فِي الْمَسْجِدِ كَانَ لِأَهْلِ الْمَسْجِدِ حَقُّ الْإِعَادَةِ بِخِلَافِ مَا إذَا صَلَّى فِيهِ أَهْلُ الْمَسْجِدِ فَإِنَّهُ لَيْسَ لِغَيْرِهِمْ حَقُّ الْإِعَادَةِ بَعْدَ ذَلِكَ، فَإِنْ كَانَ حِينَ افْتَتَحَ الرَّجُلُ الْغَرِيبُ صَلَاةَ الْجِنَازَةِ اقْتَدَى بِهِ بَعْضُ الْأَوْلِيَاءِ فَلَيْسَ لِمَنْ بَقِيَ مِنْهُمْ حَقُّ الْإِعَادَةِ؛ لِأَنَّ الَّذِي اقْتَدَى بِهِ رَضِيَ بِإِمَامَتِهِ فَكَأَنَّهُ قَدَّمَهُ وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْ الْأَوْلِيَاءِ حَقُّ الصَّلَاةِ عَلَى الْجِنَازَةِ كَأَنَّهُ لَيْسَ مَعَهُ غَيْرُهُ؛ لِأَنَّ وِلَايَتَهُ مُتَكَامِلَةٌ فَإِذَا سَقَطَ بِأَدَاءِ أَحَدِهِمْ لَمْ يَكُنْ لِلْبَاقِينَ حَقُّ الْإِعَادَةِ.

وفی تبیین الحقائق شرح کنزالدقائق : (وَهِيَ فَرْضُ كِفَايَةٍ) أَيْ الصَّلَاةُ عَلَيْهِ لِقَوْلِهِ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - «صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ» وَالْأَمْرُ لِلْوُجُوبِ، وَلَوْ كَانَتْ فَرْضَ عَيْنٍ لَصَلَّى عَلَيْهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -؛ وَلِأَنَّ الْمَقْصُودَ يَحْصُلُ بِإِقَامَةِ الْبَعْضِ فَتَكُونُ فَرْضَ كِفَايَةٍ، وَكَذَا تَكْفِينُهُ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ، وَلِهَذَا يُقَدَّمُ عَلَى الدَّيْنِ الْوَاجِبِ عَلَيْهِ، وَيَجِبُ عَلَى مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ نَفَقَتُهُ، وَكَذَا غُسْلُهُ وَدَفْنُهُ فَرْضٌ عَلَى الْكِفَايَةِ.

(الدرالمختار کتاب الصلوة باب الجنائز ج ۲ ص ۲۰۷ قدیمي کتب خانه / بدائع الصنائع کتاب الصلوة فصل : والکلام في الجنازة ج ۲ ص ۳۶ رشیدیه / حاشیة الطحطاوی علي مراقي الفلاح ج ۱ ص ۵۸۱ بیروت چاپ / کتاب المبسوط للسرخسي کتاب الصلوة باب صلوة الجنازة ج ۲ ص ۱۷۹ مکتبه غفاریه کوئٹه / تبیین الحقائق شرح کنزالدقائق ج ۱ ص ۵۷۱ بیروت / فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۵۴۵ باب الجنائز)

دجنازې دلمانځه سلام آهسته ویل پکار دی که په زوره ؟

سوال ۱۱: د جنازې د لمانځه سلام اهسته ویل افضل دی که په زوره ؟ .

جواب: د جنازې د لمانځه د سلام په باره کې د فقهاؤ او کتابونو درې قوله راغلي دي (۱) دواړه سلامه باید اهسته وویل سي (۲) یو سلام په زوره بل باید اهسته وي (۳) دواړه سلامه دې په زوره او جهرا وویل سي، اول صورت في نفسه افضل دی مګر عام تعامل پر دریم صورت راغلی دی یعني دواړه په زوره ویل په اول صورت کې یعني دواړه سلامه اهسته ویل کله کله د عوامو په مابین کې د فتنې او انتشار سبب جوړیږي لهذا افضله او بهتره دا ده چې دواړه سلامه په زوره او جهرًا اداء سي .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وَلَا يَجْهَرُ بِمَا يَقْرَأُ عَقِبَ كُلِّ تَكْبِيرَةٍ لِأَنَّهُ ذِكْرٌ، وَالسُّنَّةُ فِيهِ الْمُخَافَتَةُ، وَهَلْ يَرْفَعُ صَوْتَهُ بِالتَّسْلِيمِ؛ لَمْ يَتَعَرَّضْ لَهُ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ. وَذَكَرَ الْحَسَنُ بْنُ زِيَادٍ أَنَّهُ لَا يَرْفَعُ لِأَنَّهُ لِلْإِعْلَامِ، وَلَا حَاجَةَ لَهُ لِأَنَّ التَّسْلِيمَ مَشْرُوعٌ عَقِبَ التَّكْبِيرِ بِلَا فَصْلٍ وَلَكِنْ الْعَمَلُ فِي زَمَانِنَا عَلَى خِلَافِهِ. اهـ.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۴ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۵۱ مکتبه رشیدیه / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۱۹۵ اردو)

ایا د یو مړه او وفات سوي شخص غائبانه د جنازې لمونځ روا دی شرعًا که یا؟

سوال ۱۲: ایا د یو مړه او وفات سوي شخص غائبانه د جنازې لمونځ روا دی شرعًا که یا؟ مثلا په سعودي عرب کښې یو کس مړ سو قریبان یې دلته په افغانستان کښې د جنازې لمونځ اداء کوي غائبانه؟

جواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی په مذهب کښې و مړي ته د غائبانه جنازې لمونځ ورکول روا ایښت نه لري، تر څه وخته چې مړی د جنازې د اداء کونکو په مخ او حضور کښې پروت نه وي تر هغه وخته لمونځ ورکول نه دی روا .

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : وَهُوَ وَضْعُهُ أَمَامَ الْمُصَلَّى فَلَا تَجُوزُ عَلَى غَائِبٍ وَلَا عَلَى حَاضِرٍ مَحْمُولٍ عَلَى دَابَّةٍ أَوْ غَيْرِهَا، وَلَا مَوْضُوعٍ مُتَقَدِّمٌ عَلَيْهِ الْمُصَلِّي؛ لِأَنَّهُ كَالْإِمَامِ مِنْ وَجْهٍ دُونَ وَجْهٍ لِصِحَّةِ الصَّلَاةِ عَلَى الصَّبِيِّ وَأَمَّا صَلَاتُهُ عَلَى

النَّجَاشِيِّ فَإِمَّا؛ لِأَنَّهُ رُفِعَ لَهُ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – سَرِيرُهُ حَتَّى رَآهُ بِحَضْرَتِهِ فَتَكُونُ صَلَاةُ مَنْ خَلْفَهُ عَلَى مَيِّتٍ يَرَاهُ الْإِمَامُ

(البحرالرائق ج ۲ ص ۳۱۴ مکتبه رشیدیه / الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۱ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۶۴ مکتبه رشیدیه / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۵۳۲ مکتبه حبیبیه / کبیري ص ۳۹ــ ۴۰ / فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۶۶۷اردو / امدادالاحکام ج ۱ ص ۸۳۴ اردو / اپ کي مسائل ج ۴ ص ۳۹۵ اردو)

دجنازې لمونځ دهديرې په مابينځ کښې مکرودی؟

سوال ۱۳: دجنازې لمونځ په هديره او قبرستان کښې څنګه دی رودی که يا؟

جواب: بېله کوم عذره دقبرو په مابينځ کښې لمونځ مکرودی البته که مجبوري وي بيانه دی مکروه

وفي البدائع وغيرها قال أبو حنيفة لا ينبغي أن يصلي على ميت بين القبور وكان علي وابن عباس يكرهان ذلك وإن صلوا أجزأهم...... ثم محل الكراهة إذا لم يكن عذر فإن كان فلا كراهة اتفاقا

(حاشیةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۴۷ باب احکام الجنائز مکتبه رشیدیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۳۴۱ باب صلاةالجنازة مکتبه رشیدیه/ردالمحتار ج ۱ ص ۲۷۹ مکتبه حبیبیه/فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۳۸/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۳۲۷)

دمړه کس لاښ وشوړيږي ياسره توی سي؟

سوال ۱۴: ديو مړه کس لاښ او بدن چي وشوړيږي يا سره توی سي دوخت دتېرېدو دوجي دداسي کس دجنازې لمونځ درست دی که يا؟ يعني لمونځ بايد ورکړه سي که يا؟

جواب: داسي مړی چي بدن ئې وشوړيږي او سره توی سي دجنازې لمونځ نه غواړي بېله لمانځه دجنازې دي ښخ کړی سي په بحرالرايق کتاب کښې راغلي دي

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق : لَا يُصَلَّى عَلَيْهِ بَعْدَ التَّفَسُّخِ؛ لِأَنَّ الصَّلَاةَ شُرِعَتْ عَلَى بَدَنِ الْمَيِّتِ فَإِذَا تَفَسَّخَ لَمْ يَبْقَ بَدَنُهُ قَائِمًا

(البحرالرائق ج ۲ ص ۱۸۲ کتاب الجنائز مکتبه رشیدیه/فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۳۷/خیرالفتاوی ج ۳ ص ۱۴۸)

دجنازې لمونځ په ناسته کول څنګه ده؟

سوال ۱۵: که چیرې د مړه ولي او قریب یاد محلې امام نیک متقي او د شریعت پابنده وي لیکن هغه مریض او کمزوری وي که چیرې هغه د دغه عذر او مریضۍ د وجې په ناسته لمونځ د جنازې ورکړي آیا صحت لري په شریعت کښې که یا؟

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چې په دغه ذکرسوي صورت کښې د جنازې لمونځ درست دی شرعا کوم حرج نه لري . والله اعلم بالصواب

وفي الفتاوى الهندية إذَا صَلَّى الْمَرِيضُ عَلَى جِنَازَةٍ قَاعِدًا وَهُوَ وَلِيُّهَا وَالْقَوْمُ خَلْفَهُ قِيَامٌ جَازَ

(الفتاوى الهندية :ج ۱ ص ۱۶۴ الباب الخامس في الصلاة عل الميت مكتبه رشيديه/فتاوى قاضي خان ج ۱ ص ۹۳ مكتبه رشيديه/خلاصةالفتاوى ج ۱ ص ۲۲۴ باب صلاةالجنازة مكتبه رشيديه/فتاوى رحيميه ج ۷ ص ۴۳)

دجنازې په لمانځه کښې ترڅلورم تکبیروروسته لاسونه بایدایله سي که ونیول سي؟

سوال ۱۶: د جنازې په لمانځه کښې تر څلورم تکبیر وروسته د سلام ګرځولو په وخت کښې امام او مقتدیان لاسونه تړلي ونیسي او که ایله کړي؟

جواب: دواړه صورتونه رواه دي امام طاهربن احمد البخاری السرخسي په خلاصته الفتاوی کښې لیکلي دي چې د جنازې په لمانځه کښې تر څلورم تکبیر وروسته لاسونه نه تړل کیږي بلکې ایله دې کړي ځکه چې تر څلورم تکبیر وروسته کوم ذکر چې لاسونه دې ایله کړي دواړه طرف ته دې سلام وګرځوي او مولانا عبدالحي لکنهوي صاحب رحمه الله تعالی هم دغه صورت خوښوي لیکن حضرت مولانا مفتي عزیزالرحمن عثاني مفتي اعظم دارالعلوم دیوبند بیا فرمایي چې لاسونه دې تړلي وي سلام دې وګرځاوه سي ځکه چې سلام خپله ذکر دی لهذا تر څلورم تکبیر وروسته هم ذکر سته چې هغه خپله سلام دی لهذا دواړه صورتونه درست او صحیح دي

ولايقعدبعدالتكبيرالرابع لانه لايبقى ذكرمسنون حتى يقعدفا لصحيح انه يحل اليدين ثم يسلم تسلمتين هكذافى الذخيرة

(خلاصةالفتاوی ج ۱ ص ۲۲۵ باب صلاةالجنازة مکتبه رشیدیه/السعایة ج ۲ ص ۲۲۵ باب صلاةالجنازة /فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۷۳ مکتبه رشیدیه/فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۳۸/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۳۱۴/فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۴۷۴)

په مسجد کښي دجنازې لمونځ څنګه دي؟

سوال ۱۷: په مسجد جامع یا په مسجد جماعت کښي د جنازې لمونځ مکروه دی که یا؟د فقهي شریفي کتابونه په دغه مسئله کښي څه فرمایي؟

جواب: د جماعت په مسجد کښي د جنازې لمونځ کول مکروه دی لکه دغه خبره چي په در المختار کښي هم راغلي دي چي باید د مسجد څخه د باندي اداء سي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَكُرِهَتْ تَحْرِيمًا) وَقِيلَ (تَنْزِيهًا فِي مَسْجِدِ جَمَاعَةٍ هُوَ) أَيْ الْمَيِّتُ (فِيهِ) وَحْدَهُ أَوْ مَعَ الْقَوْمِ....... بِنَاءً عَلَى أَنَّ الْمَسْجِدَ إنَّمَا بُنِيَ لِلْمَكْتُوبَةِ، وَتَوَابِعُهَا كَنَافِلَةٍ وَذِكْرٍ وَتَدْرِيسِ عِلْمٍ، وَهُوَ الْمُوَافِقُ لِإِطْلَاقِ حَدِيثِ أَبِي دَاوُد «مَنْ صَلَّى عَلَى مَيِّتٍ فِي الْمَسْجِدِ فَلَا صَلَاةَ لَهُ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۲ باب صلاةالجنازة مکتبه حبیبیه/فتاوی محمودیه ج ۸ ص ۶۷۵ باب صلاةالجنازة/فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۱۶۵ الباب الخامس في الصلاة علي الميت مکتبه رشیدیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۳۲۷ کتاب الجنائز مکتبه رشیدیه/مرقات المفاتیح شرح مشکاةالمصابیح ج ۴ ص ۱۴۴ کتاب الجنائز مکتبه رشیدیه/تبیین الحقائق ج ۱ ص ۵۷۹ کتاب الجنائز دارالکتب العلمية بیروت/سنن ابن ماجة ص ۱۰۹ کتاب الجنائز قدیمي چاپ/کفایت المفتي ج ۵ ص ۳۸۰)

د غله او باغي د جنازې لمونځ ولي نه دي جائز؟

سوال ۱۸: د غله او قطاع الطریق او باغي وغیره د جنازې لمونځ ولي منع د ی شریعت یې حکم څه بیان کړی د ی ؟ جواب را کړئ

جواب: د دغو کسانو د جنازې لمونځ ځکه منع دی مقصد د منع یې دا دی چې داسې کارونه ونه کړي

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار على الدرالمختار :إِنَّمَا لَمْ يُغَسَّلُوا وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِمْ إهَانَةً لَهُمْ وَزَجْرًا لِغَيْرِهِمْ عَنْ فِعْلِهِمْ.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۴۲ باب صلاة الجنازة مكتبه حبيبيه/بدائع الصنائع ج ۲ ص ۴۸، ۴۹ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/فتاوى عبادالرحمن ج ۲ ص ۴۹۶/ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۴ ص ۴۵۹/فقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۵۰۸ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۷۸)

د جنازې په لمانځه کښې سورة فاتحه ویل

سوال ۱۹: د جنازې په لمانځه کښې د سورة فاتحې ویل جائز دي که یا؟ او که جائز وي نو به ئې څه وخت وایي؟

جواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی په نزد د جنازې په لمانځه کښې سورة فاتحه ویل صحیح نه ده مګر که څوک ئې د دعا په نیت وواییي نو پرواه نه لري او د ویلو ځاي ئې تر تکبیر اولی وروسته دی.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار على الدرالمختار :وَعَيَّنَ الشَّافِعِيُّ الْفَاتِحَةَ فِي الْأُولَى. وَعِنْدَنَا تَجُوزُ بِنِيَّةِ الدُّعَاءِ وَتُكْرَهُ بِنِيَّةِ الْقِرَاءَةِ لِعَدَمِ ثُبُوتِهَا فِيهَا عَنْهُ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ

(ردالمحتار ج ۱ص ۶۴۲ باب صلاة الجنازة مكتبه حبيبيه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۶۴ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/فتاوى محموديه ج ۸ ص ۵۵۹ باب صلاة الجنازة/فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۱۶۳ باب صلاة الجنازة/كفايت المفتي ج ۵ ص ۳۵۰ باب صلاة الجنازة/فتاوى التاتارخانية ج ۳ ص ۴۶ باب صلاة الجنازة/البحر الرائق ج ۲ ص ۳۲۰ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۷۱)

په شپه کښې د جنازې لمونځ کول رواه دي

سوال ۲۰: په شپه کښې د جنازې لمونځ کول رواه دی که یا؟ شریعت څه فیصله لري؟

جواب: په شپه کښې د جنازې لمونځ کول صحیح دی بېله کراهیته څخه

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :
وَكُرِهَ) تَحْرِيمًا.......صَلَاةٌ........وَلَوْعَلَى جِنَازَةٍ.... مَعَ شُرُوقٍ.... وَاسْتِوَاءٍوَغُرُوبٍ.......
(قَوْلُهُ: أَوْ عَلَى جِنَازَةٍ) أَيْ إذَا حَضَرَتْ فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۳۷۳ كتاب الصلاة مكتبه حبيبيه/حاشيةالطحطاوي ص ۵۸۶ مكتبه رشيديه/الهداية ج ۱ص ۸۰ كتاب الصلاة مكتبه رحمانيه/فقه الاسلامي ج ۲ص ۱۵۲۹ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۷۴)

اول به دماپښين لمونځ کيږي که دجنازې؟

سوال ۲۱: دلمر دزوال څخه ورسته اول دماپښين لمونځ کيږي که دجنازې بالخصوص دمړي دولي لپاره ؟

جواب: اول دي د ماپښين لمونځ سره دسنتو وکړي دهغه دولي اوغيرولي لپاره برابر دی. البته که دڅه ضرورت په خاطر دجنازې لمونځ اول وسي هم پروانه لري مګر
بهتره داده چي اول دماپښين لمونځ وکړل سي

وَتُقَدَّمُ) صَلَاتُهَا (عَلَى صَلَاةِ الْجِنَازَةِ إذَا اجْتَمَعَا....... وَ فِي الْبَحْرِ قُبَيْلَ الْأَذَانِ عَنْ الْحَلَبِيِّ الْفَتْوَى عَلَى تَأْخِيرِ الْجِنَازَةِ عَنْ السُّنَّةِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۱۱ باب صلاةالجنازة مكتبه حبيبيه/الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۶۴ مكتبه رشيديه/البحرالرائق ج ص ۴۴۰ باب صلاةالجنازة مكتبه رشيديه/فتاوى محموديه ج ۸ ص ۵۶۳ باب صلاةالجنازة/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۳۲۹)

دولدالزنا په غوږ کي اذان اودهغه دجنازې لمونځ

سوال ۲۲: داسي ماشوم چي له زنا څخه پيدا سي په غوږ کي يې اذان کول اوچي مړ سي دهغه دجنازې لمونځ کول ضروري دی که يا؟

جواب: دداسي ماشوم چي دزنا په وجه پيدا سوی وي په غوږ کښي يې اذان کول مستحب دی. اودهغه دجنازې لمونځ اداء کول فرض دي لهذا دولدالزنا يعني حرموني دجنازې لمونځ اداء کول ضروري دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : وَهِيَ فَرْضٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ مَاتَ خَلَا) أَرْبَعَةٍ (بُغَاةٍ، وَقُطَّاعِ طَرِيقٍ

(وفي الهندية) وَيُصَلَّى عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ مَاتَ بَعْدَ الْوِلَادَةِ صَغِيرًا كَانَ أَوْ كَبِيرًا ذَكَرًا كَانَ أَوْ أُنْثَى حُرًّا كَانَ أَوْ عَبْدًا

(ردالمحتارج ۱ ص ۶۴۲ باب صلاة الجنازة مكتبه حبيبيه/فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۱۶۳ الفصل الخامس في الصلاة علي الميت مكتبه رشيديه/شرح فقه الاكبر ص ۹۱/فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۵۶)

فصل في ما يتعلق بالقبر والدفن

پر قبر باندي ډبري درول او ېااشعار او اياتونه پر ليکل رواه دي که يا ؟

سوال ۱: پر قبر باندي ډبره اېښودل او بيا پر هغې ډبري باندي د مړي نوم او د وفات تاريخ ليکل د دې لپاره چي د مړي قبر ملعوم وي او ورک نسي آيا دغه ډبري يا تختې د سنګ مرمر او سنګ رخام د قبر سرته درول روا دي که يا ؟

جواب: د علامت او تعارف به خاطر چي د دې مړي قبر ورک نسي د مړي نوم او د وفات تاريخ او نېټه پر هغه ډبره ليکل او بيا د قبر د سره څخه معمولي ليري اېښودل جائز دي د ضرورت په خاطر .

او په ځيني حديثو کي چي منع راغلې ده فقهاؤ ليکلي دي چي منع په هغه صورت کي ده چي ضرورت نه وي ليکلو ته يې نو بلا ضرورت يو قسم اسراف دی. احتياط په دې کي دی چي هغه تخته يا ډبره لږ د مړي د سره څخه ليري ولګول سي چي د حديث مخالفت رانه سي. **تنبيه:** البته پر دغه تخته د قرآن آياتونه ، اشعار ، د مړي تعريف دا شيان ليکل ناروا دي .

لماقال ابن عابدين شامي رحمه الله فى ردالمحتار : قوله (لا بأس بالكتابة الخ) لأن النهي عنها وإن صح فقد وجد الإجماع العملي بها فقد أخرج الحاكم النهي عنها من طرق ثم قال هذه الأسانيد صحيحة وليس العمل عليها فإن أئمة المسلمين من المشرق والمغرب مكتوب على قبورهم وهو عمل أخذ به الخلف عن السلف اه ويتقوى بما أخرجه أبو داود

بإسناد جيد أن رسول الله حمل حجرا فوضعها عند رأس عثمان بن مظعون وقال أتعلم بها قبر أخي وأدفن إليه من تاب من أهلي فإن الكتابة طريق إلى تعرف القبر بها نعم يظهر أن محل هذا الإجماع العملي على الرخصة فيها ما إذا كانت الحاجة داعية إليه في الجملة كما أشار إليه في المحيط بقوله وإن احتيج إلى الكتابة حتى لا يذهب الأثر ولا يمتهن فلا بأس به فأما الكتابة بغير عذر فلا اه

حتى أنه يكره كتابة شيء عليه من القرآن أو الشعر أو اطراء مدح له ونحو ذلك

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۲ مکتبه حبيبيه / خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۲۲۶ مکتبه رشيدية / فقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۵۵۳ مکتبه حبيبيه / کفايت المفتي ج ۴ ص ۵۰ اردو / فتاوى رحيميه ج ۷ ص ۱۸۵ اردو / فتاوى فريديه ج ۳ ص ۳۳۳ اردو)

مړی په مسجد یا په کور کي ښخول او ښخول جواز لري که یا؟

سوال ۲ : مړي په کورونو يا په مسجدونو کي ښخول رواه دي که يا ؟

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دي چي د کور يا مسجد پر ځای باندي بهتره داده چي مړي په عامه هديره او قبرستان کي ښخ کړل سي . دا ځکه که چيري په کورونو کي د مړو د ښخولو سلسله شروع سي نو د نورو مسلمانانو د پاره د دقت او تنګۍ باعث جوړيږي . نن سبا چي د مسلمانانو په ټولنه کي په مساجدو کي د مړو د ښخولو سلسله او لړۍ شروع سوې ده په دې کښې زيات کراهت د دې خاطره هم دی چي د عامو مسلمانانو د پاره مشکلات جوړوي او په آينده او مستقبل کي د مسجدانو د توسيع او فراخۍ په مخکي مشکلات را پيدا کيږي .

پاته سوه دا چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم د حضرت عائشې رضي الله عنها په حجره مبارکه کي ښخ کړی سوی دی دا ديو خصوصي نوعيت واقعه ده نور کسان د نبي کريم صلی الله عليه وسلم پر ښخولو او دفن کولو باندي نه قياسيږي . په کومه هديره کي چي صالحين او شهداء ښخ کړی سوي وي په هغه کي خپل مړي ښخول زيات بهتر عمل دی . ابن قدامه رحمه الله تعالی پر دغه خبره باندي د هغه حديث شريف څخه دليل نيولی دی چي کله پر حضرت موسي عليه الصلوة والسلام باندي

دموت او مرګ کیفیت طاري سو نو بیې الله جل جلاله ته دعا وکړه چي ای الله زما وفات ارض مقدسې (پاکي مځکي) ته نژدې وکړې.

په کتاب الفتاوی کي حضرت مولانا خالد سیف الله رحماني دامت برکاته لیکلي دي: په کور کي مړي ښخول بهتره او ښه کار نه دی. ځکه چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم امت ددې کاره څخه منع کړی دی چي کورونه هدیرې جوړې کړل سي.

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : ولا يدفن صغير ولا كبير في البيت الذي مات فيه فإن ذلك خاص بالأنبياء بل ينقل إلى مقابر المسلمين اه.....

ومقتضاه أنه لا يدفن في مدفن خاص كما يفعله من يبني مدرسة ونحوها ويبني له بقربها مدفنا تأمل .

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۰ / ۶۶۲ مطلب في دفن الميت مكتبه رشيديه / الموسوعة الفقهية ج ۲۱ ص ۹ / قاموس الفقه ج ۳ ص ۴۳۴ / كتاب الفتاوی ج ۳ ص ۱۸۹ / سنن ابي داود حديث نمبر ۲۰۳۴ باب زيارة القبور)

دقبرونو پخول دشریعت له نظره جواز لري که یا ؟

سوال ۳ : ایا دقبرونو پخول (سمېټ کول) دشریعت له نظره جواز لري که یا ؟

ځواب : په حدیث شریف کي راځي (نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يجصص القبور وان يكتب) عليها وان توطا) . ژباړه : نبي کریم صلی الله علیه وسلم منع کړېده چي قبرونه پاخه کړی سي او ددې څخه یې هم منع کړېده چي لیکل ورباندي وکړل سي ، او یا سربېره باندي وخیژي . لهذا د دغه حدیث شریف او د فقهي د کتابو د عباراتو څخه معلومېږي چي قبر پخول درست نه دی او داسي طریقه اختیارول هم درسته نه ده چي لحد خام پربښوول سي او شا او خوایې پوخ کړل سي .

رواه الترمذی ج ۱ص ۱۲۵ / الدرمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۲ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۱۶۶ مکتبه رشیدیه / فقه اسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۵۵۲ مکتبه حبیبیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۲۶ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۱۶۶ /فتاوی فریدیه ج ۳ ص ۳۲۹ اردو / فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۷۲ اردو)

دپاخه قبر جوړولو حکم

سوال۴ : که چیري یو شخص په غلطی او ناپوهی سره دخپل یو قریب قبر پوخ اوسیمینټ کړي نو شرعي حکم یي اوس څنګه دی اوباید څه وسي ؟

جواب : قبر پوخ جوړول دشریعت اوسنت خلاف کار دی که چیري یو قبر پوخ کړل سي نو بیا هم لازمه ده چي دهغه هیئت بیرته دسنت مطابق جوړ کړل سي او دهغه پختګي ختمه کړل سي . اوکه چیري قبر پر داسي یو مقام باندي جوړ کړل سي چي دهغه ځای خاوري دریګني مځکي دوجي څخه رژیدلې قرار یي نه درلودی نو بیا ددننه څخه په اندازه دضرورت دپوخ کولو ګنجائش یي سته لیکن سربیره اولوړ یي دپخولو اجازه نسته .

عن ابی وائل انّ علیاً رضي الله عنه قال لابی الهیاج الاسدی ابعثک علی ما بعثنی النبی ان لاتدع قبرا مشرفا الا سوّیته ولا تمثالا الا طمسته ..... وعن جابر قال نهی رسول الله ان تجصص القبور وان یکتب علیها وان یبنی علیها وان توطا

(رواه الترمذی ج ۳ص ۳۵۹ باب ما جاء في کراهیة تجصیص القبور، والکتابة علیها مکتبه شامله بیروت چاپ)

مړی امانت سپارل شرعا څنګه دی ؟

سوال۵ : ایا خپلوان یا ملګري د مړي دغه خپل مړي په یو وطن کي امانت خاورو ته سپارلی سي د مؤقت وخت لپاره او بیا د هغه ځایه وړل د دې مړي روا دی که یا؟

جواب : د مړي ښخول امانت په یو ځای کي او بیا د هغه ځایه څخه وړل او انتقالول خپل وطن ته دا زموږ په مذهب کي د ټولو فقهاء په اتفاق شرعًا هیڅ اصل او جواز نه لري.

او ځیني خلګ چي دا دلیل وایې چي جسدونه مبارکان د حضرت یعقوب او یوسف علیهم السلام د مصر څخه وشام ته نقل سوي دي، د دې دلیل جواب دا دی چي دا تر موږ یعني زموږ د شریعت څخه مخکي شریعتونه تېرسوي زموږ لپاره د هغو شریعتونو احکام زموږ د شریعت د مسئلې لپاره دلیل نه سي ګرځېدلای بېله نص

شرعي څخه.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَلَا بَأْسَ بِنَقْلِهِ قَبْلَ دَفْنِهِ) قِيلَ مُطْلَقًا، وَقِيلَ إلَى مَا دُونَ مُدَّةِ السَّفَرِ، وَقَيَّدَهُ مُحَمَّدٌ بِقَدْرِ مِيلٍ أَوْ مِيلَيْنِ لِأَنَّ مَقَابِرَ الْبَلَدِ رُبَّمَا بَلَغَتْ هَذِهِ الْمَسَافَةَ فَيُكْرَهُ فِيمَا زَادَ. قَالَ فِي النَّهْرِ عَنْ عِقْدِ الْفَرَائِدِ: وَهُوَ الظَّاهِرُ اهـ وَأَمَّا نَقْلُهُ بَعْدَ دَفْنِهِ فَلَا مُطْلَقًا. قَالَ فِي الْفَتْحِ وَاتَّفَقَتْ كَلِمَةُ الْمَشَايِخِ فِي امْرَأَةٍ دُفِنَ ابْنُهَا، وَهِيَ غَائِبَةٌ فِي غَيْرِ بَلَدِهَا فَلَمْ تَصْبِرْ، وَأَرَادَتْ نَقْلَهُ عَلَى أَنَّهُ لَا يَسَعُهَا ذَلِكَ، فَتَجْوِيزُ شَوَاذِّ بَعْضِ الْمُتَأَخِّرِينَ لَا يُلْتَفَتُ إلَيْهِ. وَأَمَّا نَقْلُ يَعْقُوبَ وَيُوسُفَ - عَلَيْهِمَا السَّلَامُ - مِنْ مِصْرَ إلَى الشَّامِ لِيَكُونَا مَعَ آبَائِهِمَا الْكِرَامِ فَهُوَ شَرْعُ مَنْ قَبْلَنَا وَلَمْ يَتَوَفَّرْ فِيهِ شُرُوطُ كَوْنِهِ شَرْعًا لَنَا اهـ مُلَخَّصًا وَتَمَامُهُ فِيهِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۳ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي علي المراقي ص ۶۱۳ـــ۶۱۴ مكتبه رشيديه / حاشية ديوبندي علي الهداية ج ۱ ص ۱۶۵ مكتبه حقانيه / فتاوى رحيميه ج ۷ ص ۱۷۰اردو)

زاړه مړي راکښل او په قبرونو کي يې نوي مړي ښخول.

سوال ۶: په حرمين شريفين کي دغه رواج او قانون دی چي کله قبرونه زاړه سي، او مړي خاوري سي، نو دوی بیا نوي مړي پکښي ښخوي آيا زموږ په مذهب کي دغه طريقه جواز لري که يا؟

جواب: که چيري هغه ښخ سوي مړي خاوري وګرځي سره د غوښو او هډوکو نو په هغو قبرو کي نور مړي ښخول زموږ په مذهب کي روايښت او جواز لري.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار:وَلَوْ بَلِيَ الْمَيِّتُ وَصَارَ تُرَابًا جَازَ دَفْنُ غَيْرِهِ فِي قَبْرِهِ وَزَرْعُهُ وَالْبِنَاءُ عَلَيْهِ اهـ. قَالَ فِي الْإِمْدَادِ: وَيُخَالِفُهُ مَا فِي التَّتَارْخَانِيَّة إذَا صَارَ الْمَيِّتُ تُرَابًا فِي الْقَبْرِ يُكْرَهُ دَفْنُ غَيْرِهِ فِي قَبْرِهِ لِأَنَّ الْحُرْمَةَ بَاقِيَةٌ، وَإِنْ جَمَعُوا عِظَامَهُ فِي نَاحِيَةٍ ثُمَّ دُفِنَ غَيْرُهُ فِيهِ تَبَرُّكًا بِالْجِيرَانِ الصَّالِحِينَ، وَيُوجَدُ مَوْضِعٌ فَارِغٌ يُكْرَهُ ذَلِكَ. اهـ.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۹ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۳۴۶ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۶۷ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي ص ۶۱۲ مكتبه رشيديه / فتاوى رحيميه ج ۷ ص ۷۵ اردو / احسن الفتاوى ج ۴ ص ۲۵۰ اردو / فتاوى ديوبند ج ۵ ص ۳۴۴ پښتو)

دجنازې دوړلو په وخت کې دمړي سر کومې خواته کيږي ؟

سوال ۷: د جنازې د وړلو په وخت کښې د مړي د سرخوا مخ ته کيږي که يې د پښو خوا ؟

جواب: د جنازې د وړلو په وخت کښې د مړي د سر خوا مخ ته کيږي او د پښو خوا يې وروسته کيږي.

لمافي الهندية : وَفِي حَالَةِ الْمَشْيِ بِالْجِنَازَةِ يُقَدَّمُ الرَّأْسُ، كَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ أَفْضَلُ مِنْ النَّوَافِلِ إذَا كَانَ لِجِوَارٍ أَوْ قَرَابَةٍ أَوْ صَلَاحٍ مَشْهُورٍ، كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ.

(الفتاوي الهندية ج ۱ ص ۱۶۲ مکتبه رشيديه / فتاوی محموديه ج ۹ ص ۳۴ اردو / امدادالفتاوی ج ۱ ص ۵۷۲ اردو / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۵۱ پښتو / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۱۷۹ پښتو)

که يو مړی بې غسله او بې کفنه ښخ کړل سي ؟

سوال ۸: که يو مړی بې غسله او بې کفنه ښخ کړل سي، او وروسته يې ورثه په خبر سوله چې دا بې غسله او بې کفنه يې ښخ کړی دی د دغه مړي د غسل او کفن سره څه بايد وسي؟

جواب: که بې غسله او بې کفنه يو مړی ښخ کړل سو، نو بيا دي يې نه راکاږي ځکه چې د مړي اهانت په کښې راځي، البته د جنازې لمونځ دي پر قبر ورادا ء سي.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ إلَّا لِحَقِّ آدَمِيٍّ) احْتِرَازٌ عَنْ حَقِّ اللَّهِ تَعَالَى كَمَا إذَا دُفِنَ بِلَا غُسْلٍ أَوْ صَلَاةٍ أَوْ وُضِعَ عَلَى غَيْرِ يَمِينِهِ أَوْ إلَى غَيْرِ الْقِبْلَةِ فَإِنَّهُ لَا يُنْبَشُ عَلَيْهِ بَعْدَ إهَالَةِ التُّرَابِ كَمَا مَرَّ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۲ مکتبه رشيديه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۲۶ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۶۷ مکتبه رشيديه / الموسوعة الفقهية ج ۳۲ ص ۲۵۲ مکتبه حقانيه / امدادالفتاوی ج ۱ ص ۵۶۳ اردو)

د مړي تر ښخېدو وروسته يې سر او پښو ته اياتونه ويل.

سوال ۹: د مړي تر ښخېدو وروسته يې سر او پښو ته د الم البقرة سورت اول او آخر اياتونه اما مان تلاوت کوي آيا دا روا او مسنون طريقه ده؟ که د ځانه ايجاد سوې طريقه ده ؟

جواب: د مړي تر ښخيدو وروسته اوله د سورت بقرې او اخره د سورت بقرې تلاوت کول د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه ثابت دي، او د نبي كريم صلى الله عليّ وسلم څخه د قبر پر اوله حصه باندي او پر پای د قبر د سورت بقره اول اخر ايا تونه ويل ثابت دي، اول د سورة بقره د الم څخه تر (المفلحون) پوري او اخره يې د (آمن الرسول) څخه تر اخرد سورت پوري دی.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَسْتَحِبُّ أَنْ يَقْرَأَ عَلَى الْقَبْرِ بَعْدَ الدَّفْنِ أَوَّلَ سُورَةِ الْبَقَرَةِ وَخَاتِمَتَهَا. وَرُوِيَ أَنَّ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ قَالَ وَهُوَ فِي سِيَاقِ الْمَوْتِ: إذَا أَنَا مِتُّ فَلَا تَصْحَبْنِي نَائِحَةٌ وَلَا نَارٌ، فَإِذَا دَفَنْتُمُونِي فَشُنُّوا عَلَيَّ التُّرَابَ شَنًّا، ثُمَّ أَقِيمُوا حَوْلَ قَبْرِي قَدْرَ مَا يُنْحَرُ جَزُورٌ، وَيُقْسَمُ لَحْمُهَا حَتَّى أَسْتَأْنِسَ بِكُمْ وَأَنْظُرَ مَاذَا أُرَاجِعُ رُسُلَ رَبِّي جَوْهَرَةٌ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۱ مكتبه رشيديه / مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۱۴۹ / مرقاة المفاتيح ج ۴ ص ۱۷۳ مكتبه حبيبيه / تعليق الصبيح ج ۲ ص ۳۳۴ / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۶۶ مكتبه رشيديه / فتاوى رحيميه ج ۷ ص ۶۴ اردو)

دقبر څنډې پخې جوړول او ډبرې په کښې لګول څنګه دي ؟

سوال ۱۰ : که چيري يو کس دقبر څلور سره طرفونه پاخه جوړ کړي او مېنځ يې کچه او خام پرېږدي او پر سنګ مرمر باندي دهغه مړه کس تاريخ وفات نويشته کړي شرعا جواز لري که يا ؟ .

جواب : علامه شامي رحمه الله تعالى په ردالمحتار کي دصحيح مسلم شريف څخه يو روايت نقل کړی دی چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم منع کړې ده د قبرونو دپخولو څخه او پر هغه باندي دڅه نوشته کولو څخه او دتعميريعني ځای جوړولو څخه لهذا داسي کول شرعا درست نه دي .

عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ، وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ، وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ.

(صحیح مسلم شریف ج ۲ ص ۶۶۷ باب النهي عن تجصیص القبر والبناء علیه / مشکوة المصابیح باب دفن المیت ص ۱۴۸ / ردالمحتار باب صلوة الجنائز ص ۶۶۲ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۵ ص ۳۳۶ کتاب الجنائز خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۱۶۶ / فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۷۲)

جنازه چي واخلي لس لس قدمه تلل ثابت دي که نه دي؟

سوال ۱۱: جنازه چي واخلي چي څلوېښت قدمه خلګ شماري په لس لس قدمه سره دا په یوه صحیح حدیث ثابت دی، که یا؟ شرعي مسئله څنګه ده؟

جواب: په حدیث شیریف کښي راغلي دي چي دیو مسلمان جنازه چي څلوېښت قدمه وېوړه سي نو هغه ته به د څلوېښتو کلونو ګناه به ورته معاف سي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَإِذَا حَمَلَ الْجِنَازَةَ وَضَعَ) نَدْبًا (مُقَدَّمَهَا.......... عَشْرَ خُطُوَاتٍ لِحَدِيثِ «مَنْ حَمَلَ جِنَازَةً أَرْبَعِينَ خُطْوَةً كَفَّرَتْ عَنْهُ أَرْبَعِينَ كَبِيرَةً

(وفي البدائع) وَيَنْبَغِي أَنْ يَحْمِلَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ عَشْرَ خُطُوَاتٍ لِمَا رُوِيَ فِي الْحَدِيثِ «مَنْ حَمَلَ جِنَازَةً أَرْبَعِينَ خُطْوَةً كَفَّرَتْ أَرْبَعِينَ كَبِيرَةً

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۱ ص ۶۵۷ باب صلاةالجنازة مکتبه حبیبیه/بدائع الصنائع ج ۲ ص ۴۳ کتاب الصلاة مکتبه رشیدیه/فتاوی محمودیه ج ۹ ص ۳۱ باب الجنائز/فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۶۷ باب الجنائز/فتاوی عبادالرحمن ج ۲ ص ۵۱۶/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۳۵۳)

د غیر مسلمان همسایه د جنازې سره تلل صحیح دي؟

سوال ۱۲: که چیري یو نصراني یا سیک یا دیوه بل مذهب سړی چي مسلمان نه وي اوستاد دوکان اوکورهمسایه وي یادي په یوبله وجه ورسره شناخت وي نو دهغه سړي ترمرګ ورسته دغه مسلمان دهغوی، ترهدیرې پوري ورسره تللاي سي که یا؟او یا هغه دمسلمان په جنازه کي تللاي سي که یا؟

جواب: د ضرورت په وجه او د ضرورت په صورت کښي داسي کول جائز دي شرعًا

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :قَوْلُهُ وَجَازَ عِيَادَتُهُ) أَيْ عِيَادَةُ مُسْلِمٍ ذِمِّيًّا نَصْرَانِيًّا أَوْ يَهُودِيًّا، لِأَنَّهُ نَوْعُ بِرٍّ فِي حَقِّهِمْ وَمَا

نُهِينَا عَنْ ذَلِكَ، وَصَحَّ أَنَّ النَّبِيَّ اللَّهُ «عَادَ يَهُودِيًّا مَرِضَ بِجِوَارِهِ» هِدَايَةٌ....... وَفِي النَّوَادِرِ جَارٌ يَهُودِيٌّ أَوْ مَجُوسِيٌّ مَاتَ ابْنٌ لَهُ أَوْ قَرِيبٌ يَنْبَغِي أَنْ يُعَزِّيَهُ، وَيَقُولَ أَخْلَفَ اللَّهُ عَلَيْك خَيْرًا مِنْهُ، وَأَصْلَحَك

(ردالمحتار ج ۵ ص ۲۷۴ فصل في البيع مکتبه حبيبيه/الهداية ج ۴ ص ۳۸۰ مسائل متفرقه بېروت چاپ مکتبه شامله/العناية شرح الهداية ج ۱۰ ص ۶۴ مسائل متفرقه بېروت چاپ مکتبه شامله/البناية ج ۱۲ ص ۲۴۵ فصل في البيع بېروت چاپ مکتبه شامله/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۵۱)

دمړي سترګي تورول اوسرئې ږمونځول څنګه دي؟

سوال ۱۳: دمړي په سترګو کښې رانجه اچول او سرئې ږمونځول د کفن ورکولو څخه ورسته څنګه دی، روا ېښت لري که يا شرعاً؟

جواب: دا طريقه دمړي سره کول بالکل دسنت خلاف ده درسته او صحيح نه ده او حرامه ده

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَلَا يُسَرَّحُ شَعْرُهُ أَيْ يُكْرَهُ تَحْرِيمًا....... قَوْلُهُ: أَيْ يُكْرَهُ تَحْرِيمًا) لِمَا فِي الْقُنْيَةِ مِنْ أَنَّ التَّزْيِينَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَالِامْتِشَاطَ وَقَطْعَ الشَّعْرِ لَا يَجُوزُ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۳۳ باب صلاة الجنازة مکتبه حبيبيه/البحرالرائق ج ۲ ص ۳۰۴ کتاب الجنائز مکتبه رشيديه/الهداية ج ۱ ص ۱۶۱ کتاب الجنائز مکتبه رحمانيه/جامع الفتاوی ج ۵ ص ۲۸۱/فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۱۷۴/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۲۷)

په موټر کي جنازه وړل مکروه ده که يا؟

سوال ۱۴: مړی ترهديرې پورې په موټر کې وړل څنګه دی، مکروه دی که يا؟

جواب: په درمختار کښې راغلي دي چې بېله ضرورته ئې وړل په موټر کښې مکروه دي او دضرورت په وخت کښې مثلاً هديره ليرې وي پراوږوئې وړل مشکل وي نو بيا جائز او روا ده.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَيُكْرَهُ عِنْدَنَا حَمْلُهُ بَيْنَ عَمُودِيِّ السَّرِيرِ بَلْ يَرْفَعُ كُلُّ رَجُلٍ قَائِمَةً بِالْيَدِ لَا عَلَى الْعُنُقِ كَالْأَمْتِعَةِ، وَلِذَا كُرِهَ حَمْلُهُ عَلَى ظَهْرٍ وَدَابَّةٍ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۷ باب صلاة الجنازة مكتبه حبيبيه/حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۶۰۳ مكتبه رشيديه/فتاوى التاتارخانية ج ۳ ص ۳۴ باب صلاة الجنازة/كفايت المفتي ج ۵ ص ۴۶۳/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۲۵۳)

ايا دقبر څخه مړي رايستل رواه دي كه يا؟

سوال ۱۵: دقبر څخه مړي راكښل او بيا بل ځاى ښخول شرعًا رواه دي كه يا؟ او درايستلو او مجبورۍ صورت ئې شرعًا څه دي؟ جواب راكړئ.

جواب: په درمختار كښې ددغې مسئلې پربرابر بحث موجود دى، حاصل دهغه دادى، چې په خاورو كې تر ښخولو وروسته بيا نه رايستل كيږي مګر دبندګانو دحقوقو په وجه ئې بيا رايستل رواه دي مثلاً دغصب او زور په مځكه كې ئې ښخ كړي يا دبل په مځكه كښې ئې ښخ كړي دهغه داجازې څخه بغير نو بيا دغه دمځكې مالک ته اختيار دى، چې دغه مړى وكاږي او يا مځكه سربېره پر برابره او هواره كړي د قبر نښان نه پرېږدي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَلَا يُخْرَجُ مِنْهُ) بَعْدَ إهَالَةِ التُّرَابِ (إلَّا) لِحَقِّ آدَمِيٍّ (أَنْ تَكُونَ الْأَرْضُ مَغْصُوبَةً أَوْ أُخِذَتْ بِشُفْعَةٍ) وَيُخَيَّرُ الْمَالِكُ بَيْنَ إخْرَاجِهِ وَمُسَاوَاتِهِ بِالْأَرْضِ كَمَا جَازَ زَرْعُهُ وَالْبِنَاءُ عَلَيْهِ إذَا بَلِيَ وَصَارَ تُرَابًا

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۲ مطلب في دفن الميت مكتبه حبيبيه/الموسوعة الفقهية ج ۳۲ ص ۲۵۲ بيروت چاپ/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۶۷ مكتبه رشيديه/فتاوى فريديه ج ۳ ص ۲۳۲/كفايت المفتي ج ۵ ص ۵۱۶/فتاوى دارلعلوم ديوبند ج ۵ ص ۳۳۳)

مړي په کور کښي ښخول جايز دي که يا؟

سوال ۱۶: مړی دهغه دا ستوګني په ځای کښي ښخول صحيح دي که يا شرعًا؟

جواب: په کور کښي ښخول هم رواه دي مګر په وقف کړه سوي او دمسلمانانو په اجتماعي هديره کښي ښخول په کار دي نه په کور کښي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُدْفَنَ) الْمَيِّتُ (فِي الدَّارِ وَلَوْ) كَانَ (صَغِيرًا) لِاخْتِصَاصِ هَذِهِ السُّنَّةِ بِالْأَنْبِيَاءِ....... بَلْ يُنْقَلُ إلَى مَقَابِرِ الْمُسْلِمِينَ اهـ وَمُقْتَضَاهُ أَنَّهُ لَا يُدْفَنُ فِي مَدْفِنٍ خَاصٍّ كَمَا يَفْعَلُهُ مَنْ يَبْنِي مَدْرَسَةً وَنَحْوَهَا، وَيَبْنِي لَهُ بِقُرْبِهَا مَدْفِنًا تَأَمَّلْ

(ردالمحتارج ۱ ص ۶۶۰ مطلب في دفن الميت مكتبه حبيبيه/الموسوعةالفقهية ج ۱۲ ص ۹ بېروت چاپ/حاشيةالطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۶۱۲ مكتبه رشيديه/فتاوى دارالعلوم ديوبندج ۵ ص ۳۶۲)

دلحد پراخوالي او پورته والي به څومره وي؟

سوال ۱۷: په قبر کښي به لحد څومره پراخ او څومره پورته وي ايا شرعاً کومه خاص اندازه لري که يا؟

جواب: دلحد په باره کښي فقهاوو دغه قدر خبره ليکلې ده چي دونه پراخ او وسيع به وي چي په هغه کي مړی په ښه طريقه سره پرېباسل سي او يو خاصه اندازه دلحد نه ده معلومه او دا خبره چي مشهوره سوېده چي لحد به دومره پورته او لوړ وي چي مړی په کښي کښېنستلای سي دا هيڅ ضروري او شرط نه ده.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار وَيُلْحَدُ...... أَنْ يُحْفَرَ الْقَبْرُ ثُمَّ يُحْفَرَ فِي جَانِبِ الْقِبْلَةِ مِنْهُ حَفِيرَةٌ فَيُوضَعُ فِيهَا الْمَيِّتُ وَيُجْعَلُ ذَلِكَ كَالْبَيْتِ الْمُسْقَفِ

(وفي الموسوعة) اتَّفَقَ الْفُقَهَاءُ عَلَى أَنَّ صِفَةَ اللَّحْدِ هِيَ أَنْ يُحْفَرَ فِي أَسْفَل حَائِطِ الْقَبْرِ الَّذِي مِنْ جِهَةِ الْقِبْلَةِ مِقْدَارُ مَا يَسَعُ الْمَيِّتَ وَيُجْعَل ذَلِكَ كَالْبَيْتِ الْمَسْقُوفِ.

وَأَمَّا صِفَةُ الشَّقِّ، فَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ إِلَى أَنَّهُ يُحْفَرُ فِي وَسْطِ الْقَبْرِ حَفِيرَةٌ يُوضَعُ الْمَيِّتُ فِيهَا وَيُبْنَى جَانِبَاهَا بِاللَّبِنِ أَوْ غَيْرِهِ وَيُسْقَفُ عَلَيْهَا.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۹ مطلب في دفن الميت مكتبه حبيبيه الموسوعة الفقهية ج ۳۲ ص ۲۴۷ بحث القبر بيروت چاپ/خيرالفتاوى ج ۳ ص ۱۵۳/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۳۳۵)

فصل في التعزية

دفاتحې وراتلونکو خلګوته ولاړېدل اولاس پر نامه ورته نيول.

سوال ۱: په اوس وخت کښې دارواج عام سوی دی چې کله ديو چا قريب وفات سي نو دفاتحې پر وخت د مسجد يا کوټې په دروازه کښې په چوکيو کښې څوکسه دراتلونکو خلګو داستقبال لپاره ناست وي کله چې خلګ راځي نو دوی ورته ولاړېږي او لاس پر نامه ورته نيسي او س پوښتنه داده چې دغه مذکوره رواج دشريعت سره برابر دی او که يا؟

جواب: علامه شامي رحمه الله په خپل مشهور کتاب (ردالمحتار) کښې ليکلي دي چې دتعزيې پر وخت په دروازه کښې ناسته مکروه ده ځکه چې داعمل دجاهليت دزمانې وو نوپکار داده چې زموږ ټوله زنده ګي پر سنت برابره وي الله پاک جل جلاله دي پرسنت طريقې دعمل کولو توفيق موږته او ټوله مسلمانانو ته را نصيب کړي آمين

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار: قَوْلُهُ وَعِنْدَ بَابِ الدَّارِ): وَيُكْرَهُ الْجُلُوسُ عَلَى بَابِ الدَّارِ لِلتَّعْزِيَةِ لِأَنَّهُ عَمَلُ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ وَقَدْ نُهِيَ عَنْهُ، وَمَا يُصْنَعُ فِي بِلَادِ الْعَجَمِ مِنْ فَرْشِ الْبُسُطِ، وَالْقِيَامِ عَلَى قَوَارِعِ الطَّرِيقِ مِنْ أَقْبَحِ الْقَبَائِحِ.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۵ كتاب الجنائز مطلب في ثواب علي المصيبة مكتبه حبيبيه/ فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۶۷ كتاب الجنائز مكتبه رشيديه/ البناية شرح الهداية ج ۳ ص ۲۶۰ باب تجصيص القبر وتطبينه بيروت چاپ مكتبه شامله/ البحرالرائق ج ۲ ص ۲۰۷ الصلوة علي الميت في المسجد بيروت چاپ مكتبه شامله/ مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ص ۲۲۸ فصل في حملها ودفنها بيروت چاپ مكتبه شامله)

دمړي فاتحه تر درو ورځو پوري په مسجد کښې اخيستل

سوال ۲ : زموږ په ټولنه کي دا رسم دی چي پسله ښخولو د مړي په دا بله ورځ د مړي اقربا او دوستان په مسجد کي را ټولېږي هلته کښېني او خلګ د تعزيت لپاره ورته راځي چي موږ يې فاتحه بولو ايا دغه ناسته په مسجد کښې د فاتحې لپاره شرعًا صحيح ده که يا؟

او ناسته هم پر دغه ډول چي مسجد ته نالۍ او بالښتان راوړي دنسوار و توکدانۍ او شنې او توري چائې سرپر سرراروانې وي کله چي غرمه سي نو د مړي د کور له طرفه و دغو ناستو خلګو ته دورجو او غوښو ميلمستيا هم ورکول کېږي پوښتنه داده چي زموږ د مذهب او د فقهي شريفي علماء په دغه باره کښې څه وايي؟.

جواب: په حقيقت کښې دلته دوې مسئلې دي يوه مسئله د فاتحې د ثبوت ده او بله مسئله په مسجد کښې دفاتحې اخيستلو ده. په مراقي الفلاح کتاب کښې چي شرح دنور الايضاح کتاب ده داسي راغلي دي چي دغه ناسته درې ورځي دمړي د قريبانو لپاره د تعزيت کولو مکروه ده هغه نو که په سرايچه کښې وي که په کوټه کښې وي او که په مسجد کښې وي ليکن مسئله داسي نه ده لکه څنګه چي مراقي الفلاح والا ليکلي دي چي مطلق فاتحه مکروه ده بلکي امام طحطاوي رحمه الله چي شارح د مراقي الفلاح دی وايې دا ناسته د مړي د قريبانو دپاره هلته مکروه ده چي د مړي قريبان غالۍ او کمبلي و کورپچې هواري کړي او بيا د دغه مړي د کوره څخه چائې او ډوډۍ راروانې وي ددغه تعزيت کوونکو دپاره پر دغه طريقه فاتحه اخيستل مکروه ده او که دغه رسمونه او رواجونه نه وي په کښې نو بيا شرعا مشکل نه لري.

مراقي الفلاح والا د مسجد په باره کښې وايې چي فاتحه د مړي په مسجد کي اخيستل مکروه ده. ځکه چي د مسجد دادابو خيال نه ساتل کيږي لکه څنګه چي زموږ د پښتنو عادت دی. ليکن که چيري قريبانو د مړي په کور کي ځای نه درلودی او بل طرف ته بيا اقربا او دوستان خو تعزيت او فاتحې ته خا مخا راځي نو د ضرورت په وخت کښې که چيري په مسجد کښې فاتحه واخيستل سي بيا روا ده په

دغه شرطونو سره (۱) دنياوي خبري به نه وي (۲) غيبت به نه وي (۳) توري او شنې چائې به سرپر سر نه وي (۴) راوړل د توکدانيو به نه وي چي اهانت د مسجد دی (۵) کورپچې او بالښتان به نه وي (۶) او ورجي او غوښي يعني ډوډی به نه وي د مړي د کور څخه.

په فتاوی حقانيه کښې يې د تعزيت او فاتحې په اړه داسي ليکلي دي : دمقيمو خلګو دپاره تر درو ورځو پوري د مړي د وارثانو دپاره تعزيت جائز دی. البته غائب سړی چي هيڅ ډول تعزيت يې و رته نه وي کړی نو چي کله کور ته راسي تعزيت کولای سي که څه هم ډير وخت وروسته راغلی وي ؟.

لما فى الفتاوى الهندية : ولا بأس لأهل المصيبة أن يجلسوا في البيت أو في مسجد ثلاثة أيام والناس يأتونهم ويعزونهم ويكره الجلوس على باب الدار وما يصنع في بلاد العجم من فرش البسط والقيام على قوارِع الطرق من أقبح القبائح، كذا في الظهيرية، وفي خزانة الفتاوى والجلوس للمصيبة ثلاثة أيام رخصة وتركه أحسن، كذا في معراج الدراية.

وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى فى الفقه الاسلامي وادلته : وقال الحنفية: لا بأس بالجلوس للتعزية في غير المسجد ثلاثة أيام، وأولها أفضلها، وقال في الفتاوى الظهيرية: لا بأس بها لأهل الميت في البيت أو المسجد، والناس يأتونهم ويعزونهم.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۶۷ كتاب الجنائز فصل في التعزية مكتبه رشيديه / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۳ مكتبه رشيديه / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۶۸۳ المطلب الثالث في التعزية مكتبه شامله بيروت چاپ / فتاوى حقانيه ج ۱ ص ۵۰۹ كتاب البدعة والرسوم / فتاوى محموديه ج ۹ ص ۲۵۴ باب ايصال الثواب مكتبه جامعه فاروقيه / الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۲۱ مكتبه رشيديه / فتاوى فريديه ج ۳ ص ۲۹۴ / ابن ماجه شريف ص ۱۱۵)

د مړه کس د وارثانو له طرفه ميلمستيا بدعت قبيحه دی

سوال ۳ : زموږ په علاقه کښې دغه رسم او رواج را روان دی چي کله يو کس وفات سي نو بياتر درو ورځو پوري د مړه کس وارثان ډوډی ورجي ، غوښي تياروي او ميلمستيا کوي خلګ تعزيت ته راځي او بيا ډوډی هم د دوی پر کور خوري او ځيني

وختونه دغه ډوډۍ پر دغه وارثانو د مړي بل دوهم غم وګرځي ایا د شریعت او د فقهي علماء پردغه برابر څه جواب او حکم لري که یا؟

جواب: علامة ابن عابدین شامي رحمه الله تعالی ویلي دي په ردالمحتار کښې چې مکروه د میلمستیا جوړول او تیارول د طعام او ډوډۍ له طرفه د وارثانو د مړي او میت ځکه چې میلیستیا او ډوډۍ رواه سوې ده په خوشحالیو کښې نه په غمو نو کښې او نه په شرونو کښې او دغه ضیافت او میلمستیا د مړو د وارثانو له طرفه بدعت قبیحة او سیئه دی او امام احمد رحمه الله تعالی او ابن ماجه رحمه الله تعالی په صحیح سند سره روایت کړی دی د جریر بن عبدالله رضي الله عنه څخه چې هغه ویلي دي چې صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین به راجمع کیدلو د مړي وارثانوته او تیارول او پخول د ډوډۍ د طرفه څخه د مړو د وارثانو د خلګو لپاره د غه اعمال په نیاحت کښې شمیرل او نیاحت د ښځو په زوره او چیغو سره ژړلو ته وایي پر مړي باندي لکه څنګه چې نیاحت او په زوره ژړل د ښځو پر مرده او مړي باندي نارواه دي همدغه شان ضیافت او ډوډۍ تیارول د مړي د وارثانو له طرفه د عامو خلګو لپاره نارواه دي ضیافت او میلمستیا په عربي ژبه کښې هغه ډوډۍ ته وایي چې په هغې کښې د غني او فقیر فرق او تمیزنه وي او همدارنګه د نژدې خلګو او دلېري ځاي د خلګو هم فرق نه وي یعنې دغه طعام او ډوډۍ هر څوک خوري نو دغه قسم طعام او ډوډۍ خوړل د مرده د کورنۍ د خلګو څخه تردرو ورځو پوري نارواه ده تر څو چې دري ورځي وتلي نه وي نو د نژدې خلګو لپاره د میت او مرده د کور څخه چاي او ډوډۍ خوړل نارواه دي ددغي خبري صراحت او ښکاره والي د فقهي شریفي په معتبرو کتابو کښې دي.

علامة ابن الهمام رحمه الله تعالی په فتح القدیر کښې ذکر کړي دي چې مکروه ده میلمستیا تیارول د طعام او ډوډۍ د مړي د وارثانو له طرفه ځکه چې میلمستیا رواه سوي ده په خوشحالیو کښې نه په شرونو او غمونو کښې او دغه میلمستیا او ډوډې تیارول د مړي د وارثانو له طرفه د عامو خلګو لپاره بدا و قبیح عادت او بدعت دی. او علامه طاهربن عبدالرشید البخاري رحمه الله تعالی ویلي دي چې مباح نه

ده تیارول او برابرول د ضیافت او میلمستیا تر درو ورځو پوري ځکه چي میلمستیا په وخت د خوشحالیو کښي خلک جوړوي . او علامة ابن امیرالحاج المالکي رحمه الله تعالی ویلي دي هر چي اصلاح او تیارول د ډوډۍ دي له طرفه د اهل او وارثانو د مړي او راجمع کیدل د خلګو دغه ډوډۍ لره په دې کښي هیڅ شی هم نه دی نقل سوی او دغه ډوډۍ د مړي د وارثانو له طرفه بدعت ده مستحب نه ده

وقال العلامة ابن اميرالحاج المالكيرحمه الله تعالى اما اصلاح اهل الميت طعامًا وجمع الناس فلم ينقل فيه شي وهو بدعة غير مستحب.

او علامة عبدالرحمن الجزیري رحمه الله تعالی ویلي دي چي ځني د هغو مکروه بدعتونو څخه هغه بدعت دی چي نن سبا تر سره کیږي هغه دا چي حیوانات حلالیږي په وخت کښي د وتلو د مړه د کوره څخه و قبرته یا د قبر سره همداشان برابرول د ډوډۍ دي د هغه خلګو لپاره چي د تعزیت او فاتحې او د دعاء لپاره راځي او ورکول د دغه ډوډۍ دوی ته لکه څنګه چي عمومًا دغه فعل او کار په خوشحالیو کي او په محفلونو او مجلسو کښي د خوشحالي کیږي نو کله چي د مړي په وارثانو کښي کشران او نابالغه موجود وي بلوغ ته نه وي رسیدلي نو بیا دغه ډوډي تیارول ودوی ته د خلګو لپاره حرام کار دی .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالي فى ردالمحتار : (قوله وباتخاذ طعام لهم) قال في الفتح ويستحب لجيران أهل الميت والأقرباء الأباعد تهيئة طعام لهم يشبعهم يومهم وليلتهم، لقوله – صلى الله عليه وسلم – «اصنعوا لآل جعفر طعاما فقد جاءهم ما يشغلهم» حسنه الترمذي وصححه الحاكم ولأنه بر ومعروف، .... وقال أيضا: ويكره اتخاذ الضيافة من الطعام من أهل الميت لأنه شرع في السرور لا في الشرور، وهي بدعة مستقبحة: وروى الإمام أحمد وابن ماجه بإسناد صحيح عن جرير بن عبد الله قال " كنا نعد الاجتماع إلى أهل الميت وصنعهم الطعام من النياحة ". اهـ. وفي البزازية: ويكره اتخاذ الطعام في اليوم الأول والثالث وبعد الأسبوع ونقل الطعام إلى القبر في المواسم،...... وهذه الأفعال كلها للسمعة والرياء فيحترز عنها لأنهم لا يريدون بها وجه

الله تعالى. اهـ.

(الدرالمختار مع ردالمحتارج ۲ ص ۲۴۰ مطلب الثواب علي المعصية مكتبه شامله بيروت چاپ / فتاوی محموديه ج ۹ ص ۲۷۶ باب اهداء الثواب الي الميت اردو چاپ / المدخل جلد ۳ ص ۲۷۵ لابن امير الحاج المالكي/خلاصة الفتاوي جلد ۴ ص ۳۴۲ هكذافي الفتاوي الهندية جلد ۱ ص ۱۶۷/الفتاوي التتارخانية جلد ۱ ص ۳۳۲/ الفقه المذاهب الاربعة جلد ۱ ص ۵۳۹/ الفقه الاسلامي وادلته جلد ۲ ص ۵۵۰ فتاوي ابن تيمية جلد ۲۴ ص ۳۱۶/المغني جلد ۲ ص ۴۱۳ زادالمعادفي هدي خير العباد جلد ۱ ص ۴۲۲/التذكرة للامام القرطبي ص ۱۱۱ جلاء القلوب ص ۷۹ فتاوي قاضيخان جلد ۴ ص ۴۲۲ / جامع الرموز جلد ۳ ص ۳۲۸ / كفايت المفتي جلد ۴ ص ۱۸۴/مرقات المفاتيح جلد ۴ ص ۲۲۳ رحمت بيان شرح رشيداالبيان جلد ۲ ص ۴۱۶ ص ۴۱۷ ص ۴۱۵/جراة الايمة ص ۸۱ /المنهاج الواضع ص ۲۶۱امداد الاحكام جلد ۱ ص ۲۰۷/ احكام الميت لمولانا عبدالحي ص ۲۴۵/فتح القدير جلد ۲ ص ۱۰۲ شرح النقاية جلد ۱ ص ۳۳۲/ حلبي كبير ص ۴۰۹ مراقي الفلاح ص ۵۱۰)

د مړي د وار ثانوته تعزيت كول تر څو ورځو رواه دی او تعزيت د څه وخت څخه شروع كيږي ؟

سوال ۴: يو كس چي كله مړسي نو وقريبانوته يه د تسلي او تعزيت مراسم د څه وخت څخه شروع كيږي دهغي ورځي څخه چي دغه شخص وفات سي او كه يوه ورځ وروسته تر مرګ شروع كيږي .

شريعت مطهره او د فقهي شريفي علماء په دغه مسئله كښي څه جواب لري؟

جواب: په فتاوٰي هنديه كښي ذكر سوي دي چي تعزيت د غم او مصيبت څښتن ته ښه كاردی او دايه اهم ذكر كړي دي چي كله يو څوك يو وارد مړي وارثانو ته او اهل ته يو واري تعزيه وكړي نو بيا مناسب او پكار نه ده چي هغه بيا د مړده وارثانو ته بل ځل تعزيت وكړي او وخت د تعزيي له هغه وخته شروع كيږي چي كوم وخت مړده وفات سي تر درو ورځو پوري او د درو ورځو وروسته څخه تعزيت او فاتحې ته ورتلل مكروه دي مګر كه چيري تعزيت كوونكي يا هغه كس چي تعزيت ورته كيږي په اولو درو ورځو كښي د مړي د وفات غايب وي نو بيا باك او پرواه نه لري تر درو ورځو وروسته هم تعزيت وركول كيږي . البته دا په هغه وخت كښي چي د مړي د وارثانو څخه فرياد او بي

صبري ونه لیدل سي او که فریاد او بې صبري وه نو بیا مخکښې تر ښخیدلو هم پروا نه لري

دوهم جواب : علامة طحطاوي رحمه الله تعالی ویلي دي چي وخت د تعزیت د مړي د وارثانو لپاره دهغه وخته شروع کیږي چي کله مرده وفات سي بیا تر درو ورځو پوري او تعزیت په اوّله ورځ باندي افضله او بهتره دی او تر درو ورځو وروسته بیا تعزیت مکروه دی ځکه چي غم او خفګیان تازه کوي او دا د تعزیې څخه خلاف د مقصود دی او مناسب نه دی دهغه چا لپاره چي یو واري تعزیه وکړي او بیا هم تعزیه کوي و وارثانو ته ده مړه او د قبر په خوا کښې هم تعزیت کول مکروه دي او تعزیت وروسته تر ښخولو د مړي افضله دی له مخه تر ښخولو د مړي ځکه چي تر دفن او ښخولو مخکي وارثان د مړي مشغوله وي په تجهیز او تکفین د مړي باندي او غم او وحشت او خفګان د وارثانو زیات وي وروسته تر ښخولو د مړي البتة که وارثانو د مړي سخت فریاد او بې صبري کوله نو بیا دي تر ښخولو مخکښې د مړي دغه تعزیت وکړي چي دوي ته سکون او تسکین پیدا سي.

دریم جواب : علامه حصفکي صاحب رحمه الله تعالی په درمختار کښې ویلي دي چي پروا نسته په تعزیت کولو سره و اهل او وارثانو د مړه ته او ترغیب ورکول و دوی ته د صبر او سکون او تیارول و دوی ته د دوی او پروا نسته په کښینستلو کښې د فاتحې او تعزیت لپاره غیر د مسجد څخه درې ورځې او په اوله ورځ دغه تعزیت بهتره دی او وروسته تر درو ورځو بیا مکروه دی فاتحه او تعزیه مګر د غایب انسان لپاره بیا نه ده مکروه او دوهم وار تعزیه کول و وارثانو ته د مړي هم مکروه ده او د قبر سره هم تعزیت مکروه دی او د کور د دروازي سره هم مکروه دی او تعزیت کوونکی به د مرده وارثانو ته دعاء کوي چي الله جل جلاله دي تاسي ته لوی اجر درکړي او الله جل جلاله دي تاسي ته ښه صبر درکړي او ستاسي مرده ته دي الله جل جلاله بخښنه وکړي تر دغه ځاي د درمختار د مصنف خبري پوره سوي .

خلورم جواب : او علامة ابن عابدین شامي رحمه الله تعالی ددغه خبرو شرح په لاندي الفاظو سره کوي : په الاحکام کښې د خزانة الفتاوی څخه نقل سوي دي چي

کښیناستل په مصیبت کښي دري ورځي د سړیو لپاره دا رواه دي او رخصت په کښي سته شرعًا او ښځي به قطعا تعزیي ته نه کښیني او کښیناستل په مسجد کښي د تعزیت لپاره نو دا مکروه دي لکه چي البحرالرایق کښي د مجتبی کتاب څخه څخه نقل سوي د ي او پر دغه خبره باندي جزم او یقین راغلی دی د منیة المصلي په شرح کښي او په فتح القدیر شرح دهدایه کښي.

حاصل او خلاصه دا سوه چي د مړي د وارثانو لپاره د تعزیت او فاتحي وخت د هغه ورځي څخه شروع کیږي په کومه ورځ چي مړی یعني مرده و فات سي نه د دابلي ورځي څخه او ټوله وخت د تعزیت او فاتحي به دري ورځي وي او تردرو ورځو زیات کښیناستل د تعزیت لپاره مکروه دي او دوهم وار تعزیت ته ورتلل هم مکروه دي او د ښځو لپاره هم د تعزیت دپاره کښېناستل نسته او دغه د تعزیت او فاتحي مراسم به په مسجد کښي نه وي په مسجد کښي دغه مراسم تر سره کول مکروه دي وجه یه داده چي د مسجد د بې ادبۍ احتمال پکښې وي چاوي خوره کیږي داوبو بوتلان پراته وي کورپچي او بالښتان راوړه کیږي د غرمې خواته د نیاوي خبري شروع سي او ډیر خلک بي او داسه مسجد ته راځي او ډیر کسب کاره خلک لکه رنګمالان ،مستریان هغه خپل د کار په کالو کښي مسجد ته راځي چي ځیني وختونه د مسجد د ناپاکه کیدلو سبب هم ګرځي او بله خبره داده چي مسجد د تعزیت ځای نه دی او که ته وایي د قران کریم تلاوت هلته کیږي نو بیا هم دغه کراهت نه ختمیږي ځکه چي مقصود د خلګو د قرءان کریم تلاوت نه دی بلکه مقصود دوی تعزیت دی او علامه شامي رحمه الله تعالی هم په ردالمحتار کښي وایي چي د قرءان کریم په تلاوت سره دغه کراهت نه ختمیږي او که یو څوک حاضرؤو خو په مرګ د مرده نه ؤو خبر هغه که دري ورځي وروسته تعزیت ته ورسي پروا ه نه لري.

لما قال العلامة المؤلف أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي - توفي ١٢٣١ هـ فی حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح :ووقتها من حين يموت إلى ثلاثة أيام وأولها أفضل وتكره بعدها لأنها تجدد الحزن وهو خلاف المقصود منها لأن

المقصود منها ذكر ما يسلي صاحب الميت ويخفف حزنه ويحضه على الصبر كما نبهنا الشارع على هذا المقصود في غير ما حديث قوله: "من حلل الكرامة" أي الدالة على تكريم الله تعالى إياه وقد حث الشارع المصاب على الصبر والاحتساب وطلب الخلف عما تلف فروى مالك في الموطأ عن أم سلمة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: "من أصابته مصيبة فقال كما أمره الله تعالى إنا لله وإنا إليه راجعون اللهم أجرني في مصيبتي وأعقبني خيرا منها إلا فعل الله تعالى ذلك به .

ولما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : ولا بأس بنقله قبل دفنه وبالإعلام بموته وبإرثائه بشعر أو غيره، لكن يكره الإفراط في مدحه لا سيما عند جنازته، لحديث «من تعزى بعزاء الجاهلية وباتخاذ طعام لهم وبالجلوس لها في غير مسجد ثلاثة أيام، وأولها أفضل. وتكره بعدها إلا لغائب. وتكره التعزية ثانيا، وعند القبر، وعند باب الدار؛ ويقول عظم الله أجرك، وأحسن عزاءك وبتعزية أهله وترغيبهم في الصبر

ولما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قوله: وبالجلوس لها) أي للتعزية، واستعمال لا بأس هنا على حقيقته لأنه خلاف الأولى كما صرح به في شرح المنية. وفي الأحكام عن خزانة الفتاوى: الجلوس في المصيبة ثلاثة أيام للرجال جاءت الرخصة فيه، ولا تجلس النساء قطعا اهـ (قوله: في غير مسجد) أما فيه فيكره كما في البحر عن المجتبى، وجزم به في شرح المنية والفتح، لكن في الظهيرية: لا بأس به لأهل الميت في البيت أو المسجد والناس يأتونهم ويعزونهم. اهـ.

(الطحطاوي علي مراقي الفلاح جلد ۱ ص ۶۱۸ مكتبه شامله چاپ / الدر المنتقي علي هامش مجمع الانهر جلد ۱ ص ۱۸۷ / النهر الفايق جلد ۱ ص ۴۰۴/ ردالمحتار جلد ۲ ص مطلب في الثواب علي المعصية ۲۴۱ مكتبه شامله / الطحطاوي جلد ۲ ص ۱۸۲ /الدر المختار جلد ۱ ص ۳۸۳ التتار خانية جلد ۲ ص ۱۸۲/ البحرالرايق جلد ۲ ص ۱۹۲ / الفقه علي المذاهب الاربعة جلد ۱ ص ۵۳۹ / الجوهرة الينرة جلد ۱ ص ۱۴۱/ الفقه الاسلامي جلد ۲ ص ۵۴۳ /مجموعه سبع رسايل ص ۵ /فتاوي هندية جلد ۱ ص ۱۶۷ / البحرالرايق جلد ۲ ص ۱۹۲ الحديقة الندية شرح الطريقة المحمدية ص ۵۷ جلد ۲)

فصل في زيارة القبور

دقبر ځخه دمالګي دراوړولو اوخوړلو حکم.

سوال ۱ :پربعضي قبرونوباندي خلګومالګه ايښي وي کله چي زيارت کوونکي ورسي بيا دامالګه ځکي اوبعضي خلګ بيا دقبرونو خاوره خوري په نيت دشفا اويا يې دنورو حاجتونو لپاره خوري اوس پوښتنه داده چي دقبرونو خاوره خوړل اويا يې مالګه ځکل شرعاً څه حکم لري ؟

جواب :که چيري دقبرستان مځکه وقف وي نو بيايې خاوره راوړل مطلقاً ناجائزه ده او که يې مځکه خپله وي نو بيا دضرورت لپاره يې راوړل کوم مشکل نلري البته تبرکاً دقبرخاوره راوړل او بيا دځان سره ايښوول يا يې خوړل داشرعاً مکروه دي په فتاوی عالمګيريه کښي ليکلي دي چي دمکې مکرمې خاوره خوړل هم مکروه دي نو ديو پيريا يو شخص دقبر خاوره خوړل خو په طريق اولیٰ سره مکروه ده او خاوره خوړل يوازي شرعاً نه بلکي دطب دلحاظه هم تاوانونه لري چي دبېلابيلو مرضونو سبب جوړېږي او پرقبر مالګه ايښوول او بيا ځکل شرعاً هيڅ اصل نلري دا يو امر محدث دی چي بعضي بدعتي خلګو دځانه ځخه جوړکړی دی نوپکار داده چي کله وزيارت ته ورسیـ نو دسنت طريقې مطابق زيارت وکړیـ داده خاوري خوړل يا دمالګي ځکل هيڅ اصل نلري او نه هم په دې شيانو کښي شفا سته او نه هم خاوره ديو چا حاجت ورپوره کولای سي حاجت پوره کونکیـ او شفاورکونکیـ صرف يو الله ﷻ دی بايد والله ﷻ ته مراجعه وکړو او ددې بدعاتو ځخه اجتناب او پرهېز وکړو

(قال العلامة ابن كثير رحمه الله) في تفسير ابن كثير: [وَإِذَا مَرِضْتُ] أَيْ: إِذَا وَقَعْتُ فِي مَرَضٍ فَإِنَّهُ لَا يَقْدِرُ عَلَى شِفَائِي أَحَدٌ غَيْرُهُ، بِمَا يُقَدِّرُ مِنَ الْأَسْبَابِ الْمُوَصِّلَةِ إِلَيْهِ. {وَالَّذِي يُمِيتُنِي}أَيْ: هُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ، لَا يَقْدِرُ عَلَى ذَلِكَ أَحَدٌ سِوَاهُ، فَإِنَّهُ هُوَ الَّذِي يُبْدِئُ وَيُعِيدُ.

(وفي الفتاوى الهندية) الطِّينُ الَّذِي يُحْمَلُ مِنْ مَكَّةَ وَيُسَمَّى طِينَ حَمْزَةَ هَلْ الْكَرَاهِيَةُ فِيهِ كَالْكَرَاهِيَةِ فِي أَكْلِ الطِّينِ عَلَى مَا جَاءَ فِي الْحَدِيثِ؟ قَالَ: الْكَرَاهِيَةُ فِي الْجَمِيعِ مُتَّحِدَةٌ، كَذَا فِي جَوَاهِرِ الْفَتَاوَى.... وَسُئِلَ أَبُو الْقَاسِمِ عَمَّنْ أَكَلَ الطِّينَ قَالَ لَيْسَ ذَلِكَ مِنْ عَمَلِ الْعُقَلَاءِ، كَذَا فِي الْحَاوِي لِلْفَتَاوَى.

(الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۴۰؛ ۳۴۱ كتاب الكراهية مكتبه رشيديه/فتاوى لكنوي ص ۳۷۹ كتاب الحظر والاباحة مكتبه دار ابن حزم بيروت/ فتاوى بزازية علي هامش الهندية ج ۶ ص ۳۶۵ كتاب الكراهية مكتبه رشيديه/ تفسيرابن كثيرج ۳ ص ۳۳۸ سورة الشعرآء بيروت/ نصاب الاحتساب ص ۵۲ الباب العاشر في احتساب الاكل مكتبه دارالعلوم /البحرالرائق ج ۲ ص ۱۵۹ باب العيدين سعيد چاپ / فتاوى محموديه ج ۹ ص ۱۱۶ باب الجنائز/ فتاوى فريديه ج ۲ ص ۲۹۹ كتاب السنةوالبدعة)

ايا ښځي دقبرونو زيارت ته تللای سي که يا ؟

سوال ۲. پوښتنه داده چي نن سبا اکثره ښځي وهديروته دقبرونودزيارت دپاره ځي ايا په شريعت کښې وښځوته دقبرونو دزيارت اجازه راغلې ده که يا ؟

جواب: حضرت مولانا مفتي محمود حسن رحمة الله عليه په فتاوی محموديه کښې چي ددارالعلوم ديوبند فتاوی ده ددغه سوال په جواب کښې ليکلي دي : چي دښځو دپاره دقبرونو دزيارت په مسئله کښې دوه قسمه حديثونه راغلي دي . په يوه کښې اجازه راغلې ده او په بل کښې منع راغلې ده . او ددغه دوو حديثونو دوجي دعلماوو په دغه باره کښې دوه قولونه هم راغلي دي . يوقول دادی چي نارينه وو ته اجازه ده ليکن ښځو ته منع ده . او بل قول دادی چي دښځو دپاره خو في نفسه دقبرونو دزيارت جواز سته ليکن کله چي ښځي وهديرې ته دزيارت دپاره ولاړې سي نو هلته بيا نوري خرابی او مفاسد داسي دي چي دهغو په خاطر ښځي دقبرونو دزيارت کولو څخه منع سوي دي . اول : مثلا دپردې کولو اهتمام او پابندي نه کوي . دوهم : کله چي ښځي هلته ولاړې سي او قبرونه ويني او خصوصا دخپلو اقرباوو او عزيزانو قبرونه چي ويني بې صبري کوي اوژاړي او بغاري وهي خپلي سينې او ځيکرونه په څاپيړو وهي ، او خپل ويښته شکوي ، او خولې په چپلاخو وهي ، او که

هغه قبرونه دبزرګانو وه نو پر هغو باندي طوافونه کوي ، او هغو ته سجده کوي ، او دهغه قبرونو څخه دخپلو مرادونو دپوره کولو خواستونه کوي ، او پرقبرونو باندي شالونه اچوي ، او هلته څراغان او بتیاني لګوي ، او هلته کله کله یو حیوان هم دزیارت پرنامه باندي نذر کوي او حلالوي یې ، او زیارت او قبر ته پرته مالګي خوري . خلاصه دا چي په شرکیاتو او محرماتو کښې مبتلا کیږي لکه څنګه چي نن سبا پر زیارتونو باندي په عمومي شکل سره دا هر څه لیدل کیږي نو ددغه مفاسدو پر بنا باندي دښځو تلل وهدیرې ته دقبرونو دزیارت دپاره نه دي رواه .

ځکه چي دیو مستحب کار په خاطر شریعت یو حرام او ناجائز کار او فعل نه برداشتوي او کوم نارینه چي هم دغسي افعال تر سره کوي هغه هم دقبرونو دزیارتو څخه منع دي .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَرضي الله عنه قال أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ زَوَّارَاتِ الْقُبُورِ . وَفِي البَاب عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ.: «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ» وَقَدْ رَأَى بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ أَنَّ هَذَا كَانَ قَبْلَ أَنْ يُرَخِّصَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي زِيَارَةِ القُبُورِ، فَلَمَّا رَخَّصَ دَخَلَ فِي رُخْصَتِهِ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّمَا كُرِهَ زِيَارَةُ القُبُورِ لِلنِّسَاءِ لِقِلَّةِ صَبْرِهِنَّ وَكَثْرَةِ جَزَعِهِنَّ. رواه الترمذی .باب ماجاء فی کراهیة زیارة القبور للنساء.

قال العلامة علاءالدین الحصفکی : ولابأس بِزِيَارَةِ الْقُبُورِ وَلَوْ لِلنِّسَاءِ لِحَدِيثِ «كُنْت نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ أَلَا فَزُورُوهَا» وقال ابن عابدین تحت (قَوْلُهُ: وَلَوْ لِلنِّسَاءِ) وَقِيلَ: تَحْرُمُ عَلَيْهِنَّ. وَالْأَصَحُّ أَنَّ الرُّخْصَةَ ثَابِتَةٌ لَهُنَّ بَحْرٌ، وَجَزَمَ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ بِالْكَرَاهَةِ لِمَا مَرَّ فِي اتِّبَاعِهِنَّ الْجِنَازَةَ. وَقَالَ الْخَيْرُ الرَّمْلِيُّ: إنْ كَانَ ذَلِكَ لِتَجْدِيدِ الْحُزْنِ وَالْبُكَاءِ وَالنَّدْبِ عَلَى مَا جَرَتْ بِهِ عَادَتُهُنَّ فَلَا تَجُوزُ، وَعَلَيْهِ حُمِلَ حَدِيثُ «لَعَنَ اللَّهُ زَائِرَاتِ الْقُبُورِ» وَإِنْ كَانَ لِلِاعْتِبَارِ وَالتَّرَحُّمِ مِنْ غَيْرِ بُكَاءٍ وَالتَّبَرُّكِ بِزِيَارَةِ قُبُورِ الصَّالِحِينَ فَلَا بَأْسَ إذَا كُنَّ عَجَائِزَ. وَيُكْرَهُ إذَا كُنَّ شَوَابَّ كَحُضُورِ الْجَمَاعَةِ فِي الْمَسَاجِدِ اهـ وَهُوَ تَوْفِيقٌ حَسَنٌ .

(ردالمحتار علي صدر الدرالمختار ج ۲ ص ۲۴۲ كتاب الصلاة ، باب صلاة الجنازة .سعيد چاپ / جامع الترمذی ابواب الجنائز .باب ماجاء في كراهية زيارة القبور للنساء.ج ۱ ص ۲۰۳ سعيد . /

حاشية الطحطاوى علي مراقي الفلاح باب احكام الجنائز فصل في زيارة القبور ص ۶۲۰ قديمي / فتاوى محموديه ج ۹ ص ۱۹۴ / فتاوى حقانيه ج ۱ ص ۵۵۷ كتاب الدعة والرسوم / فتاوى رشيديه / امدادالمفتين)

پر قبرونو باندي ډبري راګرځول او فال ځيني اخيستل .

سوال ۳ : د ټولني ځيني ناپوه او جاهل کسان چي کله هديرې ته ولاړ سي نو ډبري او کاڼي پر قبرونو باندي درې واره راګرځوي او بيا د دې څخه نېک فال اخلي ايا داسي فال اخيستل يا داسي اعمال په هديرو کښې تر سره کول شرعا رواه دي که يا ؟ .

جواب : فال ديو شي څخه راايستل او بيا هغه شرعي حجت او دليل ګڼل او پر هغه باندي د حق او باطل فيصله کول دا عمل درست او رواه نه دی . فقهاوو ليکلي دي چي د قرآن کريم څخه لا فال راايستل او پر هغه باندي عقيده کول ناجائز او نارواه عمل دی قبر خو لا څه کوې چي هغه د بت پرستۍ سره لا هم مشابهت لري . دا ځکه چي ځيني وختونه په دې کښې د قرآن کريم توهين او بې عزتي العياذ بالله راځي ، يا پر هغه باندي بې عقيدګي او بد ګماني راپيدا کيږي . ځکه چي د قرآن کريم ورقي مختلفي کېدای سي يو سړی چي فال راباسي نو يو آيت راوزي بل چي يې راباسي بيا بل آيت راوزي ، او بيا دا هم کېداسي چي کله يو کس د قرآن کريم څخه فال راوباسي او د هغه موافق عمل وکړي د هغه عمل انجام او نتيجه سمه را ونه وزي نو ښکاره خبره چي د دغه کس به پر قرآن کريم باندي العياذ بالله بد ګماني راپيدا کيږي چي دا انسان کفر ته رسوي . خلاصه دا چي فال راايستل که په قبر سره وي يا په بل شي سره شرعا منع دی .

لما قال الملا على القاري رحمه الله تعالى فى شرح الفقه الاكبر : وقد صرح ابن العجمي فى منسكه كما قال : ولايؤخذ الفال من المصحف فان العلمآ ء اختلفوا في ذالک فكرهه بعضهم .... ونص المالكية على تحريمه .... ومن حرمه اعتبر حروف المبنى ...

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وَالْحَاصِلُ أَنَّ الْكَاهِنَ مَنْ يَدَّعِي مَعْرِفَةَ الْغَيْبِ بِأَسْبَابٍ وَهِيَ مُخْتَلِفَةٌ فَلِذَا انْقَسَمَ إلَى أَنْوَاعٍ مُتَعَدِّدَةٍ كَالْعَرَّافِ. وَالرَّمَّالِ وَالْمُنَجِّمِ: وَهُوَ الَّذِي يُخْبِرُ عَنْ الْمُسْتَقْبَلِ بِطُلُوعِ النَّجْمِ وَغُرُوبِهِ، وَالَّذِي يَضْرِبُ بِالْحَصَى،

وَالَّذِي يَدَّعِي أَنَّ لَهُ صَاحِبًا مِنَ الْجِنِّ يُخْبِرُهُ عَمَّا سَيَكُونُ، وَالْكُلُّ مَذْمُومٌ شَرْعًا، مَحْكُومٌ عَلَيْهِمْ وَعَلَى مُصَدِّقِهِمْ بِالْكُفْرِ..

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۶۱۰ / كفايت المفتي ج ۹ ص ۲۲۲ / تعليم الاحكام ص ۲۷۶ / شرح الفقه الاكبر للملا علي القاری ص ۱۴۹ قديمي كتاب خانه / الفتاوی الحديثية مطلب في انه يكره اخذ الفال من المصحف ص ۳۰۷ / مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۶۸ / ۶۹ صحيح مسلم ج ۱ ص ۲۰۹ / فتاوی محموديه ج ۶ ص ۸۶ / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۲ ص ۵۳۴)

پر قبر باندي ډبري درول او پرا اشعار اوایاتونه پر لیکل رواه دي ؟

سوال ۴: پر قبر باندي ډبره ايښودل او بيا پر هغې ډبري باندي د مړي نوم او د وفات تاريخ ليکل د دې لپاره چي د مړي قبر ملعوم وي او ورک نسي آيا دغه ډبري يا تختې د سنګ مرمر او سنګ رخام د قبر سرته درول روا دي که يا؟

جواب: د علامت او تعارف به خاطر چي د دې مړي قبر ورک نسي د مړي نوم او د وفات تاريخ او نېټه پر هغه ډبره ليکل او بيا د قبر د سره څخه معمولي ليري ايښودل جائز دي د ضرورت په خاطر.

او په ځيني حديثو کي منع راغلې ده فقهاؤ ليکلي دي چي منع په هغه صورت کي ده چي ضرورت نه وي ليکلو ته يې نو بلا ضرورت يو قسم اسراف دی. احتياط په دې کي دی چي هغه تخته يا ډبره لږ د مړي د سره څخه ليري ولګول سي چي د حديث مخالفت رانه سي. **تنبيه:** البته پر دغه تخته د قرآن آياتونه، اشعار، د مړي تعريف دا شيان ليکل ناروا دي.

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله فی ردالمحتار : قوله (لا بأس بالكتابة الخ) لأن النهي عنها وإن صح فقد وجد الإجماع العملي بها فقد أخرج الحاكم النهي عنها من طرق ثم قال هذه الأسانيد صحيحة وليس العمل عليها فإن أئمة المسلمين من المشرق والمغرب مكتوب على قبورهم وهو عمل أخذ به الخلف عن السلف اه ويتقوى بما أخرجه أبو داود بإسناد جيد أن رسول الله حمل حجرا فوضعها عند رأس عثمان بن مظعون وقال أتعلم بها قبر أخي وأدفن إليه من تاب من أهلي فإن الكتابة طريق إلى تعرف القبر بها نعم يظهر أن محل هذا الإجماع العملي على الرخصة فيها ما إذا كانت الحاجة داعية إليه في الجملة كما

أشار إليه في المحيط بقوله وإن احتيج إلى الكتابة حتى لا يذهب الأثر ولا يمتهن فلا بأس به فأما الكتابة بغير عذر فلا اه

حتى أنه يكره كتابة شيء عليه من القرآن أو الشعر أو اطراء مدح له ونحو ذلك

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۲ مکتبه حبیبیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۲۶ مکتبة الرشیدیة / فقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۱۵۵۳ مکتبه حبیبیه / کفایت المفتي ج ۴ ص ۵۰ اردو / فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۱۸۵ اردو / فتاوی فریدیه ج ۳ ص ۳۳۳ اردو)

قرآن کریم هدیرې ته دځان سره وړل رواه دی ؟

سوال ۵: قرآن کریم وهدیرې ته د ځان سره یا د مړي سره وړل جواز لري که یا؟ او ځیني خلک استدلال د دغه روایت کوي (نوروا قبورکم بالقرآن) آیا دغه استدلال صحیح دی که یا؟

جواب: مفتي رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی په احسن الفتاوی کي لیکلي دي چي دغه روایت تر اوسه زما تر نظر نه دی تېر سوی که چیري ثابت هم سي دغه حدیث، نو د دې حدیث دا مطلب نه دی چي قرآن کریم د ځان سره هدیرې ته یوسه بلکه د حدیث مطلب دا دی چي تلاوت وکړي او ثوابونه یې مړو ته ورسوي هدیرې ته قرآن کریم وړل هلته ویل د قرون ثلثه بالخیر (صحابه، تابعین، تبع تابعین رضوان الله تعالی علیهم اجمعین) څخه نه دي ثابت .

(احسن الفتاوی ج ۸ ص ۲۰ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۲۵۷ پښتو / فتاوی عثماني ج ۱ ص ۱۱۹ پښتو)

قبروته تلل او هغه مچول روا عمل دی او که ناروا؟

سوال ۶: قبروته تلل او هغه مچول روا عمل دی او که ناروا؟

جواب: دا په حقیقت کي دوه سواله دي قبرستان ته تلل او هلته مړو ته دعاء او تلاوت په نیت د ایصال ثواب کول دا طریقه سنت ده د حدیث څخه ثابته ده البته پر قبرو طواف کول او قبر میله ګاه جوړول او د قبر د کاڼړو مچول دا ټوله افعال حرام او ناروا دي ولي چي دا د اهل کتاب، یهودو او نصارا وو عبادت دی او موږ تاسي باید د هغو سره مشابهت ونه کړو.

لمافي الفقه الاسلامي وادلته : رأي الحنفية: تندب زيارة القبور، للرجال والنساء على الأصح، لما روى ابن أبي شيبة أن رسول الله صلّى الله عليه وسلم «كان يأتي قبور الشهداء بأحد، على رأس كل حول، فيقول: السلام عليكم بما صبرتم، فنعم عقبى الدار» وقد كان رسول الله صلّى الله عليه وسلم يخرج إلى البقيع لزيارة الموتى، ويقول: «السلام عليكم دار قوم مؤمنين، وإنا إن شاء الله بكم لا حقون، أسأل الله لي ولكم العافية» وقال عليه الصلاة والسلام: «كنت نهيتكم عن زيارة القبور، فزوروها، فإنها تذكركم الموت» (٣) وفي لفظ «فإنها تذكِّر الآخرة» .

ولماقال العلامة احمد بن اسماعيل الطحطاوي رحمه الله في حاشية الطحطاوي على المراقي : ولا يمسح القبر ولا يقبله ولا يمسه فإن ذلك من عادة النصارى كذا في شرح الشرعة.

(الفقه الاسلامي وادلته ج ٢ ص ١٥٦٨ مكتبه حبيبيه / الفتاوى الهندية ج ٥ ص ٣٥١ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي علي المراقي ص ٦٢١ مكتبه رشيديه / كفايت المفتي ج ۴ ص ١٩٢ اردو / فتاوى حقانيه ج ١ ص ٥٣۶ پښتو / فتاوى فريديه ج ٣ ص ٣٢۶ پښتو)

دقبر سره دقرآن كريم تلاوت څنګه دى ؟

سوال ۷: تلاوت د قرآن کریم د قبر سره څنګه دی؟

جواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله تعالی به نزد مکروه دی د قرآن کریم تلاوت په هدیره کي او امام محمد رحمه الله فرمايي چي نه دی مکروه فتوی او اجازه پر قول د امام محمد رحمه الله ده کراهت نه لري.

لماقال في الهندية : قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ عِنْدَ الْقُبُورِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – لَا تُكْرَهُ وَمَشَايِخُنَا – رَحِمَهُمْ اللَّهُ تَعَالَى – أَخَذُوا بِقَوْلِهِ وَهَلْ يَنْتَفِعُ وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ يَنْتَفِعُ، هَكَذَا فِي الْمُضْمَرَاتِ.

(الفتاوى الهندية ج ١ ص ١۶۶ مكتبه رشيديه / الفقه الاسلامي وادلته ج ٢ ص ١٥٨٠ مكتبه حبيبيه / مرقاة المفاتيح ج ۴ ص ١٧٣ مكتبه حبيبيه / امدادالفتاوى ج ١ ص ٥٧٢ اردو / فتاوى فريديه ج ٣ ص ٣٢٧ اردو / فتاوى عثماني ج ١ ص ١٢١ پښتو)

ښځه چې مړه سي دې لره دحورو پرځای څه شي سته ؟

سوال۸: تر اوسه موږ دغه خبره د علماء کرامو څخه اورو چې یو نیک انسان د دنیا څخه ولاړ سي، نو هغه ته الله پاک جل جلاله د خدمت لپاره او یا حوري ورکوي لیکن که یوه نیکه ښځه وفات سي هغې ته الله پاک جل جلاله څه ورکوي؟

جواب: د نیکي ښځي بدله دا ده چې هغه به د خپل خاوند سره او سېږي په جنت کي (۲) او بل اعزاز دا دی چې د دغه اویا حورو سرداره به وي (۳) او د ټولو ښځو عمر او قد قامت به یو شان وي (۴) بدنونه د دوی به د عیوبو څخه پاک وي ، او د کومو ښځو نکاح چې نه وي سوې د هغو نکاح به په جنت کي الله پاک د جنت د اوسېدونکو سره وکړي.

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَدْخُلُ أَهْلُ الجَنَّةِ الجَنَّةَ جُرْدًا مُرْدًا مُكَحَّلِينَ أَبْنَاءَ ثَلَاثِينَ أَوْ ثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ سَنَةً» : «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَبَعْضُ أَصْحَابِ قَتَادَةَ رَوَوْا هَذَا عَنْ قَتَادَةَ، مُرْسَلًا وَلَمْ يُسْنِدُوهُ» (رواه ترمذي)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ، لَا تَبْلَى ثِيَابُهُ وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُ» (رواه مسلم)

(صحیح المسلم ج ۴ ص ۲۱۸۱ مکتبه شامله / جامع الترمذي ج ۳ ص ۶۸۲ مکتبه شامله / مشکوة المصابیح ص ۴۹۶ / تفسیر ابن کثیر ج ۶ ص ۹۷ مکتبه رشیدیه / اپ کي مسائل ج ۲ ص ۴۸۹)

دقبرونو او زیارتونو دپاره مستقل سفر رواه دی ؟

سوال۹: د قبرو او د بزرګانو او پیرانو د زیارت لپاره مستقل سفر کول مثلاً د هلمند څخه مزاري ته یا بل ولایت د خپل مراد د حاصلولو لپاره تلل دغه سفر د قرآن او حدیث د نګاه څخه روا ایښت لري که یا؟

جواب: اصل خبره دا ده چې د الله جل جلاله د ذات څخه ماسوا د بل چا څخه خپل حاجتونه او د هغو پورا کول غوښتل شرک دی که یې مزار ته ورسي که یې پر کور ځیني غواړي البته که د هغه څخه غوښتل نه وه مقصد بلکه صرف د هغه قبر زیارت مقصد وي بیا دغه سفر و دغه مزار او قبروته روا دی په لاندي شرائطو سره . اول : په هغه زیارت کي به خلاف شرع امور بدعات او منکرات نه وي . دوهم : لېدونکي

او اوربدونکي به د دوئ په باره کي يعني د تلونکو په باره کي د بدعتيانو گمان نه لري. دريم : علماء محققين او محدثين به د دغه زيارت د پير د ولايت قائله او منونکي وي.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَبِزِيَارَةِ الْقُبُورِ) أَيْ لَا بَأْسَ بِهَا، بَلْ تُنْدَبُ كَمَا فِي الْبَحْرِ عَنْ الْمُجْتَبَى، فَكَانَ يَنْبَغِي التَّصْرِيحُ بِهِ لِلْأَمْرِ بِهَا فِي الْحَدِيثِ الْمَذْكُورِ كَمَا فِي الْإِمْدَادِ، وَتُزَارُ فِي كُلِّ أُسْبُوعٍ كَمَا فِي مُخْتَارَاتِ النَّوَازِلِ. قَالَ فِي شَرْحِ لُبَابِ الْمَنَاسِكِ إلَّا أَنَّ الْأَفْضَلَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَالسَّبْتِ وَالِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ، فَقَدْ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ وَاسِعٍ: الْمَوْتَى يَعْلَمُونَ بِزُوَّارِهِمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَوْمًا قَبْلَهُ وَيَوْمًا بَعْدَهُ، فَتَحَصَّلَ أَنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَفْضَلُ. اهـ. وَفِيهِ يُسْتَحَبُّ أَنْ يَزُورَ شُهَدَاءَ جَبَلِ أُحُدٍ، لِمَا رَوَى ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ: «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَأْتِي قُبُورَ الشُّهَدَاءِ بِأُحُدٍ عَلَى رَأْسِ كُلِّ حَوْلٍ فَيَقُولُ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ» وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَكُونَ يَوْمَ الْخَمِيسِ مُتَطَهِّرًا مُبَكِّرًا لِئَلَّا تَفُوتَهُ الظُّهْرُ بِالْمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ. اهـ.

قُلْت: أُسْتُفِيدَ مِنْهُ نَدْبُ الزِّيَارَةِ وَإِنْ بَعُدَ مَحَلُّهَا. وَهَلْ تُنْدَبُ الرِّحْلَةُ لَهَا كَمَا اُعْتِيدَ مِنْ الرِّحْلَةِ إلَى زِيَارَةِ خَلِيلِ الرَّحْمَنِ وَأَهْلِهِ وَأَوْلَادِهِ، وَزِيَارَةِ السَّيِّدِ الْبَدَوِيِّ وَغَيْرِهِ مِنْ الْأَكَابِرِ الْكِرَامِ؟ لَمْ أَرَ مَنْ صَرَّحَ بِهِ مِنْ أَئِمَّتِنَا، وَمَنَعَ مِنْهُ بَعْضُ أَئِمَّةِ الشَّافِعِيَّةِ إلَّا لِزِيَارَتِهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قِيَاسًا عَلَى مَنْعِ الرِّحْلَةِ لِغَيْرِ الْمَسَاجِدِ الثَّلَاثَةِ. وَرَدَّهُ الْغَزَالِيُّ بِوُضُوحِ الْفَرْقِ، فَإِنَّ مَا عَدَا تِلْكَ الْمَسَاجِدَ الثَّلَاثَةَ مُسْتَوِيَةٌ فِي الْفَضْلِ، فَلَا فَائِدَةَ فِي الرِّحْلَةِ إلَيْهَا. وَأَمَّا الْأَوْلِيَاءُ فَإِنَّهُمْ مُتَفَاوِتُونَ فِي الْقُرْبِ مِنْ اللَّهِ - تَعَالَى، وَنَفْعُ الزَّائِرِينَ بِحَسَبِ مَعَارِفِهِمْ وَأَسْرَارِهِمْ. قَالَ ابْنُ حَجَرٍ فِي فَتَاوِيهِ: وَلَا تُتْرَكُ لِمَا يَحْصُلُ عِنْدَهَا مِنْ مُنْكَرَاتٍ وَمَفَاسِدَ كَاخْتِلَاطِ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَغَيْرِ ذَلِكَ لِأَنَّ الْقُرُبَاتِ لَا تُتْرَكُ لِمِثْلِ ذَلِكَ، بَلْ عَلَى الْإِنْسَانِ فِعْلُهَا وَإِنْكَارُ الْبِدَعِ، بَلْ وَإِزَالَتُهَا إنْ أَمْكَنَ. اهـ. قُلْت: وَيُؤَيِّدُ مَا مَرَّ مِنْ عَدَمِ تَرْكِ اتِّبَاعِ الْجِنَازَةِ، وَإِنْ كَانَ مَعَهَا نِسَاءٌ وَنَائِحَاتٌ تَأَمَّلْ

(ردالمحتارج ۱ ص ۶۶۵ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۵۰ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۹ ص ۲۰۰ اردو / کفایت المفتي ج ۴ ص ۱۹۱ اردو / احسن الفتاوی ج ۸ ص ۲۲۴ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۴۰۶ پښتو)

ایا مدینې منورې ته دمسجد نبوي دزیارت په نیت تګ رواه دی ؟

سوال۱۰: ما په یوه کتاب کښې ولیدل چې و مدینې منورې ته د مسجد نبوي د زیارت په نیت سفر نه دی صحیح او د روضې شریفې سره د شفاعت دعاء کول منع ده .آیا دا خبره تر یوه حده صحیح ده که یا؟ پر روضې شریفې باندې دعاء څنګه ده؟ او طریقه یې څنګه ده مخ به د کعبې شریفې طرف ته کوي که د روضې شریفې طرف ته؟

جواب: دا خبره سراسر غلطه ده چې یو څوک د مسجد نبوي په نیت سفر نه سي کولای او داکار مکروه بولي دغه خبره نه ده صحیح او نه په دې کښې د چا اختلاف سته بلکه د ټولو په نزد دغه سفر صحیح دی، البته بعض خلګ دغه خبره کوي چې د روضې شریفې د زیارت په نیت سفر نه دی صحیح لیکن د جمهورو علماؤ اکابرینو په نزد د مسجد نبوي په سفر کښې د روضې شریفې د زیارت نیت هم باید وسي.

او روضې شریفې ته حاضرېدل او د شفاعت درخواست کول منع نه دی شرعًا د امت فقهاؤ دزیارت نبوي د ادابو په سلسله کښې دا هم لیکلي دي چې کله تاسي سلام وکړئ تر سلام وروسته د شفاعت درخواست وکړئ امام جزري رحمه الله تعالی په حصن حصین نامي کتاب کښې لیکلي دي چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د قبر مبارک سره دعاء قبوله نه سي نو چیرې به قبوله سي.

تر صلاة او سلام او د شفاعت تر درخواست وروسته به مخ پر قبله باندې درېږي او دعاء به کوي او د درود شریف کثرت او ډېروالی او د قرآن کریم تلاوت هم په کافي اندازه سره باید وسي.

لماقال الامام ابن عابدین الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَبِزِيَارَةِ الْقُبُورِ) أَيْ لَا بَأْسَ بِهَا، بَلْ تُنْدَبُ كَمَا فِي الْبَحْرِ عَنْ الْمُجْتَبَى، فَكَانَ يَنْبَغِي التَّصْرِيحُ بِهِ لِلْأَمْرِ بِهَا فِي الْحَدِيثِ الْمَذْكُورِ كَمَا فِي الْإِمْدَادِ، وَتُزَارُ فِي كُلِّ أُسْبُوعٍ كَمَا فِي مُخْتَارَاتِ النَّوَازِلِ. قَالَ فِي شَرْحِ لُبَابِ الْمَنَاسِكِ إلَّا أَنَّ الْأَفْضَلَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَالسَّبْتِ وَالِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ، فَقَدْ قَالَ

مُحَمَّدُ بْنُ وَاسِعٍ: الْمَوْتَى يَعْلَمُونَ بِزُوَّارِهِمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَوْمًا قَبْلَهُ وَيَوْمًا بَعْدَهُ، فَتَحَصَّلَ أَنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَفْضَلُ. اهـ. وَفِيهِ يُسْتَحَبُّ أَنْ يَزُورَ شُهَدَاءَ جَبَلِ أُحُدٍ، لِمَا رَوَى ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ: «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَأْتِي قُبُورَ الشُّهَدَاءِ بِأُحُدٍ عَلَى رَأْسِ كُلِّ حَوْلٍ فَيَقُولُ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ» وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَكُونَ يَوْمَ الْخَمِيسِ مُتَطَهِّرًا مُبَكِّرًا لِئَلَّا تَفُوتَهُ الظُّهْرُ بِالْمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ. اهـ.

قُلْت: اُسْتُفِيدَ مِنْهُ نَدْبُ الزِّيَارَةِ وَإِنْ بَعُدَ مَحَلُّهَا. وَهَلْ تُنْدَبُ الرِّحْلَةُ لَهَا كَمَا اُعْتِيدَ مِنْ الرِّحْلَةِ إلَى زِيَارَةِ خَلِيلِ الرَّحْمَنِ وَأَهْلِهِ وَأَوْلَادِهِ، وَزِيَارَةِ السَّيِّدِ الْبَدَوِيِّ وَغَيْرِهِ مِنْ الْأَكَابِرِ الْكِرَامِ؟ لَمْ أَرَ مَنْ صَرَّحَ بِهِ مِنْ أَئِمَّتِنَا، وَمَنَعَ مِنْهُ بَعْضُ أَئِمَّةِ الشَّافِعِيَّةِ إلَّا لِزِيَارَتِهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قِيَاسًا عَلَى مَنْعِ الرِّحْلَةِ لِغَيْرِ الْمَسَاجِدِ الثَّلَاثَةِ. وَرَدَّهُ الْغَزَالِيُّ بِوُضُوحِ الْفَرْقِ، فَإِنَّ مَا عَدَا تِلْكَ الْمَسَاجِدَ الثَّلَاثَةَ مُسْتَوِيَةٌ فِي الْفَضْلِ، فَلَا فَائِدَةَ فِي الرِّحْلَةِ إلَيْهَا. وَأَمَّا الْأَوْلِيَاءُ فَإِنَّهُمْ مُتَفَاوِتُونَ فِي الْقُرْبِ مِنْ اللَّهِ - تَعَالَى، وَنَفْعُ الزَّائِرِينَ بِحَسَبِ مَعَارِفِهِمْ وَأَسْرَارِهِمْ. قَالَ ابْنُ حَجَرٍ فِي فَتَاوِيهِ: وَلَا تُتْرَكُ لِمَا يَحْصُلُ عِنْدَهَا مِنْ مُنْكَرَاتٍ وَمَفَاسِدَ كَاخْتِلَاطِ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَغَيْرِ ذَلِكَ لِأَنَّ الْقُرُبَاتِ لَا تُتْرَكُ لِمِثْلِ ذَلِكَ، بَلْ عَلَى الْإِنْسَانِ فِعْلُهَا وَإِنْكَارُ الْبِدَعِ، بَلْ وَإِزَالَتُهَا إنْ أَمْكَنَ. اهـ. قُلْت: وَيُؤَيِّدُ مَا مَرَّ مِنْ عَدَمِ تَرْكِ اتِّبَاعِ الْجِنَازَةِ، وَإِنْ كَانَ مَعَهَا نِسَاءٌ وَنَائِحَاتٌ تَأَمَّلْ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۵ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۶۵ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۴۴۱ اردو / فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۳۵۹ اردو / اپ کي مسائل ج ۵ ص ۳۹۱ اردو)

ديوولي قبرته دتللوقصد کول اوتلل څنګه دي شرعاً؟

سوال ۱۱: ديوولي اوبزرګ اوپير مزار ته قصد او اراده کول اوسفرکول اوتلل څنګه دي شرعاً؟

جواب: بغيره ديوې خاصي ورځي دتعين څخه که کله کله څوک ولاړسي نو

څه پروانه لري او دالله د دوستانو مزار او زيارت ته ورتلل د برکت څخه خالي نه دی البته په دې شرط چې پر مزار هغه منکرات او د شرعي خلاف اعمال به نه ترسره کيږي.

قَوْلُهُ وَبِزِيَارَةِ الْقُبُورِ) أَيْ لَا بَأْسَ بِهَا، بَلْ تُنْدَبُ كَمَا فِي الْبَحْرِ عَنْ الْمُجْتَبَى، فَكَانَ يَنْبَغِي التَّصْرِيحُ بِهِ لِلْأَمْرِ بِهَا فِي الْحَدِيثِ الْمَذْكُورِ كَمَا فِي الْإِمْدَادِ، وَتُزَارُ فِي كُلِّ أُسْبُوعٍ كَمَا فِي مُخْتَارَاتِ النَّوَازِلِ. قَالَ فِي شَرْحِ لُبَابِ الْمَنَاسِكِ إلَّا أَنَّ الْأَفْضَلَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَالسَّبْتِ وَالِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ

(ردالمحتار ج ١ ص ٦٦٦ مطلب في زيارة القبور مكتبه حبيبيه/موسوعة الفقهية ج ٢٤ ص ٨٩ حرف الزاء بيروت چاپ/كفايت المفتي ج ٥ ص ٥٥٥/خير الفتاوى ج ٣ ص ٢٠٥/فتاوى دار العلوم ديوبند ج ٥ ص ٤٠٦)

پر قبر باندي دعا غوښتل رواه ده که يا؟

سوال ١٢: د نېکانو فقيرانو صاليحنو او اولياؤ الله پر قبرونو باندي خلک د سورت فاتحې ورسته دعاء غواړي دا کار که چيري رواه وي نو پر کومه طريقه بايد وسي جواب راکړئ؟

جواب: د غه قسم دعاء پر قبرو باندي صحيح او د رسته ده چي وو ايي يا الله ستا د دغه نېک بنده په برکت سره زما دغه حاجت را ترسره کړي او را پوره ئې کړي د دوی په وسيله او واسطه سره.

وَقَدْ ذَكَرَ جَمَاعَةٌ مِنْهُمْ: الشَّيْخُ أَبُو نَصْرِ بْنُ الصَّبَّاغِ فِي كِتَابِهِ "الشَّامِلِ" الْحِكَايَةَ الْمَشْهُورَةَ عَنْ الْعُتْبِي، قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا عِنْدَ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، سَمِعْتُ اللَّهَ يقول: {وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جَاءُوك فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَحِيمًا} وَقَدْ جِئْتُكَ مُسْتَغْفِرًا لِذَنْبِي مُسْتَشْفِعًا بِكَ إِلَى رَبِّي ثُمَّ أَنْشَأَ يَقُولُ يَا خيرَ مَنْ دُفنَت بِالْقَاعِ أعظُمُه فَطَابَ منْ طِيبِهِنَّ القاعُ والأَكَمُ نَفْسي الفداءُ لقبرٍ أَنْتَ ساكنُه فِيهِ العفافُ وَفِيهِ الجودُ والكرمُ ثُمَّ انْصَرَفَ

الْأَعْرَابِيُّ فَغَلَبَتْنِي عَيْنِي، فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّوْمِ فَقَالَ: يَا عُتْبى، الحقْ الْأَعْرَابِيَّ فَبَشِّرْهُ أَنَّ اللَّهَ قَدْ غَفَرَ له

(تفسیرابن کثیر ج ۱ ص ۶۹۱ سورة النساء مکتبه دارالفحیاء/احکام القران للقرطبي ج ۵ ص ۲۵۵/فتاوی محمودیه ج ۱ ص ۳۵۷ /بریقه محمودیه ج ۱ ص ۲۷۰/خیرالفتاوی ج ۳ ص ۲۲۸/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۳۸۳)

استمداد او کومک داهل القبورو څخه رواه دي که یا؟

سوال۱۳: دمړو څخه کومک او مدد غوښتل داحنافو یعني دامام ابو حنیفه صاحب رحمه الله تعالی په مذهب کښي روا ایښت لري که یا ؟

جواب: استمداد من اهل القبور یعني دقبرو دمړو څخه کومک غوښتل که چیري په دې عقیده سره وي چي هغه متصرف الامور دي لکه:چي دعوامو عقیده ده نو دغه صحیح او رواه نه دی بلکي په دې کښي دکفر خوف او بېره ده او که چیري دهغو مطلب داوي چي دالله تعالی څخه ددوی په ذریعه سره دُعاء وکول سي چي یاالله زما فلانی کار دفلاني بزرګ په برکت سره راپوره کړه نو دا صورت جایزدی چي دوسیلې صورت هم دادی.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :إنْ ظَنَّ أَنَّ الْمَيِّتَ يَتَصَرَّفُ فِي الْأُمُورِ دُونَ اللَّهِ تَعَالَى وَاعْتِقَادُهُ ذَلِكَ كُفْرٌ ..... (وفي المهند) عندناوعندمشائخنارحمهم الله تعالى يجوزالتوسل فى الدعوات با الانبياءوالصالحين من الاولياء والشهداء والصديقين فى حياتهم وبعدوفاتهم بان يقول فى دعائه اللهم انى اتوسل اليک بفلان ان تجيب دعوتي وتقضي حاجتى الى غير ذالک

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۳۹ مطلب في النذر مکتبه حبيبيه/مجمع الانهر ج ۲ ص ۵۰۵ باب المرتد مکتبه داراحياءالتراث العربي/بازيه علي هامش الهندية ج ۶ ص ۳۲۶ باب احکام المرتدين مکتبه رشيديه/البحرالرائق ج ۵ ص ۲۰۹ باب احکام المرتدين مکتبه رشيديه/فتاوی محموديه ج ۱ ص ۳۴۵ باب مايتعلق با الاستمداد بغيرالله/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۳۷۷)

فصل في ایصال ثواب

نفلي لمونځونه کوم او ثوابونه یې یو چاته وربخښم .

سوال ۱ : که چیري یو کس نفلي لمونځونه کوي یا نفلي روژې نیسي بیا یې ثواب بل ته وربخښي داسي کول شرعا رواه دي که یا ؟

جواب : دې مسئلې ته د فقهاوو په اصطلاح کي د ایصال ثواب مسئله وایي او زموږ علماوو د دې خبري صراحت او ښکاره والی کړی دی چي یو انسان کولای سي چي د خپل کړي عمل او عبادت ثواب و بل انسان ته وروبخښي هغه عمل نو بیا فرق نه لري که لمونځ وي که روژه وي او که صدقه او خیرات وي . او افضله طریقه یې داده چي یو کس نفلي خیرات او صدقه وکړي او د ټولو مسلمانانو نیت دې په کښې وکړي نو ثواب به یې هم ټولو ته ورسیږي او دده په ثواب کي به هم کوم کمی نه راځي همدغه د اهل السنة والجماعة مذهب دی . والله اعلم

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : صَرَّحَ عُلَمَاؤُنَا فِي بَابِ الْحَجِّ عَنْ الْغَيْرِ بِأَنَّ لِلْإِنْسَانِ أَنْ يَجْعَلَ ثَوَابَ عَمَلِهِ لِغَيْرِهِ صَلَاةً أَوْ صَوْمًا أَوْ صَدَقَةً أَوْ غَيْرَهَا كَذَا فِي الْهِدَايَةِ، بَلْ فِي زَكَاةِ التَّتَارْخَانِيَّة عَنْ الْمُحِيطِ..................و الْأَفْضَلُ لِمَنْ يَتَصَدَّقُ نَفْلًا أَنْ يَنْوِيَ لِجَمِيعِ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ لِأَنَّهَا تَصِلُ إلَيْهِمْ وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ شَيْءٌ اهـ هُوَ مَذْهَبُ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ

عَن أنس رَضِي الله عَنهُ أَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم قَالَ من دخل الْمَقَابِر فَقَرَأَ سُورَة يس خفف الله عَنْهُم وَكَانَ لَهُ بِعَدَد من فِيهَا حَسَنَات .... وَأخرج الطَّبَرَانِيّ فِي الْأَوْسَط بِسَنَد رَوَاهُ عَن أنس مَرْفُوعا أمتِي أمة مَرْحُومَة تدخل قبورها بذنوبها وَتخرج من قبورها لَا ذنُوب عَلَيْهَا يمحص عَنْهَا باستغفار الْمُؤمنِينَ لَهَا . ... وَأخرج إِبْنِ النجار فِي تَارِيخه عَن مَالك بن دِينَار قَالَ دخلت الْمقْبرَة لَيْلَة الْجُمُعَة فَإِذا أَنا بنور مشرق فِيهَا فَقلت لَا إِلَه إِلَّا الله نرى أَن الله عز وَجل قد غفر لأهل الْمَقَابِر فَإِذا أَنا بهاتف يَهْتِف من الْبعد وَهُوَ يَقُول يَا مَالك بن دِينَار هَذِه هَدِيَّة الْمُؤمنِينَ إِلَى إخْوَانهمْ من أهل الْمَقَابِر قلت

بِالَّذِي أنطقك إِلَّا أَخْبَرتِنِي مَا هُوَ قَالَ رجل من الْمُؤمنِينَ قَامَ فِي هَذِه اللَّيْلَة فأسبغ الْوضُوء وَصلى رَكْعَتَيْنِ وَقَرَأَ فيهمَا فَاتِحَة الْكتاب و {قل يَا أَيهَا الْكَافِرُونَ} و {قل هُوَ الله أحد} وَقَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي قد وهبت ثَوَابهَا لأهل الْمَقَابِر من الْمُؤمنِينَ فَأدْخل الله علينا الضياء والنور والفسحة وَالسُّرُور فِي الْمشرق وَالْمغْرب

قَالَ مَالك فَلم أزل أقرؤهما فِي كل لَيْلَة جُمُعَة فَرَأَيْت النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فِي مَنَامِي يَقُول لي يَا مَالك بن دِينَار قد غفر الله لَك بِعَدَد النُّور الَّذِي أهديته إِلَى أمتِي وَلَك ثَوَاب ذَلِك ثمَّ قَالَ لي وَبنى الله لَك بَيْتا فِي الْجنَّة فِي قصر يُقَال لَهُ المنيف قلت وَمَا المنيف قَالَ المطل على أهل الْجنَّة .

(ردالمحتار باب صلوة الجنازة مطلب في القراءة للميت واهداء ثوابها له ج ۲ ص ۲۴۳ سعید چاپ / التاتارخانية كتاب الزكوة الفصل السادس عشر في ايجاب الصدقة ج ۲ ص ۳۱۹ ادارة القرآن / شرح الصدور للسیوطي رحمه الله تعالي باب قرآة القرآن للميت او علي القبر ص ۳۰۴ / ۲۹۹/ ۲۹۸ / دارالمعرفة بيروت / كتاب الروح لابن القيم الجوزية رحمه الله تعالي فصل والدليل علي انتفاعه بغير ما تسبب الخ ۱۵۷ مکتبه فاروقیه پشاور / فتاوی محمودیه ج ۹ ص ۲۰۶ / ۲۰۵ باب اهداء الثواب للميت)

خیرات کول او ثواب یې مړو ته بخښل مړي ته فائده رسوي .

سوال ۲ : خیرات کول یا تلاوت کول او بیا یې ثواب ومړي ته بخښل مړي ته څه فائده رسوي ؟

جواب : خیرات کول یا تلاوت کول خلاصه داچي مالي یا بدني عبادت کول او بیا دمړو وارواحانو ته دایصال ثواب په نیت وربخښل دمړو کسانو په عذاب کښې تخفیف راولي ، او په درجاتو کښې یې ترقي راولي ، او په غم کښې چي دقبر وحشت او یوازي والی دی په هغه کښې کمی راولي ، اودمړو کسانو په خوشحالیو کښې زیاتی راولي .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : صَرَّحَ عُلَمَاؤُنَا فِي بَابِ الْحَجِّ عَنْ الْغَيْرِ بِأَنَّ لِلْإِنْسَانِ أَنْ يَجْعَلَ ثَوَابَ عَمَلِهِ لِغَيْرِهِ صَلَاةً أَوْ صَوْمًا أَوْ صَدَقَةً أَوْ غَيْرَهَا كَذَا فِي الْهِدَايَةِ، بَلْ فِي زَكَاةِ التَّتَارْخَانِيَّة عَنْ الْمُحِيطِ..................و الْأَفْضَلُ لِمَنْ يَتَصَدَّقُ

نَفْلًا أَنْ يَنْوِيَ لِجَمِيعِ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ لِأَنَّهَا تَصِلُ إلَيْهِمْ وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ شَيْءٌ اهـ هُوَ مَذْهَبُ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ،

عَن أنس رَضِي الله عَنهُ أَن رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم قَالَ من دخل الْمَقَابِر فَقَرَأَ سُورَة يس خفف الله عَنْهُم وَكَانَ لَهُ بِعَدَد من فِيهَا حَسَنَات .... وَأخرج الطَّبَرَانِيّ فِي الْأَوْسَط بِسَنَد رَوَاهُ عَن أنس مَرْفُوعا أمتِي أمة مَرْحُومَة تدخل قبورها بذنوبها وَتخرج من قبورها لَا ذنُوب عَلَيْهَا يمحص عَنْهَا باستغفار الْمُؤمنِينَ لَهَا . ... وَأخرج إِبْنِ النجار فِي تَارِيخه عَن مَالك بن دِينَار قَالَ دخلت الْمقْبرَة لَيْلَة الْجُمُعَة فَإِذا أَنا بنُور مشرق فِيهَا فَقلت لَا إِلَه إِلَّا الله نرى أَن الله عز وَجل قد غفر لأهل الْمَقَابِر فَإِذا أَنا بهاتف يَهْتِف من الْبعد وَهُوَ يَقُول يَا مَالك بن دِينَار هَذِه هَدِيَّة الْمُؤمنِينَ إِلَى إخْوَانهمْ من أهل الْمَقَابِر قلت بِالَّذِي أنطقك إِلَّا أَخْبَرتنِي مَا هُوَ قَالَ رجل من الْمُؤمنِينَ قَامَ فِي هَذِه اللَّيْلَة فأسبغ الْوضُوء وَصلى رَكْعَتَيْنِ وَقَرَأَ فيهمَا فَاتِحَة الْكتاب و {قل يَا أَيهَا الْكَافِرُونَ} و {قل هُوَ الله أحد} وَقَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي قد وهبت ثَوَابهَا لأهل الْمَقَابِر من الْمُؤمنِينَ فَأدْخل الله علينا الضياء والنور والفسحة وَالسُّرُور فِي الْمشرق وَالْمغْرب

قَالَ مَالك فَلم أزل أقرؤهما فِي كل لَيْلَة جُمُعَة فَرَأَيْت النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فِي مَنَامِي يَقُول لي يَا مَالك بن دِينَار قد غفر الله لَك بِعَدَد النُّور الَّذِي أهديته إِلَى أمتِي وَلَك ثَوَاب ذَلِك ثمَّ قَالَ لي وَبنى الله لَك بَيْتا فِي الْجنَّة فِي قصر يُقَال لَهُ المنيف قلت وَمَا المنيف قَالَ المطل على أهل الْجنَّة .

(ردالمحتار باب صلوة الجنازة مطلب في القراءة للميت واهداء ثوابها له ج ٢ ص ٢٤٣ سعيد چاپ / التاتارخانية كتاب الزكوة الفصل السادس عشر في ايجاب الصدقة ج ٢ ص ٣١٩ ادارة القرآن / شرح الصدور للسيوطي رحمه الله تعالي باب قرآة القرآن للميت او علي القبر ص ٣٠٤ / ٢٩٩/ ٢٩٨ / دار المعرفة بيروت / كتاب الروح لابن القيم الجوزية رحمه الله تعالي فصل والدليل علي انتفاعه بغير ما تسبب الخ ١٥٧ مكتبه فاروقيه پشاور / فتاوى محموديه ج ٩ ص ٢٠٦ / ٢٠٥ باب اهداء الثواب للميت)

ایایو څوک مړه انسان ته دبدني عبادت ثواب بخښلي سي؟

سوال ۳: ایا مړو کسانو ته چي مړه سوي وي د بدني عبادت ثواب هم ژوندی انسان وربخښلای سي لکه روژه یې ونیول نفلاتو نه یې وکړه او بیا یې ثوابونه ومړو ته ور وبخښي دا صحیح دی دغه بخشش دوئ ته کېږي که نه دی؟ او که فقط د مالي عبادت ثوابونه به وربخښي؟

جواب: که مړه دي که ژوندي دي ټولو ته انسان د خپلو نیکو اعمالو ثوابونه ور بخښلای سي که بدني عبادت وي لکه لمونځ روژه یا مالي عبادت وي لکه خیرات د غوښو یا ډوډی یا د جامو وغیره هیڅ فرق یې نسته په صحت کښي.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وَفِي الْبَحْرِ: مَنْ صَامَ أَوْ صَلَّى أَوْ تَصَدَّقَ وَجَعَلَ ثَوَابَهُ لِغَيْرِهِ مِنْ الْأَمْوَاتِ وَالْأَحْيَاءِ جَازَ، وَيَصِلُ ثَوَابُهَا إلَيْهِمْ عِنْدَ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ كَذَا فِي الْبَدَائِعِ، ثُمَّ قَالَ: وَبِهَذَا عُلِمَ أَنَّهُ لَا فَرْقَ بَيْنَ أَنْ يَكُونَ الْمَجْعُولُ لَهُ مَيِّتًا أَوْ حَيًّا. وَالظَّاهِرُ أَنَّهُ لَا فَرْقَ بَيْنَ أَنْ يَنْوِيَ بِهِ عِنْدَ الْفِعْلِ لِلْغَيْرِ أَوْ يَفْعَلَهُ لِنَفْسِهِ ثُمَّ بَعْدَ ذَلِكَ يَجْعَلُ ثَوَابَهُ لِغَيْرِهِ، لِإِطْلَاقِ كَلَامِهِمْ، وَأَنَّهُ لَا فَرْقَ بَيْنَ الْفَرْضِ وَالنَّفَلِ. اه. وَفِي جَامِعِ الْفَتَاوَى: وَقِيلَ: لَا يَجُوزُ فِي الْفَرَائِضِ اه.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۶ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۳ ص ۱۰۵ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۹ ص ۳۰۳ اردو / فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۹۸ اردو / اپ کي مسائل ج ۴ ص ۴۱۱ اردو)

ایصال ثواب کولو والاته هم ثواب او اجر رسیږي که یا؟

سوال ۴: یو کس قرآن شریف و وایه او د خپل دوست پر نامه ئې د ایصال ثواب په نیت وروبخښي ایا د دغه کار ثواب خپله دغه تلاوت کونکي ته هم رسیږي که یا ؟

جواب: د قرآن کریم د تلاوت ثواب دهغه مړي و روح ته رسیږي پاته سوه دا خبره چي دغه کس یو نیک کار کړی دی نو دغه تلاوت کونکي ته به الله پاک د دغه نیک کار لس چنده ثواب ورکړي یا تر دې لا هم زیات خو اخلاص به پکښې وي ځکه بېله اخلاصه هیڅ یو عمل هم الله پاک ته قبول نه دی.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :وَقَدَّمْنَا فِي الزَّكَاةِ عَنْ التَّتَارْخَانِيَّة عَنْ الْمُحِيطِ الْأَفْضَلُ لِمَنْ يَتَصَدَّقُ نَفْلًا أَنْ يَنْوِيَ لِجَمِيعِ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ لِأَنَّهَا تَصِلُ إلَيْهِمْ وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ شَيْءٌ.

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۶ مطلب في زيارة القبور مكتبه حبيبيه /شرح الصدور ص ۳۰۸ /ستاسومسائل اودهغوی حل ج ۴ ص ۴۲۲ /فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۳۹۱ مکتبه رشیدیه)

فصل في احکام الشهید

شهید دڅونفروشفاعت کوي اودقبردعذاب څخه څوک خلاصوي ؟

سوال ۱ :دشهید په باره کښي موږ اورېدلي دي چي دخپلي کورنۍ شفاعت کوي خودپوښتني خبره د اده چي دشهید دشفاعت په وجه یو کس دقبر دعذابه څخه خلاصېدلای سي که یا ؟

جواب :شهادت په معنیٰ دحاضر والۍ دی او دشهید لفظ دشهادت څخه اخیستل سویدی اویا شهید په معنیٰ دمشهود دی ځکه چي وشهید لره جنت حاضرېږي اویا شهید په معنیٰ دشاهد دی ځکه چي شهید وخپل رب جل جلاله لره ژوندی حاضرېږي او شهادت هغه چاته رسیږي چي دده مقصد اعلاء کلمة الله وي اودا نهایت عظیم او اعلیٰ درجه عمل دی او ترټولو عباداتو دغه شهادت فائق او برتر دی دحضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ وفرمایل چي وجنت ته ترټولو مخکي دري ډلي داخلیږي او نبي کریم ﷺ په دغه درو ډلو کښي اول شهیدان یاد کړل چي شهیدان به اول جنت ته داخلیږي :او په یوبل حدیث شریف کښي راځي چي الله ﷻ وشهید لره شپږ (۶) خصوصیات ورکوي (۱) کله چي یو کس شهید کړل سي نو دده روح به دبدن څخه نوي وتلې چي الله رب العزت ﷻ به دده ټوله ګناهونه وبخښي (۲) او کله چي دی وویشتل سي نو الله ﷻ به وده ته دده ځای په جنت کښي وربنکاره کړي (۳) دعذاب قبر څخه به نجات او خلاصون ورته حاصل سي (۴) دحساب او کتاب دورځي دهغه لوی هیبت او دبدبې څخه به په امن کښي وي (۵) دقیامت په ورځ به یې دیاقوتو داسي تاج پرسروي چي تر دنیا او ما فیها به بهتره وي (۶) په جنت کښي به هغه بهتري دو اویا (۷۲) حوري دده په نکاح کښي وي : او ترټولو غټ اعزاز او بهتر والی یې دادی چي دخپلي کورنۍ د اویا (۷۰) نفرو شفاعت به په ورځ دقیامت کوي نو دا هغه دشهید مقام او دخپلي کورنۍ لپاره یې دشفاعت ثبوت وو.

پاته سو دا سوال چي د شهيد په وجه يو کس د قبر د عذابه څخه خلاصېدلای سي که يا ؟ نو جواب داد ی چي د شهيد شفاعت تر قيامته پو ري خاص د ی کله چي د قيامت ورځ سي او ټوله مخلوقات د الله ﷻ په حضور کښي و دريږي نو بيا به شهيد د خپلو قريبانو شفاعت کوي الله اعلم بالصواب

عُتْبَةَ الذِّمَارِيُّ، قَالَ: دَخَلْنَا عَلَى أُمِّ الدَّرْدَاءِ وَنَحْنُ أَيْتَامٌ، فَقَالَتْ: أَبْشِرُوا، فَإِنِّي سَمِعْتُ أَبَا الدَّرْدَاءَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُشَفَّعُ الشَّهِيدُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ»

وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُشَفَّعُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةٌ: الْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الْعُلَمَاءُ، ثُمَّ الشُّهَدَاءُ

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار على الدرالمختار :وَمَنْ قُتِلَ مُجَاهِدًا أَوْ مَاتَ مُرَابِطًا فَحَرَامٌ عَلَى الْأَرْضِ أَنْ تَأْكُلَ لَحْمَهُ وَدَمَهُ وَلَمْ يَخْرُجْ مِنْ الدُّنْيَا، حَتَّى يَخْرُجَ مِنْ ذُنُوبِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ، وَحَتَّى يَرَى مَقْعَدَهُ مِنْ الْجَنَّةِ وَزَوْجَتَهُ مِنْ الْحُورِ الْعِينِ وَحَتَّى يَشْفَعَ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ وَيُجْرَى لَهُ أَجْرُ الرِّبَاطِ إلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ» وَظَاهِرُهُ أَنَّ مَنْ مَاتَ مُرَابِطًا يَكُونُ حَيًّا فِي قَبْرِهِ كَالشَّهِيدِ وَبِهِ يَظْهَرُ مَعْنَى إجْرَاءِ رِزْقِهِ عَلَيْهِ.(ردالمحتار)

(ردالمحتار ج ۴ ص ۱۲۲ کتاب الجهاد مکتبه شامله بېروت/ سنن ابي داود ج ۳ ص ۱۵ باب في الشهيد يشفع مکتبه شامله بېروت / مسندالبزار ج ۱۰ ص ۲۵ حديث ابي الدردآء مکتبه شامله بېروت/ السنن الکبري للبيهقي ج ۹ ص ۲۷۷ باب الشهيد يشفع مکتبه شامله بېروت/ مرقات المفاتيح شرح مشکوة المصابيح ج ۸ ص ۳۵۷ باب صفة الجنة واهلها مکتبه شامله بېروت/ عون المعبود وحاشية ابن قيم ج ۱۳ ص ۱۷۲ باب في اللعن مکتبه شامله بېروت/ قاموس الفقه ج ۴ ص ۲۱۱ بحث شهيد / موسوعة الفقهية ج ۲۶ ص ۲۷۲ مکتبه حقانيه)

کله چي ديو غازي سره عام خلک چي غزانه کوي دمينځه ولاړ سي .

سوال ۲ : کله چي يو غازي غزا کوي او بيا په دغه دوران کښي د جنګ نور عام خلک چي غزا نه کوي د مينځه څخه ولاړ سي [چي مو ږ ملکيان يا وطنيان ورته وايو] يعني مړه سي نو دا هم شهيدان دي که يا ؟

جواب: داسي کسان ځرنګه چي بې ګناه کسان دي لهذا دوی ته هم شهیدان ویل کیږي او دوی د شهیدانو په حکم کښي بلل کیږي .

(البحرالرائق ج ۲ ص ۱۹۴ باب الشهید : درالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۶۷ باب الشهید : فتاوی هندیه ج ۱ ص ۶۷۰ فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۹۰)

ایاشهید ته هم دشهادت په وخت کښي په وخت کښې شیطان راځي ؟

سوال ۳ : موږ اوریدلي دي چي یو کس کله وفات کیږي نو شیطان د مرګ په وخت کښې ورته حاضریږي پوښتنه داده چي شهید ته هم د مرګ په وخت کښې شیطان حاضریږي که یا ؟

جواب : د قرآن کریم په اتلسمه پاره کښې د سورة المومنون په اته نویم (۹۸) ایت کښې د الله جل جلاله ارشاد مبارک دی .(وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ ((۹۸)) (**ژباړه**) او پناه غواړم په تا پوري ای زما ربه چي حاضر سي شیطانان ماته په لمانځه کښې یا په تلاوت د قرآن کښې یا د ځکندن په وخت کښې . نو د دې آیت په تفسیر کښې دا ویل سوي دي چي شیطانان د مرګ او ځکندن په حالت کښې وانسان ته راځي . او په حدیث شریف کښې نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم د دغسي حالت څخه پناه غوښتې ده چي یا الله زه پناه غواړم د داسي حالته څخه چي ماته شیطانان د مرګ او ځکندن په حالت کښې راسي دومره اندازه خبره خو ثابته سوه چي د مرګ په وخت کښې انسان ته شیطانان راځي او پاته سوه دا خبره چي شهید ته راځي که نه راځي نو ښکاره خبره ده چي د شهادت مرګ یوه داسي د سعادت او نیکبختی مرتبه ده چي هرچاته نه حاصلیږي هغه چاته یې الله جل جلاله نصیب کوي چي د الله جل جلاله خوښ او پر هغه باندي ګران وي او څوک چي د الله جل جلاله خوښ سو او پر هغه ګران سو او شهادت غوندي اعلی درجه یې ورنصیب کړه نو هغه ذات دا هم کولای سي چي د شیطان د دغه جبټکې څخه یې محفوظه کړي او هم دغه ګمان پکار دی چي شهید ته د مرګ په وخت کښې شیطان نه راځي او که راهم سي ورته نو الله جل جلاله یې ساتنه کوي . والله اعلم .

وَقَوْلُهُ: {وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ} أَيْ: فِي شَيْءٍ مِنْ أَمْرِي؛ وَلِهَذَا أَمَرَ بِذِكْرِ اللَّهِ فِي ابْتِدَاءِ الْأُمُورِ –وَذَلِكَ مَطْرَدَةٌ لِلشَّيَاطِينِ (٧) –عِنْدَ الْأَكْلِ وَالْجِمَاعِ وَالذَّبْحِ، وَغَيْرِ ذَلِكَ مِنَ الْأُمُورِ؛ وَلِهَذَا رَوَى أَبُو دَاوُدَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَرَمِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَدْمِ وَمِنَ الْغَرَقِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ يَتَخَبَّطَنِيَ الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ" (٨) .

{وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يحضرون} أمر صلى الله عليه وسلم بأنْ يعوذَ به تعالى من حضورِهم بعد ما أمر بالعوذ من همزاتِهم للمبالغة في التَّحذيرِ مِن مُلابستهم وإعادةُ الفعلِ مع تكريرِ النِّداءِ لإظهارِ كمالِ الاعتناءِ بالمأمورِ به وعرضِ نهايةِ الابتهالِ في الاستدعاءِ أي أعوذُ بك مِن أنْ يحضرونِي ويحومُوا حولي في حالٍ من الأحوالِ وتخصيصُ حالِ الصَّلاةِ وقراءةِ القُرآنِ كما رُوِيَ عن ابنِ عباس رضي الله عنهما وحالِ حلولِ الأجلِ كما روى عن عكرمة رحمه الله لأنَّها أحرى الأحوالِ بالاستعاذةِ منها

(تفسير ابي السعود ج ۶ ص ۱۵۰ بيروت چاپ / تفسير ابن كثير ج ۴ ص ۴۹۱ مكتبه رشيديه / تفسير كابلي ج ۲ ص ۲۷۵ / سنن ابي داود رقم الحديث ۱۵۵۲)

كه چيري يوشخص نريابنځه دجنابت په حالت كښي شهادت ورسيږي .

سوال ۴: كه چيري يو كس په داسي حالت كښي شهيد سي چي په حال كښي د جنابت وي يا يوه ښځه په داسي حالت كښي په شهادت ورسيږي چي د جنابت په حالت كښي وي يا د كورنۍ مريضۍ په حال كښي وي آيا غسل وركول كيږي كه يا؟

جواب: هر هغه كس كه نر وي كه ښځه چي په داسي حالت كښي په شهادت ورسيږي چي په حالت كښي د جنابت وي يا هغه ښځه په حالت كښي د حيض او نفاس وي، وداسي نارينه او ښځينه دواړو ته غسل وركول واجب دی، زموږ د فقهي په كتابو كښي د شهيد په تعريف كښي دغه قيد ونه ستهٔ، وكان مسلما وبالغا خاليا عن حيض ونفاس وجنابة الخ، چي دغه شهيد به مسلمان وي بالغ به وي د حيض او نفاس او جنابت څخه به خالي وي.

وفي الفتاوى الهندية : وَيُغَسَّلُ إنْ قُتِلَ جُنُبًا أَوْ صَبِيًّا مَجْنُونًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – هَكَذَا فِي التَّبْيِينِ وَكَذَا تُغَسَّلُ إنْ قُتِلَتْ حَائِضًا أَوْ نُفَسَاءَ إنْ طَهُرَتَا وَتَمَّ الِانْقِطَاعُ فَإِنْ لَمْ يَنْقَطِعْ تُغَسَّلُ إنْ صَلُحَ الْمَرْئِيُّ حَيْضًا فِي الْأَصَحِّ، هَكَذَا فِي الْكَافِي.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۶۸ الفصل السابع في الشهيد / ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۹ / البحرالرائق ج ۲ ص مي۳۴۶ الفقه الاسلامي ج ۲ ص ۱۵۸۶)

دشهيد هغه وينه چي په خاورو کښې بهېدلې ورسره ښخول .

سوال ۵ : که چيري ديو شهيد څخه وينه پر خاورو باندي وبهيږي نو هغه وينه ورسره ښخه کړی سي او که پر هغه ځای باندي پريولل سي يا پټه کړل سي په خاورو کښې ؟

جواب : دشهيد په باره کښې دشريعت مطهره حکم دادی چي بايد دخپلو وينو سره ښخ کړل سي خو هغه ويني چي دده دبدن او کالو سره مښتي وي نه هغه ويني چي پر مځکه يا بل شي باندي ځيني بهيدلي وي هغه بايد يا په اوبو باندي پريولل سي او يا بايد تر خاورو لاندي پټې کړل سي .

لما في مختصر القدوري : (قَوْلُهُ وَلَا يُغْسَلُ عَنْ الشَّهِيدِ دَمُهُ) لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ السَّلَامُ – فِي شُهَدَاءِ أُحُدٍ «زَمِّلُوهُمْ بِدِمَائِهِمْ وَكُلُومِهِمْ» وَدَمُ الشَّهِيدِ طَاهِرٌ فِي حَقِّ نَفْسِهِ نَجِسٌ فِي حَقِّ غَيْرِهِ حَتَّى أَنَّهُ إذَا صَلَّى حَامِلًا الشَّهِيدَ تَجُوزُ صَلَاتُهُ وَإِنْ وَقَعَ دَمُهُ فِي ثَوْبِ إنْسَانٍ لَا تَجُوزُ الصَّلَاةُ فِيهِ. (قَوْلُهُ وَلَا تُنْزَعُ عَنْهُ ثِيَابُهُ وَيُنْزَعُ عَنْهُ الْفَرْوُ وَالْخُفُّ وَالْحَشْوُ وَالسِّلَاحُ) الْفَرْوُ الْمَصْنُوعُ مِنْ جُلُودِ الْفِرَاءِ وَالْحَشْوُ الثَّوْبُ الْمَحْشُوُّ قُطْنًا لِأَنَّهُ إنَّمَا لَبِسَ هَذِهِ الْأَشْيَاءَ لِدَفْعِ بَأْسِ الْعَدُوِّ وَقَدْ اُسْتُغْنِيَ عَنْ ذَلِكَ

(الجوهرة النيرة شرح مختصرالقدوري ج ۱ ص ۱۱۱ بيروت چاپ / التسهيل الضروري لمسائل القدوري ص ۱۰۵)

دشهيد وينه پاکه ده که نا پاکه .

سوال ۶ : دشهيد وينه دشريعت دنګاه څخه پاکه ده که ناپاکه ؟

جواب : دشهيد وينه پاکه ده که څه هم بهېدونکي وينه وي خو دا هغه وخت چي دشهيد پر بدن باندي مښتې او لګېدلې وي . او کوم وخت چي دشهيد دبدن څخه جلا سوه نو بيا دعامو وينو په شان ناپاکه ده . لهذا دشهيد هغه جامې چي دده څخه

کښېنل سوي وي باید پرېښودل سي او استفاده ځیني وانه اخیستل سي. مقصد دا چي مینځل یې ډېر ضروري دي ځکه چي په دې وخت کښې دعوامو عقیدې داسي جوړي سوي دي که ونه مینځل سي نو دوی دغه جامې را اخلي او بیا یې ټوټه ټوټه کوي او دتعویذ کار ځیني اخلي یا دخوردې کار ځیني اخلي یا یې دځان سره پټوي دتبرک او برکت په نیت حال دا چي ددې هیڅ قسم اجازت شرعا نسته ځکه چي دا وینه ناپاکه ده .

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ، فَهُوَ رَدٌّ» رواه البخاري .

وفى الجوهرة النيرة : (قَوْلُهُ وَلَا يُغْسَلُ عَنْ الشَّهِيدِ دَمُهُ) لِقَوْلِهِ – عَلَيْهِ السَّلَامُ – فِي شُهَدَاءِ أُحُدٍ «زَمِّلُوهُمْ بِدِمَائِهِمْ وَكُلُومِهِمْ» وَدَمُ الشَّهِيدِ طَاهِرٌ فِي حَقِّ نَفْسِهِ نَجِسٌ فِي حَقِّ غَيْرِهِ حَتَّى أَنَّهُ إذَا صَلَّى حَامِلًا الشَّهِيدَ تَجُوزُ صَلَاتُهُ وَإِنْ وَقَعَ دَمُهُ فِي ثَوْبِ إنْسَانٍ لَا تَجُوزُ الصَّلَاةُ فِيهِ.

ولما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وَدَمٍ) مَسْفُوحٍ مِنْ سَائِرِ الْحَيَوَانَاتِ إلَّا دَمَ شَهِيدٍ مَا دَامَ عَلَيْهِ قال العلامة عابدين : (قَوْلُهُ: إلَّا دَمَ شَهِيدٍ) أَيْ: وَلَوْ مَسْفُوحًا كَمَا اقْتَضَاهُ كَلَامُهُ وَكَلَامُ الْبَحْرِ. (قَوْلُهُ: مَا دَامَ عَلَيْهِ) فَلَوْ حَمَلَهُ الْمُصَلِّي جَازَتْ صَلَاتُهُ إلَّا إذَا أَصَابَهُ مِنْهُ؛ لِأَنَّهُ زَالَ عَنْ الْمَكَانِ الَّذِي حُكِمَ بِطَهَارَتِهِ حَمَوِيٌّ، وَنَحْوُهُ فِي الْحِلْيَةِ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۱ ص ۳۱۹ مکتبه شامله بیروت چاپ / الجوهرة النيرة ج ۱ ص ۱۱۱ بیروت چاپ / التسهيل الضروري لمسائل القدوري ص ۱۰۵ / فتاوی فیضیه ص ۲۱۳ / صحيح البخاري ج ۳ ص ۱۸۴ باب إذا اصطلحوا علي صلح جور فالصلح مردود مکتبه شامله بیروت چاپ)

کوچني که شهید سو نو غسل غواړي .

سوال ۷ : که چیري یو کوچنی په شهادت باندي ورسیږي نو غسل غواړي که یا ؟

جواب : کوچنی که چیري شهید سي نو هغه ته غسل ورکول ضروري دي ځکه چي مکلف نه دی که چیري مکلف وای نو بیا غسل نه ورکول کیدی البته که چیري جنب او حیض و نفاس والا نبځه وي نو بیا ورته غسل ورکول ضروري دی .

لما فی الفتاوی الهندية : ويغسل إن قتل جنبا أو صبيا مجنونا عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى – هكذا في التبيين وكذا تغسل إن قتلت حائضا أو نفساء إن طهرتا وتم الانقطاع فإن لم ينقطع تغسل إن صلح المرئي حيضا في الأصح، هكذا في الكافي.

(الفتاوی الهندية كتاب الصلوة الباب الحادی والعشرون في الجنائز الفصل السابع في الشهيد ج ۱ ص ۱۶۷ / ۱۶۸ مكتبه رشيديه / الدرالمختار مع ردالمحتار باب الشهيد ج ۲ ص ۲۴۷ / ۲۴۸ مكتبه شامله بيروت چاپ / فتاوی محموديه ج ۹ ص ۳۰۴ باب احكام الشهيد/ فتاوی تاتارخانيه ج ۳ ص ۱۷ مكتبه فاروقيه كويټه)

ايا شهيد ته غسل او كفن وركول كيږي كه يا ؟

سوال ۸ : كه چيري يو شخص شهيد كړل سو نو دغه شهيد ته غسل او كفن وركول كيږي كه يا ؟

جواب : كه چيري يو شخص شهيد كړل سو نو دغه شهيد ته غسل نه وركول كيږي او كومي جامي چي ده اغوستي دي هغه دده لپاره كفن دی د هغه جامو (كالو) سره دي ښخ كړل سي البته هغه اضافه شيان چي د كفن لپاره مناسب نه وي لكه كوټ، صدری، او داسي نور هغه دي څني ليري كړي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فی الدرالمختار على هامش ردالمحتار :

(فَيُنْزَعُ عَنْهُ مَا لَا يَصْلُحُ لِلْكَفَنِ، وَيُزَادُ) إنْ نَقَصَ مَا عَلَيْهِ عَنْ كَفَنِ السُّنَّةِ (وَيُنْقَصُ) إنْ زَادَ لِأَجْلِ أَنْ (يَتِمَّ كَفَنُهُ) الْمَسْنُونُ (وَيُصَلَّى عَلَيْهِ بِلَا غُسْلٍ وَيُدْفَنُ بِدَمِهِ وَثِيَابِهِ) لِحَدِيثِ «زَمِّلُوهُمْ بِكُلُومِهِمْ»

وفي الهنديه : وَحُكْمُهُ أَنْ لَا يُغَسَّلَ وَيُصَلَّى عَلَيْهِ، كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ وَيُدْفَنُ بِدَمِهِ وَثِيَابِهِ، كَذَا فِي الْكَافِي وَلَوْ كَانَ فِي ثَوْبِ الشَّهِيدِ نَجَاسَةٌ تُغْسَلُ، كَذَا فِي الْعَتَّابِيَّةِ.وَيُنْزَعُ عَنْهُ مَا لَيْسَ مِنْ جِنْسِ الْكَفَنِ نَحْوُ السِّلَاحِ وَالْجُلُودِ وَالْفَرْوِ وَالْحَشْوِ وَالْخُفِّ وَالْقَلَنْسُوَةِ وَالسَّرَاوِيلِ وَلَمْ يَذْكُرْ مُحَمَّدٌ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – السَّرَاوِيلَ إلَّا فِي السِّيَرِ وَكَانَ الشَّيْخُ أَبُو جَعْفَرٍ الْهِنْدُوَانِيُّ يَقُولُ الْأَشْبَهُ: أَنْ لَا يُنْزَعَ السَّرَاوِيلُ وَوَافَقَهُ فِي ذَلِكَ كَثِيرٌ مِنْ مَشَايِخِنَا –

رَحِمَهُمْ اللَّهُ تَعَالَى – هَكَذَا فِي الْمُحِيطِ.وَيُزَادُ حَتَّى يَتِمَّ الْكَفَنُ وَيُنْقَصُ إنْ كَانَ زِيَادَةً عَلَى سُنَّةِ الْكَفَنِ، كَذَا فِي الْكَافِي وَيُجْعَلُ الْحَنُوطُ لِلشَّهِيدِ كَمَا فِي الْمَيِّتِ، كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ.

(الدرمختار علي هامش ردالمحتار ج ۱ ص ۶۷۱ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۱۶۷ مکتبه رشیدیه / تبین الحقائق ج ۱ ص ۲۴۷ مکتبه اشرفیه / حاشية الطحطاوي ص ۶۲۶ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۹ ص ۳۰۴ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۴۱۸ پښتو)

دبمبارۍ وشهیدانو ته غسل ورکول کیږي که یا ؟

سوال ۹ : د کفارو سره د جنګ په دوران کي چي کوم مسلمانان د دوی د هوايي بمبارۍ په حملو کي شهیدان سي غسل غواړي که یا ؟

جواب : پر کلو او کورونو چي د کفارو د طرفه څخه د هوايي بمبارۍ په نتیجه کي چي کوم کسان شهیدان سي پر دغه کسانو باندي د شهادت دنیوي او اخروي احکام جاري کیږي او دوی ته غسل نه ورکول کیږي .

وفی الفتاوی الهندیة : والأصل أن كل من صار مقتولا في قتال ثلاث أهل الحرب أو البغاة أو قطاع الطريق بمعنى مضاف العدو وسواء كان بالمباشرة أو التسبيب كان شهيدا وكل من صار مقتولا بمعنى غير مضاف إلى العدو لا يكون شهيدا، كذا في المحيط.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۶۹ الفصل السابع في الشهيد / البحر الرائق ج ۲ ص ۳۴۳ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۱۶ / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۵۴ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۱۸۷)

متفرقات الجنازه

مسلمانان قریبان دمرګ وروسته سره ویني که یا.

سوال ۱ : یو ایمانداره شخص مړ سو دهغه څخه د مخه چي کوم خلګ مړه سویدي ایا د دغه او سني مړه کس ملاقات دهغو مخکني مړو سره کیږي که یا او که چیري یې ملاقات سره کیږي نو بیا په قبر کښي ملاقات سره کوي او که د قیامت په ورځ : او

داغه رقم که چیري دیو چا زوی مړسي او بیا یې پلار مړسي ایا ددوی ملاقات هم سره کیږي که یا ؟

جواب : کله چي یو مسلمان شخص مړسي نودده دروح ملاقات دنورو مړو دارواحانو سره په قبر کښي کیږي او داسي دزوي او پلار دارواحانو په مینځ کښي هم ملاقات کیږي او ودوی ته ددُنیا خیال او فکرونه راځي خو دا هرڅه تر اعمالو پوري تعلق لري که یې عمل نیک وي نو بیا هم ملاقات کولای سي او هم ددُنیا خیال او فکر ورته راځي او که یې عمل خراب وي نو بیا به هر سړی په خپل عذاب اخته وي نه به ملاقات وي او نه به ددُنیا فکر وي .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا قُبِرَ المَيِّتُ – أَوْ قَالَ: أَحَدُكُمْ – أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ، يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا: الْمُنْكَرُ، وَلِلْآخَرِ: النَّكِيرُ، فَيَقُولَانِ: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ؟ فَيَقُولُ: مَا كَانَ يَقُولُ: هُوَ عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، فَيَقُولَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ هَذَا، ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِينَ، ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيهِ، ثُمَّ يُقَالُ لَهُ، نَمْ، فَيَقُولُ: أَرْجِعُ إِلَى أَهْلِي فَأُخْبِرُهُمْ، فَيَقُولَانِ: نَمْ كَنَوْمَةِ العَرُوسِ الَّذِي لَا يُوقِظُهُ إِلَّا أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ،حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ، وَإِنْ كَانَ مُنَافِقًا قَالَ: سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ، فَقُلْتُ مِثْلَهُ، لَا أَدْرِي، فَيَقُولَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ ذَلِكَ، فَيُقَالُ لِلأَرْضِ: التَئِمِي عَلَيْهِ، فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ، فَتَخْتَلِفُ فِيهَا أَضْلَاعُهُ، فَلَا يَزَالُ فِيهَا مُعَذَّبًا حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ "

(وفي شرح الصدور) وَأخرج عَن ثَابت الْبنانِيّ قَالَ بلغنَا أَن الْمَيِّت إِذا مَاتَ إحتوشه أَهله وأقاربه الَّذين قد تقدموه من الْمَوْتَى فَلَهو أفرح بهم وَلَهُم أفرح بِهِ من الْمُسَافِر إِذا قدم إِلَى أَهله

(جامع الترمذي ج ۱ ص ۲۰۵ باب ماجآءفي عذاب القبر سعید چاپ/ مشکوةالمصابیح ج ۱ ص ۲۵ باب اثبات عذاب القبر قدیمي چاپ/ شرح الصدور ص ۹۷ ؛ ۹۸ باب ملاقات الارواح للمیت مکتبه دارالمعرفةبیروت/ کتاب الروح ص ۳۰ المسئلةالثانیة هل تتلاقي الارواح مکتبه فاروقیه/ مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج ۱ ص ۲۰۹ باب اثبات عذاب القبر مکتبه شامله بیروت/

مرعاةالمفاتيح شرح مشكاةالمصابيح ج ۱ ص ۲۲۵ الفصل الثاني مكتبه شامله بيروت /فتاوي محموديه ج ۱ ص ۶۱۲ باب مايتعلق با حوال القبو والارواح)

ايا دمړو كسانو ارواحان كوروته ځي راځي ؟

سوال ۲: ځيني كسان داسي وايي چي د جمعې او برات په شپه دمړو ارواحان دهغو كورونو ته ځي او راځي ايا ددې خبري ثبوت په شريعت كښې سته او كه يا ؟.

جواب : ارواحان تلی او راتلی سي واقعات او مشاهدات پر دې باندي شاهد او ګواه دي. ليكن دارواحانو تګ اوراتګ خپله دهغوی په اختيار كښې نه دی، بلكي پر الهي حكم باندي موقوف دی. او دغه عقيده چي په عوامو كښې يې شهرت موندلی دی، صحيح نه ده چي ټول ارواحان د جمعې په شپه يا د پنجشنبې په شپه كورونو ته راځي او د خيرات كولو غوښتني كوي. او خيرات نه كوونكو ته ښراوي كوي او ترمړه كيدلو وروسته تر يوې مياشتي پوري هره ورځ كورته راځي. دا بې ځايه خبري دي په هيڅ صحيح حديث يا خبر سره يې ثبوت نسته.

البته په نورالصدور كتاب كښې چي كوم روايت په دې باره كښې نقل سوی دی، هغه ضعيف دی او ضعيف روايت دعقيدې دپاره معتبر او صحيح نه دی. او په بهشتي زيور كتاب كښې چي كوم انكار نقل سوی دی، هغه دداسي بې ځايه عقيدې دساتلو دپاره نقل سوی دی. او كه يو څوک داسي عقيده ولري چي كله الله جل جلاله ديو روح راتلل وغواړي نو راتلی سي او كه ونه غواړي نو نه سي راتللای ددې خبري څخه انكار نه دی راغلی.

وَأما قَول من قَالَ إِن أَرْوَاح الْمُؤمنِينَ فِي برزخ من الأَرْض تذْهب حَيْثُ شَاءَت فَهَذَا مروى عَن سلمَان الْفَارِسِي والبرزخ هُوَ الحاجز بَين شَيْئَيْنِ وَكَأن سلمَان أَرَادَ بهَا فِي أَرض بَين الدُّنْيَا وَالْآخِرَة مُرْسلَة هُنَاكَ تذْهب حَيْثُ شَاءَت وَهَذَا قَول قوى فَإِنَّهَا قد فَارَقت الدُّنْيَا وَلم تلج الْآخِرَة بل هِيَ فِي برزخ بَينهمَا فأرواح الْمُؤمنِينَ فِي برزخ وَاسع فِيهِ الرّوح وَالريحَان وَالنَّعِيم وأرواح الْكفَّار فِي برزخ ضيق فِيهِ الْغم وَالْعَذَاب قَالَ تَعَالَى

{وَمن ورائهم برزخ إِلَى يَوْم يبعثون} فالبرزخ هُنَا مَا بَين الدُّنْيَا وَالْآخِرَة وَأَصله الحاجز بَين

الشَّيْئَيْنِ .

(كتاب الروح لابن القيم الجوزي ص ۱۷۳ امداد الفتاوی ج ۱ ص ۵۱۴/ شامي ج ۱ ص ۵۰۸ فصل في القرآءة /بخاري شريف ج ۲ ص ۱۰۹۵ باب نهي النبي صلي الله عليه وسلم من التحريم الا ما يعرف اباحته / فتاوی رحيميه ج ۷ ص ۱۴۸ كتاب الجنائز)

دقبر دعذاب او دزكندن دسختيو داسانۍ وظيفه

سوال ۳: ايا كتابو او علماؤ د قبر د عذاب د اسانۍ لپاره او د زكندن د سختيو د اسانۍ لپاره يو وظيفه مقرره كړې ده كه يا ؟ او كه يې ښودلې ده بيان يې كړئ؟

جواب: په احاديثو كي د قبر د عذاب څخه د اسانۍ او نجات لپاره د سورت الملک تلاوت د خوب له مخه راغلی دی چي تبارک الذي سورت دی او د زكندن د اسانۍ لپاره دغه دعاء په حديث شريف كي راغلې ده :

اللهم اعني على سكراتِ الموت وغمراتِ الموت.

وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ضَرَبَ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِبَاءَهُ عَلَى قَبْرٍ وَهُوَ لَا يَحْسَبُ أَنَّهُ قَبْرٌ فَإِذَا فِيهِ إِنْسَان يَقْرَأُ سُورَةَ (تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ) حَتَّى خَتَمَهَا فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هِيَ الْمَانِعَةُ هِيَ الْمُنْجِيَةُ تُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيث غَرِيب

(مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۱۸۷ مكتبه علوم دينيه / مرقاة المفاتيح ج ۵ ص ۴۹ ـــ ۵۰ مكتبه حبيبيه / تفسيرابن كثيرج ۶ ص ۲۶۵ / تفسيرمظهري ج ۹ ص ۳۶۶ مكتبه حبيبيه / معارف القرآن ج ۱۰ ص ۸ مكتبه حبيبيه)

دهندوانواوكافرانوكوچني اولادونه جنتيان دي كه دوږخيان؟

سوال ۴: دهندوانو اوكافرانو كوچني اولادونه جنتيان دي كه دوږخيان دي شريعت په دغه باره كښي څه فرمايي ؟

جواب: دهندوانواوكافرانوكوچني اولادونه چي مړه وي هغه جنتيان دي اوداهل هنودو اوكافرانوهديرې ته چي سړی ورسي هيڅ به هم نه وايي خاموشي به اختياره وي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتارعلى الدرالمختار : وقد حكى فيهم الإمام النووي ثلاثة مذاهب الأكثر أنهم في النار، الثاني: التوقف، الثالث: الذي صححه أنهم في الجنة لحديث «كل مولود يولد على الفطرة» ويميل إليه ما مر عن محمد بن الحسن وفيهم أقوال أخر ضعيفة. اهـ

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۱۹۱ باب صلاة الجنازة مکتبه شامله / مرقاةالمفاتيح شرح مشكاةالمصابيح ج ۱ ص ۲۶۸ باب الاعتصام با الكتاب والسنة مكتبه رشيديه/خيرالفتاوی ج ۳ ص ۲۰۶اردو/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۴۰۱ پښتو)

دعذاب څخه دخلاصون څه طريقه ده؟

سوال۵: که چيري مړی په عذاب کښي مبتلا وي نو دهغه دنجات او خلاصون لپاره به ئې عزيزان کوم عمل کوي چي دعذاب څخه خلاص سي؟

جواب: دقرآن کريم تلاوت او دکليمې طيبې ذکر صدقه او خيرات سره دي ثواب ودغه مړي ته وروبخښي په هم دغه سبب او ذريعه مړي ته ثواب رسيږي.

وَفِي الْبَحْرِ: مَنْ صَامَ أَوْ صَلَّى أَوْ تَصَدَّقَ وَجَعَلَ ثَوَابَهُ لِغَيْرِهِ مِنْ الْأَمْوَاتِ وَالْأَحْيَاءِ جَازَ، وَيَصِلُ ثَوَابُهَا إلَيْهِمْ عِنْدَ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۶ مطلب في زيارةالقبور مکتبه حبيبيه/شرح الصدور ص ۲۳۶/ستاسومسائل اودهغوی حل ج ۲ ص ۴۴۰/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۳۹۴)

ايا دانسان روح پسله مرګه په قبر کي وي؟

سوال۶: يو کس وايي چي دمرګه ورسته ترقيامته پوري دانسان روح په قبر کي وي ايا دغه خبره شرعاً درسته ده که يا؟

جواب: په قبر کي دروح تعلق دجسد او بدن سره وي خو دروح اصلي مستقر او دهستوګني ځاي يا عليين وي او يا سجين وي دنېکانو ارواحانو مقام عليين وي او دبدانو ارواحانو ځاي سجين دي او عذاب دقبرپرروح او بدن دواړو باندي وي لکه چي دا دحديث دظاهره څخه ثابت دي.

وَبِهَذَا يجمع بَين مَا ورد أَن مقرها فِي عليين أَو سِجِّين وَبَين مَا نَقله إِبْن عبد الْبر عَن الْجُمْهُور أَيْضا أَنَّهَا عِنْد أفنية قبورها قَالَ وَمَعَ ذَلِك فَهِيَ مَأْذُون لَهَا فِي التَّصَرُّف وتأوي إِلَى

محلهَا من عليين أَو سِجِّين قَالَ وَإِذا نقل الْمَيِّت من قبر إِلَى قبر فالإتصال الْمَذْكُور مُسْتَمر وَكَذَا لَو تفَرَّقت الْأَجْزَاء

(شرح الصدور ص ۲۲۱ باب مقرالارواح مكتبه دارالمعرفة/كتاب الروح ص ۱۵۲ مكتبه فاروقيه پښور/فتاوى محموديه ج ۱ ص ۶۰۲ باب مايتعلق باحوال القبوروالارواح/شرح فقه الاكبر ص ۱۵۴/تذكرةالموتي والقبور ص ۲۸/ردالمحتار ج ۱ ص ۶۶۸ مكتبه حبيبيه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۵ ص ۳۷۹)

كتاب الزكوة

باب وجوب الزكوة

داغوستولو په جامو كښي دزكات حكم.

سوال ۱ : يو كس تر خپل حاجت زياتي جامې لري خود خرڅلاو لپاره نه دي بلكي داستعمال لپاره دي او س پو ښتنه داده چي داستعمال په جامو كښي زكات سته كه يا ؟

جواب : داستعمال په جامو كښي شرعاً زكات نسته هغه كه دزيات قيمت جامې وي او كه د كم قيمت وي البته كه چيري دغه جامې يې د تجارت په نيت رانيولي وي نوبيا زكات پكښي سته كه چيري د جامو قيمت ونصاب ته رسېدى او يا يې د بل مال سره د شاملېدو په صورت كښې قيمت دزكات دفرضيت و اندازې رسېدى

(وفى الهندية) وَمِنْهَا فَرَاغُ الْمَالِ) عَنْ حَاجَتِهِ الْأَصْلِيَّةِ فَلَيْسَ فِي... وَثِيَابِ الْبَدَنِ..... زَكَاةٌ

(وقال العلامة الكاساني رحمه الله) وَأَمَّا أَمْوَالُ التِّجَارَةِ فَتَقْدِيرُ النِّصَابِ فِيهَا بِقِيمَتِهَا مِنْ الدَّنَانِيرِ وَالدَّرَاهِمِ فَلَا شَيْءَ فِيهَا مَا لَمْ تَبْلُغْ قِيمَتُهَا مِائَتَيْ دِرْهَمٍ أَوْ عِشْرِينَ مِثْقَالًا مِنْ ذَهَبٍ فَتَجِبُ فِيهَا الزَّكَاةُ....... وَكَذَا يُضَمُّ بَعْضُ أَمْوَالِ التِّجَارَةِ إلَى الْبَعْضِ فِي تَكْمِيلِ النِّصَابِ

(فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۱۷۲ الباب الاول في تفسير الزكات وصفتها مكتبه رشيديه/ البحرالرائق ج ۲ ص ۲۰۶ كتاب الزكات سعيد چاپ/الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۲۶۲ كتاب الزكات سعيد چاپ/ بدائع الصنائع ج ۲ ص ۲۱ كتاب الزكات سعيد چاپ / دزكات مسائل ص ۳۷۳ حرف كاف مكتبه بيت العمار كراچي)

په چرګانو كښي دزكات حكم

سوال ۲ : نن صبا په فارمونو كښي چرګي دنسل دپيدا كولو لپاره ساتل كيږي كوم چي تقريباً له شپږو مياشتو وروسته هګۍ اچوي چي له هغو څخه دخصوصي ماشينانو په ذريعه چيچيان پيدا كيږي دهګيو داسلسله تراتو مياشتو پوري جاري وي له دې وروسته چي كله داچرګي هګۍ كمي كړي نوبيايې خرڅوي اوس

دپوښتني خبره داده چي دچرګانو اوپیداوار ددواړوزکات به ورکوي اوکه یواځي دپیداوار زکات به ورکوي ؟

جواب :کله چي چرګي اوهګۍ دواړي خرڅي سي نوله ټولي سرمایې څخه به دقاعدې له مخي شرعي زکات ورکول کیږي البته خپله دچرګانوپه جنس کښي زکات نسته ددوی په قیمت کښي به زکات اداکیږي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَشَرْطُهُ..... حَوَلَانُ الْحَوْلِ..... وَثَمَنِيَّةُ الْمَالِ كَالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِلِتَعَيُّنِهِمَا لِلتِّجَارَةِ بِأَصْلِ الْخِلْقَةِ... أَوْ نِيَّةُ التِّجَارَةِ فِي الْعُرُوضِ،(الدرالمختار)

ولما قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى في الهداية شرح بداية المبتدي :الزكاة واجبة في عروض التجارة كائنة ما كانت(اى من اى جنس كانت) إذا بلغت قيمتها نصابا من الورق أو الذهب

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتارج ۲ ص ۱۰ كتاب الزكات سعيدچاپ/الهداية ج ۱ ص ۱۷۷ باب زكات الاموال مكتبه رحمانيه/ فتاوی عالمګيريه ج ۱ ص ۱۷۹ الباب الثاني في زكات الذهب والفضة والعروض رشيديه/فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۲۲۴ باب وجوب الزكات/كتا ب الفتاوی ج ۱ ص ۳۴۶ /دزكات مسائل ص ۴۳۵)

دیوسړي مال ډیر دی حساب یې نه کیږي دداسي مال دزکات حکم.

سوال ۳ :دیوکس مال اودنیا دومره زیاته ده چي حساب کول یې امکان نلري نوداسي مالدار شخص به دخپل دنیا زکات څرنګه اداکوي اودزکات په اداکولو کښي حساب معتبر دی که اندازه معتبره ده ؟

جواب :دزکات داداکولو طریقه داده چي اول به خپل دټول مال حساب کوي بیابه زکات اداکوي خوکله چي دیوچا مال دومره زیات سي چي حساب کول یې امکان ونلري نودداسي شخص لپاره پکارداده چي خپل مال به په زیات سره اندازه کوي یعني دده په فکر چي څومره مال دی ترهغه به زیاته اندازه لګوي بیابه زکات اداکوي ځکه چي زکات کم ادانسي اودکوم مال چي حساب ممکن وي دهغه مال زکات په

اندازه سره ورکول مناسب نه دی بلکي د ټوله مال حساب به کوي د هغه په اندازه زکات به ورکوي .

وَمَنْ كَانَ لَهُ نِصَابٌ فَاسْتَفَادَ فِي أَثْنَاءِ الْحَوْلِ مَالًا مِنْ جِنْسِهِ ضَمَّهُ إِلَى مَالِهِ وَزَكَّاهُ الْمُسْتَفَادُ مِنْ نَمَائِهِ أَوَّلًا وَبِأَيِّ وَجْهٍ اسْتَفَادَ ضَمَّهُ

(الفتاوی الهندية : ج ۱ ص ۱۷۵ کتاب الزکات رشیدیه/ردالمحتار ج ۲ ص ۳۳۹ باب زکات الغنم سعید چاپ / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۲۲ فصل زکات الغنم رشیدیه /بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۳ کتاب الزکات سعید چاپ/ دزکات دمسائلو مجموعه ص ۶۸)

په زکوة کښې تاخير او ځنډ مکروه دی .

سوال ۴ : که چیري یو کس دزکوة په اداء کولو کښې ځنډ او تاخیر وکړي نو شرعا په دې کښې څه حرج او ګناه سته که یا او که هغه دزکوة روپی یا سامان بیا ګټه وکړي نو هغه ګټه به یې هم په زکوة کښې ورکول کیږي که یا ؟

جواب : دزکوة په اداء کولو کښې ځنډ او تاخیر مکروه دی . البته په تاخیر سره یې اداء کولو ته قضا نه سي ویل کیدلای بلکي ادا به وي خو کومه اندازه زکوة چي وي او دڅومره کلونو چي دده پرذمه باندي پاته وو هغه اندازه زکوة ورکول کیږي ګټه چي هر څومره کړې وي هغه نه ورکول کیږي او نه هم دغه پاته زکوة دوخت په تیریدو سره دذمې څخه ساقطیږي او دهغه ځنډ په خاطر دغه شخص ګناهګاره دی .

وفی الفتاوی الهندية : وَتَجِبُ عَلَى الْفَوْرِ عِنْدَ تَمَامِ الْحَوْلِ حَتَّى يَأْثَمَ بِتَأْخِيرِهِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ، وَفِي رِوَايَةِ الرَّازِيِّ عَلَى التَّرَاخِي حَتَّى يَأْثَمَ عِنْدَ الْمَوْتِ، وَالْأَوَّلُ أَصَحُّ كَذَا فِي التَّهْذِيبِ.

وقال العلامة ابن اهمام : ماذکر الفقیه ابوجعفر عن ابی حنیفة انه یکره ان یؤخرها من غیر عذر .

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۷۰ کتاب الزکاة الباب الاول / فتح القدیر ج ۲ ص ۱۱۴ کتاب الزکوة / فتاوی فریدیة ج ۳ ص ۳۶۹)

دکار او مزدوری پر ټکټر او تریشر باندي زکوة نسته بلکي پر پیداوار باندې سته .

سوال ۵ : یو کس ډیر ټکټران یا تریشران لري خو کار په کوي یعني یوې یا نوره مزدوري په کوي او همداشان په تریشر باندي غنم یا جواري تریشر کوي . پوښتنه

داده چي په د غه ټکټرانو يعني ددوی په سراو جنس کښې زکوة سته او که ددوی دکار څخه چي کو مه ګټه او پيداوار حاصل سوی دی په هغه کښې زکوة سته ؟

جواب : نه پر ټکټر باندي زکوة سته او نه هم پر تريشر باندي بلکي ددوی دکار څخه چي کو مه ګټه او پيداوار حاصل سوی دی په هغه کښې زکوة لازم دی

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :زكاة العمارات والمصانع ونحوها لاتجب الزكاة فى عينها وانمافى ربعهاوغلتها او ارباحها ....وكذلک آلات المحترفين .... وان حال الحول اى لم ينمها التجارة بل امسكه لحرفته .

(ردالمحتار ج ۲ ص ۲۶۵ کتاب الزکوة سعيدچاپ / الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۸۶۴ دارالفکر بيروت چاپ / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۰۶ سعيد / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۳ سعيد چاپ / دزکوة مسائل ص ۳۵۸)

دزکوة پیسې که ورکي سوې څه به کوي ؟

سوال ۶: يو کس دزکوة پيسې جلا کړې دخپلي سرمايې څخه او بيا ځيني ورکي سولې يا يو چا غلا کړې نو ايا زکوة يې اداء سو که يا ؟

جواب : په دغه ذکر سوي صورت کښې زکوة نه دی اداء سوی لهذا دوباره به يې اداء کوي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :ولايخرج عن العهدة با لعزل بل بالاداء للفقراء ..... فلو ضاعت لا تسقط عنه الزكوة .....

(ردالمحتار علي هامش الدرالمختار ج ۲ ص ۲۰۷ طبع سعيد / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۰۷ / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۱۱ طبع سعيد / فتاوی رحيميه ج ۷ ص ۲۳۶ /باب الزکوة/ دزکوة مسائل مفتي انعام الحق صاب ص ۲۱۷)

دپور زکات او دهغه حکم .

سوال ۷ : د قرض او د پور زکوة به انسان څنګه اداء کوي؟ چي يا زما پر چا باندي وي يا دبل پر ما باندي وي .

جواب : هر هغه رقم او روپۍ چي ستا پر چا باندي وي د دغو روپو زکوة پر تا یعني د روپو پر مالک او د هغه پر ذمه فرض دی، البته د قرض درې صورتونه دي د دوو صورتونو یو حکم دی او د دریم او څلورم صورت بل حکم دی.

اول صورت : هغه پیسې چي تا نغدي یو چا ته قرض ورکړي وي ، یا دي د دوکان سامان ورکړی وي یا دي د داسي حیواناتو په عوض کښې پر یو چا روپۍ باندي دي چي پر هغو باندي زکاة واجب وو نو په شرط د نصاب (چي دغه روپۍ به نصاب ته به رسیدلي وي) د دغه پور او قرض زکوة واجب دی په دې شرط چي یو څه به د دغه پوره وړي څخه وصول سوي وي بیا چي څومره څومره ځیني وصول کېږي د هغه په قدر زکوة واجب دی د دغه کال هم او د تېرو کلو د هم.

دوهم صورت : دا دی چي پر یو چا دي قرض باندي دی نه دي نغدي ورکړي دي او نه دي د دوکان سامان ورکړی دی بلکه د نورو سامانونو په بدل کښې دي پر باندي دي مثلا د کورشخصي سامان دي ورکړی دی یا دي د سپرلۍ موټر او بل شی پر خرڅ کړی دی. **د دغه پور حکم دا دی :** چي تر څه وخته دي د نصاب په مقدار روپۍ وصول کړي نه وي او بیا پر هغو کال تېر سوی نه وي تر هغه وخته یې پر تا باندي زکوة ورکول نه دی فرض او د تېرو کلو زکوة هم نسته ځکه چي دا د تجارت مال نه دی.

دریم صورت دا دی : چي پور دي پر چا باندي دی لیکن مال دي نه دی ورکړی یعني د مال او سامان په بدل کښې دي پور نه دی پر باندي بلکي بل شی دی لکه د مهر روپۍ ، یا د دیت پیسې ، یا د خُلعِ روپۍ (یعني د پیسو په عوض کښې ښځي ته طلاق ورکول) یا د سرای او د دوکان د کرایې روپۍ دي پر باندي دي. د دې حکم هم بعینه د دوهم صورت د حکم په شان دی. **تنبیه :** د نصاب مقدار او د کال تېرېدل هلته شرط دي چي دغه کس نور مال ونه لري که یې د مخه لا په قدر د نصاب مال درلودی نو بیا چي څومره پور او قرض وصولوي د هغه په مقدار زکوة اداء کول واجب دی.

خلورم صورت : که چيري ديو کس پر داسي چا باندي روپۍ يا قرض باندي وي چي ولاس ته دراتلو يې بيا هيڅ ظاهري امکان نه وي نو بيا دغه پور دضمار په مال کښې داخليږي (يعني ورک مال چي دپيدا کېدو طمع او اميد ورته نه وي) او دضمار په مال کښې تر هغه وخته زکاة نه دی لازم تر څه وخته چي لاس ته نه وي راغلی .ليکن که چيري داسي قرض او پور وي چي د مال د مالک سره ليکلی ثبوت يا شاهدان وي او يا پوره وړی اقرار کوي او ددې تر څنګ د مال مالک دخپل پور پر اخيستلو باندي قدرت هم لري نو بيا زکاة واجبيږي که نه نو بيا نه واجبيږي .

(وَ) اعْلَمْ أَنَّ الدُّيُونَ عِنْدَ الْإِمَامِ ثَلَاثَةٌ: قَوِيٌّ، وَمُتَوَسِّطٌ، وَضَعِيفٌ؛ (فَتَجِبُ) زَكَاتُهَا إذَا تَمَّ نِصَابًا وَحَالَ الْحَوْلُ، لَكِنْ لَا فَوْرًا بَلْ (عِنْدَ قَبْضِ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا مِنْ الدَّيْنِ) الْقَوِيِّ كَقَرْضٍ (وَبَدَلِ مَالِ تِجَارَةٍ) فَكُلَّمَا قَبَضَ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا يَلْزَمُهُ دِرْهَمٌ (وَ) عِنْدَ قَبْضِ (مِائَتَيْنِ مِنْهُ لِغَيْرِهَا) أَيْ مِنْ بَدَلِ مَالٍ لِغَيْرِ تِجَارَةٍ وَهُوَ الْمُتَوَسِّطُ كَثَمَنِ سَائِمَةٍ وَعَبِيدِ خِدْمَةٍ وَنَحْوِهِمَا مِمَّا هُوَ مَشْغُولٌ بِحَوَائِجِهِ الْأَصْلِيَّةِ كَطَعَامٍ وَشَرَابٍ وَأَمْلَاكٍ. وَيُعْتَبَرُ مَا مَضَى مِنْ الْحَوْلِ قَبْلَ الْقَبْضِ فِي الْأَصَحِّ، وَمِثْلُهُ مَا لَوْ وَرِثَ دَيْنًا عَلَى رَجُلٍ (وَ) عِنْدَ قَبْضِ (مِائَتَيْنِ مَعَ حَوَلَانِ الْحَوْلِ بَعْدَهُ) أَيْ بَعْدَ الْقَبْضِ (مِنْ) دَيْنٍ ضَعِيفٍ وَهُوَ (بَدَلُ غَيْرِ مَالٍ) كَمَهْرٍ وَدِيَةٍ وَبَدَلِ كِتَابَةٍ وَخُلْعٍ، .... (وَدَيْنٍ) كَانَ (جَحَدَهُ الْمَدْيُون سِنِينَ) وَلَا بَيِّنَةَ لَهُ عَلَيْهِ (ثُمَّ) صَارَتْ لَهُ بِأَنْ (أَقَرَّ بَعْدَهَا عِنْدَ قَوْمٍ)

(الدرالمختارمع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۵ سعيد چاپ / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۰ /الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۷۵ رشيديه چاپ /فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۲۳۱ كتاب الزكوة / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۰۷ كتاب الزكوة/ الطحطاوي حاشية الدرالمختار ج ۱ ص ۳۹۳ كتاب الزكوة / څلورسوه مسائلي ص ۱۱۴ اردو/ دزكوة مسائل مفتي انعام الحق صاب ص ۵۵ اردو)

په دوکان کښې دوه قسمه جامې او ټوکران دي يو قسم خرڅيږي بل نه خرڅيږي ؟

سوال ۸ : موږ په دوکان کښې دوه قسمه ټوکران لرو يو قسم خرڅيږي بل قسم نه خرڅيږي پوښتنه داده چي دغه ټوکران چي زموږ په مقرر سوي قيمت نه خرڅيږي په زکوة کښې ورکول رواه دي که يا ؟

جواب : دغه ټوکران په زکوة کښې ورکول رواه دي خو په دې شرط چي قيمت يې په

داسي اندازه سره مقرر سي چي خلک يې واخيستلو ته اماده سي يعني په ارزان قيمت سره شمار سي او د فقيرانو په کښې فايده وي .

لماقال العلامةالحصفكي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار :وَتُعْتَبَرُ الْقِيمَةُ يَوْمَ الْوُجُوبِ، وَقَالَا يَوْمَ الْأَدَاءِ.

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى الدر المختار : وَفِي الْمُحِيطِ: يُعْتَبَرُ يَوْمُ الْأَدَاءِ بِالْإِجْمَاعِ وَهُوَ الْأَصَحُّ اهـ فَهُوَ تَصْحِيحٌ لِلْقَوْلِ الثَّانِي الْمُوَافِقِ لِقَوْلِهِمَا، وَعَلَيْهِ فَاعْتِبَارُ يَوْمِ الْأَدَاءِ يَكُونُ مُتَّفَقًا عَلَيْهِ عِنْدَهُ وَعِنْدَهُمَا .

(ردالمحتار ج ۲ ص ۲۸۶ باب زكوة الغنم سعيد چاپ / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۸۰ الفصل الثاني في العروض طبع رشيديه / دزكوة مسائل اردو مفتي انعام الحق صاب ص ۳۵۶)

دسرو زرو دزکوة د نصاب اندازه .

سوال ۹ : د سروزرو د نصاب اندازه د شريعت دنګاه څخه څومره ده ؟ .

جواب : د سرو زرو د نصاب اندازه د شريعت دنګاه څخه اوه نيمې تولې ده چي په جديد حساب سره تقريبا اوه اتيا نيم (۸۷,۴۷۹) ګرامه کيږي . او د سپينو زرو نصاب دوه پنځوس نيمې تولې کيږي چي په جديد حساب سره شپږ سوه دوولس (۳۵,۶۱۲) ګرامه کيږي .

(الْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي زَكَاةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ) تَجِبُ فِي كُلِّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ، وَفِي كُلِّ عِشْرِينَ مِثْقَالِ ذَهَبٍ نِصْفُ مِثْقَالٍ مَضْرُوبًا كَانَ أَوْ لَمْ يَكُنْ مَصُوغًا أَوْ غَيْرَ مَصُوغٍ حُلِيًّا كَانَ لِلرِّجَالِ أَوْ لِلنِّسَاءِ تِبْرًا كَانَ أَوْ سَبِيكَةً كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۷۸ كتاب الزكوة الباب الثالث / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۵ ص ۷۹ دزكوة دنصاب او شرائط)

دنه زرو (۹۰۰۰) کالدارو پر زرو باندي زکوة سته که يا ؟

سوال ۱۰ : ايا دنه زره (۹۰۰۰) کالدارو پر سرو زرو باندي زکوة سته که يا ؟

جواب : د سروزرو د نصاب اندازه فقهاء کرامو شل مثقاله بيان کړي ده چي په جديد حساب سره (۸۷) ګرامه سره زر کيږي لهذا فقط د نهه زرو کالدارو پر سرو زرو باندي زکوة نسته تر څه وخته چي نوري نغدي يا سامان د نصاب په اندازه ور سره

ونه لري او کال ورباندي تېر سوی نه وي .

(قَوْلُهُ: وَتُضَمُّ قِيمَةُ الْعُرُوضِ إلَى الثَّمَنَيْنِ وَالذَّهَبِ إلَى الْفِضَّةِ قِيمَةً) أَمَّا الْأَوَّلُ فَلِأَنَّ الْوُجُوبَ فِي الْكُلِّ بِاعْتِبَارِ التِّجَارَةِ، وَإِنْ افْتَرَقَتْ جِهَةُ الْإِعْدَادِ، وَأَمَّا الثَّانِي فَلِلْمُجَانَسَةِ مِنْ حَيْثُ الثَّمَنِيَّةُ، وَمِنْ هَذَا الْوَجْهِ صَارَ سَبَبًا، وَضَمُّ إحْدَى النَّقْدَيْنِ إلَى الْآخَرِ قِيمَةً مَذْهَبُ الْإِمَامِ وَعِنْدَهُمَا الضَّمُّ بِالْأَجْزَاءِ .

(البحرالرائق ج ۲ ص ۲۳۰ باب زکاة المال طبع سعید / تاتارخانية ج ۲ ص ۲۳۲ / الفتاوی الهندية کتاب الزکوة الباب الثالث ج ۱ ص ۱۷۹ / ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۳۰۳ / دزکوة مسائل ص ۲۶۴ / فتاوی محمودیه ج ۹ ص ۳۸۲ باب الزکوة)

دګرو سوي شي زکوة پر چا دی .

سوال ۱۱ : دګروی په مال کښې شرعا زکوة سته که یا ؟ او که سته پر چا باندي سته ؟ .

جواب : په شریعت مطهره کښې زکوة پر هغه مال باندي ضروري دی چي دهغه پر مالیت باندي دیو چا ملکیت تام وي یعني یو کس به دهغه مال پوره او کُلي مالک وي او په ګرو سوي شي کښې نه داصلي مالک تام او پوره ملکیت سته او نه هم دهغه کس چي ګرو ورسره پروت دی لهذا پر ګرو سوي شي باندي زکوة نسته نه پر اصلي مالک باندي او نه پر هغه کس باندي چي دغه شی په ګروي ورسره پروت دی . او کله چي دیوه مالیت وګرځیدی نو بیا یې زکوة پر هغه کس باندي ورکول ضروري دی .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار :

(قَوْلُهُ: وَلَا فِي مَرْهُونٍ) أَيْ لَا عَلَى الْمُرْتَهِنِ لِعَدَمِ مِلْكِ الرَّقَبَةِ وَلَا عَلَى الرَّاهِنِ لِعَدَمِ الْيَدِ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۲۶۳ کتاب الزکوة مطلب في زکاة المبيع وفاء مکتبه شامله / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۷۲ کتاب الزکاة مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۳۵۵ / دزکوة مسائل ص ۳۸۲ اردو : تالیف مفتي محمد انعام الحق صاب / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۲۱۵)

پر کومو شیانو باندي زکوة فرض دی ؟

سوال ۱۲: زکوة پر کومو شیانو فرض دی؟

جواب: (۱) پر سرو زرو اووه نیمي تولې چي د اوس په حساب سره ۸۷.۴۷۹ ګرامه کېږي (۲) پر سپينو زرو چي دوه پنځوس نيمي تولې وي په جديد حساب سره ۶۱۲ ګرامه کېږي یا تر هغه زيات (۳) پر نغدو پيسو او د تجارت پر مال او سامان باندي چي په دوکان کي پروت وي په شرط د دې چي نصاب ته ورسېږي او که لږ سره زر سپين زر او نغدي پرتې وي تهوله دي سره ګډ کړي بيا دي زکوة وباسي.

لمافي الهندية : وَلَوْ ضَمَّ أَحَدَ النِّصَابَيْنِ إِلَى الْأُخْرَى حَتَّى يُؤَدِّيَ كُلَّهُ مِنْ الذَّهَبِ أَوْ مِنْ الْفِضَّةِ لَا بَأْسَ بِهِ لَكِنْ يَجِبُ أَنْ يَكُونَ التَّقْوِيمُ بِمَا هُوَ أَنْفَعُ لِلْفُقَرَاءِ قَدْرًا وَرَوَاجًا، وَإِلَّا فَيُؤَدِّي مِنْ كُلِّ وَاحِدٍ رُبُعَ عُشْرِهِ كَذَا فِي مُحِيطِ السَّرَخْسِيِّ.

(الفتاوي الهندية ج ۱ ص ۱۷۹ مکتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي علي المراقي ص ۷۲۳ مکتبه رشيديه / العناية علي هامش فتح القدير ج ۲ ص ۲۱۹ مکتبه رشيديه / خيرالفتاوی ج ۵ ص ۲۹۱ اردو / اپ کي مسائل ج ۵ ص ۸۱ اردو / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۲۱۰ پښتو / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۲۹۶ پښتو)

پر حرامو پيسو باندي زکوة لازم دی که یا؟

سوال ۱۳: يو سړي پيسې او دنيا په رشوت او سود سره پيدا کړې ده آيا پر دغه پيسو باندي زکوة او حج د دغه کس پر ذمه فرض دی که یا؟.

جواب: د دغه کس پر ذمه اولاً دا کار واجب دی چي دغه پيسې د رشوت او د سود وخپلو خاوندانو ته واپس کړي که چيري هغه کسان ده ته معلوم نه وي يا ډېر وي، نو بيا دي دغه پيسې پر مسکينانو باندي وويشي پر داسي پيسو نه حج سته او نه زکوة که يې چيري حج په وکړی ذمه يې ساقطيږي خو دالله جل جلاله په نزد به د قبوليت مقام ته ورسيږي که یا دا به ډېره مشکله وي ځکه دالله جل جلاله د قانون د مخي څخه هغه حج د قبول وړ دی چي په حلالو روپو سره سوی وي.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ: كَمَا لَوْ كَانَ الْكُلُّ

خَبِيثًا) فِي الْقُنْيَةِ لَوْ كَانَ الْخَبِيثُ نِصَابًا لَا يَلْزَمُهُ الزَّكَاةُ؛ لِأَنَّ الْكُلَّ وَاجِبُ التَّصَدُّقِ عَلَيْهِ فَلَا يُفِيدُ إيجَابَ التَّصَدُّقِ بِبَعْضِهِ. اهوَمِثْلُهُ فِي الْبَزَّازِيَّةِ

(ردالمحتارج ۲ ص ۲۸ مکتبه رشيديه / بزازية علي هامش الهندية ج ۴ ص ۸۶ مکتبه رشيديه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۴۵ مکتبه رشيديه / فتاوی محموديه ج ۹ ص ۳۲۵ اردو / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۵۵ پښتو / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۲۰۹ پښتو)

دګروۍ دسامان زکوة پر چا دی ؟

سوال ۱۴: دګروۍ د مال يعني هغه مال او سامان و پيسې چي په ګروۍ چا ته ورکړي يا دي د چا څخه اخستي وي د دغه مال زکوٰة پر چا واجب دی ؟.

جواب: شريعت يوه ضابطه او قاعده بيان کړې ده هغه دا ده چي هر هغه مال چي ملکيت پر ثابت وي ليکن په قبضه کي نه وي، نو د هغه مال زکوٰة نسته لکه پر ښځي د دې د مهر زکوة تر هغه وخته نسته چي قبضه يې نه کړي يا هغه چي ورک سي يا ډوب سو په اوبو کي، نو د دغو مالو زکوة نسته همداسي هغه مال چي په ګروي سره پروت وي نه يې پر مالک زکوة سته او نه پر هغه کس چي په ګروۍ ورسره پروت دی، او که ده په تجارت اچولی وي نو دا طريقه حرامه او په حرامه طريقه سره چي کومه ګټه او فائده لاس ته راسي تر څه وخته چي د حلال سره نه يې ګډ سوی زکوة نه دی پر واجب.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ: وَلَا فِي مَرْهُونٍ) أَيْ لَا عَلَى الْمُرْتَهِنِ لِعَدَمِ مِلْكِ الرَّقَبَةِ وَلَا عَلَى الرَّاهِنِ لِعَدَمِ الْيَدِ، وَإِذَا اسْتَرَدَّهُ الرَّاهِنُ لَا يُزَكِّي عَنْ السِّنِينَ الْمَاضِيَةِ، وَهُوَ مَعْنَى قَوْلِ الشَّارِحِ بَعْدَ قَبْضِهِ، وَيَدُلُّ عَلَيْهِ قَوْلُ الْبَحْرِ وَمِنْ مَوَانِعِ الْوُجُوبِ الرَّهْنُ ح وَظَاهِرُهُ وَلَوْ كَانَ الرَّهْنُ أَزْيَدَ مِنْ الدَّيْنِ ط.

(ردالمحتارج ۲ ص ۷ مکتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۳۵۵ مکتبه رشيديه / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۲۱۵ پښتو/ ۴۰۰ مسائل ص ۱۱۴ اردو)

دمځکي پر پيداوار چي يو وار يې زکوة اداء سوی وي بيا زکوة پر سته که يآ ؟

سوال ۱۵: پوښتنه دا ده چي يو کس پر خپله مځکه (۲۰) خرواره غنم او لس خرواره پنبه او جواري و اخيسته لسمه حصه چي عشر دی هغه يې ورکړې او س پر دغه

موجوده پیدا وار باندي کال تېر سو آیا پر دغه پیداوار چي غنم او ربشي جواري او پنبه دي زکوة ستهٔ که یا؟ یعني ځلوېښتمه حصه دا هم په سرمایه کي راځي که یا؟

جواب: یو وار چي د مځکي د پیداوار څخه عشر اداء سو بیا د دوهم ځل لپاره پر هغه پیداوار باندي نه عشر ستهٔ نه زکوٰة تر څو وخته چي دی دغه پیداوار خرڅ نه کړي او پر هغه پیسو کال تېر نه سي که ده نور نصاب یعني دنیا یې نه درلوده او که دی د نصاب مالک ؤ نوره دنیا یې هم درلوده بیا دی را ولاړ سو دغه پیداوار یې خرڅ کړی مثلاً دوې میاشتي وروسته د ده پر زړو پیسو کال پورا سو نو د دغه پیداوار د پیسو زکوة به هم اداء کوي تر خرڅ وروسته او دمخکني نصابه سره به یې یو ځای کوي.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ: وَلَا تَصِحُّ نِيَّةُ التِّجَارَةِ إلَخْ) لِأَنَّهَا لَا تَصِحُّ إلَّا عِنْدَ عَقْدِ التِّجَارَةِ، فَلَا تَصِحُّ فِيمَا مَلَكَهُ بِغَيْرِ عَقْدٍ كَإِرْثٍ وَنَحْوِهِ كَمَا سَيَأْتِي وَمِثْلُهُ الْخَارِجُ مِنْ أَرْضِهِ، لِأَنَّ الْمِلْكَ يَثْبُتُ فِيهِ بِالنَّبَاتِ، وَلَا اخْتِيَارَ لَهُ فِيهِ، وَلِذَا قَالَ فِي الْبَحْرِ: وَخَرَجَ أَيْ بِقَيْدِ الْعَقْدِ مَا إذَا دَخَلَ مِنْ أَرْضِهِ حِنْطَةٌ تَبْلُغُ قِيمَتُهَا نِصَابًا، وَنَوَى أَنْ يُمْسِكَهَا وَيَبِيعَهَا فَأَمْسَكَهَا حَوْلًا لَا تَجِبُ فِيهَا الزَّكَاةُ كَمَا فِي الْمِيرَاثِ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۱ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۳۶۶ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۵۳ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۲۸۸ پښتو)

داجارې دمځکي زکوة پر چا دی؟

سوال ۱۶: ما د یو چا څخه مځکه په شپېته زره روپو نغدو اجاره کړه د یوه فصل لپاره موده پوره سوه مځکي پیداوار وکړی اوس د دغه مځکي د پیداوار او حاصل عشر او لسمه حصه زکوٰة پر چا دی آیا د مځکي پر اصلي خاوند دی او که پر اجاره اخیستونکي دی؟

جواب: فقهاء او علماء په دې مسئله کښې داسي فرمائې که عشري مځکي یو چا بل چا ته په اجاره ورکړي د اجارې په صورت کښې اما صاحب رحمة الله علیه فرمائې چي عشر او لسمه یې پر مځکي والا یعني اصلي مالک باندي دی، او یاران فرمائې چي پر اجاره اخستونکي باندي عشر ورکول دي، او فتوٰی هم پر دغه خبره ده.

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : وَيَجِبُ فِي أَرْضِ الْمَأْذُونِ وَالْمُكَاتَبِ وَيَجِبُ عَلَى الْمُؤَجِّرِ عِنْدَهُ وَعِنْدَهُمَا عَلَى الْمُسْتَأْجِرِ كَالْمُسْتَعِيرِ وَيَسْقُطُ عَنْ الْمُؤَجِّرِ بِهَلَاكِهِ قَبْلَ الْحَصَادِ لَا بَعْدَهُ، وَفِي الْمُزَارَعَةِ عَلَى قَوْلِهِمَا فَالْعُشْرُ عَلَيْهِمَا بِالْحِصَّةِ، وَعَلَى قَوْلِهِ عَلَى رَبِّ الْأَرْضِ لَكِنْ يَجِبُ فِي حِصَّتِهِ فِي عَيْنِهِ، وَفِي حِصَّةِ الْمُزَارِعِ يَكُونُ دَيْنًا فِي ذِمَّتِهِ

(البحرالرائق ج ۲ ص ۴۱۳ مکتبه رشيديه / الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۶۰ مکتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۸۷ مکتبه رشيديه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۱۴۸ پښتو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۲۷۱ پښتو)

دډېرشو لکو روپو پسونه مي په قرض يو چاته ورکړه زکوة يې پر چا دی ؟

سوال ۱۷ : ما يو چاته د ديرشو لکو روپو پسونه په قرض ورکړه پوښتنه داده چي د دغه پيسو زکوة پر ما دی (خرڅوونکي) که پر هغه کس (رانيوونکي) باندي چي ما پسونه ورکړي دي ؟

جواب : دغه پوراو قرض ته د شريعت په اصطلاح کښې (دَين قَوي) ويل کيږي . هغه داسي چي يو تاجر راولړسي د تجارت سامان خرڅ کړي او قيمت يې د مشتري پر ذمه پاته وي وصول کړی يې نه وي . داسي پور او قرض که چيري پر يوه ځای باندي ټول وصول سي نو مالک دروپو چي خرڅوونکی دی د ټولو زکوة به اداء کوي . او که چيري څو کاله وروسته يې وصول کړی نو به د ټولو کلونو زکات پر يوه ځای باندي ورکوي . خلاصه دا چي د دغه پسونو دروپو زکات پر خرڅوونکي (قرض ورکوونکي) باندي لازم دی نه پر رانيوونکي (قرض اخيستونکي) باندي .

لما قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (وَ) اعْلَمْ أَنَّ الدُّيُونَ عِنْدَ الْإِمَامِ ثَلَاثَةٌ: قَوِيٌّ، وَمُتَوَسِّطٌ، وَضَعِيفٌ؛ (فَتَجِبُ) زَكَاتُهَا إذَا تَمَّ نِصَابًا وَحَالَ الْحَوْلُ، لَكِنْ لَا فَوْرًا بَلْ (عِنْدَ قَبْضِ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا مِنْ الدَّيْنِ) الْقَوِيِّ كَقَرْضٍ (وَبَدَلِ مَالِ تِجَارَةٍ) فَكُلَّمَا قَبَضَ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا يَلْزَمُهُ دِرْهَمٌ .

وفى مراقى الفلاح : وزكاة الدين على أقسام فإنه قوي ووسط وضعيف.

فالقوي: وهو بدل القرض ومال التجارة إذا قبضه وكان على مقر ولو مفلسا أو على جاحد عليه بينة زكاة لما مضى ويتراخى وجوب الأداء إلى أن يقبض أربعين درهما ففيها درهم لأن ما دون الخمس من النصاب عفو لا زكاة فيه وكذا فيما زاد بحسابه.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۵ باب زكوة المال بيروت چاپ مكتبه شامله / مراقي الفلاح شرح نورالايضاح كتاب الزكوة ج ۱ ص ۷۱ بيروت چاپ / الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۳۹۰ كتاب الزكوة / دزكوة دمسائلو انسايكلوپيډيا ص ۳۴۰ اردو بيت العمار كراچي)

دټرېشر په ذريعه سره په ګټل سوو غنمو کښې زکوة سته که يا ؟

سوال ۱۸ : دټرېشر په ذريعه سره په ګټل سوو غنمو کښې زکوة سته که يا ؟ . مطلب دا چي زه يو ټرېشل لرم دهغه په ذريعه سره مزدوري کوم مثلا يوخروار غنم په لس منه غنمو مزدوري باندي ټرېشل کومه . پوښتنه داده چي ما ددغه ټرېشل په ذريعه سره چي کوم غنم ګټلي دي په دغه غنمو کښې زکوة سته که يا ؟

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دي چي په صنعتي آلاتو او دتجارت په وسائلو کښې چي کله دتجارت دپاره نه وي بلکي دکسب او ګټي دپاره وي نو دهغوی په ذات کښې زکات واجب نه دی که څه هم ددغه ماشينانو او آلاتو قيمت په لکونو او ميلنونو روپيو ته رسيږي . بلکي زکوة يعني څلوېښتمه حصه ددغه ماشينانو او آلاتو څخه پر حاصله سوې ګټه باندي لازم دی . البته که چيري دغه ماشينان يا آلات صنعت لکه ټرېشر وغيره دتجارت دپاره وه لکه شوروم والا چي يې کاروبار کوي په داسي صورت کښې بيا دهغوی په ذات کښې زکوة لازم دی .

لما قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالي فى الدرالمختار : (وَلَا فِي ثِيَابِ الْبَدَنِ) .... وَكَذَلِكَ آلَاتُ الْمُحْتَرِفِينَ .... وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قَوْلُهُ: وَكَذَلِكَ آلَاتُ الْمُحْتَرِفِينَ) أَيْ سَوَاءٌ كَانَتْ مِمَّا لَا تُسْتَهْلَكُ عَيْنُهُ فِي الِانْتِفَاعِ كَالْقَدُّومِ وَالْمِبْرَدِ أَوْ تُسْتَهْلَكُ ....وقال العلامة الدكتور وهبة الزهيلي رحمه الله تعالى فى الفقه الاسلامي وادلته : ولازكاة باتفاق المذاهب على الحوائج الأصلية من ثياب البدن والأمتعة ودور السكنى (العقارات) وأثاث المنزل، ودواب الركوب، وسلاح

الاستعمال، والكتب العلمية وإن لم تكن لأهلها إذا لم ينو بها التجارة،: وآلات المحترفين؛ لأنها مشغولة بالحاجة الأصلية، وليست بنامية أصلاً.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۲۶۴ کتاب الزکوة مکتبه شامله بيروت چاپ / الفقه الاسلامي وادلته ج ۳ ص ۱۵۹ کتاب الزکوة مکتبه شامله بيروت چاپ / الهداية ج ۱ ص ۱۶۶ کتاب الزکوة / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۷۲ کتاب الزکوة مکتبه رشيديه / فتاوی محموديه ج ۹ ص ۴۲۷ کتاب الزکوة / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۲۴۹ باب في زكوة الاموال / دزکوة دمسائلو انسايکلوپيډيا ص ۳۵۹ اردو تاليف مفتي انعام الحق صاحب)

دبزګر دبزګرۍ دحصې زکوة پر چادی ؟

سوال ۱۹ : زه یو کس یم دیو چا بزګري کوم په دریمه یا په پنځمه حصه باندي . پوښتنه داده چي دمځکي دپیداوار څخه عشر اداء کول دچا پر ذمه باندي لازم دي ؟ یوازي دمځکي پر مالک باندي که پر بزګر او مالک دواړو باندي ؟.

جواب : حضرت مولانا مفتي ګل حسن صاحب دامت برکاته په (**کتاب الفتاوی ج ۲ ص ۱۶۰ باب العشر**)کښې دغه سوال ته په حواله دردالمحتار او بدائع الصنايع کتابونو داسي جواب ليکلی دی : بهتره طريقه داده چي دمځکي د حاصل او پيداوارتر تقسيم او وېشلو مخکي مالک دمځکي او بزګر دواړه په مشترکه توګه دماېينه څخه عشر اداء کړي . او بيا پاته پيداوار دخپلو حصو موافق تقسيم کړي ددې دپاره چي د دواړو دحصو څخه عشر اداء سي . البته که چيري دوی دمېانه او ماېينه څخه عشرا ادا نه کړی نو بيا پر هر کس باندي دخپلي خپلي حصې عشر اداء کول لازمي دی .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : وَهُوَ الظَّاهِرُ لِمَا فِي الْبَدَائِعِ مِنْ أَنَّ الْمُزَارَعَةَ جَائِزَةٌ عِنْدَهُمَا وَالْعُشْرُ يَجِبُ فِي الْخَارِجِ وَالْخَارِجُ بَيْنَهُمَا فَيَجِبُ الْعُشْرُ عَلَيْهِمَا اهـ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۶۱ کتاب الزکوة مکتبه رشيديه / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۵۶ کتاب الزکوة شرائط الاهلية مکتبه شامله بيروت چاپ / کتاب الفتاوی ج ۲ ص ۱۶۰ باب العشر / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۳۴۵ باب العشر والخراج رساله السراج لاحكام العشر والخراج کراچي چاپ / فتاوی مفتي محمود ج ۳ ص ۲۷۹ باب العشر اردو)

داجارې دمځکي زکوة دمصرف څخه مخکښې ورکول کيږي که وروسته ؟

سوال ۲۰ : داجارې دمځکي عشر لسمه حصه دمصرف يعني دټکټر داړولو او دامبارواو دلوکوونکي يا خپله ددغه مځکي داجارې مصرف چي په څومره پيداوار سره دا اجاره سوېده يا دې ته ورته لکه تخم وغيره نور داسي مصرفونه چي په سوي وي عشر ددغه مصرفونو دجلاکولو څخه مخکښې ورکول کيږي او که وروسته ؟

جواب : په شريعت مطهره کښې دمځکي دپيداوار څخه لسمه حصه هغه وخت ورکول ضروري دی کله چي دمځکي څخه پيداوار حاصل او راووزي بيله دغه چي هغه مصرفونه چي په دغه مځکي باندي سوي دي هغه ځني جلا سي .

لما قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار: (بِلَا رَفْعِ مُؤَنٍ) أَيْ كُلَفِ (الزَّرْعِ) وَبِلَا إخْرَاجِ الْبَذْرِ لِتَصْرِيحِهِمْ بِالْعُشْرِ فِي كُلِّ الْخَارِجِ . .....وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قَوْلُهُ: بِلَا رَفْعِ مُؤَنٍ) أَيْ يَجِبُ الْعُشْرُ فِي الْأَوَّلِ وَنِصْفُهُ فِي الثَّانِي بِلَا رَفْعِ أُجْرَةِ الْعُمَّالِ وَنَفَقَةِ الْبَقَرِ وَكَرْيِ الْأَنْهَارِ وَأُجْرَةِ الْحَافِظِ وَنَحْوِ ذَلِكَ دُرَرٌ قَالَ فِي الْفَتْحِ يَعْنِي لَا يُقَالُ بِعَدَمِ وُجُوبِ الْعُشْرِ فِي قَدْرِ الْخَارِجِ الَّذِي بِمُقَابَلَةِ الْمُؤْنَةِ بَلْ يَجِبُ الْعُشْرُ فِي الْكُلِّ؛ لِأَنَّهُ - عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ - حُكْمٌ بِتَفَاوُتِ الْوَاجِبِ لِتَفَاوُتِ الْمُؤْنَةِ وَلَوْ رُفِعَتْ الْمُؤْنَةُ كَانَ الْوَاجِبُ وَاحِدًا وَهُوَ الْعُشْرُ دَائِمًا فِي الْبَاقِي؛ لِأَنَّهُ لَمْ يَنْزِلْ إلَى نِصْفِهِ إلَّا لِلْمُؤْنَةِ وَالْبَاقِي بَعْدَ رَفْعِ الْمُؤْنَةِ لَا مُؤْنَةَ فِيهِ فَكَانَ الْوَاجِبُ دَائِمًا الْعُشْرَ لَكِنَّ الْوَاجِبَ قَدْ تَفَاوَتَ شَرْعًا فَعَلِمْنَا أَنَّهُ لَمْ يُعْتَبَرْ شَرْعًا عَدَمُ عُشْرِ بَعْضِ الْخَارِجِ وَهُوَ الْقَدْرُ الْمُسَاوِي لِلْمُؤْنَةِ أَصْلًا اهـ وَتَمَامُهُ فِيهِ

(الدرالمختارمع ردالمحتارباب العشرج ۲ ص ۵۶ مکتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۴۱۲ مکتبه رشيديه / فتح القديرج ۲ ص ۱۹۴ باب العشر / فتاوی دارلعلوم ديوبند ج ۶ص ۱۷۰ باب العشر / دزکوة مسائل تاليف مفتي انعام الحق صاحب ص ۳۰۶)

داویازره کالدارو پر سروزرو باندي زکوة نسته .

سوال ۲۱: که چیري یو شخص داویا زره کالدارو سره زر په خپل ملکیت کي ولري زکوة باندي سته که یا ؟

جواب : فقهآء کرامو داحادیثو درویه څخه دسروزرو دنصاب اندازه شل مثقاله بیان کړې ده کومه چي دنن سبا جدید اوزانو سره تقریبا اوه اتیا نیم ګرامه کیږي (۵۰۰ - ۸۷) ګرامه کیږي لهذا پر سروزرو باندي هغه وخت زکوة لازم دی کله چي دغه مخصوص وزن ته ورسیږي تر دې چي کم وي نو زکوة نسته باندي دغه سره زر دي وتلل سي بیا یې حساب معلومیږي .

(الْفَصْلُ الْأَوَّلُ فِي زَكَاةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ) تَجِبُ فِي كُلِّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ خَمْسَةُ دَرَاهِمَ، وَفِي كُلِّ عِشْرِينَ مِثْقَالِ ذَهَبٍ نِصْفُ مِثْقَالٍ مَضْرُوبًا كَانَ أَوْ لَمْ يَكُنْ مَصُوغًا أَوْ غَيْرَ مَصُوغٍ حُلِيًّا كَانَ لِلرِّجَالِ أَوْ لِلنِّسَاءِ تِبْرًا كَانَ أَوْ سَبِيكَةً كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۷۸ کتاب الزکوة الباب الثالث / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۵ ص ۷۹ دزکوة دنصاب او شرائط)

دامانت په روپو کښي زکواة سته که یا؟

سوال ۲۲: که دیو کس سره دبل کس روپۍ امانت پرتې وي ایا دغه دبل په امانت روپو کښې زکوة سته ددغه کس پر ذمه چي ورسره پرتي دي او که نسته ؟

جواب: که دبل چا روپۍ ستاسره امانت پرتې دي دهغو روپو زکوة ستاپر ذمه نه دی، لازم لکه پر خپل اصلي مالک چي یې زکواة ایستل لازم دي که چیري اصلي مالک تاته اختیار درکړی وي دزکواة اداء کولو نو ته کولای سې چي زکواة یې اداء کړې شرعا کوم حرج نه لري.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار :ولو تصدق عنه بامره جاز .

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۲۵۹ مکتبه رشیدیه / کتاب الزکوة / البحرالرّایق ج ۲ ص ۲۰۲ / الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۱۷۵ / فتح القدیر ج ۲ ص ۱۲۳ / دزکوة مسائل اردو ص ۵۴)

د سود دمعاملې څخه چي کومي روپۍ لاس ته راغلي وي پر هغوی زکوة سته که یا؟

سوال ۲۳: د سود په معامله کښې چي کوم مال او پیسې لاسته راسي زکواة پکښې سته که یا ځني کسان وایي چي د سود په روپو کښې زکوة نسته ایا دا خبره درسته ده که یا؟

جواب: د سود پر رقم او پیسو باندي زکواة نسته دسود رقم او روپۍ او ګټه شرعًا حرامه ده او د حرامو پیسو په باره کښې حکم دادی دکوم ځایه څخه چي یې اخیستي وي هغه ځای ته دي واپس کړي او که یې واپسي ناممکنه وه نو دي د ثواب دنیت څخه بغیر یو فقیر او غریب ته ورکړي او ځان دي ددغه ناسوره څخه خلاص کړي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قوله: كما لو كان الكل خبيثا) في القنية لو كان الخبيث نصابا لا يلزمه الزكاة؛ لأن الكل واجب التصدق عليه فلا يفيد إيجاب التصدق ببعضه. اهـ.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج۴ ص ۱۴۶ باب زکاة الغنم / فتاوی هندیة ج۴ ص ۳۴۹/ مسایل الزکواةص ۲۷۱ / بزازیه علي هامش الهندیة ج۴ ص ۸۶ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۲۲۶ باب وجوب الزکاة)

باب العشر

داجارې دمځکي عشر پرچا دی ؟

سوال ۱: یو کس راولاړ سو خپله مځکه یې بل چاته په اجاره ورکړه او مځکي خپل پیداوار وکړی پو ښتنه داده چي دمځکي دپیداوار عشر او زکوة پرچا دی د مځکي پرمالک دی او که پر هغه شخص چي په اجاره یې دا مځکه اخیستې ده .

جواب : په دې مسئله کښې اختلاف دی امام ابو حنیفه رحمة الله علیه فرمایي چي عشر دمځکي پرمالک باندي دی او امام محمد او ابویوسف رحمة الله علیهما فرمایي چي پر اجاره اخیستونکي باندي دی په فتاوی حقانیه کښې لیکلي دي چي بهتره داده چي دامسئله پرعرف عام باندي پریښوول سي که چیري دعلاقې درواج مطابق دمځکي پرمالک باندي عشر وي نو بیا دي دمځکي دمالک څخه واخیستل

سي او که پر کرونکي باندي وي نو له کرونکي څخه دي واخيستل سي غالباً داسي وي چي اجاره اخيستونکي ته بچت زيات پاته کيږي لهذا د دغه مځکي د ټوله پيداوار عشر چي لسمه يي بولي يا نصف عشر چي شلمه يي بولي پر هغه کس اداء کول دي چي دغه مځکه يي په اجاره اخيستې ده يعني مستاجِر باندي .

وفی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار : والْعُشْرُ عَلَى الْمُؤَجِّرِ كَخَرَاجٍ مُوَظَّفٍ وَقَالَا عَلَى الْمُسْتَأْجِرِ كَمُسْتَعِيرٍ مُسْلِمٍ وَفِي الْحَاوِي وَبِقَوْلِهِمَا نَأْخُذُ . وفی الفتاوی الهندية : لوآجر ارضا عشرية كان العشر على الاجر عند ابی حنيفة وعندهما على المستاجر .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۳۴ باب العشر / الفتاوی الهندية : ج ۱ ص ۱۸۷ الباب السادس في زكوة الزروع والثمار / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۳۷ باب العشر / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۲۷۲/ فتاوی فريديه ج ۳ ص ۴۸۴ / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۱۴۸)

وامام ته په اجرت او مزدوری کښي عشر ورکول .

سوال ۲ : امام ته د امامت په اجرت او مزدوری کښي عشر او زکوة ورکول روا ده دی که يا ؟

جواب : کوم شخص چي غني وي هغه ته زکوة اخيستل شرعا نه دی رواه هغه نو که عالم وي او که طالب العلم وي . او په اجرت او مزدوری کښي د زکوة ورکول که په جبر سره وي او که په رضا سره وي جائز نه دی په داسي صورت کښې د دغه قوم او خلکو زکوة نه اداء کيږي او نه هم د خلکو غاړي په خلاصيږي خو بيا هم که چيري امام غريب او مسکين وي نو د صله رحمي په توګه سره هغه ته په زکوة ورکولو کښي څه حرج نسته خو د شرط په ډول به نه وي .

وفی الفتاوی الهندية : وَلَوْ نَوَى الزَّكَاةَ بِمَا يَدْفَعُ الْمُعَلِّمُ إلَى الْخَلِيفَةِ، وَلَمْ يَسْتَأْجِرْهُ إنْ كَانَ الْخَلِيفَةُ بِحَالٍ لَوْ لَمْ يَدْفَعْهُ يُعَلِّمُ الصِّبْيَانَ أَيْضًا أَجْزَأَهُ، وَإِلَّا فَلَا، وَكَذَا مَا يَدْفَعُهُ إلَى الْخَدَمِ مِنْ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ فِي الْأَعْيَادِ وَغَيْرِهَا بِنِيَّةِ الزَّكَاةِ كَذَا فِي مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ

قال ابن نجيم : وفی الملتقط من الاجارة : المعلم اذا اعطی خليفته شيئا ناويا كالزكوة فان كان بحيث يعمل له لو لم يعطه يصح عنها والا فلا.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۹۰ کتاب الزکوة الباب السابع في المصارف / الاشباه والنظائر ج ۲ ص ۶۴ / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۲۴۴ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۲۰ / المبسوط للرخسي ج ۳ ص ۱۳ / بدائع الصنائع ۲ ۴۶۲ خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۳۷ / ردالمحتار ج ۲ ص ۶۷ فتح القدیر ج ۲ ص ۲۵ / الفتاوی التاتار خانیة ج ۲ ص ۲۷۰ / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۴۲ / الطحطاوی علي الدرالمختار ج ۱ ص ۳۹۲ / فتاوی فریدیه ج ۳ ص ۵۳۸ / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۲۶۲ / فقه السنة ج ۱ ص ۳۵۹ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۳ ص ۴۰۱ / البنایة شرح الهدایة ج ۳ ص ۵۴۵ / مجمع الانهر ج ۱ ص ۲۲۳ / الطحطاوی علي مراقي الفلاح ج ۱ ص ۵۹۵ / مجموع سبع الرسائل)

ایا دعشر او لسمي حصې فرضیت هم د قرآن کریم په ایاتونو سره ثابت دی ؟

سوال ۳: زما پوښتنه دا ده چې د لمانځه او زکوة د فرضیت آیاتونه خو په قرآن کریم کښې سته (واقیموا الصلوة واتو الزکٰوة) آیا د عشر او لسمي حصې د اداء کولو پر برابر یو آیت د قرآن کریم سته که یې موږ په بل کوم دلیل سره ثابتوو او حال دا دی چې عشر ورکول فرض دی؟

جواب: د عشر د فرضیت دلیل د قرآن کریم د (۸) پارې سورة الانعام ۱۴۱ آیت کې الله جل جلاله فرمائي :

(وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ (۱۴۱) سورة الانعام پاره ۸)

تاسي ورکړئ حق د دې کښت او پیداوار دمځکي په ورځ د رېبلو او د رشې امام المفسرین عبد الله بن عباس فرمائي د حقه څخه مراد عشر دی.

لمافي البحر : أَمَّا الْأَوَّلُ فَثَابِتٌ بِالْكِتَابِ قَوْله تَعَالَى - {وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ} (الأنعام: ۱۴۱) عَلَى قَوْلِ عَامَّةِ أَهْلِ التَّأْوِيلِ هُوَ الْعُشْرُ أَوْ نِصْفُهُ، وَبِالسُّنَّةِ «مَا سَقَتْهُ السَّمَاءُ فَفِيهِ الْعُشْرُ وَمَا سُقِيَ بِغَرْبٍ أَوْ دَالِيَةٍ فَفِيهِ نِصْفُ الْعُشْرِ»

(تفسیر قرطبي ج ۷ ص ۹۶ / تفسیرمظهري ج ۳ ص ۳۱۸ / تفسیرمنیر ج ۴ ص ۴۲۶ / البحرالرائق ج ۲ ص ۴۱۲ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۷۳ مکتبه رشیدیه / عزیزالفتاوی ج ۱ ص ۳۶۰)

دبرمې او باوړې په پیداوار کي شلمه حصه لازمه ده .

سوال ۴ : داسي مځکه چي دبرمې او باوړې په ذریعه سره اوبیږي یا دواټرپمپ او ټربیین او ماشین په ذریعه سره اوبیږي ددې په پیداوار کي لسمه حصه عشر دی که شلمه حصه ؟

جواب : هغه مځکي چي دباوړې او برمې ، ماشین او ټربیین په ذریعه سره اوبیږي په هغوی کښې شلمه حصه یعني نصف عشر لازم دی دغه ماشینونه نو بیا عام دي که دپټرولو په ذریعه سره چلیږي او که دبرق په ذریعه سره او که ډیزلو په ذریعه سره چلیږي .

لما قال العلامة علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي (المتوفى: ٥٨٧ هـ) فى بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ثُمَّ عُرِفَ مِقْدَارُ الْحَقِّ بِالسُّنَّة وَأَمَّا السُّنَّةُ فَمَا رَوَيْنَا وَهُوَ قَوْلُهُ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – «مَا سَقَتْهُ السَّمَاءُ فَفِيهِ الْعُشْرُ وَمَا سُقِيَ بِغَرَبٍ، أَوْ دَالِيَةٍ فَفِيهِ نِصْفُ الْعُشْرِ

ولما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : ومع إطلاق قول الفقهاء يجب العشر في مسقي سماء وسيح ونصفه في مسقي غرب ودالية .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۵۴ باب العشر مكتبه رشيديه / البحر الرائق ج ۲ ص ۴۱۶ / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۷۲ / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۸۶ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۲۸۷)

دغنمو څخه په حاصل سوو پروړو کښې عشر سته که یا ؟

سوال۵: دغنمو درشو داړولو او دزکات دورکولو څخه وروسته په پروړو کښې یې زکات سته که یا ؟

جواب : فتاوی حقانیه چي دمولانا عبدالحق صاحب رحمه الله دافاداتو څخه ده په هغې کښې دغه مذکوره پوښتني ته داسي جواب ویلی دی :دکوم مقصد دپاره چي فصل کرل کیږي یعني کوم شی چي مقصود بالزرع وي نو عشر به هم دهغه شي څخه

اداء کیږي . ددې څخه علاوه چي په ضمني توګه کوم شی ترلاسه کیږي که څه هم دهغه قیمت تر اصل شي زیات وي نو په دغه شي کښې عشر یا نیم عشر واجب نه وي لکه څرنګه چي دغنمو د کرلو څخه مقصد غنم دي نو ددې دپاره په پرورو یا خپله شنه سوو وښو کښې یې عشر واجب نه دی .

وفی الهداية : اما الحطب والقصب والحشيش فلا تستنبت في الجنان عادة بل تنقى عنها حتى لو اتخذها مقصبة أو مشجرة أو منبتا للحشيش يجب فيها العشر

وقال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى:(إِلَّا فِيهِمَا) لَا يُقْصَدُ بِهِ اسْتِغْلَالُ الْأَرْضِ (نَحْوُ حَطَبٍ وَقَصَبٍ) فَارِسِيٍّ (وَحَشِيشٍ) وَتِبْنٍ وَسَعَفٍ وَصَمْغٍ وَقَطِرَانٍ وَخِطْمِيٍّ وَأُشْنَانٍ وَشَجَرِ قُطْنٍ وَبَاذِنْجَانٍ وَبِزْرِ بِطِّيخٍ وَقِثَّاءٍ وَأَدْوِيَةٍ كَحُلْبَةٍ وَشُونِيزٍ حَتَّى لَوْ أَشْغَلَ أَرْضَهُ بِهَا يَجِبُ الْعُشْرُ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۲۷ باب العشر / الهداية ج ۱ ص ۱۸۴ باب زكوة الزروع والثمار / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۸۶ باب السادس في زكوة الزروع والثمار / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۲۷۶ باب العشر)

دسودخوره کس په کښت کي عشر سته که یا ؟

سوال ٦ : دسود خوره کس دمځکي څخه په حاصل سوي کښت کي عشر او زکوة سته که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو چي دعشر دوجوب کوم شرطونه بیان کړي دي دهغه شرطونو دنګاه څخه دسودخوره کس دمځکي په پیداوار کي هم عشر لازم دی . والله اعلم بالصواب .

لما في الفتاوى الهندية : وشرط وجوبه نوعان الأول شرط الأهلية، وهو الإسلام........ والنوع الثاني شرط المحلية، وهو أن تكون عشرية فلا عشر في الخارج من أرض الخراج.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۸۵ الباب السادس في زكاة الزرع والثمار مكتبه شامله / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۵۴ / فتاوى تاتارخانية ج ۲ ص ۳۲۳ كتاب العشر ادارةة القرآن / دزكوة مسائل ص ۳۱۱)

باب صدقة الفطر

دروژې دمیاشتي ځخه بغیر په بله میاشت کښې سرسایه ورکول جایز ده که یا ؟

سوال ۱ : که چیري یو کس په روژه کښې خپله سرسایه ادانه کړي ایا د کوچني اختر ځخه وروسته ددغه کس پر ذمه باندي سرسایه ورکول لازم ده که یا ؟

جواب: صدقه فطریا سرسایه د کوچني اختر دلمانځه ځخه دمخه اداکول پکاردي ځکه چي هغه غریب خلګ به داختر په خوشحالیو کښې دمالداره خلګوسره شریک سي خو که چیري دیو عذر پربنا باندي سرسایه ادانه کړي نودده دذمې ځخه نه ساقطیږي بلکي په نورو میاشتو کښې یې ورکول لازم دي .

وفي الهندية :وَإِنْ قَدَّمُوهَا عَلَى يَوْمِ الْفِطْرِ جَازَ، وَلَا تَفْضِيلَ بَيْنَ مُدَّةٍ، وَمُدَّةٍ، وَهُوَ الصَّحِيحُ، وَإِنْ أَخَّرُوهَا عَنْ يَوْمِ الْفِطْرِ لَمْ تَسْقُطْ، وَكَانَ عَلَيْهِمْ إخْرَاجُهَا كَذَا فِي الْهِدَايَةِ. وَأَمَّا وَقْتُ أَدَائِهَا فَجَمِيعُ الْعُمُرِ عِنْدَ عَامَّةِ مَشَايِخِنَا - رَحِمَهُمُ اللَّهُ

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۹۲ الباب الثامن في صدقة الفطر رشيديه/الهداية ج ۱ ص ۲۲۹ فصل في مقدار الواجب ووقته رحمانيه/الكفاية ج ۲ ص ۸۱ باب صدقة الفطر رشيديه / العناية شرح الهداية ج ۲ ص ۲۹۹ فصل في مقدار الواجب ووقته بيروت /البناية شرح الهداية ج ۳ ص ۵۰۵ فصل في مقدار الواجب في زكاة الفطر/فتاوى عبادالرحمن ج ۳ ص ۱۳۸ كتاب الزكات)

باب الصدقات النفليه

په خپل ژوند کښې دآخرت دپاره توښه جوړول .

سوال ۱ : که چیري یو مسلمان د خپلو وارثانو ځخه دا امید نه لري چي دوی به پس د ده د مرګه ځخه په ده پسي خیرانوته وکړي نو دی خپله د خپل ځان غم وخوري مثلا د قرآن شریف سیپارې دی مسجد ته واستوي یا یو ځاه د خیر دپاره وکیني یا په یو مسجد کي پنکې ولګوي ایا دغه طریقه د شریعت له نظره ځخه چي انسان یې د آخرت توښه جوړه کړي روا ده که یا؟

جواب: دا طریقه جائز لا ځه کوې بلکه بهتره او افضله عمل دی چي انسان خپل په ژوند کي پخپله ذخیره آخرت جمع کړي، او د هغه اهتمام وکړي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَرضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ: إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ (رواه مسلم)

(صحيح المسلم ج ۵ ص ۷۳ مکتبه شامله / سنن ابي داؤد ج ۳ ص ۷۷ مکتبه شامله / سنن النسائي ج ۴ ص ۱۰۹ مکتبه شامله / بیهقي ج ۶ ص ۲۷۸ مکتبه شامله / مشکوة المصابیح ج ۱ ص ۳۲ / اپ کي مسائل ج ۴ ص ۴۳۴ اردو)

فاسق او فاجر کس ته خیرات ورکول چي مسکین وي صحیح دی که یا ؟

سوال ۲ : یو کس فقیر او مسکین دی خو بل طرف ته بیا ګمراه یعنی فاسق او فاجر دی ایا دغه کس ته خیرات ورکول رواه دی که یا ؟

جواب : که چیري دغه فاسق او فاجرمسکین کس عیالداره وي نو بیا دته خیرات ورکول رواه دی ځکه چي دی دخیرات او زکوة مستحق دی او په شریعت کښې فاسق لا څه کوې بلکي وغیر مسلم ذمي ته لاخیرات ورکول رواه دی . البته که چیري دغه کس ددغه خیرات دروپو څخه یوه داسي استفاده کوله چي هغه دده په دیني یا جسماني تاوان او ضرر باندي تماميږله نو بیا خیرات ورکول نه دی رواه چي ښه مثال يې د نن سبا روینیان دي چي په بازار کښې فقر کوي او بیا ځي دهیروینو پوړی په رانیسي څکوي يې داسي کسانو ته بیا خیرات ورکول هم نه دی پکار .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :(مَصْرِفِ الزَّكَاةِ وَالْعُشْرِ) (هُوَ فَقِيرٌ، وَهُوَ مَنْ لَهُ أَدْنَى شَيْءٍ) أَيْ دُونَ نِصَابٍ أَوْ قَدْرُ نِصَابٍ غَيْرِ نَامٍ مُسْتَغْرِقٍ فِي الْحَاجَةِ.(وَمِسْكِينٌ مَنْ لَا شَيْءَ لَهُ) عَلَى الْمَذْهَبِ، - لِقَوْلِهِ تَعَالَى {أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ} (البلد: ۱۶)

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۶۴ باب مصارف الزکوة والعشر مکتبه رشیدیه / الهدایة ج ۱ ص ۱۸۷ باب مصارف الزکوة مکتبه حقانیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۸۸ کتاب الزکوة الباب السابع في المصارف / کفایت المفتي ج ۶ ص ۲۴۴ ادارة الفاروق کراچي)

حیوان چي مړ کیږي بیا یې حلال کړي غوښې یې خیرات کړي ثواب لري که یا ؟

سوال ۳ : که چیري یو حیوان مړ کیږي او بیا حلال کړل سي غوښې یې خیرات کړل سي دغه خیرات شرعا ثواب لري که یا ؟ .

جواب : ددغه حلال کړي حیوان غوښې په دوو شرطونو سره ثواب او اجر لري . **اول** : داچي ددغه ناجوړي حیوان غوښې به دطب دنګاه څخه وصحت ته مضري نه وي **.دوهم :** شرط دادی چي دده نیت به دالله جل جلاله رضا وي .

قال الله تعالى فی القرآن الحکیم :إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا . سورة التوبة (۶۰) آیت .

الصدقة : هی العطیة اللتی تبتغی بها المثوبة من الله تعالى . خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا . سورة التوبة (۱۰۳) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ، وَلاَ يَقْبَلُ اللَّهُ إِلَّا الطَّيِّبَ، وَإِنَّ اللَّهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ، ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ، كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ، حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الجَبَلِ»

(الترغیب والترهیب ج ۲ ص ۳ طبع بیروت / صحیح البخاری ج ۲ ص ۱۰۸ بیروت چاپ / صحیح مسلم شریف ج ۲ ص ۷۰۲ / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۵ ص ۲۱۳ باب الصدقات النفلية)

باب مصارف الزکوة

روینبانو او نشه یانو (په نشې روږدو کسانو ته) زکوة ورکول

سوال ۱ : نن سبا روینیان ، چرسیان او په نشې روږد کسان زکاتونه او خیراتونه ټولوي که چیري وداسي خلکو ته زکوة ورکړل سي نو ایا زکوة اداء کیږي که یا ؟

جواب : په شریعت مطهره کي زکوة پر هر مسکین او فقیر باندي کیږي که څه هم هغه مسکین هغه مال او روپۍ پر ګناهونو باندي لګوي . لیکن بیا هم زکات ورکوونکي ته ددې خبري خیال ساتل پکار دي چي دکوم عاصي (ګناهګاره) سره په ګناه کولو کي تعاون ونه کړي لهذا بنا پر دغه صورت روینبانو او چرسیانو او په نشې روږدو کسانو ته ددغه ناروا امورو دارتکاب دوجي څخه زکوة ورکول مناسب نه دی .

لما قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (هِيَ) لُغَةً الطَّهَارَةُ وَالنَّمَاءُ، وَشَرْعًا (تَمْلِيكُ) خَرَجَ الْإِبَاحَةُ....... فَلَوْ أَطْعَمَ يَتِيمًا نَاوِيًا الزَّكَاةَ لَا يَجْزِيهِ إلَّا إذَا دَفَعَ إلَيْهِ الْمَطْعُومَ ...... (جَزْءُ مَالٍ) خَرَجَ الْمَنْفَعَةُ، فَلَوْ أَسْكَنَ فَقِيرًا دَارِهِ سَنَةً نَاوِيًا لَا يَجْزِيهِ (عَيَّنَهُ الشَّارِعُ) ...... (مِنْ مُسْلِمٍ فَقِيرٍ) وَلَوْ مَعْتُوهًا (غَيْرِ هَاشِمِيٍّ وَلَا مَوْلَاهُ)

(الدرالمختار علي هامش الطحطاوی ج ۱ ص ۳۸۹ کتاب الزکوة / ج ۲ ص ۲۶۷ کتاب الزکوة مکتبه شامله بیروت چاپ / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۹۰ الباب السابع في المصارف / البحر الرائق ج ۲ ص ۲۱۱ کتاب الزکوة / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۳۲ باب مصارف الزکوة)

دزکوة په پيسو باندي مسجد يا مدرسه ياشفاخانه جوړول .

سوال ۲ : ایا دزکوة په پیسو باندي یو کس مسجد یا مدرسه یا شفاخانه جوړولای سي که یا ؟

جواب : دزکوة داداء کولو دپاره شرط دادی چي دزکوة ومستحق ته هغه دزکوة پیسې بیله کوم عوضه په ملکیت کښې ورکړل سي دمسجد او مدرسې په تعمیراتي کارونو کښې دزکوة دپیسو په مصرف کولو کښې تملیک نه راځي نو ځکه زکوة يې نه اداء کیږي لهذا په دغه مقاماتو کښې دزکوة پیسې مصرف کول نه شرع نه دی صحیح او دزکوة ورکوونکي غاړي نه خلاصیږي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :(لَا) يُصْرَفُ (إلَى بِنَاءِ) نَحْوِ (مَسْجِدٍ وَ) لَا إلَى (كَفَنِ مَيِّتٍ وَقَضَاءِ دَيْنِهِ)

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعلى في ردالمحتار : تحت (قَوْلُهُ: نَحْوُ مَسْجِدٍ) كَبِنَاءِ الْقَنَاطِرِ وَالسِّقَايَاتِ وَإِصْلَاحِ الطُّرُقَاتِ وَكَرْيِ الْأَنْهَارِ وَالْحَجِّ وَالْجِهَادِ وَكُلِّ مَا لَا تَمْلِيكَ فِيهِ زَيْلَعِيّ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۸۵ باب المصرف / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۸۸ باب المصرف / فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۲۵۲ کتاب الزکوة)

وپوروړي ته پور په زكوة كښې پور وربخښل .

سوال ۳ : كه چيري داحمد پر محمود باندي روپۍ باندي او قرض وي او س احمد غواړي چي دغه پور او قرض ومحمود ته په زكوة كښې وركړي نو پر دغه طريقه يې زكوة اداء كيږي او غاړي خلاصيږي كه يا ؟

جواب : هر كله چي په دغه ذكر سوي صورت كښې تمليک نسته او په زكوة كښې تمليک (يعني هغه شي ددغه مستحق ملک گرځول) شرط دى لهذا په دې وجه زكوة نه اداء كيږي . البته كه چيري احمد ومحمود ته نغدي روپۍ په زكوة كښې وركړي او دهغه څخه وروسته خپل پور ځيني واخلي نو بيا يې غاړي خلاصيږي او زكوة اداء كول يې هم صحيح كيږي او شرعاً هم كوم حرج نه لري .

وفي الفتاوى الهندية : لو وهب دينه من فقير ونوى زكوة دين اخرى على رجل ونوى زكوة عين له لم يجز كذا في الكافي .

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۷۱ كتاب الزكوة الباب الاول / فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۷۲ / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۲۴۶ / احسن المسائل ص ۸۹)

ورور او مرورته زكات وركول رواه دى چي مستحق يې وي .

سوال ۴ : پوښتنه داده چي ايا يو كس خپل دمال زكوة وخپل وروريا مرور ته وركولاى سي كه يا ؟

جواب : شريعت مطهره دزكوة په باب كښې يو اصل بيان كړى دى، كه چيري يو څوک په هغه اصل باندي پوه سي نو دآينده دپاره به ډير سوالونه ورته حل سي هغه دا چي انسان خپل زكوة خپل واصولو او فروعو ته نه سي وركولاى، نوريې هرچاته وركولاى سي په دې شرط چي مستحق دزكوة وي . **داصولو څخه مراد** : (پلار دپلار پلار دهغه دپلار پلار او همداشان مور د مور مور او دهغې دمور مور دا اصول دي) . **او دفروعو څخه مراد** : (زوى لور لمسى، لمسى او دهغو زامن بيا نو ځه تر پايه پوري) ددې څخه علاوه كه اكا دى، كه ماما دى، كه امه ده كه خاله ده كه مامي وي كه داكا ښځه وي ، كه ذوم دى، كه مرور ده كه داكا زامن وي كه دماما زامن وي كه خوسر دى، كه خواښې ده كه باجه دى، كه خوښينه ده دې ټولو ته زكوة وركول رواه

دی، بلکي افضله هم دغه دی، چي وخپل اقرباوو ته زکوة ورکړل سي. **يو استثنايي صورت**: البته خاوند او ښځه يو او بل ته زکوة نه سي ورکولای.

وَقُيِّدَ بِأَصْلِهِ وَفَرْعِهِ؛ لِأَنَّ مَنْ سِوَاهُمْ مِنْ الْقَرَابَةِ يَجُوزُ الدَّفْعُ لَهُمْ، وَهُوَ أَوْلَى لِمَا فِيهِ مِنْ الصِّلَةِ مَعَ الصَّدَقَةِ كَالْإِخْوَةِ وَالْأَخَوَاتِ وَالْأَعْمَامِ وَالْعَمَّاتِ وَالْأَخْوَالِ وَالْخَالَاتِ الْفُقَرَاءِ وَلِهَذَا قَالَ فِي الْفَتَاوَى الظَّهِيرِيَّةِ: يَبْدَأُ فِي الصَّدَقَاتِ بِالْأَقَارِبِ ثُمَّ الْمَوَالِي ثُمَّ الْجِيرَانِ وَذَكَرَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ مَعْزِيًّا إلَى أَبِي حَفْصٍ الْكَبِيرِ: لَا تُقْبَلُ صَدَقَةُ الرَّجُلِ، وَقَرَابَتُهُ مَحَاوِيجُ فَيَسُدُّ حَاجَتَهُمْ.

(البحرالرائق ج ٢ ص ٤٢٥ باب المصرف مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٩٠ كتاب الزكوة الباب السابع في المصارف / الدر المختار مع الدرالمختار ج ٢ ص ٣٥٣ باب المصرف / فتاوى حقانيه ج ٣ ص ٣١٩ باب مصارف الزكوة / بدائع الصنائع ج ٢ ص ١٦٢ كتاب الزكوة / الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٨٨ مكتبه رشيديه)

دزكوة دپيسو پر ځای سامان او خوراكي توكي مسكينانو ته وركول.

سوال٥: كه چيري يو كس دزكوة غله خرڅه كړي او په بدل كښې ومسكينانو ته خوراكي توكي يا نور سامان وركړي داسي كول شرعا درست او رواه دي كه يا؟

جواب: داسي كول شرعا درست او صحيح دي. يعني دزكوة په باب كښې خپله هغه شی هم مسكينانو ته وركولای سی، او خوراكي توكي يا سامان هم وركولای سی.

العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار: (وَجَازَ دَفْعُ الْقِيمَةِ فِي زَكَاةٍ وَعُشْرٍ وَخَرَاجٍ وَفِطْرَةٍ وَنَذْرٍ وَكَفَّارَةٍ غَيْرِ الْإِعْتَاقِ) لما قال

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار كتاب الزكوة باب الغنم ج ٢ ص ٤٨ مكتبه رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ٦ ص ١٨٣ باب مصارف الزكوة)

پور په زكات كښې وركوم په دې سره زكات اداء كيږي كه يا؟

سوال٦: زما پر يو چا باندي روپۍ پور باندي دي او س غوارم چي هغه روپۍ په زكوة كښې وربښږدم ايا په داسي كولو سره زكات اداء كيږي كه يا؟

جواب: دغي طريقي ته دشريعت په اصطلاح كښې (**اسقاط**) وايي او په اسقاط كښې شرط دادی، چي تمليک به وي يعني هغه كس به ته ددغه شي مالک ګرځوي

او په دې صورت کښې چې خالي په خوله ورته ووايې ما په زکوة کښې درپرې ايښې دي پيسې په مينځ کښې نه وي سره قبضه سوي په دې سره تمليک نه راځي لهذا په دغه طريقه سره زکات نه اداء کيږي. البته که چيري دغه د پيسو مالک و دغه پوره وړي ته پيسې په زکات کښې ورکړي او بيا يې بيرته په خپل پور کښې ځيني واخلي نو په داسي کولو سره زکات اداء کيږي.

وفى الفتاوى الهندية : وَلَوْ وَهَبَ دَيْنَهُ مِنْ فَقِيرٍ وَنَوَى زَكَاةَ دَيْنٍ آخَرَ لَهُ عَلَى رَجُلٍ آخَرَ أَوْ نَوَى زَكَاةَ عَيْنٍ لَهُ لَمْ يَجُزْ كَذَا فِي الْكَافِي.

الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٧١ كتاب الزكوة الباب الاول في تفسيرها الخ / فتاوى قاضي خان علي هامش الهندية ج ١ ص ٢٦٣ / ٢٦٤ فصل في هبة الدين من المديون / خلاصة الفتاوى ج ١ ص ٢٤٤ جنس في هبة الدين / فتاوى حقانية ج ٣ ص ٣٢٧ باب مصارف الزكوة)

اسلامي حکومت د کومو مالونو زکواة اخيستلائ سي؟

سوال ٧: يو اسلامي حکومت د خپل رعيت او عوامو څخه د کومو شيانو او مالونو زکواة اخيستلای سي؟

جواب: اسلامي شريعت اموال پر دوه قسمه ويشلي دي يو قسم ته اموال ظاهره وائي او بل قسم ته اموال باطنه وايي اموال ظاهره هغه مالونه دي که يې يو څوک پټول و غواړي نه يې سي پټولای لکه د څړ حيوانان ،د تجارت مال ،کارخانې او د هغوی څخه تيار سوي مالونه.

اموال باطنه بيا هغه مالونه دي که يې يو څوک پټول و غواړي پټولای يې سي لکه سره زر، سپين زر او نغدي د بانک روپۍ د صاحب نصاب کس پر سرمايې چې کله کال تير سي پر ظاهري او باطني اموالو باندې يې زکواة لازم دی چې دي به يې ځني اداء کوي اسلامي حکومت فقط د ظاهري اموالو زکواة اخيستلای سي نه د باطني اموالو.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قوله: الظاهرة والباطنة) فإن مال الزكاة نوعان: ظاهر، وهو المواشي، وما يمر به التاجر على العاشر، وباطن: وهو الذهب والفضة، وأموال التجارة في مواضعها بحر ومراده هنا بالباطنة ما عدا

المواشي بقرينة قولهم المارين بأموالهم وإلا فكل ما مر به على العاشر فهو من نوع الظاهر، وسماها باطنة باعتبار ما كان قبل المرور.أما الباطنة التي في بيته لو أخبر بها العاشر فلا يأخذ منها كما صرح به في البحر

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۳۱۰ باب العاشر في الزكاة مكتبه شامله / بدايع ج ۲ ص ۳۵ / البحرالرّايق ج ۲ ص ۲۳۱ باب العاشر / مسايل الزكزاة ص ۱۶۵ اردو / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۸۳)

دپلار زکوة واولاد ته نه دی رواه ؟

سوال ۸ : زما دوې خوندې واده سوي دي پلار مو ژوندی دی او دنیا هم دپلار ده اوس مونږ مځکه رانیول ایا زمونږ ددغې مځکې زکوة (عشر) زمونږ وخور ته رواه دی که یا ؟ .

جواب : شریعت مطهره دزکوة په باب کښې یو اصل بیان کړی دی، که چیري یو څوک په هغه اصل باندي پوه سي نو دآینده دپاره به ډیر سوالونه ورته حل سي هغه داچي انسان خپل زکوة خپل واصولو او فروعو ته نه سي ورکولای، نوریې هرچاته ورکولای سي په دې شرط چي مستحق دزکوة وي . **داصولو څخه مراد** :(پلار دپلار پلار دهغه دپلار پلار او همداشان مور د مور مور او دهغې د مور مور دا اصول دي) . **او دفروعو څخه مراد** : (زوی لور لمسی لمسۍ او دهغو زامن بیا نو ځه ترپایه پوري) ددې څخه علاوه که اکا دی، که ماما دی، که امه ده که خاله ده که مامي وي که داکا ښځه وي ، که ذوم دی، که مږور ده که داکا زامن وي که دماما زامن وي که خوسر دی، که خواښې ده که باجه دی، که خوښینه ده دې ټولو ته زکوة ورکول رواه دی، بلکي افضله هم دغه دی، چي وخپل اقرباوو ته زکوة ورکړل سي .**یو اشتثنایي صورت** : البته خاوند او ښځه یو او بل ته زکوة نه سي ورکولای .

لهذا په دغه ذکر سوي صورت کښې تاسي خپل دمځکې عشر وخپل خور ته نه سي ورکولای ځکه چي ددنیا ملکیت مو دپلار دی او که ددنیا ملکیت مو دپلار نه وي نو بیا یې ورکولای سی، په دې شرط چي هغه یې مستحقه وي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق وَقُيِّدَ بِأَصْلِهِ وَفَرْعِهِ؛ لِأَنَّ مَنْ سِوَاهُمْ مِنْ الْقَرَابَةِ يَجُوزُ الدَّفْعُ لَهُمْ، وَهُوَ أَوْلَى لِمَا فِيهِ مِنْ الصِّلَةِ مَعَ الصَّدَقَةِ كَالْإِخْوَةِ وَالْأَخَوَاتِ وَالْأَعْمَامِ وَالْعَمَّاتِ وَالْأَخْوَالِ وَالْخَالَاتِ الْفُقَرَاءِ وَلِهَذَا قَالَ فِي الْفَتَاوَى الظَّهِيرِيَّةِ: يَبْدَأُ فِي الصَّدَقَاتِ بِالْأَقَارِبِ ثُمَّ الْمَوَالِي ثُمَّ الْجِيرَانِ وَذَكَرَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ مَعْزِيًّا إلَى أَبِي حَفْصٍ الْكَبِيرِ: لَا تُقْبَلُ صَدَقَةُ الرَّجُلِ، وَقَرَابَتُهُ مَحَاوِيجُ فَيَسُدُّ حَاجَتَهُمْ.

(البحرالرائق ج ۲ ص ۲۴۳ باب المصرف / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۹۰ كتاب الزكوة الباب السابع في المصارف / الدر المختار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۳۵۳ باب المصرف / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۱۹ باب مصارف الزكوة / فتاوی تاتارخانیه ج ۳ ص ۲۰۶ باب مستحقي الزكوة)

دزکوة او خيرات څخه جوړ د ګډ وډ رقم او پيسو څخه د استاذانو او مدرسې دملازمينو تنخوا ورکول.

سوال ۹: که چيري په يوه ديني مدرسه کښې داسې ترتيب او نظم نه وي چې دزکوة او خيرات رقم او پيسې جلا جلا جمع کوي بلکې چې هر څه خلک ورته راوړي دی هغه ټوله يو ځای سره جمع کوي او بيا دهغه پيسو څخه مدرسينو استاذانو او ملازمينو ته مثلا لکه اشپز او چوکيدار وغيره ته تنخوا ورکوي. پوښتنه داده چې ددغه ګډووډو او مخلوطو پيسو څخه چې هم دزکوة پيسې په کښې دي هم دخيرات پيسې په کښې دي ددغه پيسو څخه ودغه استاذانو ملازمينو ته تنخواه ورکول صحيح ده که يا؟ که يې چيري ورکول رواه وي نو بيا خو دزکوة تمليک بېله عوضه رانه غلی بلکې په عوض کښې سو ايا دهغه شخص چې مدرسې ته يې زکوة ورکړی دی دهغه زکوة اداء سو که يا؟.

جواب: کومې پيسې چې دزکوة په نامه سره ومدرسې ته راغلې وي هغه دمدرسې دشاګردانو حق دی واستاذانو يا دمدرسې نورو ملازمينو ته په تنخوا کښې ورکول نه دي رواه. لهذا ددغه ګډو او مخلوطو پيسو څخه چې څومره اندازه زکوة ورکول سوی وي هغه زکوة شرعا نه دی اداء سوی هغه کس چې داسې مدرسې ته يې زکوة ورکړی وي چې په هغې مدرسې کښې دزکوة او خيرات دپيسو د تميز او جلا کولو

نظم موجود نه وي نو دهغه کسانو زکوة نه سو اداء مدرسې والا مکلف دي چې داسي کسانو ته اطلاع او خبر ورکړي چې تاسي دومره اندازه زکوة بیا اداء کړئ

تنبیه : نن سبا دیني مدارس داسي ترتیب ان شآء الله لري چې دزکوة او خیرات روپۍ جلا کوي او زموږ هم دغه ګمان دی .

إِنَّما الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ((٦٠) سورة التوبة)

ولماقال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : وَلَوْ دَفَعَهَا الْمُعَلِّمُ لِخَلِيفَتِهِ إنْ كَانَ بِحَيْثُ يَعْمَلُ لَهُ لَوْ لَمْ يُعْطِهِ وَإِلَّا لَا.

(الدرالمختارج ٢ ص ٣٥٦ فروع في مصرف الزكوة / حاشية الطحطاوي علي الدرالمختار كتاب الزكوة آخر باب المصرف ج ١ ص ٤٣٢ دارالمعرفة / فتاوی قاضيخان علي هامش الفتاوی العالمگيرية كتاب الوقف باب الرجل يجعل داره مسجدا ج ٣ ص ٢٩٩ مكتبه رشيديه / فتاوی محموديه ج ١٥ ص ٥٦٢ باب مايتعلق بالمدارس)

دپلار وميرې ته زكوة وركول رواه دی .

سوال ١٠ : پوښتنه دا ده چې يو كس دخپل پلار وميرې ته شرعا زكوة وركولای سي كه يا ؟

جواب : شريعت مطهره دزكوة په باب كښې يو اصل بيان كړی دی كه چيري يو څوک په هغه اصل باندي پوه سي نو دآينده دپاره به ډير سوالونه ورته حل سي هغه دا چې انسان خپل زكوة خپل واصولو او فروعو ته نه سي وركولای نوريې هرچاته وركولای سي په دې شرط چې مستحق دزكوة وي . **داصولو څخه مراد :** (پلار دپلار پلار دهغه دپلار پلار او همدا شان مور د مور مور او دهغې دمور مور دا اصول دي) . **او دفروعو څخه مراد :** (زوی لور لمسی لمسۍ او دهغو زامن بيا نو څه ترپايه پوري) ددې څخه علاوه كه اكا دی كه ماما دی كه امه ده كه خاله ده كه مامي وي كه داكا ښځه وي ، كه ذوم دی كه مږور ده كه داكا زامن وي كه دماما زامن وي كه خوسر دی كه خوابښې ده كه باجه دی كه خوښينه ده دې ټولو ته زكوة وركول رواه دی بلكي افضله هم دغه دی چې وخپل اقرباوو ته زكوة وركړل سي .**يو استثنايي**

صورت : البته خاوند او ښځه یو او بل ته زکوة نه سي ورکولای . لهذا یو کس کولای سي چي دخپل پلار و میرې ته زکوة ورکړي دا ځکه چي د پلار میره نه د دغه کس په اصولو کښې شامله ده او نه په فروعو کښې .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق وَقُيِّدَ بِأَصْلِهِ وَفَرْعِهِ؛ لِأَنَّ مَنْ سِوَاهُمْ مِنْ الْقَرَابَةِ يَجُوزُ الدَّفْعُ لَهُمْ، وَهُوَ أَوْلَى لِمَا فِيهِ مِنْ الصِّلَةِ مَعَ الصَّدَقَةِ كَالْإِخْوَةِ وَالْأَخَوَاتِ وَالْأَعْمَامِ وَالْعَمَّاتِ وَالْأَخْوَالِ وَالْخَالَاتِ الْفُقَرَاءِ وَلِهَذَا قَالَ فِي الْفَتَاوَى الظَّهِيرِيَّةِ: يَبْدَأُ فِي الصَّدَقَاتِ بِالْأَقَارِبِ ثُمَّ الْمَوَالِي ثُمَّ الْجِيرَانِ وَذَكَرَ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ مَعْزِيًّا إلَى أَبِي حَفْصٍ الْكَبِيرِ: لَا تُقْبَلُ صَدَقَةُ الرَّجُلِ، وَقَرَابَتُهُ مَحَاوِيجُ فَيَسُدُّ حَاجَتَهُمْ.

(البحرالرائق ج ۲ ص ۴۲۵ باب المصرف مکتبه رشیدیه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۹۰ کتاب الزکوة الباب السابع في المصارف / الدر المختار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۳۵۳ باب المصرف / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۱۹ باب مصارف الزکوة / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۶۲ کتاب الزکوة / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۸۸ مکتبه رشیدیه)

حاجي دحج کولو دپاره زکوة اخیستلای سي که یا ؟

سوال ۱۱ : که چیري یو کس حج ته ځي او پیسې یې کمي وي نو دغه کس د دغه حج د پیسو د پوره کولو دپاره زکوة اخیستلای سي که یا ؟

جواب : دکوم شخص سره چي دحج دادا ء کولو پیسې کمي سي دا سي کس زکوة نه سي اخیستلای البته که یې چیري پیسې پوره وې حج ته ولاړی هلته یې پیسې غلا یا ضائع سوې او دی مسکین سو نو بیا زکوة په اندازه دضرورت اخیستلای سي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار: (و) لا إلى (غني) يملك قدر نصاب فارغ عن حاجته الأصلية من أي مال كان

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۶۷ باب المصرف سعید چاپ / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۸۸ / فتاوی قاضي خان ج ۱ ص ۱۲۸ / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۵۵ / فتاوی محمودیه ج ۹ ص ۵۶۶)

دزکواة په روپو دهديرې لپاره مځکه رانيول

سوال ۱۲: که چيري يو کس دزکواة په روپو دهديرې لپاره مځکه رانيسي او د خلګو لپاره ئې وقف کړي ايا پر دغه طريقه زکواة اداء کيږي که يا؟

جواب: د زکواة په روپو سره د هديرې او قبرستان مځکه رانيول يادزکواة په روپو سره زړه هديره جوړول جواز نه لري زکواة ئې نه اداء کيږي د هديرې دمځکي لپاره دي نفلي صدقه خيرات چنده او عطية په کار او استعمال واچول سي.

وَيُشْتَرَطُ أَنْ يَكُونَ الصَّرْفُ (تَمْلِيكًا..... لَا) يُصْرَفُ (إِلَى بِنَاءِ) نَحْوِ (مَسْجِدٍ وَ) لَا إِلَى (كَفَنِ مَيِّتٍ(الدرالمختار)

(وفي الهندية) وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَبْنِيَ بِالزَّكَاةِ الْمَسْجِدَ، وَكَذَا الْقَنَاطِرُ وَالسِّقَايَاتُ، وَإِصْلَاحُ الطَّرَقَاتِ، وَكَرْيُ الْأَنْهَارِ وَالْحَجُّ وَالْجِهَادُ وَكُلُّ مَا لَا تَمْلِيكَ فِيهِ، وَلَا يَجُوزُ أَنْ يُكَفَّنَ بِهَا مَيِّتٌ، وَلَا يُقْضَى بِهَا دَيْنُ الْمَيِّتِ كَذَا فِي التَّبْيِينِ،

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۴۴ کتاب الزکاة مکتبه حبيبيه/الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۸۸ کتاب الزکاة مکتبه رشيديه/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۴۲ کتاب الزکاة مکتبه رشيديه/فتاوی التاتارخانية ج ۲ ص ۲۷۲ کتاب الزکاة/فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۱۹۳)

قران کريم د زکواة په روپو اخيستل او تقسيمول

سوال ۱۳: که يو کس دزکواة په روپو باندي د قران کريم نسخې رانيسي او بيا ئې پر خلګو تقسيم کړي زکواة يې اداء کيږي که يا؟

جواب: د قران کريم نسخې دزکواة په روپو رانيول او بيا پر خلګو تقسيمول هغه وخت درست دي چي دغه دا خيستلو کسان يې غريبان وي مسکينان وي که غټ وي که کوچنيان وي پرواه نه لري نو بيائې زکواة اداء کيږي چي دوی ئې مالکان وګرځول سي او دصدقه جاريه ثواب لاهم په کښې دی ليکن که ئې مړو او غنيانو ته ورکړه زکواة ئې نه اداء کيږي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدّرالمختار : وجاز دفع القيمة في زكاة وعشر وخراج وفطرة ونذر وكفارة غير الإعتاق.

(ردالمحتار ج ۲ ص ۲۴ باب زکاةالغنم مکتبه حبيبيه/فتاوی عالمگيريه ج ۱ ص ۱۸۱ کتاب الزکاة مکتبه رشيديه/البحرالرائق ج ۲ ص ۲۰۱ کتاب الزکاة مکتبه رشيديه/بدائع الصنائع ج ۲ ص ۳۹ کتاب الزکاة مکتبه رشيديه/دزکاة مسائل ص ۳۳۹)

د زکوٰة مستحقين

(۱) د چا سره چې سره زر سپين زر، نغدي، مال تجارت او د ضرورت څخه زائد د استعمال شيان چې د هغو قيمت و نصاب ته رسيږي داسي کس ته شرعًا مالداره او سرمايه داره ويل کيږي زکوٰة ورکول نه دی جائز.

(۲) د چا سره چې د يوه نصاب په اندازه مال نه وي هغه ته شرعًا فقير ويل کيږي داسي کسانو ته زکوة ورکول جائز دی.

(۳) هغه لوښي، او سامانونه چې کله کله يې ضرورت د استعمال پيښيږي لکه د واده په مراسمو کي يا د يو غم پر موقع دغه رقم سامان ته تر ضرورت زيات سامان ويل کيږي، همدغه شان ټيپ، ټي وي، وسي آر، ډش، دغه شيان هم تر ضرورت زيات ګڼل کيږي د هر هغه چا سره چې دغه سامانونه وي او قيمت يې نصاب ته رسيږي داسي کس ته هم زکوٰة ورکول نه دی روا.

(۴) د شپې تېرولو ځای يعني سرای د اغوستلو جامې، کتابونه، ماشينونه، د حفاظت وسله، موټر، سايکل، دغه ټوله شيان په ضرورت کي داخل دي هر څومره قيمت چي يې وي که د دغو کسانو سره د دغه شيانو څخه علاوه د نصاب په اندازه روپۍ وي نو زکوة اخيستل ورته نه دی روا.

(۵) يو کس مکان او دوکان او موټر لري دا يې په کرايه ورکړي دي يا بله امدني او ذريعه لري ليکن اهل او اولاد يې دومره دي چي سمه ګذاره يې بيا هم نه کيږي داسي کس ته زکوة ورکول جائز دی په دې شرط چي خاوند به د نصاب نه وي.

(۶) پر يو چا پور باندي دی که چيري هغه پور د ده د سرمايې څخه جلا کړه سي، نو هم ورته يو نصاب روپۍ پاتيږي، نو داسي کس ته هم زکوٰة نه دی اخيستل روا، او که تر نصاب کم ورته پاتېدلی زکوة اخيستل ورته روا دی.

(۷) د سفر په دوران کي د يو چا څخه روپۍ ختمې سوې يا غلا سولې تر څه وخته

چي دغه کس کورته راځي زکوة اخیستل ورته روا دی خو بیا هم افضل کار د دغه کس لپاره دا دی چي په قرض روپۍ واخلي.

(۸) د نابالغه ماشومانو پلار که چیري موړ او غني وي نو د ده ماشومانو ته زکوة ورکول نه دی روا او که یې پلار مسکین ؤ یا نه ؤ یا یې مور سرمایه داره وه په دغه صورتونو کي دغه ماشومانو ته زکوة ورکول روا دی.

(۹) که نا بالغه ماشومان بلوغ ته ورسېده خو دوی خپله شی نه لري لیکن پلار یې موړ دی نو دغه اولادو ته یې زکوة اخیستل روا دی.

(۱۰) د دنیا داره کس پلار که چیري مسکین وي زکوة اخیستل ورته روا دی.

(۱۱) همدغه شان که د دولتمند سړي ښځه مسکینه وي نو دغه ماینې ته یې زکوة ورکول روا دی.

(۱۲) سید ته زکوة ورکول نه دی روا او سیدان هغه خلګو ته وائي چي د حضرت علي رضي الله عنه یا حضرت عباس رضي الله عنه یا حضرت حارث رضي الله عنه یا د حضرت جعفر رضي الله عنه یا د حضرت عقیل رضي الله عنه د اولاده څخه وي، د دغو څخه ماسوا د نورو صحابه کرامو رضي الله عنه اولاد ونو ته سید نه ویل کېږي.

(۱۳) زکٰوة، خیرات، سرسایه، نذر، کفاره، او عشر کافر ته ورکول نه دی روا نو رعام خیراتونه ورکول روا دي لکه سیکه، هندو غیره .

(۱۴) یوه فقیر ته دومره اندازه مال ورکول په کار دی چي د ده او د ده د اهل او اولاد لپاره کفایت وکړي و فقر ته محتاجه نه سي په هغه ورځ.

(۱۵) یوه فقیر ته پر یوه ځای دومره زکوة ورکول چي د زکوة نصاب ته ورسېږي مکروه دی البته که چا ورکړه زکوة یې صحیح دی، لیکن که چیري هغه کس چي ته زکوة ورکوې مقروضه او پوره وړی ؤ یا عیال داره دی، نو بیا دومري زکوة ورکول دته روا دی که یې چیري پر اولادو سره تقسیم کړي هر یو صاحب د نصاب نسي جوړ بیله کراهته روا دی.

(۱۶) یو څوک را ولاړ سو بل کس یې د زکوة ورکولو وکیل جوړ کړی چي دغه

پیسې وخلکو ته په زکوة کي ورکوه دغه وکیل دا د زکوة مال خپلو بالغو مستحقینو اولادونو ته ورکولای سي، همدا شان خپلي ښځي ته یې هم ورکولای سي، او که وکیل خپله مستحق ؤ نو خپل نا بالغه اولاد ته خو یې ورکولای سي خپله یې نسي اخیستلای بېله اجازې د موکل څخه.

(۱۷) خپل زکوٰة انسان وخپل مور او پلار ته یا انا او نیکه ته نه سي ورکولای، همدا شان خپل زکوة وخپلو اولادونو او د خپلو اولادونو واولادونو ته هم نسي ورکولای، که یې ورکړي زکوة یې نه دی اداء سوی.

(۱۸) خاوند او ښځه یو بل ته زکوة نسي ورکولای که یې سره ورکړي زکوٰة یې نه دی اداء.

(۱۹) د یوه ښاره څخه زکوٰة انتقالول وبل ښار ته مکروه دی، لیکن که په بل ښار کي د ده قریبان مستحقین وي یا د بل ښار خلګ زیات محتاجه وي یا زیات دینداره وي، یا په بل ښار کي دیني مدرسې او د هغو متعلمین وي یا مجاهدین اسلام وي او د زکوٰة مستحقین وي نو بیا هغو ته استول جائز دي او ثواب هم پکښې دی.

(۲۰) د مزدور یا د مامور د مزدورۍ په عوض کي زکوٰة ورکول نه دی روا او نه صحیح دی البته وخپل مزدورانو ته یو شی په ډول د انعام ورکول او په زړه کي نیت د زکوٰة کول جائز دی.

(۲۱) مسجد، مدرسه، شفاخانه، د اوبو بمبې او رفاه عامه امور د دغو شیانو جوړول د زکوٰة په پیسو نه دی روا همدا شان د مړي کفن او د هغه قرض اداء کول یا دا شیان د زکوٰة په پیسو سره جوړول یا اداء کول نه دي روا، ځکه چي په زکوٰة کي تملیک شرط دی.

(۲۲) د دیني مدرسو شاګردانو ته او طلبه کرامو ته یاو محتاجه علماء کرامو ته زکوٰة ورکول زیات ثواب لري ځکه چي په دې کي د زکوٰة د ثواب څخه ماسوا د دین په تبلیغ او اشاعت کي هم د ده برخه او ثواب سته.

نصاب د سرو زرو اوه نیمي تولې دی یا اوو اتیا نیم ګرامه دی او نصاب د سپینو زرو دوه پنځوس نیمي تولې چي شپږ سوه دوولس ګرامه کیږي.

(۲۳) د زکوٰة روپۍ دي په ټوله کال کي لږ لږ د خپل وسعت مطابق ورکړه سي دا هم جائز دي البته هر وار به د زکوٰة نیت کوي.

(۲۴) یو کس بل څوک د زکوٰة د اداء کولو وکیل جوړ کړی او وکیل ته یې د پیسو ورکولو په وخت کي نیت د زکوٰة وکړی، وکیل چي یې کله مستحق ته ورکوي نیت د زکوٰة یې ونه کړی هم زکوٰة اداء کېږي.

(۲۵) د بل چا د مال زکوٰة بېله اجازې د مالکه اداء کول نه دی صحیح وروسته که هغه اجازه ورکړي هم نه اداء کېږي او کومي روپۍ چي یې مستحق ته ورکړي دي هغه هم نسي اخیستلای ځیني.

(۲۶) پر مال چي کال پورا سو نور د زکوٰة په اداء کولو کي ځنډ نه دی پکار او که یې تر راتلونکي کاله پوري زکوة نه کړی اداء ګناهګاره دی لیکن زکوٰة بیا هم د ده د ذمې څخه نه دی ساقط.

سوال: زکوٰة پر چا فرض دی؟

جواب: زکوٰة پر هر مسلمان، بالغ، عاقل، چي مالک به د نصاب وي، نغدي یا د تجارت سامان چي خلاص به وي د پوره څخه، او زیات به وي تر حاجت اصلي، د کال تېرېدل پر دغه نصاب شرط دی.

(۱) که د یو چا په ملکیت کي دوه پنځوس نیمي تولې سپین زر وي چي د جدید حساب په اندازه سره ۶۱۲ ګرامه کېږي پر هغه زکوٰة فرض دی.

(۲) که د چا په ملکیت کي اووه نیمي تولې سره زر وه چي د جدید حساب په اندازه سره اووه اتیا نیم ګرامه کېږي ۸۷\۴۷۹ ګرامه پر هغه کس زکوٰة فرض دی.

(۳) که د یو چا سره د دغه زرو په اندازه او برابرۍ نغدې روپۍ ورسره وي هم زکوٰة پر فرض دی.

(۴) که د یو چا سره د دغه زرو د نصاب په اندازه سامان د تجارت ورسره ؤ هم زکوٰة پر فرض دی.

(۵) که د یو چا سره سره زر، سپین زر، یا د تجارت مال، او نغدې ګډي وډي ورسره وي او دی ټوله سره جمع کړي که نصاب ته ورسېدې زکوٰة پر سته که ونه رسېدې

نسته.
(۶) د زکوٰة اداء کول هغه وخت واجب دي کله چي پر نصاب باندي کال تېر سي خو هجري قمري اسلامي کال.
(۷) د کال پر ختمېدو باندي زکوٰة فرض دی که څه هم د دغه مال یو څه حصه یوه ورځ مخکي په ملکیت کښي راغلې وي.
(۸) د کال په مابین کښي که نصاب کم سو هېڅ فرق نه راوړي که چیري د کال په اخر کي نصاب پوراؤ.
(۹) د کال تر پورا کېدو مخکي که یو چا ټوله سرمایه وخوړله نو هم زکوٰة نه دی لازم بیا چي کله دی نصاب دوهم واري پیدا کړي د هغه وخته څخه حساب شروع دی د کال.
(۱۰) پر کوم مال چي زکات فرض سي، نو د هغه مال دوه نیم فیصده زکوٰة اداء کول یا د هغه قیمت اداء کول لازم دی یعني څلوېښتمه حصه.
(۱۱) قیمت د سامان تجارت هغه معتبر دی چي کوم وخت کال پورا سو او هغه قیمت او ریټ په بازار کي عامؤ او چلېدی، یعني په هر طرف کي چي د فقراؤ نفع زیاته وي هغه ښه دی .
(۱۲) د سرو زرو او سپینو زرو په لوښو زیوراتو لکه هار، غاړکۍ، والي، بنګړي، باهوګانو ګوتمۍ، ښهنان او تهۍ، وغیره په دغه ټولو شیانو کي زکوٰة فرض دی که په استعمال کي وي که نه وي.
(۱۳) که سره زره او سپین زر خالص نه وي بلکه کوټ غش په کښي وي نو اعتبار غلبې ته او ډېروالي ته دی که زر ډېر وه کوټ یې لږ وه زکوٰة فرض دی او که کوټ ډېر وه زر لږ وه نو زکوٰة نسته او که سره برابر وه زکوٰة احتیاطا فرض دی.
(۱۴) پر دوکان، سرای، جایداد، موټر، وسله، یخچال، فریج، فرنیچر وغیره پر دغو شیانو زکوٰة نه دی فرض لیکن که یو څوک د دغه شیانو تجارت کوي رانیسي او خرڅوي یې نو د دغه شیانو پر پیسو او قیمت باندي د مال تجارت په حیثیت سره زکوٰة فرض دی.

(۱۵)که چیري یو چا دوکان، سرای، موټر په کرایه ورکړي وي پر دې شیانو خو زکٰوة نسته د دغو شیانو پر امدني یعني کرایې او ګټې باندي زکٰوة سته.

(۱۶) د کارخانې پر ماشینانو او دستګاؤ باندي هم زکٰوة نسته لیکن د دغو ماشینانو څخه چي کوم مال جوړېږي او تیارېږي پر هغو زکٰوة سته.

(۱۷) یو کس نصاب د روپو لري لیکن قرض او پور پر باندي دی داسي کس دي اول وار هغه پور د خپله ماله وباسي که وروسته تر جلا کېدو د قرض دی د نصاب مالک ؤ خو زکٰوة پر سته که نهٔ نسته باندي.

(۱۹) پر جواهراتو باندي زکٰوة نسته لکه ملغلري هیرو ، یاقوت ، مرجان وغیره لیکن که څوک د دغو شیانو کاروبار او تجارت کوي نو زکٰوة پر فرض دی.

(۲۰) د نابالغه او لیوني پر مال زکٰوة نسته.

(۲۱) مال په یوه ښار کي دی مالک په بل ښار کي دی د زکٰوة په اداء کولو کي اعتبار د هغه ځای وقیمت ته دی چیري چي مال وي د مالک د ځای اعتبار نسته.

(۲۲) د زکٰوة د اداء کولو نیت په زړه سره ضروري دی په خوله یې ویل نه دي ضروري.

(۲۳) یو چا د پیسو ورکولو په وخت کي نیت د زکٰوة نه درلودی وروسته یې خیال سو چي په زکٰوة کي یې شمار کړي دغه نیت خو یې صحیح دی تر هغه وخته چي هغه مال د هغه کس په ملکیت کي موجود وي، او که هغه مال او روپۍ د هغه د ملکیته وتلي وي او س دی نیت کوي دا نیت نه دی صحیح د شروع څخه به دی بیا زکٰوة اداء کوي.

(۲۴) یو چا په نیت د زکٰوة یو څه روپۍ د خپلي سرمایې څخه را جلا کړې بس دغه نیت یې کافي دی بیا چي یې دی مستحق ته ورکوي هغه وخت نیت د زکٰوة نه غواړي، لیکن دغه جلا کړي روپۍ که چیري ضایع سوې غلا سوې ورکي سوې زکٰوة نه سو اداء.

(۴۵) پر یو چا ستا روپۍ باندي دي او بیا دي ورو بخښلې په دغه بخښنه سره یې زکٰوة نه اداء کېږي ښه صورت یې دا دی چي څومره زکٰوة د دغه قرض د روپو کېږي

هغه ودې پوره وړي ته حواله کړه او بيا يې بېرته د خپل قرض په بدل کي ځيني واخله.

باب صدقة الفطر

د سر سايې مسائل او حکمونه

(۱) د کوچني اختر په ورځ د صبح صادق په وخت کښي که د يو چا سره زر، سپين زر روپۍ مال تجارت يا داسي سامان چي د روزمره په استعمال کي نه راځي او قيمت يې (۶۱۲) ګرامه سپينو زرو نصاب ته رسيدی پر داسي کس باندي زکوة يعني سرسايه واجب ده او د کال تېرېدل هم پر دغه شيانو باندي نه دی لازم.

(۲) ټي وي، وي سي آر، او ډش، غوندي خرافات انساني باندي سر سايه ستهٔ ځکه چي دا په ضرورت انساني کي نه دي داخل.

(۳) يو کس پور وړی دی د قرض تر اداء کولو وروسته که چيري ده ته د نصاب په اندازه روپۍ پاتېدلې سرسايه پر واجب ده او که نه پاتېدلې نه ده پر لازم.

(۴) که يو کس تر صبح صادق مخکي مړ سو يا تر صبح صادق وروسته پيدا سو پر داسي کس سرسايه نسته.

(۵) د خپلي ښځي او مشرانو اولادونو سرسايه پر خاوند او پلار نه ده واجب البته که يې اداء کړه اداء کېږي.

(۶) پر هر کس د خپل ځان او کشرانو يعني نا بالغه اولادونو سرسايه لازمه او واجب ده.

(۷) که يو کس د يو عذر د وجي روژې نه وي نيولې پر هغه کس هم سرسايه اداء کول لازم او واجب ده.

(۸) که د نابالغه اولاد په ملکيت کي دومره مقدار مال ؤ چي په هغه سره دی غني کېدی يعني د نصاب په اندازه ؤ نو د ده د ماله څخه دي اداء کړل سي، ليکن افضل دا ده چي د پلار د ماله څخه اداء کړل سي.

(۹) که د يو چا په ملکيت کي د شپې د تېرېدو او اوسېدو څخه زيات مکان، دوکان سرای وي او په کرايه يې ورکړي وي نو دغه تر ضرورت زيات دي که د هغه شيانو ماليت د سپينو زرو د زکوة نصاب ته رسېدی، نو پر دغه مالک باندي سرسايه سته

او که دغه مالک فقط په دغه کرایې سره ګذاره کوله نو دغه هم په ضروري سامان کي راځي سرسایه نسته باندي.

(۱۰) چي روژه شروع سوله هر وخت انسان سرسایه ورکولای سي او که یې تر روژې مخکي اداء کړه هم ګنجایش سته.

(۱۱) د کوچني اختر په ورځ تر صبح صادق وروسته او د عیدګاه د لمانځه څخه مخکي په دغه مابین کي باید سراسایه اداء سي او اداء کول یې په دغه وخت کي مستحب دي.

(۱۲) که یو چا د اختر د لمانځه څخه مخکي سرسایه نه کړه اداء نو معاف نه دی شرعًا بلکه وروسته یې هم اداء کول لازم دي او دغه ځنډ په کښبي راوستل مکروه دي

د سر سایې مقدار

(۱) په سرسایه کي یو څوک غنم یا اوړه ورکول وغواړي نو د یوه کس له طرفه به که کوچنی وي او که لوی شپاړس سیره في کس اداء کوي یعني یوه کیلو او شپږ سوه دوشپیته ګرامه (۱۶۶۲ء)

(۲) خالص غنم یا به د غنمو وړه ورکوي احتیاطًا دوه کیلو غنم یعني اتلس سیره ورکول ښه کار دی.

(۳) د غنمو او د وړو پر ځای قیمت هم ورکول روا او جائز دی.

کتاب الصوم

باب رؤیت هلال

داحنافو علماوو په نزد داختلاف مطالع حکم

سوال ۱ : اختلاف د مطالع شرعا معتبر دي که یا؟ او په دې مسئله کي قول صحيح، ظاهر الروايت او مفتی به قول کوم یو دی؟

جواب : مفتي اعظم هندوستان حضرت مولانا مفتي كفايت الله صاحب رحمه الله تعالى ليكلي او مفتي اعظم افغانستان حضرت مولانا عبد العلي ديوبندي رحمه الله تعالى (عرف حضرات مولوی صاحب) ويلي چي اختلاف دمطالع شرعا معتبر نه دی او همدغه د حنفيه وو په نزد صحيح او محقق قول دی.

البته متاخرينو مشائخو په بلاد بعيده (ليري ملکونو) کښې د اختلاف مطالع اعتبار کړی دی.

دتفصيل بعد الاجمال تر قاعدې لاندي دفقهاء کرامو په دې مسئله کي درې اقواله نقل سوي دي.

اول قول : دامسلک دامام اعظم ابو حنيفه رحمه الله تعالى څخه نقل سوی دی او دې ته ظاهر الرواية ويل کيږي چي د اختلاف مطالع هيڅ اعتبار نسته (معنی دا چي که په مشرق کي دنړۍ مېاشت وليدل سوه نو د مغرب پر خلکو د دغي مېاشتي په ليدلو سره اختر او روژه او اختری وغيره کول لازم دي) لکه چي په تنوير الابصار مع الدر المختار کي داسي راغلي دي.

(وَاخْتِلَافُ الْمَطَالِعِ) وَرُؤْيَتُهُ نَهَارًا قَبْلَ الزَّوَالِ وَبَعْدَهُ (غَيْرُ مُعْتَبَرٍ عَلَى) ظَاهِرِ (الْمَذْهَبِ) وَعَلَيْهِ أَكْثَرُ الْمَشَايِخِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوَى بَحْرٌ عَنْ الْخُلَاصَةِ (فَيَلْزَمُ أَهْلَ الْمَشْرِقِ بِرُؤْيَةِ أَهْلِ الْمَغْرِبِ) إذَا ثَبَتَ عِنْدَهُمْ رُؤْيَةُ أُولَئِكَ بِطَرِيقٍ مُوجِبٍ كَمَا مَرَّ.

وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت هذالقول : اعْلَمْ أَنَّ نَفْسَ اخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ لَا نِزَاعَ فِيهِ بِمَعْنَى أَنَّهُ قَدْ يَكُونُ بَيْنَ الْبَلْدَتَيْنِ بُعْدٌ بِحَيْثُ يَطْلُعُ الْهِلَالُ لَهُ لَيْلَةَ كَذَا فِي إحْدَى

الْبَلْدَتَيْنِ دُونَ الْأُخْرَى وَكَذَا مَطَالِعُ الشَّمْسِ. (ثم ذكر بعده) بَلْ كُلَّمَا تَحَرَّكَتْ الشَّمْسُ دَرَجَةً فَتِلْكَ طُلُوعُ فَجْرٍ لِقَوْمٍ وَطُلُوعُ شَمْسٍ لِآخَرِينَ وَغُرُوبٌ لِبَعْضٍ وَنِصْفُ لَيْلٍ لِغَيْرِهِمْ كَمَا فِي الزَّيْلَعِيِّ (ثم ذكر بعده) وَإِنَّمَا الْخِلَافُ فِي اعْتِبَارِ اخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ بِمَعْنَى أَنَّهُ هَلْ يَجِبُ عَلَى كُلِّ قَوْمٍ اعْتِبَارُ مَطْلِعِهِمْ، وَلَا يَلْزَمُ أَحَدٌ الْعَمَلَ بِمَطْلَعِ غَيْرِهِ أَمْ لَا يُعْتَبَرُ اخْتِلَافُهَا بَلْ يَجِبُ الْعَمَلُ بِالْأَسْبَقِ رُؤْيَةً حَتَّى لَوْ رُئِيَ فِي الْمَشْرِقِ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ، وَفِي الْمَغْرِبِ لَيْلَةَ السَّبْتِ وَجَبَ عَلَى أَهْلِ الْمَغْرِبِ الْعَمَلُ بِمَا رَآهُ أَهْلُ الْمَشْرِقِ، فَقِيلَ بِالْأَوَّلِ وَاعْتَمَدَهُ الزَّيْلَعِيُّ وَصَاحِبُ الْفَيْضِ، وَهُوَ الصَّحِيحُ عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ؛ لِأَنَّ كُلَّ قَوْمٍ مُخَاطَبُونَ بِمَا عِنْدَهُمْ كَمَا فِي أَوْقَاتِ الصَّلَاةِ، وَأَيَّدَهُ فِي الدُّرَرِ بِمَا مَرَّ مِنْ عَدَمِ وُجُوبِ الْعِشَاءِ وَالْوِتْرِ عَلَى فَاقِدِ وَقْتِهِمَا وَظَاهِرُ الرِّوَايَةِ الثَّانِي وَهُوَ الْمُعْتَمَدُ عِنْدَنَا وَعِنْدَ الْمَالِكِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ لِتَعَلُّقِ الْخِطَابِ عَمَلًا بِمُطْلَقِ الرُّؤْيَةِ فِي حَدِيثِ «صُومُوا لِرُؤْيَتِهِ» بِخِلَافِ أَوْقَاتِ الصَّلَوَاتِ،

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۹۳ سبب صوم رمضان مكتبه شامله /)

په فتاوی عالمګیري کي داسي نقل سوي دي : وَلَا عِبْرَةَ لِاخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ. وَعَلَيْهِ فَتْوَى الْفَقِيهِ أَبِي اللَّيْثِ وَبِهِ كَانَ يُفْتِي شَمْسُ الْأَئِمَّةِ الْحَلْوَانِيُّ قَالَ لَوْ رَأَى أَهْلُ مَغْرِبٍ هِلَالَ رَمَضَانَ يَجِبُ الصَّوْمُ عَلَى أَهْلِ مَشْرِقٍ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ .

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۹۸ الباب الثاني في رؤية الهلال مكتبه رشيديه)

او په فتاوی تاتارخانیه کي هم داسي ليکلي دي : وَلَا عِبْرَةَ لِاخْتِلَافِ الْمَطَالِعِ فِي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ ..... وعليه فتوى ابى الليث وبه كان يفتي الشيخ شمى الائمة الحلواني ويقول لَوْ رَأَى أَهْلُ مَغْرِبٍ هِلَالَ رَمَضَانَ يَجِبُ الصَّوْمُ عَلَى أَهْلِ مَشْرِقٍ كَذَا فِي الْخُلَاصَةِ .

(فتاوى تاتارخانية ج ۳ ص ۳۶۵ كتاب الصوم باب رؤية الهلال مكتبه فاروقيه كويټه)

او صاحب د فتح القدير بيا داسي ليکلي دي :وَإِذَا ثَبَتَ فِي مِصْرَ لَزِمَ سَائِرَ النَّاسِ فَيَلْزَمُ أَهْلَ الْمَشْرِقِ بِرُؤْيَةِ أَهْلِ الْمَغْرِبِ فِي ظَاهِرِ الْمَذْهَبِ .

(فتح القدير ج ۲ ص ۲۴۳ فصل في رؤية الهلال مكتبه رشيديه)

اوصاحب د (الفقه الاسلامي وادلته) بيا داسي ليکلي دي : اختلاف المطالع، ورؤية الهلال نهاراً قبل الزوال وبعده غير معتبر، على ظاهر المذهب، وعليه أكثر المشايخ، وعليه الفتوى، فيلزم أهل المشرق برؤية أهل المغرب، إذا ثبت عندهم رؤية أولئك، بطريق موجب، كأن يتحمل اثنان الشهادة، أو يشهدا على حكم القاضي، أو يستفيض الخبر.

او په اعلاء السنن کي هم علامه ظفر احمد عثماني رحمه الله پر صاحب دردالمحتار علامه شامي رحمه الله باندي رد کړی دی چي علامه شامي چي اختلاف د مطالع په روژه کي نه معتبروي او په اختر کي يې معتبروي دا فرق بلکل صحيح نه دی او عدم اعتبار د مطالع په ټول مباشتو کي برابر او مساوي دی . نو معلومه سوه چي په اختلاف د مطالع کي د روژې او اختر د مباشتي هيڅ فرق نسته او د دې څخه دا هم معلومه سوه چي په اوله ورځ باندي اضحية حلالول افضل کار دی .

دا علاالسنن عبارت تاسي مطالعه کړئ : وفرق العلامة الشامي بين هلال رمضان وهلال ذي الحجة ،واستدلالا بتعلق صوم رمضان بمتعلق الرؤية في قوله عليه السلام : صومو لرؤيته وافطرو الرؤيته هذا بخلاف الأضحية لايصح .... فساوي جميع الاشهر فى هذا الحكم فافهم .

(اعلأالسنن ج ۶ ص ۲۸۴۵ تعليق الصوم برؤية الهلال مكتبه دارالكتب الشرعية والادبية كويټه كراچي)

دوهم مسلک : دا دی چي په هر ځای کي اختلاف د مطالع معتبر دی .

دريم مسلک : دا دی چي په بلاد قريبه کي د اختلاف مطالع اعتبار نسته البته په بلاد بعيده کي اعتبار سته دا ځکه چي په بلاد قريبه کي معمولي فرق سته او په بلاد بعيده کي فرق زيات وي نو ځکه د دې زيات فرق په خاطر بايد معتبره سي همدغه قول ته علامه زيلعي او صاحب د بدائع رحمهم الله تعالى ترجيح ورکړې ده .

دا اختلاف مطالع د نه معتبر کيدو د پاره دلاندي کتابونو حوالې او صفحاتي تاسي کتلای سی د دې ټولو فتاوا او کتابونو اختلاف مطالع نه دی معتبر کړی .

(فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۳۶۷ کتاب الصوم / کفايت المفتي ج ۶ ص ۳۴۹ باب رؤية الهلال / فتاوی بينات ج ۳ ص ۵۸ باب رؤية الهلال / فتاوی دارالعلوم زکريا ج ۳ ص ۲۵۸ کتاب الصوم باب رؤية

الهلال / فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۶۸ کتاب الصوم باب رؤیة الهلال /فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۲۲۸ کتاب الصوم باب رؤیة الهلال /فتاوی دار العلوم دیوبند ج ۶ ص ۳۴۳ کتاب الصوم باب رؤیة الهلال)

دپاکستان څخه یو کس راغي افغانستان ته اختر به څنګه کوي ؟

سوال ۲ : یو کس په پاکستان کي دی هلته دوې ورځي وروسته تر افغانستان میاشت لیدل کېږي، او س هغه کس که دلته راسي روژې یې کمي دي آیا د افغانستان د خلګو سره اختر کړي که یې نه کړي؟

جواب : هغه کس چي روژه یې په پاکستان کي شروع کړه بیا دلته راغی دی دي د افغانستان د خلګو سره اختر کړي هغه پاته روژې دي وروسته تر اختر ونیسي یعني قضاء دي راوړي، مګر برعکس د دغه که د دې ځای سړی هلته ولاړ سي او هغه خلګ دېرش پوره کړي د ده روژې خو یو دېرش کېږي، نو ده ته د اختر د جوړولو او د روژې د خوړولو اجازه نسته بلکه یو دېرشمه روژه دي هم ونیسي د دوئ سره دي په اتفاق اختر کړي.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : فَإِنَّهُ يَجِبُ عَلَيْهِ الْإِمْسَاكُ تَشَبُّهًا اهـ.

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۱۱۶ مکتبه رشیدیه / حاشیة الطحطاوي علي الدرمختار ج ۱ ص ۴۵۵ مکتبه رشیدیه / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۲۳ پښتو / فتاوی عثماني ج ۲ ص ۱۹۴ پښتو / ۴۰۰ مسائل ص ۳۳۴ پښتو)

باب فرضية الصوم

پر دوولس کلني ماشوم باندي روژه فرض ده که یا ؟

سوال ۱ : ایا د دوولسو کلونو پر ماشوم باندي روژه فرض ده که یا ؟

جواب : په بنیادي توګه سره روژه هغه وخت پر مسلمان باندي فرض کیږي کله چې بلوغ ته ورسیږي او د بلوغ پېژندنه په دې باندي کیږي چي د هلک احتلام وسي (یعني شیطان بازي ورکړي) او انجلۍ ته حیض راسي . البته که چیري پر کوم بچي

باندي دبلوغ اثار ښکاره نه وي نو بیا چي هلک پنځلسو کلونو ته ورسیږي نو په دې صورت کښې روژه نیول باندي واجب ده .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ فِيهِمَا) شَيْءٌ (فَحَتَّى يَتِمَّ لِكُلٍّ مِنْهُمَا خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً بِهِ يُفْتَى)

قال العلامة فخر الدين الرازي رحمه الله تعالى: (بُلُوغُ الْغُلَامِ بِالِاحْتِلَامِ وَالْإِحْبَالِ وَالْإِنْزَالِ وَإِلَّا فَحَتَّى يَتِمَّ لَهُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ سَنَةً وَالْجَارِيَةُ بِالْحَيْضِ وَالِاحْتِلَامِ وَالْحَبَلِ وَإِلَّا فَحَتَّى يَتِمَّ لَهَا سَبْعَ عَشْرَةَ سَنَةً وَيُفْتَى بِالْبُلُوغِ فِيهِمَا بِخَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً)

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج۶ ص ۱۵۳ کتاب الحجر / تبیین الحقائق ج۵ ص ۲۰۳ کتاب الحجر / ومثله في البحر الرائق ج ۸ ص ۸۵ کتاب الحجر / فتاوی حقانیه ج۳ ص ۳۸۰ کتاب الصوم)

روژه په اذان سره باید ماته سي که دوخت په داخلېدو سره ؟

سوال ۲ : زموږ په خوا کښې د روژه مات په وخت کښې مختلف اذانونه په مختلف بدلون سره کیږي یو ناوخته کیږي بل وختي کیږي اوس پوښتنه داده چي موږ په کوم اذان سره باید روژه ماته کړو ؟

جواب : دروژې په بندوولو او ماتوولو کښې بنیادي اعتبار وخت لره دی، اذان لره نه دی، کله چي وخت داخل سي نو بیا که اذان سوی وي او که نه وي سوې روژه ماتول رواه ده . همداشان پر پیشلمي باندي وو خت ته اعتبار دی کله چي دصبح صادق وخت داخل سي نو بیا خوراک او چیښاک نه دی رواه که اذان سوی وي او که نه وي سوی خو بیا هم په دواړو صورتونو کښې یو څو دقیقې احتیاط پکار دی. والله اعلم

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار تحت هذالقول : (قَوْلُهُ: وَهُوَ الْيَوْمُ) أَيْ الْيَوْمُ الشَّرْعِيُّ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ إلَى الْغُرُوبِ، وَهَلْ الْمُرَادُ أَوَّلُ زَمَانِ الطُّلُوعِ أَوْ انْتِشَارُ الضَّوْءِ؟ فِيهِ خِلَافٌ كَالْخِلَافِ فِي الصَّلَاةِ وَالْأَوَّلُ أَحْوَطُ وَالثَّانِي أَوْسَعُ كَمَا قَالَ الْحَلْوَانِيُّ كَمَا فِي الْمُحِيطِ.

(ردالمحتار ج ۲ ص ۳۱۷ کتاب الصوم / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۹۴ کتاب الصوم الباب الاول تعریفه وتقسیمه / فتاوی تاتارخانیه ج ۲ ص ۳۴۶ کتاب الصوم الفصل الاول في بیان وقت الصوم/ فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۸۵ / کتاب الصوم)

د روژې مقصد څه شي دی؟

سوال ۳: مسلمانانو ته ولي په اسلام کښې دروژې حکم ورکړه سوی دی؟ دروژې حکمت او مصلحت څه شی دی ؟.

جواب: د روژې اصلي مقصد دادی چي نس خالي وي او د نفس خواهشات ختم وي او د روژه دار په نفس کښې تقوٰی پیدا سي اود زیات خوارك په صورت کښې دا مقصد د مېنځه ځي لهذا په روژه مات کښې باید دومره وخوړه سي څومره چي انسان په عامو وختونو کښې خوري داسي نه چي د سهارڅخه نیولې تر ماښامه پوري ددي ټول وخت ذخیره ونیسي که داسي وي بیادروژې مقصد نه حاصلیږي دروژې مقصد شهوانیه قوت کمول دي او قوت نو رانیه او ملکیه زیاتول دي نور حکمتونه هم لري چي دفقهي شریفي او تفسیر شریف په کتابونو کښې ذکردي.

لما قال العلامة المؤلف أحمد بن محمد بن إسماعيل الطحطاوي الحنفي – توفي ۱۲۳۱ هـ في حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح شرح نور الإيضاح : وحكمة مشروعية الصوم منها أن به سكون النفس الأمارة بإعراضها عن الفضول لأنها إذا جاعت شبعت جميع الأعضاء فتنقبض اليد والرجل والعين وباقي الجوارح عن حركتها وإذا شبعت النفس جاعت الجوارح بمعنى قويت على البطش والنظر وفعل ما لا ينبغي فبانقباضها يصفو القلب وتحصل المراقبة ومنها العطف على المساكين بالإحساس وألم الجوع لمن هو وصفه أبدا فيحسن إليه ولذا لا ينبغي الإفراط في السحور لمنعه الحكمة المقصودة والاتصاف بصفة الملائكة .

(حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ج ۲ ص ۲۹۴ مکتبه غوثیه/ دروژې مسائل ص ۱۸۴)

باب مايكره في الصوم وفي مالايكره

په روژه کښې لمبېدل څنګه دي ؟

سوال ۱ : دروژې په دوران کښې دسختې ګرمۍ دوجې څخه لمبېدل روژې ته کوم تاوان رسوي که يا ؟

جواب : دسختې ګرمۍ دوجې څخه دروژې په حالت کښې لمبېدل يا بار بار غسل کول او بار بار دسر پرېمينځل رواه دي په دې شرط چې اوبه يې حلق ته ولاړې نه سي . په داسې کولو سره په روژه کښې کوم فرق نه راځي .

عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ النَّاسَ فِي سَفَرِهِ عَامَ الْفَتْحِ بِالْفِطْرِ، وَقَالَ: «تَقَوَّوْا لِعَدُوِّكُمْ» ، وَصَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَبُو بَكْرٍ: قَالَ: الَّذِي حَدَّثَنِي لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَرْجِ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ الْمَاءَ، وَهُوَ صَائِمٌ مِنَ الْعَطَشِ، أَوْ مِنَ الْحَرِّ

(ابوداود شريف ج ۱ ص ۳۲۲ باب الصائم يصب عليه المآء من العطش كتاب الصوم / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۴۰۴ كتاب الصوم)

دروژې په حالت کښې عطر لګول او بويول .

سوال ۲ : دروژې په حالت کښې عطر لګول يا بويول روژه خرابوي که يا يعني بويول يا لګول يې رواه دي که يا ؟

جواب : دروژې په حالت کښې عطرلګول او بويول رواه دي په دې سره په روژه کښې هيڅ قسم نقصان او کراهت وخرابوالی نه راځي .

لَا يُكْرَهُ لِلصَّائِمِ شَمُّ رَائِحَةِ الْمِسْكِ وَالْوَرْدِ وَنَحْوِهِ مِمَّا لَا يَكُونُ جَوْهَرًا مُتَّصِلًا كَالدُّخَانِ فَإِنَّهُمْ قَالُوا لَا يُكْرَهُ الِاكْتِحَالُ بِحَالٍ،

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۲ ص ۲۹۵ سعيد چاپ / دروژې مسائل اردو مفتي انعام الحق صاب ص ۷۹)

په روژه کښې دخپلي ښځې سره سات تېرول .

سوال ۳ : په روژه کښې دخپلي ښځې سره لوبي او سات تېرول جائز دي که نه دي ؟

جواب : دواړه خواوي (مېړه او مابنه) که دامن په صورت کښې لمس (لاس وروړل)او تقبیل (مچه اخیستل) او یو بل په غېږ کښې ونیسي نو خاص پرواه نه لري خو بیا هم که چیري دانزال خطره وي نو داسي افعال کول دخپلي ښځې سره مکروه دي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :(وَ) كُرِهَ (قُبْلَةٌ) وَمَسٌّ وَمُعَانَقَةٌ وَمُبَاشَرَةٌ فَاحِشَةٌ (إنْ لَمْ يَأْمَنْ) الْمُفْسِدَ وَإِنْ أَمِنَ لَا بَأْسَ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۴۱۷ کتاب الصوم مطلب فيما يكره للصائم / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۰۰ كتاب الصوم الباب الثالث فيما يكره / ومثله في البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷۲ باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده /فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۰۰ کتاب الصوم)

د غاښو په دوا او برش سره غاښونه پرېمينځل روژه ماتوي که يا؟

سوال ۴ : د غاښو په دوا سره یعني په برش سره غاښونه پرېمينځل روژه ماتوي که يا ؟

جواب : د غاښو دواء د روژې په حالت کښې استعمالول مکروه ده البته که چیري حلق ته ولاړه روژه ماته ده.

لما في الهندية : يُكْرَهُ مَضْغُ الْعِلْكِ لِلصَّائِمِ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ.

(الهداية ج ۱ ص ۲۰۳ مكتبه حنفيه / البحرالرائق ج ۲ ص ۴۷۷ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۹۹ مكتبه رشيديه / اپ کي مسائل ج ۴ ص ۵۸۶ اردو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۰۲ پښتو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۳۵۱ پښتو)

په غیبت سره روژه ماته ده که یا ؟

سوال۵ : په غیبت کولو سره روژه ماتېږي او که يې پر ثواب څه اثر پرېوځي؟

جواب : غیبت ، چغلي ، درواغ ، بهتان ، تهمت ، ښکنځل ، تکلیف ورکول یو چا ته دا کارونه هر وخت حرام او ناروا دي مګر روژاتي انسان لره ددې شیانو بد والی یو په دوه دی بهر حال روژه نه ماتېږي لیکن سخته مکروه کېږي کېدای سي چي اجر او ثواب يې ختم سي.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (أَوْ أَصْبَحَ جُنُبًا وَ) إنْ بَقِيَ كُلَّ الْيَوْمِ (أَوْ اغْتَابَ) مِنْ الْغِيبَةِ (أَوْ دَخَلَ أَنْفَهُ مُخَاطٌ فَاسْتَشَمَّهُ فَدَخَلَ حَلْقَهُ)

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۱۱۰ مکتبه رشيديه / فتاوی قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۲۰۸ مکتبه رشيديه / مشکوة المصابيح ج ۱ ص ۱۷۶ / مرقاة المفاتيح ج ۴ ص ۴۲۸ مکتبه حبيبيه / فتاوی رحيميه ج ۷ ص ۳۶۰ اردو)

باب مايفسد الصوم ومالايفسد

ايا په روژه کي په اوبو سره استنجآء وهل روژې ته تاوان پېښوي که يا ؟

سوال ۱ : يو کس چي روژه نيولي وي که چيري په اوبو سره استنجاء ووهي روژه يې صحيح کيږي که يا ؟

جواب : زموږ د احنافو په کتابونو کي راغلي دي چي کوم کس چي روژه يې وي هغه کس دي په استنجآء وهلو کي ډېر کوښښ او مبالغه نه کوي که چيري په دغه استنجآء وهلو سره مقعدي ته دننه اوبه ورسيدې نو ددغي ورځي قضآء باندي لازمه ده البته کفاره نسته .

لما في الفقه الاسلامي وادلته : أواستنجى فوصل الماء إلى داخل دبره، أو أدخل في دبره قطنة أو خرقة أو طرف حقنة ولم يبق منه شيء .

وفي المراقي : أو استنجى فوصل الماء إلى داخل دبره أو فرجها الداخل بالمبالغة فيه

(الفقه الاسلامي وادلته ج ۲ ص ۶۵۴ / فتاوی تاتارخانيه ج ۲ ص ۳۶۵ سعيد چاپ / فتح القدير ج ۴ ص ۳۵۶ مکتبه شامله / حاشية الطحطاوي ص ۶۷۶ مکتبه رشيديه / دروژې مسائل ص ۳۱ اردو

ښځه که چيري دفرضي روژې په ورځ کي ولادت وکړي امساک وکړي که يا ؟

سوال ۲ : يوه ښځه که چيري د فرضي روژې په ورځ کي ولادت وکړي (کوچنی يې پيدا سي) داسي ښځه بايد تر ماښامه امساک وکړي او که خوراک کولای سي ؟

جواب : دصبح صادق څخه وروسته که چيري يوې ښځي ته حيض راسي اويا نفاس ورته راسي (کوچنی يې پيدا سي) ددې ښځي روژه ختميږي خوراک او څيښاک ورته روا دی امساک ورته ضروري نه دی البته ددغي ورځي قضآء باندي لازمه ده خو بيا هم دغه ښځه دي دنورو روژاتيانو څخه په پټه خوراک او څيښاک کوي چي دنورو دازارولو سبب ونه ګرځي .

لمافي الهداية : وإذا حاضت المرأة أو نفست أفطرت وقضت بخلاف الصلاة لأنها تحرج في قضائها وقد مر في الصلاة وإذا قدم المسافر أو طهرت الحائض في بعض النهار أمسكا بقية يومهما

وفي الهندية : وَمِنْهَا الْحَيْضُ وَالنِّفَاسُ وإذا حَاضَتْ الْمَرْأَةُ وَنَفِسَتْ أَفْطَرَتْ كَذَا في الْهِدَايَةِ

(الهدايه ج ١ ص ٢٠٧ مكتبه حنفيه/ مراقي الفلاح علي صدر الطحطاوى ص ٥٦٣ كتاب الصوم / الجوهرة النيرة ج ١ ص ١٧٧ كتاب الصوم/ الفتاوى الهندية ج ١ ص ٢٠٧ كتاب الصوم الباب الخامس في الاعذار/ فتاوى حقانيه ج ٢ ص ٤٢٠ كتاب الصوم / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۴ ص ٥٧٠ كتاب الصوم دروژې مسائل اوردو ص ٧٢)

په روژه کښې چې خوله پریولي نوبیاخوواره ناړي توکړي.

سوال ٣ :په روژه کښې چې یو کس په خوله اوبه ولغړه وي نو باید ثوواري ناړي توکړي؟

جواب: کله چې یو کس په روژه کښې غسل یا اودس وکړي او په خوله اوبه ولغړه وي نوپه خوله کښې چې کوم لندوالی او اثر داوبو پاته وي دهغه په تېرولو سره روژه نه فاسدیږي.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :أَوْ بَقِيَ بَلَلٌ فِي فِيهِ بَعْدَ الْمَضْمَضَةِ وَابْتَلَعَهُ مَعَ الرِّيقِ..... لَمْ يُفْطِرْ

(وفي تحفةالفقهاء) وَكَذَلِكَ لَو بَقِي بَلل بعد الْمَضْمَضَة وابتلعه مَعَ البزاق أَو ابتلع البزاق الَّذِي اجْتمع فِي فِيهِ لَا يفْسد صَوْمه لما قُلْنَا

(ردالمحتارج ٢ ص ٣٩٦ باب مايفسدالصوم ومالايفسد سعيد چاپ/الفقه علي مذاهب الاربعة ج ١ ص ٥٦٦ باب مايفسد الصوم ومالايفسد مكتبه دارالاشاعت كراچي/تحفةالفقهآء ج ١ ص ٣٥٣ كتاب الصوم مكتبه شامله بېروت/ تبيين الحقائق ج ١ ص ٣٢٤ باب مايفسدالصوم ومالايفسد مكتبه شامله بېروت/ مجمع الانهر ج ١ ص ٢٤٥ باب موجب الفساد مكتبه شامله بېروت/ دروژې مسائل ص ١٦٩ حرف كآف مكتبه بيت العمار كراچي)

بېله قصده قي وهل دروژې ماتونكي نه دی .

سوال ۴ : روژاتي كه په روژه كښي قی ووهي او د قي څه حصه تېره هم كړي نو د دې كس د روژې حكم شرعاً څه دی؟

جواب: بېله قصده قی كول د روژې ماتونكی نه دی. البته كه چيري د نخود د دانې په اندازه قی او يا له دې څخه زيات بيرته تېر كړي نو روژه يې ماتيږي او كه چيري بېله قصده ځني تېر سي نو په دې صورت كښي يې روژه نه ماتيږي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار :وَإِنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ وَخَرَجَ وَلَمْ يَعُدْ لَا يُفْطِرُ مُطْلَقًا مَلَأَ أَوْ لَا فَإِنْ عَادَ بِلَا صُنْعِهِ وَ لَوْ هُوَ مِلْءُ الْفَمِ مَعَ تَذَكُّرِهِ لِلصَّوْمِ لَا يَفْسُدُ.

ولما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :إنْ كَانَ مِلْءَ الْفَمِ وَأَعَادَهُ أَوْ شَيْئًا مِنْهُ قَدْرَ الْحِمَّصَةِ فَصَاعِدًا أَفْطَرَ إجْمَاعًا؛ لِأَنَّهُ خَارِجٌ أَدْخَلَهُ جَوْفَهُ وَلِوُجُودِ الصُّنْعِ،

(الدرالمختار ج ۲ ص ۴۱۴ كتاب الصوم سعيدچاپ/فتح القدير ج ۲ ص ۲۵۹ باب مايوجب القضاء والكفارة رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷۴ باب مايفسد الصوم ومالايفسد سعيدچاپ/ فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۳۹۸ كتاب الصوم)

دګازو چيلم دروژې په حالت كښي روژه ماتوي كه يا؟

سوال ۵ : كه يو كس د سالنډی يا نفس تنګی په مريضۍ اخته وي او د روژې په حالت كښي دګازو چيلم (انهيلر) په حلق او ستوني كښي استعمالوي ، او دا ديوې سپيني هوا په شكل كښي د دوا ذراتي دي ايا په دغه دګيس يا دګاذو په چيلم سره روژه ماتيږي كه يا ؟

جواب : په دغه ذكر سوي چيلم او اسپرې سره روژه ماتيږي . البته كه چيري د مريض تكليف ناقابل برداشت وي نو بيا دي روژه نه نيسي چي هر كله الله جَلَّ جَلَالُهُ د صحت خاوند كړی بيا يې قضاء راګرځول لازمي دي .

(الاختيار لتعليل المختار ج ۱ ص ۱۷۳ هدايه علي صدر فتح القدير ج ۲ص ۲۶۳ باب مايوجب القضآء فتاوى فريديه ج ۴ ص ۱۲۵ / دروژې مسائل اردو)

په روژه کښې په لاس سره ځان انزال کول (موټ وهل).

سوال ۶: که چیري یو کس د روژې په میاشت کښې په لاس سره ځان انزال کړي او روژه خرابه کړي نو په شریعت کښې د داسي کس پر ذمه باندي کوم شی لازمیږي که یا یعني قضا او کفاره دواړه غواړي او که یوازي قضاء غواړي ؟

جواب: دغي مسئلې ته د فقهاوو په اصطلاح کښې (استمنآء بالید) او په جدید اصطلاح کښې هینډ پریکټس / او جَلَق هم وایي) یعني په لاس سره خپل جنسي خواهش پوره کول. او هرکله چي په دې کښې د شهوت پوره حاصلیدل نسته نو ځکه پر داسي کس باندي کفاره نه واجبیږي البته د روژې قضا باندي خامخا لازمه ده. او که چیري انزال یې ونه سو (یعني مني ځني خارج نه سول) نو بیا قضاء هم نسته باندي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : (قَوْلُهُ: وَكَذَا الِاسْتِمْنَاءُ بِالْكَفِّ) أَيْ فِي كَوْنِهِ لَا يُفْسِدُ لَكِنَّ هَذَا إذَا لَمْ يُنْزِلْ أَمَّا إذَا أَنْزَلَ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ كَمَا سَيُصَرِّحُ بِهِ وَهُوَ الْمُخْتَارُ .

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۳۹۹ کتاب الصوم مطلب حکم الاستمناء بالکف / فتاوی قاضي خان ج ۱ ص ۱۰۰ الفصل الخامس فیما لایفسد الصوم / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۰۵ الباب الرابع فیما یفسد وما لایفسد / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۱۵ کتاب الصوم)

د روژې په حالت کښې که یو کس شیطان خطا باسي.

سوال ۷: د روژې په حالت کښې که چیري شیطان یو کس خطا باسي نو روژه یې فاسدیږي که یا ؟ .

جواب: د شیطان خطا ایستل د روژې په حالت کښې روژې ته هیڅ تاوان او نقصان نه رسوي.

لما قال العلامة برهان الدين رحمه الله تعالى : فإن نام فاحتلم لم يفطر " لقوله صلى الله عليه وسلم " ثلاث لا يفطرن الصائم القيء والحجامة والاحتلام " ولأنه لم توجد صورة الجماع ولا معناه وهو الإنزال عن شهوة بالمباشرة "

(الهدایة ج ۱ ص ۱۹۹ کتاب الصوم / الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۳۹۶ کتاب الصوم

باب ما یفسد الصوم / تبیین الحقائق ج ۱ ص ۳۲۲ باب مایفسد الصوم وما لایفسده / فتاوی حقانیه ج ۳ ص کتاب الصوم)

په ستني او پیچکارۍ لګولو سره روژه ماتیږي که یا ؟

سوال ۸ : دروژې په حالت کښې په پیچکارۍ لګولو سره روژه ماتیږي که یا ؟ .

جواب : دفقهاء کرامو دعبارتونو څخه داسي څرګندیږي چي مطلق دیوه شي او یا دهغه داثراتو تر بدنه پوري رسېدل دروژې ماتوونکي نه دي بلکي دا په هغه وخت کښې دروژې ماتوونکي ګرځي چي کله په معتادو ذرائعو سره بدن ته دنس دخوا څخه یا ددماغ دخوا څخه داخل سي. دجدید و تحقیقاتو په رڼا کښې دستني اثرات تر دماغه پوري یا تر معدې پوري نه رسیږي بلکي دا په رګونو کښې حلول کوي او بدن ته دراحت رسولو ذریعه جوړیږي نو ځکه په دې سره روژه نه ماتیږي . چونکه داعلت په هر ډول ستني کښې موجود دی نو له دې وجې هر ډول ستن که درګ وي که دغوښې وي روژه نه په ماتیږي لکه دتندي په وخت کښې دمساماتو په ذریعه دبرودت او یخوالي حاصلول دروژې ماتوونکی نه دی البته تر خپله وسه پوري دروژې په حالت کښې درګ دستني دلګولو څخه باید پرهیز وکړل سي .

لما فی الهندیة : وَمَنْ اغْتَسَلَ فِي مَاءٍ وَجَدَ بَرْدَهُ فِي بَاطِنِهِ لَا يُفْطِرُ هَكَذَا فِي النَّهْرِ الْفَائِقِ

قال ابن نجیم : وَفِي التَّحْقِيقِ أَنَّ بَيْنَ الْجَوْفَيْنِ مَنْفَذًا أَصْلِيًّا فَمَا وَصَلَ إِلَى جَوْفِ الرَّأْسِ يَصِلُ إِلَى جَوْفِ الْبَطْنِ كَذَا فِي النِّهَايَةِ وَ الْبَدَائِعِ وَلِهَذَا لَوْ اسْتَعَطَ لَيْلًا، وَوَصَلَ إِلَى الرَّأْسِ ثُمَّ خَرَجَ نَهَارًا لَا يَفْسُدُ كَمَا قَدَّمْنَاهُ، وَعَلَّلَهُ فِي الْبَدَائِعِ بِأَنَّهُ لَمَّا خَرَجَ عُلِمَ أَنَّهُ لَمْ يَصِلْ إِلَى الْجَوْفِ أَوْ لَمْ يَسْتَقِرَّ فِيهِ.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۰۳ کتاب الصوم الباب الرابع فیما یفسد / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۷۹ باب ما یفسد الصوم ومالایفسد / العنایة علي هامش فتح القدیر ج ۲ ص ۲۶۶ باب مایوجب القضاء والکفارة / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۵۳ کتاب الصوم الفصل الثالث فیما یفسد الخ / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۱۰۶ / جدید فقهي مسائل ۶۵۱ / بدرالفتاوی ص ۷۰ / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۴۳۲ / فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۳۶۵ / کفایت المفتي ج ۴ ص ۲۵۳ / امدادا الفتاوی ج ۲ ص ۱۴۴ / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۳۵۵ / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۱۴۶ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۹۷ / فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۱۲۸)

په خطا سره یې روژه وخوړه قضا غواړي که کفاره ؟

سوال ۹ : که چیري دیو کس څخه په خطا یعني غیر قصدي شکل سره روژه وخوړل سي نو کفاره غواړي که یا ؟ .

جواب : که چیري یو څوک په خطا سره روژه وخوري نو د شریعت حکم دا دی، چي فقط قضا غواړي کفاره نه غواړي .

وفی الفتاوی الهندیة ؛لَوْ أَكَلَ مُكْرَهًا أَوْ مُخْطِئًا عَلَيْهِ الْقَضَاءُ دُونَ الْكَفَّارَةِ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَانْ. الْمُخْطِئُ هُوَ الذَّاكِرُ لِلصَّوْمِ غَيْرُ الْقَاصِدِ لِلْفِطْرِ إذَا أَكَلَ أَوْ شَرِبَ هَكَذَا فِي النَّهْرِ الْفَائِقِ. وَالنَّاسِي عَكْسُهُ، هَكَذَا فِي النِّهَايَةِ وَالْبَحْرِ الرَّائِقِ.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۰۲ الباب الرابع فیما یفسد وما لایفسد / ردالمحتار ج ۲ ص ۱۱۰ مکتبه حبیبیه / فتاوی قاضي خان ج ۱ ص ۱۰۰ / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۵۶ / هدایة ج ۱ ص ۱۹۹ / حاشیة الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۶۷۳)

دغسل په دوران کښې یې غوږ ته اوبه یاشامپو داخله سوه روژه ماتوي که یا ؟

سوال ۱۰ : که چیري دیو کس روژه وي او د غسل په دوران کښې یې غوږ ته اوبه یا شامپو ولاړه سي روژه یې ماته ده که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي دروژې په دوران کښې که چیري وغوږ ته اوبه یا شامپو خود بخوده یا قصداً ولویږي نو دصحیح روایت مطابق روژه نه په ماتیږي . خو بیا هم که چا قصدا دغه کار وکړی نو احتیاط په دې کښې دی چي یوه روژه قضا راوړي .

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار : (أَوْ دَخَلَ الْمَاءُ فِي أُذُنِهِ وَإِنْ كَانَ بِفِعْلِهِ) عَلَى الْمُخْتَارِ كَمَا لَوْ حَكَّ أُذُنَهُ بِعُودٍ ثُمَّ أَخْرَجَهُ وَعَلَيْهِ دَرَنٌ ثُمَّ أَدْخَلَهُ وَلَوْ مِرَارًا .... لم یفطر .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۹۶ باب مایفسد الصوم وما لایفسده مکتبه شامله / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۰۶ / فتاوی تاتارخانیة ج ۲ ص ۳۶۴ ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۹۹ کتاب الصوم / دروژې دمسائلومجموعه ص ۱۶۱)

دغاښ په کښلو سره روژه ماتیږي که یا ؟

سوال ۱۱: د غاښ په کښلو سره روژه ماتیږي که یا ؟

جواب: د غاښ په کښلو سره روژه نه ماتیږي په شرط د دې چې وحلق ته وینه ولاړه نه سي او تېره نه سي او که چیري وحلق ته وینه ولاړه نو بیا روژه ماتیږي .

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار : (أَوْ خَرَجَ الدَّمُ مِنْ بَيْنِ أَسْنَانِهِ وَدَخَلَ حَلْقَهُ) يَعْنِي وَلَمْ يَصِلْ إلَى جَوْفِهِ أَمَّا إذَا وَصَلَ فَإِنْ غَلَبَ الدَّمُ أَوْ تَسَاوَيَا فَسَدَ وَإِلَّا لَا، إلَّا إذَا وَجَدَ طَعْمَهُ بَزَّازِيَّةٌ وَاسْتَحْسَنَهُ الْمُصَنِّفُ وَهُوَ مَا عَلَيْهِ الْأَكْثَرُ وَسَيَجِيءُ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۱۰۷ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۴۷۷ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۰۳ مکتبه رشیدیه / فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۲۵۹ اردو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۹۸ پښتو)

ایا په قي سره روژه ماتیږي که یا؟

سوال ۱۲: په قي سره روژه ماته ده که یا زما یو ملګری دی هغه وایې چي په قي سره روژه ماتیږي؟

جواب: د قي ډېر صورتونه دي کوم چي فقهاؤ په تفصیل سره ذکر کړي دي قی روژه ماتوي فقط په دوو صورتونو کي (۱) په قصد سره یې قی ووهی او ډکه خوله یې ووهی که یې تېر کړی او یا یې نه کړی تېر روژه ماته ده (۲) بې اختیاره یې قی ووهي او ډکه خوله راغي که چیري ده په قصد سره تېر کی یو څه لږ لاهم، نو یې روژه ماته ده او که بې اختیاره ځیني تېر سونو روژه یې نه ده ماته.

لماقال الامام ابن عابدین الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ: وَإِنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ) أَيْ غَلَبَهُ وَسَبَقَهُ قَامُوسٌ وَالْمَسْأَلَةُ تَتَفَرَّعُ إلَى أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ صُورَةً؛ لِأَنَّهُ إمَّا أَنْ يَقِيءَ أَوْ يَسْتَقِئَ وَفِي كُلٍّ إمَّا أَنْ يَمْلَأَ الْفَمَ أَوْ دُونَهُ، وَكُلٌّ مِنْ الْأَرْبَعَةِ إمَّا إنْ خَرَجَ أَوْ عَادَ أَوْ أَعَادَهُ وَكُلٌّ إمَّا ذَاكِرٌ لِصَوْمِهِ أَوْ لَا وَلَا فِطْرَ فِي الْكُلِّ عَلَى الْأَصَحِّ إلَّا فِي الْإِعَادَةِ وَالِاسْتِقَاءِ بِشَرْطِ الْمِلْءِ مَعَ التَّذَكُّرِ شَرْحُ الْمُلْتَقَى (قَوْلُهُ: وَلَوْ هُوَ مِلْءُ الْفَمِ) أَتَى بِلَوْ مَعَ أَنَّ مَا دُونَ مِلْءِ الْفَمِ مَفْهُومٌ

بِالْأَوْلَى لِأَجْلِ التَّنْصِيصِ عَلَيْهِ؛ لِأَنَّ الْمَعْطُوفَ عَلَيْهِ فِي حُكْمِ الْمَذْكُورِ فَافْهَمْ وَأَطْلَقَ لَوْ مِلْءَ الْفَمِ فَشَمِلَ مَا لَوْ كَانَ مُتَفَرِّقًا فِي مَوْضِعٍ وَاحِدٍ بِحَيْثُ لَوْ جَمَعَ مِلْءَ الْفَمِ كَمَا فِي السِّرَاجِ.

(قَوْلُهُ: لَا يُفْسِدُ) أَيْ عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَهُوَ الصَّحِيحُ لِعَدَمِ وُجُودِ الصُّنْعِ وَلِعَدَمِ وُجُودِ صُورَةِ الْفِطْرِ، وَهُوَ الِابْتِلَاعُ وَكَذَا مَعْنَاهُ؛ لِأَنَّهُ لَا يَتَغَذَّى بِهِ بَلْ النَّفْسُ تَعَافُهُ بَحْرٌ (قَوْلُهُ: وَإِنْ أَعَادَهُ) أَيْ أَعَادَ مَا قَاءَهُ الَّذِي هُوَ مِلْءُ الْفَمِ (قَوْلُهُ: أَوْ قَدْرُ حِمَّصَةٍ مِنْهُ فَأَكْثَرَ) أَشَارَ إلَى أَنَّهُ لَا فَرْقَ بَيْنَ إعَادَةِ كُلِّهِ أَوْ بَعْضِهِ إذَا كَانَ أَصْلُهُ مِلْءَ الْفَمِ قَالَ الْحَدَّادِيُّ فِي السِّرَاجِ مَبْنَى الْخِلَافِ أَنَّ أَبَا يُوسُفَ يَعْتَبِرُ مِلْءَ الْفَمِ وَمُحَمَّدًا يَعْتَبِرُ الصُّنْعَ ثُمَّ مِلْءَ الْفَمِ لَهُ حُكْمُ الْخَارِجِ وَمَا دُونَهُ لَيْسَ بِخَارِجٍ؛ لِأَنَّهُ يُمْكِنُ ضَبْطُهُ.

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۲۰ مکتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۴۷۹ مکتبه رشيديه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۵۴ مکتبه رشيديه / فتاوی الهندية ج ۱ ص ۲۰۴ مکتبه رشيديه / قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۲۱۱ مکتبه رشيديه / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۳۹۸ پښتو)

سترګي ، پزي او غوږو ته دوا اچول روژه ماتوي که يا؟

سوال ۱۳: سترګي پزي او غوږو ته دوا اچول روژه ماتوي که يا؟

جواب: وسترګي ته دوا اچول روژي ته نقصان نه رسوي ليکن وپزي او غوږو ته دوا اچول د روژي په حالت کي روژه فاسد وي .

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار: (أَوْ احْتَقَنَ أَوْ اسْتَعَطَ) فِي أَنْفِهِ شَيْئًا (أَوْ أَقْطَرَ فِي أُذُنِهِ دُهْنًا أَوْ دَاوَى جَائِفَةً أَوْ آمَّةً) فَوَصَلَ الدَّوَاءُ حَقِيقَةً .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۱۱۱ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۲۰۴ مکتبه رشيديه / قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۲۱۰ مکتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي علي المراقي ص ۲۷۲ مکتبه رشيديه / فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۱۳۹ اردو / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۳۵۵ پښتو / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۴۰۳ پښتو)

دښځي سره يې په هېره سره نژدېکت وکړی بيا يې قصدا ځان مور کړی .

سوال ۱۴: که چيري يو سړي په روژه کي په هېره سره د خپل ښځي سره نژدېکت او همبستري وکړه بيا يې دا ګمان وکړی چي روژه مي ماته سوه پس له هغه يې ځان ښه موړ او اوبه کړی ايا اوس پر دغه کس صرف قضاء سته او که قضاء او کفاره دواړه ؟

جواب: پر دغه کس صرف قضاء سته کفاره نسته که د ده دا ګمان وو چي روژه مي ماته ده صحیح قول د فقهاؤ دا دی چي روژه ماته ده صرف قضاء سته کفاره نسته.

لما في الهندية : لَوْ أَكَلَ أَوْ شَرِبَ أَوْ جَامَعَ نَاسِيًا وَظَنَّ أَنَّ ذَلِكَ فَطَّرَهُ فَأَكَلَ مُتَعَمِّدًا لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ، وَإِنْ عَلِمَ أَنَّ صَوْمَهُ لَا يَفْسُدُ بِالنِّسيَانِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ – رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى – لَا تَلْزَمُهُ هُوَ الصَّحِيحُ هَكَذَا فِي الْخُلَاصَةِ.

(بدائع الصنائع ج ۲ ص ۲۵۷ مکتبه رشیدیه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۰۶ مکتبه رشیدیه / قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۲۱۶ مکتبه رشیدیه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۵۸ مکتبه رشیدیه / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۱۵ پښتو)

ایا په وینه ورکولو سره روژه ماتیږي ؟

سوال۱۵: که یو څوک یو عاجل مریض ته په روژه کي وینه ورکړي آیا روژه یې ماته ده که یا او که ماته ده نو صرف قضاء سته او که کفاره او قضاء دواړه؟

جواب: د وینو په ورکولو سره روژه نه ماتیږي نه قضاء سته او نه کفاره.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (أَوْ أَدْهَنَ أَوْ اكْتَحَلَ أَوْ احْتَجَمَ) وَإِنْ وَجَدَ طَعْمَهُ فِي حَلْقِهِ

(الدرالمختارعلي هامش ردالمحتارج ۲ ص ۱۰۶ مکتبه رشیدیه / فتاوی قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۲۰۸ مکتبه رشیدیه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۹۹ مکتبه رشیدیه)

دښځي روژه ده خو دورځي په آخره کښې ورته حيض (زنانه مريضي) راغله څه به کوي ؟

سوال۱۶ : یوې ښځي روژه نیولې ده خو ددغي ورځي په آخره کښې ورته حیض راغی دا ښځه به څه کوي خوراک به کوي او که به دغه روژه تر پایه پوري پوره کوي ؟.

جواب : که چیري د صبح صادق څخه وروسته د ښځي حیض شروع سي نو په دې سره یې روژه ختمیږي .لهذا دداسي ښځي دپاره نور دخوراک او چیښاک اجازت دی . امساک اوخوله بندول ورته ضروري نه دی خو بیا هم دغه ښځه دي دنورو روژاتیانو څخه په پټه خوراک او چیښاک کوي . والله اعلم .

لما قال الحسن بن عمار بن على الشرنبلالى رحمه الله تعالى في نور الايضاح : ومن له نوبة حمى أو عادة حيض لا بأس بفطره على ظن وجوده . وفى الجوهرة النيرة : (قَوْلُهُ وَإِذَا حَاضَتْ الْمَرْأَةُ أَفْطَرَتْ وَقَضَتْ) وَكَذَا إذَا نَفِسَتْ وَهَلْ تَأْكُلُ سِرًّا أَوْ جَهْرًا قِيلَ سِرًّا وَقِيلَ جَهْرًا وَلَا يَجِبُ عَلَيْهِ التَّشَبُّهُ.

(مراقي الفلاح علي صدر الطحطاوى ص ۵۶۳ كتاب الصوم / الجوهرة النيرة ج ۱ ص ۱۷۷ كتاب الصوم / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۰۷ كتاب الصوم الباب الخامس في الاعذار / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۴۲۰ كتاب الصوم / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۴ ص ۵۷۰ كتاب الصوم دروژې مسائل اوردو ص ۷۲)

په قي وهلو سره روژه ماتيږي که يا ؟

سوال ۱۷ : ايا په قي وهلو سره روژه ماتيږي که يا ؟

جواب : د روژې په حالت کښې د قي وهلو مختلف صورتونه او حکمونه فقهاء کرامو رحمة الله عليهم ذکر کړي دي . **اول :** د روژې په حالت کښې که د چا څخه بېله اختياره او بېله قصده څخه قی و وهل سو نو دغه قی روژه نه ماتوي بيا نو برابره ده که دغه قی لږ وي او که ډير وي يعني خوله ډکه وي که تشه وي . **دوهم :** که په خپل قصد او اختيار سره يې قی و وهی او خوله ډکه وو نو روژه په ماته ده . **دريم :** په خپل قصد او اختيار سره يې قی و وهی ليکن خوله ډکه نه وه نو هم روژه نه ده په ماته . **څلورم :** يو دم يو څه قی ورته راغی او بېله اختياره خود پخوده بېرته په حلق کښې ولاړی تير سو نو هم روژه نه ده ماته . البته که يې قصدا تېر کړی نو بيا روژه ماته ده . **پنځم :** او که ډکه خوله قی ورته راغی او ديوه نخود د دانې برابر يا تر هغه زيات يې قصداً او ارادةً په خپل اختيار سره تېر کړی نو روژه يې ماته ده قضا غواړي خو کفاره نسته ورباندي . **شپږم :** که يو چا قی و وهی بيا د دا فکر وکړی چي روژه مي ماته ده او په دغه ګمان او عقيده سره يې قصدا بيا خوراک او چيښاک وکړی روژه يې ماته کړه نو هم قضا غواړي کفاره نسته ورباندي ځکه چي د دروژې د ماتولو اراده نه ده کړې . دده دا فکر وو چي زما روژه ماته ده ځکه دا خوراک کوم .

وفی الدرالمختار : (وَإِنْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ وَخَرَجَ) وَلَمْ يَعُدْ (لَا يُفْطِرُ مُطْلَقًا) مَلَأَ أَوْ لَا (فَإِنْ عَادَ) بِلَا صُنْعِهِ (وَ) لَوْ (هُوَ مِلْءُ الْفَمِ مَعَ تَذَكُّرِهِ لِلصَّوْمِ لَا يَفْسُدُ) خِلَافًا لِلثَّانِي (وَإِنْ أَعَادَهُ) أَوْ قَدْرُ حِمَّصَةٍ مِنْهُ فَأَكْثَرَ حَدَّادِيٌّ (أَفْطَرَ إجْمَاعًا) وَلَا كَفَّارَةَ (إنْ مَلَأَ الْفَمَ وَإِلَّا لَا) هُوَ الْمُخْتَارُ (وَإِنْ اسْتِقَاءُ) أَيْ طَلَبَ الْقَيْءَ (عَامِدًا) أَيْ مُتَذَكِّرًا لِصَوْمِهِ (إنْ كَانَ مِلْءَ الْفَمِ فَسَدَ بِالْإِجْمَاعِ) .

وفي ردالمحتار : (قَوْلُهُ: لَا يُفْسِدُ) أَيْ عِنْدَ مُحَمَّدٍ وَهُوَ الصَّحِيحُ لِعَدَمِ وُجُودِ الصُّنْعِ وَلِعَدَمِ وُجُودِ صُورَةِ الْفِطْرِ، وَهُوَ الِابْتِلَاعُ وَكَذَا مَعْنَاهُ؛ لِأَنَّهُ لَا يَتَغَذَّى بِهِ بَلْ النَّفْسُ تَعَافُهُ بَحْرٌ .... وَكَذَا لَوْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ وَظَنَّ أَنَّهُ يُفَطِّرُهُ فَأَفْطَرَ، فَلَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ لِوُجُودِ شُبْهَةِ الِاشْتِبَاهِ بِالنَّظِيرِ فَإِنَّ الْقَيْءَ وَالِاسْتِقَاءَ مُتَشَابِهَانِ؛ لِأَنَّ مَخْرَجَهُمَا مِنْ الْفَمِ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲ ص ۴۱۴ / ۴۰۲ باب مایفسدالصوم ومالایفسده مکتبه شامله / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۰۳ / ۲۰۴ کتاب الصوم / البحر الرائق ج ۲ ص ۲۷۴ باب مایفسد الصوم وما لایفسده / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۹۹ کتاب الصوم / ستاسي مسائل او دهغه حل اردو ج ۴ ص ۵۸۳ / دروژې دمسائلو انسایکلوپیډیا اردو ص ۱۶۰)

په نسوارو سره روژه ماتیږي که یا ؟

سوال ۱۸ : په نسوارو سره روژه ماتیږي که یا ؟ .

جواب : کله چي نسوار وخولې ته ورولویږي نو بیا دناړو سره یوځای کیږي او نس ته ورداخلیږي کوم چي دروژې دفساد ذریعه ګرځي بلکي دنسوارو عادي خلګ نسوار دغذا نعم البدل (یو ښه بدیل) بولي نو له دې وجهي دنسوارو په کولو سره روژه ماتیږي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار علی الدرالمختار :اخْتَلَفُوا فِي مَعْنَى التَّغَذِّي قَالَ بَعْضُهُمْ أَنْ يَمِيلَ الطَّبْعُ إلَى أَكْلِهِ وَتَنْقَضِيَ شَهْوَةُ الْبَطْنِ بِهِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ هُوَ مَا يَعُودُ نَفْعُهُ إلَى صَلَاحِ الْبَدَنِ وَفَائِدَتُهُ فِيمَا إذَا مَضَغَ لُقْمَةً ثُمَّ أَخْرَجَهَا ثُمَّ ابْتَلَعَهَا فَعَلَى الثَّانِي يُكَفِّرُ لَا عَلَى الْأَوَّلِ وَبِالْعَكْسِ فِي الْحَشِيشَةِ؛ لِأَنَّهُ لَا نَفْعَ فِيهَا لِلْبَدَنِ، وَرُبَّمَا تُنْقِصُ عَقْلَهُ وَيَمِيلُ إلَيْهَا الطَّبْعُ وَتَنْقَضِي بِهَا شَهْوَةُ الْبَطْنِ. اهـ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۴۱۰ کتاب الصوم باب مایفسد الصوم / الجوهرة النیرة ج ۱ ص ۱۷۱ فصل فیما یفسد الصوم / مراقي الفلاح علي صدر الطحطاوی ص ۳۶۱ باب في بیان ما لایفسد الصوم / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۰۱ کتاب الصوم)

که په روژه کي په ساعت تېرولو کي یوڅوک انزال سو څه حکم لري؟

سوال ۱۹: که چیري یو کس په روژه کي په ساعت تېرولو سره انزال سو نو قضاء او کفاره باندي لازمیږي که یا؟

جواب: که یو شخص په روژه کي په ساعت تیري کي انزال سي یا په لاس سره ځان انزال کړي نو پر دغه شخص باندي کفاره نسته البته د دغي ورځي د روژې قضاء باندي لازمه ده.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار
:(قَوْلُهُ: وَكَذَا الِاسْتِمْنَاءُ بِالْكَفِّ) أَيْ فِي كَوْنِهِ لَا يُفْسِدُ لَكِنَّ هَذَا إذَا لَمْ يُنْزِلْ أَمَّا إذَا أَنْزَلَ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ كَمَا سَيُصَرِّحُ بِهِ وَهُوَ الْمُخْتَارُ .

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۳۹۹ کتاب الصوم مطلب حکم الاستنماء بالکف / فتاوی قاضي خان ج ۱ ص ۱۰۰ الفصل الخامس فیما لایفسد الصوم / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۰۵ الباب الرابع فیما یفسد وما لایفسد / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۱۴ کتاب الصوم)

دروژې په مباشت کي د دوا په ذریعه سره حیض بندول او دهغه حکم.

سوال ۲۰: ځیني ښځي د روژې په مباشت کي د روژې څخه د نه محرومۍ په خاطر د حیض بندوونکي دواګاني استعمالوي ایا د شریعت د نظره څخه داسي اقدام کول جواز لري که یا؟

جواب: ښځي ته حیض ورتلل یو فطري او طبعي معامله ده کومه چي الله جل جلاله د ښځي په ذات کي اغښلې ده نو ځکه شریعت مقدسه ښځه په دغه ورځو کي معذوره بللې ده او دهغوی څخه یې د عباداتو ذمه داري پورته کړې ده. او همدا وجه ده چي په جدید او قدیم طب کي حیض د ښځي د تندرستۍ او صحت علامه ګڼل سوې ده .نو که چیري یوه ښځه خپل حیض د دوایانو په ذریعه سره بند کړي پر

شرعي احکامو باندي کوم اثر خو نه پریوزي یعني دحیض او نفاس دنه راتلو دوجي څخه دروژې او لمانځه اداء کول لازمي ګرځي لیکن دبنځي دصحت دپاره دنقصان درسېدو دوجي څخه باید دداسي کولو څخه پرهېز وسي خو روژه یې بیاهم صحیح کیږي.

لما فی الفتاوی الهندية : (وشرط) صحة الأداء النية والطهارة عن الحيض والنفاس كذا في الكافي والنهاية.

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۹۵ کتاب الصوم مکتبه رشیدیه / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۹۳ کتاب الصوم / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۲۲۵ کتاب الصوم شروط صحة الاداء / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۰۱)

دسګرېټ په څکولو سره روژه ماتیږي که یا ؟

سوال ۲۱ : دسګرېټ په څکولو سره روژه ماتیږي که یا ؟

جواب : د رمضان دمباشتي دروژې په دوران کي دسګرېټ په څکولو سره روژه فاسدیږي قضاء لازمیږي کفاره نه غواړي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : ومفاده أنه لو أدخل حلقه الدخان أفطر أي دخان كان ولو عودا أو عنبرا له ذاكرا لإمكان التحرز عنه .

(الدرالمختار ج ۲ ص ۱۰۶ / الفقه الاسلامي وادلته ج ۳ ص ۱۷۱۱ / حاشية الطحطاوي ص ۶۶۰ / دروژې مسائل اردو ص ۱۲۴ / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۱۵۷)

دچیلم په څکولو سره روژه ماتیږي که یا ؟

سوال ۲۲ : دروژې په مباشت کي دچیلم په څکولو سره روژه ماتیږي که یا ؟

جواب : فقهآء کرامو ليکلي دي چې د چيلم په څکولو سره روژه ماتيږي قضا غواړي کفاره نسته . البته که چيرې روژه نيوونکي کس دغه چيلم نفع بخش ځان ته بولي نو بيا کفاره او قضا دواړه باندي لازميږي .

او کوم کسان چې د چيلم عملېان وي پر هغه کسانو باندي قضا او کفاره دواړه لازم دي او همداشان هغه څوک چې عملي خويې نه وي ليکن د رمضان په روژه کي يې چيلم ديوې فايدې پيش نظر وڅکوی نو پر داسي کس باندي هم قضا او کفاره دواړي لازميږي .

لما قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار :وبه علم حكم شرب الدخان ونظمه الشرنبلالي في شرحه على الوهبانية بقوله: ويمنع من بيع الدخان وشربه ... وشاربه في الصوم لا شك يفطر ويلزمه التكفير لو ظن نافعا ... كذا دافعا شهوات بطن فقرروا.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۱۰۶ باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده مكتبه شيديه الفقه الاسلامي وادلته ج ۳ ص ۱۷۱۱ / حاشية الطحطاوي ص ۶۶۰ / دروژې مسائل اردو ص ۷۰ / فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۱۵۷)

د سترګو په تورولو سره روژه ماتيږي که يا؟

سوال ۲۳ : ايا د سترګو په تورولو سره روژه ماتيږي؟

جواب: د روژې په حالت کښې سترګي تورول رواه دي په رنجو سره ددې دوجي څخه پر روژې باندي هيڅ تاثير نه پريوزي که څه هم د سترګو تر تورولو وروسته په ناړو ياد پزي په اوبو کښې درانجو اثر هم معلوم سي خو بياهم روژه نه فاسديږي او نه هم مکروه کيږي .

لما فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : أو أدهن أو اكتحل أو احتجم) وإن وجد طعمه في حلقه .وقال ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار : (قوله: وإن وجد طعمه في حلقه) أي طعم الكحل أو الدهن كما في السراج وكذا لو بزق فوجد لونه في الأصح بحر قال في النهر؛ لأن الموجود في حلقه أثر داخل من المسام الذي هو خلل

البدن والمفطر إنما هو الداخل من المنافذ

(ردالمحتار علي الدرالمختار جلد ۲ ص۳۹۵ باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده/ فتاوي تاتا رخانيه ج ۲ ص ۳۶۶ ادارة القرآن والعلوم الاسلامية /مسايل الصوم اردو ص ۱۲۱)

که دروژې په حالت کښې مچ خولې ته ننوزي روژ ماته ده که یا ؟

سوال ۲۴: که چیرې د روژې په حالت کښې دیو کس په خوله او حلق کښې مچ یا غوماشه یا بله خزنده ننوزي په غیر اختیاري شکل سره تر حلق شوه سې روژه په ماتیږي که یا؟

جواب: که چیرې د روژې په حالت کښې خود بخوده وحلق ته دننه مچ یا غوماشه دا خله سې روژه نه فاسدوي او که چا قصدا دغسې وکړه نو یه روژه فاسده ده قضاء غواړي کفّاره نه غواړي.

لما فی الفتاوی الهندية :و ماليس بمقصود بالا كل ولايمكن الا حترازعنه كالذباب اذا وصله الى جوف الصايم لايفطره كذافي ايضاح الكرماني ... ولو أخذ الذباب، وأكله يجب عليه القضاء دون الكفارة كذا في شرح الطحاوي.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ض ۲۰۳ كتاب الصوم مكتبه رشيديه / مسايل الصّوم ص ۱۸۵ اردو)

باب القضآء والكفاره

که پر یو چا قضایي روژې باندي وي نفلي روژې نیولای سي که یا ؟

سوال ۱ : که چیرې پر یو کس باندي فرضي روژې پاته وي نو اوس دغه شخص نفلي روژې نیولای سي که یا ؟ دغه نفلي روژې صحیح کیږي که یا ؟

جواب : داسي کس چي پرده باندي فرضي روژې باندي وي او دی غواړي چي نفلي روژې ونیسي دغه نفلي روژې یې جواز لري او صحیح کیږي البته د داسي کس لپاره مناسبه داده چي اول د قضایي روژو څخه ځان فارغه کړي بیا نفلي روژې ونیسي .

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرمختار : وَلِذَا جَازَ التَّطَوُّعُ قَبْلَهُ بِخِلَافِ قَضَاءِ الصَّلَاةِ

وفي الهندية : وَلَا يُكْرَهُ صَوْمُ التَّطَوُّعِ لِمَنْ عليه قَضَاءُ رَمَضَانَ كَذَا في مِعْرَاجِ الدِّرَايَةِ

(الدرمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۱۲۷ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۰۱ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۳۹ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۴۲۴ پښتو/ اپ کي مسائل ج ۴ ص ۵۹۰ اردو)

ایا دلوی اختر په لسو ورځو کي قضايي روژې صحيح کيږي که يا ؟

سوال ۲ : که چيري د ذوالحجې په لسو ورځو کي قضايي روژې ونيسم جواز لري که يا ؟

جواب : په ټول کال کي پنځه داسي ورځي سته چي په هغو کي د روژې نيول منع دي چي هغه د دوو اخترو ورځي دي او د تشريق ورځي دي يعني دلوی اختر داولي ورځي څخه وروسته درې پرله پسې ورځي او د روژې مياشت ځکه چي په دې مياشت کي بايد هغه فرضي روژې ونيول سي نور په هر وخت کي د قضايي روژې نيول جواز لري والله اعلم.

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : أَنَّ صَوْمَ الْعِيدَيْنِ مَكْرُوهٌ تَحْرِيمًا وَلَوْ كَانَ الصَّوْمُ وَاجِبًا (قَوْلُهُ : كَالْعِيدَيْنِ) أَيْ وَأَيَّامِ التَّشْرِيقِ نَهْرٌ (قَوْلُهُ : وَعَاشُورَاءَ وَحْدَهُ) أَيْ مُفْرَدًا عَنْ التَّاسِعِ أَوْ عَنْ الْحَادِيَ عَشَرَ إمْدَادٌ ؛ لِأَنَّهُ تَشَبُّهٌ بِالْيَهُودِ مُحِيطٌ

ولماقال ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله في البحر : وَالْمَكْرُوهُ تَنْزِيهًا عَاشُورَاءُ مُفْرَدًا عن التَّاسِعِ وَنَحْوُ يَوْمِ الْمِهْرَجَانِ وَتَحْرِيمًا أَيَّامُ التَّشْرِيقِ والعيدين كَذَا في فَتْحِ الْقَدِيرِ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۹۱ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۴۵۰ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۲۶۵ مکتبه رشیدیه / فقه الاسلامي وادلته ج ۳ ص ۱۷۳۵ مکتبه حبیبیه)

په فرضي روژه کي که چا د شپې نيت نه وي کړی سهار خوراک وکړي قضآء او کفاره دواړه غواړي او که يوازي قضآء ؟

سوال ۳ : د رمضان المبارک په مياشت کي که يو څوک د شپې څخه د روژې نيت او اراده ونه کړي او د ورځي خوراک او څيښاک او يا هم داسي کار وکړي چي د روژې سره منافي او ضد وي او س پوښتنه دا ده چي په د غسي عمل باندي پر د غه کس باندي قضآء او کفاره دواړي لازميږي او که يوازي قضآء لازميږي کفاره نه غواړي ؟

جواب : دامام ابوحنیفه رحمه الله تعالی دفقهي شریفي په کتابونو کي راغلي دي چي دروژې په میاشت کي که یوڅوک دشپې دروژې نیولو نیت او اراده ونه لري او سهار خوراک یا څیښاک وکړي پردغه شخص باندي یوازي قضاء لازمیږي کفاره نسته ورباندي ځکه چي کفاره هغه وخت لازمیږي چي یوڅا فرضي روژه نیولي وي بیا یي په قصد سره ماته کړي نو اوس چي ده نیت نه دی کړی نوده دسره روژه نیولي نه ده نوځکه کفاره نسته یوازي قضاء لازمیږي البته په قصد سره دفرضي روژې نه نیول ډېره لویه او غټه ګناه ده .

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله فى ردالمحتار : وأما عندنا فلا بد من النية لأن الواجب الإمساك بجهة العبادة ولا عبادة بدون نية فلو أمسك بدونها لا يكون صائما ويلزمه القضاء دون الكفارة

أما لزوم القضاء فلعدم تحقق الصوم لفقد شرطه وأما عدم الكفارة فلأنه عند كفر صائم لم يوجد منه ما يفطر فتسقط عنه الكفارة لشبهة الخلاف وإن كان عندنا يسمى مفطرا شرعا والأولى التعليل بعدم تحقق الصوم لأن الكفارة إنما تجب على من أفسد صومه والصوم هنا معدوم

ولمافى الموسوعة الفقهية : قَال الطَّحْطَاوِيُّ : وَيُشْتَرَطُ الدَّوَامُ عَلَيْهَا . فَلَوْ نَوَى مِنَ اللَّيْل ، ثُمَّ رَجَعَ عَنْ نِيَّتِهِ قَبْلطُلُوعِ الْفَجْرِصَحَّ رُجُوعُهُ وَلاَ يَصِيرُ صَائِمًا ، وَلَوْ أَفْطَرَ لاَ شَيْءَ عَلَيْهِ إِلاَّ الْقَضَاءُ ، بِانْقِطَاعِ النِّيَّةِ بِالرُّجُوعِ ، فَلاَ كَفَّارَةَ عَلَيْهِ فِي رَمَضَانَ

وقال العلامة احمدبن اسمعيل الطحطاوي رحمه الله فى حاشية الطحطاوي على المراقي : قوله (فلو رجع عما نوى ليلا لم يصر صائما) قال في الهندية ولو نوى من الليل ثم رجع عن نيته قبل طلوع الفجر صح رجوعه في الصيامات كلها قوله (ولو أفطر) أي في أداء رمضان بعد رجوعه عن نية الصوم ليلا قوله (فلا كفارة عليه في رمضان)

(ردالمحتارج ۲ص ۱۱۲ مکتبه رشیدیة / الموسوعة الفقهية ج ۲۸ ص ۲۶ مکتبه حقانية / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۹۵ مکتبه رشیدیة / حاشية الطحطاوي علي المراقي ص ۶۴۵ مکتبه رشیدیة / حاشية الطحطاوي علي الدرمختار ج ۱ ص ۴۵۴ مکتبه رشیدیة)

که چیري پریو چاباندي قضایي روژې پاته وې اوبله دروژې میاشت راسي څه وکړي؟

سوال ۴ : که چیري پریو چاباندي دتېر کال قضایي روژې پاته وي او دنوي کال روژه راسي نو اوس قضایي روژې ونیسي او که اوسنۍ وقتي روژې ونیسي ؟

جواب :د حنفي مذهب فقهاوو په خپلو کتابو کي لیکلي دي چي که چیري پریو چاباندي قضایي روژې پاته وي او نوې روژه باندي راسي نو دی به وقتي روژې نیسي او قضا به بیا وروسته راوړي که یې چیري د قضایي روژې نیت هم وکړی بیا هم په اوسنۍ روژه کي دریږي او قضا باندي پاتیږي .

لمافی الهندية : وَإِنْ جاء الرَّمَضَانُ الثَّانِي ولم يَقْضِ الْأَوَّلَ قُدِّمَ الْأَدَاءُ على الْقَضَاءِ كَذَا في النَّهْرِ الْفَائِقِ

ولما فی الموسوعة : ومذهب الحنفية وهووجه محتمل عندالحنابلة اطلاق التراخي بلاقيد فلوجاء رمضان اخر ولم يقض الفائت قدم صوم الاداء على القضاء حتى لونوى الصوم عن القضاء لم يقع الا عن الاداء

(الموسوعة الفقهية ج ۲۸ ص ۷۶ مکتبة الحقانية /الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۲۰۸ مکتبه رشيديه / مراقي الفلاح علي صدر طحطاوي ص ۳۷۵ / دروژې مسائل اوردو ص ۱۵۹)

فرضي روژه په قصداً سره خوړل کفاره غواړي که یا ؟

سوال۵ :ځیني کسان داسي خبره کوي چي که چا قصداً د روژې په میاشتي کښي جماع وکړه نو روژه یي ماتیږي او کفاره لازمیږي او که چا په قصداً سره په روژه کښي خوراک وکړی نو کفاره نه لازمیږي آیا دا خبره حقیقت اورشتیا والی لري ؟

جواب : دغه خبره هیڅ حقیقت اورشتیا والی نه لري بلکي په روژه کښي که چا قصدا خوراک ، یا چیښاک ، یا جماع وکړه په دغه دري واړه صورتونو کښي قضا او کفاره وړباندي لازمیږي فرق یي نسته .

وفي الهداية :ولو اكل اوشرب مايتغذى به اومايتداوى به فعليه القضآء والكفارة .... ومن جامع فى احدالسبيلين عامدا فعليه القضآء والكفارة ....

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ص ۱۱۷ / الهداية ج ۱ ص مکتبه حنفيه ۲۰۱)

قصدا فرضي روژه ماتول کفاره او قضا دواړه غواړي .

سوال ۶ : که یو څوک په دې خبر نه وو چې روژه په قصد سره ماتول کفاره لري او بیا ده قصداً ماته کړه کفاره غواړي که یا ؟

جواب : درمضان شریف روژه که چا قصداً وخوړه او ماته یې کړه نو کفاره او قضاء دواړه لازمیږي جهل او ناپوهي په داراسلام کښې نه ده معتبره.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وإن جامع) المكلف آدميا مشتهى (في رمضان أداء) لما مر (أو جامع) أو توارت الحشفة (في أحد السبيلين) أنزل أو لا (أو أكل أو شرب غذاء) (أو دواء) ما يتداوى به والضابط وصول ما فيه صلاح بدنه لجوفه ومنه ريق حبيبه فيكفر لوجود معنى صلاح البدن فيه دراية وغيرها وما نقله الشرنبلالي عن الحدادي رده في النهر (عمدا)..... قضى وكفر .

(ردالمحتار باب مایفسد الصوم ج ۱ ص ۱۱۸ مکتبه رشیدیه /فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ص ۳۷۱ کتاب الصوم مکتبه رشیدیه)

درژې دمیاشتي روژه نه نیول او دهغې دفدیې حکم .

سوال ۷ : که چیري یو څوک دروژې دمیاشتي روژه قصداً ونه نیسي او یا یې قصداً خوري نو دداسي کس پر برابر دشریعت مطهره څه حکم دی ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي چي درمضان المبارک روژه په قصدا سره دنه نیولو دوجي پر هغه شخص باندي قضا ددغي روژې او کفاره دواړه لازمیږي البته چي نیت یې دنیولو کړی وي بیا یې وخوري او که یې دسره څخه دروژې نیولو نیت نه وي کړی نو بیا کفاره نسته وربانديې . شریعت مطهره په کفاره کښې ترټولو دمخه دغلام یعني دمریي ازادول مقرر کړي دي او که چیري دغه کس دمریي ازادول په وس کښې نه وي نو دي دوې میاشتې روژې پرله پسې ونیسي او که یې چیري دروژې دنیولو طاقت هم نه درلودی نو بیا دي شپېته مسکینانو ته دوه وخته ډوډی ورکړي . او یا دي دسرسایې په اندازه هر مسکین ته غنم او یا پیسې ورکړي . خو داخبره هم په

ياد ساتل پكار ده چي په هرصورت كښې كفاره اداء كړي نو قضايې روژه به خامخا راګرځوي .

ولو أكل أو شرب ما يتغذى به أو ما يداوى به فعليه القضاء والكفارة : والكفارة مثل كفارة الظهار) ش: أي الكفارة التي تجب بالواقع، مثل كفارة الظهار، وهي عتق رقبة، فإن لم يجد فصيام شهرين متتابعين، فإن لم يستطع فإطعام ستين مسكيناً لكل مسكين نصف صاع من بر أو صاع من تمر.

وفي ردالمحتار على الدرالمختار : وأما عندنا فلا بد من النية؛ لأن الواجب الإمساك بجهة العبادة، ولا عبادة بدون نية فلو أمسك بدونها لا يكون صائما ويلزمه القضاء دون الكفارة.

(البناية شرح الهداية ج ۴ ص ۳۰۸ باب ماتوجب القضآء والكفارة / ردالمحتار ج ۲ ص ۴۱۲ مطلب في الكفارة ، ردالمحتار ج ۲ ص ۴۰۵ مكتبه شامله / طحطاوى ص ۶۶ فصل في الكفارة وما يسقطها عن الذمة بعد الوجوب / فتاوى حقانيه ج ۲ ص ۴۰۵ كتاب الصوم)

دروژې دكفارې دروژو دنيولو په دوران كښې يو كس مريض سو .

سوال ۸ : كه چيري يو كس دروژې دخوړلو دكفارې روژې نيولې او بيا په مينځ كښې مريض سو يوه يا دوې روژې يې وخوړې نو كفاره به بيا دسره راګرځوي او كه دهغه ځايه څخه يې شروع كړي پر كوم ځاى چي ده دمريضۍ دوجي څخه پرې ايښې وې ؟ .

جواب : دكفارې دروژې په نيوولو كښې شپيته ورځي متصل روژې نيول ضروري دي او س چي دى مريض سو نو هغه اتصال دمينځه څخه ولاړى نو لهذا دكفارې روژې به بيرته دسره راګرځوي ځكه چي شريعت په دغه باب كښې صرف حيض مستثنى كړى دى بل شي ته يې اعتبار نه دى وركړى.

لماقال العلامةالحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : صام شهرين الخ....(مُتَتَابِعَيْنِ قَبْلَ الْمَسِيسِ لَيْسَ فِيهِمَا رَمَضَانُ وَأَيَّامٌ نُهِيَ عَنْ صَوْمِهَا) وَكَذَا كُلُّ صَوْمٍ شُرِطَ فِيهِ التَّتَابُعُ. (فَإِنْ أَفْطَرَ بِعُذْرٍ) كَسَفَرٍ وَنِفَاسٍ بِخِلَافِ الْحَيْضِ .... استانف الصوم .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۲ ص ۶۳۱ باب الكفارة طبع رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۳۹۲ كتاب الصوم)

په روژه کښې دورځې جماع کول .

سوال ۹ : که چیرې یو کس په روژه کښې دخپلې ښځې سره جماع وکړي او بیا پر دغه کړې عمل باندې پښېمانه هم وي نو شرعا ده ته څه کول پکار دي ؟ .

جواب : درمضان المبارک په مقدسه میاشت کښې دورځې په جماع کولو سره روژه ماتیږي چې په بدل کښې یې قضا او کفاره دواړه لازمیږي په داسې عمل باندې که چیرې میړه او ښځه دواړه راضي وي نو قضا او کفاره پر دواړو باندې لازمیږي او که نه نو بیا دښځې دمجبورولو په صورت کښې پر ښځې باندې یوازې قضاء لازمیږي او پر میړه باندې قضاء او کفاره دواړه لازمیږي .

اذا جامع امراته متعمدا فی نهار رمضان فعلیه القضاء والکفارة اذا توارت الحشفة انزل او لم ینزل .

وفي تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق : أَوْ جُومِعَ نَصَّ عَلَى أَنَّهَا تَجِبُ عَلَى الْمَفْعُولِ بِهِ وَعَلَى الْمَرْأَةِ إنْ كَانَ بِطَوْعِهَا

(تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق ج ۱ ص ۳۲۷ باب ما یفسد الصوم ومالایفسده مکتبه شامله / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۵۹ کتاب الصوم الفصل الثالث فیما یفسد الخ / الهدایة ج ۱ ص ۲۰۱ کتاب الصوم / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۹۱ کتاب الصوم فصل رکنه /فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۰۶ کتاب الصوم)

دښځې سره دخوب په حالت کښې جماع کول .

سوال ۱۰ : که چیرې یو کس دخپلې ښځې سره دخوب په حالت کښې جماع وکړي او هغه نه سې خبره پر دغه ښځې باندې کفاره سته که یا ؟

جواب : که چیرې ددغه ښځې سره په دغه ذکرسوي حالت کښې جماع وسول نو فقط پر دې باندې قضا سته کفاره نسته او دخاوند که روژه وه نو پر هغه باندې قضا او کفاره دواړه سته .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (أَوْ وُطِئَتْ نَائِمَةً أَوْ مَجْنُونَةً) ...... (قَضَى) فِي الصُّوَرِ كُلِّهَا (فَقَطْ)

اذا جامع امراته متعمدا فی نهار رمضان فعلیه القضاء والکفارة اذا توارت الحشفة انزل او

لم ينزل .

الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۴۰۵ باب مايفسد الصوم ومالايفسده مكتبه شامله / الهداية ج ۱ ص ۲۰۶ / احسن المسائل حصه اول ص ۱۰۱ مسائل النكاح / خلاصة الفتاوى ج ۱ ص ۲۵۹ كتاب الصوم الفصل الثالث فيما يفسده)

دروژې دخوړلو دکفارې روژې يې نيولې په خطا کښې باندي سهار سوی وو .

سوال ۱۱ : پر يو کس باندي د روژې د خوړلو دکفارې دوې مياشتي روژې باندي وي تر څلويښت زياتي يې نيولي وي يو ه ورځ داسي پيښه سوه چي پر پيشلمي يې خوراک کوی دغه کس دا فکر کوی چي تر اوسه لا وخت پاته دی وروسته چي يې فکر وکړی هغه باندي سهار سوی وو او دی لا د سهار په وخت کښې خوراک کوی . اوس پوښتنه داده چي دغه روژه خو په خطا سره فاسده سوه نو ايا دغه خطا شرعا عذر بلل کيږي دکفارې د روژو دپاره که يا ؟ . ايا اوس روژې بېرته دسره راګرځول غواړي که يې دهغه ځايه شروع کړي تر کوم ځای پوري چي يې رسولي وي ؟

جواب : دغه کس ته پکار دي چي دغه دکفارې روژې بېرته دسره څخه راوګرځوي ځکه چي تتابع اوپرله پسې والی په دغه روژو کښې شرط دی او هغه دلته نيستي سو . فقهاء کرامو ليکلي دي چي دکفارې دروژو دنيولو په دوران کښې دښځي دپاره فقط دحيض عذر معاف دی ځکه چي هغه يو غير اختياري شی دی نور کوم عذر که دنر دپاره وي او که د ښځي دپاره وي لکه په خطاسره خوراک کول يا سفر يا مريضي او دې ته ورته عذرونه نه دي معاف . والله اعلم . د

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (فَإِنْ أَفْطَرَ بِعُذْرٍ) كَسَفَرٍ وَنِفَاسٍ بِخِلَافِ الْحَيْضِ إلَّا إذَا أَيِسَتْ (أَوْ بِغَيْرِهِ،..... (اُسْتُؤْنِفَ الصَّوْمُ . وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قَوْلُهُ: فَإِنْ أَفْطَرَ) أَفَادَ أَنَّهُ لَوْ أَكَلَ نَاسِيًا لَمْ يَضُرَّ كَمَا فِي الْكَافِي (قَوْلُهُ: بِخِلَافِ الْحَيْضِ) فَإِنَّهُ لَا يَقْطَعُ كَفَّارَةَ قَتْلِهَا وَإِفْطَارِهَا لِأَنَّهَا لَا تَجِدُ شَهْرَيْنِ خَالِيَيْنِ عَنْهُ .

وقال ابن نجيم المصرى رحمه الله تعالى فى البحرالرائق شرح كنز الدقائق : وَقَدْ أَفَادَ كَلَامُهُ أَنَّ كُلَّ صَوْمٍ شُرِطَ فِيهِ التَّتَابُعُ نَصًّا فَحُكْمُهُ كَالْكَفَّارَةِ فَإِذَا أَفْطَرَ فِيهِ يَوْمًا بَطَلَ مَا قَبْلَهُ وَلَزِمَهُ الِاسْتِقْبَالُ كَالْمَنْذُورِ الْمَشْرُوطِ فِيهِ التَّتَابُعُ مُعَيَّنًا أَوْ مُطْلَقًا .

وقال العلامة الفرغيناني المغيناني رحمه الله تعالى : والكفارة مثل كفارة الظهار " لما روينا ولحديث الأعرابي فإنه قال يا رسول الله هلكت وأهلكت فقال ماذا صنعت قال واقعت امرأتي في نهار رمضان متعمدا فقال صلى الله عليه وسلم " أعتق رقبة " فقال لا أملك إلا رقبتي هذه فقال " صم شهرين متتابعين "

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۴۷۷ باب كفارة الظهار مكتبه شامله بيروت چاپ / البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج ۴ ص ۱۱۵ فصل في كفارة الظهار مكتبه شامله بيرت چاپ / الجوهرة النيرة ج ۲ ص ۶۸ مكتبه شامله بيرت چاپ / مجمع الانهر ج ۱ ص ۴۳۵ مكتبه شامله بيرت چاپ / الهداية ج ۲ ص ۳۹۳ باب الظهار مكتبه شامله بيرت چاپ / ج ۱ ص ۱۲۲ باب مايوجب القضاء والكفارة مكتبه شامله بيروت چاپ/ فتناوى محموديه ج۱۰ ص ۱۷۴ باب الكفارة مكتبه فاروقيه)

يوې ښځي قصدا روژه وخوړل او بيا په دغه ورځ حيض ورته راغي كفاره باندي سته كه يا ؟

سوال ۱۲ : يوې ښځي د روژې په مبارکه مياشت کښې قصدا روژه وخوړله بيا وروسته د همدغه ورځي په آخر کښې حيض ورته راغی په دغه حيض راتللو سره د دغه ښځي د ذمې څخه کفاره ساقطيږي که يا ؟

جواب : په قصد سره د روژې ماتولو په صورت کښې کفاره په هغه وخت کښې لازميږي چي کله د کفارې ساقطوونکی کوم عمل وجود ته نه وي راغلی . او په ذکر سوي صورت کښې خو داسي شی وجود ته راغی چي هغه ساقطوونکی د کفارې دی دا ځکه چي دغه ښځه شرعا په دغه ورځ کښې د دغه مريضۍ سره د روژې نيولو قابله نه ده نو ځکه فقهاء کرامو ليکلي دي چي د دغي ښځي د ذمې څخه کفاره ساقطه ده البته د دغه ورځي د روژې قضا به راوړي .

لما فى الفتاوى الهندية : والصحيح إذا أفطر ثم مرض مرضا لا يستطيع معه الصوم تسقط الكفارة عندنا كذا في فتاوى قاضي خان. وهو الأصح هكذا في الظهيرية.

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۲۰۶ الفصل السابع فيما يسقط الكفارة ومالايسقط مكتبه شامله / الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۴۱۲ / ۴۱۳ مطلب في الكفارة / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۳۷۰ رشيديه / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۴۱۹ كتاب الصوم / نورالايضاح ص ۱۴۳)

دکفارې دروژو اتصال ماسوا دحيض څخه بل هر عذر ختموي .

سوال ۱۳: يو کس دکفارې شپېته روژې نيولې خو يوه ورځ په خطا سره يوه روژه ځيني ماته سوه ايآ په دغه خطا سره هغه اتصال ختمېږي که يا ؟

جوال: فقهاء کرامو ليکلي دي چي دحيض څخه علاوه نور چي هر عذر وي هغه دکفارې دروژو اتصال ختموي بيا به يې دسره څخه راګرځوي .

لما قال العلامة ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ۱۲۵۲هـ) فی رد المحتار على الدر المختار: فلو أفطر ولو لعذر استأنف إلا لعذر الحيض .

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۴۱۲ باب مايفسد الصوم ومالايفسده / الفتاوی الولوجية ج ۱ ص ۲۲۶ فصل في كيفية الكفارة وترتيبها بيروت چاپ / حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۶۷۰ فصل في الكفارة قديمي كتابخانه / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۴۴۱ / فتاوی دارالعلوم زكريا ج ۳ ص ۳۰۹ كتاب الصوم باب القضاء والكفارة)

دروژې دکفارې وجوب په احاديثو سره ثابت دی .

سوال ۱۴: که چيري يو کس قصدا روژه وخوري نو پر کفارې باندي يې کوم دليل په احاديثو کي سته که يا ؟

جواب: دامام ابوحنيفه او امام مالک رحمهما الله تعالی مذهب دادی چي که چيري يو کس دروژې په مباشتي کي قصدا خوراک يا چيښاک وکړي نو پر هغه کس باندي کفاره واجب ده په دليل کي يې لاندي احاديث ذکر کړي دي .

وفي الموسوعة الفقهية :لاَ خِلاَفَ بَيْنَ الْفُقَهَاءِ فِي عَدَمِ وُجُوبِ الْكَفَّارَةِ عَلَى مَنْ أَكَل أَوْ شَرِبَ فِي نَهَارِ رَمَضَانَ نَاسِيًا أَوْ جَاهِلاً أَوْ مُخْطِئًا وَإِنَّمَا الْخِلاَفُ بَيْنَهُمْ فِي وُجُوبِهَا بِتَعَمُّدِ الأْكْل أَوِ الشُّرْبِ وَنَحْوِهِمَا عَلَى قَوْلَيْنِ. الْقَوْل الأْوَّل: وُجُوبُ الْكَفَّارَةِ بِتَعَمُّدِ الأْكْل وَالشُّرْبِ وَنَحْوِهِمَا فِي نَهَارِ رَمَضَانَ. ....وَإِلَيْهِ ذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ وَالْمَالِكِيَّةُ وَبِهِ قَال

عَطَاءٌ وَالْحَسَنُ وَالزُّهْرِيُّ وَالثَّوْرِيُّ وَالأَوْزَاعِيُّ وَإِسْحَاقُ وَأَبُو ثَوْرٍ وَاسْتَدَلُّوا بِمَا رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلاً أَفْطَرَ فِي رَمَضَانَ فَأَمَرَهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنْ يُعْتِقَ رَقَبَةً.وَبِمَا رُوِيَ مِنْ قَوْل الرَّسُول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَفْطَرَ فِي رَمَضَانَ مُتَعَمِّدًا فَعَلَيْهِ مَا عَلَى الْمُظَاهِرِ وَوَجْهُ الدَّلاَلَةِ مِنْ هَذَيْنِ الْحَدِيثَيْنِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ فِي الْحَدِيثِ الأَوَّل مَنْ أَفْطَرَ فِي نَهَارِ رَمَضَانَ أَنْ يُعْتِقَ رَقَبَةً دُونَ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ إِفْطَارٍ وَإِفْطَارٍ، وَجَعَل جَزَاءَ الْفِطْرِ مُتَعَمِّدًا فِي الْحَدِيثِ الثَّانِي جَزَاءَ الْمُظَاهِرِ مُطْلَقًا، وَالْمُظَاهِرُ تَجِبُ عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ، فَتَجِبُ عَلَى كُل مَنْ أَفْطَرَ بِأَكْلٍ أَوْ بِغَيْرِهِ.

(تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج ۱ ص ۳۲۷ / حاشية الدسوقي علي الشرح الكبير للدردير ج ۱ ص ۵۲۷ ، ۵۲۸ / المغني ج ۳ ص ۱۱۵ / المجموع ج ۶ ص ۳۳۰ / سنن دار القطني ج ۲ ص ۱۹۱ نصب الراية ج ۲ ص ۴۴۹ / الموسوعة الفقهية ج ۳۵ ص ۵۹ وجوب الكفارة بتعمد الافطار بالاكل والشرب ونحوهما)

دلسو کالو ماشوم چي فرضي روژه ونيسي بيا يې قصدا ماته کړي نه قضا غواړي او نه کفاره .

سوال ۱۵ : که چيري دلسو کالو ماشوم فرضي روژه ونيسي او بيا يې قصدا ماته کړي کفاره غواړي که يا ؟

جواب : فقهاء کرامو د روژې د فرضيت د شرائطو څخه يو شرط بلوغ بيان کړی دی لهذا تر څه وخته چي څوک بلوغ ته نه وي رسېدلی پر هغه کس باندي روژه نه ده فرض نه د اداء په اعتبار سره او نه د قضا په اعتبار سره او ښکاره خبره ده چي کفاره به هغه وخت لازميږي چي پر ده باندي روژه فرض وي .

او بله خبره دا چي قضا يې هم نسته ځکه چي د ماشوم نفلي عبادت د بالغ کس د نفلي عبادت په شان نه دی چي په شروع سره پر لازم سي لهذا داسي ماشوم چي بلوغ ته نه وي رسېدلی او روژه ونيسي بيا يې ماته کړي نه قضا غواړی او نه کفاره . والله اعلم بالصواب .

لما قال العلامة المؤلف عبد الله بن محمود بن مودود الموصلي البلدحي، مجد الدين أبو الفضل الحنفي (المتوفى: ۶۸۳هـ) فى الاختيار لتعليل المختار (صوم رمضان فريضة على

كل مسلم عاقل بالغ أداء وقضاء) أما الفرضية فلما ذكرنا.وأما الإسلام فلأن الكافر ليس أهلا للعبادة. والعقل والبلوغ لأن الصبي والمجنون غير مخاطبين.

ولما قال العلامة لمؤلف عثمان بن علي بن محجن البارعي، فخر الدين الزيلعي الحنفي (المتوفى: ۷۴۳ھ) فی تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق وحاشية الشِّلْبِيِّا : وَشَرْطُ وُجُوبِهِ الْإِسْلَامُ وَالْعَقْلُ وَالْبُلُوغُ .

وفی الهداية : لأن نفل الصبي دون نفل البالغ حيث لا يلزمه القضاء بالإفساد بالإجماع

(الاختيار لتعليل المختار ج ۱ ص ۱۲۵ كتاب الصوم مكتبه شامله / تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج ۱ ص ۳۱۲ كتاب الصوم مكتبه شامله / مجمع الأنهر في شرح ملتقي الأبحر ج ۱ ص ۳۴۰ كتاب الصوم / الهداية ج ۱ ص ۵۷ باب الامامة)

فرضي روژه په قصداً سره خوړل كفاره غواړي كه يا ؟

سوال ۱۶ : دپنځلسو كالو هلک چي بلوغ ته رسېدلی وي قصدا فرضي روژه ماته كړه كفاره باندي لازميږي كه يا ؟

جواب : په روژه كښي كه چا قصدا خوراک، يا چيښاک، يا جماع وكړه په دغه دري واړه صورتونو كښي قضا او كفاره ورباندي لازميږي فرق يي نسته .

وفي الهداية :ولو اكل اوشرب مايتغذى به اومايتداوى به فعليه القضآء والكفارة .... ومن جامع فی احدالسبيلين عامدا فعليه القضآء والكفارة ....

(الهداية ج ۱ ص ۲۰۱ مكتبه حنفيه / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ص ۱۱۷)

ماپه قصد سره روژه وخوړه خوپه دې نه پوهېدم چي كفاره سته .

سوال ۱۷ : ما دروژې په مياشت كي دورځي په قصد سره روژه ماته كړه خوزه په دې نه پوهېدم چي په داسي عمل سره كفاره لازميږي اوس پوښتنه داده چي دغه زما ناخبرتيا عذر بلل كيږي كه يا يعني پر ما باندي كفاره لازميږي كه يا ؟

جواب : كه چيري يو شخص د روژې په مياشت كي فرضي روژه نيولي وي بيا په همدغه ورځ كي قصدا خوراک، چيښاک، اويا دښځي سره يوځای والی وكي نوپر دغه شخص باندي كفاره لازميږي او كومه چي دناخبرتيا خبره ده نو يوڅوک چي مسلمان وي په دارالاسلام كي اوسيږي دهغه لپاره دشريعت په احكامو ناخبرتيا

عذر نه بلل کيږي ځکه د هر مسلمان لپاره د دين په احکامو ځان خبرول لازم دي نو لهذا پر دغه شخص باندي کفاره لازمه ده .

لماقال ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله : قَوْلُهُ (وَمَنْ جَامَعَ أو جُومِعَ أو أَكَلَ أو شَرِبَ عَمْدًا غِذَاءً أو دَوَاءً قَضَى وَكَفَّرَ كَكَفَّارَةِ الظِّهَارِ) أَمَّا الْقَضَاءُ فَلِاسْتِدْرَاكِ الْمَصْلَحَةِ الْفَائِتَةِ وَأَمَّا الْكَفَّارَةُ فَلِتَكَامُلِ الْجِنَايَةِ

أَطْلَقَهُ فَشَمِلَ ما إذَا لم يُنْزِلْ لِأَنَّ الْإِنْزَالَ شِبَعٌ لِأَنَّ قَضَاءَ الشَّهْوَةِ يَتَحَقَّقُ دُونَهُ وقد وَجَبَ الْحَدُّ بِدُونِهِ وهو عُقُوبَةٌ مَحْضَةٌ فما فيه مَعْنَى الْعِبَادَةِ أَوْلَى وَشَمِلَ الْجِمَاعَ في الدُّبُرِ كَالْقُبُلِ وهو الصَّحِيحُ وَالْمُخْتَارُ أَنَّهُ بِالِاتِّفَاقِ

ولماقال العلامة شرنبلالي رحمه الله في نورالايضاح : وهو اثنان وعشرون شيئا اذا فعل الصائم شيئا منها طائعا متعمدا غير مضطر لزمه القضاء والكفارة وهي الجماع في أحد السبيلين على الفاعل والمفعول به والأكل والشرب سواء فيه ما يتغدى به أو يتداوى به

(البحرالرائق ج ۲ ص ۴۸۲ مکتبه رشيديه / تبين الحقائق ج ۲ ص ۱۷۷ مکتبه اشرفيه / الفقه الاسلامي وادلته ج ۳ ص ۱۷۱۵ مکتبه حبيبيه / الموسوعة الفقهيه ج ۳۵ ص ۵۹ مکتبه حقانيه / حاشية الطحطاوي ص ۶۶۳ مکتبه رشيديه)

دروژې په مباشت کي چي څو روژې قصدا وخوړل سي څو کفارې غواړي ؟

سوال ۱۸ : که چيري يو کس د روژې په مباشت کي قصدا څو روژې ماتي کړي په جماع يا غير جماع سره د داسي کس پر ذمه باندي څو کفارې اداء کول ضروري دي ؟

جواب : په دغه مسئله کي د فقهاء کرامو مختلف قولونه دي ځيني فقهاء فرمايي چي د هري روژې د پاره به جلا جلا کفاره ورکوي او ځيني بيا فرمايي چي د ټولو روژو د پاره يوه کفاره کافي ده په اول قول کي احتياط دی او په دوهم قول کي اساني ده .

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : ولو تكرر فطره ولم يكفر للأول يكفيه واحدة ولو في رمضانين عند محمد وعليه الاعتماد بزازية ومجتبى وغيرهما واختار بعضهم للفتوى أن الفطر بغير الجماع تداخل وإلا لا.

وقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى فى البحر الرائق : ولو جامع مرارا في أيام رمضان واحد، ولم يكفر كان عليه كفارة واحدة؛ لأنها شرعت للزجر، وهو يحصل بواحدة

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۴۱۳ باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده مكتبه شامله/ الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۱۵ مكتبه رشيديه / فتاوی عباد الرحمان ج ۳ ص ۱۹۹ كتاب الصوم / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۴۱۲ / البحر الرائق ج ۲ ص ۲۹۸ باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده مكتبه شامله)

باب الاعذار المبيحة للافطار

دمسافرۍ په حالت کښې روژه خوړل .

سوال ۱ : يو کس د مسافرۍ په حالت کښې روژه ونيول او وروسته يې ديو عذر په خاطر هغه روژه وخوړل کفاره باندي سته که يا ؟

جواب : داسي کس چي دسفر په حالت کښې يې روژه ونيول او بيا يې ماته کړله کفاره نسته باندي البته قضا او راګرځول يې لازمي دي .

و قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى في ردالمحتار :كَذَا لَوْ نَوَى الْمُسَافِرُ الصَّوْمَ لَيْلًا وَأَصْبَحَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُضَ عَزِيمَتَهُ قَبْلَ الْفَجْرِ ثُمَّ أَصْبَحَ صَائِمًا لَا يَحِلُّ فِطْرُهُ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ، وَلَوْ أَفْطَرَ لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ. اهـ. قُلْت: وَكَذَا لَا كَفَّارَةَ عَلَيْهِ بِالْأَوْلَى لَوْ نَوَى نَهَارًا فَقَوْلُهُ لَيْلًا غَيْرُ قَيْدٍ .

(ردالمحتار ج ۲ ص ۴۳۱ قبيل مطلب : يقدم هنا القياس علي الاستحسان طبع ايچ ايم سعيد/فتاوی فريديه ج ۴ ص ۱۷۷ / دروژې مسائل مؤلف : مفتي انعام الحق صاب ص ۱۷۷/ ۱۷۸)

دروژه نيوونکي دهلاکېدو په صورت کښې روژه خوړل

سوال ۲ : که چيري يو مريض ته دمرض د شدت دوجي دروژې نيول مشکل وي ،يا يو جوړ کس وي خو دوروژې په حالت کښې ويوې داسي مرحلې او حالت ته ورسيږي چي آخر خپل پر ژوند وبيريږي يعني که چيري دی روژه ونيسي نو آخر به خپل ژوند دلاسه ورکړي په داسي صورت کښې دغه کس ته دروژې خوړل رواه دي که يا ؟

جواب : ديو داسي تکليف او مريضۍ دوجي څخه روژه خوړل رواه ده چي هغه تکليف نا قابل برداشت وي . بلکي په داسي حالت کښې چي دانسان دهلاکت يعني مړکيدو خطره وي روژه خوړل بهتره ده . البته که يې چيري دروژې دنيولو طاقت درلودی نو نيول يې بهتره دي . خو دجوړيدلو وروسته به هغه خوړلې روژه بيرته نيسي .

وفي الفتاوى الهندية : الْمَرِيضُ إِذَا خَافَ عَلَى نَفْسِهِ التَّلَفَ أَوْ ذَهَابَ عُضْوٍ يُفْطِرُ بِالْإِجْمَاعِ، وَإِنْ خَافَ زِيَادَةَ الْعِلَّةِ وَامْتِدَادَهَا فَكَذَلِكَ عِنْدَنَا، وَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ إِذَا أَفْطَرَ كَذَا فِي الْمُحِيطِ.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۰۷ كتاب الصوم الباب الخامس في الاعذار / ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۶ ص ۴۲۲ كتاب الصوم فصل في العوارض / البحرالرائق ج ۲ ص ۲۸۲ فصل في العوارض / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۲۰ كتاب الصوم باب اعذار المبيحة للافطار)

بېله ضرورته په روژه کښې سفر کول او روژه خوړل .

سوال ۳ : که چيري يو کس داسي وکړي چي روژه راغله نو دی بېله ضرورته سفرونه شروع کړي ددې دپاره چي ځان قصداً مسافر جوړ کړي او بيا روژې په دغه سفر کښې وخوري ايا داسي کول شرعا څه حکم لري ؟

جواب : په قرآن کريم کښې الله جل جلاله دروژې دنيولو يو حکمت دا بيان کړی دی چي دا روژه موځکه پر تاسي باندي فرض کړې ده چي په تاسي کښې تقوی پر هيزګاري راپيدا سي او دنفس دمقابلې او مجادلې سره اشنا سی . نو اوس خامخا دتقوی او پرهيزګارۍ څخه تيښته کول او د نفس او شيطان خبره منل دا شرعاً او طبعاً يو قسم بې همتي او بې غيرتي بلل کيږي دمسلمان شان دا دی چي دنيکيو موقع او ځايونه تلاش کړي او ځان ورپسې ستړی کړي . او دشيطان طبيعت دا دی چي دنيکيو دموقع او ځايونو څخه تېښته کوي .

په حديث شريف کښې راغلي دي چي کله اذان کوونکی شخص آذان شروع کړي نو شيطان تر هغه ځايه پوري ځغلي بادونه يې هم پرې کيږي تر کوم ځايه پوري چي داذان اواز ختميږي . نو پر لحاظ دخدای دشيطان دمشابهته څخه ځان ساتل پکار

دي او د رحمان د مخلصو بندګانو رنګ اخيستل پکار دي نو به يې بس کړم خبري تر دې لا هم ډيريږي . خو بيا د فقهي د نظره څخه که يو څوک په سفر ولاړ سي د روژې د خوړلو اجازه ورته سته البته وروسته به يې قضا راوړي .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (١٨٣) البقرة ...... يَقُولُ تَعَالَى مُخَاطِبًا لِلْمُؤْمِنِينَ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَآمِرًا لَهُمْ بِالصِّيَامِ، وَهُوَ: الْإِمْسَاكُ عَنِ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ وَالْوِقَاعِ بِنِيَّةٍ خَالِصَةٍ لِلَّهِ (١) عَزَّ وَجَلَّ، لِمَا فِيهِ مِنْ زَكَاةِ النَّفْسِ وَطَهَارَتِهَا وَتَنْقِيَتِهَا مِنَ الْأَخْلَاطِ الرَّدِيئَةِ وَالْأَخْلَاقِ الرَّذِيلَةِ. وَذَكَرَ أَنَّهُ كَمَا أَوْجَبَهُ عَلَيْهِمْ فَقَدْ أَوْجَبَهُ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَهُمْ، فَلَهُمْ فِيهِ أُسْوَةٌ، وَلِيَجتهد هَؤُلَاءِ فِي أَدَاءِ هَذَا الْفَرْضِ أَكْمَلَ مِمَّا فَعَلَهُ أُولَئِكَ، كَمَا قَالَ تَعَالَى: {لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَكِنْ لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ} [الْمَائِدَةِ: ٤٨] ؛ وَلِهَذَا قَالَ هَاهُنَا: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} لِأَنَّ الصَّوْمَ فِيهِ تَزْكِيَةٌ لِلْبَدَنِ وَتَضْيِيقٌ لِمَسَالِكِ الشَّيْطَانِ؛ وَلِهَذَا ثَبَتَ فِي الصَّحِيحَيْنِ: "يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ" (٢) ثُمَّ بَيَّنَ مِقْدَارَ الصَّوْمِ، وَأَنَّهُ لَيْسَ فِي كُلِّ يَوْمٍ، لِئَلَّا يَشُقَّ عَلَى النُّفُوسِ فَتَضْعُفَ عَنْ حَمْلِهِ (٣) وَأَدَائِهِ، بَلْ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ. وَقَدْ كَانَ هَذَا فِي ابْتِدَاءِ الْإِسْلَامِ يَصُومُونَ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، ثُمَّ نُسِخَ ذَلِكَ بِصَوْمِ شَهْرِ رَمَضَانَ، كَمَا سَيَأْتِي بَيَانُهُ. وَقَدْ رُوِيَ أَنَّ الصِّيَامَ كَانَ أَوَّلًا كَمَا كَانَ عَلَيْهِ الْأُمَمُ قَبْلَنَا، مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ -عَنْ مُعَاذٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَطَاءٍ، وَقَتَادَةَ، وَالضَّحَّاكِ بْنِ مُزَاحِمٍ. وَزَادَ: لَمْ يَزَلْ هَذَا مَشْرُوعًا مِنْ زَمَانِ نُوحٍ إِلَى أَنْ نَسخ اللَّهُ ذَلِكَ بِصِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ.وَقَالَ عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ * أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ} فَقَالَ: نَعَمْ، وَاللَّهِ لَقَدْ كُتب الصِّيَامُ عَلَى كُلِّ أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ كَمَا كُتِبَ (٤) عَلَيْنَا شَهْرًا كَامِلًا وَأَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ: عَدَدًا مَعْلُومًا. وَرُوِيَ عَنِ السُّدِّيِّ، نَحْوَهُ.

(تفسیر ابن کثیر ج ۱ ص ۴۹۷ بیروت چاپ / تفسیر المظهري ج ۱ ص ۱۸۸ بیروت چاپ / التفسیر المنیر ج ۲ ص ۱۲۷ بیروت چاپ)

دمریضې دوجي څخه قضايي روژې نه سي نیولای .

سوال ۴ : پر یوې ښځې باندي د زنانه مریضې دوجي څخه روژې باندي دي اوس که چیري دغه ښځه د دغه قضا سوو روژو قضا راوګرځوي نو دمړګي مرض یې نیسي . پوښتنه داده که چیري دغه ښځه د دغه روژو فدیه په غنمو سره ورکړي نو غاړې یې خلاصیږي که یا ؟

جواب : که چیري د دغه ښځې غالبه ګمان داوي چي که زه دغه روژې ونیسم نو دمړګي مرض مي خامخا نیسي او د جوړېدو علاج یې هم نه وي نو دا ښځه کولای سي چي د دغه روژو فدیه ورکړي البته که وروسته تر فدیې بیا دا جوړه سوه نو بیا به د دغه روژو قضا بیرته راوړي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله تعالى في البحر : وَالصَّحِيحُ الَّذِي يَخْشَى أَنْ يَمْرَضَ بِالصَّوْمِ فَهُوَ كَالْمَرِيضِ وَمُرَادُهُ بِالْخَشْيَةِ غَلَبَةُ الظَّنِّ ..... وفى الجوهرة النيرة : (قَوْلُهُ وَالشَّيْخُ الْفَانِي الَّذِي لَا يَقْدِرُ عَلَى الصَّوْمِ يُفْطِرُ وَيُطْعِمُ لِكُلِّ يَوْمٍ مِسْكِينًا نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ كَمَا يُطْعِمُ فِي الْكَفَّارَاتِ) الْفَانِي الَّذِي قَرُبَ إلَى الْفِنَاءِ أَوْ فَنِيَتْ قُوَّتُهُ وَكَذَا الْعَجُوزُ مِثْلُهُ.

(البحرالرائق ج ۲ ص ۲۸۱ / الجوهرة النيرة ج ۱ ص ۱۴۳ کتاب الصوم مکتبه شامله / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۰۷ / دروژې مسائل اردو ص ۱۴۵ / ۱۳۲)

دشیخ فاني دعمر اندازه څو کاله ده ؟

سوال۵ : د شیخ فاني شخص د عمر اندازه په شریعت کي مقرره ده که یا که نه ده مقرره شیخ فاني څه ته ویل کیږي؟

جواب : دومره ضعیفه او کمزوری سپین ږیری چي د روژې د نیولو څخه مستقل معذوره او عاجزه وي سرو کال په یوه موسم کي هم د روژې د نیولو قدرت نه لري ده ته د روژې د خوړلو اجازه ده د هري روژې په بدل کي به د صدقة الفطر په اندازه یعني تقریبا نیم من غنم به مسکینانو ته ورکوي، او دا فدیه که د روژې د میاشتي په اوله

کي اداء کړي يا په اخره کي دواړي طريقې يې صحيح دي .
او که چيري دغه کس د فديې تر اداء کولو وروسته د روژې د نيولو قدرت پيدا کړي، نو هغه اداء کړې فديه يې نفلي خيرات سوه د خوړلو روژو قضاء به راوړي، نو ټوله فديه پر يوه مسکين او يوه فديه پر ډېرو مسکينانو هم تقسيمولای سي .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي) أَيْ الَّذِي فَنِيَتْ قُوَّتُهُ أَوْ أَشْرَفَ عَلَى الْفِنَاءِ، وَلِذَا عَرَّفُوهُ بِأَنَّهُ الَّذِي كُلَّ يَوْمٍ فِي نَقْصٍ إلَى أَنْ يَمُوتَ نَهْرٌ، وَمِثْلُهُ مَا فِي الْقُهُسْتَانِيِّ عَنْ الْكَرْمَانِيِّ: الْمَرِيضُ إذَا تَحَقَّقَ الْيَأْسُ مِنْ الصِّحَّةِ فَعَلَيْهِ الْفِدْيَةُ لِكُلِّ يَوْمٍ مِنْ الْمَرَضِ اه وَكَذَا مَا فِي الْبَحْرِ لَوْ نَذَرَ صَوْمَ الْأَبَدِ فَضَعُفَ عَنْ الصَّوْمِ لِاشْتِغَالِهِ بِالْمَعِيشَةِ لَهُ أَنْ يُطْعِمَ وَيُفْطِرَ لِأَنَّهُ اسْتَيْقَنَ أَنَّهُ لَا يَقْدِرُ عَلَى الْقَضَاءِ (قَوْلُهُ الْعَاجِزُ عَنْ الصَّوْمِ) أَيْ عَجْزًا مُسْتَمِرًّا كَمَا يَأْتِي، أَمَّا لَوْ لَمْ يَقْدِرْ عَلَيْهِ لِشِدَّةِ الْحَرِّ كَانَ لَهُ أَنْ يُفْطِرَ وَيَقْضِيَهُ فِي الشِّتَاءِ فَتْحٌ (قَوْلُهُ وَيَفْدِي وُجُوبًا) لِأَنَّ عُذْرَهُ لَيْسَ بِعَرَضِيٍّ لِلزَّوَالِ حَتَّى يَصِيرَ إلَى الْقَضَاءِ فَوَجَبَتْ الْفِدْيَةُ نَهْرٌ، ثُمَّ عِبَارَةُ الْكَنْزِ وَهُوَ يَفْدِي إشَارَةٌ إلَى أَنَّهُ لَيْسَ عَلَى غَيْرِهِ الْفِدَاءُ لِأَنَّ نَحْوَ الْمَرَضِ وَالسَّفَرِ فِي عُرْضَةِ الزَّوَالِ فَيَجِبُ الْقَضَاءُ وَعِنْدَ الْعَجْزِ بِالْمَوْتِ تَجِبُ الْوَصِيَّةُ بِالْفِدْيَةِ.

(ردالمحتارج ۲ ص ۱۳۰ مکتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۲ ص ۵۰۱ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۲۰۷ مکتبه رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۴۰۱ پښتو)

مقيم سړي دروژې نيت وکړی بيا مسافر سو څه به کوي ؟

سوال۶: يو کس د پيشلمي څخه د روژې نيت وکړی او په دا سهاريه روژه کړه تر غرمي پوري او غرمه په سفر روان سو روژه يه ماته کړه په سفر کښې ايا دغه کار د ته شرعًا رواه دی که يا ؟

جواب: که چيري يو مقيم کس دروژې د نيولو نيت وکړی او دهغه څخه وروسته دی په سفر روان سو نودد پر ذمه ددغه ورځي روژه نيول لازمه وه ماتول يې نه وه رواه خو بيا هم که يې چيري دغه روژه ماته کړه قضاء يې سته کفاره نه غواړي .
وفی الفتاوی الهندية : و(منها السفر) الذي يبيح الفطر وهو ليس بعذر في اليوم الذي أنشأ

السفر فيه كذا في الغياثية. فلو سافر نهارا لا يباح له الفطر في ذلك اليوم، وإن أفطر لا كفارة عليه

الفتاوي الهندية ج ١ ص ٢٠٦ الباب الخامس في الأعذار التي تبيح الإفطار / مسايل الصّوم ص١٨٥ اردو)

باب في الفدية

دمړي پر ذمه باندي چي روژې پاته وي دهغوی کوم بدل سته که یا ؟

سوال ۱ : یو کس مریض سو روژې ځیني وخوړل سوې پسله جوړوالي یې بیا و نه نېولې چي مړ سو په داسي صورت کښې وارثانو ته څه کول پکار دي ؟

جواب : که چیري یو کس دمریضی دوجي څخه روژې وخوري او بیا یې دنیولو وخت نه کړي پیدا نو پر داسي سړي باندي نه څه ګناه سته او نه هم ورباندي قضا سته .البته دجوړوالي څخه وروسته که وخت ورته پیدا سو او دقدرت ددرلولو سره سره یې بیاه هم روژې ونه نیولې نو پر ده لازمه ده کله چي یې وخت پیدا کړی قضا دې رواړي . او که چیري دغه کس دمرګ په وخت کښې وصیت وکړی نو وارثان به یې دده دترکې (یعني پرې ایښې مال) ددریمي څخه ددد دوصیت مطابق فدیه اداء کوي . او دوصیت نه کولو په صورت کښې مړی ګناهکاره دی . خو بیا هم وارثان کولای سي چي داحسان او تبرع دنګاه څخه بې له وصیته ددغه مړي دروژو فدیه ورکړي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى في البحر الرائق شرح كنز الدقائق : (قَوْلُهُ: وَلَا قَضَاءَ إنْ مَاتَا عَلَيْهِمَا) أَيْ وَلَا قَضَاءَ عَلَى الْمَرِيضِ وَالْمُسَافِرِ إذَا مَاتَا قَبْلَ الصِّحَّةِ وَالْإِقَامَةِ؛ لِأَنَّهُمَا لَمْ يُدْرِكَا عِدَّةً مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ فَلَمْ يُوجَدْ شَرْطُ وُجُوبِ الْأَدَاءِ فَلَمْ يَلْزَمْ الْقَضَاءُ قَيَّدَ بِهِ؛ لِأَنَّهُ لَوْ صَحَّ الْمَرِيضُ أَوْ أَقَامَ الْمُسَافِرُ وَلَمْ يَقْضِ حَتَّى مَاتَ لَزِمَهُ الْإِيصَاءُ بِقَدْرِهِ وَهُوَ مُصَرَّحٌ بِهِ فِي بَعْضِ نُسَخِ الْمَتْنِ لِوُجُودِ الْإِدْرَاكِ بِهَذَا الْمِقْدَارِ

(جامع الفصولین ج ۲ ص ۱۶۸ کتاب الصوم / البحر الرائق ج ۲ ص ۲۸۳ فصل في العوارض / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۶۲ کتاب الصوم / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۱۰ کتاب الصوم)

دډیرو نامعلومو قضا سوو خوړلو روژو فدیه ورکړي او که یې قضا راوړي ؟

سوال ۲ : یو کس دی ډیري روژې پر باندي دي خو ورته معلومي نه دي چي څو داني دي پوښتنه داده چي اوس دغه کس دا ټولي روژې را وګرځوي او که یې فدیه ورکړي ؟

جواب : شریعت مقدسه او د فقهي شریفي کتابونو دومره خبره را اخیستې ده چي د هري قضاء سوي روژې قضا راوړل ضروري ده . فدیه هغه وخت ورکول کیږي چي دغه روژه نیوونکی یا شیخ فاني وي یا داسي مریض وي چي نور د خپل صحت او جوړوالي څخه مایوسه او ناامیده سوی وي نو ستاسي دپاره قانون شرعي دا دی چي فی الحال د دغه قضا سوو روژو قضا یې راوړئ او څومره چي پاته سوې د هغوی په باره کي احتیاط هم دا دی چي په خپل وصیت نامه کښې ولیکئ چي پر ما دومره روژې باندي دي .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (وَلِلشَّيْخِ الْفَانِي الْعَاجِزِ عَنْ الصَّوْمِ الْفِطْرُ وَيَفْدِي) وُجُوبًا .

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في رد المحتارتحت هذا القول :لِأَنَّ عُذْرَهُ لَيْسَ بِعَرَضِيٍّ لِلزَّوَالِ حَتَّى يَصِيرَ إلَى الْقَضَاءِ فَوَجَبَتْ الْفِدْيَةُ نَهْرٌ، ثُمَّ عِبَارَةُ الْكَنْزِ وَهُوَ يَفْدِي إشَارَةٌ إلَى أَنَّهُ لَيْسَ عَلَى غَيْرِهِ الْفِدَاءُ لِأَنَّ نَحْوَ الْمَرَضِ وَالسَّفَرِ فِي عُرْضَةِ الزَّوَالِ فَيَجِبُ الْقَضَاءُ وَعِنْدَ الْعَجْزِ بِالْمَوْتِ تَجِبُ الْوَصِيَّةُ بِالْفِدْيَةِ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۴۲۷ فصل في العوارض المبيحة لعدم الصوم / فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۱۷۹ باب الفدية)

باب الاعتكاف

معتكف كه په دوبي كي دبدن ديخوالي دپاره غسل ته راووزي اعتكاف يې فاسد دى

سوال ۱ : كه چيري يو معتكف دروژې په مباشت كي په ګرمۍ كښې په مسجد كي په تنګ سي او بيا دبدن ديخوالي او برودت دپاره دمسجد غسل خانې ته راووزي غسل وكړي اعتكاف يې فاسد دى كه يا ؟

جواب : مفتي اعظم هندوستان حضرت مولانا مفتي كفايت الله صاحب رحمه الله تعالى په فتاوى كفايت المفتي كښې ليكلي دي : معتكف نه سي كولاى چي محض او فقط دتبريد (دبدن ديخوالي) او دګرمۍ ددفع كولو دپاره هغه غسل خانې ته راووزي چي دمسجد داحاطې څخه خارجه او دباندي وي ، كه چيري ورته راووتى نو يې اعتكاف دمېنځه څخه ځي . دا ځكه چي فقهاء كرامو ليكلي دي چي فرض او واجب غسل ته به لا معتكف دمسجد څخه نه راوزي بلكي دننه په مسجد كي به يې كوي په دې شرط چي دننه په مسجد كي په يو تاش او پياله او ټپ كي غسل كول ميسر او آسانه وي بغير ددې څخه چي مسجد ته تلويث او چټل تيا راسي . او واجب غسل ته هغه وخت راوتل درست دي چي په مسجد كي دننه په يو تاش او ټپ كي غسل كول ميسر نه وي .

او په خير الفتاوى كي ليكلي دي چي دمسجد داحاطې څخه مراد د مسجد چت او دهغه مخكنۍ حصې صحن دى په كوم كي چي لمونځ اداء كيږي . او كومو فتاوا او چي دا ليكلي دي چي اعتكاف نه فاسديږي هغوى دا هم ليكلي دي چي بهتره او او احوط و احتياطي سورت دادى چي مستقل ورته راونه وزي بلكي دقضايي حاجت دپاره چي كله راووتى دهغه په ضمن كي دي غسل هم وكړي او هر كله چي اعتكاف دعباداتو دقبيله څخه دى او داد فقهاوو مسلمه قاعده ده چي احتياط په عباداتو كي لازم دى نو په دې سورت كي هم احتياط لازمي دى .

وفى الفتاوى الهندية : ثُمَّ إنْ أَمْكَنَهُ الِاغْتِسَالُ فِي الْمَسْجِدِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَتَلَوَّثَ الْمَسْجِدُ فَلَا بَأْسَ بِهِ، وَإِلَّا فَيَخْرُجُ وَيَغْتَسِلُ وَيَعُودُ إلَى الْمَسْجِدِ،

(الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۲۱۳ کتاب الصوم الباب السابع في الاعتکاف مکتبه رشيديه /بدائع الصنائع کتاب الصوم فصل في رکن الاعتکاف ج ۳ ص ۳۲ دارالکتب العلمية / ردالمحتار کتاب الصوم باب الاعتکاف ج ۲ ص ۴۴۵ سعيد چاپ / کفايت المفتي ج ۶ ص ۴۰۱ باب الاعتکاف / خير الفتاوی ج ۴ ص ۱۳۲ باب الاعتکاف / فتاوی محموديه ج۰ ۱ ص ۲۴۳ باب الاعتکاف)

په اعتکاف کښي وښځي ته دحيض راتللو حکم.

سوال ۲ : کله چي يوه ښځه په اعتکاف کښي وي او ودې ته حيض يا مياشتنۍ مريضي راسي نو اوس پوښتنه داده چي اعتکاف پوره کړي که يا او که يې اعتکاف پرېښو وی، نو دمريضۍ څخه دخلاصېدو وروسته به دکومو ورځو قضاء راوړي؟

جواب : کله چي ښځه په اعتکاف کښي وي او ودې ته مياشتنۍ مريضي راغله نو اعتکاف دي پرېږدي اعتکاف يې درست نه دی کله چي دمريضۍ څخه پاکه سوه نو صرف ددغي يوې ورځي داعتکاف قضاء به راوړي که چيري يې قضاء ددغه يوې ورځي داعتکاف په هم داغه روژه کښې سوه نو هم صحيح ده او دغه فرضي روژه ورته کافي ده ، او که يې قضاء په بله مياشت کښي راوړل نو دهغې ورځي روژه نيول هم ضروري ده

لماقال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى في بدائع الصنائع :وَلَوْ حَاضَتْ الْمَرْأَةُ فِي حَالِ الِاعْتِكَافِ فَسَدَ اعْتِكَافِهَا؛ لِأَنَّ الْحَيْضَ يُنَافِي أَهْلِيَّةَ الِاعْتِكَافِ لِمُنَافَاتِهَا الصَّوْمَ وَلِهَذَا مُنِعَتْ مِنْ انْعِقَادِ الِاعْتِكَافِ فَتُمْنَعُ مِنْ الْبَقَاءِ

(بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۱۶ کتاب الاعتکاف سعيدچاپ/ جامع الفتاوی ج ۵ ص ۳۳۳ کتاب الاعتکاف/ فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۲۸۰ باب الاعتکاف/ ستاسو مسائل اودهغوی حل ج ۴ ص ۶۲۹ باب الاعتکاف/ کتاب الفتاوی ج ۳ ص ۴۵۹ / احسن الفتاوی ج ۴ ص ۵۱۲ باب الاعتکاف/ مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۲۶ مسائل اعتکاف)

معتکف دمسجد څخه دباندي بيدېدلای سي که يا ؟

سوال ۳ : ايامعتکف يعني (اعتکاف کوونکي) ته ددې اجازه سته چي دمسجد څخه دباندي بيده سي ؟

جواب : معتکف ته شرعا دا اجازه سته چي په مسجد کښې دننه هر ځای چي وي بيده سي خو دمسجد څخه دباندي دوتلو اجازه نسته هغه که دخوب دپاره وي ،يا

دطبیعت دراسته کېدو دپاره وي ، یاد ګرمی دوجي غسل کول او لمبیدل وي داهغه شیان دي چي دامام صاحب رحمة الله علیه په نزد که څوک ددغه شیانو دپاره یو ګړی یاساعت ووزي دمسجد څخه نو بیې اعتکاف فاسد دی البته دصاحبینو (یعني یارانو) په نزد بیا نه فاسدیږي دامام صاحب پر قول باندي په عمل کولو کښې احتیاط دی او دیارانو پر قول باندي په عمل کولو کښې توسع او پراخي ده .

لما قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : وَحَرُمَ عَلَيْهِ) أَيْ عَلَى الْمُعْتَكِفِ اعْتِكَافًا وَاجِبًاالْخُرُوجُ إلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ) طَبِيعِيَّةٍ كَبَوْلٍ وَغَائِطٍ وَغُسْلٍ لَوْ احْتَلَمَ وَلَا يُمْكِنُهُ الِاغْتِسَالُ فِي الْمَسْجِدِ كَذَا فِي النَّهْرِ.... وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : (قَوْلُهُ الْخُرُوجُ) أَيْ مِنْ مُعْتَكَفِهِ وَلَوْ مَسْجِدَ الْبَيْتِ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ ط فَلَوْ خَرَجَتْ مِنْهُ وَلَوْ إلَى بَيْتِهَا بَطَلَ اعْتِكَافُهَا لَوْ وَاجِبًا وَانْتَهَى لَوْ نَفْلًا بَحْرٌ (قَوْلُهُ إلَّا لِحَاجَةِ الْإِنْسَانِ إلَخْ) وَلَا يَمْكُثُ بَعْدَ فَرَاغِهِ مِنْ الطُّهُورِ وَلَا يَلْزَمُهُ أَنْ يَأْتِيَ بَيْتَ صَدِيقِهِ الْقَرِيبِ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۴۴۵ باب الاعتكاف / حاشية الطحطاوى علي الدرالمختار باب الاعتكاف ج ۱ ص ۴۷۴ / ۴۷۵ طبع رشيديه كويټه / اللباب في شرح الكتاب باب الاعتكاف ج ۱ ص ۱۶۲ قديمي كتب خانه / ستاسي مسائل او دهغوى حل ج ۴ ص ۶۳۰ باب الاعتكاف تخريج شده)

داعتکاف په دوران کښې پر ټلیفون باندي خبري کول .

سوال ۴ : ایا اعتکاف کوونکي ته داروا ده چي داعتکاف په حالت کښې پر ټلیفون باندي خبري وکړي که یا ؟

جواب : داعتکاف په حالت کښې ددیني خبرو اجازه شرعا سته او په قدر دضرورت دنیوي (یعني ددنیا خبري) کول هم رواه دي . هغه نو بیا عامي دي که پر ټلیفون باندي وي که غیر دټلیفون څه وي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله تعالى فى البحر الرائق :وَأَمَّا الثَّالِثُ وَهُوَ أَنَّهُ لَا يَتَكَلَّمُ إلَّا بِخَيْرٍ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَقُلْ لِعِبَادِي يَقُولُوا الَّتِي هِيَ أَحْسَنُ} (سورة

الإسراء ٥٣) وَأَمَّا التَّكَلُّمُ بِغَيْرِ خَيْرٍ فَإِنَّهُ يُكْرَهُ لِغَيْرِ الْمُعْتَكِفِ فَمَا ظَنُّك لِلْمُعْتَكِفِ .....
وظَاهِرُهُ أَنَّ الْمُرَادَ بِالْخَيْرِ هُنَا مَا لَا إثْمَ فِيهِ فَيَشْمَلُ الْمُبَاحَ

(البحر الرائق ج ٢ ص ٣٢٧ باب الاعتكاف / الفتاوی الهندية ج ١ ص ٢١٢ الباب السابع في الاعتکاف / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۴ ص ۶۳۲ باب الاعتکاف)

دګرمۍ په خاطر دمسجد برنډې یا غولي ته راوتل .

سوال ۵ : که چیرې یو معتکف دګرمۍ په خاطر مسجد پرېږدي دمسجد وبرنډې ته راووزي یا دمسجد هغه غولي ته راووزي کوم غولی چې خلک دمسجد دحصې په حیث استعمالوي او لمونځ پر کوي ایا ودغه فصیل یا برنډې ته په راوتلو سره دمعتکف اعتکاف فاسدیږي که یا ؟

جواب : په دې کښې دمسجد دجوړوونکي او باني دنیت اعتبار دی، که چیرې دمسجد باني او جوړوونکي دغه دباندې غولی، او فصیل په مسجد کښې داخل ګڼلی، وو نو داخل دی، که نه وي نو خارج دی، او اکثره داسې وي چې کوم فصیل یا دوکانچه دمسجد دفرش سره متصل لګېدلی، وي هغه په مسجد کښې داخل وي نو بیا معتکف کولای سي چې ودغه فصیل او برنډې یا غولي ته دخوب یا خوراک او چیښباک دپاره راووزي .

(فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۴۳۱ باب الاعتکاف / مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۳۴ مسائل اعتکاف اردو)

معتکف داعتکاف څخه کله وتلای سي ؟

سوال ۶ : معتکف دخپل اعتکاف څخه کله وتلای سي ځیني کسان وایي چې داختر تر سهاره پورې ددوی، ناسته ضروري ده ایا داخبره حقیقت لري که یا ؟

جواب : دروژې مبارکي دشلمي ورځي دلمر لوېدو څخه یو څه مخکښې سنت اعتکاف شروع کیږي .بیا دروژې ترنهه ویشتمي یا دېرشمي ورځي پورې چې کله داختر میاشت ولیدل سي تر هغه وخته پورې دغه سنت اعتکاف وي چې میاشت ولیدل سوه نو اعتکاف ختم دی، نو معتکف کولای سي چې داختر دشپې دلمر لوېدو څخه وروسته راووزي همدغه طریقه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم وه چې

کله به لمر ولویدی نو داعتکاف ځخه راوتی

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (قَوْلُهُ وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّيَالِيَ تَابِعَةٌ لِلْأَيَّامِ) وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : أَيْ كُلُّ لَيْلَةٍ تَتْبَعُ الْيَوْمَ الَّذِي بَعْدَهَا، أَلَا تَرَى أَنَّهُ يُصَلِّي التَّرَاوِيحَ فِي أَوَّلِ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ دُونَ أَوَّلِ لَيْلَةٍ مِنْ شَوَّالٍ، فَعَلَى هَذَا إذَا ذَكَرَ الْمُثَنَّى أَوْ الْمَجْمُوعَ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ قَبْلَ الْغُرُوبِ، وَيَخْرُجُ بَعْدَ الْغُرُوبِ مِنْ آخِرِ يَوْمٍ

(ردالمحتار ج ۱ ص ۱۴۸ باب الاعتکاف مکتبه جبيبيه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص باب الاعتکاف ۲۱۴ مکتبه رشيديه / فتاوی قاضيخان ج ۱ ص ۱۰۸ فصل في الاعتکاف مکتبه عمريه / خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۷۰ کتاب الصوم باب الاعتکاف / مسائل رفعت قاسمي ج ۴ ص ۲۲/ ۲۰ اردو / صحيح البخاري / بهشتي زيور حصه سوم ص ۲۲ / ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۴ ص ۶۲۵ باب الاعتکاف)

دروژې په آخره کې اعتکاف فاسد سي ؟

سوال ۷: يو چا د روژې د مياشتې په اخيري لسو شپو کې اعتکاف شروع کړی په مينځ کې يې پرېښودی بېله عذره يا د عذر پر بنا نو قضاء يې سته که يا؟

جواب: په دې باره کې د علماؤ او فقهاؤ درې قوله دي (۱) چونکه دا اعتکاف کول سنت عمل دی که چا پرېښودی قضاء يې نسته ځکه چې قضاء د واجب يا د فرضو سته ليکن د داسې کس د بد نصيبۍ لپاره دا کافي ده چې د داسې لوی دولت او ثوابه ځخه محرومه سو (۲) نفل هم په شروع کولو سره لازمېږي او چونکه د هرې ورځې اعتکاف مستقل عبادت دی په کومه ورځ چې يې اعتکاف فاسد کړی فقط د هغې ورځې قضاء سره د روژې نيولو سته، اکثرو علماؤ دا مذهب اختيار کړی دی (۳) دغه کس د لسو ورځو د اعتکاف کولو عزم او التزام پر ځان کړی ؤ او پوره يې نه کړی، نو د ټولو لسو سره ورځو اعتکاف به کوي دا د ابن همام رحمه الله تعالى رايه ده.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ أَمَّا النَّفَلُ) أَيْ الشَّامِلُ لِلسُّنَّةِ الْمُؤَكَّدَةِ ح.

قُلْت: قَدَّمْنَا مَا يُفِيدُ اشْتِرَاطَ الصَّوْمِ فِيهَا بِنَاءً عَلَى أَنَّهَا مُقَدَّرَةٌ بِالْعَشْرِ الْأَخِيرِ وَمُفَادُ التَّقْدِيرِ أَيْضًا اللُّزُومُ بِالشُّرُوعِ تَأَمَّلْ ثُمَّ رَأَيْت الْمُحَقِّقَ ابْنَ الْهُمَامِ قَالَ: وَمُقْتَضَى النَّظَرِ لَوْ شَرَعَ فِي الْمَسْنُونِ أَعْنِي الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ بِنِيَّتِهِ ثُمَّ أَفْسَدَهُ أَنْ يَجِبَ قَضَاؤُهُ تَخْرِيجًا عَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ فِي الشُّرُوعِ فِي نَفْلِ الصَّلَاةِ تَنَاوُبًا أَرْبَعًا لَا عَلَى قَوْلِهِمَا اهـ أَيْ يَلْزَمُهُ قَضَاءُ الْعَشْرِ كُلِّهِ لَوْ أَفْسَدَ بَعْضَهُ كَمَا يَلْزَمُهُ قَضَاءُ أَرْبَعٍ لَوْ شَرَعَ فِي نَفْلٍ ثُمَّ أَفْسَدَ الشَّفْعَ الْأَوَّلَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ، لَكِنْ صَحَّحَ فِي الْخُلَاصَةِ أَنَّهُ لَا يَقْضِي لَا رَكْعَتَيْنِ كَقَوْلِهِمَا نَعَمْ اخْتَارَ فِي شَرْحِ الْمُنْيَةِ قَضَاءَ الْأَرْبَعِ اتِّفَاقًا فِي الرَّاتِبَةِ كَالْأَرْبَعِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَالْجُمُعَةِ وَهُوَ اخْتِيَارُ الْفَضْلِيِّ وَصَحَّحَهُ فِي النِّصَابِ وَتَقَدَّمَ تَمَامُهُ فِي النَّوَافِلِ وَظَاهِرُ الرِّوَايَةِ خِلَافُهُ وَعَلَى كُلٍّ فَيَظْهَرُ مِنْ بَحْثِ ابْنِ الْهُمَامِ لُزُومُ الِاعْتِكَافِ الْمَسْنُونِ بِالشُّرُوعِ وَإِنَّ لُزُومَ قَضَاءِ جَمِيعِهِ أَوْ بَاقِيهِ مُخَرَّجٌ عَلَى قَوْلِ أَبِي يُوسُفَ أَمَّا عَلَى قَوْلِ غَيْرِهِ فَيَقْضِي الْيَوْمَ الَّذِي أَفْسَدَهُ لِاسْتِقْلَالِ كُلِّ يَوْمٍ بِنَفْسِهِ وَإِنَّمَا قُلْنَا أَيْ بَاقِيهِ بِنَاءً عَلَى أَنَّ الشُّرُوعَ مُلْزِمٌ كَالنَّذْرِ وَهُوَ لَوْ نَذَرَ الْعَشْرَ يَلْزَمُهُ كُلُّهُ مُتَتَابِعًا، وَلَوْ أَفْسَدَ بَعْضَهُ قَضَى بَاقِيَهُ عَلَى مَا مَرَّ فِي نَذْرِ صَوْمِ شَهْرٍ مُعَيَّنٍ.

وَالْحَاصِلُ أَنَّ الْوَجْهَ يَقْتَضِي لُزُومَ كُلِّ يَوْمٍ شَرَعَ فِيهِ عِنْدَ هُمَا بِنَاءً عَلَى لُزُومِ صَوْمِهِ بِخِلَافِ الْبَاقِي لِأَنَّ كُلَّ يَوْمٍ بِمَنْزِلَةِ شَفْعٍ مِنْ النَّافِلَةِ الرُّبَاعِيَّةِ وَإِنْ كَانَ الْمَسْنُونُ هُوَ اعْتِكَافَ الْعَشْرِ بِتَمَامِهِ تَأَمَّلْ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۴۳ مکتبه رشیدیه / الهدایة ج ۱ ص ۲۱۱ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۲۵۵ اردو / فتاوی رحیمیه ج ۷ ص ۳۸۸ اردو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۲۵ پښتو)

د اعتکاف تعریف

اعتکاف د عربي ژبي لفظ دی معنی يې ده درنګ کول، ځان ساتل په مسجد کي او انتظار کول او شرعًا اعتکاف دې ته وايې چي انسان پاته سي په نيت د اعتکاف په داسي مسجد کي چي هلته پنځه وخته لمونځ په جماعت سره اداء کېږي.

د اعتکاف شرطونه

مسلمان به وي، عقلمند به وي، بالغ کېدل شرط نه دی، خلاص به وي د حیض او نفاسه او جنابته څخه، نیت به يې د اعتکاف وي، په داسي مسجد کي به وي چي هلته پنځه

وخته لمونځ سره د اذانه او اقامته په جماعت سره اداء کېږي، او د معتکف به روژه وي په واجب او سنت اعتکاف کي.

د اعتکاف قسمونه

د اعتکاف درې قسمونه دي، واجب، سنت، نفل

(۱) واجب اعتکاف هر هغه اعتکاف ته ویل کېږي چي یو کس په خپل قصد او اراده سره اعتکاف پر خپل ځان نذر او لازم کړي هغه نو که په یو شرط سره تړلی وي او که نه وي تړلی.

(۲) سنت اعتکاف: د روژې د میاشتي په اخري لسو شپو کي کول دغه اعتکاف سنت مؤکد علی الکفایه دی.

(۳) د دغه دوو قسمونو څخه ماسوا بل قسم ته اعتکاف مستحب وائي لکه یو ساعت یا یو ګړی په مسجد کي د اعتکاف په نیت یو څوک کښیني.

(۱) د واجب او سنت اعتکاف لپاره روژه شرط ده.

(۲) معتکف به سنت اعتکاف ته د روژې د میاشتي د شلمي ورځي د لمر لوېدلو مخکي مخکي داخلېږي.

(۳) همدا رنګه معتکف به د روژې د شلمي ورځي د لمر لوېدلو مخکي مخکي نیت کوي، که یو څوک تر غروب د لمر وروسته اعتکاف ته داخل سو یا یې نیت د لمر تر لوېدلو وروسته وکړی اعتکاف یې سنت نه دی بلکه مستحب دی.

(۴) معتکف ته روا دی چي د الله د رضا لپاره پر ما درې ورځي اعتکاف لازم دی لیکن که مریض پیدا سو یا جنازه پیدا سوه یا د یو عالم درس شروع سو، نو زه د مسجد څخه وځم لیکن دا حکم د واجب اعتکاف لپاره دی.

هغه شیان چي د اعتکاف کوونکي لپاره مستحب دي.

(۱) اعتکاف کوونکي ته مستحب دی چي د بې ځایه او بې هوده خبرو څخه پرهېز وکړي او خپل تر خولې فقط د خیر خبري وباسي.

(۲) همدا شان روژه نیوونکي لره مستحب دي چي اهتمام د اعتکاف د روژې د اخري لسو شپو وکړي او په داسي مسجد کي اعتکاف وکړي چي په هغه کي ثواب او اجر

زیات وي لکه مسجد حرام یا مسجد نبوي یا عام جامع مسجد.
(۳) همدا شان مستحب دي د ده لپاره چي تلاوت د قرآن کریم ډېر وکړي مطالعه د حدیثو د کتابونو وکړي او مذاکره د علم او درس او تدریس وکړي.
(۴) همدا رنګه مطالعه او کتنه د هغو کتابو او رسالو وکړي چي په هغو کي قصي او واقعاتي د انبیاؤ او صحابه کرامو او نیکانو خلګو وي.
(۵) همدا رنګه دیني مسائل د علماء کرامو یا د معتمدو کتابونو څخه زده کړي.
(۶) همدا رنګه اهتمام د نوافلو وکړي لکه تحیة المسجد، تحیة الوضوء، د اشراق لمونځ، د څاښت لمونځ، د اوابین لمونځ، د صلوة التسبیح اداء کول په ټوله ورځ کي د خپل قدرت په اندازه سره.
(۷) مستحب دی د اعتکاف کوونکي لپاره ډېر درود ویل پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندي.
(۸) او په وینبو تېرول پنځه طاق شپې د شب قدر د شپو څخه.
(۹) او ډېري دعاوي کول د ځان لپاره او د مور او پلار لپاره د قریبانو دوستانو لپاره د ټوله اهل اسلام لپاره.
که یې چیري شب قدر ولېدی نو دغه دعاء کول مستحب ده: (اللّٰهُمَّ إِنَّكَ عُفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي) (رواه الترمذي)

هغه کارونه چي معتکف ته یې کول روا دي.

(۱) خوراک، چیښاک، خوب کول (۲) ډوډی د خپله کوره څخه راوړل پسله غروبه د لمر په وخت کي د عذر (۳) رانیول او خرڅول د خپل اولاد د ضرورت لپاره بیله دې چي هغه سامان مسجد ته راوړه سي (۴) نکاح، طلاق، او رجوع کول په ژبه سره (۵) خبري کول په قدر د ضرورت په دې شرط چي د ده خبري سبب د تکلیف د بل معتکف و نه ګرځي (۶) د سر پرېولل په دې شرط چي سر به یې د مسجد څخه د باندي وي (۷) روا دي پرېولل د لاسو او د پښو او اودس په یو لوی لوښي کښي چي مسجد خراب او ککړ نه سي (۸) جامې بدلول، روغن استعمالول او خوشبوئي لګول (۹) ننوتل منارې او حجرې ته د اذان لپاره او بل کار لپاره هم په دې شرط چي د مسجد په حدودو کي به وي،

او که حجره د مسجد د حدودو څخه د باندي وه نو بيا فقط د اذان لپاره ورتلای سي (۱۰) وتل له مسجد څخه د طبعي ضرورت لپاره لکه بولي او قضاء حاجت او د جنابت د غسل لپاره (۱۱) او وتل د مسجد څخه د هوا د خارجولو لپاره (۱۲) سگريټ او نسوار په مسجد کي کول ناروا دي او د دغو شيانو د استعمال لپاره د مسجد څخه وتل هم نه دي روا بلکه پرېښودل يې ضروري دی، او که يې ضرورت ډېر زيات وُ د نسوارو نو چي کله بيت الخلاء ته انسان ځي په لاره کي بايد استعمال سي، يا په بيت الخلاء کي دننه استعمال سي، او بيا به بد بويې د خولې څخه پاکوي مسجد ته به راځي (۱۳) د حاجت شرعي لپاره وتل روا دي لکه د جمعې لمونځ او داسي وخت به ځي لمانځه ته د جمعې چي هلته ورسي تحية الوضوء نفل اداء کړي سنت به اداء کړي اذان او خطبه به واوري او بيا به وروسته تر اداء کولو د فرضو او سنتونو د جمعې روان سي په اطمينان سره، او که چيري پاته سو زيات درنګ يې وکړی يا بالکل اعتکاف هلته په هغه مسجد کښي پورا کړی دا کار روا دی سره د کراهيته (۱۴) که په ضرورت پسي را وتلی وُ پر مريض يې پوښتنه وکړه يا يې د جنازې لمونځ اداء کړی روا دی ليکن خاص د دغه کار لپاره وتل نه دي روا (۱۵) روا دی اعتکاف کوونکي لره ملاقات د خپلو محرماتو ښځو سره لکه مور خور خاله خوابنې په دې شرط چي هغوی په حجاب کي وي (۱۶) وښته کوچني کول په خپله يا په بل سره بېله مزدورۍ په مسجد کي روا دي او که حجام ، نايي مزدوري غوښته معتکف به دننه وي او حجام به د مسجد څخه وتلی وي، ځکه کار په مزدورۍ په مسجد کي نه دی روا (۱۷) د جامو پرېمينځل او ګنډل په مسجد کي روا دي په دې شرط چي مسجد ککړ نسي.

هغه شيان چي اعتکاف کوونکي لره مکروه دي .

(۱) د خپلي ښځي سره صحبت کول (۲) او لاس وروړل په خوند او شهوت سره (۳) او داسي خبري کول چي د هغو څخه خوند او شهوت را پيدا سي دغه کارونه حرام دي (۴) ديني يا دنيوي تعليم ورکول په پيسو سره (۵) همېش خاموشي اختيارول په دې نيت سره چي د غه خاموشي ثواب لري (۶) بد بويه اشياء خوړل او د هغو استعمال دغه

ټوله حرام دي.

هغه شيان چي اعتکاف فاسده وي .

(۱)وتل د مسجد څخه بېله ضرورته شرعية او طبعية که دلږ وخت لپاره وي او که د ډېر وخت لپاره که په هېره سره وي او که په قصد سره وي که د خوشحالۍ لپاره او که د غم لپاره وي ليکن که يې اعتکاف فاسد سو د عذر د وجي نو ګناه نسته پر معتکف باندي لکه د مريضۍ د وجي يا د مسجد د نړېدو خطره وه، يا يو چا په زور سره وايستی د مسجد څخه (۲) د مسجد څخه وتل د لاسو د پرېولو لپاره دا هم اعتکاف فاسده وي (۳) فقط د مسواک وهلو لپاره وتل دا هم اعتکاف فاسده وي مګر که او دس ورسره ؤ بيا نه فاسدېږي (۴) شرعي يا طبعي حاجت يې تر سره کړی بيا هم معتکف ځنډ وکړی فورًا مسجد ته را نه غلی هم يې اعتکاف فاسد دی (۵) د روژې د مياشتي اعتکاف که چا فاسد کړی فقط به د هغې ورځي قضاء را وړي کومه ورځ چي ده فاسده کړې ده د ټوله اعتکاف قضاء نه ده لازمه باندي، البته تر فساد وروسته يې اعتکاف نفلي و ګرځېدی سنت نه سو .

متفرقات الصوم

دلوی اختر دمياشتي نهه روژې نيول ډېر ثواب لري که يا ؟

سوال ۱ :دلوی اختر دمياشتي نهه روژې يعني د ذوالحجې دمياشتي اولي نهه ورځي روژې نيول ډېر ثواب لري او که يا ؟

جواب : دلوی اختر دمياشتي اولي نهه ورځي روژې نيول ډېر ثوابونه او اجرونه لري په حديث شريف کي راغلي دي چي په دغه ورځو کي روژه نيول ديوه کال دروژو سره برابره ده او د شپې عبادت يې دليلة القدر د شپې په اندازه دی .

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم (ما من أيام الدنيا أيام أحب إلى الله سبحانه أن يتعبد له فيها من أيام العشر . وإن صيام يوم فيها ليعدل صيام سنة وليلة فيها بليلة القدر) رواه ابن ماجه

(سنن ابن ماجه ص ۱۲۴ قديمي چاپ / جامع الترمذي ج ۱ ص ۱۵۸ سعيد چاپ / مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۱۲۸ قديمي چاپ / فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۱۹۲ اردو كتاب الفتاوی ج ۳ ص ۴۴۶ اردو)

دشوال (کوچني اختر) دمیاشتي دشپږو روژو نیول مستحب دي .

سوال ۲ : دشوال (کوچني اختر) دمیاشتي شپږ روژې نیول چي موږ تر اوسه دعلماوو څخه اوریدلي دي خو مستحب دي خو اوس مو دیوچا څخه واوریدل چي دا روژې نیول مکروه دي ایا دغه دکراهت خبره درسته ده که یا ؟

جواب : په احادیث مبارکه وو کي دشوال (کوچني اختر) دمیاشتي دشپږو روژو دنیولو ډیر زیات فضیلت راغلی دی . رسول الله صلی الله علیه وسلم داعمل دډیر اجر او ثواب باعث بللی دی نوځکه داحنافو فقهاوو تقریبا په هرکتاب کي دا روژې مستحب ګڼلي دي . ترکومه ځایه چي دکراهیت خبره ده نو په دې باره کي دامام صاحب رحمة الله علیه یو شاذ او نادر قول نقل دی چي هغه داحنافو مفتی به مذهب نه دی او که داسي وای نو بیا به ولي فقهاء کرامو داخبره په ډیر اهتمام سره ذکر کولای او ولي به یې مفتی به ګرځوله نو معلومه سوله چي دغه دکراهت خبره مفتی به نه ده .

لما قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى فى البحر الرائق شرح كنز الدقائق : وَمِنْهُ أَيْضًا صَوْمُ سِتَّةٍ مِنْ شَوَّالٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ مُتَفَرِّقًا كَانَ أَوْ مُتَتَابِعًا وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ كَرَاهَتُهُ مُتَتَابِعًا لَا مُتَفَرِّقًا لَكِنَّ عَامَّةَ الْمُتَأَخِّرِينَ لَمْ يَرَوْا بِهِ بَأْسًا .... وقال ابن عابدين رحمه الله تعالى (تحت قوله ولم يرواه به باسا) قدسرد عبارتهم العلامة فى فتاواه ورد قول من صحح الكراهة فراجعه .

(البحرالرائق ومنحة الخالق ج ۲ ص ۲۸۷ کتاب الصوم مکتبه شامله / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۳۹۱ کتاب الصوم)

دروژې اقسام.

سوال ۳ : روژه پر څو قسمه ده او هر قسم یې جلا جلا راته بیان کړئ ؟

جواب: په عمدة الفقه کتاب کښي ليکلي دي چي روژه پر اته (۸) قسمه ده (۱) فرض معين: فرض معين هغه روژوته وايي چي وخت يې معلوم او مخصوص وي لکه د رمضان المبارک روژې چي وخت او مياشت يې معلومه ده (۲) فرض غير معين: دا هغه روژې دي چي فرض خو وي لېکن وخت يې معلوم نه وي لکه د فرض روژې قضاء راوړل يعني کله چي د روژې په مياشت کښي يو کس روژه وخوري نو بيا د دې روژې قضاء راوړي نو دغي روژې ته فرض غير معين وايي ځکه چي وخت يې معلوم نه دی هر وخت يې قضاء راوړلای سي (۳) واجب معين: دا هغه روژې ته وايي چي يو کس د معلوم وخت روژې پر ځان نذر کړي يعني يو کس داسي ووايي چي که الله پاک زما دا فلانکی حاجت را پوره کړی نو زه به د دغي مياشتي روژې نيسم دې روژې ته واجب معين وايي: (۴) واجب غير معين: دا هغه روژې ته وايي چي يو کس داسي ووايي چي که الله پاک زما فلانی حاجت پوره کړی نو زه به لس روژې نيسم وخت يې معلوم کړی نه وي نو دې روژې ته واجب غير معين وايي: (۵) سنت روژې: دا هغه روژې ته وايي چي د نبي کريم ﷺ څخه قولي يا فعلي ثابتي وي يعني چي خپله نبي کريم ﷺ نيولي وي او يا يې د داسي روژو فضائل بيان کړي وي البته د سنت څخه مراد سنت مؤکد نه دي (۶) مستحب روژې: د فرض؛ واجب؛ او سنت روژو څخه بغير نوري ټولي روژې مستحب دي لکه په هره هفته کښي د دو شنبې او پنجشنبې روژې د غو روژو ته علماء کرام مستحب روژې وايي: (۷) مکروه تحريمي روژې: لکه د کوچني اختر د ورځي روژه يا د لوی اختر د ورځي روژه او داسي د لوی اختر د مياشتي د (۱۱) (۱۲) او (۱۳) د ورځو روژې نيول هم مکروه تحريمي دي چي و دغه ورځو ته ايام تشريق هم وايي (۸) مکروه تنزيهي روژې: دا هغه روژې دي چي د غير مسلم قوم په ټاکل سوو ورځو کښي يې يو کس نيسي لکه د نوروز او مهرجان په ورځو کښي روژه نيول البته که يې د دغه ورځو د تعظيم او احترام په خاطر نيسي نو بيا مکروه تحريمي دي.

وَهُوَ أَقْسَامٌ ثَمَانِيَةٌ: فَرْضٌ مُعَيَّنٌ كَصَوْمِ رَمَضَانَ أَدَاءً... وَ غَيْرُ مُعَيَّنٍ كَصَوْمِهِ قَضَاءً ... وَوَاجِبٌ مُعَيَّنٌ كَالنَّذْرِ الْمُعَيَّنِ، وَ غَيْرُ مُعَيَّنٍ كَالنَّذْرِ الْمُطْلَقِ.... وَنَفْلٌ كَغَيْرِهِمَا يَعُمُّ السُّنَّةَ كَصَوْمِ عَاشُورَاءَ مَعَ التَّاسِعِ.... وَالْمَنْدُوبَ كَأَيَّامِ الْبِيضِ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَيَوْمِ الْجُمُعَةِ وَلَوْ مُنْفَرِدًا وَعَرَفَةَ وَلَوْ لِحَاجٍّ لَمْ يُضْعِفْهُ.... وَالْمَكْرُوهُ تَحْرِيمًا كَالْعِيدَيْنِ. وَتَنْزِيهًا كَعَاشُورَاءَ وَحْدَهُ وَسَبْتٍ وَحْدَهُ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۳۸۸؛ ۳۸۹ کتاب الصوم بیروت چاپ مکتبه شامله/ بدائع الصنائع ج ۲ ص ۷۸ فصل شرائط انواع الصيام بيروت چاپ مکتبه شامله/الاختيار لتعليل المختار ج ۱ ص ۱۲۵ کتاب الصوم بيروت چاپ مکتبه شامله/ دررالحکام شرح غررالاحکام ج ۱ ص ۱۹۷ باب انواع الصيام بيروت چاپ مکتبه شامله/ حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح ص ۶۳۷؛ ۶۳۸ فصل في صفة الصوم وتقسيمه بيروت چاپ مکتبه شامله/ عمدة الفقه ج ۳ ص ۱۸۱ تر ۱۸۹ پوري کتاب الصوم)

هغه کوم عبادات دي چي په روژه کي ثواب لري

سوال۴: د روژې مبارکي د میاشتي په شپو او ورځو کي هغه کوم عبادتونه دي چي د نبي کريم صلی الله علیه وسلم له طرفه څخه و امت ته د هغه عبادت د کولو ډېر تاکید او زور راغلی وي چي د غه عبادت تاسي په دغه میاشت کي ډېر کوئ ځکه چي عبادات خو ډېر دي؟

جواب: زيات ترغيب په احاديثو کي د تراويح، تلاوت د قرآن کريم، د تهجد د لمانځه (۴) او د صدقې او د خيراتو راغلی دی دغه اعمال بايد ډېر په روژه کي وسي او علاوه د دغه څخه ذکر او استغفار هم بايد وسي.

(ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۴ ص ۵۱۱ کتاب الصوم للشيخ الشهيد محمد يوسف اللدهيانوي رحمه الله تعالي)

د شک په ورځ باندي روژه نيول روا ده که يا ؟

سوال۵: د شک په ورځ روژه نيول جواز لري که یا ؟

جواب: د برات د میاشتي د پرشم تاريخ ته د شک روژې ورځ وائې چي نه دا معلومه ده چي برات دی ځکه کېدلای سي چي د روژې میاشت نوېشت (۲۹) شپې وي او نه دا معلومه ده چي د روژې ورځ ده کېدای سي د برات میاشت دېرش شپې وي نو په

دغه ورځ باندې روژه نیول مکروه کار دی باید پرهېز ځني وسي .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ: وَلَا يُصَامُ يَوْمُ الشَّكِّ) هُوَ اسْتِوَاءُ طَرَفَيْ الْإِدْرَاكِ مِنْ النَّفْيِ وَالْإِثْبَاتِ بَحْرٌ (قَوْلُهُ: هُوَ يَوْمُ الثَّلَاثِينَ مِنْ شَعْبَانَ) الْأَوْلَى قَوْلُ نُورِ الْإِيضَاحِ هُوَ مَا يَلِي التَّاسِعَ وَالْعِشْرِينَ مِنْ شَعْبَانَ أَيْ؛ لِأَنَّهُ لَا يُعْلَمُ كَوْنُهُ يَوْمَ الثَّلَاثِينَ لِاحْتِمَالِ كَوْنِهِ أَوَّلَ شَهْرِ رَمَضَانَ وَيُمْكِنُ أَنْ يَكُونَ الْمُرَادُ أَنَّهُ يَوْمُ الثَّلَاثِينَ مِنْ ابْتِدَاءِ شَعْبَانَ فَمَنْ ابْتِدَائِيَّةٌ لَا تَبْعِيضِيَّةٌ تَأَمَّلْ.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۹۶ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۴۶۱ مکتبه رشیدیه / فتح القدیر ج ۲ ص ۲۴۷ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۳۴۹ پښتو / مسائل رفعت قاسمي ج ۳ حصه ۲ ص ۱۶۱اردو)

دروژې په آخره کې قضايي عمري لمونځ کول ثبوت لري که یا ؟

سوال۶: ځيني کسان د روژې مبارکې په اخري جمعه کښې قضائې عمري لمونځ کوي او هر لمونځ په اذان او اقامت سره کوي او دا عقيده لري چې په دغه يوه هفته لمونځو سره د ټوله عمر قضاء سوي لمونځو نه اداء کېږي، او څوک چې يې نه ورسره کوي هغه هم ملامت کوي دغه قضائي عمري لمونځ د شريعت د نګاه څخه څنګه عمل دی؟

جواب: د داسي عمل او عقيدې ثبوت قطعًا په شريعت کښي نسته شرعًا د هر قضاء سوي لمانځه قضاء مستقل لازمي عمل دی، دا د شرعي دلائلو خلاف عمل دی د داسي عمل نه کونکي تهديدول او هغو ته ګناهګاره ويل خپله سخته ګناه ده .

لماقال الامام ابوالحسنات محمد عبدالحی اللكهنوي رحمه الله في مجموعة الرسائل : اعلم انهم قداحدثوا فى اخر جمعة شهر رمضان امورا مما لااصل لها والتزموا امورا لااصل للزومها .... فمنها القضاء العمري حدث ذلک في بلاد خراسان واطرافها وبعض بلاد اليمن واكنافها ولهم في ذلک طرق مختلفة ومسالک متشتة . فمنهم من يصلي في اخر جمعة رمضان خمس صلوات قضاءا باذان واقامة مع الجماعة ويجهرون في الجهرية ويسرون في السرية وينوون لها بقولهم . نويت ان اصلي اربع ركعات مفروضة

قضاءا لمافات من الصلوات في تمام العمر مما مضى ويعتقدون انها كفارة لجميع الصلوات الفائتة فمامضى .

(صحيح البخاري ج ۱ ص ۸۴ قديمي / ردالمحتار ج ۱ ص ۵۱۶ مكتبه رشيديه / مجموعة الرسائل للكنهوي رسالة ردع الاخوان عن محدثات اخر جمعه رمضان ج ۲ ص ۴ / فتاوی محموديه ج ۷ ص ۳۸۳ اردو / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۴۸ پښتو / فتاوی عثماني ج ۱ ص ۵۰۷ پښتو)

د ډيرو نامعلومو روژو راګرځول پر څه طريقه کيږي ؟

سوال ۷ : يوه ښځه ده ډيري روژې د حيض او نفاس دوجي څخه ځيني خوړل سوي دي اوس يې هيڅ معلومات نسته ورته چي ما څومره روژې نيولي دي او څومره راباندي پاته دي . داسي ښځه د شريعت د نګاه څخه بايد څنګه روژې ونيسي او څو داني ونيسي ؟ .

جواب : په داسي صورت کښې چي دغه ښځې ته د خپلو قضايي روژو د عدد او شمېر اندازه نه وي معلومه نو دغالب ګمان څخه کار اخيستل کيږي . تر هغه وخته پوري به دا روژې نيسي چي د دې غالبه ګمان دا سو چي اوس مي نو قضايې روژې پوره سوې ، او د راګرځولو اسانه طريقه يې داده چي داسي نيت دي وکړي : چي زه د آخري رمضان د روژو د راګرځولو نيت کوم کله چي يې دا روژه ونيوله د دې څخه مخکنۍ روژه خپله آخري سوله لهذا د هري روژې سره دي د آخري روژې نيت کوي ، او يا دي داسي نيت وکړي د اول رمضان روژې چي زما څخه قضا سوي دي د هغو د نيولو نيت مي دی، نو کله چي يې دا اوله روژه ونيوله هغه وروسته روژه خپله اوله ګرځي .

فقهاوو يې د راګرځولو طريقه په دغه شان بيان کړې ده . والله اعلم .

وإذا كثرت الفوائت يحتاج لتعيين كل صلاة" يقضيها لتزاحم الفروض والأوقات كقوله أصلي ظهر يوم الإثنين ثامن عشر جمادى الثانية سنة أربع وخمسين وألف وهذا فيه كلفة "فإن أراد تسهيل الأمر عليه نوى أول ظهر عليه" أدرك وقته ولم يصله فإذا نواه كذلك فيما يصليه يصير أولا فيصح بمثل ذلك وهكذا "أو" إن شاء نوى "آخره" فيقول أصلي آخر

ظهر أدركته ولم أصله بعد فإذا فعل كذلك فيما يليه يصير آخرا بالنظر لما قبله فيحصل التعيين .... وكذا الصوم" الذي عليه "من رمضانين" إذا أراد قضاءه يفعل مثل هذا.

(حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح شرح نورالايضاح ۱ ص ۱۷۳ باب قضاء الفوائت مكتبه شامله / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۷۶ ، ۷۷ باب قضاء الفوائت / فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۱۶۳ باب قضاء الصوم وكفارته وفديته / خير الفتاوی ج ۴ ص ۸۰ باب قضاء الصوم)

دلوی اختر دمیاشتي لس روژې څومره ثواب لري ؟

سوال ۸ : دلوی اختر دمیاشتي لس روژې څومره مقام او مرتبه په شریعت کي لري او په دغه ورځو کښې عبادت کول څومره ثواب لري ؟

جواب : په احادیث مبارکه وو کښې دلوی اختر دمیاشتي داولو لسو ورځو دروژو دنیولو ډېر زیات فضیلتونه راغلي دي . چي دیوه حدیث شریف ژباړه ستاسي په مخکښې دترغیب او تشویق دپاره ذکر کوو . دحضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي هیڅ ورځي نسته په ورځو کښې دکال چي په هغوی کښې دي عبادت الله جل جلاله ته ډېر محبوب او خوښ وي تر دغه لسو ورځو دذي الحجې دمیاشتي (دلوی اختر دلسو ورځو) دا ځکه چي یوه روژه ددغه ورځو دیوه کال دروژو سره برابره ده او دیوې شپې عبادت ددغه لسو ورځو دشپو دلیلة القدر دشپې دعبادت سره برابر دی . دا حدیث شریف امام ترمذي رحمه الله نقل کړی دی.

وفی التفسير المظهری : عن ابی هريرة قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ما من ايام أحب الی الله ان يتعبد فيها من عشر ذی الحجة يعدل صيام كل يوم منها بصيام سنة وقيام كل ليلة منها بقيام ليلة القدر رواه الترمذي وابن ماجة بسند ضعيف . رواه ابو داود من حديث ابن عباس وقال رسول الله صلی الله عليه وسلم ما من ايام أحب الی الله ان يتعبد له فيها من ايام العشر وان صيام يوم منها ليعدل سنة وليلة منها بليلة القدر رواه ابن ماجه .

عن أبي هريرة –رضي الله عنه– عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ما من أيام العمل فيهن أحب إلى الله –عز وجل– من هذه الأيام –يعني العشرة– قالوا: ولا الجهاد في سبيل الله تعالى؟ قال: ولا الجهاد في سبيل الله إلا رجل خرج بنفسه وماله فلم يرجع منه بشيء)) .

(التفسير المظهري ج ۱۰ ص ۲۲۸ سورة الفجر مكتبه رشيديه / سنن الترمذی ج ۳ ص ۱۲۲ بَابُ مَا جَاءَ فِي العَمَلِ فِي أَيَّامِ العَشْرِ بيروت چاپ / الترغيب والترهيب لقوام السنة ج ۱ ص ۲۴۵ بيروت چاپ / سنن ابي داود ج ۲ ص ۳۲۵ باب الصوم في العشر بيروت چاپ)

که يو څوک دروژې په مياشت کي بلوغ ته ورسيږي ددغي ورځي څخه روژه ونيسي که دتيري مياشتي دهم پر فرض دي ؟

سوال ۹ : که چيري يو شخص دروژې په مياشت کي بلوغ ته ورسيږي نو پر دغه شخص باندي ددغي ورځي څخه روژه فرضيږي او که ټوله مياشت پر دغه شخص باندي فرض سوه ؟

جواب : فقهاء كرامو ليكلي دي چي دروژې دفرضيت لپاره دري شرطونه سته چي دا شرطونه اسلام ، عقل ، او بلوغ دي نو څرنګه چي بلوغ دروژې دفرضيت لپاره شرط دی په دې خاطر پر دغه شخص باندي دروژې فرضيت ددغي ورځي څخه شروع کيږي مخته روژې نه دي باندي فرض سوي البته دغه شخص به ددغي ورځي تر ماښامه پوري امساک کوي . والله اعلم

لماقال ابو الحسن علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الرشداني المرغياني رحمه الله فى الهداية : وإذا بلغ الصبي أو أسلم الكافر في رمضان أمسكا بقية يومهما قضاء لحق الوقت بالتشبه ولو أفطرا فيه لا قضاء عليهما لأن الصوم غير واجب فيه وصاما ما بعده لتحقق السبب والأهلية

(الهداية ج ۱ ص ۲۰۵ كتاب الصوم مكتبه حنفيه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۹۵ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي ج ۶۳۴ مكتبه رشيديه / تبين الحقائق ج ۱ ص ۳۱۳ مكتبه شامله / قاموس الفقه ج ۴ ص ۲۸۸ اردو)

روژه پر چا فرض ده؟

(۱) روژه پر هر مسلمان، عاقل، بالغ، جوړ، نر او ښځې باندې فرض ده.
(۲) هر څوک چې د روژې د فرضیت انکار وکړي هغه کافر دی.
(۳) کوم کس چې دغه فرض نه کړي اداء بېله عذره دا سخت اولوی ګناهګار او فاسق دی.
(۴) کله چې نابالغه ماشومان د روژې د نیولو قابله سي نو پر هغو باندې د هغو د همت او د برداشت په اندازه سره روژې نیول پکار دي او کله چې د لسو کلو سي نو لږ څه سختي پکار ده.

د روژې نیت

د زړه ارادې ته نیت ویل کېږي که په ژبه څه تلفظ وسي او که ونه سي نیت د روژې لپاره شرط دی نیت کول په عربي ژبه ضروري نه دی په خپله ژبه یې هم څوک کولای سي عربي الفاظ یې دغه شان دي (بِصَوْمِ غَدٍ نَوَيتُ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ) ترجمه: زه د روژې د میاشتي د سبا ورځي د روژې نیت کوم (۲) د روژې د میاشتي د روژو نیت د شپې څخه کول افضل کار دی او که چا د شپې څخه نیت ونه کړی نو د ورځي یې هم نیت صحیح دی تر زوال یو نیم ساعت مخکي په دې شرط چي خوراک او چیښاک او جماع به یې نه وي کړې.

هغه شیان چي نه روژه په ماتېږي او نه په مکروه کېږي

(۱) مسواک وهل (۲) په غوږ کي او به اچول یا خپله په کښي ننوتل (۳) په سترګه کي دوا اچول یا سترګي تورول که څه هم د هغه دواء اثرات په حلق کي محسوسه سي (۴) د غابنو وینه په دې شرط چي حلق ته ولاړه نه سي (۵) احتلام یعني د شیطان خطاء ایستل په خوب کي (۶) خود بخوده قی راتلل (۷) په حلق کي بېله اختیاره دود یا د ګرځ ننوتل یا د مچ ننوتل (۸) هر قسمه ستن لګول که د رګ وي که د غوښي پیچکاري وي، البته د طاقت لپاره ستن لګول کراهیت لري (۹) د ګرمی یا د تندي د وجي غسل کول یا یو ټوکر لندول ځان په کښي پیچل (۱۰) سر یا بریتو نه غوړول په تیلو یا په روغنو سره.

هغه شیان چي په هغو سره روژه مکروه کیږي .

(۱) د غاښو په دواء سره یا په منجن یا کولا یعني د مدمال سره غاښونه صفا کول (۲) په خوله کي ناړي یو ځای کول او بیا قصدا تېرول (۳) دومره کار کول چي د هغه څخه دومري قدر کمزوري پیدا سي چي د روژې نیولو طاقت د لاسه ورکړل سي (۴) بېله ضرورته یو شی ژوول او بیا ټُوکل ،مالګه یا یو بل شی څکل او بیا ټوکل (۵) ټوله ورځ د جنابت په حالت کي داسي او سېدل چي لمونځونه هم قضاء سي.

هغه شیان چي په هغو سره روژه ماتېږي او فقط قضاء یې سته کفاره نسته .

(۱) په قصد سره ډکه خوله قی وهل (۲) تر صبح صادق وروسته خوراک کول په دغه نیت چي شپه لا پاته ده (۳) په هېره سره یې خوراک یا چیښاک وکړی او دا فکر یې وکړی چي اوس خو روژه ماته سوه بیا په قصد سره خوراک یا چیښاک کول (۴) په زکام او نزله کي داسي تېزه دواء کشول یا بوی کول چي د هغې تېزي بالکل و دماغ ته ورسېږي لکه تېز وکس یا بله دواء (۵) پزه یې پرېوله یا یې خوله پرېوله بېله ارادې یې حلق ته او به ولاړې (۶) که یې روژه ماته کړه په دغه ګمان سره چي لمر لوېدلی دی او حال دا دی چي هغه نه ؤ لوېدلی (۷) پزي یا غوږ ته لنده یا بهېدونکې دوا اچول لکه تیل یا غوړي ، او که دوا او چه وه تر څه وخته چي دماغ ته و نه رسېږي روژه نه ده ماته (۸) د ښځي سره په لمس یعني لاس وهلو څخه یې انزال وسو یا د مشت زنی څخه انزال وسو روژه یې ماته ده (۹) د ګربتی یا د سګرېټ یا چیلم دود په قصد سره و حلق ته رسول.

هغه شیان چي په هغه سره روژه ماتېږي قضاء او کفاره دواړه ځیني لازمېږي

(۱) په قصد سره خوراک او چیښاک کول (۲) د خپلي ښځي سره قصدا همبستري او جماع کول (۳) په قصد سره سګرېټ ،بیړی یا چیلم څکول.

د روژې د خوړلو کفاره .

که د چا څخه قصدًا روژه وخوړه سوه نو کفاره یې د درو شیانو څخه یو شی دی:

(۱) دوې میاشتي مسلسل او پرله پسې روژې نیول په مابین کي به یې ایام منهیه نه وي.

(۲) که یې د روژې طاقت نه درلودی نو دي شپېتو مسکینانو ته د سهار او ماښام

ډوډۍ ورکړي په ماړه نس سره.

(۳) که دغه کار هم مشکل ؤ نو دي احتياطا نيم من غنم يا نيم من اوړه يا د هغه قيمت د شپېتو مسکينانو څخه و هريوه ته ورکړي.

هغه عذرونه چي د هغو د وجي څخه روژه نه نيول روا ده .

(۱) که چيري انسان دومره اندازه مريض وي چي روژه نيول تاوان ورته کوي يعني مريضي يې زياتېږي يا په ځنډ سره ښه کېږي يا د مرګ خطره وي نو روژه دي نه نيسي، هر کله چي جوړ سو نو دي قضاء راوړي او دغه حکم به يو ديندار مسلمان ماهر ډاکټر ورکوي چي تا ته روژه نيول تاوان کوي.

(۲) مسافر شرعي ته چي د خپل ښار د حدودو څخه کم تر کمه (۴۸) ميله د سفر په نيت وتلی وي د کوره څخه د داسي کس لپاره هم د روژې خوړلو اجازه سته ليکن که چيري په سفر کي تکليف او مشقت نه وي روژه نيول افضل کار دی.

نوټ: اته څلوېښت ميله په جديد حساب سره تقريبا (۷۸) کيلو ميتره يا څه زيات او کم کېږي.

(۳) هر هغه ښځه چي حامله وي او روژه نيول دې ته په خپله يا يې ماشوم ته تاوان کوي هرګز دي روژه نه نيسي وروسته دي قضاء راوړي.

د روژې مبارکي قضاء

(۱) که د يو عذر له وجي روژه قضاء سوه نو د هغه عذر تر ختمېدلو وروسته دي ژر تر ژره د روژې قضاء راوړه سي ځکه چي په ژوند باور نسته.

(۲) د روژې په قضاء کي بنده ته اختيار دی که يې پرله پسي نيسي يا يې جلا جلا نيسي.

(۳) نا بالغه ماشوم که چيري روژه ماته کړي نو د ده پر ذمه د دغي روژې قضاء نسته.

(۴) مسافر که د سفر څخه وروسته او مريض تر صحت وروسته دومره وخت نه کړي پيدا چي په هغه وخت کي هغه قضاء سوي روژې را وګرځوي نو د دوی پر ذمه د دغو روژو قضاء نسته او نه يې پر وارثانو باندي فديه ورکول واجب ده.

د روژې فدیه

(۱) که یو کس دومره مریض سي چي نور د ده څخه د صحت او جوړوالي امید ختم سي او نه یې طاقت وي د روژې نیولو یا دومره سپین ږیری سي چي نه په ژمي او نه په ګرمۍ کي د روژې د نیولو طاقت لري، نو داسي کسانو ته د روژې نه نیولو اجازه سته لیکن د روژې فدیه ورکول پر دوی واجب ده.

(۲) د فدیې تر اداء کولو وروسته یې که چیري طاقت د روژې نیولو پیدا کړی یا مریض ۇ جوړ سو نو د خوړلو روژو قضا یي را ګرځول واجب ده او کومه فدیه چي ده اداء کړې وه هغه خیرات او صدقه سوله الله جل جلاله یې ثواب ورکوي.

(۳) د هري روژې په بدل کي به یوه مسکین ته د سهار او ماښام نس ډک ډوډی ورکوي یا د سر سایې په اندازه یوه کیلو او (۶۶۲) ګرامه غنم ورکړي مسکین ته.

(۴) که یو څوک دومره غریب وي چي فدیه هم نه سي ورکولای نو د الله جل جلاله څخه دي بخښنه غواړي او دا نیت دي وساتي چي هر کله الله جل جلاله فراخي راوستله نو فدیه به اداء کومه.

د روژه مات د وخت دعاء

د روژه مات په وخت کي دغه دعاء کول سنت ده:

(اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفطَرْتُ)

ژباړه: ای الله ما روژه نیولې وه ستا لپاره او پر تا مي ایمان راوړی دی او ستا په راکړي رزق مي ماته کړه.

کتاب الحج

باب مناسک الحج

ښځه د چاسره د حج سفر کولای سي ؟

سوال ۱ : ښځه د چا سره د حج سفر کولای سي ؟

جواب : د حج د فریضې د اداکولو لپاره د ښځې سره د مېړه یا د یو محرم شتون ضروري دی او د ښځې محرم هغه چاته ویل کیږي چې د دې ښځې سره یې په هیڅ وخت کې نکاح نه روا کیږي لهذا د دغه اصل په نظر کې نیولو سره ښځه د هغه چا سره د حج سفر کولای سي چې د دې مېړه وي یا داسې شخص وي چې د دې نکاح په هیڅ وخت کې د هغه سره نسي کېدلای لکه زوی ، پلار ، اکا ، ماما .

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وَالْمَحْرَمُ مَنْ لَا يَجُوزُ لَهُ مُنَاكَحَتُهَا عَلَى التَّأْبِيدِ بِقَرَابَةٍ أَوْ رَضَاعٍ أَوْ صِهْرِيَّةٍ كَمَا فِي التُّحْفَةِ

ولما فى الهندية : وَمِنْهَا الْمَحْرَمُ لِلْمَرْأَةِ شَابَّةً كانت أو عَجُوزًا إذَا كانت بَيْنَهَا وَبَيْنَ مَكَّةَ مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ هَكَذَا في الْمُحِيطِ وَإِنْ كان أَقَلَّ من ذلك حَجَّتْ بِغَيْرِ مَحْرَمٍ كَذَا في الْبَدَائِعِ وَالْمَحْرَمُ الزَّوْجُ وَمَنْ لَا يَجُوزُ مُنَاكَحَتُهَا على التَّأْبِيدِ بِقَرَابَةٍ أو رَضَاعٍ أو مُصَاهَرَةٍ كَذَا في الْخُلَاصَةِ

(ردالمحتارج ۲ ص ۱۵۷ مکتبه حبیبیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۵۵۲ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۲۱۸ رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۳ ص ۵۶ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۳۲۹ اردو)

یو سړی په سترګو ړوند دی او مال هم لري حج څنګه وکړي ؟

سوال ۲ : یو کس په سترګو ړوند دی او مال او دولت هم لري ایا پر ده حج فرض دی که یا او که حج پر فرض وي نو بیا یې د حج اداء کولو طریقه څرنګه ده؟

جواب : د حج په شرائطو کښې یو شرط سالم صحت دی نو کله چې یو کس داسې معیوبه وي چې دی په سترګو ړوند وي نو پر داسې کس حج فرض نه دی .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار : (قَوْلُهُ صَحِيحِ الْبَدَنِ) أَيْ سَالِمٍ عَنْ الْآفَاتِ الْمَانِعَةِ عَنْ الْقِيَامِ بِمَا لَا بُدَّ مِنْهُ فِي السَّفَرِ، فَلَا يَجِبُ عَلَى مُقْعَدٍ.... وَأَعْمَى، وَإِنْ وَجَدَ قَائِدًا

(ردالمحتار ج ۲ ص ۴۵۹ کتاب الحج سعید چاپ/مجمع الانهر ج ۱ ص ۳۸۵ کتاب الحج مکتبه غفاریه/ البحرالرائق ج ۲ ص ۵۴۵ ؛۵۴۶ کتاب الحج رشیدیه/فتاوی تاتارخانیة ج ۳ ص ۴۷۰ مکتبه فاروقیه / فتاوی محمودیه ج ۲۲ ص ۴۲۷)

پر يو کس حج فرض دی خو حج ته نه ځي

سوال ۳ : پر يو کس حج فرض دی او کافي مال هم لري خو بيا هم حج ته نه ځي دی وايي چي زه ډېر مصروفيات لرم او س پو ښتنه دا ده چي يو کس مالداره هم وي او حج پر فرض وي خو بيا هم نه ځي ايا ګناهکاره دی که يا ؟

جواب: کله چي يو کس دومره مال ولري چي دهغه مال په وجه پرده باندي حج فرض کيږي او بيا هم حج ته نه ځي نو دا سړی ګناهکاره دی ځکه چي نبی کريم ﷺ په يو حديث شريف کښي فرمايي چي کله پر يو چا حج فرض وي او دا سي يو مانع هم نه وي لکه يو دا سي حاجت چي هغه شرعي عذر وي يا يو ظالم باچا يې نه پرېږدي او يا دا سي مرض ورپېښ سي چي دده تګ و حج ته مشکل وي نو که دا عذرونه نه وي او ده حج نه وکی او مړسو نو هغه بيا دده خوښه ده که پر يهوديت مري او که پر نصرانيت مري بهر حال کله چي يو څوک دومره مال ولري چي حج پر فرض کيږي خو حج ته نه ځي دا سي کس شرعاً ګناهکاره دی .

لما قال العلامة علاءالدين الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار: وهوفرض مرة (عَلَى الْفَوْرِ) فِي الْعَامِ الْأَوَّلِ عِنْدَ الثَّانِي وَأَصَحُّ الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ الْإِمَامِ وَمَالِكٍ وَأَحْمَدَ فَيُفَسَّقُ وَتُرَدُّ شَهَادَتُهُ بِتَأْخِيرِهِ .

وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ فَمَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُودِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا»

(مشکوة المصابيح ج ۱ ص ۲۴۰ کتاب المناسک قديمي چاپ/جامع الترمذي ج ۱ ص ۱۶۷ باب ماجاء من التغليظ في ترک الحج سعيد چاپ/ الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۱۵۲ کتاب الحج رشيديه / المبسوط للسرخسي ج ۴ ص ۲ کتاب المناسک بيروت/بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۱۸ فصل في بيان فرضية الحج بيروت/الهداية ج ۱ ص ۱۳۲ فصل في وجوب الحج بيروت/تحفة الفقهاء ج ۱ ص ۳۷۹ کتاب المناسک بيروت/فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۲۸۹ کتاب الحج)

يوه پيغله انجلي دخپل پلار يا ورور سره حج ته تللای سي که يا ؟

سوال ۴: يوه پيغله انجلی دخپل پلار يا ورور سره حج ته تللای سي که يا ؟

جواب : دغه پيغله ښځه دخپل پلار يا ورور بلکي دهر محرم ابدي سره حج ته تللای سي شرعاً کوم مشکل نه لري .

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :ومع زوج او محرم وهو من لا يحل له نکاحها على التابيد للمرأة ولو عبدا اوذميا اوبرضاع ....

(الدرالمختار کتاب الحج ج ۲ص ۴۶۴ مکتبه شامله / البحرالرائق کتاب الحج ج ۲ ص ۵۵۱ رشيديه / بدائع الصنائع ج ۳ص ۵۶ رشيديه)

که ښځي ته دحج په ورځو کښي د حيض مريضي راسي .

سوال ۵: کومو ښځوته چي د حج دادا کولو په دوران کښي د حيض مريضي راسي په دغه حالت کښي به د حج ارکان څنګه اداء کوي؟

جواب : دغه ښځه به په دغه ورځو کښي د طواف څخه ماسوا ټوله ارکان د حج اداء کوي فقط يو طواف به نه کوي د فرضي طواف قضاء دي د پاکۍ وروسته وکړي واجب او سنت طوافونه د دي څخه ساقط دي .

وفي الهداية :واذاحاضت المرء ة عند الاحرام اغتسلت واحرمت وصنعت کمايصنعه الحاج غير انها لاتطوف بآلبيت حتي تطهر الخ.........

(الهداية باب التمتع ج ۱ ص ۲۴۶ کتاب الحج / فتاواى دارالعلوم ديوبند ج ٦ ص ۴۱۶ رشيديه)

دحج ځنډول ګناه لري که يا

سوال ۶: که چيري پر يوه کس باندي حج فرض سي او هغه بيا دحج په اداء کولو کښې ځنډ کوي نه يې اداء کوي . نو دغه ځنډ او تاخير دحج ګناه لري که يا ؟

جواب : پرکوم شخص باندي چي حج فرض سي او بيا بېله حج اداء کولو او يا بې له وصيت کولو څخه مړ سي نو هغه شخص به عند الله ماخوذ او مجرم وي . او دهغه سزا او وعيد مستحق به وي کومه چي په حديث شريف کښې راغلې ده : چي که پرچا باندي حج فرض سو او هغه حج ادا نه کړی (بېله کوم عذر شرعي) او بې حجه مړ سو الله جل جلاله ته دهغه کس هيڅ پرواه نسته که يهودي مړ سي او که نصراني مړ سي . لهذا دحج ځنډول سره ددې چي وسعت او طاقت داداء کولو يې لري دا ګناه ده حتی تردې چي هغه کس فاسق ګرځي او شاهدي يې هم نه قبليږي .

لما قال العلامة علاءالدين الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار: وهوفرض مرة (عَلَى الْفَوْرِ) فِي الْعَامِ الْأَوَّلِ عِنْدَ الثَّانِي وَأَصَحُّ الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ الْإِمَامِ وَمَالِكٍ وَأَحْمَدَ فَيُفَسَّقُ وَتُرَدُّ شَهَادَتُهُ بِتَأْخِيرِهِ .

وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ فَمَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُودِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا» . رَوَاهُ الدَّارِمِيّ

وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا وَذَلِكَ أَنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ: (وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حَجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيهِ سَبِيلا) رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتارج ۲ ص ۱۵۲ کتاب الحج رشيديه / مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۷۷۵ / ۷۷۷/ بيروت چاپ / فتاوی دارالعلوم ديوبندج ۶ ص ۴۴۱ کتاب المناسک / فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۲۹۱ کتاب الحج)

يو چا دحج پيسې تحويل کړې بيا وفات سو پيسې يې بايد څه په وسي ؟

سوال ۷ : يو کس دحج دفرېضې داداء کولو دپاره پيسې تحويل کړې او بيا وفات سو نو قريبان يې اوس بايد څه وکړي ؟.

جواب : دغه پاته روپۍ پر قريبانو باندي دميراث په شکل باندي تقسيم کېږي ځکه چي دغه مړي او متوفی کس وصيت نه دی کړی چي په دغه روپو دي بيا زما پرځای حج وکړل سي .

نَعَمْ لَوْ كَانَ الْمَيِّتُ هُوَ الَّذِي دَفَعَ لِلْمَأْمُورِ ثُمَّ مَاتَ كَانَ لِلْوَارِثِ اسْتِرْدَادُ مَا فِي يَدِ الْمَأْمُورِ وَإِنْ أَحْرَمَ كَمَا سَيَأْتِي فِي الْفُرُوعِ: أَيْ وَلَوْ مَعَ وُجُودِ الْوَصِيِّ لِأَنَّ الْبَاقِيَ صَارَ مِيرَاثًا لِكَوْنِ الْمَيِّتِ لَمْ يُوصِ بِهِ .

(الدرالمختار مع ردالمحتار باب الحج عن الغير ج ۲ ص ۲۶۳ طبع رشيديه کويته / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۶ ص ۴۷۱ کتاب المناسک)

دلور يا دخور په ولور سره حج کول رواه دی که يا ؟

سوال ۸ : ځيني کسان داسي دي چي خپله لور يا خور په نکاح ورکړي بيا ددغي لور يا خور په ولور باندي دهغې دواده څخه مخکي حج ته ځي او دليل داوايي چي دا زما خور يا لور ماته خپل ولور رابخښلی دی ايا دخور يا دلور په ولور سره حج کول جائز دی که يا ؟

جواب : (سابق مفتي اعظم افغانستان الحاج مرحوم **مولانا عبدالعلي ديوبندي** رحمة الله عليه)دغه سوال ته داسي جواب ويلی دی :چي يو پلار يا ورور که چيري ددغي لوريا دخور ولورددې لوريا خوردواده څخه مخکښې واخلي که څه هم هغه يې وروبخښي دابخښنه نه ده صحيح ځکه چي دابخښنه دحيا او شرم سره مل ده او هغه هبه او بخښنه چي دحيا او شرم دغلبې دوجي څخه وي هغه صحت نه لري او نن سبا اکثره هم داسي وي چي دالوريا خوريې دشرم او حيا دوجي څخه انکار نه سي کولای . البته کله چي دا لوريا خور واده سوله دواده کولو وروسته نو بيا که چيري هغه خپل ولور ورته بخښنه او هبه کړي نو دا بخښنه او هبه درسته او صحيح ده ځکه چي حيا او شرم نه ده ورسره مل . نو خلاصه داسوه چي په دغه پيسو سره حج کول

جائز او رواه نه دی چا چي کړی دی هغه دي د الله جل جلاله څخه معافي واخلي او دخپلي لور دغه اخيستي ولور دي ورواپس کړي .

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ , أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِطِيبِ نَفْسِهِ.

(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۲ ص ۲۷۳۳ باب الضيافة بيروت / فتاوی قاسميه ص ۴۸۴ / سنن الدار قطني ج ۳ ص ۴۲۴ كتاب البيوع مكتبه شامله / دخلاصون لاره مسائل دطلاق)

ايا په عمرې كولو سره حج فرض كيږي كه يا ؟

سوال ۹ : كه چيري يو كس په داسي حال كښې عمرې ته ولاړ سي چي حج يې نه وي كړی ايا ددغي عمرې په اداء كولو سره پر دغه كس باندي حج فرض كيږي كه يا ؟

جواب : كه چيري دغه كس دغه عمره دحج دورځو څخه علاوه په نورو ورځو كښې وكړه نو حج نه باندي فرض كيږي . او كه چيري دغه كس دا عمره دحج په ورځو كښې اداء كړه نو بيا په دغه شرط سره چي دده پاته كيدل به هلته دحج داداء كولوتر ورځو پوري ممكن وي نو بيا حج باندي فرض كيږي او كه دده پاته كيدل هلته ممكن نه وي نو بيا نه فرض كيږي . **خلاصه** : داچي دحج دفرضيت دپاره دوه شرطونه دي : **اول** : دحج ورځي . **دوهم** : داچي هلته امكان دپاته كېدلو دحج تر ورځو پوري وي .

شيخ الاسلام علامه محمد تقي عثماني دامت بركاته العاليه په فتاوی عثماني دحج بدل په مسئله كي ليكلي دي كه چيري پر دغه كس باندي مخكي حج نه وو فرض نو تحقيق دعلماوو هم دغه دی چي صرف په حج بدل كولو سره حج نه فرض كيږي تر څه وخته چي يې خپله دحج كولو وس او طاقت نه وي پيدا كړی . نو چي په حج بدل كولو سره لاحج نه فرض كيږي چي اشهري دحج هم دي نو په عمرې اداء كولو سره خو په طريقه اولی نه فرض كيږي . **والله اعلم بالصواب هذا ماعندنا ولعل غيرنا اقدر على هذا**

لما قال العلامة ابن عابدين محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ۱۲۵۲هـ) رحمه الله تعالي في العقود الدرية في تنقيح الفتاوى الحامدية بعد بحث طويل : (أَقُولُ) وَقَدْ أَلَّفَ سَيِّدِي عَبْدُ الْغَنِيِّ النَّابُلُسِيُّ رِسَالَةً فِي ذَلِكَ جَنَحَ فِيهَا إلَى عَدَمِ الْوُجُوبِ وَنَقَلَ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ أَنَّ السَّيِّدَ أَحْمَدَ بَادْشَاهْ أَلَّفَ رِسَالَةً فِي الْوُجُوبِ وَاَللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ.

و لما قال العلامة ابن عابدين محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ۱۲۵۲هـ) رحمه الله تعالي في الدرالمختار : اهـ. قلت: وقد أفتى بالوجوب مفتي دار السلطنة العلامة أبو السعود، وتبعه في سكب الأنهر، وكذا أفتى السيد أحمد بادشاه، وألف فيه رسالة. وأفتى سيدي عبد الغني النابلسي بخلافه وألف فيه رسالة لأنه في هذا العام لا يمكنه الحج عن نفسه لأن سفره بمال الآمر فيحرم عن الآمر ويحج عنه، وفي تكليفه بالإقامة بمكة إلى قابل ليحج عن نفسه ويترك عياله ببلده حرج عظيم، وكذا في تكليفه بالعود وهو فقير حرج عظيم أيضا.

(العقود الدرية في تنقيح الفتاوى الحامدية ج ۱ ص ۱۴ ۱ كتاب الحج مكتبه شامله بيروت / الدر المختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۶۰۴ مطلب في الفرق بين العبادة والقربة والطاعة مكتبه شامله / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۱۷ مكتبه رشيديه / ارشاد الساری ص ۳۲ مبحث في تحقيق الراحلة / فتاوى عثماني ج ۲ ص ۲۲۲ كتاب الحج اردو / ستاسي مسائل او دهغه حل ج۵ ص ۲۴۲ باب فريضة الحج والعمرة / فتاوى رحمانيه ج ۲ ص ۱۷۰ كتاب الحج)

حاجي به په مني او عرفات کښې لمونځونه پوره کوي او که به دمسافرۍ لمونځ کوي ؟

سوال۱۰ : کوم حاجيان چي دافغانستان څخه وسعودي عربستان ته دحج دفريضې دپاره تللي دي او بيا دحج په مراسمو کښې ومنی شريفي او عرفات ته ووزي نو دغه حاجيان به هلته په منی او عرفات او مزدلفه کښې پوره داقامت لمونځ کوي او که به قصر کوي (يعني دسفر لمونځ) کوي ؟.

جواب: کوم حاجیان چې د دغه ځایه څخه و مکې مکرمې ته تللي دي او بیا و منی شریفي ته تر وتلو مخکښې د دوی په مکه مکرمه کښې کم ترکمه پنځلس ورځې پوره سوي دي بیا منی ته وتلي دي نو داسې حاجیان شرعاً مقیم بلل کیږي دوی به په منی او مزدلفه و عرفات کښې د اقامت یعني پوره لمونځ کوي. او د کومو حاجیانو چې په مکه مکرمه کښې پنځلس ورځې لانه دي پوره سوي چې منی شریفي او عرفات ته وتلي دي نو داسې حاجیان شرعاً مسافرین بلل کیږي دوی به په منی او مزدلفه و عرفات کښې د سفر یعني قصر لمونځ کوي.

تنبیه: یاده دي وي چې د مدینې منورې ورځې او شپې په دغه پنځلسو ورځو کښې نه شمارل کیږي فقط د مکې مکرمې ورځې شمارل کیږي.

لما قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی فی الدرالمختار: فَلَوْ دَخَلَ الْحَاجُّ مَكَّةَ أَيَّامَ الْعَشْرِ لَمْ تَصِحَّ نِيَّتُهُ لِأَنَّهُ يَخْرُجُ إلَى مِنًى وَعَرَفَةَ فَصَارَ كَنِيَّةِ الْإِقَامَةِ فِي غَيْرِ مَوْضِعِهَا وَبَعْدَ عَوْدِهِ مِنْ مِنًى تَصِحُّ.

وقال ابن عابدين رحمه الله تعالی فی ردالمحتار: (قَوْلُهُ فَلَوْ دَخَلَ إلَخْ) هُوَ ضِدُّ مَسْأَلَةِ دُخُولِ الْحَاجِّ الشَّامَ فَإِنَّهُ يَصِيرُ مُقِيمًا حُكْمًا وَإِنْ لَمْ يَنْوِ الْإِقَامَةَ وَهَذَا مُسَافِرٌ حُكْمًا وَإِنْ نَوَى الْإِقَامَةَ لِعَدَمِ انْقِضَاءِ سَفَرِهِ مَا دَامَ عَازِمًا عَلَى الْخُرُوجِ قَبْلَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا أَفَادَهُ الرَّحْمَتِيُّ.

وفی منحة الخالق علی البحر الرائق: أَنَّهُ إذَا نَوَى الْإِقَامَةَ بِمَكَّةَ شَهْرًا وَمِنْ نِيَّتِهِ أَنْ يَخْرُجَ إلَى عَرَفَاتٍ وَمِنًى قَبْلَ أَنْ يَمْكُثَ بِمَكَّةَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا لَا يَصِيرُ مُقِيمًا؛ لِأَنَّهُ يَكُونُ نَاوِيًا الْإِقَامَةَ مُسْتَقْبَلَةً فَلَا تُعْتَبَرُ فَإِذَا رَجَعَ مِنْ مِنًى وَعَرَفَاتٍ إلَى مَكَّةَ، وَهُوَ عَلَى نِيَّتِهِ السَّابِقَةِ صَارَ مُقِيمًا؛ لِأَنَّ الْبَاقِيَ مِنْ الشَّهْرِ أَكْثَرُ مِنْ خَمْسَةَ عَشَرَ وَهُنَا كَذَلِكَ؛ لِأَنَّ فَرْضَ الْمَسْأَلَةِ أَنَّهُ دَخَلَ فِي أَوَّلِ الْعَشْرِ وَمَعْلُومٌ أَنَّ الْحَاجَّ يَخْرُجُ فِي الْيَوْمِ الثَّامِنِ إلَى مِنًى وَيَرْجِعُ إلَى مَكَّةَ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي عَشَرَ فَلَمَّا دَخَلَ إلَى مَكَّةَ أَوَّلَ الْعَشْرِ وَنَوَى إقَامَةَ شَهْرٍ لَمْ تَصِحَّ نِيَّتُهُ أَوَّلَ الْمُدَّةِ؛ لِأَنَّهُ لَا يَحْصُلُ لَهُ إقَامَةُ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا إلَّا بَعْدَ رُجُوعِهِ مِنْ مِنًى فَلِذَا أَمَرَهُ صَاحِبُ الْإِمَامِ

بِالْقَصْرِ أَوَّلَ الْمُدَّةِ وَبِالْإِتْمَامِ بَعْدَ الْعَوْدِ؛ لِأَنَّهُ لَمَّا عَادَ إلَى مَكَّةَ وَهُوَ عَلَى نِيَّتِهِ السَّابِقَةِ كَانَ نَاوِيًا أَنْ يُقِيمَ فِيهَا عِشْرِينَ يَوْمًا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ هَذَا مَا ظَهَرَ لِي وَاَللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۱۲۶ باب صلاة المسافر سعيد چاپ / منحة الخالق علي البحرالرائق ج ۲ ص ۲۳۳ مکتبه رشيديه / تبيين الحقائق ج ۱ ص ۵۱۲ مکتبه اشرفيه / بدائع الصنائع ج ۱ ص ۲۷۰ مکتبه رشيديه / مجمع الانهر ج ۱ ص ۲۴۱ مکتبة الحرمين الشريفين /الفتاوی الهندية الباب الخامس عشر في صلوة المسافر ج ۱ ص ۱۴۰ رشيديه / فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۳۷۰ / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۵ ص ۳۴۹ باب اعمال الحج)

دحائضې ښځې دپاره دحج داداء کولو طریقه .

سوال ۱۱ : که چیري یوه ښځه حج ته ولاړه سي او په دغه دوران کښې ورته حیض (زنانه مریضي) راسي نو دا ښځه به دحج ارکان څنګه اداء کوي ؟

جواب : دحج په دوران کښې چي کله یوې ښځي ته حیض راسي نو دهغې دپاره شرعي حکم دادی چي د طواف څخه علاوه به دحج ټوله ارکان اداءکوي یو طواف به نه کوي که طواف قدوم وي چي سنت دی ، که طواف زیارت وي چي فرض دی او که طواف رخصت وي چي واجب دی . نور ارکان لکه وقوف پر عرفات ، مزدلفې ته تلل ، منی ته وتل ، شیطانان ویشتل ، ذبح کول او داسي نور دا به کوي . البته کله چي ددغي مریضۍ څخه پاکه سوه نو دي طواف زیارت چي دحج لوی رکن دی او بېله هغه حج نه صحیح کیږي هغه دي دپاکۍ په حالت کښې اداء کړي . او ترڅه وخته چي یې طواف زیارت نه وي کړی حج یې نه دی صحیح او نه هم دغه ښځه داحرامه څخه حلالیږي . بالفرض که چیري ددې ښځي پاکۍ ته ډیري شپې پاته وې او بل طرف ته ددې دوتلو وخت پوره وو نو دي طواف زیارت د ناپاکۍ په حالت کښې اداء کړي او په بدل کښې دي یو اوښ یا غویی دم ورکړي .

لما قال ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : فَلَوْ حَاضَتْ قَبْلَ الْإِحْرَامِ اغْتَسَلَتْ وَأَحْرَمَتْ وَشَهِدَتْ جَمِيعَ الْمَنَاسِكِ إلَّا الطَّوَافَ وَالسَّعْيَ اهـ أَيْ لِأَنَّ سَعْيَهَا بِدُونِ طَوَافٍ غَيْرُ صَحِيحٍ فَافْهَمْ . وقال المرغينانى رحمه الله تعالى : وإذا حاضت المرأة عند الإحرام اغتسلت وأحرمت وصنعت كما يصنعه الحاج غير أنها لا

تطوف بالبيت حتى تطهر " لحديث عائشة رضي الله عنها حين حاضت بسرف ولأن الطواف في المسجد .

(ردالمحتار علي صدر الدرالمختار ج ۲ ص ۲۰۶ کتاب الحج مطلب في طواف الزيارة / الهداية ج ۱ ص ۲۴۶ کتاب الحج مکتبه رشيديه / الفتاوی التاتارخانية ج ۲ ص ۴۷۱ کتاب الحج / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۴۶۱ کتاب المناسک مکتبه رشيديه / فتاوی حقانيه ج ۳ ص ۴۵۴ کتاب الحج / فتاوی رحيميه ج ۸ ص ۷۹ کيفية اداء الحج / فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۳۷۲ باب في احکام الحج / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ۵ ص ۳۸۶ فصل في طواف الزيارة / مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر باب الحيض ج ۱ ص ۵۳ بيروت چاپ)

دلسم او يوولسم دورځي شيطانان دزوال څخه مخکي ويشتل صحيح نه دي .

سوال ۱۲ : که چيري يو حاجي په حج کښې دلوی اختر ديوولسمي ورځي او دوولسمي ورځي شيطانان دلمر تر زوال مخکي وولي ايا دغه ويشتل يې درست دي که يا ؟ او حال دا چي زموږ مذهب خو دادی چي تر زوال وروسته وويشتل سي که چيري صحيح نه وي نو راګرځول غواړي که يا ؟

جواب :ديوولسم دورځي او دوولسم دورځي رمی اود شيطانانو دويشتلو وخت دلمر دزوال څخه وروسته شروع کيږي . دزوال څخه مخکي يې ويشتل نه دي رواه که يو چا بالفرض دغه ويشتل تر زوال مخکي وکړه نو دا ويشتل يې کافي نه دي . لهذا ديوولسمي ورځي دلمر دزوال څخه نيولې دديارلسمي ورځي ترلمر ترلوېدو پوري يې د راګرځولو وخت دی راودې ګرځوي . که يې راونه ګرځول نو دم باندي لازم دی چي هغه ديوه پسه حلالول دي .

لما قال ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : قوله :فَمِنْ الزَّوَالِ لِطُلُوعِ ذُكَاءٍ .... قَالَ فِي اللُّبَابِ: وَقْتُ رَمْيِ الْجِمَارِ الثَّلَاثِ فِي الْيَوْمِ الثَّانِي وَالثَّالِثِ مِنْ أَيَّامِ النَّحْرِ بَعْدَ الزَّوَالِ، فَلَا يَجُوزُ قَبْلَهُ فِي الْمَشْهُورِ. وَقِيلَ يَجُوزُ. وَالْوَقْتُ الْمَسْنُونُ فِيهِمَا يَمْتَدُّ مِنْ الزَّوَالِ إلَى غُرُوبِ الشَّمْسِ، وَمِنْ الْغُرُوبِ إلَى الطُّلُوعِ وَقْتٌ مَكْرُوهٌ، وَإِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ: أَيْ فَجْرُ الرَّابِعِ فَقَدْ فَاتَ وَقْتُ الْأَدَاءِ وَبَقِيَ وَقْتُ الْقَضَاءِ إلَى آخِرِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ، فَلَوْ أَخَّرَهُ عَنْ

وَقْتِهِ أَيْ الْمُعَيَّنِ لَهُ فِي كُلِّ يَوْمٍ فَعَلَيْهِ الْقَضَاءُ وَالْجَزَاءُ، وَيَفُوتُ وَقْتُ الْقَضَاءِ بِغُرُوبِ الشَّمْسِ فِي الرَّابِعِ اهـ:

(ردالمحتار علي صدر الدرالمختار ج ۲ ص ۵۲۱ مطلب في طواف الزيارة مكتبه شامله / اعلاء السنن ج۱۰ ص ۱۹۹/ ۲۱۰ دارالكتب العلمية / المبسوط للسرخسي ج ۴ ص ۶۸ طبع دارالمعرفة / فتاوى عبادالرحمن ج ۳ ص ۲۷۱ كتاب الحج)

داسي وخت مي حج وكړی چي راباندي فرض نه وو

سوال ۱۳: زه په داسي وخت کښي حج ته ولاړم چي پر ما حج نهٔ فرض بل چا د ځانه سره عند الله بوتلم څه موده وروسته تر حج الله پاک ماته مال او دولت راکړی غني سوم، اوس که زه ولاړسم بیا حج ته دغه حج مي فرضي سو که نفلي

جواب: هغه اول حج چي تاسو وکړی که څه هم هغه وخت پر تا حج نهٔ فرض د هغه حج په اداء کولو سره ستاسي د ذمې څخه فرضي حج ساقط سو او شرعي ذمه داري مو ختمه سوله او فرضي حج دي اداء سو دغه حج چي ته یې اوس د غِنی په حالت کښې کوې دا نفلي دی فرضي نه دی.

لماقال ابن عابدين شامي رحمه الله في ردالمحتار : أَنَّ الْفَقِيرَ الْآفَاقِيَّ إذَا وَصَلَ إلَى مِيقَاتٍ فَهُوَ كَالْمَكِّيِّ فِي أَنَّهُ إنْ قَدَرَ عَلَى الْمَشْيِ لَزِمَهُ الْحَجُّ وَلَا يَنْوِي النَّفَلَ عَلَى زَعْمِ أَنَّهُ فَقِيرٌ وفي الهنديه : الْفَقِيرُ إذَا حَجَّ مَاشِيًا ثُمَّ أَيْسَرَ لَا حَجَّ عليه هَكَذَا في فَتَاوَى قَاضِي خَانْ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۴۶۰ سعيد چاپ / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۲۹۱ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۱۷ / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۴۴۹ پښتو / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۵۳ پښتو / اپ كي مسائل ج ۵ ص ۲۳۸ اردو / فتاوى رحيميه ج ۸ ص ۱۲ اردو)

څه روپۍ حلالي دي څه حرامي دي حج په صحیح کیږي که یا ؟

سوال ۱۴: یو څه حلالي روپۍ دي یو څه حرامي مثلاً د سود د رشوت د خمار دا که یو څوک سره ګډې کړي قصداً او ارادةً آیا په دغه روپو سره حج اداء کیږي که یا؟

جواب: داسي حج چي د الله جل جلاله د رضاء او د قبولیت وړ وګرځي او د ګناهونو د مغفرت سبب وګرځي او حج کونکی و الله جل جلاله ته نژدې سي هغه صرف او فقط په حلالو روپو سره کیږي نه په حرامو او مشتبه روپو سره، البته فریضه د حج د

ذمې څخه ساقطیږي.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : فَإِنَّ الْحَجَّ عِبَادَةٌ مُرَكَّبَةٌ مِنْ عَمَلِ الْبَدَنِ وَالْمَالِ كَمَا قَدَّمْنَاهُ، وَلِذَا قَالَ فِي الْبَحْرِ وَيَجْتَهِدُ فِي تَحْصِيلِ نَفَقَةٍ حَلَالٍ، فَإِنَّهُ لَا يُقْبَلُ بِالنَّفَقَةِ الْحَرَامِ كَمَا وَرَدَ فِي الْحَدِيثِ، مَعَ أَنَّهُ يَسْقُطُ الْفَرْضُ عَنْهُ مَعَهَا وَلَا تَنَافِي بَيْنَ سُقُوطِهِ، وَعَدَمِ قَبُولِهِ فَلَا يُثَابُ لِعَدَمِ الْقَبُولِ، وَلَا يُعَاقَبُ عِقَابَ تَارِكِ الْحَجِّ. اهـ.

(ردلمحتار ج ۲ ص ۱۵۲ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۵۴۱ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۲۲۰ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۴۳۷ پښتو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۴۱ پښتو / اپ کي مسائل ج ۵ ص ۲۵۲ اردو)

پریو کس حج فرض دی خو بل څوک یې حج ته استوي دا حج څنګه دی ؟

سوال ۱۵: پر یو سړي حج فرض دی دوهم سړی دغه اول کس په خپلو پیسو سره حج ته استوي ایا د بل په پیسو سره حج کول د ده د فرضي حج پر ځای دریږي که یا ؟

جواب: که چیري پیسې ورکوونکی دی دبل پر ځای دحج بدل په شکل سره استوي نو د ده فرضي حج نه سو اداء او داسي حج کول مکروه دی چي خپل حج یې نه وي کړی دبل پر ځای باندي حج ته ځي او که یې چیري دا روپۍ د ده د حج لپاره ورکړي وي نو د ده فرضي حج اداء سو.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وَالْأَفْضَلُ أَنْ يَكُونَ قَدْ حَجَّ عَنْ نَفْسِهِ حَجَّةَ الْإِسْلَامِ خُرُوجًا عَنْ الْخِلَافِ، ثُمَّ قَالَ: وَالْأَفْضَلُ إحْجَاجُ الْحُرِّ الْعَالِمِ بِالْمَنَاسِكِ الَّذِي حَجَّ عَنْ .... وَالَّذِي يَقْتَضِيهِ النَّظَرُ أَنَّ حَجَّ الصَّرُورَةِ عَنْ غَيْرِهِ إنْ كَانَ بَعْدَ تَحَقُّقِ الْوُجُوبِ عَلَيْهِ بِمِلْكِ الزَّادِ وَالرَّاحِلَةِ وَالصِّحَّةِ فَهُوَ مَكْرُوهٌ كَرَاهَةَ تَحْرِيمٍ لِأَنَّهُ يَتَضَيَّقُ عَلَيْهِ فِي أَوَّلِ سِنِي الْإِمْكَانِ فَيَأْثَمُ بِتَرْكِهِ، وَكَذَا لَوْ تَنَفَّلَ لِنَفْسِهِ وَمَعَ ذَلِكَ يَصِحُّ لِأَنَّ النَّهْيَ لَيْسَ لِعَيْنِ الْحَجِّ الْمَفْعُولِ بَلْ لِغَيْرِهِ وَهُوَ الْفَوَاتُ، إذْ الْمَوْتُ فِي سَنَةٍ غَيْرُ نَادِرٍ. اهـ. قَالَ فِي الْبَحْرِ: وَالْحَقُّ أَنَّهَا تَنْزِيهِيَّةٌ عَلَى الْآمِرِ لِقَوْلِهِمْ وَالْأَفْضَلُ إلَخْ تَحْرِيمِيَّةٌ عَلَى الصَّرُورَةِ الْمَأْمُورِ الَّذِي اجْتَمَعَتْ فِيهِ شُرُوطُ الْحَجِّ وَلَمْ يَحُجَّ عَنْ نَفْسِهِ لِأَنَّهُ أَثِمَ بِالتَّأْخِيرِ اهـ. قُلْت: وَهَذَا لَا

يُنَافِي كَلَامَ الْفَتْحِ لِأَنَّهُ فِي الْمَأْمُورِ، وَيُحْمَلُ كَلَامُ الشَّارِحِ عَلَى الْآمِرِ، فَيُوَافِقُ مَا فِي الْبَحْرِ مِنْ أَنَّ الْكَرَاهَةَ فِي حَقِّه تَنْزِيهِيَّةٌ وَإِنْ كَانَتْ فِي حَقِّ الْمَأْمُورِ تَحْرِيمِيَّةً.

(ردالمحتار ج ۲ ص ۲۶۲ کتاب الحج مکتبه رشیدیه / خیرالفتاوی ج ۴ ص کتاب الحج ۱۵۶ /اردو / فتاوی رشیدیه ص ۳۷۹)

دحج تر فرض کېدو وروسته د غریبۍ او مسکینۍ دوجي څخه بیا حج نه ساقطیږي؟

سوال ۱۶: که چیري پر یو کس باندي حج فرض سي او بیا د ځیني عوارضو دوجي څخه ځني پاته سي او بیا وروسته دغه کس مسکین سي. پوښتنه دا ده چي کله پر یو چا باندي حج فرض سي او بیا مسکین سي نو د دغه مسکینۍ دوجي څخه د دغه کس د ذمي څخه حج ساقطیږي که یا؟.

جواب: د شریعت مطهره حکم د فقهي شریفي په رڼا کښي دا دی چي کله پر یو کس باندي حج فرض سي نو بیا یې د ذمې څخه نه ساقطیږي. بلکي په ژوند کښې د ده پر ذمه باندي حج اداء کول ضروري دی البته که چیري مړ سو نو بیا ته پکار ده چي د مرګ څخه مخکښې خپل ورثه وو ته د ده د طرفه څخه د حج د اداء کولو وصیت وکړي، او پر وصیت باندي یې عمل کول ضروري دي.

لما فی الفتاوی الهندية : (وأما شرائط وجوبه) فمنها الإسلام حتى لو ملك ما به الاستطاعة حال كفره ثم أسلم بعد ما افتقر لا يجب عليه شيء بتلك الاستطاعة بخلاف ما لو ملكه مسلما فلم يحج حتى افتقر حيث يتقرر الحج في ذمته دينا عليه كذا في فتح القدير.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۱۷ کتاب المناسک الباب الاول / فتح القدیر ج ۲ ص ۳۲۰ کتاب الحج / ردالمحتار ج ۲ ص ۳۱۵ کتاب الحج / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۴۲ کتاب الحج)

حاجي پر عرفات باندي د درېدلو مخکي وفات سو.

سوال ۱۷: یو کس حج ته ولاړی لیکن پر عرفات تر درېدو مخکي وفات سو آیا حج یې اداء سو که یا؟

جواب: دا سي کس چي پر عرفات د درېدو مخکي مخکي وفات سي حج یې نه دی صحیح د ده پر ورثوو لازمه ده چي د ده له طرفه څخه بل حج اداء کړي که یې چیري په قدر د حج د خرڅ میراث او مال پرې ایښی وي.

لماقال العلامة ابن نجيم المصري الحنفي رحمه الله : فَإِنَّ رُكْنَهُ شَيْئَانِ الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ وَالْوُقُوفُ بِعَرَفَةَ بِالشَّرْطِ السَّابِقِ

وفي الهندية : (وَأَمَّا رُكْنُهُ فَشَيْئَانِ) الْوُقُوفُ بِعَرَفَةَ وَطَوَافُ الزِّيَارَةِ لَكِنَّ الْوُقُوفَ أَقْوَى مِنْ الطَّوَافِ كَذَا فِي النِّهَايَةِ حَتَّى يَفْسُدَ الْحَجُّ بِالْجِمَاعِ قَبْلَ الْوُقُوفِ، وَلَا يَفْسُدُ بِالْجِمَاعِ قَبْلَ طَوَافِ الزِّيَارَةِ كَذَا فِي شَرْحِ الْجَامِعِ الصَّغِيرِ لِقَاضِي خَانْ.

(البحرالرائق ج ۲ ص ۵۳۸ مکتبه رشیدیه / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۳۰۳ مکتبه رشیدیه / قاضي خان ج ۱ ص ۱۴۰ / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۱۹ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۳۰۵ اردو)

دحاجي دپاره دحج په ورځو کښې ډیري عمرې افضله دي او که ډېر طوافونه ؟

سوال ۱۸ : کله چي حاجیان وحج ته ولاړسي نو ډېری خلک بیا داسي وي چي شپه او ورځ په عمرې کولو پسې تللي وي یعني ډیري عمرې اداء کوي او طوافونه لږ کوي. او ځیني بیا داسي دي چي کله کله په دغه ډیرو عمرو سره فخر هم کوي چي ما دومره عمرې کړي دي او څوک چي لږ کوي هغه خلګو ته په حقارت سره ګوري. پوښتنه داده چي دحج کولو په دوران کښې ډیري عمرې افضله دي او که ډېر طوافونه او حال دادی چي کله کله دغه عمرې اداء کول دحرم شریف دجماعت دلمانځه دقضا کولو سبب هم ګرځي.

جواب : علامه ابن عابدین رحمه الله تعالی په (**منحة الخالق حاشیة البحرالرائق**) کښې داسي لیکلي دي : چي ډېر طواف کول تر ډیرو عمرو کولو زیات ثواب لري ځکه چي طواف خپله مقصود بالذات عمل دی، او مشروعیت یې په ټولو حالاتو کښې سته بر خلاف دعمرې چي ځیني علماوو یې ډېروالی مکروه بللی دی. لهذا ډېر طواف کول تر ډیرو عمرو کولو افضل دی او پاته سوه دحرم شریف جماعت پر قضا کول دا خو بیا هیڅکله مناسب او ښه کار نه دی ځکه چي په حرم شریف کښې یو لمونځ په جماعت سره ادا کول په ثواب کښې دیو لک لمونځونو سره برابر دی. او مسلمان ته په حقارت سره کتل هیڅکله هم نه دی رواه.

لما قال ابن عابدين رحمه الله نعالى فى منحة الخالق على صدر البحرالرائق : (تَنْبِيهٌ) : هَلْ إكْثَارُ الطَّوَافِ أَفْضَلُ أَمْ إكْثَارُ الِاعْتِمَارِ وَالْأَظْهَرُ تَفْضِيلُ الطَّوَافِ لِكَوْنِهِ مَقْصُودًا بِالذَّاتِ وَالْمَشْرُوعِيَّةِ فِي جَمِيعِ الْحَالَاتِ، وَلِكَرَاهَةِ بَعْضِ الْعُلَمَاءِ إكْثَارَهَا فِي سَنَتِهِ، وَتَمَامُهُ فِي شَرْحِ اللُّبَابِ . وفى الدرالختار : مَطْلَبٌ الصَّلَاةُ أَفْضَلُ مِنْ الطَّوَافِ وَهُوَ أَفْضَلُ مِنْ الْعُمْرَةِ.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ بِصَلَاةٍ، وَصَلَاتُهُ فِي مَسْجِدِ الْقَبَائِلِ بِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ صَلَاةً، وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي يُجَمَّعُ فِيهِ بِخَمْسِ مِائَةِ صَلَاةٍ، وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى بِخَمْسِينَ أَلْفِ صَلَاةٍ، وَصَلَاتُهُ فِي مَسْجِدِي بِخَمْسِينَ أَلْفِ صَلَاةٍ، وَصَلَاةٌ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ بِمِائَةِ أَلْفِ صَلَاةٍ»

(الدرالمختار ج ۲ ص ۱۸۷ كتاب الحج مكتبه رشيديه / منحة الخالق علي صدر البحرالرائق ج ۲ ص ۵۸۷ مكتبه رشيديه / فتاوى تاتارخانيه ج ۳ ص ۵۰۵ كتاب الحج مكتبه فاروقيه / اصلاح العادات ص ۴۵۶ مكتبه رشيديه / مسائل رفعت قاسمي ج ۵ ص حصه دريم ص ۱۴۱ / معلم الحجاج ص ۱۰۴ / سنن ابن ماجة ج ۱ ص ۴۵۳ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ فِي الْمَسْجِدِ الْجَامِعِ مكتبه شامله)

دتارياكو په روپو باندي حج كول رواه دى كه يا ؟

سوال ۱۹ : دتارياكو په روپو باندي حج كول رواه دى كه يا ؟ او كه چا وكړى غاړي يې خلاصيږي كه يا ؟.

جواب : دتارياكو دكښت دحرمت په باره كښې دعلماء كرامو اختلاف فقط دنن څخه نه دى روان بلكي دكلونو كلونو څخه په دې مسئله كښې دعلماوو او فقهاوو اختلاف راروان دى خو هغه اختلاف پر خپل ځاى باندي بايد پاته سي چي هر څنګه وي ددې فيصله به د زمانې ماهرين فقهاء كرام او متدينه علماء كرام داجماع په شكل سره كوي .

خبره داده چي ددوه حاله څخه خو خالي نه دي . يا به حلال وي يا به حرام وي كه چيري رواه او حلال سي خو بيا سوال نه پيدا كيږي په دې خبره كښې چي حج په كيږي كه نه په كيږي بلكي حج په كيږي دحج كوونكي غاړي خلاصي دي او ثواب پر مرتب دى

.او که چیري حرام وي نو بیا هم دحج فریضه دغاړي څخه اوړي لیکن کوونکي ته بېله دحج مقبول ثواب نسته .والله اعلم.

او په دې مسئله کښې که څوک تفصیلي معلومات غواړي نو دې دغه لاندې ذکر سوو پنځلسو کتابونو او فتاوو ته رجوع وکړي چې په ځینو کښې يې دحلت حکم راغلی دی او په ځینو کښې يې دحرمت حکم راغلی دی.

.والله اعلم بحقیقة الحال وعنده علم المآل.

لماقال العلامة الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار : وَيَجْتَهِدُ فِي تَحْصِيلِ نَفَقَةٍ حَلَالٍ، فَإِنَّهُ لَا يُقْبَلُ بِالنَّفَقَةِ الْحَرَامِ كَمَا وَرَدَ فِي الْحَدِيثِ، مَعَ أَنَّهُ يَسْقُطُ الْفَرْضُ عَنْهُ مَعَهَا وَلَا تَنَافِي بَيْنَ سُقُوطِهِ، وَعَدَمِ قَبُولِهِ فَلَا يُثَابُ لِعَدَمِ الْقَبُولِ، وَلَا يُعَاقَبُ عِقَابَ تَارِكِ الْحَجِّ.

اهـ......ولما في الفتاوى الهندية : وَيَجْتَهِدُ فِي تَحْصِيلِ نَفَقَةٍ حَلَالٍ فَإِنَّهُ لَا يُقْبَلُ الْحَجُّ بِالنَّفَقَةِ الْحَرَامِ مَعَ أَنَّهُ يَسْقُطُ الْفَرْضُ مَعَهَا، وَإِنْ كَانَتْ مَغْصُوبَةً كَذَا فِي فَتْحِ الْقَدِيرِ.

وقال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (وَصَحَّ بَيْعُ غَيْرِ الْخَمْرِ) مِمَّا مَرَّ، وَمُفَادُهُ صِحَّةُ بَيْعِ الْحَشِيشَةِ وَالْأَفْيُونِ.و قال الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار: (قَوْلُهُ وَصَحَّ بَيْعُ غَيْرِ الْخَمْرِ) أَيْ عِنْدَهُ خِلَافًا لَهُمَا فِي الْبَيْعِ وَالضَّمَانِ، لَكِنَّ الْفَتْوَى عَلَى قَوْلِهِ فِي الْبَيْعِ، وَعَلَى قَوْلِهِمَا فِي الضَّمَانِ إنْ قَصَدَ الْمُتْلِفُ الْحِسْبَةَ وَذَلِكَ يُعْرَفُ بِالْقَرَائِنِ، وَإِلَّا فَعَلَى قَوْلِهِ كَمَا فِي التَّتَارْخَانِيَّة وَغَيْرِهَا. ثُمَّ إنَّ الْبَيْعَ وَإِنْ صَحَّ لَكِنَّهُ يُكْرَهُ كَمَا فِي الْغَايَةِ وَكَانَ يَنْبَغِي لِلْمُصَنِّفِ ذِكْرُ ذَلِكَ قُبَيْلَ الْأَشْرِبَةِ الْمُبَاحَةِ، فَيَقُولُ بَعْدَ قَوْلِهِ وَلَا يَكْفُرُ مُسْتَحِلُّهَا: وَصَحَّ بَيْعُهَا إلَخْ كَمَا فَعَلَهُ فِي الْهِدَايَةِ وَغَيْرِهَا، لِأَنَّ الْخِلَافَ فِيهَا لَا فِي الْمُبَاحَةِ أَيْضًا إلَّا عِنْدَ مُحَمَّدٍ فِيمَا يَظْهَرُ مِمَّا يَأْتِي مِنْ قَوْلِهِ بِحُرْمَةِ كُلِّ الْأَشْرِبَةِ وَنَجَاسَتِهَا تَأَمَّلْ. (قَوْلُهُ مِمَّا مَرَّ) أَيْ مِنْ الْأَشْرِبَةِ السَّبْعَةِ (قَوْلُهُ وَمُفَادَهُ إلَخْ) أَيْ مُفَادُ التَّقْيِيدِ بِغَيْرِ الْخَمْرِ، وَلَا شَكَّ فِي ذَلِكَ لِأَنَّهُمَا دُونَ الْخَمْرِ وَلَيْسَا فَوْقَ الْأَشْرِبَةِ الْمُحَرَّمَةِ، فَصِحَّةُ بَيْعِهَا يُفِيدُ صِحَّةَ بَيْعِهِمَا فَافْهَمْ (قَوْلُهُ عَدَمُ الْحِلِّ) أَيْ لِقِيَامِ الْمَعْصِيَةِ بِعَيْنِهَا. وَذَكَرَ ابْنُ الشِّحْنَةِ أَنَّهُ يُؤَدَّبُ بَائِعُهَا وَسَيَأْتِي .

(ردالمحتار ج ۲ ص ۴۵۶ مطلب في من حج بمال حرام سعید چاپ / الفتاوی الهندیة کتاب المناسک / الباب الاول في تفسیر الحج وفرضیته الخ ج ۱ ص ۲۲۰ مکتبه رشیدیه / مجمع الانهر شرح ملتقي الابحر کتاب الحج ج ۱ ص ۲۶۱ دار احیاء التراث العربي بیروت چاپ / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۳۱۰ کتاب الحج اردو / البحر الرائق ج ۲ ص ۳۰۹ کتاب الحج / دافیونو کاروبار دشریعت په رڼا کښې تالیف دمفتي غلام قادر نعماني مفتي دارالافتاء مدرسه حقانیه دارالعلوم اکوړه خټک پیښور / کفایت المفتي ج ۱۱ ص ۴۷ مایتعلق بالبیع الصحیح / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۲۱۶ باب وجوب الزکوة / ج ۵ ص ۸۴ باب مایجوز بیعه ومالایجوز / الدرالمختار مع ردالمحتار کتاب الاشربة ج ۶ ص ۴۵۴ سعید چاپ / الفتاوی الهندیة کتاب الاشربة ج ۵ ص ۴۱۲ مکتبه رشیدیه / احسن الفتاوی ج ۶ ص ۴۹۴ اردو سعید چاپ / حاشیة الطحطاوي علي الدرالمختار کتاب الاشربة ج ۴ ص ۲۲۵ دار المعرفة بیروت چاپ)

په مځکه سره حج فرض کیږي که یا ؟

سوال ۲۰ : یو شخص دی داسي خاص سرمایه نه لري چي دهغه په اعتبار سره پر ده شرعاً حج فرض سي لیکن دومره مال او جایداد لري چي په هغه باندي دی متوسطه ګذاره وکړي که چیري دی دغه جایداد ټوله یا څه حصه وکري یعني کرهڼه او زراعت یې وکړي نو ددغه پیدا وار په قیمت سره دده د تګ او راتګ د حج او داهل وعیال خرڅ یې کیږي تر هغه پوري چي بیا دی د حج څخه راځي لیکن کله چي دی د حج څخه راسي نو بیا هیڅ سامان او روپۍ دی دخپل ځان او داولاد دنفقې دپاره نه لري چي وویې خوري ایا پر داسي کس باندي حج فرض دی که یا ؟

جواب : حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تعالی په امداد الفتاوی کي لیکلي دي چي پر داسي کس باندي حج نه دی فرض .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : وحرر في النهر أنه يشترط بقاء رأس مال لحرفته إن احتاجت لذلك وإلا لا .... وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : (قوله يشترط بقاء رأس مال لحرفته) كتاجر ودهقان ومزارع كما في الخلاصة، ورأس المال يختلف باختلاف الناس بحر. .... ويتايدبما فى

ردالمحتار عن التاتارخانية سئل محمد عمن له أرض يزرعها أو حانوت يستغلها أو دار غلتها ثلاث آلاف ولا تكفي لنفقته ونفقة عياله سنة؟ يحل له أخذ الزكاة وإن كانت قيمتها تبلغ ألوفا وعليه الفتوى وعندهما لا يحل اهـ ملخصا .

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۴۶۲ کتاب الحج مکتبه شامله /ردالمحتار ج ۲ ص ۳۴۸ باب مصرف الزکوة مکتبه شامله / المحیط البرهاني ج ۲ ص ۴۱۸ / البحر الرائق ج۸ ص ۳۱۹ / امدادالفتاوی ج۶ ص ۱۹۰ کتاب العقائد والکلام)

په ناروا پیسو باندي حج کیږي که یا؟

سوال ۲۱: د یو کس سره د سود غلا رشوت دومره پیسي دي چي پرده باندي حج فرض دي په دغه روپو سره که چیري د ی حج وکړي نو حج به اداء کیږي که یا ؟

جواب: که چیري دغه کس په دغه پیسو سره حج وکړي حج به اداء کیږي البته د کومو خلګو پیسي چي یه په ناجایزه طریقه باندي اخیستي دي خپله به هغوی یاد هغوی وارثانو ته دومره پیسي ورکوي یادي په هغوی معاف کړي که داهم ممکن نه وه نو دي دهغوی پر نامه خیرات کړي .

قَالَ فِي الْبَحْرِ وَيَجْتَهِدُ فِي تَحْصِيلِ نَفَقَةٍ حَلَالٍ، فَإِنَّهُ لَا يُقْبَلُ بِالنَّفَقَةِ الْحَرَامِ كَمَا وَرَدَ فِي الْحَدِيثِ، مَعَ أَنَّهُ يَسْقُطُ الْفَرْضُ عَنْهُ مَعَهَا

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۵۲ کتاب الحج مکتبه حبیبیه/مجمع الانهر ج ۱ ص ۳۵۸ بیروت چاپ/الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۲۰ کتاب الحج مکتبه رشیدیه/فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۳۱۰ کتاب الحج/فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۴۱ کتاب الحج/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۴۳۸)

جایدادګروکړي حج ته په ولاړسي داځنګه دی؟

سوال ۲۲: یو کس حج ته تلل غواړي نغدي روپۍ نسته ورسره البته جایداد سته دی دغه جایدادګروکوي او حج ته په ځي ایا په دغه پیسو سره حج ته تللاي سي که یا ؟

جواب: که ددغه کس پر ذمه حج فرض سوی وي نو بیا قرض اخیستل او حج کول صحیح دی پرواه نه لري او جایداد پرداسي طریقه ګروکول چي نفع ئې مرتهن ته

ورسیږي یعني پیسوو الاته رواه نه دی، ځکه چي هغه دقرض په مقابل کښي نفع اخلي او دا یو قسم سود دی او که دمځکي منافع مرتهن وانه خلي نوصحیح دی

لما قال العلامة ابن عابدین الشامي رحمه الله تعالی في ردالمحتار علی الدرالمختار :

وَسِعَهُ أَنْ يَسْتَقْرِضَ وَيَحُجَّ...... أَيْ جَازَ لَهُ ذَلِكَ وَقِيلَ يَلْزَمُهُ الِاسْتِقْرَاضُ

(وأيضا) يُكْرَهُ لِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَنْتَفِعَ بِالرَّهْنِ وَإِنْ أَذِنَ لَهُ الرَّاهِنُ.

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۵۶ کتاب الحج مکتبه حبیبیه/وایضاًج ۵ ص ۳۷۱ باب الرهن/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۴۳۸)

ښځه دخاونددا جازي څخه بغیرهم حج کولای سي؟

سوال ۲۳: دیوي ښځي خاوند وښځي ته دحج اداء کولو اجازه نه ورکوي او دی په خارج کښي دی ایا دغه ښځه دخاوند داجازې څخه پرته حج ته تللای سي که یا؟

جواب: که چیري ددغي ښځي پرذمه حج فرض وي نو دفرض حج لپاره دمحرم شرعي سره بې له اجازي دخاوند تللای سي .

لماقال العلامة الکاساني رحمه الله تعالی في بدائع الصنائع :وَلَوْ كَانَ مَعَهَا مَحْرَمٌ فَلَهَا أَنْ تَخْرُجَ مَعَ الْمَحْرَمِ فِي الْحَجَّةِ الْفَرِيضَةِ مِنْ غَيْرِ إذْنِ زَوْجِهَا عِنْدَنَا. وَعِنْدَ الشَّافِعِيِّ لَيْسَ لَهَا أَنْ تَخْرُجَ بِغَيْرِ إذْنِ زَوْجِهَا....... (وَلَنَا) : أَنَّهَا إذَا وَجَدَتْ مَحْرَمًا فَقَدْ اسْتَطَاعَتْ إلَى حَجِّ الْبَيْتِ سَبِيلًا؛ لِأَنَّهَا قَدَرَتْ عَلَى الرُّكُوبِ، وَالنُّزُولِ وَأَمِنَتْ الْمَخَاوِفَ؛ لِأَنَّ الْمَحْرَمَ يَصُونُهَا

(بدائع الصنائع ج ۲ ص ۳۰۰ فصل في شرائط فرضیته مکتبه حبیبیه/ردالمحتارج ۲ ص ۱۵۸ کتاب الحج مکتبه حبیبیه/البحرالرائق ج ۲ ص ۵۵۲ کتاب الحج مکتبه رشیدیه/مجمع الانهرج ۱ ص ۳۸۷ کتاب الحج/فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۳۳۶ باب اشتراط المحرم للمرأة/فتاوی عبادلارحمن ج ۳ ص ۲۶۱ کتاب الحج/کفایت المفتي ج ۶ ص ۴۳۹ کتاب الحج/فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۴۴۴ کتاب الحج/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۴۴۶)

یوکس دپلارپه پیسوحج اداء کړی حج یې څنګه دی؟

سوال ۲۴: یوکس دپلارپه مال دپلارپه ژوند کښي حج وکړی دپلارتروفات وروسته یې خپل مال او دنیا پیدا کړه ایاپرد باندي دوهم وارحج بیافرض دی که یا ؟

جواب: که ئي چیري اول حج تر بلوغ وروسته کړی وو نو فرض حج يي اداء سو دوهم وار حج نه دی پر فرض په درمختار کښې راغلي دي .

وفي الفتاوى الهندية : وَمِنْهَا الْقُدْرَةُ عَلَى الزَّادِ وَالرَّاحِلَةِ) بِطَرِيقِ الْمِلْكِ أَوْ الْإِجَارَةِ دُونَ الْإِعَارَةِ وَالْإِبَاحَةِ سَوَاءٌ كَانَتْ الْإِبَاحَةُ مِنْ جِهَةِ مَنْ لَا مِنَّةَ لَهُ عَلَيْهِ كَالْوَالِدَيْنِ وَالْمَوْلُودِينَ أَوْ مِنْ غَيْرِهِمْ كَالْأَجَانِبِ كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۱۷ الباب الاول في تفسير الحج مكتبه رشيديه/ردالمحتار ج ۲ ص ۱۵۶ كتاب الحج مكتبه حبيبيه/البحرالرائق ج ۲ ص ۵۴۸ كتاب الحج مكتبه رشيديه/فتاوى محموديه ج ۱۰ ص ۳۰۸ كتاب الحج/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۴۴۸)

دمور اوپلار بي اجازي نفلي حج ته تلل څنګه دي؟

سوال ۲۵: نفلي حج ته وتل بي له اجازي د مور او پلار څخه رواه دي که یا ؟

جواب: نفلي حج باید د مور او پلار د اجازې څخه بغیر نه سي اداء که چیري مور او پلار نه وه راضي نو بیا تلل نه دي پکار .

لما فى الفتاوى الهندية :وَيُكْرَهُ الْخُرُوجُ إِلَى الْحَجِّ إِذَا كَرِهَ أَحَدُ أَبَوَيْهِ إِنْ كَانَ الْوَالِدُ مُحْتَاجًا إِلَى خِدْمَةِ الْوَلَدِ.......... وَطَاعَتُهُمَا أَوْلَى مِنْ حَجِّ النَّفْلِ.

(وفي ردالمحتار) قَوْلُهُ مِمَّنْ يَجِبُ اسْتِئْذَانُهُ) كَأَحَدِ أَبَوَيْهِ الْمُحْتَاجِ إِلَى خِدْمَتِهِ........ وَهَذَا كُلُّهُ فِي حَجِّ الْفَرْضِ. أَمَّا حَجُّ النَّفْلِ فَطَاعَةُ الْوَالِدَيْنِ أَوْلَى مُطْلَقًا كَمَا صَرَّحَ بِهِ فِي الْمُلْتَقَطِ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۹۱ كتاب الحج مكتبه حبيبيه/فتاوى عالمگيريه ج ۱ ص ۲۲۰؛ ۲۲۱ كتاب الحج مكتبه رشيديه/فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۴۸ كتاب الحج/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۴۵۴ رشيديه)

په عده کښې ښځې لره دحج سفر نه دی رواه ؟

سوال ۲۶: یوه ښځه دخپل خاوند د وفات په عده کښې ده او س غواړي چي د دغي عدي په دوران کښې حج ته ولاړه سي ایا شرعاً دې ته د سفر کولو اجازه سته که یا ؟

جواب: کله چي ښځه په زمانه کښې د عدې وي هغه شرعاً د حج فریضه نسي اداء کولاي او تګ يې ناروا ه دی.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :
وَ مَعَ عِدَّةٍ عَلَيْهَا مُطْلَقًا أَيَّةَ عِدَّةٍ كَانَتْ.......... أَيْ فَلَا يَجِبُ عَلَيْهَا الْحَجُّ........ سَوَاءٌ كَانَتْ عِدَّةَ وَفَاةٍ أَوْ طَلَاقٍ بَائِنٍ أَوْ رَجْعِيٍّ

(ردالمحتارج ٢ ص ٤٥٢ كتاب الحج مكتبه حبيبيه/الهداية ج ٢ ص ٤٠٧ مكتبه رحمانيه /البحرالرائق ج ٤ ص ٢٥٩ مكتبه رشيديه/فتاوى حقانيه ج ٤ ص ١١٤ كتاب الحج/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ٦ ص ٤٥٢ رشيديه)

محرم دااحرام په حالت کښي عينکي لګولاي سي که يا؟

سوال ٢٧: محرم او احرام تړونکی کس د احرام په حالت کښې عينکي لګولای سي که يا؟

جواب: محرم د احرام په حالت کښي عينکي لګولای سي خاص حرج نه لري

لماقال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى في بدائع الصنائع :فَجُمْلَةُ الْكَلَامِ فِيهِ أَنَّ مَحْظُورَاتِ الْإِحْرَامِ فِي الْأَصْلِ نَوْعَانِ. نَوْعٌ لَا يُوجِبُ فَسَادَ الْحَجِّ، وَنَوْعٌ يُوجِبُ فَسَادَهُ أما الذي لا يوجب فساد الحج فأنواع :بعضها يرجع إلى اللباس، وبعضها يرجع إلى الطيب وما يجري مجراه من إزالة الشعث، وقضاء التفث، وبعضها يرجع إلى توابع الجماع، وبعضها يرجع إلى الصيد

(بدائع الصنائع ج ٢ ص ١٨٣ بيان ما يحظره الاحرام مكتبه حبيبيه/فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ٦ ص ٤٦٧ باب الجنايات رشيديه)

احرام تړونکي کس دخپل سرتر خريلو مخکښې دبل کس سر خريلای سي؟

سوال ٢٨: متمتع حاجي د خپلي قربانۍ تر حلاليدو او ذبحي وروسته د خپل سر خريلو مخکي د بل چا سر خريلای سي که يا؟.

جواب: حاجي که متمتع وي ،که قارن وي ،که مفرد وي کله چي دغه حاجي د سر تر خريلو مخکني تمام ارکان د حج اداء کړي او د سر خريلو وخت يې راغی او هغه بل محرم حاجي هم د حج ټوله مخکني احکام اداء کړي دي د سر خريل يې پاته دي اوس دغه حاجي لره خپل ويښته خريل ياد بل ويښته خريل د احرام د ممنوعاتو څخه نه دي لهذا دغه حاجي خپله خپل سر هم خريلای سي او د خپل سر د خريلو څخه مخکي

دبل حاجي سرهم خریلای سي کوم خاص حرج او مشکل دغه کار شرعا نه لري البته دسرترخریلو مخکي دي بریتونه او نوکان نه کوچني کوي.

فَلَمَّا رَأَوْا ذَلِكَ قَامُوا، فَنَحَرُوا وَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَحْلِقُ بَعْضًا حَتَّى كَادَ بَعْضُهُمْ يَقْتُلُ بَعْضًا غَمًّا

(صحیح البخاري ج ۱ ص ۳۸۰ قدیمي چاپ/غنیة المناسک ص ۹۳ فصل في الحلق/زبدة المناسک ص ۱۷۶؛ ۱۷۷/فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۱۰۶)

دحاملې ماینې په خاطر مېړه حج ځنډولای سي؟

سوال ۲۹: یریوه خاوند او ښځې دواړو باندي حج فرض دی لیکن ښځه یې حمل په نس لري او دولادت امکان یي سته په حج کښې ایا دغه مېړه ددغي خپلي ښځې دحمل دعذر په خاطر خپل حج شرعاً ځنډولای سي وراتلونکي کال ته که یا ؟

جواب: صحیح قول دفقهاؤ دادی چي کله حج فرض سي پر انسان باندي نودی دي په هم هغه کال حج ته ولاړسي او بیله عذر شرعي دي ځنډ نه کوي حدیث شریف کښي راغلي چاچي دحج اراده وکړه نودی دي تلواره وکړي لهذا خاوند دي سږکال حج ته ولاړ سي خپل حج دي نه ځنډوي او ښځه دي په راتلونکي کال ددغه خاوند سره یادبل شرعي محرم سره حج اداء کړي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في الدرالمختار على هامش ردالمحتار

:فُرِضَ....... مَرَّةً....... عَلَى الْفَوْرِ) فِي الْعَامِ الْأَوَّلِ عِنْدَ الثَّانِي وَأَصَحُّ الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ الْإِمَامِ وَمَالِكٍ وَأَحْمَدَ فَيُفَسَّقُ وَتُرَدُّ شَهَادَتُهُ بِتَأْخِيرِهِ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۲ ص ۱۹۱ کتاب الحج مکتبه حبیبیه/الهدایة ج ۱ ص ۲۱۲ کتاب الحج مکتبه رحمانیه/زجاجة المصابیح ج ۲ ص ۹۲ کتاب المناسک/فتاوی رحیمیه ج ۸ ص ۴۸)

دولوراداء کول مخ ته دي که دحج اداء کول؟

سوال ۳۰: که پریوچا حج فرض سوی وي خوبل طرف ته دکوزدې ولورهم پر باندي وي او س یي ښځه دحج اداء کولو ته نه پرېږدي او وایي چي مهرژر اداء کړه او دی نوري روپي هم نه لري ماسوا ددغه حج تر روپو اوس ددغه کس پر ذمه دحج اداء کول مخ ته دي او که دولوراداء کول؟

جواب: په داسي صورت کښې چي ښځه منع کوي د حج څخه او د خپل مهر غوښتنه کوي نو دده پر ذمه لازمه ده چي حج وځنډوي او مهر اداء کړي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :
قَوْلُهُ مِمَّنْ يَجِبُ اسْتِئْذَانُ......... وَكَذَا الْغَرِيمُ لِمَدْيُونٍ لَا مَالَ لَهُ يَقْضِي بِهِ، وَالْكَفِيلُ لَوْ بِالْإِذْنِ، فَيُكْرَهُ خُرُوجُهُ بِلَا إذْنِهِمْ كَمَا فِي الْفَتْحِ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۵۲ کتاب الحج مکتبه حبیبیه/فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۶ ص ۴۵۵ کتاب الحج رشیدیه)

حج مقدم دی که نکاح او واده کول ؟

سوال ۳۱: د یو سړي سره دومره اندازه مال سته چي حج په وکړي مګر دی واده او کوزده نه لري ایا دی اول نکاح وکړي که حج اداء کړي ؟

جواب: که چیري د حج د فارمونو د داخلولو زمانه وه او داسي وخت دی چي خلګ د حج په تیاریو مصروفه دي پیسي ورته جمع کوي د حج داخله شروع ده د حکومت له خوا یا د شرکتونو د خوا او بل طرف ته په زناء کښې العیاذ بالله د مبتلا کیدو اند یښنه او خطره هم نه وه نو دي اوله حج وسي او بیا دي نکاح وسي او که چیري دغه کس پر خپل ځان د قابو کیدو قدرت نه درلودی او په زناء کښې العیاذ بالله د مبتلا کیدو خطره وه نو دي او له نکاح وکړي بیا دي حج وروسته اداء کړي

(درمختار او شامي ج ۲ ص ۱۹۷) په معلم الحجاج کښې لیکلي دي :

(مسئله) که چیري د یو شخص سره روپي وي د حج د فریضي د اداء کولو او غواړي چي نکاح هم وکړي نو که چیري د حاجیانو د تللو زمانه وه نو پر ده حج کول واجب دی او که د حاجیانو د تللو زمانه او وخت نه وؤ نو نکاح کولای سي او که یې یقین وؤ که چیري نکاح ونه کړم نو په زناء کښې به العیاذ بالله مبتلا سم نو او له دي نکاح وکړي بیا دي وروسته حج وکړي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :
وَفِي الْأَشْبَاهِ مَعَهُ أَلْفٌ وَخَافَ الْعُزُوبَةَ إنْ كَانَ قَبْلَ خُرُوجِ أَهْلِ بَلَدِهِ فَلَهُ التَّزَوُّجُ وَلَوْ وَقْتَهُ لَزِمَهُ

الْحَجُّ...... وَفِي الْأَشْبَاهِ) الْمَسْأَلَةُ مَنْقُولَةٌ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ فِي تَقْدِيمِ الْحَجِّ عَلَى التَّزَوُّجِ........ وَلِذَا اعْتَرَضَهُ ابْنُ كَمَالٍ بَاشَا فِي شَرْحِهِ عَلَى الْهِدَايَةِ بِأَنَّهُ حَالَ التَّوَقَانِ مُقَدَّمٌ عَلَى الْحَجِّ اتِّفَاقًا لِأَنَّ فِي تَرْكِهِ أَمْرَيْنِ تَرْكُ الْفَرْضِ وَالْوُقُوعُ فِي الزِّنَا وَجَوَابُ أَبِي حَنِيفَةَ فِي غَيْرِ حَالِ التَّوَقَانِ اهـ أَيْ فِي غَيْرِ حَالِ تَحَقُّقِهِ الزِّنَا لِأَنَّهُ لَوْ تَحَقَّقَهُ فُرِضَ التَّزَوُّجُ أَمَّا لَوْ خَافَهُ فَالتَّزَوُّجُ وَاجِبٌ لَا فَرْضٌ فَيُقَدَّمُ الْحَجُّ الْفَرْضُ عَلَيْهِ فَافْهَمْ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۹۷ كتاب الحج مكتبه حبيبيه/معلم الحجاج ص ۹۱/فتاوى رحيميه ج ۸ ص ۴۵/فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۴۵۹ كتاب الحج)

ايادحاجيانواستقبال او دهغوی مخ ته ورتلل رواه دي كه يا ؟

سوال ۳۲: نن سبا دغه رواج رارواندی چې کله حاجي د حج څخه راځي نو خلک په ډلوډلو دهغه مخ ته ورځي داستقبال لپاره ايا دغه طريقه په شريعت مقدسه کښې کوم اصل او جواز لري که يا؟

جواب: د حاجيانو صاحبانو استقبال کول د ثواب کار دی د حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم وفرمايل کله چې ستاسي ملاقات د حاجي سره وسي نو سلام ورته وکړئ او مصافحه ورسره سره وکړئ او د خپل ځان لپاره ور څخه د مغفرة دعاء وغواړئ له مخه تردې چې دی خپل کورته ورسيږي بې شکه حاجي بخښل سوی دی او د حضرت حسن رضي الله عنه څخه روايت دی چې کله حاجي حج ته روانيږي نو دهغوی د رخصت کېدو لپاره ولاړسئ او د خير د دعاء غوښتنه ځني وکړي او کله چې د حج څخه راسي نو دهغه سره روغبړ او مصافحه وکړئ له مخه تردې چې دی د دنيا په کاروکښې مصروفه سي او په ګناهونو مبتلاسي بې شکه د دوی په لاس کښې برکت دی (الحديث) رسول الله صلي الله عليه وسلم دعاء کړې ده (اللهم اغفر للحاج ولمن استغفر له الحاج) اي الله د حاجي مغفرت وکړي او دهغه چا چې حاجي ورته د مغفرت دعاء کړې ده.

وقال صلى الله عليه وسلم اللهم اغفر للحاج ولمن استغفر له الحاج .

(احياء علوم الدين ج ۱ ص ۳۱۱ كتاب اسرار الحج/فتاوى رحيميه ج ۸ ص ۳۱ كتاب الحج)

باب الحج عن الغير

دمور او پلار پر ځای باندي حج کول او دهغه طريقه .

سوال ۱: که چيري ديو کس مور او پلار مړه وي يا ژوندي وي خو حج پر فرض سوی وي ليکن ديوه عذر شرعي دوجي څخه حج ته نه سي تللای او س دی غواړي چي دهغوی پر ځای حج اداء کړي دااداء کولو طريقه يې څنګه ده ؟

جواب : فقهاء کرامو ليکلي دي پرکوم شخص باندي چي حج فرض سوی وي او بيا يې دی دااداء کولو څخه عاجزه سوی وي يا دمرګ دوجي څخه يا ديوه شرعي عذر دوجي څخه او بيا يې ددې خپل حج دااداء کولو وصيت هم وارثانو ته کړی وي نو ددغه مړه کس دمال ددريمي حصې څخه حج بدل اداء کيږي . او که چيري ددريمې حصې څخه يې اداء کول ممکن نه وي نو بيا که چيري ټوله وارثان بالغ او حاضر وي او دټوله مال څخه ددغه مړي دحج دااداء کولو اجازه ورکړي نو بيا دټوله مال څخه يې اداء کول هم درست او صحيح دي . او که يې چيري وصيت نه وي کړی دده دوصيت څخه بغير وارثان را ولاړيږي لکه زوی يا لور وغيره ددغه مړي دپاره دخپله ماله څخه حج وکړي نو داخبره ليري نه ده بلکي اميد سته چي الله جل جلاله به دغه حج قبول کړي او دهغه دګناهونو دمغفرت سبب به يې وګرځوي . او دااداء کولو طريقه يې هم داده چي دتلبيې (لبيک) ويلو په وخت کښې ددغه مړه له طرفه دحج اداء کولو نيت وکړي داسي چي: يا الله زه دفلانکي شخص د طرفه څخه حج اداء کوم راته اسانه يې کړې او را څخه قبول يې کړي . افضله داده چي دمړي نوم ورسره واخلي .البته که يې فقط په زړه کښې وويل هم کافي دي .

وفی الفقه الاسلامي وادلته : اشترط الحنفية عشرين شرطاً للحج عن الغير أذكرها مع آراء الفقهاء الآخرين . نية النائب عن الأصيل عند الإحرام؛ لأن النائب يحج عن الأصيل لاعن نفسه، فلا بد من نيته، والأفضل أن يقول بلسانه: أحرمت عن فلان، ولبيت عن فلان، فيقول مثلاً: نويت الحج عن فلان وأحرمت به لله تعالى، ولبيك عن فلان، كما إذا حج عن نفسه، ولو نسي اسمه فنوى عن الأصيل صح، وتكفي نية القلب. وهذا الشرط متفق

عليه..... وفى ردالمحتار : وَقَدَّمْنَا أَنَّ الْوَارِثَ لَيْسَ لَهُ الْحَجُّ بِمَالِ الْمَيِّتِ إِلَّا أَنْ تُجِيزَ الْوَرَثَةُ وَهُمْ كِبَارٌ.

(الفقه الاسلامي وادلته ج ۳ ص ۴۹ / ۵۵ كتاب الحج / ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۶۰۶ باب الحج عن الغير مكتبه شامله / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۵ ص ۲۸۳ حج بدل / فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۴۰۴ باب الحج عن الغير)

يو كس حج كړی دی اوس دبل پرځای باندي حج ته ځي ؟

سوال ۲: يو كس خپل حج كړی دی اوس دی د بل چا مړه كس مرحوم لپاره حج كوي بېله نيته د هغه او بيا يې هغه ته وربخښي ايا پر داسي طريقه حج اداء كېږي كه يا ؟

جواب: دغه مرحوم كس چي وفات سوی دی كه چيري په خپل ژوند كي پر ده حج فرض سوی ؤ او ته غواړې چي د ده له طرفه څخه حج بدل وكړې نو بيا به نيت او احرام د دغه مړه له طرفه كوې او كه نه وي نو فرض حج يې نه اداء كېږي، او كه ته د هغه له طرفه نفلي حج كوې نو نيت او احرام تړل د ده له طرفه ضروري نه دي د ثواب په بخښنلو سره وده ته ثواب رسېږي.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرمختار : و بشرط (نية الحج عنه) أي عن الآمر فيقول أحرمت عن فلان ولبيت عن فلان ولو نسي اسمه فنوى عن الآمر صح وتكفي نية القلب

ولماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : قوله (ولو نسي اسمه الخ) ولو أحرم مبهما أي بأن أحرم بحجة وأطلق النية عن ذكر المحجوج عنه فله أن يعينه من نفسه أو غيره قبل الشروع في الأفعال كما في اللباب وشرحه

(الدرمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۲۵۸ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۳ ص ۱۱۲ مكتبه رشيديه / ارشادالساري ص ۲۹۲ مكتبه مصطفي / فتاوی محموديه ج ۱۰ ص ۴۰۵ اردو / اپ كي مسائل ج ۵ ص ۳۹۹ اردو)

باب العمرة

زموږ په مذهب کي عمره کول واجب ده که سنت ؟

سوال ۱: عمره کول تر حج مخته یا وروسته واجب ده سنت ده مستحب ده شرعًا کومه درجه لري؟.

جواب: د امام ابو حنیفه صاحب رحمه الله تعالی په مذهب کي عمره اداء کول سنت عمل دی او د کال په ټولو میاشتو او ورځو کي صحیح او رواه ده فقط پنځه ورځي داسي دي چي په هغو کي عمره کول مکروه ده د عرفات ورځ، د لوی اختر ورځ، او وروسته د تکبیرونو ورځي ځکه چي دا ورځي د حج د اداء کولو دي .

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار: قوله (والعمرة في العمر مرة سنة مؤكدة) أي إذا أتى بها مرة فقد أقام السنة غير مقيد بوقت غير ما ثبت النهي عنها فيه إلا أنها في رمضان أفضل هذاإذا أفردها فلا ينافيه أن القران أفضل لأن ذلك أمر يرجع إلى الحج لا العمرةفالحاصل أن من أراد الإتيان بالعمرة على وجه أفضل فيه فبأن يقرن معه عمرة فتح فلا يكره الإكثار منها خلافا لمالك بل يستحب على ما عليه الجمهور وقد قيل سبع أسابيع من الأطوفة كعمرة شرح اللباب

وفي الهنديه : وَوَقْتُهَا جَمِيعُ السَّنَةِ إلَّا خَمْسَةَ أَيَّامٍ تُكْرَهُ فيها الْعُمْرَةُ لِغَيْرِ الْقَارِنِ كَذَا في فَتَاوَى قَاضِي خَانْ وَهِيَ يَوْمُ عَرَفَةَ وَيَوْمُ النَّحْرِ وَأَيَّامُ التَّشْرِيقِ وَالْأَظْهَرُ من الْمَذْهَبِ ما ذَكَرْنَا وَلَكِنْ مع هذا لو أَدَّاهَا في هذه الْأَيَّامِ صَحَّ وَيَبْقَى مُحْرِمًا بها فيها كَذَا في الْهِدَايَةِ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۱۶۴ مکتبه رشیدیه الفتاوی هندیه ج ۱ ص ۲۳۷ مکتبه رشیدیه بدائع الصنائع ج ۲ ص ۴۷۸ مکتبه رشیدیه فقه الاسلامي وادلته ج ۳ ص ۲۰۷۵ مکتبه حبیبیه خلاصة الفتاوی ج ۱ ص ۲۷۶ مکتبه رشیدیه فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۰۰)

ایا په عمرې کولو سره حج فرض کیږي که یا ؟

سوال ۲ : که چیري یو کس په داسي حال کښې عمرې ته ولاړ سي چي حج یې نه وي کړی ایا د دغي عمرې په اداء کولو سره پر دغه کس باندي حج فرض کیږي که یا ؟

جواب : که چیري دغه کس دغه عمره د حج د ورځو څخه علاوه په نورو ورځو کښې وکړه نو حج نه باندي فرض کیږي . او که چیري دغه کس دا عمره د حج په ورځو کښې اداء کړه نو بیا په دغه شرط سره چي دده پاته کیدل به هلته د حج د اداء کولو تر ورځو پوري ممکن وي نو بیا حج باندي فرض کیږي او که دده پاته کیدل هلته ممکن نه وي نو بیا نه فرض کیږي . **خلاصه** : دا چي د حج د فرضیت د پاره دوه شرطونه دي : **اول** : د حج ورځي . **دوهم** : دا چي هلته امکان د پاته کېدلو د حج تر ورځو پوري وي .

شیخ الاسلام علامه محمد تقي عثماني دامت برکاته العالیة په فتاوی عثماني د حج بدل په مسئله کي لیکلي دي که چیري پر دغه کس باندي مخکي حج نه وو فرض نو تحقیق دعلماوو هم دغه دی چي صرف په حج بدل کولو سره حج نه فرض کیږي تر څه وخته چي یې خپله د حج کولو وس او طاقت نه وي پیدا کړی . نو چي په حج بدل کولو سره لا حج نه فرض کیږي چي اشهري د حج هم دي نو په عمرې اداء کولو سره خو په طریقه اولی نه فرض کیږي . والله اعلم بالصواب هذا ماعندنا ولعل غیرنا اقدر علی هذا

لما قال العلامة ابن عابدين محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ۱۲۵۲هـ) رحمه الله تعالي في العقود الدرية في تنقيح الفتاوى الحامدية بعد بحث طويل : (أَقُولُ) وَقَدْ أَلَّفَ سَيِّدِي عَبْدُ الْغَنِيِّ النَّابُلُسِيُّ رِسَالَةً فِي ذَلِكَ جَنَحَ فِيهَا إلَى عَدَمِ الْوُجُوبِ وَنَقَلَ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ أَنَّ السَّيِّدَ أَحْمَدَ بَادْشَاهْ أَلَّفَ رِسَالَةً فِي الْوُجُوبِ وَاَللَّهُ تَعَالَى أَعْلَمُ.

و لما قال العلامة ابن عابدين محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ۱۲۵۲هـ) رحمه الله تعالي في الدرالمختار : اهـ. قلت: وقد أفتى بالوجوب مفتي دار السلطنة العلامة أبو السعود، وتبعه في سكب الأنهر، وكذا أفتى السيد أحمد بادشاه، وألف فيه رسالة. وأفتى سيدي عبد الغني النابلسي بخلافه وألف فيه رسالة لأنه في هذا العام لا يمكنه الحج عن نفسه لأن سفره بمال الآمر فيحرم عن الآمر ويحج عنه، وفي

تكليفه بالإقامة بمكة إلى قابل ليحج عن نفسه ويترك عياله ببلده حرج عظيم، وكذا في تكليفه بالعود وهو فقير حرج عظيم أيضا.

(العقود الدرية في تنقيح الفتاوى الحامدية ج ١ ص ١٤ كتاب الحج مكتبه شامله بيروت / الدر المختار مع رد المحتار ج ٢ ص ٦٠٤ مطلب في الفرق بين العبادة والقربة والطاعة مكتبه شامله / الفتاوى الهندية ج ١ ص ٢١٧ مكتبه رشيديه / ارشاد الساری ص ٣٢ مبحث في تحقيق الراحلة / فتاوى عثماني ج ٢ ص ٢٢٢ كتاب الحج اردو / ستاسي مسائل او دهغه حل ج ٥ ص ٢٤٢ باب فريضة الحج والعمرة / فتاوی رحمانيه ج ٢ ص ١٧٠ كتاب الحج)

كتاب النكاح

باب شرائط النكاح

دخطبې په نه ويلوسره نكاح صحيح كيږي كه يا؟

سوال ۱: كه چيري په مجلس دعقد كښي دشاهدانو په حضور كښې صرف ايجاب اوقبول وسي خطبه ونه ويل سي ايا دانكاح شرعاً صحيح سوه كه يا ؟

جواب: دنكاح په شرائطو كښې صرف دشاهدانو حضور اوايجاب اوقبول راغلی دی يعني كه چيري خطبه ونه ويل سي خو ايجاب اوقبول وسي دشاهدانو په حضور كښې نو دانكاح شرعا هيڅ مشكل نلري البته دخطبې ويل مستحب عمل دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار :وَيُنْدَبُ إِعْلَانُهُ وَتَقْدِيمُ خُطْبَةٍ وَكَوْنُهُ فِي مَسْجِدِ يَوْمِ جُمُعَةٍ .... وَيَنْعَقِدُ مُتَلَبِّسًا بِإِيجَابٍ مِنْ أَحَدِهِمَا وَقَبُولٍ مِنْ الْآخِرِ... وَشُرِطَ سَمَاعُ كُلٍّ مِنْ الْعَاقِدَيْنِ لَفْظَ الْآخَرِ لِيَتَحَقَّقَ رِضَاهُمَا. وَ شُرِطَ حُضُورُ شَاهِدَيْنِ حُرَّيْنِ أَوْ حُرٌّ وَحُرَّتَيْنِ مُكَلَّفَيْنِ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۳ ص ۹؛ ۲۱؛ ۲۲ كتاب النكاح سعيد چاپ/الهداية ج ۲ ص ۳۰۵؛ ۳۰۶ كتاب النكاح مكتبه شركة علميه ملتان/النهرالفائق شرح كنزالدقائق ج ۲ ص ۱۷۶ كتاب النكاح مكتبه امداديه ملتان/فتاوى محموديه ج ۱۰ ص ۴۷۱ كتاب النكاح/فتاوى فريديه ج ۴ ص ۳۷۷ باب رسم النكاح وشرائطه وآدابه)

دنكاح تړلو خطبه فرض ده كه سنت ؟

سوال ۲: د نكاح تړلو په وخت كښې چي امام خطبه وايي دغه خطبه ويل فرض ده كه سنت او اصلي بايد په ناسته وويل سي كه په ولاړه؟

جواب: د نكاح تړلو په وخت كښې خطبه ويل چي مشتمله ده پر آياتونو او احاديثو باندي دغه خطبه سنت ده نه فرض ده نه واجب بيله خطبې ويلو هم نكاح درسته او صحيح ده، هم په ولاړه ويل صحيح ده هم په ناسته دا كابرينو او ددين دبزرګانو عمل په ناسته راغلی دی.

لماقال ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : قوله (وتقديم خطبة) بضم الخاء ما يذكر قبل إجراء العقد من الحمد والتشهد وأما بكسرها فهي طلب التزوج وأطلق الخطبة فأفاد أنها لا تتعين بألفاظ مخصوصة وإن خطب بما ورد فهو أحسن ومنه ما ذكره ط عن صاحب الحصن الحصين من لفظه عليه الصلاة والسلام وهو الحمد لله نحمده ونستعين به ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا من يهد الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله { يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله حق تقاته ولا تموتن إلا وأنتم مسلمون }.

ولماقال ابن نجيم المصري الحنفي في البحر : وفي الْمُجْتَبَى يُسْتَحَبُّ أَنْ يَكُونَ النِّكَاحُ ظَاهِرًا وَأَنْ يَكُونَ قَبْلَهُ خُطْبَةٌ وَأَنْ يَكُونَ عَقْدُهُ في يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَأَنْ يَتَوَلَّى عَقْدَهُ وَلِيٌّ رَشِيدٌ وَأَنْ يَكُونَ بِشُهُودٍ عُدُولٍ منها

(ردالمحتارج ۲ ص ۲۸۴ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۳ ص ۱۴۴ مکتبه رشیدیه / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۰۷ جدید کتب خانه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۱۳۷ پښتو / فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۲۷۷ اردو)

صرف په دعوې سره چي شاهدان نه وي نکاح نه صحیح کیږي .

سوال ۳ : یو کس دغه دعوه کوي چي زید ماته خپل لور راکړیده او حال دا چي زید مړ دی او دغه دعوه کوونکی یو شاهد هم د دغه نکاح پر وجود باندي نه لري ایا د شریعت د نګاه څخه دغه ښځه بغیر د شاهدانو څخه د دغه سړي په نکاح کیږي که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي : چي د نکاح د انعقاد د پاره د دوو شاهدانو موجوده کېدل ضروري دي تر څه وخته چي پر دغه دعوه باندي دوه کسه داسي شاهدان نه وي چي هغوی د دغه نکاح د تړلو په وخت کښې موجود نه وي تر هغه وخته یې نکاح نه صحیح کیږي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (وَ) شُرِطَ (حُضُورُ) شَاهِدَيْنِ (حُرَّيْنِ) أَوْ حُرٌّ وَحُرَّتَيْنِ (مُكَلَّفَيْنِ سَامِعَيْنِ قَوْلَهُمَا مَعًا) . وقال العلامة الكاساني رحمه الله

تعالی فی البدائع والصنائع : وَمِنْهَا سَمَاعُ الشَّاهِدَيْنِ كَلَامَ الْمُتَعَاقِدَيْنِ جَمِيعًا حَتَّى لَوْ سَمِعَا كَلَامَ أَحَدِهِمَا دُونَ الْآخَرِ أَوْ سَمِعَ أَحَدُهُمَا كَلَامَ أَحَدِهِمَا وَالْآخَرُ كَلَامَ الْآخَرِ لَا يَجُوزُ النِّكَاحُ؛ لِأَنَّ الشَّهَادَةَ أَعْنِي حُضُورَ الشُّهُودِ شَرْطُ رُكْنِ الْعَقْدِ،

(الدرالمختار كتاب النكاح ج ۳ ص ۲۱ سعيد چاپ / بدائع الصنائع ، كتاب النكاح ، عدالة الشاهدين ج ۲ ص ۵۲۷ مكتبه رشيديه / ملتقي الابحر ، كتاب النكاح ج ۱ ص ۴۷۲ مكتبه رشيديه / كفايت المفتي ج ۶ ص ۵۰۹ مايتعلق بالشهود)

دمرګې په ورځ يوه ښځه ورښوول بيا دنکاح په ورځ بله ورکول .

سوال ۴ : ځيني کورنۍ نن سبا دغه عادت لري چي کله يو ځوک ددوی کورته ددوستۍ دپاره په مرکه باندي ورسي نو دوی يوه انجلۍ ورونبيي او بيا دنکاح په وخت کښې نوم دبلي انجلۍ واخلي ايا دشريعت دنګاه څخه دا کار رواه دی که يا ؟ .

جواب : دا اسلام دين يو داسي مکمل دين دی چي دهر قسم چم او چمبازۍ او ټګۍ څخه پاک دين دی دغه ذکر سوی صورت په حقيقت کښې چم او خطايستل دي او دخطا ايستلو سره يو قسم ظلم هم دی دائکه چي دوو مسلمانانو راروان ګډ ژوند خرابول دي او دا ښکاره خبره ده چي ديو چا ژوند او زندګي ته به ځايه او بې وجي مشکل جوړول شرعا ظلم دی .لهذا دا عمل شرعا ناروا ه عمل چي اجتناب او پرهېز ځيني کول لازمي دی .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا، وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا . عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَرَّ بِرَجُلٍ يَبِيعُ طَعَامًا، فَأَعْجَبَهُ، فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهِ، فَإِذَا هُوَ طَعَامٌ مَبْلُولٌ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ غَشَّنَا»

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " كُونُوا عِبَادَ اللهِ إِخْوَانًا، لَا تَعَادَوْا، وَلَا تَبَاغَضُوا، سَدِّدُوا، وَقَارِبُوا، وَأَبْشِرُوا "

(صحيح مسلم ج ۱ ص ۹۹ مكتبه شامله بيروت چاپ / سنن ابن ماجة ج ۲ ص ۷۴۹ باب النهي عن الغش مكتبه شامله بيروت چاپ / مصنف ابن ابي شيبة ج ۲ ص ۱۳۳ مكتبه شامله بيروت چاپ / مسند احمد ابن حنبل ج ۹ ص ۱۲۳ مكتبه شامله بيروت چاپ/ ج ۱۵ ص ۴۷۵)

هلک اوانجلۍ که چیري دقریبانو دحضور څخه بغیر د دوو شاهدانو په حضور کښې نکاح سره وکړي.

سوال ۵: که چیري یو هلک او انجلۍ په نکاح کولو سره راضي وي او بیا د قریبانو دحضور څخه بغیر د عامو دوو کسانو په حضور کښې چې شرعا اهل دشاهدۍ وي نکاح سره وکړي نکاح یې صحیح کیږي که یا ؟

جواب : فقهاء کرامو لیکلي دي کومه انجلۍ چې پلار یې پر سرباندې نګران او ولي وي نو دهغې دپاره داسې اقدام کول چې خپله نکاح پر خپل سرباندې دبل چا سره وکړي مناسب او ښه کار نه دی. خو بیا هم که چیري دوه دشرعي شاهدانو په حضور کښې ایجاب او قبول سره وکړي نو یې نکاح شرعا درسته او صحیح ده.

البته که چیري دغه نکاح په کفو کښې نه وه نو دانجلۍ واولیاوو ته داعتراض اودنکاح د فسخ کولو او ختمولو اختیار حاصل دی.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (فَنَفَذَ نِكَاحُ حُرَّةٍ مُكَلَّفَةٍ بِلَا) رِضَا (وَلِيٍّ) .... وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : يُسْتَحَبُّ لِلْمَرْأَةِ تَفْوِيضُ أَمْرِهَا إلَى وَلِيِّهَا كَيْ لَا تُنْسَبَ إلَى الْوَقَاحَةِ بَحْرٌ ..... وفى الدرالمختار :(وَلَهُ) أَيْ لِلْوَلِيِّ (الِاعْتِرَاضُ فِي غَيْرِ الْكُفْءِ) وفى ردالمحتار : (قَوْلُهُ فِي غَيْرِ الْكُفْءِ) أَيْ فِي تَزْوِيجِهَا نَفْسَهَا مِنْ غَيْرِ كُفْءٍ، وَكَذَا لَهُ الِاعْتِرَاضُ فِي تَزْوِيجِهَا نَفْسَهَا بِأَقَلَّ مِنْ مَهْرِ مِثْلِهَا، حَتَّى يَتِمَّ مَهْرُ الْمِثْلِ أَوْ يُفَرِّقَ الْقَاضِي كَمَا سَيَذْكُرُهُ الْمُصَنِّفُ فِي بَابِ الْكَفَاءَةِ (قَوْلُهُ فَيَفْسَخُهُ الْقَاضِي) فَلَا تَثْبُتُ هَذِهِ الْفُرْقَةُ إلَّا بِالْقَضَاءِ لِأَنَّهُ مُجْتَهَدٌ فِيهِ وَكُلٌّ مِنْ الْخَصْمَيْنِ يَتَشَبَّثُ بِدَلِيلٍ، فَلَا يَنْقَطِعُ النِّكَاحُ إلَّا بِفِعْلِ الْقَاضِي وَالنِّكَاحُ قَبْلَهُ صَحِيحٌ يَتَوَارَثَانِ بِهِ إذَا مَاتَ أَحَدُهُمَا قَبْلَ الْقَضَاءِ وَهَذِهِ الْفُرْقَةُ فَسْخٌ لَا تُنْقِصُ عَدَدَ الطَّلَاقِ، وَلَا يَجِبُ عِنْدَهَا شَيْءٌ مِنْ الْمَهْرِ إنْ وَقَعَتْ قَبْلَ الدُّخُولِ وَبَعْدَهُ لَهَا الْمُسَمَّى

(الدرالمختارمع ردالمحتار كتاب النكاح باب الولي ج ۳ ص ۵۵ مكتبه شامله بيروت چاپ / البحر الرائق كتاب النكاح باب الاوليآء والاكفاء ج ۳ ص ۱۹۳ مكتبه رشيديه / حاشية الطحطاوي علي

الدرالمختار کتاب النکاح باب الولي ج ۲ ص ۲۶ دارالمعرفة بیروت چاپ / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۵۰۰ باب النکاح الصحیح / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۵۲ مکتبه رشیدیه)

نکاح کول فرض عمل دی که سنت عمل دی ؟

سوال ۶: نکاح کول فرض دي که سنت او دا دي کار څه حقوق او څه فائدې دي؟

جواب: نکاح د نبي کریم سنت طریقه ده او د نکاح کولو ډیري فائدې په احادیثو کي راغلي دي.

مثلا د نمونې په ډول په حدیث شریف کښي راځي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي نکاح کول د انسان د سترګو محافظ او دهغه د شرم د اندامونو لپاره د پاکي لویه ذریعه ده یوار نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چي کله یو بنده نکاح وکړي نو ده نیم دین مکمل کړي او په بل ځای کښې یې وفرمایل د اولاد زیږیدونکي ښځي سره واده وکړئ او نسل زیات کړئ، څوک چي د وس باوجود د نکاح کولو څخه بې رغبتي او ډډه کوي دهغه متعلق ارشاد دی چي دغه سړی زما پر طریقه نه دی.

او فقهاء کرامو لیکلي دي نکاح کول د شهوت په وخت کي واجب ده ، او که چیري په زنا کي د مبتلا کېدو خطره وه العیاذ بالله نو فرض ده خو په دې شرط چي پر مهر او نفقې د ښځي قدرت ولري او په عامو حالاتو کي بیا سنت مؤکد ده او د ظلم او زیاتي د احتمال په صورت کي مکروه ده او دیقین په صورت کي حرامه ده .

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَيَكُونُ وَاجِبًا عِنْدَ التَّوَقَانِ) فَإِنْ تَيَقَّنَ الزِّنَا إلَّا بِهِ فُرِضَ نِهَايَةٌ وَهَذَا إنْ مَلَكَ الْمَهْرَ وَالنَّفَقَةَ، وَإِلَّا فَلَا إثْمَ بِتَرْكِهِ بَدَائِعُ (وَ) يَكُونُ (سُنَّةً) مُؤَكَّدَةً فِي الْأَصَحِّ فَيَأْثَمُ بِتَرْكِهِ وَيُثَابُ إنْ نَوَى تَحْصِينًا وَوَلَدًا (حَالَ الِاعْتِدَالِ) أَيْ الْقُدْرَةِ عَلَى وَطْءٍ وَمَهْرٍ وَنَفَقَةٍ وَرَجَّحَ فِي النَّهْرِ وُجُوبَهُ لِلْمُوَاظَبَةِ عَلَيْهِ وَالْإِنْكَارِ عَلَى مَنْ رَغِبَ عَنْهُ (، وَمَكْرُوهًا لِخَوْفِ الْجَوْرِ) فَإِنْ تَيَقَّنَهُ حَرُمَ ذَلِكَ

(صحیح البخاري ج ۲ ص ۷۵۷ قدیمي / الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۲۸۲ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۳ ص ۱۴۲ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۶۷ مکتبه رشیدیه / فتاوی حقانیة ج ۳ ص ۵۱۳ پښتو)

که دنان اونفقي قدرت وي نوواده کول افضل دی؟

سوال ۷: دیو کس ښځه مړه سوه اودغه سړی اوس دبلي ښځي دفرض نفقې اومهر وس ولري او اوس وایي چي بیله واده ځخه ژوند کوم دغه سړي ته نکاح کول افضل دي اوکه یوازي اوسیدل افضل دي؟

جواب: د داسي شخص لپاره په نکاح کولو کښي خیردی اونکاح کول افضل کاردی بلکي سنت مؤکد عمل دی عکاف بن بشر تمیمي یو صحابي دی یوه ورځ دنبي کریم صلي الله علیه وسلم په خدمت کي حاضر سو نبي کریم صلي الله علیه وسلم پو ښتنه ځني وکړه چي عکافه ښځه دي سته ده وویل چي نسته نبي کریم صلي الله علیه وسلم پوښتنه وکړه مینځه دي سته ده وویل چي نسته نوبیا یي ورته وفرمایل چي وس او طاقت هم لري او خوشحاله هم یې بیا هم دواده کولو ځخه تیښته کوي بیا خو ته د شیطانانو د وړو نو ځخه یې (الحدیث)

لما قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى فى البحر الرائق : وهو سنة وعند التوقان واجب فالمراد به السنة المؤكدة على الاصح .

ولماقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (ويكون واجبا عند التوقان) فإن تيقن الزنا إلا به فرض نهاية وهذا إن ملك المهر والنفقة، وإلا فلا إثم بتركه بدائع .وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : لكن يأتي أنه يندب الاستدانة له قال في البحر: فإن الله ضامن له الأداء فلا يخاف الفقر إذا كان من نيته التحصين والتعفف. اهـ

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۶ کتاب النکاح مکتبه شامله /البحر الرائق ج ۳ ص ۱۴۲ مکتبه رشیدیه/ الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۶۷ رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۴۷۲ کتاب النکاح مکتبه الفاروق اردو)

د ګونګي نکاح به څنګه کیږي شرعاً

سوال ۸: یوهلک ګونګئ او کوڼ دئ او بالغه هم دئ دهغه نکاح به څنګه کیږي په شریعت کښي؟

جواب: کوم هلک چي کوڼ او ګونګی او بالغه وي نو پخپله د ده قبول د نکاح

دروا کيدو دپاره شرط دئ او فقهاوؤ ليکلي دي که چيري د ده ليکل زده وي نو د ده مخته دي وليکل سي او بيا دي دی پر وليکي چي ماته قبول دئ او که يه ليکل نه وي زده نو بيا په اشاره سره قبول کافي دئ او نکاح يې صحيح ده .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :فَفِي كَافِي الْحَاكِمِ الشَّهِيدِ مَا نَصُّهُ: فَإِنْ كَانَ الْأَخْرَسُ لَا يَكْتُبُ وَكَانَ لَهُ إشَارَةٌ تُعْرَفُ فِي طَلَاقِهِ وَنِكَاحِهِ وَشِرَائِهِ وَبَيْعِهِ فَهُوَ جَائِزٌ، وَإِنْ كَانَ لَمْ يُعْرَفْ ذَلِكَ مِنْهُ أَوْ شَكَّ فِيهِ فَهُوَ بَاطِلٌ. اهـ. فَقَدْ رَتَّبَ جَوَازَ الْإِشَارَةِ عَلَى عَجْزِهِ عَنْ الْكِتَابَةِ، فَيُفِيدُ أَنَّهُ إنْ كَانَ يُحْسِنُ الْكِتَابَةَ لَا تَجُوزُ إشَارَتُهُ

(ردالمحتار ج ۳ ص ۲۴۱ مکتبه شامله / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۴۸۸ مکتبه رشيديه / الموسوعة الفقهية ج ۴۱ ص ۲۴۰ مکتبه حقانية / فتاوی محمودية ج ۱۰ ص۵۱۵ اردو / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۷ ص ۵۶ پښتو)

د نکاح د صحت لپاره د خدای جل جلاله او رسول صلي الله عليه وسلم شاهدي کافي نه ده.

سوال ۹: يوه سړي او ښځي په تنهايئ او يوازوالي کښي د نکاح ايجاب او قبول سره وکړئ او خدای او رسول يې شاهدان گرزولي وه بيا يې څه موده وروسته ديوه سړي او دؤو ښځو په مخکي دواړو ايجاب او قبول وکړئ ايا نکاح صحيح سوه که يا ؟

جواب: په يوازي او تنهايئ کښي فقط د ښځي او سړي په ايجاب او قبول سره نکاح نه صحيح کيږي او د خدای او رسول شاهدان گرځول او بيا نکاح کول پر دغه شاهدئ بعض فقهاؤو دغه عمل کفر گرځولی دی بهر حال دا غټه گناه ده او نکاح يه نه صحيح کيږي البته که چيري بيا د دوو سړو او ښځو په مخکي ايجاب او قبول وکړي نو نکاح يې شرعا صحيح ده.

(في الخانية والخلاصة لوتزوّ ج بشهادة الله ورسوله لاينعقد ويكفّر لاعتقاده انّ النّبي الله عليه وسلم يعلم الغيبَ)

(البحرالرائق ج ۳ ص ۱۵۵ مکتبه رشيديه / ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۰ مکتبه رشيديه / فتاوی قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۳۳۴ مکتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۲۶۸ مکتبه

رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۰ ص ۶۱۴ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۵۱ پښتو)

که یو چا په زوره سره د ښځې څخه د نکاح اقرار واخیستي .

سوال ۱۰: دیوي بالغي انجلي څخه مورا وپلار په وهلو او زور سره ایجاب وکړي او دیو هلک سره یي نکاح ورو کړه ایا دغه نکاح شرعاً درسته ده که یا؟

جواب: په زوره او وهلو سره چي د بالغي انجلي څخه ایجاب واخیستل سي هم نکاح صحیح کیږي خو دا طرز او طریقه شرعاً درسته نه ده او نه هم د انسانیت طریقه ده انجلي کولای سي چي د وخت اسلامي محکمې او مسلمان قاضي ته د خپلي نکاح د فسخ کولو اپیل او درخواست وکړي او د زور نکاح په مستقبل کي خاص نتیجه هم نه ورکوي.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى في ردالمحتار على الدرالمختار :

اذحقيقة الرّضاء غير مشروطة في النّكاح لصحة مع الاكراه والهزل)

(ردالمحتار ج ۲ ص ۲۹۴ مکتبه رشیدیه / مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۲۸۴ / فتاوی محمودیة ج ۱۰ ص ۶۵۳ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۶۳ پښتو / فتاوی حقانیة ج ۳ ص ۵۱۲ پښتو)

د انجونو په نکاح کي ځنډ په کار دی که یا؟

سوال ۱۱: د زید دوې پیغلي لوڼي دي سپین سروالي ته اوس نژدي دي دغه پلار یي په واده کولو کي ځنډ کوي ایا د پیغلو انجونو د نکاح په کولو کښې ګناه سته که یا شریعت څه فرمایي؟

جواب: په حدیث شریف کي راځي د چاچي اولاد وزیږېدی نو دي ښه او اسلامي نوم پر کښیږدي او دیني او اسلامي تربیه دي ورکړي او کله چي یي دغه اولاد بلوغ ته ورسیدی نو دي نکاح ورته وکړي په بل حدیث شریف کي راځي د چاچي لور دوولس کالو ته ورسیدل او په نکاح یي ورنه کړه او دي انجلۍ یوه ګناه وکړه په دغه ګناه کي دغه پلار ورسره شریک دی. خلاصه دا چي د ځوان اولاد په نکاح کښې تر خپله وسه تلوار کول ضروري دی خصوصاً د انجلۍ په نکاح کښې د مناسب ځای د پیدا کولو باوجود ځنډ کول ډیر بد دی او د احادیثو څخه معلومیږي که یي د اولاد څخه ګناه وسي وبال به یي پر پلار وي .

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: يَا عَلِيُّ، ثَلاَثٌ لاَ تُؤَخِّرْهَا: الصَّلاَةُ إِذَا آنَتْ، وَالجَنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ، وَالأَيِّمُ إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفْئًا.(رواه ترمذي)

(سنن الترمذي ج ۱ ص ۲۳۸ مكتبه شامله / مشكوة المصابيح ج ۲ ص ۲۷۱ / ردالمحتار ج ۲ ص ۲۸۵ مكتبه رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۷ ص ۴۱ پښتو / فتاوى حقانية ج ۳ ص ۵۱۰ پښتو /احسن المسائل ص ۱۰۵)

پټه نكاح د دؤو شاهدانو په مخكښې وسوه شرع څه حكم لري ؟

سوال ۱۲: يو سړي پټه نكاح ديوې ښځې سره د دؤو شاهدانو په مخكي وكړه او تر ډيره وخته پوري يي په پټه ساتلي وه او حمل يي هم ساقط كړى دى ايا دا كار روا دى كه يا؟

جواب: په دغه صورت كي نكاح شرعاً صحيح ده.

(ولايشترطُ الا اعلان مع الشهوُد لما في التبين ان النّكاح بِحضور الشاهدين يخرجُ عن ان يكون سرّا الخ)

او تر څلورو مياشتو مخكي د حمل اسقاط هم فقهاؤو جايز بللى دى چي د عذر شرعي يا طبعي په خاطر وي.

(وقالوا يباح اسقاط الولد قبل اربعة اشهر ولوبلااذن زوج)

(البحرالرائق ج ۳ ص ۹۴ ظفير چاپ / ردالمحتار ج ۲ ص ۴۱۲ مكتبه رشيديه / مجمع الانهر ج ۱ ص ۳۲۰ / تبين الحقائق ج ۲ ص ۴۵۳ / الهداية ج ۲ ص ۳۰۶ / فتاوى محمودية ج ۱۰ ص ۵۷۵ اردو / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۷ ص ۶۱ پښتو)

كه په نكاح كي د انجلۍ د پلار نوم غلط واخيستل سي نكاح نه ده صحيح؟

سوال ۱۳: يو عالم ديوې انجلۍ نكاح تړل د دغي انجۍ د پلار نوم يي غلط ياد كړى د بل چا نوم يي ياد كړى نو په دغه صورت كښي نكاح صحيح ده كه يا؟

جواب: مسئله دا ده چي كه چيري دغه انجلۍ په مجلس كي نه وه حاضره او نكاح تړونكي د دې د پلار نوم غلط واخيستى نو د دې انجلى نكاح نه صحيح كيږي

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار :غَلَط وكيلُهابالنِكاح فى اسم ابيها بغير حضور ها لم يصحُّ)

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۲۹۸ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۱۰۲ پښتو)

نکاح په شهرت سره ښه ده که په پټه سره؟

سوال ۱۴: شرعاً نکاح په شهرت سره کول په کار ده او که په پټه سره د شریعت څه فیصله ده؟

جواب: بهتره داده چي په شهرت سره نکاح وسي او که په پټه سره د دوو شاهدانو په مخکښي ایجاب او قبول وسي نو هم نکاح درسته او صحیح ده فقط والله اعلم بالصواب.

وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَعْلِنُوا هَذَا النِّكَاحَ وَاجْعَلُوهُ فِي الْمَسَاجِدِ وَاضْرِبُوا عَلَيْهِ بِالدُّفُوفِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ

(ولایشترطُ الا اعلان مع الشهوُد لما في التبین ان النّکاح بِحضور الشاهدین یخرجُ عن ان یکون سرّا الخ

(مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۲۷۲ باب اعلان النکاح / ردالمحتار ج ۲ ص ۲۸۴ مکتبه رشیدیه / الموسوعة الفقهیة ج ۴۱ ص ۲۲۵ مکتبه حقانیة / فتاوی حقانیة ج ۳ ص ۵۰۹ پښتو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۱۲۲ پښتو)

د کوزدې او واده ډوډۍ کله سنت ده؟

سوال ۱۵: د ولیمي یعني واده او کوزدې ډوډۍ ورکول خلګو ته کله سنت ده ځیني وایي د نکاح په سهار او ځیني بیا وایي چي د واده وروسته په دا بل سهار اصلي مسئله څنګه ده؟

جواب: د نکاح دعوت او میلمستیا د نکاح وروسته هر وخت روا ده او هر رنګه چي وي سنت اداکیږي که څه هم تر نکاح وروسته په دا بله ورځ یي وکړي او که څه هم د واده تر شپي وروسته یي وکړي او بعضي علما وایي چي د نکاح وروسته دي هم وکړي او د واده د شپي وروسته دي هم وکړي تفصیل یې ملا علي قاري رحمه الله تعالی په مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح کي لیکلی دی.

(قیل انّهایکون بعد الدّخول وقیل عند العقدوقیل عند هما)

(مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح ج ۳ ص ۴۵۰ مکتبه حبیبیه / الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۴۳ مکتبه رشیدیه / الموسوعة الفقهیة ج ۴۵ ص ۲۴۹ مکتبه حقانیة / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۱۴۴ پښتو / فتاوی حقانیة ج ۳ ص ۶۱۵ پښتو)

د چا نکاح چي يې تړله په غلطۍ سره يې د خور نوم واخيستي .

سوال ۱۶: يو کس د خپلي لور د نکاح پر وخت و عالم ته د خپلي مشري لور نوم ياد وی چي په خطا سره يې د کشري لور نوم واخيستی عالم هم پر هغه نامه نکاح وتړل نو اوس د کومي ښځي نکاح وسول ؟

جواب: په دغه صورت کښي د مشري لور نکاح نه ده صحیح پاته سول د کشري نکاح هغه دوه صورته لري که چيري هغه کشره بالغه وي نو دغه نکاح د هغې پر اجازه موقوفه ده او که نابالغه وه نو يې د ولي او سرپرست پر اجازه موقوفه ده

لماقال الامام ابن عابدین الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وکذا لوغلط في اسم بنته الخ ولوله بنتان اراد تزویج الکبریٰ فغلط فسّما ها باسم الصّغیرة صحّ للصّغري

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۲۹۸ مکتبه رشیدیه / فتاوی قاضي خان ج ۱ ص ۱۵۲ / امدادالاحکام ج ۲ ص ۲۲۶ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۹۹ پښتو / فتاوی حقانیة ج ۳ ص ۵۱۹ پښتو)

د نکاح وکیل بل وکیل جوړولای سي که یا؟

سوال ۱۷: د نکاح تړلو په وخت کښې د نکاح وکیل خپله نکاح نه تړي يو عالم او امام د مسجد يې تړي ايا دغه وکيل بل څوک د دغه نکاح د تړلّو وکيل او نايب جوړولاّي سي که يا ؟ او په دغه دوهم وکالت سره د نکاح تړل صحيح سوه که يا ؟

جواب: وکيل ته شرعًا دا اختيار نسته چي بل کس د نکاح د تړلو او ويلو وکيل جوړ کړي البته که د اوّل وکيل په موجودګي کښي دوهم کس نکاح وتړي درسته ده نکاح خاص حرج نه لري يعني د اوّل وکيل نايب به وي په مجلس د عقد کښې خو خپله اول وکيل به موجود وي .

(الوکیل بالتزوج لیس له ان یوکل غیره فان فعل فزوّجه الثاني بحضرة الاوّل جازه)

(فتاوي قاضي خان ج ۳ ص ۵۸۰ باب التوكيل / فتاوی رحيميه ج ۸ ص ۱۴۸ اردو)

د کونډې نکاح په جبراو زور سره کول ناروا ده .

سوال ۱۸: يو شخص د خپلي کونډي ورېنداري سره په زوره نکاح وکړه کله چي عالم په ښځي ايجاب او قبول کوی نو ښځي د عالم دهري پو ښتني په جواب کي ويل چي داسړی زما ورور دی خو عالم او شاهدانو د رسم او رواج مطابق په دغه خبرو سر و نه ګرځوی او نکاح يې وکړه او س شرعا دغه نکاح سوې ده که يا؟

جواب: که دغه کونډي د نکاح څخه وروسته هم د دي نکاح څخه انکار کاوه او په خوښه سره يې کوروالی او صحبت و نه کړی نو دغه نکاح باطله ده .

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في ردالمحتار : فلاتجبر البالغة علي النكّاح لانقطاع الولاية بالبلوغ

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۲۴ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۳ ص ۱۹۴ مكتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۲۸۷ مكتبه رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۸ ص ۵۵ پښتو / فتاوی حقانية ج ۳ ص ۵۱۲ پښتو)

د انجلۍ خاموشي د اجازې غوښتلو په وخت کښي اجازه ده .

سوال ۱۹: قريبان راسي د کوزدې په مراسمو کښې د انجلۍ څخه د نکاح د خوښۍ او د کولو اجازه غواړي په دغه وخت کښي انجلۍ خاموشه سي ايا دغه د پيغلي انجلۍ خاموشي شرعا اجازه ده که يا؟

جواب: په داسي وخت کي پر انجلۍ باندي شرم او حيا غالبه وي دا د شرمه د اجازې الفاظ نه سي ويلای دغه خاموشي او سکوت د دې اجازه ده شرعا .

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : فان استاذ نها هواي الولي الخ فسكتت الخ فهواذن

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۲۴ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۳ ص ۱۹۶ مكتبه رشيديه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۲۸۷ مكتبه رشيديه / فتاوی محمودية ج ۱۱ ص ۵۷۷ اردو / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۸ ص ۷۷ مكتبه رشيديه)

د پلار تر مرګ وروسته د نکاح په اړه وصیت اعتبار نه لري .

سوال۲۰: یو شخص وصیت وکړی چي زما د لور نکاح زموږ په قوم کښي مه کوئ په یو بل قوم کښي یې وکړئ اوس د دغي انجلۍ نکاح په کوم ځای کښي باید وسي ایا دغه د پلار وصیت پوره کول لازم دي که یا ؟

جواب: د داسي وصیت اعتبار شرعًا نسته ولیانو ته اختیار دی چي په خپل قوم کښي کوم ځای خوښه وي نکاح دي ورو کړي د مړي د وصیت اعتبار او پرواه دي نه کوي ځکه چي دا وصیت شرعًا اعتبار نه لري .

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : وليس للوصّي من حيث هو وصّي ان يزوّج اليتيم مطلّقا وان اوصٰى اليه الاب بذلك علي المذهب

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۴۰ باب الولي مكتبه رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۸ ص ۹۴ كتاب النكاح مكتبه رشيديه)

باب من یجوز بها النکاح ومن لایجوز

پلاراوزوې دوې خوندي په نکاح کولای سي که یا .

سوال ۱ : زید او عمر پلار او زوی دي زید یوه انجلۍ په نکاح واخیسته د زید پلار عمر د دغي انجلۍ سکه خور په نکاح کړه او س پوښتنه داده چي پلار او زوی دوې سکه خوندي په نکاح کولای سي که یا ؟

جواب: که چیري د دوی په منځ کښي یو مانع شرعي نه وي نو نکاح یې جائزه ده حتی تر دې چي یوه ښځه دیو سړي په نکاح کښې وي دهغې لور چي د بل خاوند څخه وي د دغې ښځي د لور نکاح د دغه سړي د پلار سره راوده نو کوم کس چي دیوې ښځي سره نکاح وکړي نو د دغي ښځي خور خویې و پلار ته په طریقه اولیٰ سره رواه ده.
(لماقال العلامة حصکفی رحمه الله تعالی فی الدرالمختار وَأَمَّا بِنْتُ زَوْجَةِ أَبِيهِ أَوْ ابْنُهُ فَحَلَالٌ

وقال العلامة ابن نجیم المصري رحمه الله تعالی فی البحر الرائق شرح کنز الدقائق : وَلَا بَأْسَ أَنْ يَتَزَوَّجَ الرَّجُلُ امْرَأَةً وَيَتَزَوَّجَ ابْنُهُ أُمَّهَا أَوْ بِنْتَهَا؛ لِأَنَّهُ لَا مَانِعَ، وَقَدْ تَزَوَّجَ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَنَفِيَّةِ امْرَأَةً وَزَوَّجَ ابْنَهُ بِنْتَهَا.

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۳ ص ۳۱ کتاب النکاح فصل في المحرمات سعید چاپ / البحرالرائق ج ۳ ص ۱۷۳ فصل في المحرمات رشیدیه/ فتاوی عالمگیریه ج ۱ ص ۲۷۷ کتاب النکاح رشیدیه/ حاشیة الطحطاوي علي الدرالمختار ج ۲ ص ۱۴ کتاب النکاح بیروت چاپ / فتح القدیر شرح الهدایة ج ۳ ص ۲۱۸ ؛ ۲۱۹ کتاب النکاح فصل في المحرمات مکتبه مصر/ فتاوی محمودیه ج ۱۱ ص ۲۸۲ باب من یحل نکاحه/ فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۴۴۳ باب مایجوز تزویجها ومالایجوز)

له ناسکه خوابنې سره دنکاح کولو حکم

سوال ۲ : څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په باره کښي چي د خپل ناسکه خواښي سره یعني دښځي د میرې سره نکاح جائزه ده او که یا ؟

جواب :دوې خپلوانې ښځې دیوه سړي په نکاح کښې راتلل هغه وخت حرامې دي چې کله په دواړو کښې دهریوه دنرپه فرض کولو سره دبل لپاره حرام وګرځي یعنې که یوه ښځه نر فرض کړې او بله ښځه فرض کړې نو د دواړو طرفو نو ښځه به نکاح حرامه وي چونکې په نوموړې صورت کښې حرمت یو ازې دیوه طرف ښځه راځي دبل طرف ښځه حرمت نسته نو لهذا دناسکه خواښې سره نکاح کول شرعاً جائزه ده که څه هم دهغې ناسکه لور دهغه په نکاح کښې له مخکښې ښځه موجوده هم وي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله فَجَازَ الْجَمْعُ بَيْنَ امْرَأَةٍ وَبِنْتِ زَوْجِهَا... لِأَنَّهُ لَوْ فُرِضَتْ الْمَرْأَةُ... ذَكَرًا لَمْ يَحْرُمْ بِخِلَافِ عَكْسِهِ

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۳ ص ۳۹ فصل في المحرمات سعيد چاپ/فتاوی عالمګیریه ج ۱ ص ۲۷۷ فصل في المحرمات رشیدیه/البحرالرائق ج ۳ ص ۹۸ فصل في المحرمات سعید چاپ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۳۷ کناب النکاح)

دبل د منکوحې ښځې سره نکاح کول .

سوال ۳: یو کس یوه ښځه وکالةً و یو چاته په نکاح ورکړه دوه یا درې کاله تیر سول چې هغه منکوحه ښځه یې بیا بل چاته پسې ورکړه اوس یې هغه اول خاوند راغی ایا دغه شخص منکوحه ښځه وبل کس ته په نکاح ورکول صحت او رواه والی لري که یا ؟

جواب : کله چې یوه ښځه ویو چاته په نکاح ورکړه سوه نو بیا هغه ښځه بل چاته په نکاح ورکول شرعاً ترهغه وخته صحت او رواه والی نه لري ترڅه وخته چې اول خاوند دځانه ښځه په طلاق او خلع سره جلا کړې نه وي او بیا یې عده تیره سوې نه وي لهذا دغه ښځه د اول خاوند ده ددوهم شخص سره یې نکاح باطله او غیر صحیح ده .

وفى الفتاوى الهند ية : لايجوز للرجل ان يتزوج زوجة غيره ، وكذا المعتدة كذافى السراج الوهاج . وقال ابن عابدين : اما نكاح منكوحة الغير ومعتدته فالدخول فيه لايوجب العدة .... ولهذا يجب الحد مع العلم بالحرمة لكونه زناء كما فى القنية وغيرها .

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۵۱۶ باب العدة / مطلب في النكاح الفاسد والباطل سعيد / البحرالرائق كتاب الطلاق باب العدة ج ۴ ص ۲۴۲ رشيديه / الفتاوی العالمگيرية كتاب النكاح القسم السادس : المحرمات التي يتعلق بها حق الغير ج ۱ ص ۲۸۰ رشيديه / فتاوی قاضيخان ج ۱ ص ۳۶۶ رشيديه / فتاوی محموديه ج ۱۱ ص ۷۶)

ددیني ورور سره نکاح کول

سوال ۴ : که یو کس ویوې ښځې ته په خور سره ووایی او دخور په شان تعلقات ورسره ساتي ایا شرعا ددوی نکاح سره جائز ده که یا ؟ اوددوی په مینځ کښې تعلقات ساتل روا دي که یا؟

جواب: داسي کس چي ویوې ښځې ته یه په خورویلي وي نه دا خور بلل کیږي او نه هم ددې ښځي سره ناسته ولاړه رواده . البته نکاح یه رواده کم مشکل شرعانه لري ځکه چي ددې خبري مطلب چي ته زما خور یې دادی چي ته ماته دخور په شان قدر او عزت او احترام لرې نه دا چي ته پر ما داسي حرامه یې لکه خور .

عن ابن بريدة، عن أبيه، رفعه قال: «يا علي لا تتبع النظرة النظرة فإن لك الأولى وليست لك الآخرة .

وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا (۲۴) سورة النساء

(سنن الترمذي ج۵ ص ۱۰۱ باب ما جاء في نظرة الفجاءة مكتبه شامله / فتاواى فريديه ج ۴ ص ۴۳۷ پښتو / ستاسو مسائل اودهغوحل ج ۶ ص ۸۰ كتاب النكاح مكتبه لدهيانوي اردو)

دشیعه ښځې سره دسُني سړي دنکاح حکم یا ددې بر عکس .

سوال ۵ : دداسي شیعه ګانو دښځي سره نکاح کول کوم چي د حضرت علي رضي الله عنه دالوهیت (خدایي) قائله وي او د حضرت جبرائیل علیه السلام څخه دغلطۍ دصادریدو عقیده لري او د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دخلافت څخه دمنکروالي سره سره پر حضرت عائشې رضي الله عنها باندي تهمت هم وایي ، او په قرآن مجید کښې دتحریف قائله هم وي ددوی سره دنکاح کولو څه حکم دی ؟

جواب : حضرت مولانا عبدالحق صاحب رحمه الله تعالی په فتاوی حقانیه کښې دغه سوال ته داسي جواب ویلی دی : هغه روافض چي داسلام دقطعیاتو او یقینیاتو څخه خلاف کومه عقیده ولري هغوی شرعا کافر بلل کیږي . مثلاً لکه دحضرت علي رضي الله عنه دالوهیت یعني په خدایي سره ګڼل او پر حضرت عائشې رضي الله عنها باندي دقذف او تهمت قائلوالی کوم چي دقرآن کریم دقطعي نص او ایت څخه خلاف دی . او دحضرت جبرآئیل علیه السلام څخه دغلطی عقیده لرل او همداشان دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دصحبت څخه منکره کېدل نو دداسي ډول ګمراهانو خلګو سره دنکاح درشتې او قرابت څخه احتراز او اجتناب ضروري دی ، او دداسي خلګو حکم دمرتد غوندي دی او دمرتد سره نکاح کول جائز نه ده .

وفی الفتاوی الهندیة : وَيَجِبُ إكْفَارُ الرَّوَافِضِ فِي قَوْلِهِمْ بِرَجْعَةِ الْأَمْوَاتِ إلَى الدُّنْيَا، وَأَحْكَامُهُمْ أَحْكَامُ الْمُرْتَدِّينَ كَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ. ....

(الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۲۶۴ مطلب في موجبات الکفر / ردالمحتار ج ۲ ص ۳۱۷ باب المحرمات / فتاوی تاتارخانیه ج ۵ ص ۵۳۸ کتاب احکام المرتدین / فتاوی قاضیخان علي هامش الفتاوی الهندیة ج ۶ ص ۳۱۸ باب المرتد / فتتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۱۹۰ / جواهر الاحکام ص ۲۳۳ / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۴۷ کتاب النکاح)

دیوې ښځي دیو کس سره دزنا دوجي زوی پیدا سو وروسته یې دهغه سره نکاح وکړ .

سوال ۶ : یوې ښځي دیو کس سره العیاذ بالله زنا وکړه دزنا په نتیجه کښې ددې ښځي زوی پیدا سو بیا دغه ښځه راولاړه سوه خپل اصلي خاوند یې مړ کړی ددغه زناکاره سړي سره یې نکاح وکړه ایا ددې ښځي نکاح ددغه کس سره رواه ده که یا ؟

جواب : قتل په اسلام کښې ډیر لوی ظلم او ګناه ده لیکن په دې سره دنکاح حراموالی نه راځي البته دمیراثه څخه دمحرومه کیدلو سبب ګرځي نور دغه ښځه ددغه خاوند میراث نه سي وړلای . لهذا ددغي ښځي نکاح ددغه زاني کس سره صحیح ده . پاته سوه هغه دمېړه دقتل ګناه یې پر خپل ځای کبیره او لویه ګناه ده . او هغه دزنا ګناه یې پر خپل ځای باندي کبیره او لویه ګناه ده . اسلامي حکومت ته

پکار وه چي دغه ښځه يې تر دغه نکاح مخکښې سنګسار کړې وای او يا يې دخاوند دقتل په جرم قصاص کړې وای خو کله چي دا عمل ددې سره تر سره نه سو نو اوس ددغي ښځي نکاح ددغه کس سره درسته ده . خو بيا هم ددې ښځي پر ذمه دزنا او د قتل دجرمونو سزا باقي ده هر وخت چي حکومت اسلامي سي حدود او قصاص برپا يه سي نو دا ښځه به په سزا رسيږي دهغه زناکاره کس په شمول سره .

وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا . (سورة النساءِ آيت ۲۴ / الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ أُولَئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ . (سورة النور آيت ۲۶) وفى الفتاوى الهندية : الْقَاتِلُ بِغَيْرِ حَقٍّ لَا يَرِثُ مِنْ الْمَقْتُولِ شَيْئًا عِنْدَنَا سَوَاءٌ قَتَلَهُ عَمْدًا أَوْ خَطَأً .

(الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۴۵۴ الباب الخامس في الموانع / فتاوى فريديه ج ۴ ص ۴۳۴ / سورة النور آيت نمبر ۲۶ / سورة النسآء آيت نمبر ۲۴ / تفسير ابن كثير ج ۲ ص ۵۹ سورة المابدة آيت نمبر ۲۷)

د ماما د کونډې ښځي سره يعني مامي سره نکاح رواه ده که يا ؟

سوال۷: زما ماما مړ سو ايا شرعًا ماته اجازه سته چي د خپلي مامي سره نکاح وکړم او که اجازه نسته ؟

جواب: کله چي ماما مړسي يا يې په ژوند کښې خپلي ښځي ته طلاق ورکړي نو دعدي تر تيرولو وروسته خوريي ته شرعًا د خپلي مامي سره دنکاح تړلو اجازه سته خاص حرج نسته .

لماقال أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : ۶۷۱هـ)في تفسير هذه الاية المباركة (وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ) سورة النساء ۲۴) وَهَذَا يَقْتَضِي أَلَّا يَحْرُمَ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَنْ ذُكِرَ

(تفسير القرطبي ج ۵ ص ۱۲۴ سورة النساء مكتبه شامله / تفسير معارف القران ج ۲ پاره ۵ ص ۴ پښتو / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۵۲۹ مكتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ۱۱ ص ۲۷۵ اردو / فتاوى

دارلعلوم دیوبند ج ۷ ص ۱۵۱ پښتو / فتاوی فریدیه ج ۴ ص ۴۴۲)

ښځه اول خاوند نه ده طلاقه کړې پلار بل کس ته په نکاح کړه .

سوال ۸ : یوه کس خپل لوریو چاته په نکاح ورکړه وروسته یې د درواغو اوازه ګډه کړه چي هغه مړه سوه ځه موده پس یې بل کس ته په نکاح ورکړه اوس یې اولادونه پیدا سوي دي پوښتنه داده چي دغه ښځه شرعا داول خاوند کیږي او که ددغه دوهم خاوند کیږي ؟

جواب : دغه ښځه په شریعت کښې داول خاوند ښځه ده پلاریې دشریعت او عرف دواړو څخه مخالف عمل کړی دی چي هر څومره کلونه تیر سوي وي او هر څومره اولادونه یې سوي وي خو بیا هم دا داول خاوند ښځه ده د دوهم خاوند نکاح ورسره فاسده ده . دوخت قاضي مکلفه دی چي ددوی تر مینځ جدايي او تفریق راولي او دغه کسانو ته دي سخته سزا ورکړي کومو چي دغه عقد ورکړی دی او دغه ښځه دي ددغه فاسدې نکاح عده تېره کړي اول خاوند ته دي ولاړه سي . او یا دي اول خاوند طلاق ورکړي وروسته تر عدې دي بیاد دوهم ځل دپاره ددغه دوهم خاوند سره نکاح وکړي . والله اعلم .

وفي الفتاوى الهندية :لَا يَجُوزُ لِلرَّجُلِ أَنْ يَتَزَوَّجَ زَوْجَةَ غَيْرِهِ وَكَذَلِكَ الْمُعْتَدَّةُ، كَذَا فِي السِّرَاجِ الْوَهَّاجِ. سَوَاءٌ كَانَتْ الْعِدَّةُ عَنْ طَلَاقٍ أَوْ وَفَاةٍ أَوْ دُخُولٍ فِي نِكَاحٍ فَاسِدٍ أَوْ شُبْهَةِ نِكَاحٍ، كَذَا فِي الْبَدَائِعِ.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۸۰ الباب الثالث القِسمُ السَّادسُ المُحَرَّمَاتُ الَّتِي يَتَعَلَّقُ بِهَا حَقُّ الغَيْرِ / بدائع الصنائع كتاب النكاح ج ۳ ص ۴۵۱ دارالكتب العلمية بيروت / الفقه الاسلامي وادلته ج ۹ ص ۶۶۴۶ مكتبه رشيديه / التفسير المظهري ج ۲ ص ۶۴ حافظ كتب خانه كوئټه / فتاوی محموديه ج ۱۱ ص ۷۱ باب النكاح الفاسد فصل في نكاح منكوحة الغير / فتاوی فريديه ج ۵ ص ۵۷۳/ ج ۴ ص ۴۳۱ / الحيلة الناجزة ۶۲ حكم زوجة المفقود)

بالغه ښځه پر نکاح کولو باندي باید مجبوره نه سي

سوال ۹ : یو پلار دی لوریې بالغه ده دی را ولاړ سو دا لوریې داسي ځای ورکړه چي دهغې دا ځای نه دی خوښ او نه هم په راضي ده پو ښتنه دا ده چي دغه نکاح شرعا صحت لري که یا ؟

جواب : د یو مسلمان کس او مسلماني ښځي د نکاح دصحت دپاره شریعت مطهره ددوی دواړو رضا اساسي شی بللی دی که چیري دغه نکاح کوونکي کسان بالغه وي نو ددوی نکاح به هغه وخت منعقده کیږي چي رضا یې وي او که پرته ددوی د رضا څخه وسي نو داسي نکاح شرعا نه صحیح کیږي او نه هم پلار یا بل قریب ته ددې خبري اجازه شرعا سته چي دوی بالغ اولاد و داسي ځای ته پر نکاح کولو باندي مجبوره کړي چي په هغه ځای دوی راضي نه وي .

لما قال العلامة زین الدین بن إبراهیم بن محمد، المعروف بابن نجیم المصري (المتوفی: ۹۷۰هـ) فی البحر الرائق شرح کنز الدقائق : (قَوْلُهُ وَلَا تُجْبَرُ بِكْرٌ بَالِغَةٌ عَلَى النِّكَاحِ) أَيْ لَا يَنْفُذُ عَقْدُ الْوَلِيِّ عَلَيْهَا بِغَيْرِ رِضَاهَا عِنْدَنَا .

(البحر الرائق شرح کنز الدقائق ج ۳ ص ۱۱۸ کتاب النکاح مکتبه شامله / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۸۷ کتاب النکاح / اعلاء السنن ج ۱۱ ص ۶۷ کتاب النکاح / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۱۲ کتاب النکاح)

اکا دخپلي وربرې سره نکاح نه سي کولای

سوال ۱۰ : یوې ښځي خپل ورور ته شیدې ورکړي اوس ددغه ورور لور خپل زوی ته کولای سي که یا ؟

جواب : دغه ښځي چي کله ودغه ورور ته شیدې ورکړي نو دغه ورور ددې ښځي رضاعي زوی سو او ددې دزامنو او لونو رضاعي ورور سو او ددغه ورور لوڼي او زامن دهغوی وریرونه او وریرې سولې او د رضاعي وریرې سره نکاح نه ده رواه څنګه چي دنسبي وریرې سره نکاح نه ده رواه .

لما قال العلامة محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (المتوفی: ۴۸۳هـ) فی المبسوط : بَلَغَنَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – أَنَّهُ قَالَ: «يَحْرُمُ مِنْ

الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنْ النَّسَبِ» وَذَكَرَ عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا – هَذَا الْحَدِيثَ قَالَ: «يَحْرُمُ بِالرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ بِالْوِلَادَةِ» ، وَفِيهِ دَلِيلٌ عَلَى أَنَّ الرَّضَاعَ مِنْ أَسْبَابِ التَّحْرِيمِ، وَأَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ النَّسَبِ فِي ثُبُوتِ الْحُرْمَةِ؛

(المبسوط للسرخسي ج۵ ص ۱۳۸ باب الرضاع مكتبه شامله / بدائع الصنائع ج ۴ ص ۳ فصل في المحرمات بالرضاع مكتبه شامله / الهداية ج ۱ ص ۲۱۷ باب الرضاع مكتبه شامله /المحيط البرهاني ج ۳ ص ۶۸ باب المحرمات بالرضاع مكتبه شامله)

دوې ميرېزۍ خوندي يو كس په نكاح نه سي اخيستلای .

سوال ۱۱ : داسي دوې خويندي چي پلاريې يو وي او منديې سره جلا وي يو كس په نكاح كولای سي كه يا ؟

جواب : داسي دوې خويندي چي پلاريې يو وي او منديې سره جلا وي يعني زموږ په اصطلاح ميرېزۍ خويندي يو كس نه سي په نكاح كولای يو ځای والی دداسي دوو خويندو حرام او ناروا كاردی .

لمافي الفتاوى الهندية : (وأما الجمع بين ذوات الأرحام) فإنه لا يجمع بين أختين بنكاح ولا بوطء بملك يمين سواء كانتا أختين من النسب أو من الرضاع هكذا في السراج الوهاج

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۷۷ مكتبه رشيديه / تفسير المظهري ج ۲ ص ۲۷۲ مكتبه رشيديه / تفسير معارف القران ج ۲ ص ۲۵۸ پښتو / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۷ ص ۳۶۴ پښتو / احسن الفتاوى ج ۵ ص ۸۵ اردو)

د سكه وراره دكونډې سره نكاح روا ه ده .

سوال ۱۲: اكا ته شرعًا دا رواه ده چي د سكه وراره د كونډې سره نكاح وكړي كه نه ده رواه؟

جواب: دوراره ترمرګ وروسته دده دښځي دعدې دتيريدلو وروسته مذكوره نكاح رواه ده واكاته اودغه حكم دطلاق وركولو په صورت كښې هم دی (وَأُحِلَّ لَكُمْ مَاوَرَآءَ ذَالِكُمْ :سورة النساء ايت نمبر۴)

لماقال أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : ۶۷۱هـ)في تفسير هذه الاية المباركة وَهَذَا يَقْتَضِي أَلَّا يَحْرُمَ مِنَ النِّسَاءِ

إِلَّا مَنْ ذُكِرَ

(تفسير القرطبي ج ۵ ص ۱۲۴ مكتبه شامله / تفسير معارف القران ج ۲ پاره ۵ ص ۴ پښتو / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۵۲۹ مكتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ۱۱ ص ۲۷۵ اردو / فتاوى دارلعلوم ديوبند ج ۷ ص ۱۵۱ پښتو / فتاوى فريديه ج ۴ ص ۴۴۲)

وراره ته دا كاد ماينې سره نكاح رواه ده .

سوال ۱۳ : كه ديو كس اكا مړسي او كونډه يي پاته سي نو وراره ته د دغي كونډي ښځي سره چي دا كا ماينه كيږي نكاح رواه ده كه يا ؟

جواب : وراره ته شرعا د خپل سكه اكا د ښځي سره نكاح كول رواه ده په دې شرط چي دغه ښځه د مړه خاوند د مرگ عده تيره كړي ځكه چي هيڅ يوه وجه د حرمت دلته نسته وَأُحِلَّ لَكُمْ مَاوَرَآءَ ذَالِكُمْ سورة النساء ۴

لماقال أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : ۶۷۱هـ)في تفسير هذه الاية المباركة وَهَذَا يَقْتَضِي أَلَّا يَحْرُمَ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَنْ ذُكِرَ

(تفسير القرطبي ج ۵ ص ۱۲۴ مكتبه شامله / تفسير معارف القران ج ۲ پاره ۵ ص ۴ پښتو / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۵۲۹ مكتبه رشيديه / فتاوى محموديه ج ۱۱ ص ۲۷۵ اردو / فتاوى دارلعلوم ديوبند ج ۷ ص ۱۵۱ پښتو / فتاوى فريديه ج ۴ ص ۴۴۲)

د خپلي ميرې د سكه خور سره نكاح رواه ده .

سوال ۱۴ : ايا يو كس د خپلي ميرې د سكه خور سره نكاح كولاى سي كه يا

جواب : فقهاء كرامو ليكلي دي چي د خپلي ميرې د سكه خور سره نكاح رواه ده شرعًا كوم حرج نه لري

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : وامابنت زوجة ابيه و ابنه فحلال وكذا بنت ابنها ولاتحرم بنت زوج الام ولاامه ولاام زوجة الاب ولا بنتها

(ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۳ مكتبه رشيديه / بدائع الصنائع ج ۲ ص ۵۲۹ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۷۳ مكتبه رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۷ ص ۱۹۱ پښتو / فتاوى حقانية ج ۳ ص ۵۳۸ پښتو)

د خوريي او وراره د لور سره نکاح رواه ده که یا؟

سوال ۱۵: د خورځي او د وراره د لور سره نکاح رواه ده که یا؟

جواب: شرعًا د خپل اکا د لور سره داکا دزوی، دلور سره داکا دلور دلور سره نکاح رواه ده دلیل یې دغه ایت دی (وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ) د خورځي د لور سره د وراره دلور سره نکاح نه درواه خلاصه داچي د سکه ورور او خورد او لاد سره نکاح نه درواه که څه هم کښته پسي ځې یعني د هغوي داولاد سره او بیا د هغو د اولادو سره.

لما في فتح القدير : وتحل بنات العمّ و بنات العمات والخالات والاخوال

لما قال العلامةابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فی ردالمحتارعلى الدرالمختار : وفروع أبويه، وإن نزلن فتحرم بنات الإخوة والأخوات وبنات أولاد الإخوة والأخوات،

(ردالمحتار علي الدر المختار ج ۳ ص ۲۸ فصل في المحرمات مکتبه شامله / فتح القدیر ج ۳ ص ۳۱۰ مکتبه رشیدیه / الهدایة ج ۲ ص ۲۸۷ مکتبه حنفیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۷۳ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۱۷۸ پښتو / فتاوی حقانیة ج ۳ ص ۵۵۰ پښتو)

باب المهـــــــــــــر

په موخې کښي وهري ښځي ته دمهر دټاکلو مسئله.

سوال ۱: څه فرمایي علماءکرام د دې مسئلې په هکله چي حامد خپله لور د محمود وزوی ته ورکړه او محمود بیا خپله لور د حامد وزوی ته ورکړه او د هري انجلۍ دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) افغانۍ مهر وټاکل سو او س پوښتنه داده چي داسي نکاح شرعاً درسته ده که یا ؟ او بعضي خلک وایي چي دا موخې ده ایا واقعاً هم دا موخې ده که یا ؟

جواب: شغار یا موخې ودې ته وایي چي د مهر پر ځای ښځه د ښځي په بدله کښي ورکړي کوم چي په صحیح احادیثو سره یې منع سوېده او د موخې صورت دادی چي مهر ونه ټاکي بلکي ښځه د ښځي په بدله کښي ورکړي په صورت مسئوله کښي

چونکي دهري ښځي لپاره مهر تاکل سوی دی نوله دې وجهي داسي نکاح شرعاً نافذه او جائزه ده.

تنبيه يوه خيرخواهي : لېکن ترکومه ځایه پوري چي دانسان طاقت وي بايد داسي نکاح ونه کړي ځکه چي په کومو علاقو کښي چي داسي نکاح کېدل رواج وي هلته په مشاهده سره رسېدلي دي چي ديوې ښځي سره خپل خاوند سمه رويه نکوي نوددې ښځي ورور کوم چي ددغه کور ښځه يې په نکاح کښي ده هغه هم دخپلي ښځي سره سمه رويه نکوي چي اخير دډيرو ناخوالو او بد بختيو سبب جوړسي او ددواړو طرفو پر ښځو دظلم سلسله جاري وي.

(کماورد فی الحديث) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الشِّغَارِ» وَالشِّغَارُ أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الآخَرُ ابْنَتَهُ، لَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ

(وقال العلامةابن نجيم المصري رحمه الله في البحر (قَوْلُهُ وَيَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ فِي الشِّغَارِ) ؛ لِأَنَّهُ سَمَّى مَا لَا يَصِحُّ صَدَاقًا فَيَصِحُّ الْعَقْدُ وَيَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ كَمَا إذَا سَمَّى خَمْرًا أَوْ خِنْزِيرًا وَالشِّغَارُ فِي اللُّغَةِ الْخُلُوُّ يُقَالُ شَغَرَ الْكَلْبُ إذَا رَفَعَ إحْدَى رِجْلَيْهِ لِيَبُولَ وَبَلْدَةٌ شَاغِرَةٌ إذَا كَانَتْ خَالِيَةً مِنْ السُّلْطَانِ، وَأَمَّا فِي الِاصْطِلَاحِ فَتَزْوِيجُهُ مُولِيَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الْآخَرُ مُولِيَتَهُ لِيَكُونَ أَحَدُ الْعَقْدَيْنِ عِوَضًا عَنْ الْآخَرِ سَوَاءٌ كَانَتْ الْمُولِيَةُ بِنْتًا أَوْ أُخْتًا أَوْ أَمَةً سُمِّيَ بِهِ لِخُلُوِّهِ عَنْ الْمَهْرِ، وَإِنَّمَا قَيَّدْنَا بِأَنْ يَكُونَ أَحَدُهُمَا صَدَاقًا عَنْ الْآخَرِ؛ لِأَنَّهُ لَوْ لَمْ يَكُنْ كَذَلِكَ بِأَنْ قَالَ زَوَّجْتُك بِنْتِي عَلَى أَنْ تُزَوِّجَنِي بِنْتَك وَلَمْ يَزِدْ عَلَيْهِ فَقَبِلَ الْآخَرُ فَإِنَّهُ لَا يَكُونُ شِغَارًا اصْطِلَاحًا

(البحرالرائق ج ۳ ص ۱۵۵ باب المهر سعيد چاپ/ تنويرالابصار مع الدرالمختار ج ۳ ص ۱۰۶ کتاب النکاح سعيد چاپ/ صحيح البخاري ج ۷ ص ۱۲ باب الشغار بېروت چاپ مکتبه شامله/ صحيح مسلم ج ۲ ص ۱۰۳۴ باب تحريم نکاح الشغار وبطلانه بېروت چاپ مکتبه شامله/ جامع الترمذي ج ۳ ص ۴۲۳ باب ماجآء في النهي عن نکاح الشغار بېروت چاپ مکتبه شامله/ سنن ابي داود ج ۱ ص ۳۰۰ باب في الشغار مکتبه رحمانيه/ فتاوی عبادالرحمن ج ۳ ص ۳۷۲ کتاب النکاح/ فتاوی فريديه ج ۴ ص ۳۹۷ کتاب النکاح)

میره ژوندی دی خو ښځه یې مړه سوه مهریې لازم دی که یا ؟

سوال ۲ : دیوه کس ښځه دواده ترمخه مړه سوله نیم مهر یې ورکړی دی ایا ددغه نورنیم مهر حق هم پرخاوند لري که یا ؟

جواب : کله چي دخاوند او ښځي څخه یو وفات سي نو مهر مؤکد لازمیږي لهذا ددغه خاوند پر ذمه دالازمه ده چي ددغي ښځي وو ارثانو ته پاته مهر ورپوره کړي او بیا دمیراث په اعتبار سره دغه خاند هم په دغه مهر کښې شریک دی یعني خپله مقرره حصه دمیراث به وړي .

وفی الفتاوی الهندیة : وَالْمَهْرُ يَتَأَكَّدُ بِأَحَدِ مَعَانٍ ثَلَاثَةٍ: الدُّخُولُ، وَالْخَلْوَةُ الصَّحِيحَةُ، وَمَوْتُ أَحَدِ الزَّوْجَيْنِ سَوَاءٌ كَانَ مُسَمًّى أَوْ مَهْرَ الْمِثْلِ حَتَّى لَا يَسْقُطَ مِنْهُ شَيْءٌ بَعْدَ ذَلِكَ إلَّا بِالْإِبْرَاءِمِنْ صَاحِبِ الْحَقِّ، كَذَا فِي الْبَدَائِعِ . وفی الدرالمختار : وَيَتَأَكَّدُ (عِنْدَ وَطْءٍ أَوْ خَلْوَةٍ صَحَّتْ) مِنْ الزَّوْجِ (أَوْ مَوْتِ أَحَدِهِمَا) وفی السراجی واما للزوج مخالتان ، النصف عند عدم الولد وولد الابن وان سفل .

(الدرالمختار علي صدر ردالمحتار ج ۳ ص ۱۰۲ باب المهر / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۰۴ الباب السابع في المهر / البحرالرائق ج ۳ ص ۱۴۳ باب المهر / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۷۱ کتاب النکاح / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۲۰۲ / سراجي ص ۱۳)

دوې ښځي په مخي ورکول او بیا یوه مړه کیدل .

سوال ۳ : دوې ښځي یې سره مخی کړې او س یوه مړه سوه ایا هغه بله ښځه دولور او مهر حق لري که یآ ؟

جواب : دجواب څخه مخکي دموخی تعریف پېژندل ضروري دي .موخی په شریعت کښې دغه ته وایې چي یو سړی خپله لور یا خور وبل کس ته ورکړي هغه هم خپله لور یا خور ورکړي په مینځ کښې یوي ښځي ته هم مهر ونه ټاکي بلکي دوی دواړي یو دبل په مقابل کښې ولور او مهر وګرځوي . داسي کول شرعا منع دي .

زموږ دپښتنو په ما حول کښې داسي نه کیږي بلکي هري ښځي ته جلا او علیحده مهراو ولور ټاکل کیږي (یعني دا په نامه موخی دي په حقیقت کښې موخی نه ده) نو دپوښتني جواب دادی چي هره ښځه مړه سوه هغه بله دخپل مهر او ولور حق لري .

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الشِّغَارِ» وَالشِّغَارُ أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الآخَرُ ابْنَتَهُ، لَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ . عَنِ ابْنِ عُمَرَ، " أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الشِّغَارِ، وَالشِّغَارُ: أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ، عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ ابْنَتَهُ، وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ ".قَالَ ابْنُ الْهُمَامِ: وَإِنَّمَا قُيِّدَ بِهِ لِأَنَّهُ لَوْ لَمْ يَقِلْ عَلَى أَنْ يَكُونَ بِضْعُ كُلٍّ صَدَاقًا لِلْأُخْرَى أَوْ مَعْنَاهُ بَلْ قَالَ: زَوَّجْتُكَ بِنْتِي عَلَى أَنْ تُزَوِّجَنِي بِنْتَكَ وَلَمْ يَزِدْ عَلَيْهِ فَقِيلَ جَازَ النِّكَاحُ اتِّفَاقًا وَلَا يَكُونُ شِغَارًا وَلَهُ زَادَ قَوْلُهُ: عَلَى أَنْ يَكُونَ بِضْعُ بِنْتِي صَدَاقًا لِبِنْتِكَ فَلَمْ يَقْبَلِ الْآخَرُ بَلْ زَوَّجَهُ ابْنَتَهُ وَلَمْ يَجْعَلْ لَهَا صَدَاقًا كَانَ نِكَاحُ الثَّانِي صَحِيحًا اتِّفَاقًا وَالْأَوَّلُ عَلَى الْخِلَافِ ثُمَّ حُكْمُ هَذَا الْعَقْدِ عِنْدَنَا صِحَّتُهُ وَفَسَادُ التَّسْمِيَةِ فَيَجِبُ مَهْرُ الْمِثْلِ،

(ردالمحتار كتاب النكاح مطلب في نكاح الشغار ج ۳ ص ۱۰۶ سعيد / مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح باب اعلان النكاح والخطبة والشرط الفصل الاول ج ۶ ص ۳۰۵ رشيديه / صحيح البخارى باب الشغار ج ۷ ص ۱۲ / صحيح مسلم باب تحريم نكاح الشغار وبطلانه ج ۲ ص ۱۰۳۴ المؤطا لامام محمد ص ۲۴۵ باب نكاح الشغار)

ورور مي ولور وخوړی بیا مړ سو اوس يې ور بخښلای سم که يا؟

سوال ۴ : زما ورور زما ولور وخوړی وروسته بیا مړ سو اوس زه غواړم چي دغه خپل ولور وروبخښم ایا اوس يې زه وربخښلای سم که يا ؟

جواب : په اسلامي شريعت کښي ښځه دخپل مهر عام اوتام مالکه ده او خپل مهر په هره طريقه سره چي وي استعمالولای سي هغه نو بيا فرق نه لري که مېړه ته يې وربخښي او که يې بل چاته په هديه او هبه کښي ورکوي شرعا کوم مانع يا مشکل په دغه سلسله کښي نسته دا کولای سي چي دغه مهر ودغه مړه ورور ته وروبخښي .

وفی الفتاوی الهندية : لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَهَبَ مَالَهَا لِزَوْجِهَا مِنْ صَدَاقٍ دَخَلَ بِهَا زَوْجُهَا أَوْ لَمْ يَدْخُلْ وَلَيْسَ لِأَحَدٍ مِنْ أَوْلِيَائِهَا أَبٌ وَلَا غَيْرُهُ الِاعْتِرَاضُ عَلَيْهَا، كَذَا فِي شَرْحِ الطَّحَاوِيِّ.

(الفتاوى الهندية ج ۸ ص ۳۱۶ الباب السابع في المهر ، الفصل العاشر في هبة المهر / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۱۱۳ باب المهر / الهداية ج ۲ ص ۳۰۵ باب المهر / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۵۶۵ كتاب النكاح)

که دزنا په وجه ښځه طلاقه کړل سي نو دمهر حق لري .

سوال ۵ : که چیري یوه ښځه تر کوزدې او نکاح وروسته العیاذ بالله دیوه کس سره زنا وکړي او دغه زنا یې هم یا په اقرار او یا په شاهدانو سره ثابته سي بیا خاوند راولاړ سي دغه ښځه طلاقه کړي ځکه چي په ټولنه او عرف کښې دایو قسم عیب سو ایا دغه ښځه اوس ددغه خاوند پر ذمه باندي د مهر حق لري که یا ؟

جواب : دزنا په وجه باندي دښځي مهر شرعا نه ساقطیږي . که چیري دغه خاوند ددغي ښځي سره نژدیکت کړی وي نو پوره مهر دده پر ذمه باندي لازم دی . او که یې چیري نژدیکت نه وي ورسره کړی نو بیا نیم مهر لازم دی . په فتاوی دارالعلوم دیوبند کښې وجه دالیکلې ده چي دا ځکه چي زنا کول العیاذ بالله په حقوقو الله کښې شامل دي کوم چي په توبه او استغفار سره معافیږي او دا حقوق العباد نه دي چي دخاوند په معاف کولو سره معاف سي یا نه سي معاف . خو دمهر پر ساقطولو باندي یې اثر نه لویږي . البته په دغه معامله کښې چي کومه رسوایي او شرمنده ګي دخاوند سوې ده دهغه غوښتنه په آخرت کښې دخاوند دطرفه څخه کیدای سي او که یې چیري معاف کړي معافي یې هم درسته ده .

لما قال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : وَيَتَأَكَّدُ (عِنْدَ وَطْءٍ أَوْ خَلْوَةٍ صَحَّتْ) مِنْ الزَّوْجِ (أَوْ مَوْتِ أَحَدِهِمَا)

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۵۸ باب المهر / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۲۵۸ / ۲۳۲ باب المهر)

دښځي دمهر اقل او لږ مقدار څومره دی ؟

سوال ۶: د ښځي د مهر کم مقدار په شریعت کي څو درهمه دی، او د حضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنها مهر څو درهمه ؤ چي نن سبا په مهر فاطمي سره شهرت لري؟

جواب: د مهر کم تر کمه مقدار لس درهمه دی تر لسو دراهمو کمول شرعًا نه دي صحیح یا به لس دراهمه وي یا به د هغوی د قیمت په اندازه دوخت مروجي روپۍ وي، او د حضرت فاطمې رضي الله عنها مهر پنځه سوه دراهمه وو .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : فَإِنْ نَقَصَ وَجَبَ تَكْمِيلُهُ إِلَى الْعَشَرَةِ لِأَنَّ الْمَهْرَ لَا يَنْقُصُ عَنْ عَشَرَةٍ، سَوَاءٌ كَانَ مَهْرَ الْمِثْلِ أَوْ مُسَمًّى ح قُلْت: وَقَالَ فِي الْقَبْضِ بَعْدَ نَقْلِهِ مَا ذَكَرَهُ الشَّارِحُ عَنْ بَعْضِ الْمُحَقِّقِينَ

(ردالمحتار ج ۲ ص ۳۵۷ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۰۲ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۲ ص ۳۲ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۲۱۷ مکتبه پښتو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۵۶ پښتو / جدید فقهي مسائل ص ۱۷۰)

ایا دیتیمي انجلۍ وصي دیتیمي د ولور اوماله څخه خوراک کولای سي ؟

سوال ۷ : پوښتنه مي داده چي یوه یتیمه انجلۍ وي د اکا په کور کي او بیالویه سي دغه انجلۍ اکا ورکړي او ولوریې راواخلي ددې دواده سامان هم په رانیسي او نور ټول مال ددې یتیمې انجلۍ په خپل کور کي مصرف کړي په خپل اهل او عیال یې وخوري نو اوس دغه وصي او ولي به ددغي انجلۍ حق څنګه اداء کړي ؟

جواب : فقهاء کرامو دفقهي شریفي په کتابونو کي لیکلي دي چي د وارث پر ذمه باندي د هر هغه کس ذي رحم محرم (چي دهمېش دپاره یې نکاح ورسره حرامه وي) نفقه لازمه ده کوم چي کوچنی او فقیر وي یا بالغه ښځه وي خو فقیره وي یا نارینه بالغ وي خو فقیر یا معذور وي او په قرآن کریم کي دالله جل جلاله ارشاد مبارک دی (وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ) څوک چي غني وي نو هغه دي ځان وساتي او څوک چي فقیر وي هغه دي وخوري په ښه طریقه سره .

ددې څخه دا ثابتیږي چي وصي کولای سي دیتیم د ماله څخه خوراک وکړي هر کله چي دی فقیر وي په اندازه دحاجت سره بېله کوم اسرافه او که چیري غني وي نو پر دباندي واجبه ده چي ځان وساتي دیتیم د ماله څخه

علماوو پر دې باندي اتفاق دی کړی دی چي وصي ته دا رواه ده چي دحاجت او ضرورت په وخت کي په اندازه دکفایې دشریعت موافق دیتیم مال واخلي هغه هم دقرض په شکل سره چي کله یې پیدا کړې نو به یې ورکوي

لهذا ددغي يتيمي انجلۍ ولور چي دغه وصي او ولي خوړلی دی دده پر ذمه باندي پوردی چي کله يې پيدا کړې ورکوي به يې يا به يې دغه انجلۍ دزړه په رضا او طيب نفسها سره وربخښي نو بيا يې غاړي خلاصيږي

اوکه چيري دغه ولي او وصي ديتيم تر بلوغه وروسته دعوه وکړي چي ما ودغه يتيم ته پيسې ورکړي دي نو دامام ابوحنيفه رحمه الله تعالی په مذهب کي يې دعوه اورېدل کيږي . والله اعلم

وفى الهداية : والنفقة لكل ذي رحم محرم إذا كان صغيرا فقيرا أو كانت امرأة بالغة فقيرة أو كان ذكرا بالغا فقيرا زمنا أو أعمى " لأن الصلة في القرابة القريبة واجبة دون البعيدة والفاصل أن يكون ذا رحم محرم وقد قال الله تعالى: {وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ} (البقرة: ٢٣٣) وفي قراءة عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وعلى الوارث ذي الرحم المحرم مثل ذلك ثم لا بد من الحاجة والصغر والأنوثة والزمانة والعمى أمارة الحاجة لتحقق العجز ولما قال العلامة المؤلف أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي (المتوفى : ٦٧١هـ) فى الجامع لأحكام القرآن تفسير القرطبي :واختلف الجمهور في الا كل بِالْمَعْرُوفِ مَا هُوَ؟ فَقَالَ قَوْمٌ: هُوَ الْقَرْضُ إِذَا احْتَاجَ وَيَقْضِي إِذَا أَيْسَرَ، قَالَهُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَابْنُ عَبَّاسٍ وَعُبَيْدَةُ وَابْنُ جُبَيْرٍ والشعبي وَمُجَاهِدٌ وَأَبُو الْعَالِيَةِ، وَهُوَ قَوْلُ الْأَوْزَاعِيِّ. وَلَا يَسْتَسْلِفُ أَكْثَرَ مِنْ حَاجَتِهِ. قَالَ عُمَرُ: أَلَا إِنِّي أَنْزَلْتُ نَفْسِي مِنْ مَالِ اللَّهِ مَنْزِلَةَ الْوَلِيِّ مِنْ مَالِ الْيَتِيمِ، إِنِ اسْتَغْنَيْتُ اسْتَعْفَفْتُ، وَإِنِ افْتَقَرْتُ أَكَلْتُ بِالْمَعْرُوفِ، فَإِذَا أَيْسَرْتُ قَضَيْتُ. رَوَى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ عَاصِمٍ عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ (وَمَنْ كانَ فَقِيراً فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ) قَالَ: قَرْضًا ..... وقال العلامة الصابوني رحمه الله تعالى في تفسير آيات الاحكام من القرآن : وقد رجح الطبري القول الاول وهو جواز الاخذ على وجه الاستقراض حيث قال ...... واولى الاقوال فى ذلک بالصواب قول من قال (فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ) المراد اكل مال اليتيم عند الضرورة والحاجة اليه على وجه الاستقراض منه فاما

على غير ذلک الوجه فغير جائز له اكله .... اقول ولعل هذا القول ارجح لانه جمع بين النصوص والله اعلم .

واختلف العلماء في أنّ الوصي إذا ادّعى بعد بلوغ اليتيم أنه قد دفع إليه ماله هل يصدّق؟ وكذلك إذا قال: أنفقت عليه في صغره، هل هو مصدّق؟

فقال الإمامان مالك والشافعي: لا يصدق، وقال الإمام أبو حنيفة وأصحابه يصدق وقال الحنفية: إنّ الأمر للندب، وصرفه عن الوجوب أن الوصي أمين، والأمين إذا ادّعى الردّ على من ائتمنه صدّق، بقي النظر في هذا الذي يأخذه الولي من مال اليتيم، أيعدّ أجرة أم لا؟ حكى صاحب روح المعاني أنّ مذهب الحنفية أنه ليس بأجرة

الأولى تقول: إن له أن يأخذ من مال اليتيم قرضا بقدر ما يحتاج إليه، ثم إذا أيسر قضاه، وهذا قول سعيد بن جبير، ومجاهد، وأبي العالية ، وأكثر الروايات عن ابن عباس.

(الجامع لأحكام القرآن تفسير القرطبي ج ۵ ص ۴۲ سورة النسآء آيت نمبر ۶ / تفسير آيات الاحكام من القرآن ج ۱ ص ۳۱۴ سورة النساء مكتبه اعزازيه / الهداية ج ۲ ص ۴۲۵ باب نفقة اولاد الصغار)

د نکاح په نوي کولو کښي مهر ضروري دي که يا؟

سوال۸: زموږ عرف او رسم داسي راغلی دی چي دواده په شپه بيا د هلک او انجلۍ نکاح نوې کوي ايا په دغه نوې نکاح کښي مهر ايښوول ضروري دی او که هغه زوړ او مخکنی مهر کافي دی؟

جواب: په دغه نوي نکاح ترلو کښي مهر ايښوول ضروري دی بايد نوی مهر وټاکل سي.

لمافي الهداية : ثمّ المهر واجب شرعًا ابانة شرف المحل

(الهداية ج ۲ ص ۳۰۳ مكتبه حنفيه / البحرالرائق ج ۳ ص ۲۴۹ مكتبه رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۳۰۴ مكتبه رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۸ ص ۳۱۷ پښتو / فتاوى حقانية ج ۳ ص ۵۶۷ پښتو)

باب الخيـــــار

کوچنۍ انجلي چي پلار يا نيکه ورکړي نو بيا خيار بلوغ لري که يا ؟

سوال ۱ : که چيري يو پلار خپله کوچنۍ لور يا نيکه يعني (دپلار پلار) خپله کوچنۍ لمسۍ چي لا تراوسه پوري بلوغ ته نه وي رسيدلې په نکاح ورکړي او بيا وروسته داانجلۍ بالغه سي نو تر بلوغ وروسته دا انجلۍ دا اختيار لري چي دا خپله کړې نکاح ماته کړي که يا ؟

جواب : دامام ابو حنيفة رحمة الله عليه دفقهي په کتابونو کښې داخبره په ښکاره او څرګنده راغلې ده چي پلار کومه نکاح دخپلي نابالغي لور وروکړي (يا نيکه دخپلي نابالغي لمسۍ نکاح ددغي لمسۍ دپلار په نه موجودګی يعني چي دا يتيمه وي وروکړي) نو انجلۍ دغه نکاح تر بلوغ وروسته نه سي ماتولای . لهذا بې له دغه چي خاوند طلاق ورکړي په بل صورت کښې دا نکاح نه سي ماتېدلای .

لما فى ردالمحتار على الدرالمختار : لوفعل الاب او الجد عند عدم الاب لايكون للصغيرة والصغير حق الفسخ بعد البلوغ وان فعل غيرهما فلهما ان يفسخا بعد البلوغ .

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۲ ص ۳۳۲ باب الولي رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديو بند ج ۸ ص ۱۳۲ باب الفسخ)

باب الاولیآء والاكفآء

داکا او مور په موجود والي کښې دکوچنۍ انجونو ولي څوک دی ؟

سوال ۱ : که چيري يو کس مړ سي تر شا کوچني اولادونه پريږدي چي په هغوی کښې کوچنۍ انجوني هم وي بل طرف ته ددغه مړه کس وررور شاته پاته دی او بله يې ښځه شاته پاته ده اوس ددغه يتيمانو انجونو دنکاح اختيار او ولايت ددغه انجونو ومورته حاصل دی او که يې واکا ته حاصل دی ؟

جواب: په دغه ذکر سوي صورت کښې د دغه نابالغه یتیمانو انجونو د نکاح ولایت واکا ته حاصل دی داکا په وجود کښې مور هیڅ اختیار نه لري. ځکه چې په نکاح کښې ولایت پر ترتیب د میراث د استحقاق دی او اکا د میراث او ترکې په اعتبار سره عصبه دی، نور د دې مسئلې په تحقیق د علماء کرامو ښه سر خلاصیږي.

وفی الدرالمختار: (الْوَالِي فِي النِّكَاحِ) لَا الْمَالُ (الْعَصَبَةُ بِنَفْسِهِ) وَهُوَ مَنْ يَتَّصِلُ بِالْمَيِّتِ....... (عَلَى تَرْتِيبِ الْإِرْثِ وَالْحَجْبِ)........ فَلَوْ زَوَّجَ الْأَبْعَدُ حَالَ قِيَامِ الْأَقْرَبِ تَوَقَّفَ عَلَى إجَازَتِهِ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۳۷ / ۳۳۸ / ۳۴۱ رشیدیه / البحرالرائق ج ۳ ص ۲۰۸ / تبیین الحقائق ج ۲ ص ۵۰۳ / مجمع الانهر ج ۱ ص ۴۹۴ / فتاوی محمودیه ج ۱۱ ص ۴۸۲ اردو فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۳۳ رشیدیه / فتاوی فریدیه ج ۵ ص ۱۰۰ / فتاوی هندیه ج ۱ ص ۲۸۳)

یتیمه انجلۍ یوه اکا ورکړه هغه بل وایي زما نه ده خوښه

سوال ۲: یوه یتیمه انجلۍ د دوو اکاګانو په سرپرستۍ کې وه یو اکا یې موجود نه ؤ په لیري سفر تللی ؤ دغه بل اکا دغه خپله یتیمه وریره په نکاح ورکړه نکاح وسوه اوس چې هغه بل اکا یې راغی هغه وایي دا نکاح ماته نه ده منظوره دا خلګ زما نه دي خوښ آیا دغه نکاح شرعًا صحیح ده که نه ده؟

جواب: که چیري دغه انجلۍ راضي وي او دغه نکاح په کفوه کښې سوې وي یعني قوم، قبیله هنر یې معلوم وي د دغو خلګونو دغه نکاح صحیح ده هیڅ قسم مشکل شرعا نه لري. که یې دغه مسافر اکا په سفر نه وای تللی دلې یو ځای وای او دغه بل ورور یې دا انجلۍ ورکړې وای هم یې نکاح صحیح کېدله.

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار: وَلَوْ زَوَّجَهَا وَلِيَّانِ مُسْتَوِيَانِ قُدِّمَ السَّابِقُ فَإِنْ لَمْ يَدْرِ أَوْ وَقَعَا مَعًا بَطَلَا

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۸۱ مکتبه شامله / تبین الحقائق ج ۲ ص ۱۱۹ مکتبه شامله / احسن الفتاوی ج ۵ ص ۹۸ / فتاوی رشیدیه)

دسید قوم دانجلۍ نکاح دپښتانه هلک سره رواه ده که یا ؟

سوال۳: د سید قوم د انجلۍ نکاح د پښتنو د قوم د هلک سره روا ېښت لري که یا؟ بعض کسان وایي چي نه ده صحیح ځکه چي د سید مرتبه غټه ده علماء کرام په دغه مسئله کښي څه فرمائي؟

جواب: که چیري په دغه پښتون هلک او ځوان کښي ښه صفتونه لکه ایمان داري تقوی او اعمال صالحه موجود وي، او سیده انجلۍ او د هغې اولیاء او مشران هم په دغه نکاح سره راضي سي، نو د داسي پښتانه ځوان سره د سیدې انجلۍ نکاح شرعًا صحیح ده.

لماقال العلامة الكاساني رحمه الله في بدائع الصنائع : لِأَنَّ فِي الْكَفَاءَةِ حَقًّا لِلْأَوْلِيَاءِ؛ لِأَنَّهُمْ يَنْتَفِعُونَ بِذَلِكَ أَلَا تَرَى أَنَّهُمْ يَتَفَاخَرُونَ بِعُلُوِّ نَسَبِ الْخَتَنِ، وَيَتَعَيَّرُونَ بِدَنَاءَةِ نَسَبِهِ، فَيَتَضَرَّرُونَ بِذَلِكَ، فَكَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْفَعُوا الضَّرَرَ عَنْ أَنْفُسِهِمْ بِالِاعْتِرَاضِ كَالْمُشْتَرِي إذَا بَاعَ الشِّقْصَ الْمَشْفُوعَ، ثُمَّ جَاءَ الشَّفِيعُ كَانَ لَهُ أَنْ يَفْسَخَ الْبَيْعَ، وَيَأْخُذَ الْمَبِيعَ بِالشُّفْعَةِ دَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنْ نَفْسِهِ كَذَا هَذَا.وَلَوْ كَانَ التَّزْوِيجُ بِرِضَاهُمْ يَلْزَمُ حَتَّى لَا يَكُونَ لَهُمْ حَقُّ الِاعْتِرَاضِ

(بدائع الصنائع ج ۲ ص ۶۲۴ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۳ ص ۲۲۷ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۱ ص ۶۲۳ اردو / فتاوی بینات ج ۳ ص ۱۵۴ اردو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۷۴ پښتو)

که د یوې انجلۍ ورور اکا مور او ماماموجودوي په دغو کښي ددې دنکاح اختیاردچادی ؟

سوال۴: یوه لس کلنه انجلۍ مور هم لري وروڼه هم لري ماما هم لري اکا هم لري او پلندر هم لري دغه مور یه وپلندر ته دنکاح اجازه ورکړې ده چي زما لور ورکړه او س په دغه کسانو کښي د انجلۍ د نکاح اختیار شرعًا څوک لري؟

جواب: کله چي د انجلۍ مورني وروڼه او اکا موجود وي ومور ته ددغي نابالغي انجلۍ دنکاح اختیار نسته او نه و پلندر ته سته شرعًا په دغه صورت کښي لومړی ولي او داختیار خاوند ددغي انجلي ورور دی او بیا اکا دی او ددوی څخه وروسته یې بیا مور ده که چیري پلندر دا انجلۍ ورکړه او د وروڼو یې نه وه خوښه نو دغه نکاح باطله ده

مګر که يې وروښو اجازه ورکړه بیا صحیح ده

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار:فلوزوّج الابعد حال قيام الاقرب توقّف عليٰ اجازته

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ص ۲۲۷ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۳ص ۲۰۸ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ص ۲۸۳ مکتبه رشیدیه / تبین الحقائق ج ۲ص ۵۰۳ / مجمع الانهر ج ۱ص ۴۹۴ / فتاوی محمودیه ج ۱۱ص ۴۸۲ اردو فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ص ۳۳ پښتو)

د پلار په اجازه ورور د نابالغې خور نکاح کولای سي که یا ؟

سوال۵: د پلار په حضور کښي یو ورور د نابالغي انجلۍ نکاح ورکولای سي که یا؟ شریعت مطهّره څه فرمائي؟

جواب: که چیري دغه پلار وخپل زوی ته یعني د نابالغي وورورته دنابالغي د نکاح په ورکولو سره اجازه ورکړه اختیار يې ورکړی نو دغه ورور د دغي خور د نکاح اختیارمند دی په نکاح يې ورکولای سي.

لماقال الامام ابن عابدین الشامي رحمه الله في ردالمحتار : ثمّ یقدم الاب ثم الاخ الشقیق ثمّ ابن الاخ الشقیق ثم لاب ثمّ العمّ الشقیق ثم لاب ثمّ ابنه کذالك

(ردالمحتار ج ۲ص ۳۲۴ مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ص ۳۹ پښتو)

د نابالغه ماشومانو نکاح دمور او پلار په حضور کښي بل څوک کولاي سي

سوال۶: د نابالغه ماشومانو نکاح د مور او پلار په حضور کښي بل څوک کولای سي که یا؟

جواب: د نابالغه دنکاح لومړی ولي پلار دی بیا نیکه یعني د پلار پلار بیا ورور او د پلار په حضور کښي که بل څوک نکاح وروکړي هغه دپلار پر اجازه موقوفه ده که پلار اجازه ورته وکړه نو نکاح صحیح کیږي که نه وي نه صحیح کیږي.

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار : فلوزوجّ الابعد حال قیام الاقرب توقّف عليٰ اجاز ته

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۴۱ باب الولي مکتبه رشیدیه / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۷۱ پښتو)

پلار هم د بالغې لور نکاح بې ددې له اجازې څخه نه سي ورکولای .

سوال ۷ : یوه بالغه او پیغله میرمن چي یو ځای یې کوزده او واده زړه نه غواړي خو ددې پلار دپیسو په طمع ددې نکاح هلته ورکول غواړي که چیري ددې پلار ددې په نشتوالي کښې ددې نکاح هلته وروکړي صحت لري که یا ؟

جواب : د بالغې انجلي نکاح شرعًا خپله ددې په اجازه سره کېدای سي کله چي یې پلار په کفوا و قوم کښې هم ورکړي ددې بې اجازې دغه نکاح صحت نه لري .

لمافي الهداية: ينعقد نكاح الحرّة العاقلة بر ضايهاوان لم يعقد عيها ولي بكرا كانت او ثيبًا

(الهدایة ج ۲ ص ۲۹۲ مکتبه حنفیه / البحرالرائق ج ۳ ص ۱۹۸ مکتبه رشیدیه / الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۲۴ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیة ج ۱۱ ص ۵۶۰ اردو فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۸۵ پښتو)

باب الرضاع

یوازي دیوې ښځې په شاهدي سره حرمت رضاعت نه ثابتیږي .

سوال ۱ : څه فرمایي علماء کرام په دغه ذکر سوي مسئله کښې چي یوازي د یوې ښځې په شاهدي ورکولو سره درضاعت (تې ورکولو) حرمت ثابتیږي که یا ؟

جواب : درضاعت دثبوت دپاره کامل حجت ضروري دی کوم چي ددوو عادلو سړیو یا یو عادل سړي او دوو عادلو ښځې شاهدي ده . یوازي دیوه سړي یا دیوې ښځې او یا د دوو ښځو خبره درضاعت ددعوې دثبوت دپاره کافي نه ده . نو ددې وجي یوازي دمرضعې (تی ورکوونکي) ښځې په دعوې سره درضاعت حرمت نه ثابتیږي . البته که چیري مرضعه (تی ورکوونکي ښځه) په خپله خبره او دعوی کښې په حقیقت کښې هم رښتوني وي نو څومره چي کېدای سي اجتناب ځیني بهتر دی . که څه هم نکاح صحیح او درسته ده .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار : (وَ) الرَّضَاعُ (حُجَّتُهُ حُجَّةُ الْمَالِ) وَهِيَ شَهَادَةُ عَدْلَيْنِ أَوْ عَدْلٍ وَعِدْلَتَانِ، لَكِنْ لَا تَقَعُ الْفُرْقَةُ إلَّا بِتَفْرِيقِ الْقَاضِي وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى فى ردالمحتار : أَيْ وَلَوْ إحْدَاهُمَا الْمُرْضِعَةُ.

وقال المرغيناني رحمه الله تعالى فى الهداية : " ولا تقبل في الرضاع شهادة النساء منفردات وإنما تثبت بشهادة رجلين أو رجل وامرأتين "

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۴۴۸ باب الرضاع / الهداية ج ۲ ص ۳۳۳ كتاب الرضاع / البحرالرائق ج ۳ ص ۲۳۲ كتاب الرضاع / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۵۹۳ / ۵۹۰ باب الرضاع)

په غوږ کښې دشیدو څڅول رضاعت نه ثابتوي .

سوال ۲ : که چیرې یوه ښځه دیو ماشوم په غوږ کښې د رضاعت په موده کښې شیدې وڅڅوي یا ولوشي نو په دې سره حرمت رضاعت ثابتیږي که یا ؟.

جواب : په غوږ کښې د شیدو په څڅولو سره حرمت رضاعت نه ثابتیږي یعني دې ته شرعاً د شیدو ورکول یا د شیدو رودل نه وایي .

لما قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى فى البحر الرائق : هو مص الرضيع من ثدي الآدمية في وقت مخصوص) أي وصول اللبن من ثدي المرأة إلى جوف الصغير من فمه أو أنفه في مدة الرضاع............ وقيدنا بالفم، والأنف ليخرج ما إذا وصل بالإقطار في الأذن، والإحليل.......

(البحرالرائق ج ۳ ص ۳۸۷ كتاب الرضاع مكتبه رشيديه / بدائع الصنائع ج ۳ص ۴۰۸ كتاب الرضاع مكتبه رشيديه)

وخاوند ته په تي ورکولو سره نکاح نه ماتیږي .

سوال ۳ : که چیرې یوې میرمنې د نژدیکت په وخت کې وخپل خاوند ته خپل شیدې ورکړې ایانکاح یې ماته سوه که یا ؟

جواب : په دغه مذکوره صورت کښې نکاح پرخپل ځای ولاړه ده باطله او ماته سوې نه ده البته خاوند ګنهګاره دي توبه دې وباسي ځکه چې هغه دخپلې ښځې شېدې دانسان جزدی بیله ضرورته دهغه استعمال ورته حرام دی .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار: ومص ثدى لم تحرم ولم يبح الارضاع بعد مدته لانه جزء ادمي والانتفاع به بغير ضرورة حرام .

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار جلد ۲ ص ۴۴۹ باب الرضاع / الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۵۵ / فتاوى قاضي خان علي هامش الهندية ج ۱ ص ۴۱۷ مكتبه رشيديه / فتاواي دارالعلوم ديوبند جلد ۸ ص ۳۶۴ پښتو / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۵۹۰ پښتو / فتاوى محموديه ج ۱۳ ص ۶۲۳ اردو)

انا لمسۍ ته شېدې ورکړې نو حکم يې څنګه دی ؟

سوال ۴ : يوې ښځې خپل لمسي ته تی ورکړی او اوس دغه انجلۍ په دغه کورنۍ کښې په نکاح ورکول رواه ده که يا ؟

جواب : دغه ماشوم چې دخپل انا تی يې درضاعت په موده کې ورودی که چيرې هلک وو نو دټولو اکاګانو رضاعي ورور سو نو بيا ددغه اکاګانو لوڼې وده ته نه دې رواه ځکه چې دی دهغوی اکا کيږي او داکا او وريرې نکاح نه ده رواه . او که چيرې انجلۍ وه نو بيا ددغه ټولو اکاګانو رضاعي خور سوله نو بيا ددې نکاح ددغه اکاګانو دزامنو سره نه ده رواه ځکه چې هغوی يې رضاعي وريرونه کيږي او دايې عمه کيږي او دعمه او دوراره نکاح نه ده سره رواه .

وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ مِنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا (۲۳)

عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بِنْتِ حَمْزَةَ: «لاَ تَحِلُّ لِي، يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ، هِيَ بِنْتُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ.

و لما قال العلامة ابن نجيم المصري رحمه الله تعالى فى البحر الرائق : هو مص الرضيع من ثدي الآدمية في وقت مخصوص) أي وصول اللبن من ثدي المرأة إلى جوف الصغير من فمه أو أنفه في مدة الرضاع الآتية

(صحیح البخاري ج ۲ ص ۷۶۴ باب قوله تعالي وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ / مسلم شریف ج ۱ ص ۴۶۷ باب الرضاعة من ماء الفحل / سنن النسائي ج ۶ ص ۱۰۰ باب تحریم بنت الاخ من الرضاع / البحر الرائق ج ۳ ص ۳۸۶ کتاب الرضاع مکتبه رشیدیه / فتاوی فریدیه ج ۵ ص ۱۴۸)

درضاعي ورور دلور سره د اکا نکاح حرامه ده .

سوال ۵ : ایا دخپل رضاعي ورور دلور سره نکاح رواه ده که یا یعني درضاعې وریرې سره درضاعي اکا نکاح رواه ده که یا ؟

جواب : څنګه چې په شریعت کښې دحقیقي او نسبي اکا نکاح دنسبي او حقیقي وریرې سره نه ده رواه همدا شان درضاعې وریرې نکاح درضاعي اکا سره نه ده رواه .

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بِنْتِ حَمْزَةَ: «لاَ تَحِلُّ لِي، يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ، هِيَ بِنْتُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ. وفی کنزالدقائق علی هامش البحر الرائق : (زَوْجُ مُرْضِعَةٍ لَبَنُهَا مِنْهُ أَبٌ لِلرَّضِيعِ وَابْنُهُ أَخٌ وَبِنْتُهُ أُخْتٌ وَأَخُوهُ عَمٌّ وَأُخْتُهُ عَمَّةٌ)

(الصحیح البخاري ج ۲ ص ۷۶۴ کتاب النکاح باب مایحرم من الرضاعة ما یحرم من النسب / کنزالدقائق علي هامش البحرالرائق ج ۳ ص ۲۲۶ کتاب الرضاع / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۴۳ کتاب الرضاع / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۸۹ کتاب النکاح)

یو نر او یوه ښځه پر رضاعت باندي شاهدي اداء کوي

سوال۶: د یوې ښځي تر وفات وروسته د دغي ښځي خور او یو بل کس را ولاړیږي دا شاهدي اداء کوي چي دغه مړې ښځي په خپل ژوند کښې فلانکي ماشوم ته تی ورکړی دی او هغه یې رضاعي زوی دی آیا د دوی په شاهدي سره حرمت د رضاعت ثابتیږي؟

جواب: د دغي ښځي د مرګ څخه وروسته که چیري د هغې خور او یو سړی شاهدي اداء کوي پر هغې باندي چي دې د فلانکې ماشوم ته تی ورکړی دی قضاء دغه حرمت نه ثابتیږي شرعًا خو بیا هم د نکاح په معامله کي ډېر احتیاط په کار دی .

لماقال الامام الحصکفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَ) الرَّضَاعُ (حُجَّتُهُ حُجَّةُ الْمَالِ) وَهِيَ شَهَادَةُ عَدْلَيْنِ أَوْ عَدْلٍ وَعِدْلَتَانِ، لَكِنْ لَا تَقَعُ الْفُرْقَةُ إلَّا بِتَفْرِيقِ الْقَاضِي

(الدرالمختار مع ردالمحتارج ۲ ص ۴۴۸ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۳ ص ۴۰۵ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیه ج ۱ ص ۳۴۷ مکتبه رشیدیه / عزیزالفتاوي ج ۱ ص ۵۴۷اردو / مسائل مسائل او دهغوي حل ج ۶ ص ۲۱۵اردو)

رضاعي لمسۍ خپل زوی ته کول ؟

سوال ۷: رضاعي لمسۍ وخپل زوی ته کول رواه ده که یا ؟.

جواب: څنګه چي نسبي لمسۍ وخپل زوی ته نه ده رواه ځکه چي ددغي انا لمسۍ ددغه کس (دانا زوی) به یا خورزه کیږي یا به یې وریره کیږي اوحال دا چي په شریعت کښې نه د نسبي خورزې سره نکاح رواه ده او نه هم دنسبي وریرې سره . همداشان درضاعي اکا نکاح دخپلي رضاعي وریرې سره رواه نه ده . او نه هم درضاعي ماما نکاح دخپلي رضاعي خورزې سره رواه ده . خلاصه داچي دغه ښځه نه سي کولای خپله رضاعي لمسۍ وخپل زوی ته په نکاح کړي ځکه چي یا به یې رضاعي خورزه کیږي که یې درضاعي خور لور وه او یا به یې رضاعي وریره کیږي که یې درضاعي وررو لور وه .

لما ذكر العلامة المرغيناني الفرغيناني رحمه الله تعالى في الهداية : ويحرم من الرضاع ما يحرم من النسب " للحديث الذي روينا .وقال العلامة الحصفكي رحمه الله تعالى في الدرالمختار : (فَيَحْرُمُ مِنْهُ) أَيْ بِسَبَبِهِ (مَا يَحْرُمُ مِنْ النَّسَبِ) رَوَاهُ الشَّيْخَان .

(الهدایة ج ۱ ص ۲۱۷ مایحرم بالرضاع مکتبه شامله بیروت چاپ /الدرالمختار مع ردالمحتارج ۳ ص ۲۱۳ باب الرضاع / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۹۹ کتاب النکاح)

د رضاعي زوی د سکه خور سره نکاح رواده .

سوال ۸: دیو کس ښځي یو هلک ته په ماشومتوب کښې تی ورکړی دا ښځه مړه سوه او س یې دغه خاوند ددغه هلک دخور سره نکاح کوي یعني دهلک دسکه خور سره آیا دغه نکاح شرعاً درسته اورواه ده ؟

جواب: یو کس ته رواده چي دخپل رضاعي زوی د سکه خور سره نکاح وکړي لهذا دغه کس ته رواده چي ددغه ماشوم دخور سره نکاح وکړي کوم چي دده پخوانۍ ښځي تی ورکړی وو.

لمافي فتح القدير: والثاني له ابن رضاع بان ارتضع زوجة الرجل حلت للرجل اخته من النسب

(فتح القدير ج ۳ ص ۳۱۱ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۳ ص ۳۸۹ مكتبه رشيديه / الهداية ج ۲ ص ۳۳۰ مكتبه حنفية / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۳۴۳ مكتبه رشيديه / فتاوى حقانية ج ۳ ص ۵۹۱ پښتو)

لږ شيدې رودل او ډېري شيدې رودل سره برابر دي په حراموالي کې.

سوال ۹: يوې ښځې فقط يو واري يو ماشوم ته تی ورکړی دی او هغه رودلی هم دی ایا په یوه وار تي رودلو سره هم رضاعت ثابيتيږي ؟

سوال: د حرمت په ثابتولو کښې د رضاعت لږ او ډېر سره برابر دي لهذا په يوه وار رودلو سره هم حرمت ثابيتيږي نو رد دغه هلک نکاح د دغي ښځي د اصولو او فروعو سره يعني د دغه ښځي د مور او د دي د اولادو سره ناروا ه او حرامه ده.

لماقال علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (المتوفى: ۵۹۳هـ)في الهداية : قليل الرضاع وكثيره سواء إذا حصل في مدة الرضاع تعلق به التحريم

(الهداية ج ۲ ص ۳۲۹ مكتبه حنفيه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۳۴۲ مكتبه رشيديه / فتح القدير ج ۳ ص ۳۰۴ مكتبه رشيديه / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۸ ص ۳۵۰ پښتو / فتاوى حقانية ج ۳ ص ۵۹۱ پښتو)

فقط په تي رودلو او زبېښلو سره رضاعت نه ثابتيږي ترڅه وخته چي يقين نه وي چي شيدې يې تر حلق تيري سوې.

سوال ۱۰: يوه ښځه بيان کوي چي زما په سينه کښي شيدې وچي سوي وي ليکن ماد يو ماشوم د قرار ولو لپاره خپل تي هغه ته په خوله کښي ورکړی او هغه هم وزبېښی حال دا چي شيدې نه وې پکښې ايا پر دغه طريقه باندي رضاعت ثابتيږي که يا ؟

جواب: ترڅو چي په يقين سره دا ثابته نه سي چي شيدې تر حلق تيري سوي دي په مطلق رودلو يا زبېښلو سره رضاعت نه ثابتيږي لهذا دغه ماشوم ته د دغه ښځي

دلورسره نکاح روا ده لیکن احتیاط په دي کي دي چي نکاح ونه سي.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : ويثبت به وان قل ان علم وصوله لجوفه من فمه اوانفه لاغير فلو التقم الحلمة ولم يدر ادخل اللبن في حلقه ام لالم يحرم لان في المانع شكاً

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۴۳۹ مكتبه رشيديه / البحرالرائق ج ۳ ص ۳۸۷ مكتبه رشيديه / فتح القدير ج ۳ ص ۳۰۴ مكتبه رشيديه / فتاوی حقانية ج ۳ ص ۵۹۷ پښتو / فتاوی مفتي محمود ج ۵ ص ۳۶۶ اردو)

تر دوه نیم کلوورسته په شیدو رودلو رضاعت نه ثابتیږي .

سوال ۱۱: د ماشوم د تي رودلو موده شرعاً زمونږ په مذهب کي څو کاله ده چي تر هغه ورسته حرمت را نه سي ؟

جواب: د تي درودلو موده د ماشوم لپاره شرعاً دوه نیم کاله ده د دوو قولو پر اختلاف د امام صاحب په نزد دوه نیم کاله ده او د یارانو په نزد دوه کاله ده خو بعض علماء کرام وايي چي فتوا د امام صاحب پر قول ده علامه شامي رحمه الله تعالی لیکلي دي چي پر دواړو قولونو فتواوي ورکول سوي دي لهذا په دوه نیم کاله کي د ننه که ماشوم تی ورودی رضاعت ثابتیږي او مفتي ګل حسن صاحب دامت برکاته بیا وايي فتوی د صاحبینو پر قول ده.

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار: وحاصله انهما قولان افتى كل منها

(ردالمحتار ج ۲ ص ۴۳۷ مكتبه رشيديه / الهداية ج ۲ ص ۳۲۹ مكتبه حنفيه / الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۳۴۲ مكتبه رشيديه / فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۸ ۳۴۵ پښتو / فتاوی حقانية ج ۳ ص ۵۹۷ پښتو / القول الراجح ج ۱ ص ۳۰۳)

د رضاعت تر مودي وروسته د ښځي شیدي رودل حرام دي

سوال ۱۲: یو کس وايي ما ته د خپلي ښځي شیدې رودل روا دي ایا دغه خبره شرعًا درسته او صحیح ده که یا ؟

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چي د رضاعت د مودې څخه وروسته د خپلي ښځي شیدې رودل مطلقا حرامي دي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار :ولم يبح الارضاع بعد مدّته لانه جزء الادمي والانتفاع لغيرضرورة حرام علي الصحيح الخ

الدرالمختار مع ردالمحتار جلد ۳ ص ۲۱۱ باب الرضاع مكتبه شامله / الفتاوى الهندية ج۵ ص ۳۵۵ / كفايت المفتي جلد ۹ ص۱۲۵ كتاب الحظر والاباحة / فتاوى حقانيه ج ۳ ص ۵۹۰ كتاب النكاح)

باب حرمة المصاهرت

میرې ته په خوند او شهوت سره لاس وروړل

سوال ۱: یو کس میرې ته په خوند او شهوت سره لاس وروړی آیا دغه د ده میره اوس پر پلار حرامه سوه که یا؟

جواب: که چیري دغه بونزی و دې خپلي میرې ته پر لڅ جسم لاس وروړي په خوند او شهوت سره یا یې پر داسي نازک ټوکر او جامې سر بېره لاس وروړي چي هغه جامه د جسم حرارت نه منع کوي دو مره نازکه ده نو دغه ښځه د دغه هلک پر پلار حرامه سوه شرعًا .

لماقال الامام ابن عابدين الشامي رحمه الله في ردالمحتار : (قَوْلُهُ: وَبِحُرْمَةِ الْمُصَاهَرَةِ إلَخْ) قَالَ فِي الذَّخِيرَةِ: ذَكَرَ مُحَمَّدٌ فِي نِكَاحِ الْأَصْلِ أَنَّ النِّكَاحَ لَا يَرْتَفِعُ بِحُرْمَةِ الْمُصَاهَرَةِ وَالرَّضَاعِ بَلْ يَفْسُدُ حَتَّى لَوْ وَطِئَهَا الزَّوْجُ قَبْلَ التَّفْرِيقِ لَا يَجِبُ عَلَيْهِ الْحَدُّ اشْتَبَهَ عَلَيْهِ أَوْ لَمْ يَشْتَبِهْ عَلَيْهِ. اهـ.

(قَوْلُهُ: إلَّا بَعْدَ الْمُتَارَكَةِ) أَيْ، وَإِنْ مَضَى عَلَيْهَا سُنُونَ كَمَا فِي الْبَزَّازِيَّةِ، وَعِبَارَةُ الْحَاوِي إلَّا بَعْدَ تَفْرِيقِ الْقَاضِي أَوْ بَعْدَ الْمُتَارَكَةِ. اهـ.

وَقَدْ عَلِمْت أَنَّ النِّكَاحَ لَا يَرْتَفِعُ بَلْ يَفْسُدُ وَقَدْ صَرَّحُوا فِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ بِأَنَّ الْمُتَارَكَةَ لَا تَتَحَقَّقُ إلَّا بِالْقَوْلِ، إنْ كَانَتْ مَدْخُولًا بِهَا كَتَرَكْتُك أَوْ خَلَّيْت سَبِيلَك، وَأَمَّا غَيْرُ الْمَدْخُولِ بِهَا فَقِيلَ تَكُونُ بِالْقَوْلِ وَبِالتَّرْكِ عَلَى قَصْدِ عَدَمِ الْعَوْدِ إلَيْهَا.

(ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۷ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۲ ص ۱۷۹ مکتبه رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۷۴ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۱ ص ۴۰۰ اردو / احسن الفتاوی ج ۵ ص ۸۵ اردو / خیرالفتاوی ج ۴ ص ۴۵۴ اردو)

دښځي په خيال يې ولور ته لاس په شهوت سره وروړی .

سوال ۲: يو سړي د شپې د خپلي ښځي په ګمان سره وخپلي بالغي لور ته العياذ بالله په شهوت سره (آله د شهوت يې منتشره وه) بيله کوم حائله او پردې لاس وروړی ايا په دغه ذکر سوي صورت کښې د ده ښځه پر ده باندي حرامه ده که يا ؟.

جواب : دغي مسئلې ته د فقهاوو په اصطلاح کښې د (حرمة المصاهرة) مسئله وايي . لهذا که چيري شهوت هم وي او د دواړو تر مېنځ کوم حائل او پرده نه وي نو په دغه ذکر سوي صورت کښې دغه ښځه چي د ده مانيه کيږي پر دغه خاوند باندي د دغه فعل دوجي څخه همېشه حرامه ده .

وفی الدرالمختار : وَفِي الْخَانِيَّةِ إنَّ النَّظَرَ إلَى فَرَجِ ابْنَتِهِ بِشَهْوَةٍ يُوجِبُ حُرْمَةَ امْرَأَتِهِ وَكَذَا لَوْ فَزِعَتْ فَدَخَلَتْ فِرَاشَ أَبِيهَا عُرْيَانَةً فَانْتَشَرَ لَهَا أَبُوهَا تَحْرُمُ عَلَيْهِ أُمُّهَا (وَبِنْتُ) سِنِّهَا (دُونَ تِسْعٍ لَيْسَتْ بِمُشْتَهَاةٍ) بِهِ يُفْتَى . وفی ردالمحتار : كَذَا فِي الْبَحْرِ عَنْ الْخَانِيَّةِ، ثُمَّ قَالَ فَأَفَادَ أَنَّهُ لَا فَرْقَ بَيْنَ أَنْ تَكُونَ سَمِينَةً أَوْ لَا وَلِذَا قَالَ فِي الْمِعْرَاجِ بِنْتُ خَمْسٍ لَا تَكُونُ مُشْتَهَاةً اتِّفَاقًا وَبِنْتُ تِسْعٍ فَصَاعِدًا مُشْتَهَاةٌ اتِّفَاقًا وَفِيمَا بَيْنَ الْخَمْسِ وَالتِّسْعِ اخْتِلَافُ الرِّوَايَةِ وَالْمَشَايِخِ وَالْأَصَحُّ أَنَّهَا لَا تَثْبُتُ الْحُرْمَةُ........ (قَوْلُهُ: فَدَخَلَتْ فِرَاشَ أَبِيهَا) كَنَّى بِهِ عَنْ الْمَسِّ، وَإِلَّا فَمُجَرَّدُ الدُّخُولِ بِغَيْرِ مَسٍّ لَا يُعْتَبَرُ ..

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۳۰۷ / ۳۰۸ فصل في المحرمات / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۲۷۴ فصل في المحرمات / بدرالفتاوی في الفقه الحنفي ص ۹۱ / الهدایة ج ۲ ص ۲۸۹ فصل في بیان المحرمات مکتبه حنفیه)

خوسر ومرور ته لاس وروړی شهوت يې ورته وسو حرمت مصاهرت راولي كه يا ؟

سوال ۳ : يوه مرور وخوسره ته راغله چي ته زما لاس وګوره زما خو به تبه نه وي خوسر چي كله دهغې لاس ونيوی نو يې په غير اختياري توګه سره دشهوت په آله (ذكر) كښې حركت راغی پو ښتنه داده چي ددغه حركت دوجي څخه دغه مرور ددغه خوسر وزوی ته رواه ده كه يا ؟ او ددوی تر منځ حرمت مصاهرت ثابتيږي كه يا ؟

جواب : فقهاء كرامو ليكلي دي چي د حرمت مصاهرت دپاره په شهوت سره لمس يعني لاس لګول ضروري دی نو كوم لمس چي په شهوت سره وي هغه حرمت مصاهرت راولي او كوم لمس چي په شهوت سره نه وي هغه حرمت مصاهرت نه راولي.

لما قال العلامة أبو المعالي برهان الدين محمود بن أحمد بن عبد العزيز بن عمر بن مَازَةَ البخاري الحنفي (المتوفى: ۶۱۶هـ) فى المحيط البرهاني في الفقه النعماني فى فقه الإمام أبي حنيفة رضي الله عنه: وكما ثبتت هذه الحرمة بالوطء تثبت بالمسّ والتقبيل والنظر إلى الفرج بشهوة سواء كان بنكاح أو ملك أو فجور عندنا إذا كان المحل مشتهاه..... وحد، والشهوة: أن تنتشر آلته إليه بالنظر إلى الفرج أو المس إذا لم يكن منتشراً قبل هذا، وإذا كان منتشراً فإن كان يزداد قوة و... بالنظر والمسّ كان ذلك عن شهوة وما (لا) فلا، وهذا إذا كان شاباً قادراً على الجماع، وإن كان شيخاً أو عنيناً فحدُّ الشهوة أن يتحرك قلبه بالاشتهاء إن لم يكن متحركاً قبل ذلك، ويزداد الاشتهاء إن كان متحركاً فهذا هو حدّ الشهوة التي حكاها عن أصحابنا رحمهم الله، وإليه مال شيخ الإسلام المعروف بخواهر زاده وشمس الأئمة السرخسي رحمهما الله.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۷۵ باب الحرمات بالصهرية مكتبه رشيديه / الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۳۰۴ فصل في المحرمات مكتبه رشيديه كويټه كتاب النكاح / المحيط البرهاني ج ۳ ص ۶۳ الفصل الثالث عشر في بيان اسباب التحريم بيروت چاپ مكتبه شامله / تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ج ۲ ص ۴۶۹ فصل في المحرمات مكتبه اشرفيه /البحر الرائق شرح كنزالدقائق ج ۳ ص ۱۷۳ فصل في المحرمات بانكاح مكتبه رشيديه / مجمع الانهر شرح ملتقي الابحرج ۱ ص ۴۸۱ فصل في المحرمات كتاب النكاح مكتبه الحرمين الشريفين)

دخپلي ښځي لور ته چي لاس په شهوت ورووړي نوحرمت مصاهرت ثابتيږي

سوال ۴ : په دوا ړو دارينو کي کامیابه اوسې پوښتنه مي داده چه يو سړي دخپلي کوروالا ته جماع کولو ته ورځي او بيا خطاوزي د بچندري وبسترې ته ورسي او لاس پر کښيږدي نو بيا بل وخت پر خپل کوروالا اقدام وکړي پوښتنه دهیچا څخه ونکړي نو ددې سزاء او جرم به څه وي او دى بايد څه وکړي دحل او خلاصون لاره به شرعا څه وي

الجواب : دغي مسئلې ته د فقهاوو په اصطلاح کښې د (حرمة المصاهرة) مسئله وايي . لهذا که چيري شهوت هم وي او د دواړو تر مینځ کوم حائل او پرده نه وي نو په دغه ذکر سوي صورت کښې دغه ښځه چي دده ماينه کيږي پر دغه خاوند باندي ددغه فعل دوجي څخه دهمېشه دپاره حرامه ده .

وفى الدرالمختار : وَفِي الْخَانِيَّةِ إنَّ النَّظَرَ إلَى فَرَجِ ابْنَتِهِ بِشَهْوَةٍ يُوجِبُ حُرْمَةَ امْرَأَتِهِ وَكَذَا لَوْ فَزِعَتْ فَدَخَلَتْ فِرَاشَ أَبِيهَا عُرْيَانَةً فَانْتَشَرَ لَهَا أَبُوهَا تَحْرُمُ عَلَيْهِ أُمُّهَا (وَبِنْتُ) سِنِّهَا (دُونَ تِسْعٍ لَيْسَتْ بِمُشْتَهَاةٍ) بِهِ يُفْتَى . وفى ردالمحتار : كَذَا فِي الْبَحْرِ عَنْ الْخَانِيَّةِ، ثُمَّ قَالَ فَأَفَادَ أَنَّهُ لَا فَرْقَ بَيْنَ أَنْ تَكُونَ سَمِينَةً أَوْ لَا وَلِذَا قَالَ فِي الْمِعْرَاجِ بِنْتُ خَمْسٍ لَا تَكُونُ مُشْتَهَاةً اتِّفَاقًا وَبِنْتُ تِسْعٍ فَصَاعِدًا مُشْتَهَاةٌ اتِّفَاقًا وَفِيمَا بَيْنَ الْخَمْسِ وَالتِّسْعِ اخْتِلَافُ الرِّوَايَةِ وَالْمَشَايِخِ وَالْأَصَحُّ أَنَّهَا لَا تَثْبُتُ الْحُرْمَةُ........ (قَوْلُهُ: فَدَخَلَتْ فِرَاشَ أَبِيهَا) كَنَّى بِهِ عَنْ الْمَسِّ، وَإِلَّا فَمُجَرَّدُ الدُّخُولِ بِغَيْرِ مَسٍّ لَا يُعْتَبَرُ ..

(ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۳۰۷ / ۳۰۸ فصل في المحرمات / فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۷ ص ۲۷۴ فصل في المحرمات / بدرالفتاوى في الفقه الحنفي ص ۹۱ / الهداية ج ۲ ص ۲۸۹ فصل في بيان المحرمات مكتبه حنفيه)

باب العـــــدة

ښځه دپلار پر کوروه خاوند يې مړ سو عده به چيري تېروي ؟

سوال ۱ : يو کس د خپلي ښځي سره د خپل وطن څخه د خپل خوسر کره راغی حال دا چي د خوسر وطن بل دی په دغه وخت کښې دغه کس وفات سو پوښتنه دا ده چي دغه

ښځه د خپل خاوند عدة د پلار پر کور تېره کړي او که د خپل خاوند پر کور؟

جواب: د خاوند چي کوم اصلي وطن او د اوسېدو ځای او سرای او کور دی او هلته چي دا ښځه ورسره اوسېدله باید د غه ښځه د وفات عدة د هغه خپل خاوند په کور کښې تېره کړي نه د پلار پر کور د پلار د کوره څخه دي فورًا د یوه محرم شرعي په ملګرتیا کښې د خپل خاوند کورته ځان ورسوي د غه راتګ د دوی عارضي ؤ نه د همېش لپاره.

لماقال الامام الحصكفي رحمه الله في الدرالمختار : (وَتَعْتَدَّانِ) أَيْ مُعْتَدَّةُ طَلَاقٍ وَمَوْتٍ (فِي بَيْتٍ وَجَبَتْ فِيهِ) وَلَا يَخْرُجَانِ مِنْهُ (إلَّا أَنْ تُخْرَجَ أَوْ يَتَهَدَّمَ الْمَنْزِلُ، أَوْ تَخَافُ) انْهِدَامَهُ، أَوْ (تَلَفَ مَالِهَا، أَوْ لَا تَجِدَ كِرَاءَ الْبَيْتِ) وَنَحْوَ ذَلِكَ مِنْ الضَّرُورَاتِ فَتَخْرُجُ لِأَقْرَبِ مَوْضِعٍ إلَيْهِ،

(الدرالمختار مع ردالمحتارج ۲ ص ۶۷۴ مکتبه رشیدیه / البحرالرائق ج ۴ ص ۲۵۹ مکتبه رشیدیه / تبین الحقائق ج ۳ ص ۲۷۱ مکتبه اشرفیه / الفتاوی تاتارخانیه ج ۴ ص ۷۰ / فتاوی محمودیه / ج ۱۳ ص ۳۹۵ اردو)

که یوه ښځه دعدې په وخت کي دخوسرګنۍ دخوا مشکلات ولري .

سوال ۲: د یوې ښځي خاوند چي وفات سي د غه ښځه به عدة د خپل خاوند په کور کي تېره وي لیکن که د غه ښځه د خوسرګنۍ له طرفه څخه د مشکلاتو سره مخامخ سي مثلا جنجال، ښکنځل په سپک نظر هغې ته کتل آیا شرعًا د غه ښځه د غه خپل د خاوند د مرګ عدة د خپل پلار کره تېرولای سي؟

جواب: د خوسرګنۍ له طرفه څخه که د داسي قسم مشکلاتو سره ښځه مخامخ وي په عدة کښې بیا هم شرعًا د غه کور دا نه سي پرېښودلای بلکه اصلاح مهمه ده چي هغه خوسرګنۍ دي یو څو پوه او عادل کسان پوه کړي او د دوی ترمابین دي دغه مشکلات حل کړي البته که معمله ډېره سخته سوه وهلو او ټکولو ته خبره رسېدله نو بیا کولای سي چي د پلار کورته نقل سي .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار على هامش ردالمحتار : (وتعتدان) أي معتدة طلاق وموت (في بيت وجبت فيه) ولا يخرجان منه (إلا أن تخرج أو

يتهدم المنزل، أو تخاف) انهدامه، أو (تلف مالها، أو لا تجد كراء البيت) ونحو ذلك من الضرورات فتخرج لأقرب موضع إليه،

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۵۳۶ فصل في الحداد مكتبه شامله / مشكوة المصابيح ج ۲ ص ۴۳۵ / احسن الفتاوی ج ۶ ص ۴۴۶ اردو / ستاسو مسائل او دهغوی حل ج ۶ ص ۷۰۷ اردو)

تروادہ او کوروالي مخکي ديوې ښځي خاوند وفات سو عدت تيرول غواړي که يا ؟

سوال ۳ : که چيري ديوې ښځي خاوند داسي وخت وفات سي چي تراوسه يې هغه ښځه واده کړې نه وي يعني کوروالی يې نه وي ورسره کړی نو پر داسي ښځي باندي عدت تيرول لازم ده که يا ؟

جواب : هغه ښځه چي خاوند يي ددې سره تر نژديکت او کوروالي مخکي وفات سي پر هغې باندي عدت تيرول لازم دي او په عده کښې ددغي ښځي سره نکاح کول فاسد ه ده .

العدة واجبة شرعاً على المرأة بالكتاب والسنة والإجماع وفى الدرالمختار : وسبب وجوبها عقدالنكاح المتأكد بالتسليم وماجرى مجراه من موت او خلوة اى صحيحية . وفى الفقه الاسلامى وادلته : تجب العدة في الجملة بأحد أمرين: طلاق أو موت. والفسخ كالطلاق وتجب العدة كذلك بالاتفاق بعد وفاة الزوج في العقد الصحيح، ولو قبل الدخول أو الوطء أو كانت الزوجة صغيرة، أو زوجة صبي ولو رضيعاً أو زوجة ممسوح، لإطلاق الآيات القرآنية مثل: {والذين يتوفون منكم، ويذرون أزواجاً يتربصن بأنفسهن أربعة أشهر وعشراً}(البقرة:۲/۲۳۴) وتكون القاعدة: كل طلاق أو فسخ وجب فيه جميع الصداق وجبت العدة، وحيث سقط الصداق كله أو لم يجب إلا نصفه، سقطت العدة. ووجبت العدة على المتوفى عنها زوجها التي لم يدخل بها تعبداً، مراعاة لحق الزوج.

وهذه المعاني تنطبق على المرأة، حتى ولو كانت كبيرة السن لا ترجو زواجاً آخر، بالإضافة لتحقيق معنى التعبد في العدة.

(الدرالمختار علي هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۸۲۴ ومابعدها / بیروت / البدائع الصنائع ج ۳ ص ۱۹۱ ومابعدها بیروت / الفقه الاسلامي وادلته ج ۹ ص ۷۱۷۱ / ۷۱۷۰ مکتبه حبیبیه / فتاوی محمودیه ج ۱۳ ص ۳۸۱ / کفایت المفتي ج ۶ ص ۴۰۵ / فتاوی دارلعلوم دیوبند ج ۱۰ / ۲۲۵)

دښځي سره په عده کي نکاح کول فاسده ده

سوال ۴: د یوې ښځي خاوند وفات سو تر اوسه پوري دې ښځي هغه عدة د خاوند د مرګ نه وه پوره کړې چي یو بل کس په نکاح واخیستل د دغه نکاح او واده سره د دې ښځي یوه لور پیدا سوه آیا دغسي نکاح جایز ده؟ آیا دغه مور او لور د دغه کس په دنیا او میراث کي حق لري که یا؟

جواب: دغه کس چي د دغې ښځي سره یې په عدة کي نکاح کړې ده دغه نکاح ته په شریعت کي نکاح فاسده وایې کومه چي شرعا حرامه ده او په فاسدي نکاح کي ماینه د مېړه میراث نسي وړلای ځکه چي نکاح منعقده نه ده البته نسب ځیني ثابتېږي لهذا هغه اولاد چي په دغه نکاح سره پیدا سوی دی هغه شرعًا د دغه کس اولادونه دي او اولادونه یې میراث وړای سي او په شریک دي مګر ښځه یې د میراث څخه خلاصه ده.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : أما نكاح منكوحة الغير ومعتدته................ لم يقل أحد بجوازه فلم ينعقد أصلا.

ولمافي احكام القران للقرطبي : وَلا تَعْزِمُوا عُقْدَةَ النِّكاحِ" وَالْمَعْنَى: لَا تَعْزِمُوا عَلَى عُقْدَةِ النِّكَاحِ فِي زَمَانِ الْعِدَّةِ ثُمَّ حُذِفَ عَلَى مَا تَقَدَّمَ. وَحَكَى سِيبَوَيْهِ: ضَرَبَ فُلَانٌ الظَّهْرَ وَالْبَطْنَ، أَيْ عَلَى. قَالَ سِيبَوَيْهِ: وَالْحَذْفُ فِي هَذِهِ الْأَشْيَاءِ لَا يُقَاسُ عَلَيْهِ. قَالَ النَّحَّاسُ: وَيَجُوزُ أَنْ يكون" ولا تَعْقِدُوا عُقْدَةَ النِّكَاحِ"، لِأَنَّ مَعْنَى" تَعْزِمُوا" وَتَعْقِدُوا وَاحِدٌ

(ردالمحتار ج ۳ ص ۱۳۲ مطلب في النكاح الفاسد مکتبه شامله / تفسیر قرطبي ج ۳ ص ۱۸۲ مکتبه رشیدیه / تفسیر مظهري ج ۱ ص ۳۶۶ مکتبه رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۱ ص ۱۳۳ اردو / ستاسي مسائل او دهغوی حل ج ۶ ص ۴۲۳ اردو / فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۰ ص ۲۴۷ پښتو / فتاوی حقانیه ج ۳ ص ۵۳۸ پښتو)

هغه ښځه چي په عده کي وي د چاغم او ښادي ته نه سي تللای

سوال۵: د خپل خاوند د وفات عده تیر وونکې ښځه د یوه قریب د تعزیت او فاتحې اخیستلو لپاره تلای سي که یا؟ همدارنګه د غه ښځه د خپلو قریبانو په ښادۍ کښې شرکت کولای سي که یا؟

جواب: فقهاء کرامو لیکلي دي داسي ښځه چي په عده کښي وي شرعاً نه د چا د غم او نه هم د چا د ښادۍ مراسمو ته تللای سي بلکي دا به په خپل کور کي خپله عده پوره کوي .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : قال في الفتح: والحاصل أن مدار حل خروجها بسبب قيام شغل المعيشة فيتقدر بقدره، فمتى انقضت حاجتها لا يحل لها بعد ذلك صرف الزمان خارج بيتها. اهـ.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۵۳۶ باب الحداد مكتبه شامله /فتاو دارالعلوم ديو بند ج ۱۰ ص ۲۷۴) كتاب الطلاق رشيديه /الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵۳۵ رشيديه / البحر الرائق ج ۴ ص ۲۵۹ رشيديه / فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۱۶)

که په عده کښې تر یوه حیض وروسته ښځه حامله سي ؟

سوال۶: یوې طلاقي سوي میرمني ته یو حیض راغلې بیا د بل ناجایز تعلق د وجي څخه حامله سوه او س د دغي ښځي عده ده حیض په تیرولو سره ده او که د حمل په زیږولو سره ده او حال دا چي دغه ښځه او س نکاح کول هم غواړي؟

جواب: د دغي ښځي عده او س د حمل تر زیږولو پوري و څنګه د له هر کله چي یې حمل وزیږوی نو بیا د دې عده ختمه ده تر حمل زیږولو مخکي دي ته نکاح کول نه ده روا .

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : ومثله مالوكان الحمل في العدّة الخ ..... وفي الحاوي اذا حبلت المعتدة وولدت تنقض به العدّة الخ .... واعلم انّ المعتدة لوحملت في عدّ تهاذكرالكر خي انّ عدتها وضع الحمل.

(ردالمحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۵۱۱ مطلب في عدة الموت مكتبه شامله /فتاو دارالعلوم ديو بند ج ۱۰ ص ۲۷۵) كتاب الطلاق رشيديه /تبيين الحقائق ج ۳ ص ۲۵۲ رشيديه / البحر الرائق ج ۴ ص ۲۲۶ رشيديه /فتاوى حقانيه ج ۴ ص ۱۱۶)

د يوې ښځي د خاوند تر وفات وروسته نيم ساعت دښځي ماشوم وزيږيدی دغه ښځه عده لري که يا؟

سوال ۷: که چيري ديوې حاملې ميرمني دميړه تر وفات وروسته نيم ساعت وروسته ددغي حاملي ښځي بچی پيداسي نوعده به څنګه تيروي؟

جواب: فقهاء کرامو ليکلي دي چي د حاملې ښځي عده مطلقاً د حمل زيږول دي که څه هم د خاوند تروفات پې نيم ساعت وروسته وزيږوي، يانيم کال وروسته فرق نه لري او که د خاوند تر وفات يي نيم ساعت مخکي بچي پيدا سو نو بيايي عده څلورمياشتي اولس ورځي ده.

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى فى الدرالمختار (و) في حق (الحامل) مطلقا (وضع) جميع (حملها) .

وقال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردا لمحتار على الدرالمختار (قوله: وضع حملها) أي بلا تقدير بمدة سواء ولدت بعد الطلاق، أو الموت بيوم، أو أقل جوهرة

.

(رد المحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۵۱۱ مطلب في عدة الموت مكتبه شامله /فتاو دارالعلوم ديو بند ج۱۰ ص ۲۷۳ كتاب الطلاق رشيديه / الهداية ج ۲ ص ۴۰۱ باب العدة / فتاوى عبادالرحمن ج ۳ ص ۶۰۱ اردو)

د ليک په طلاق کښي هم عده لازمه ده

سوال ۸: يو کس خپلي ښځي ته په ليکلې ښه سره طلاق ورکړی ايا پردغه ښځي باندي هم عده لازمه ده که يا؟

جواب: پردغي ښځي باندي هم عده تېرول لازمه ده د طلاق د وخت څخه دي دري حيضونه تير کړي وروسته بيا نکاح کولا سي هكذا في كتب الفقه.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : فكما كتب هذا يقع الطّلاق و تلز مها العده من وقت الكتابة

(رد المحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۲۴۶ مطلب في الطلاق بالكتابة مكتبه شامله /فتاو دارالعلوم ديو بند ج۱۰ ص ۲۲۵)كتاب الطلاق رشيديه / الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵۳۲ رشيديه /

تبيين الحقائق ج ۳ ص ۲۶۰ رشيديه / كفايت المفتي ج ۸ ص ۵۹۵ مكتبة الفاروق اردو)

ايا د كرائي په سراى كښې هم عده تېرول ضروري ده ؟

سوال ۹: كه چيري يوه ښځه چي د خپل خاوند د مرگ په عده كښي ده كرائي په سراي كښي هستوګنه كوي او اوس د دغه سراي د كرائي وس او طاقت هم نه لري او د خوارک او چيښاک د خرڅ او نفقې وس هم نه لري ايا د اد پلار كره انتقال د دغه سراى څخه كولا سي كه يا ؟

جواب: فقهاء كرامو ليكلي دي چي دغه مذكوره ښځه بل سراى ته په عده كښې د ننه تللاى سي شرعًا ورته اجازه سته او كه يې د كرايې وس او طاقت درلودى بيا يې تګ بل ځاى ته منع دى .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي فى الدرالمختار : (وتعتدان) أي معتدة طلاق وموت (في بيت وجبت فيه) ولا يخرجان منه (إلا أن تخرج أو يتهدم المنزل، أو تخاف) انهدامه، أو (تلف مالها، أو لا تجد كراء البيت) ونحو ذلك من الضرورات فتخرج لأقرب موضع إليه .

(رد المحتار علي الدرالمختار ج ۳ ص ۵۳۶ مطلب في الحداد مكتبه شامله /فتاو دار العلوم ديو بند ج ۱۰ ص ۲۵۸) كتاب الطلاق رشيديه / البحر الرائق ج ۴ ص ۲۵۹ رشيديه / تبيين الحقائق ج ۳ ص ۲۷۱ رشيديه / كفايت المفتي ج ۸ ص ۵۹۶ مكتبة الفاروق اردو)

د نامرده او نه مستي لرونكي كس پر ښځي تر خلوت وروسته عده لازمه ده .

سوال ۱۰: يوې ښځي ته خپل نامرد (عنين) خاوند طلاق وركړى ميرمن اوس بل ځاى نكاح كول غواړي په دغه صورت كښې پر دغي ښځي باندي عده تيرول لازمه ده كه يا ؟

جواب: كه چيري د غه ښځي د دغه نامرده خاونده سره خلوت او يوازي والى كړي وي او بيا يې تر خلوت وروسته طلاق وركړى وي نو پر دغه ښځي باندي عده تيرول لازمه ده په عده كښې د ننه يې د بل چاسره نكاح نه ده رواه .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي فى الدرالمختار : (والخلوة كالو طي الخ ولو كان الزوج مجبوبا او عنينا الخ.....

(الدرالمختار علي هامش الطحطاوي باب المهر ج ۲ ص ۵۳ ، ۵۲ رشيديه /فتاو دار العلوم ديو بند

ج۱۰ ص۲۶۰)کتاب الطلاق رشیدیه / الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۵۲۶ رشیدیه / تبیین الحقائق ج ۳ ص ۲۵۱ رشیدیه / فتاوی محمودیه ج ۱۳ ص ۳۸۷ مکتبة الفاروق اردو)

که دکومي ښځي طهر یعني پاکي اوږده سي دهغي عده به څنګه وي ؟

سوال ۱۱: یوه ښځه ده عمریې تر شلو کلو تیر سوی دی تر اوسه نه حیض ورته راغلی دی او نه یي تي راپورته سوي دي خاوند یي وایې دا دنارینه وړنه سي کیدلاي اوس که خاوند دي ته طلاق ورکړي دابه عده څنګه تیروي ؟

جواب: کله چي دغه خاوند دغه ښځه طلاقه کړي عده ددغي ښځي ترڅو چي دایاس عمر (هغه عمر چي نور ښځي ته حیض راتلل بند سي)ته نه وي رسیدلې دري حیضه دي او بعضي فقهاء کرامو بیاد امام مالک رحمه الله تعالی پر مذهب داړتیا دوجي فتوی ورکړې ده د هغو په نزد چي دکومي میرمن طهر اوږدسي دهغې عده په نهمه میاشتي کي ختمیږي ، او علامه شامي رحمه الله تعالی بیا په ردالمحتار کي دنحرا و نورو څخه نقل کړي دي چي یو کال دی .

لما قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالي فى الدرالمختار : (و) العدة (في) حق (من لم تحض) (لصغر) بأن لم تبلغ تسعا (أو كبر) بأن بلغت سن الإياس (أو بلغت بالسن) الخ .... (ولم تحض) الخ .... الشابة الممتدة بالطهر بأن حاضت ثم امتد طهرها، فتعتد بالحيض إلى أن تبلغ سن الإياس جوهرة وغيرها.

لما قال العلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله تعالى فى ردالمحتار على الدرالمختار : قال الزاهدي: وقد كان بعض أصحابنا يفتون بقول مالك في هذه المسألة للضرورة. اهـ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ص ۵۶۶ باب العدة مکتبه رشیدیه /فتاو دارالعلوم دیو بند ج۱۰ ص۲۶۶)کتاب الطلاق رشیدیه /الفقه الاسلامي وادلته ج۷ ص ۶۴۱ / امدادالفتاوی ج ۲ ص ۴۹۰ / کفایت المفتي ج۸ ص ۵۹۲ اردو مکتبة الفاروق)

دمؤلف نور تصنيفونه

١ : تفسير ديوبندي پښتو دوه ټوکه.
٢ : تعليم الاحكام لافادة العوام يو ټوک
٣: جواهر الاحكام يو ټوک
٤: اسلامي تحفه يو ټوک
٥: زاد الطلاب شرح ارشاد الصرف يو ټوک
٦ : ښه ماشوم : ادبونه يو ټوک
٧: دماشومانو ديني تعليمات يو ټوک
٨ : دحج لارښود : مناسک يو ټوک
٩: دمفرت تحفه يو ټوک
١٠: دقربانۍ مسئلې يو ټوک
١١: فتاوی رحمانيه درې ټوکه